# دپښتو نثر اته سوه کاله

سرمحقق زلمی هیوادمل

# د پښتو نثر اته سوه کاله

PROPERTY OF ACKU 6076

لیکوال

سرمحقق زلمی هیوادمل

۱۳۷۵ هـ، ش

ددې کتاب دچاپ لګښتونه زمادووفرهنګي
ملګرو خلیل الرحمٰن رسولي او جمال الرحمٰن
تهیه کړي دي .

# اهـداء

● د اروا ښاد استاد قیام الدین خادم نامه ته چې په افغانستان کې لومړی ځل د نثر څېړنې کار ته متوجه شوی دی .

● پروفیسور تقویم الحق کاکاخیل ته چې په پښتونخوا کې یې ترهرچا د مخه د پښتو نثر پر تاریخي سوابقو کار کړی دی .

● اروا ښاد کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي ته چې : د پښتو ادبي تاریخ معقولې دوره بندۍ او د پښتو نثر واقعبینانه تصنیف یې د دغه کتاب اډانه جوړه کړې ده .

او

زما ګران ملګري د پښتو نومیالي لیکوال او شاعر ښاغلي حبیب الله رفیع ته !

## د کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د پښتو نثر اته سوه کاله |
| لیکوال | : | سرمحقق زلمی هېوادمل |
| خطاط | : | سید محي الدین هاشمي |
| د پښتۍ طرح | : | محمد ظاهر بابري |
| د چاپ شمېر | : | ۵۰۰ ټوکه |
| د چاپ کال | : | ۱۳۷۵ هش / ۱۹۹۶ ع |
| د چاپ ځای | : | ملت پرنټرز ، لاهور |

# یا هو

چهار سال واندی پیش انجمن فرهنگی خوشحال خان ختک هشتصدمین سال تألیف تذکرة الاولیای پشتو، نخستین کتاب تا حال معلوم نثر پشتو را جشن گرفت و سیمینار علمی یک روزی به همین مناسبت در حوت سال ۱۳۷ خورشیدی در شورای علمی پوهنتون برگزار ساخت.

نگارنده در این سیمینار سخنرانیی در بارهٔ سوابق تاریخی نثر پشتو داشت، که مختصر آن زیر عنوان (هشتصد سال نثر پشتو) در مجلهٔ سپیدی، نشریهٔ انجمن کلتوری مهد پشاور چاپ شد.

پس از سقوط رژیم گذشته ما نیز مجبور به ترک زادگاه شدیم و به آوارگان مقیم پشاور پیوستیم.

در ماه جولای ۱۹۹۲ میلادی دیپارتمنت پشتوی پوهنتون پشاور نیز زیر نام «سیر ارتقایی نثر پشتو»، در بارهٔ کلی سیمیناری داشت و این جانب را هم برای اشتراک در سیمینار و ایراد بیانیه پیرامون سیر انکشافی نثر پشتو دعوت نمودند. من این دعوت را با اظهار سپاس پذیرفتم و در روز معین دو ساعت و نیم پیرامون موضوع در سیمینار صحبت کردم.

صحبت درهم و برهم این بندهٔ ناچیز را دوستان این دیار نهایت ستودند، در نشریه ها از آن یاد کردند و در مجالس علمی از آن سخن گفتند و نگارنده را تشویق فرمودند تا این گفته ها را روی کاغذ بیاورد و به شکل کتابی تقدیم جامعهٔ فرهنگی نماید.

نگارنده از چهار سال و چند ماهی که به دیار هجرت رو آورده است، افزون از کارهای رسمی اتحادیه نویسندگان افغانستان آزاد گاه گاهی سری به کتابخانه های این

دیار نیز میزند و به مطالعه و تجسس در آثار میپردازد .

گرچه رفت و رو افغانها در کتابخانه های این دیار بر بعضی حسودان این جایی گران تمام میشود و کوشش میکنند با دسایس گوناگون رفت و رو ما را با کتابخانه مانع شوند، اما من و سایر همسلکانم با وصف ایجاد موانع سری به کتابخانه ها میزنیم و به پژوهش در آثار میپردازیم . ضمن پژوهشهای اخیر اطلاعات فراوانی در بارهٔ نثرهای کهن به دسترس من قرار گرفت .

تشویق بی شایبهٔ دوستان افغان و این جایی از یک سو و دریافت اطلاعات تازه از سوی دیگر نگارنده را وا داشت تا این موضوع را در کتابی تالیف بدارم . نبشتن این کتاب را از لحاظ دیگری نیز سودمند پنداشتم و آن این که بیشترینهٔ آثار یاد شده در این کتاب جای مطالعه در تاریخ ادبیات به معیار امروزین ندارند اگر در چنین یک کتابی معرفی نشوند جای دیگری را برای شناساندن آنان سراغ نتوانست کرد .

در آغاز کار موضوع را گزارش گونه در اخبار وفا شروع نمودم . پس از نشر در اخبار معلومات و توضیحات بیشتری را به آن میافزودم و این یادداشتها و نبشته های نسبی مکمل را با خود نگاه میداشتم و همزمان به آن به مطالعه ادامه میدادم . وقتی بخشی از کتاب آماده شد ، بالاثر بعضی موانعی که پیش آمد نتوانستم کارهای تکمیل شده را غرض کمپوز به کمپیوتر بسپارم .

آخرین ماههای سال ۱۹۹۴ بود که مانعی در کار رخ داد از کمپیوتر ناامید شدم . در نخستین ماههای سال ۱۹۹۵ع بار دیگر بخشهای نبشته شده را دوباره خوانی کردم ، اطلاعات و معلوماتی به آن افزودم و این بار خواستم به جای کمپیوتر کتاب را خطی نمایم . دوست دانشمندم ښاغلی سید محی الدین هاشمی که شخص با دانش و فرهنگدوست استند ، به کمال خوشی به خواهش من پاسخ مثبت ارائه داشت و با شوق و ذوق فراوان دست به نوشتن آن زد

و این داستان هشتصد سالهٔ نثر پشتو را با قبول دشواریهای فراوان نبشت.

این داستان هشتصد ساله را من براساس دوره بندی تاریخ ادبی پشتو، که در سمپوزیم تاریخ ادبیات نویسی پذیرفته شده بود در سه دوره و هفت فصل بخشبندی کردم، مقدمهٔ مفصلی بآن افزودم که تمام ویژه گیهای مقدمهٔ یک اثر پژوهشی در آن درنظر گرفته شده است، در فرجام کار نتیجه گیری کردم. اما با دریغ فراوان که فهرست اعلام را بنا بر معاذیری که داشتم در این چاپ گنجانیده نتوانستم. امیدوارم این کتاب بار دگر چاپ شود که فهرست اعلام ضمیمه آن باشد.

نگارنده هیچگاهی ادعا ندارد که این کار به صورت کلی مکمل است. کاستیها و کمبودی های فراوان در آن یافت خواهد شد، ولی من تا جایی که مقدور بود سهل انگاری نکرده ام و آنچه را دریافت کرده ام همگون باروشهای گزیدهٔ خود تحلیل و در کتاب گنجانیده ام. آنچه را تهیه دیده ام پیشروی شما خوانندگان عزیز است آن را بخوانید و قضاوت نمایید.

بایستی تذکر بدهم از چهار سال بدینسو که دوستان نگارنده را به نبشتن این کتاب تشویق میفرمودند، من همیشه فکر چاپ آن میبودم و میاندیشیدم که اکنون ما حکومتی و یا اداره فرهنگیی نداریم که در نشر چنین آثار با نویسندگان دست پیشی نماید. اگر من با قبول زحمت تاریخ نثر پشتو را بنویسم کی آن را چاپ خواهد کرد؟ همزمان با متکون نبشتن این کتاب پرسش درشت هزینهٔ پرداخت چاپ همیشه در ذهنم خطور میکرد.

باری در ماه جنوری سال ۱۹۹٤ میلادی با دوست دیرینه و جوان فرهنگدوست خلیل الرحمن رسولی مواجه گشتم از کارهایم پرسید، من گفتم در نظر دارم کاری بکنم اما نبود هزینه برای چاپ آن مانع سرراه کارم میشود. او با ذوق فرهنگیی که داشت به من گفت که هزینه چاپ این کتاب را من تدارک میبینم.

چاپ بسازید. و در آن هنگام نیز یک مشت پولی را در اختیار من گذاشت. از آن وقت به بعد تا ۲۳ ماه مئ ۱۹۹۵ به تعاریق برای چاپ این کتاب پولهایی که به دسترسم گذاشت بیش از سی و پنج هزار کلدار پاکستانی میشود و به حساب امروزی معادل نهصد و چند دالر امریکائی خواهد شد. اگر ما مصارف گونه گون خطاط، پیسټ سنگ، طباعت و مصارف ترانسپورتی آن را در نظر بگیریم رقم یاد شده به هیچ وجه برای چاپ چنین کتاب قطوری کافی نبود و من مصارف متباقی کتاب را از معاش ناچیز خود پرداختم. ولی به شگفتی وقتی اندر شدم که در ماه مارچ سال روان میلادی نامه یی از خبرچنی دریافت داشتم. در نامه به من نبشته بودند که جناب امام الدین صافی میگویند که من برای چاپ این کتاب چندهزار دالر به شاغلی رسولی پرداخته ام، اما کتاب تاهنوز چاپ نشده است.

من در جواب داستان پرماجرای نبشتن و چاپ شدن این کتاب را به فرستنده فرهیخته نامه مفصل نگاشتم و پولی را که شاغلی رسولی به دسترسم گذاشته بود آن را نیز فهرست گونه نشان دادم و گفتم: پولی را که به من داده اند چند صد مارک و متباقی روپیه پاکستانی بود که حتی یک دالر هم در آن وجود نداشت، چون پول تادیه شده کفایت هزینه چاپ کتاب را نمی نماید، من از پول معاش اندک اندک جمع مینمایم تا مصارف چاپ را کفایت نماید و کتاب چاپ شود.

افزون از دانشمندی که به من نامه فرستاده بودند تمام صورت حساب را به شاغلی رسولی نیز فرستادم. من این موضوع به خاطری در اینجا تذکر دادم که علت به تاخیر افتادن چاپ کتاب کمبود هزینه های مصرفی نیز بود. اما با آنهم من از دوستان گرامی خود خلیل الرحمن رسولی و جمال الرحمن اظهار سپاس فراوان میدارم، اگر آنها در آغاز وعده پرداخت هزینهٔ چاپ را نمیکردند این کتاب در این شرایط دشوار هرگز به وجود نمیآمد و چاپ نمیشد.

مگر اکنون این کوتاه نبشته را به فرجام میرسانم ، بی انصافی خواهد بود اگر از
دوستانی نام نبرم که در جریان تکمیل این کتاب با من همکاری فرموده اند :
دوست دیرینه و بزرگوارم جناب حبیب الله رفیع و دوست گرانقدرم محمد آصف
صمیم و دوکتور میا سهیل انشاء در تکمیل مآخذ و فراهم آوری کتابها با من با فراخدلی
همکاری نموده اند . در سلسلهٔ همکاریها نمیتوان از نامهای سرمحقق بختانی ، پروفیسور سیال
کاکر ، حمدالله صافی کندهاری و پروفیسور صاحبزاده حمید الله چشم پوشید .

پروفیسور محمد نواز خان طایر رئیس سابق و دوکتور راج ولی شاه خټک رئیس کنونی اکادمی پشتوی
پشاور و همینسان جناب سرفراز خان مروت کتابدار کتابخانهٔ اکادمی پشتو با وصف
محدودیتها در راه استفاده مشروع از مواد کتابخانه با من از هیچگونه همکاری دریغ ننموده اند .
همینسان شاغلی جلالی رئیس و جناب فضل رازق سرکتابدار آرشیف پشاور
با من همکاری بی شایبه نموده اند و در چوکات قانون آرشیف اجازه استفاده
از اسناد اعطا فرموده اند .
دوست مهربانم شاغلی سید محی الدین هاشمی در خطاطی این کتاب زحمات
فراوانی را قبولدار شده اند ، همکارم عزیزم طاهر جان باری در پیچ ستنگ و
طرح پشتی این کتاب با من دست پیشی کرده اند ، و دوستان عزیز
شاغلو : دوکتور مروت و محمد نصیب در ادیت و تایپ مقدمه انگلیسی کتاب با
مساعدت نموده اند ، همینسان سید حسین پاچا در تایپ پشتی انگلیسی آن همکاری کرده اند
من به نوبه خود از تمام شان اظهار سپاس فراوان میدارم

با احترام

سرمحقق غزملی هیواد مل

# دمطالبو فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| - پرموضوع دکارسوابق | ۲ |
| (۱) افغانستان | ٤ |
| (۲) پښتونخوا | ۱۱ |
| الف - سرحد | ۱۱ |
| ب : بلوچستان | ۲۰ |
| (۳) ختیځ پوهان | ۲۲ |
| - پرموضوع دشوي کار ارزيابي | ۲۳ |
| - ددې اثر دليکنې ضرورت | ۸۱ |
| - دتحقيق ميتود | ۸۳ |
| - د دې اثر د دوره بندۍ روش | ۸٤ |
| «۱» | |
| زموږ په فرهنګي غناکې د شفاهي ادبياتو ونډه | ۹۵ |
| - د پښتو نکلونو منابع | ۱۱۰ |
| - نکلونه په څه درد لګي ؟ | ۱۱٤ |
| لومړۍ ادبي دوره | ۲٤ |
| «۲» | |
| دپښتو نثرپيلامه | ۲۷ |
| و | |

| عنوان | مخ |
|---|---|


د پښتو تذکرة الاولياء ارزښتونه ۱۴۵

دوهمه ادبي دوره ۱۵۳

«۳»

په پښتو کې د مسجع نثر پيدا ښت او پرمختيا ۱٦٦

- په پښتو کې د مسجع ليکنې پيدا ښت ۱٦۸

- د مسجع ليکنې پيروي او پايښت ۱۷٦

- د مسجع ليکنې ځينې بدنه او پرمختيا ۱۹٦

«٤»

پښتو نثر ليکونکيو سجع پرښوده ۲٦۱

پښتو نثر بېرته په خپله اصلي لاره روان شو

- د بازگشت جريان ۲٦۳

- ديو نوي تمايل په ملتيا د بازگشت د جريان پرمختګ ۲۷۳

- د بازگشت جريان ته يوه کتنه ۲۸۳

- د پښتو نثر د بره ټک بوې زميني ۲۸٤

- د خوشحال د سبک پيروان ۳۰۰

- د پښتو نثر ليکنې روڼ سباوون ۳۰۸

افضل خان ختک او د ده فرهنګي هڅې

- د خوشحال بابا د نثر ليکنې د سبک پراختيا ۳٤۱

- د فرهنګ پروده د دغه سبک د پلويانو د آثارو اغېزې ۳٦۵

| عنوان | مخ |
| --- | --- |


- د هوتکو غورځنګ او په پښتو نثر لیکنه کې د یو نوي سبک تبارز ۳۶۹
- د فرهنګ پروده دې سبک اغیزې ۳۸۸
- یوه د اتصال کړی ۳۹۱
- دې کړۍ ته یوه کتنه ۳۹۶
- احمد شاهي عصر او د پښتو نثر د پرمختیا مسأله ۳۹۷
- شیدا او په پښتو نثر لیکنه کې یو نوی تمایل ۴۲۴
- په احمد شاهي عصر کې د پښتو نثر لیکنې یو نتیجوي کتنه ۴۲۵

« ۵ »

پښتو نثر د خپل پاینبت په کړ لیچو کې ۴۳۸
- د قرآن عظیم پښتو ترجمې او تفسیرونه ۴۴۲
- په تفسیرونو کې د پښتو نثر خوندي ذخیرې ته یوه کتنه ۴۵۹
- سیرة النبیؐ او د احادیثو ترجمې ۴۶۰
- د دې پېر منثور تجویدونه ۴۶۶
- دیني او فقهي نثرونه ۴۷۱
- دیداکتیک، اخلاقي او روزنیز آثار ۴۹۰
- زاړه علوم او حکمتونه ۴۹۹
- تاریخي او حکایتي آثار ۵۱۱
- د عاوې، خطبې، د دعاوو اسناد او د قرآن د سورتونو خواص ۵۲۷
د پښتو نثر لیکنې د دې ځانګړي جریانونه ۵۴۰
خشیځ پوهان او پښتو نثر ۵۴۵

| عنوان | مخ |
|---|---|


د پښتونثر د پایښت کړکیچن پړاو ته یوه سرسري کتنه ۵۷۲

« ٦ »

د پښتونثر د سمون یو پرمختیایي پړاو ۵۷۹

د معاصر نثر د پیدا کېدو زمینې

- د پښتو نثر د دې پړاو په برونکي د ترجمې یو پرمختللي بهیر ۵۸۷

- د دې پړاو د نثر په ودې تړون درنه کړي او تعلیمي کتابونو برخه ۵۹۸

- د دې پړاو له نثر لیکني افغزمن نور لیکوال ۶۱۷

- په آزادي پښتونکو غوځلکونو پو بې تړلي لیکوال ۶۲۹

- د دې پړاو د نثر خصوصیات ۶۳۹

« ۷ »

## د ربیمه یا معاصره دوره

- د معري نثر پیدا ایښت ، د علمي او ادبي نثر او پښتنو یون ۶٤٤

- افغانستان ۶٤۹

- پښتونخوا ۷٤۱

الف : سرحد ۷٤۳

ب بلوچستان ۷۸۹

- سند او هند ۸۰۶ - ۸۱۱

- د ختیځپوهانو حوزه ۸۲۳

معاصرې دورې ته یوه کتنه ۸۳۰

نتیجه او پیشنهادونه ۸۳۸

ضمیمې - د مآخذونو فهرست ۸٤۵ - ۸۵۷

PROPERTY OF ACKU 6076

PROPERTY OF A

بسمه تعالیٰ

# سریزه

د روانې پېړۍ په لومړيو درېيو لسيزو کې په پښتو ادب کې د بدلون او څه تحرک نخښې څرګندې شوې او د همدغو نويو تحولاتو له منځته راتګ سره سم د پښتو ادب نوې دوره هم پيل شوه.

په دې نوې ادبي دوره کې د نويو ادبي جريانانو د پيدا کېدو ترڅنګه پښتانه خپلې ژبې او په عام ډول خپل فرهنګ ته هم متوجه شول. د پښتو ژبې او ادب په مختلفو څنګونو څېړنې پيل شوې او د پښتنو د فرهنګي غښتلتيا په منظور يې اولس د ژبې او ادب د پالنې او روزنې، ټولنې، جرګې او انجمنونه جوړ شول. پښتو جرايد، ورځپاڼې او مجلې جارې کړل شوې او يا هم په ځينو موقوتو خپرونو کې د نورو ژبو ترڅنګه پښتو ته هم ځای ورکړل شو.

په دې دوره کې د پښتو ادب په بېلابېلو خواوو د څېړنو په ترڅ کې، د پښتو څېړونکيو او پوهانو د شعر ترڅنګه پښتو نثر هم هېر نه و. ډېرو پوهانو او له فرهنګ سره مسلکو کسانو د نثر

د پېژندنګ او ارزیابۍ د ضرورت پر موضوع ځانګړې مقالې ولیکلې، د پښتو نثر د پیدا کېدو او پایښت مسایل یې وڅېړل. لنډه دا چې د پښتو نثر په شاوخوا کې په لسګونو مقالې، رسالې او ځانګړي کتابونه لیکل شوي او دا سلسله لا هم جریان لري.

زه چې اوس د پښتو نثر د معلوم اته سوه کلن تاریخ یوه سرسري جاج اخلم، نو د څېړنې له نوي نوښت سره سم ځان اړ بولم چې تر اوسه کار د مخه پر موضوع باندې د شوي کارونو یو ګڼ ارزښت هم وړاندې کړم، بیا یې ارزیابي کړم. ښېګڼې او کمبودونه یې وښیم. که دا کار و نه کړم، نو له یوې خوا به مې د څېړنې له معاصرو روشونو سرغړاوی کړی وي او له بلې خوا نه اړیم چې د لوستونکو د ذهني قناعت د حاصلولو لپاره هم دا کار وکړم، ځکه که زه د دې اثر د لیکلو ضرورت و نه ښیم او اړه یې توجیه نه کړم، نو هر څوک چې د کتاب عنوان وګوري، نو لوست ته به یې زړه ښه نه کړي او دا به وایي چې په دې موضوع خو ډېرې مقالې او مستقلې رسالې او کتابونه لیکل شوي دي. دا به هم د تېرو ویل شویو خبرو بې ځایه تکرار وي. نو راځئ ترهر څه د مخه وګورو چې په دې لاره کې څا قلمونه چلول شوي دي، چا خپل ذهنونه او خپلې ګوتې ستړې کړې دي. ورپسې به بیا د دغو کارونو ارزښتونه څرګند شي او بیا به د دې اثر د لیکلو ضرورت توجیه شي او د څېړنې روش او نورې ځانګړتیاوې به یې وښودل شي.

## پر موضوع د کار سوابق:

که څېړې مو د روستیو څه د پاسه پنځوسو کلونو په جریان

کې د پښتو څېړنو او پښتو ادبي کړوړينو بهير وکوروو اويه دې ارتباط ليکلي آثار سره ويلټو نو رابښکاره به شي چې پښتنو پوهانو، پښتو څېړونکيو او له پښتني فرهنګ سره تړليو کسانو د پښتو نثر پر بېلابېلو اړخونو کار کړی دی. چا يې د ضرورت موضوع رادمخه کړې ده؛ چا د نفوذونو اثرات پرښوولي دي؛ چا د موضوع تيوريک اړخ ته توجه کړې، د نثر دوولونه يې راپېژندلي دي او چا يې تاريخي سيرڅېړلی او د بشپړتيا مراتب يې څرګند کړي دي او ځينې نور يې بيا نورو خواووته متوجه شوي دي او په خپلو ليکنو کې يې پښتو نثر ته مربوط موضوعات څېړلي او ناويلي خبرې يې رابرسېره کړې دي. ځينو بنا غلبو بيا د ځينو ځانګړيو ليکوالو په نثرونو شونه کړې دي او يا يې ځينې منثور آثار په ځانګړي ډول معرفي کړي او د نثر نګارۍ روښانه يې يکې څرګند کړي دي.

که څېړې زه د غه کړه آثار د لې وښيم نو بويه چې د دغو مقالو، رسالو او مستقلو کتابونو پېژندنه ځانګړې رساله شي. خوزه په دې بحث کې د اړول آثارنه معرفي کوم، يوازې هغه مقالې، رسالې او کتابونه دلته يادوم چې د پښتو نثر تاريخي سير يکې څېړل شوي. که چېرې د نورو ادبي څېړنو په شرح کې د پښتو نثر پر تاريخي سير خبرې شوې وي دا ډول څېړنې هم له پامه نه غورځوم.

د دې آثارو پېژندنه زه د پښتو د فرهنګي حوزو پر اساس کوم داکار به لوستونکي له ستړيا نه وژغوري او هم به ورښکاره شي چې د پښتو په فرهنګي حوزو کې د تحقيق پرمختيايي چارې او دهغو کمي او کيفي ځانګړتياوې پر کوم حال دي؟ د دې ويش مطابق

نه خبره له خپل هېواده پیل کوم .

## ۱- افغانستان :

ترکومه ځایه چې ښکاره ده د پښتنو د ټولو فرهنګي حوزو په پرتله په افغانستان کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د څېړنې خواته زیاته توجه شوې ده ، هغه څېړنې چې په دې حوزه کې د پښتو نثر د تاریخي سیر د څېړنې په ارتباط شوې دي دا دي :

**الف :** زما د معلوماتو له مخې په افغانستان کې اروا ښاد د قیام الدین خادم ( ۱۳۲۵ - ۱۳۹۹ هـ ق ) لومړنی څېړونکی دی چې د پښتو نثر د تاریخي سیر څېړنو ته تر هرچا د مخه متوجه شوی وی. دوی د پښتو نثر تاریخي تطورات او د نثارانو تذکره په نامه یو اثر کښلی دی ، لکه چې له نامه یې څرګندیږي ښاغلی مؤلف غوښتي دي چې د پښتو نثر لیکنې سیر یې وڅېړي .

ما چې په فرهنګ ادبیات پښتو(۱) کې د دغه اثر کومه معرفي کښلې هلته مې ویلي دي چې دا اثر لس فصله لري او د پښتو نثر تاریخ یې یې له قدیمه تر معاصر پېرو پورې له لنډو ژبنیو او تاریخي تحلیلونو سره مل بیان کړی دی. رساله مستقله نه ده چاپ شوې بلکه د کابل کالنۍ په دوو ګڼو کې خپره ده . د دې بیان لاندې چې هلته ما کومه حواله ورکړې ده . د هماغو دوو ګڼو ( ۱۳۱۹ - ۱۳۲۰ هـ ش ) کابل کالنۍ دي .

ما په خپله یوه بله مقاله کې (۲) هم د فرهنګ په دې خبرو دعوی استناد کړی دی . په دې ورځو کې مې د پېښور پوهنتون د ایریاسټډي

سنتر په کتابخانه کې د یا دو شویو کلونو کالنۍ یو ځل بیا وکتلې. له دې کتنو څخه راته جوته شوه چې د کالنۍ په دوا پړو کښو کې (۲) د دې رسالې درې برخې نشر شوې دي. دا چې ولې ما په خپلو دوو یا دو شویو لیکنو کې ویلي دي دا اثر لس فصله لري؟ زما په فکر نابیوه بله افره ده. مقاله هم له مکارم الاخلاق سره په ارتباط کې د استاد خادم په ژوند او آثارو لیکل وه او په امیر علی شیر نوایي نومې مجموعه کې چاپ ده. کیدای شي دا معلومات ما په فرهنګ کې د هغې مقالې په استناد درج کړي وي؟ په هر صورت اشکال دادی چې بنایي استاد خادم دا رساله په لسو فصلونو کې بشپړه کړې وي، خو بشپړه نه ده چاپ شوې، کومې برخې چې یې چاپ دي هغه درې دي او په هغو کې یې سلیمان ماکو، شیخ ملي او بایزید روښان بحثونه او خبرې راغلي دي.

ب: استاد پوهاند صدیق الله رښتین دوهم څېړونکی دی چې په دې ساحه کې یې د استاد خادم له کارونو سره جوخت پای دې خواته توجه کړې ده او له ۱۳۲۰ هـ ش کال نږدې د پښتو نثر په معرفي او څېړنه پیل کړی دی. کوم کارونه چې دوی په دې برخه کې کړي دي دادي:

- استاد د پښتو نثر د تاریخي سیر د ښودلو په منظور په ۱۳۲۰ هـ ش کال کې «پښتو نثر» تر سرلیک لاندې یوه مقاله لیکلې ده، چې د هماغه کال په کابل کالنۍ کې چاپ ده. (٤)

- استاد رښتین په دې برخه کې په همدا یوه مقاله اکتفاء نه ده کړې. هر کله چې یې په دې برخه کې نوي معلومات او نوې خبرې پیدا کړې

هغه يې پټولې سره ساتلې دي او بيا يې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړې دي. همدغه وچې د وی د «د پښتو نثر تاريخچه» په نامه يوه بله مقاله په ۱۳۴۲ هش کال په کابل مجله (۵) کې خپره کړه او د دې لړۍ څېل نسبي بشپړ معلومات يې د همدې مجلو پښتو کلونو په جريان کې په زړې جريده کې خپاره کړل.

- دغه راز کله چې استاد رښتين په ۱۳۴۴ هش (۱۹۶۵ ع) کال د افغاني هيئت په ډله کې د پېښور پښتو اکيډيمۍ په بلنه په بابړه کلي کې جوړ شوي پښتو سيمينار کې برخه واخيستله، نو په دې سيمينار هم استاد «د پښتو نثر تحول او تکامل» تر عنوان لاندې مقالــه لوستې وه (۶). دغه ډول د وی په کابل کې د خوشحال بابا په ياد جوړ شويو دوو لومړنيو سيمينارونو کې د خوشحال په نثر نګارۍ (۷) او د خوشحال د نثر پر سبک مقالې کښلې او لوستې (۸)

د پښتو نثر په باب د استاد رښتين د دې ټولو اوږدو او مستدو څېړنو نتايج د دوی په کتاب «د پښتو نثر هنداره» کې په کتابي شکل د خلکو لاس ته ورسېدل.

د پښتو نثر هنداره په ۱۳۷۱ هش (۱۹۹۲ ع) کال کې د پېښور يونيورسټي بک ايجنسۍ له خوا چاپ شوه. په دې اثر کښې په زړو او معاصرو نثرونو اوږدو او لنډو او نورو منثورو کتابونو او د دې آثارو په ليکوالو خبرې شوې دي.

د اخبره بايد له ياده و نه باسو چې د پښتو نثر د تاريخي سير د څېړلو په لړ کې چې تر اوسه څو مره مستقل آثار کوز او بر کښل شوي دي، د استاد رښتين د پښتو نثر هنداره يې د موادو د زياتوالي له جهته غوره

کتاب دی.

د دغو ځانګړیو کارونو ترڅنګه استاد رښتین په خپل یو بل اثر د پښتو ادب تاریخ کې په پښتو ادبیاتو د بحثونو په ترڅ کې هم ځای په ځای پر پښتو نثر خبرې کړې دي. (۹)

ج: لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي (۱۳۲۸-۱۴۰۴ هـ ق)

که څه هم د پښتو نثر په تاریخي سیر مستقل اثر نه دی کښلی، خو د خپلو نورو کارونو په ترڅ کې یې په پښتو نثر سربېره د مزي بحثونه کړي دي او ځینې مقالې یې په پښتو نثر کښلې دي، چې دلته به یې زه لږ لږ وښیم:

- استاد په خپل کتور اثر د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک کې په پښتو نثر ځانګړي فصلونه لري او هم یې په دې کتاب کې د خیرالبیان په نثر ښې خوندورې خبرې کړې دي (۱۰).

استاد چې په بېلابېلو وختونو کې د پښتو نثر په خصوص کې څه مقالې لیکلې وې، د امقالې د دې اثر لیکوال را ټولې کړې او پښتو نثر تذکره کتنې په نامه د استاد له یوه نوي یادښت سره د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا په کتابي شکل په ۶۴ مخونو کې په ۱۳۶۰ هـ ش کال خپرې شوې.

په دې اثر کې دغه لاندې مقالې راغلي دي: د پښتو نثر لیکلو لارې، د پښتو نثر وده او په لیکنه کې د غور ور خبرې، د کوهرخان ختک د قلب السیر نثر، پښتو نثر په تاریخ مرصع کې، ژبه او د تکامل قانون.

د پښتو نثر په باب د استاد وروستۍ مقاله هغه ده چې یې په

۱۳۵۶ هش کال په ورو ستیو دوو پېړیو کې پښتو چاپي آثار، نومي سیمینار لپاره لیکلې وه . د دې مقالې عنوان دی : د پښتو نثر له نولسمې پېړۍ راهیسې ،، .
په دې مقاله کې نو موړي اروا ښاد استاد د پښتو نثر پر تاریخي سوانحو هم لږ لږ بحث کړیدلی دی . په موضوعي لحاظ یې د پښتو اووه ډوله نثرونه هم ښودلي دي .
ځ : اروا ښاد دکل پاچا الفت (۱۲۸۸-۱۳۵۶ هش) هم په خپلو ادبي فعالیتونو کې د پښتو نثر خوا ته پاملرنه نه ده هېره کړې . دده په کارونو کې څه لیکل یا لیکپوهه ، املاء او انشاء او لیکوالۍ په نومونو کتابونه له دې موضوع سره ځانګړې اړه لري .
مرحوم استاد د څه لیکل یا لیکپوهه په پای کې او همدارنګه د املاء او انشاء او لیکوالۍ نومونو کتابونو په پای کې د پښتو د معاصر و نثرونو ښکلې نمونې خوندي کړې دي او ورسره یې د لیکوالۍ په بېل کې یو فصل پخوانیو نثرونو ته وقف کړی دی (۱۲) په تذکرة الاولیاء ، خیرالبیان ، مخزن ، دستارنامه او پټه خزانه یې خبرې کړې دي ، او د دغو منثورو آثارو په باب تبصرې او لنډ تحلیلونه لري .
هـ : ښاغلي محمد دین ژواک د پښتو نثرونه په نامه یو اثر سره راټول کړی او تدوین کړی دی . دا اثر ۱۲۲ مخه په ۱۳۳۵ هش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی . د دې اثر په تالیف کې عمده هدف دا دی چې د پښتو د معاصر نثر عالي نمونې خوندي کړي ، خو په مقدمه کې یې څه خبرې لري او د تېرو نثرونو نوم یې هم راخیستي دی ، لکه د سلیمان ماکو ، بایزید ، درویزه ، خوشحال ، شیدا ، محمد او نورو ... (۱۳)

و : اروابناد پوهاند دوکتور عبدالرزاق زهیر ( ۱۳۶۷ هش مهر )
د پوهندوی علمي رتبې ته د ترفیع لپاره خپل تېزس د پښتو نثر د تاریخي سیر څېړلو ته وقف کړی دی او ( د پښتو نثر زر کلن تاریخ ) نومی اثر یې په همدې نیامت کښلی دی.

په دې اثر کې په تذکرة الاولیاء ، خیرالبیان ، مخزن ، فوا ئید الشریعه ، خلاصة الاسلام ، دستارنامه ، بیاض ، قلب النبیر ، گلدسته تاریخ مرصع ، عیار دانش ، اعثم کوفی ، اختیارات بدیعی ، پټه خزانه ، پښتو عروض ، خلاصة المریدین . او همدارنګه د منشي احمدجان ، رضواني ، غلام محمد پوپلزی ، راورټي ، عبدالقادر پېښوری ، ملا غلام جان ، غلام محی الدین افغان ، مولوی عبدالروف اخونزاده ، مولوی عبدالواسع ، مولوی صالح محمد ، عبدالعزیز او محمدګل مومند پر نثرونو خبرې کړې دی. دا پنله کتاب چې تر اوسه نه دی چاپ شوی یوه تایپي نسخه یې د کابل پوهنتون د افغانستان پېژندنې په څانګه کې وه ، د اثر د بشپړېدو کال ۱۳۴۸ ش دی (۱۴).

ز : د افغانستان د علومو اکاډیمۍ علمي غړی ښاغلی حکیم تهیوال د محقق علمي رتبې ته د ترفیع تېزس د پښتو نثر د پېر مختیا مسالې څېړنې ته وقف کړی دی. ده دا اثر په ۱۳۶۸ هش کال بشپړ کړی ، ترفیع یې پرکړې ده ، خو چاپ نه دی ، یوه تایپي نسخه یې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابخانه کې وه . دا اثر کومه خاصه ابتکاري ښکېنه نه لري په مجموع کې له موجودو لیکل شویو آثارو په استفاده یې لیکلی دی.

ح : معاون سر محقق دوکتور مصطفیٰ نن دې د سر محقق علمي رتبې ته د ترفیع تېزس په پښتو کې د هنري نثر پر پیدا ایښت لیکلی دی.

دا اثر د ۱۳۷۰ هـ ش په پای کې بشپړ شو، خو خپل مراحل یې بشپړ نه کړل.

ط: ښاغلی وسیع الله سیال، چې د دعوت او جهاد د پوهنتون استاد دی د پوهنلي علمي رتبې ته یې د ترفیع لپاره په پښتو کې د مسجع نثر د پیدا ښت او پایښت مسأله تر سرلیک لاندې یوه رساله کښلې، چې ټول مخونه یې ۱۶۹ دی او اثر په ۱۴۱۳ هـ ق کال کې بشپړ شوی دی. په دې کتاب کې د پښتو څو تنه مسجع نګاران، لکه: بایزید، اخوند درویزه، د ده د کورنۍ غړي او پیروان، میر حسین هروي، اخوند موسی، اخوند قاسم او څېني نور له خپلو آثارو سره معرفي شوي دي.

ي: د تذکرة الاولیاء د تالیف د اته سوومې کالیزې د نمانځنې سیمینار د خوشحال فرهنګي ټولنې د ۱۳۷۰ هـ ش کال په حوت کې جوړ کړی و. په دې سیمینار کې ما د پښتو نثر پر تاریخي سیر خبرې وکړې. بیا مې دا خبرې په یوه درې مقاله کې راونغښتلې او نوم مې پر کېښود «هشتصد سال نثر معلوم پښتو». دا مقاله په پېښور کې چاپېدونکې «سپېدې» مجلې خپره کړه (۱۵).

ـ همدارنګه د ۱۹۹۲ ع کال په جولای کې د پېښور پوهنتون پښتو څانګې د پښتو نثر ارتقاء په نامه په باړه ګلۍ کې یو سیمینار جوړ کړی و. په دې سیمینار کې ما ته هم د پښتو نثر پر مختیايي سیر د خبرو موقع راکړل شوه. د دې خبرو څېنې برخې ما د مقالو په بڼه ترتیب کړې چې دوې مقالې یې په شمشاد (۱۶) کې یوه خپلواکې کې او نورې متفرقې په وفا جریده کې نشر شوې دي.

له لورو یادو شویو له موضوع سره مربوطو آثارو او مقالو سربېره د پښتو نثر په نورو اړخونو هم په افغانستان کې نمونې

علماوو مقالې ليکلې او نشر کړې دي او يا يې د خپلو نورو ادبي بحثونو په ترځ کې دې خواته پام اړولی دی او د پښتونخوا يوارخ يې څېړلی دی. په دې لړکې موږ د پوهاند دوکتور حبيب الله تږی، پوهاند محمدرحيم الهام، کانديد اکاډيميسين سرمحقق محمد صديق روهي، استاد سعدالدين شپون، سرمحقق بختانی، سرمحقق دوست شينواری، حبيب الله رفيع، زرين انځور، پوهندوی عبدالخالق رشيد، پوهنمل بريالی باجوړی او نورو نومونه يادولای شو. خوشحاله چې ما د مخه يادونه کړې ده، د اکتيګوړي آثار په دې ځای کې د بحث وړ نه دي، او دا ځکه چې د پښتونخوا د تاريخي پړ مختيا يي سير د څېړلو له موضوع سره نېغ په نېغه اړه نه لري.

## (۲) پښتونخوا:

د پښتونخوا په سيمه کې موږ د پښتو ژبې د روزنې او پالنې دوې حوزې مشخصولای شو: يو سرحد او بل هم بلوچستان. زه به لاندې په دې دواړو حوزو کې د پښتونخوا د تاريخي سير د څېړنې د موضوع جاج هم واخلم:

**الف سرحد:** د پښتو ژبې او ادبياتو د څېړنې په برخه کې پښتنو په دې فرهنګي خوزو کې نسبت بلوچستان ته بډايه ده. د دې حوزې فرهنګي څېړونکو هم د پښتونخوا د څېړنې موضوع ته زړه ښه کړې؛ د دې ځای پښتنو وخت په وخت په دې برخه کې هم څه کارونه کړي دي، چې لاندې يې يادول ضروري بريښي:

(۱) تر ما د معلوماتو له مخې د دې سيمې په څېړونکيو کې د پښتونخوا په باب لومړی مقاله ليکوال سنا غلی اجمل خټک لومړی سړی دی چې د پښتو نثر

تاریخي سیر یې هم د خپلې یوې رسالې «پښتو ادب» په ترڅ کې ښودلی دی . د دا ښاغلي خټک په اردو ژبه کښلې دی او د لیکوال تاریخ یې د دنه د خپلې وینا له مخې ۱۹۴۷ع کال ګڼل کېږي . دوی په دې رساله کې د سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء ، د بایزید په خیرالبیان ، د اخوند درویزه په مخزن ، د خوشحال په منثورو آثارو ، د عبدالقادرخان ، افضل خان ، محمد هوتک پر منثورو خبرې کړې او ځینې نور پخواني نثر نګاران یې یاد کړي دي . له مولوي احمد ، میراحمد شاه رضواني ، منشي احمدجان سربېره یې یو لږ معاصرینو باندې هم خبرې کړې دي . (۱۷)

(۲)- اروا ښاد عبدالحلیم اثر ( ۱۹۸۵ کال مړ ) په خپل اثر پښتو ادب کې د پښتو نثر تر یوه ځایه بحث ورکړی دی . په دې برخه کې ده د پخواني نثر ، موجوده نثر او بیا د منثور ادب تر سرلیکو لاندې د ځینو پښتو نثر نګارانو ځینې نمونې خوندي کړې دي (۱۸) .

(۳) ښاغلي سید انوارالحق ، د دې سیمې یو بل لیکوال دی ، چې د پښتو نثر تر سرلیک لاندې یې اوږده مقاله لیکلې ده . دا مقاله د پښتو مجلې په دوو ګڼو کې چاپ ده (۱۹) د دې مقالې تیوریکه ارخ تر تاریخي هغې پیاوړی دی . ځکه دوی یې په تعریفاتو او د نثر په ډولونو تکیه کړې ده ، خو په دې ضمن کې یې په خپله عقیده د پښتو نثر دورې هم ښودلې دي . د نثرونو د ډولونو د ښودلو په ترڅ کې یې کوم مثالونه راوړي دي . هغه د پښتو د پخوانیو او اوسنیو نثرونو دي او په دې ډول دا مقاله د پښتو نثر د تاریخي سیر یو تت انځور هم وړاندې کولای شي .

د دې مقالې تر څنګه ښوونکي سید انوارالحق د یو ولسمو او

دوو لسمو ټولګیو لپاره د پښتو نثر یوه منتخبه مجموعه جوړه کړې چې لومړی ځل په ۱۹۷۶ع کال په پېښور کې چاپ شوې ده.

مجموعه په دوو برخو ویشل شوې: زوړ نثر او نوی نثر.

په زوړ نثر کې: اخوند درویزه، خوشحال، عبد القادر، میا محمد یوسف، پیر معظم شاه، مولوي احمد، حسیب ګل، غلام محمد پوپلزی، قاضي رحیم الله، منشي احمد جان او عبد الرشید د نثرونو نمونې خوندي کړې دي.

په نوي نثر کې یې د دې سیمې د اوسنیو لیکوالو مضامین، افسانې او ډرامې خوندي کړې دي او د کتاب په پای کې یې بیا د لیکوالو لنډه شرح حال هم راوړی دی.

دا کتاب تر اول چاپ نه وروسته په ۱۹۸۳ع کال کې ۲۹۴ مخه بیا چاپ شوی دی. په دې چاپ کې یې د قاضي رحیم الله، منشي احمد جان او عبد الرشید خان نثرونه ترې ایستلي دي او په نویو کې یې هم څه تغیرات راوستي دي.

(٤) ګران مشر پروفیسور تقویم الحق کاکاخیل د دې سیمې یو پل لیکوال دی چې د پښتو نثر د څېړنې په برخه کې یې کار کړی دی. دوی چې د روغ لېونی په پای نوره کومه مقدمه لیکلې ده (۲۰۵) په همغې کې یې د پښتو نثر لنډه تاریخي سیر هم څېړلی دی او په ځینو نثرونو یې خپلې تبصرې هم لیکلې دي.

(٥) پروفیسور افضل رضا د دې سیمې په څېړونکو کې لومړنی سړی دی چې د پښتو د تاریخي سیر د څېړلو په منظور یې مستقل اثر کښلی دی. دا کتاب «د پښتو نثر تاریخ» نومېږي. لومړی ځل په ۱۹۸٦ع کال د عظیم پبلشنګ هاوس له خوا چاپ شوی دی. ټول

مخونه یې (۴۳۰) دي . په دې اثر کې د پښتو نثر تاریخ له پخوانه زمانې آن تر مولوی عبدالمجید پورې بیان شوی دی او د کتاب په پای کې یې د خیتیځ پوهانو فصل هم ورسره مل کړی دی .

(۶) د دغې سیمې په ادبي پوهانو کې سناغلی سحر یوسفزی داسې سړی دی چې په پښتو کې یې د ادبي پوهنې د ځینو څانګو په خصوص کې د خپل وخت له شرایطو سره سم ځینې ځوندورې مقالې لیکلې دي . د دغو مقالو یوه مجموعه یې «ادب څه دی؟» نومېږي . په دې مجموعه کې یوه مقاله د پښتو ادب ده . په دې مقاله کې سناغلي لیکوال د پښتو ادبیاتو عام جاج اخیستی دی . د دې بحث وروستۍ برخې یې پښتو نثر ته وقف کړې دي (۲۱) . د نثر بحث یې هم لکه د نظم هغې اجمالي دی ، خو په پښتو کې یې د نثر آغاز له خیرالبیان کړی دی . دا خبره سمه نه ده ، ځکه موږ تر خیرالبیان د مخه د نثر نمونې لرو ، چې په پښتو کې د نثر لیکنې دیوې پر مختللې تجربې حکایت کوي او هغه د سلیمان ماکو د پښتو تذکرة الاولیاء ټوټې دي .

سناغلي ځینې کسان دا استدلال وکړي چې کوندې سناغلي یوسفزي به هم پښتو تذکرة الاولیاء نه منې ؟ خو زما په عقیده دا خبره ځکه سمه نه ده چې د خپل اثر د همدې بحث د نظم په برخه کې یې د تذکرة الاولیاء پر نظمونو استناد کړی دی . ( ۶۴ مخ )

(۷) سناغلي محمد مدني عباسي د «پښتو زبان اور ادب کی تاریخ» په نامه ادبي تاریخ د ولسونو د پښتو ادبیاتو تر تاریخ په اردو ژبه لیکلی . په دې تاریخ کې د نثر برخه شته (۲۲) او د پښتو نثر تاریخي سوابق او سیر یې له خیل وس سره سم څېړلی دی .

(۸) اروا ښاد د عظیم شاه خیال بخاري (۱۹۹۰ع مړ) په تاریخ ادبیاتِ مسلمانان پاکستان وهند کې د راغلي پښتو ادب دریمه دوره لیکلې ده او په دې دوره کې یې پر پښتو نثر هم خبرې کړې دي (۲۳).

(۹) ښاغلی فارغ بخاري چې دلوړ یا د شوي کتاب د پښتو ادب لومړنۍ دوره لیکلې ده، هلته یې پر پښتو نثر بحثونه او تبصرې کړې دي (۲۴).

(۱۰) پروفیسور محمد نواز طایر د دې سیمې نومیالی لیکوال او شاعر دی. ده د ادب په بېلا بېلو څانګو د څېړنې په ترڅ کې په مختلفو وختونو کې په پښتو نثر ځینې یادونې هم په خپلو آثارو کې نشر کړې دي. چې دغه ضمني څېړنې او یادونې د پښتو نثر د تاریخي سیر پر موضوع اړه پیدا کوي:

الف: د تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند د پښتو ادب د برخې «جدید ادب»، څېرکی پروفیسور طایر لیکلی دی. په دې بحث کې یې د جدید نثر د پیدا ښت او پایښت موضوع څېړلې ده (۲۵).

ب: د «روحي ادب» په نامه اثر کې پروفیسور طایر د پښتو ادبیاتو پر ځینو موضوعاتو جالب بحثونه کړي دي. د دې بحثونو په ترڅ کې د پښتو نثر د تاریخي سیر پر موضوع هم لنډ بحث شوی دی او ځینې منثور آثار یې ښوولي او خپلې تبصرې یې پرې کښلي دي (۲۶).

ج: نوموړي پروفیسور د «پښتو نثر څنګه راورسېدو»، تر سرلیک لاندې د پښتو نثر د تاریخي سیر پر موضوع یو ځانګړی لنډ بحث هم کړی دی چې د «پښتو نثر انتخاب» نومې مجموعې په پیل کې چاپ شوی دی. (۲۷). د دې بحث او د روحي ادب د نثر د بحث عنوانو

یو شی ړي، مګر د ټولو ستي اثرو د ي بحث کې یې له لندېن نه کار اخیستی دی . په تذکرة الاولیاء ، د شیخ ملی دفتر، خیرالبیان او مخزن یې بحث نه کړي دي . حال دا چې په ړوهي ادب کې دا بحث ډېر اوږد دی او د متأخرینو ځینې نثرونه هم را نغاړي .

د : د پېښور پوهنتون پښتو څانګې چې په ۱۹۹۲ع کال د پښتو نثر ارتقاء کوم سیمینار جوړ کړی و . په دې سیمینار کې پروفیسور طائر د پښتو نثر سفر تر سرلیک لاندې مقاله ولوستله . دا مقاله هم په خپل ذات کې د پښتو نثر د تاریخي سیر موضوع رانغاړي . دا مقاله نوموړي پروفیسور په پښتو مجله کې چاپ کړې ده . (۲۸) .

(۱۱) پروفیسور محمد یعقوب یوه مقاله لیکلې ده چې عنوان یې دی «په پښتو نثر د عربی اثر» دا موضوع ظاهراً داسې ښکاري چې له دې موضوع سره اړه نه لري ، خو ده چې کومې نمونې راوړې دي هغه یې د بنا علي اثر له «پښتو ادب» څخه د هغه د تاریخي تسلسل د روش په تعقیب کالې کړې دي ، خو یو ابتکار (!) چې ده یې کړی دی . دا دی چې اثر د نمونو په انتخاب کې د افغانانو د نثرونو نمونې هم راخیستی وې ، اما پروفیسور یعقوب خان د افغانانو نمونې ترې ایستلې دي ، (۲۹) .

(۱۲) پروفیسور عبدالرؤف نوشهروی سره له دې چې ساینسدان دی او ډېر نوي علوم او سائینسی مضامین یې پښتو ته اړولي دي خو د پښتو نثر د تاریخي سیر د څېړنې موضوع ته یې هم لاس اچولی دی . په دې ارتباط ما ته خپله د ده دوه کاره معلوم دي ، چې لاندې پرې خبرې کوم :

الف : دوی د «پښتو ادب ایک تعارف» تر عنوان لاندې یو کتاب په اردو ژبه لیکلی دی . په دې کتاب کې هم دوی د پښتو نثر پر تاریخي سیر یو اوږد بحث کړی دی . په دې بحث کې یې د نثرونو د موضوعي او شکلي ډولونو د سبودلو تر څنګه د پیدا ایښت تاریخي سیر هم ورسره راوړی دی «(۳۱)

ب : پروفیسور نوشهروي په پښتو ژبه یو بل کتابګوټی کښلی دی چې نوم یې دی : د پښتو نثر ارتقاء . دا کتابګوټی ټول ۵۶ مخه دی او څلور بحثونه یکې راغلي دي . په اوله برخه کې یې زاړه نثرونه ښودلي دي ، دوهمې برخې ته یې د ختکو دور نوم ایښی دی ، دریمې ته یې انګریزي دور او څلورمې ته یې جدید دور ویلی دی .

(۱۳) خورکۍ بي بي مریم ، د دې سیمې بله لیکواله ده چې دایم فل ، تحصیلی او تعلیمی درجې تېزس یې د پښتو نثر د تاریخي سیر د ښېرلو موضوع ته وقف کړی دی . او « د پښتو د نثر تاریخي او تنقید ي جایزه » نومې کتاب یې کښلی دی . دې هم په خپل کتاب کې لکه پروفیسور رضا د پښتو د نثر تاریخ له قدیمه تر منشي احمد جانه پورې رانیولی او ټول هغه نثر نګاران یې ښودلي دي چې دې ته معلوم وو . د کتاب په پای کې یې د ختیځ پوهانو بحث هم پرې ور زیات کړی دی . د دې کتاب د ارزښتونو او نیمګړتیا وو د واړو په باب کابل مجلې زمایوه مقاله خپره کړې ده «(۳۲) .

(۱۴) پښتو نثر : دا د پښتو نثرونو یوه انتخابي مجموعه ده ، چې پروفیسور جهانزیب نیاز ، پروفیسور محمد اعظم اعظم او پروفیسور افضل رضا تهیه کړې ده . له ۱۹۸۵ع کال نه ۱۹۹۰ع او

کال پورې خلور ځله د عظیم پبلشنگ هاؤس له خوا چاپ شوې ده. څلورم چاپ یې ۳۰۲ مخونه لري. په پیل کې یې د ښه تر سرلیک لاندې دارو اښاد عظیم شاه خیال بخاري یوه مقاله او بیا د پروفیسور طاير مقاله "پښتو نثر څنګه راورسیدو" نومې لیکنه راغلې ده. ورپسې کتاب درې برخې لري: اوله د زاړه نثر برخه ده چې په هغې کې د بایزید اخوند درویزه، خوشحال، عبدالقادرخان، افضل خان، مولوي احمد، منشي احمد جان او میا حسیب ګل نثرونه راوړې دي او په نوي کې یې د سرحد د سیمو د لیکوالو مقالې او یوه ډرامه راوړې ده. ورپسې یو ګرامري بحث او په پای کې په متن کې د راغلیو آثارو د لیکوالو لنډ شرح حال راوړی شوی دی.

(۱۵) اروا ښاد عبدالکافي اديب (۱۹۹۳ع مړ) د پېښور پوهنتون د پښتو ماسټرۍ د پرایویټ پروګرام لپاره درسي مواد لیکلي دي. دوهمه پرچه (مضمون) او اوومه پرچه (مضمون) د پښتو نثر په باب بحثونه دي. په دوهمه پرچه کې په خیرالبیان، مخزن الاسلام، د ستارنامه، ګلدسته او د قصه خوانۍ کیسې باندې خبرې شوې دي او د مؤلفینو په خصوص کې هم څه مطالب وړاندې کوي. د دې پرچې لپاره لیکل شوی کتابګوټی ۲۲۶ مخه دی. دا اوومې پرچې لپاره چې ده کوم کتابګوټی تهیه کړی ۳۱۷ مخه لری، چې ځینو معاصرو نثر لیکونکو د ځینو ځانګړو منثورو آثارو معرفي او تشریح ته وقف شوي دي. دا دواړه کتابګوټي د ملت پبلشنگ کمپنی چارسده له خوا چاپ شوي دي.

(۱۶) زوړ نثر: په دې نامه د M.A کورس د دوهمې پرچې لپاره یو بل کتابګوټی ښاغلي قاضي وجیه الدین لیکلی دی، چې ۱۳۵ مخه،

په ۱۹۷۸ع کال د تاج کمپنۍ پېښور له خوا چاپ شوی دی. په دې کتاب کې په خیرالبیان، مخزن الاسلام، دستارنامه او ګلدسته خبرې او بحثونه شوي دي.

(۱۷) نوی نثر: دا هم د پښتو د M.A کورس د اوومې پرچې لپاره لیکل شوی کتاب دی چې ښاغلي مشتاق مجروح یوسفزي تهیه کړی دی، ۲٤۰ مخه په ۱۹۸۷ع کال د تاج کمپنۍ پېښور له خوا چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د قصه خوانۍ ګپ، د مولانا عبدالقادر خطونه، د راحت افسانې، د ګل افضل خان داغونه، د زیتون بانو ژوندي نمونې، د صاحبزاده محمد ادریس پېغله، د غازي سیال بنزي، د اسلم خټک دوېنو جام، د ایس،ای رحمان نیمګړی خوب او د محمد اعظم اعظم لشې پاندې بحثونه شوي دي.

(۱۸) د کومل پوهنتون د پښتو M.A کورس اوله پرچه د پښتو نثر ده. د دې مضمون لپاره چې یې کوم کتابونه برابر کړي دي، په هغه کې یې په ځینو نثرو او نویو نثرونو خبرې کړې دي، لکه: خیرالبیان، نقش نګین، سید جمال الدین افغان، د فکر یون، پېغله، د سرو تعوید، ټپه او ژوند، دوېنو جام، وروستی دیدن، داغونه، مات بنګړي او په پای کې یې دوې افسانې را وړل شوي دي، یوه د زیتون بانو او بله د ګل افضل خان ده. د کتاب ټول مخونه ٤۹۵ دي او د پېښور تاج کمپنۍ له خوا چاپ شوي دي.

(۱۹) د پښتو نثر دارتقايي سیر د څېړنې په منظور په دې نیمه کې وروستنۍ لیکل شوې مقاله د پروفیسور داور خان داؤد ده. دا مقاله په اجمالي ډول د پښتو نثر د پرمختیا جاج اخلي. دا

مقاله „د پښتو نثر ارتقاء» تر سرلیک لاندې لیکل شوې او په کراچۍ کې خپرېدونکې جرس کې چاپ شوې ده.(۳۲)

د پښتو نثر د تاریخي سیر په باب له لوړو تحقیقي، ضمني او مستقلو رسالو، مقالو او کتابونو او درسي آثارو سربېره د سرحد په سیمو کې ځینو ښاغلیو، لکه اروابنا د مولانا عبدالقادر (۱۹۰۵ - ۱۹۶۹ع) پروفیسور محمد اعظم اعظم، ایاز داؤدزي او نورو د نثر په ځینو اړخونو او په پښتو کې د نثر د زیاتوالي پر ضرورت ونو مقالې لیکلې دي. د غه راز اروابنا د دوست محمد کامل مومند (۱۹۱۵ - ۱۹۸۱ع) استاد همیش خلیل، ښاغلي قلندر مومند او ځینو نورو د خپلو بېلابېلو آثارو په ترڅ کې د پښتو په ځینو منثورو آثارو تبصرې کښلې دي چې د پښتو نثر په عمومي څېړنه کې د هېرولو نه دي، خو دا چې داکیکوری لیکنې مشخصې په دې موضوع اړه نه لري، نو ځکه دلته په تفصیل یا دې نه شوې او یوازې په تشه یا دونې اکتفاء وشوه.

## ب - بلوچستان:

د پښتونخوا په سیمه کې د پښتو روزنې او پالنې بله فرهنګي حوزه د اوسني بلوچستان د پښتنو ده. په دې فرهنګي حوزه کې د پښتو نثر د پر مختیایي او تاریخي سیر د څېړنې په منظور کومه ځانګړې رساله، مقاله یا کتاب ما ته نه دی معلوم.

د دې سیمې یو لیکوال ښاغلی دوکتورکلیم الله صدام د „سهیلی نثر لیکونکی» تر سرلیک لاندې یو کتاب لیکلی دی، چې په ۱۹۸۵ع کال کې چاپ شوی دی، ټول مخونه یې ۲۱۸ دي. په دې کتاب کې د پښتونخوا د دې سیمې د ۱۳ تنو معاصرو نثر لیکونکو احوال او د دوی پر نثرونو تبصرې موندلی کېږي.

په دې سیمه کې بل لیکل شوی کتاب چې یوه برخه یې له پښتو نثر او بیا په زیاته د پښتو نثر تاریخ سیر له موضوع سره اړه پیدا کوي، هغه د پروفیسر صاحبزاده حمیدالله خوږه ادب نومی کتاب دی، چې په ۱۹۹۵ع کال پېښور کې چاپ شوی دی. دا کتاب دوې برخې لري: یوه یې د نثر ده او بله د نظم. اوله برخه د نثر ده. که څه هم جناب صاحبزاده د خپل اثر د دغې برخې په پیل کې پښتو نثر په خپل زعم په څلورو دورو وېشلی دی، خو د کتاب په منځ کې یې بیا نثرونه د زوړ نثر د خوشحال خان دور او جدید نثر تر سرلیکونو لاندې معرفي کړي دي.

په زوړ نثر کې یې د سلیمان ماکو، بایزید، اخوند درویزه، خوشحال (دستارنامه) محمد هوتک او افضل خان خټک (تاریخ مرصع) باندې لنډې لنډې خبرې کړې او د دغو نثر نګارانو نمونې راوړې دي. ـ

په جدید نثر کې یې د استاد حبیبي، راحت زاخیلي، ظفر کاکاخیل، عبدالخالق خلیق، غلیم شاه خیال، سمندر، حافظ محمد ادریس، سلطان محمد بابي، مولانا عبدالقادر، سلطان محمد صابر، فاروق شاه او رښوان مایل د لنډو شرح حال ترڅنګه د دوی د نثرونو نمونې هم ورکړې دي.

ښاغلی صاحبزاده په خپل دغه کتاب کې د نثر نګارانو د دغه بحث په تذکرويي ډول تهیه کړی دی، خو د زاړه او جدید نثر په باب ځینې تبصرې هم په دې کتاب کې شته.

د دې کتاب د نثر برخه ۲۹۶ مخه ده چې د مولف له مقدمې وروسته په ۱۰ مخ کې پیل شوې ده. د دې کتاب یوه غټه نیمګړتیا دا ده چې د نثر نګارانو د پرېمانه نمونې یې وړاندې کړې دي، لوستونکي او څېړونکي د وار له پړه استفاده ځنې کولای شي.

ترڅنګه چې دا کتاب ګران صاحبزاده د مخه لیکلی و او د چاپ په وخت کې هم صاحبزاده صاحب چندان روغ نه و، نوځکه د نثر نګارانو په شرح حال کې ځینې نیمګړې خبرې راغلې دي. د مثال په ډول د استاد حبیبي نثرونو په نمونو کې د د پټې خزانې د څلورم چاپ د مقدمې ځینې نمونې راوړې دي (۱۴۱-۱۵۹ مخونه) دا مقدمه په اصل کې د درېیم چاپ د دري مقدمې پښتو ترجمه ده چې مترجم یې استاد حبیبي نه دی، بلکه هغه څوک دی چې دا چاپ یې تهیه کړی دی. زما په عقیده دا د صاحبزاده صاحب کار نه دی. د پټې خزانې د څلورم

چاپ تهیه کوونکو ته کار ور چې داوضلمت یې کړي وای چې دامقدمه د دریم چاپ له مقدمې نه ترجمه شوې او ترجمان یې فلانی دی.

متبایې پښتنو دورو مقالو او کتابونو کې پر پښتو نثر ضمني بحثونه راغلي دي. خو دا چې زماله موضوع سره تړنه ایره نه لري، خو د بحث د طوالت په منظور یې له یاده صرف نظر وشو.

## (۳) ختیځ پوهان:

د اتلسمې پېړۍ له اواخرو را په دې خوا د نړۍ په ځینو کوټونو کې ځینو پوهانو د شرقي ژبو د څېړنو په ترڅ کې پښتو ته هم توجه اړولې ده. د غو پوهانو د درسي مقاصدو په منظور د پښتو منثورو آثارو منتخبات هم چاپ کړي دي. لکه پروفیسور برنهارد دورن (۱۸۰۵-۱۸۸۱ع) په وړه خریستوماتۍ(۳۳) او رسره په خپله لویه خریستوماتۍ(۳۴) کې، راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۶ع) په ګلشن روه (۳۵) او هیوز په کلید افغانی (۳۶) کې، دغه راز ځینو پوهنتونونو د ختیځپوهنې د پوهنځیو د پښتو شاګردانو لپاره د پښتو نثرونو منتخبې مجموعې تهیه کړې دي، لکه فقید استاد موتیبروس کریکورویچ اسلانوف (۱۹۷۷ع مړ) له خوا د مسکو د ختیځپوهنې د پوهنځي د پښتو شاګردانو لپاره دغسې مجموعې چاپ شوې ده(۳۷).

هغه اول ځینو نورو بیا د پښتو ادبیاتو د عمومي څېړنو په ضمن کې په ځینو پښتو منثورو آثارو هم خبرې کړې دي، خو په ځانګړي ډول په دې ساحه کې ما نه یو کار معلوم دی، چې هغه د فقید کیورګ فیودورویچ ګیرس (۱۹۹۴ع مړ) دی.

د ګیرس اثر د پښتو هنري نثر په نامه سرمحقق محمد شینواري له روسي ژبې ترجمه کړی دی او په ۱۳۶۵ هش کال د افغانستان

د چاپ او خپرولو د دولتي کمېټې له خوا چاپ شوی دی. د دې کتاب ټول مخونه ۱۲۲ دي. په دې اثر کې د پښتو هنري نثر د پیدا ینبت پر مسأله بحثونه شوي ، د مولوی احمد، منشي احمدجان، میراحمد شاه رضواني او د افغانستان د ځینو معاصرو نثر لیکونکیو پر منثورو آثارو خبرې او تبصرې پکې راغلي دي.

## پر موضوع د شوي کار ارزیابي :

که چېرې موږ په تېرو مخونو کې یاد شوی کار ذ تألیف د اهدافو له پلوه وګورو او دلبندي يې کړو، نو دا آثار موږ په څلورو برخو ویشلای شو :

**الف :** هغه آثار چې د تحقیقي مقاصدو پر بنا کښل شوی او مؤلفانو يې غوښتي دي چې په پښتو کې د نثر د پیدا ینبت او پاينبت سیر وڅېړي. په دې ډول آثارو کې د استاد خادم ، استاد حبیبي ، استاد رښتین ، پروفیسور افضل رضا ، پروفیسور محمد نواز طایر ، اجمل خټک او نورو کارونه د حساب وړ دي.

ب : هغه کارونه چې د علمي رتبې د ترلاسه کولو او یا د تحصیلي درجې د کېښلو لپاره لیکل شوي دي. لکه د پوهاند دوکتور عبدالرزاق زهیر ، بي بي مریم ، حکیم تنهیوال او نورو کارونه . دا کارونه ځینو صرف په دې نیامت کړي دي چې علمي درجه پرې ترلاسه کړي او ځینو بیا دا اهداف هم په پام کې لرلي دي چې له ترفیع سربېره يې باید له اثره علمي او فرهنګي ګټه هم متصوره وی.

ج: د دې سا چې هغه آثار چې لا ر ښودي ارزښت لري او بنا غلیو

لیکوالو به دې نیامت کښلي دي چې د دوی راغونډی کړې نمونې د نورو
لپاره سرمشق وي ، لکه د استاد الفت او خېړنمل ژواک کارونه .

د : درسي اهدافو تحقیقونکي آثار : د ا ډول آثار زیاتره
په پښتو ټولنځوا کې کښل شوي دی ، ځکه د لته نظم او نثر د بېلا بېلو مضمونو
په توګه تدریس کېږي .

که د دغه ځلور کټګوریو آثار سرې تریوه حده په ژوره توګه
له نظره تېر کړي او یوه اجمالي ارزیابي یې لوستونکو ته وړاندې
کړي ، نو په عام ډول د دغو آثارو په باب کښلای شي :

(۱) دغه آثار که په هر منظور کښل شوي دي ، تر یوې اندازې
په خپلو اهدافو کې بریالي دي او هر اثر خپل تاکلی هدف تریوه حده
ترسره کړی دی . د آثار و مؤلفانو له خپلې وسې سره سم د خپلو معلوماتو
په دایره کې موضوع ته مربوط معلومات او اطلاعات سره راغونډ کړي
او په خپلو ځانګړو روشونو سره سم یې سره اوډلي او شنلي دي .
د پښتو نثر د تاریخي سیر څېړنې که د نورو بحثونو په لړ کې په ضمني
ډول راغلی دي او یا که ځانګړی کښل شوي دي لوستونکو ته د خپل
زمان له شرایطو سره سم تر یوې اندازې یوه مفکوره ورکولای شي .
لوستونکي د دغو آثارو له لوستلو پوهېږي چې په پښتو کې نثر څه
وخت پیدا شوی دی او څنګه پر مختللی دی ؟ خو د دغو سببونو ترڅنګه
په دې آثارو کې ځینې نیمګړتیاوې هم شته او یا ځینې داسې خبرې ،
چې له یادولو یې چاره نه لرو .

(۲) له ځینو محدودو کسانو پرته نورو ټولو نیا غلیو سره له دې
چې خپل لیکلي آثار د دوره بندیو په کالب کې ترتیب کړي دي ، د هرې

دورې په باب کې یې دهماغې دورې پر آثارو تبصرې هم کړې دی، خو دا آثار له تاریخه زیات تذکروته پاتې کېږي. په هرې دورې پورې مربوط لیکوال یې دهماغې دورې د ننه په تذکره یې روښ معرفي کړي دي. دغو سناغلیو اول دهرلیکوال پېژند نه کړې، بیا یې دهغوی د آثارو یا دوښي راوړې ډېرو بیا یې د نثرنمونې ورخوندي کړې دي، او دځاینې چې د نثرنمونه نه ده میندلی نوترې تېر شوي دي.

(۳) په دغو کتابونو او مباحثو کې ځینو دمنثورو آثارو دژبنی امخ ارزیابۍ ته ډېره توجه کړې ده. که زه نه وم غلط د پرنسیپ له مخې په دغسې آثارو کې زیات زور په دې اچول پکار دی چې دغه آثار څه فرهنګي ارزښت لري، دفرهنګ په بشپړتیایي سیر کې څه پر مرتب دی که یه؟ ادبي ارزښتونه پکې شته او که نه؟

(٤) معاصر اصول او دڅېړنې غوښتنې دا دي چې کله څېړونکی دیوې موضوع څېړنې ته لاس اچوي او که په دې موضوع کې تر ده دمخه هم کار وه شوی وي، نو څېړونکی باید زیار وباسي چې د موضوع ځینې داسې اړخونه تحلیل او تفسیر کړي چې په دمخنیو څېړنو کې نه وي راغلي او یا زیار وباسي چې دد مخنیو څېړنو په پرتله یې څه زیاتو آثارو څېړې وکړې؛ دا په دې معنا چې دده څېړنې باید دمخنیو څېړنو کمبودتات بشپړ کړي. که به داسې ونه کړي، نو بویه چې یو تکرار عمل یې سرته رسولی دی.

که مونږ د پښتو نثر د تاریخي سیر د څېړنې دغه کړده یاد شوي آثار وګورو و د نوی تلاش خواته رجحان پکې ضعیف ښکاري. که څه هم ځینو سناغلیو د ازیاد ابیستلی چې دمعلومو آثارو له یادولو

سرېره يې ځينې داسې آثار هم يادکړي چې په تېروکې نه وو ياد شوي، لکه دپوهاند زهير په اثرکې ځينې داسې منثور آثار راغلي دي او يا هم د محترمې بي بي مريمې په اثرکې ځينې داسې آثار و باندې خبرې شوي دي، چې د پروفيسور رضا په اثرکې نه دي يا د شوي، دغه ډول بيا دپوهاند رښتين په اثرکې ځينې داسې آثار راغلي دي چې سپه لوړو يا دو شويو کتابونو کې نه دي يادشوي. د پروفيسور رضا په اثر کې هم يونيم داسې نثرګار شته چې(۳۸) په وروستيوکې نه دي راغلي.

اماکه چېرې د دغو آثارو دتاليف وختونه په پام کې ولرو او بيا په دغو کتابونو کې مطرح شوي پښتو منثور آثار له نظره تېرکړو نو ددغه نکاري چې په هماغو وختونو کې ځينې نورمنثور آثار هم معلوم وو او کېدا ای شول چې د لږ تکليف په مثلوتر لاسشي، خو زموږ ښاغليو ليکوالو دا کار نه دی کړی. له معاصرې دورې پرته د پښتو ادب په منځنۍ دورې پورې مربوط ځينې آثارشته چې په يو لو يا دوشويو کتابونو، رسالو او مقالو کې پرې بحث نه دی شوی. له کتابونو او رسالو سربېره د پښتو نثر د تاريخي سير دڅېړلو کوم ځني بحثونه چې د نورو آثارو په ترڅ کې راغلي دي، مؤلفينو يې هغو ډېرو مشهورو معلومو آثارو اکتفاء کړې ده او په دې ساحو کې يې په نورو زيات تجسس ځان نه دی ستړی کړی.

(۵) په دغو کتابونو او آثاروکې ښاغليو ليکوالو په ځينو داسې آثارو د پښتو منثورو کتابونو په توګه خبرې کړې دي، چې اوس نشته، لکه: د سالو وږمه، لرغوني پښتانه، تاريخ سوري، بستان الاولياء

نمایه عقیده ، دخپرني روښونه ددې تقاضاکوي چې محقق باید په موجودو اسنادو او آثارو خبرې وکړي . په ورکو آثارو بحث کول هسې د بوسو بادولو معنا لري . مونږ هغه قدیم آثار چې زموږ پښتانیو یا دکړي منو ، خو په خپلو څېړنوکې یې باید یوازې د نامه یادونه وکړو ، نه دا چې یوه مکمله دوره دداسې ورکو کتابونو په بابیزه بحث وکړو . ورک آثار د بحث لپاره څه نه لري یوازې د نامه یادول یې کفایت کوي .

په دې ارتباط یوه بله خبره زمایه مغزوکې ګرځي او هغه داده چې کېدای شي د پخوانو ځینو یادکړي کتابونه نثرنوي او پښتو نه وي؟ د مثال په ډول به تاریخ سوري را واخلو . محمد هوتک دا کتاب دلرغوني پښتانه په حواله یاد کړي دی . شیخ کته متی زی په لرغوني پښتانه کې له دې کتابه استفاده کړې ده او ځيني پښتو شعرونه یې ترې نقل کړي دي ، خو دا نقل ددې معنا نه لري چې دا کتاب دې هرومرو پښتو وي ؟ محمد هوتک چې په پټه خزانه کې د تاریخ سوري په حواله کوم مطالب اخیستی دي او د تاریخ سوري نوم یې اخیستی دی(۳۹) هغه صیغه ځای دانه دي ویلی چې دا کتاب به پښتو دی یا نثر دی .

کېدای شي تاریخ سوری ګرده سره پښتو نه وي ، په پارسي لیکل شوی وي ؟ او پښتو شعرونه دې پکې راغلي وي . که څوک دا وپوښتي چې په پارسي کتاب کې ولې پښتو شعرونه څه کوي . مونږ به جواب کې ورته د نعمت الله هروی مخزن افغاني یاد کړو او یا د بایزید روښان

حالنا مه چې دواړه کتابونه پارسي نثر دی، مګر دځینو پښتنو شاعرانو دکلام نمونې پکې راغلې دی.

محمد هوتک چې په خپل کتاب پټه خزانه کې د نعمت الله هروی له مخزنه د استفادې په وخت کې د دې کتاب کومه یادونه کړې ده هلته يې ویلي ندي چې داکتاب په پارسی دی. نوکه چیرې د مخزن افغانی نسخې هم لکه د تاریخ سوری ورکې وای، نو بیا دغو محققانو په مخزن افغاني هم پښتو نثر باله؟ د دې پولو خبرو سره یو چې مونږ باید د ورکو کتابونو په باب ډیر محتاط و اوسو او قاطع حکم صادر نه کړو، چې دا یا هغه کتاب به پښتو نثر و؟ بلکه و هم خو دا چې نشته مونږ يې یوازې د نامه د یا د ولوحق لرو، نه پر هغه داورو بحثونو.

(٦) له دغو آثارو څخه په ځینو کې داسې کسان هم د پښتو نثر نګارانو په توګه یاد شوی چې د پښتو لیکنو څرک يې تر اوسه نه دی لیدل شوی، لکه نواب مستجاب خان (٤٠) چې نه يې منظوم او نه يې منثور پښتو آثار معلوم دی. له ده سربېره یو بل بیا علامه حبیب الله محقق کندهاری هم د پښتو نثر نګار په توګه یاد کړی دی (٤١) تر کومه ځایه چې معلومه ده له منظوم منهاج العابدین پرته د ده کوم منثور پښتو اثر تر اوسه نه دی لیدل شوی.

د غه رنګه د صوابی د کوټې اوسېدونکی مولوی سید احمد د روضة الامثال جوړوونکی هم د همدغه کتاب په بناء په پښتو نثر نګارانو کې حساب شوی دی (٤٢). روضة الامثال د ٦٧٩ متلونو یوه مجموعه ده، چې مولوي سید احمد د یادرې هیوز لپاره راټوله کړې ده

زما په خیال مولوي سید احمد یو فو کلور ټولونکی دی، نه نثرګار

که چېرې د ده نور منثور آثار وی، کېدای شي پر ده اوآثار و

یې په دغسې کتابونو کې بحث وشي. خو متأسفانه چې بنا غلو

لیکوالو د ده د نورو منثورو آثارو یا دونه، نه ده کړې او دی یې

د همدغه یوه نقل کړي کتاب پر اساس د نثرګار په توګه معرفي

کړی دی.

(۷) په دغو آثارو کې حیني لغوي کتابونه اویادامې کرامي

آثار چې تشریحات یې پښتو نه دی، هم په پښتو منثورو آثارو کې

معرفي شوي دي، لکه: د قاسم علي اپریدی (۱۱۸۳ - ۱۲٤۱ هق )

افریدي نامه، د نواب محبت خان (۱۲۲۳ هق مړ) ریاض المحبت،

د نواب الله یارخان (۱۲٤۸ هق مړ) عجایب اللغات او نوري لغتنامې.

زه لومړی د دغو یادو شویو آثارو نمونې وړاندې کوم او بیا

د دغو نمونو له مخې موضوع د لوستونکو قضاوت ته پرېږدم، چې

دا آثار د پښتو منثورو آثارو په ترڅ کې د مطالعې جوګه بولي

او که نه؟

(۱) ریاض المحبت:

یوازې: به یای تحتانی واو وهر دو مفتوح و زای منقوط مکسور و یای تحتانی مجهول

به معنای تنها.

(۲) عجایب اللغات:

یهان: یعنی دلی بکسر دال مهمله ولام ویاء مجهول به معنای اینجا.[۱۳]

(۳) افریدي نامه:

آفریدی، پیداکړی، پیداکړی کری ایتهرد پیداکیاهی.

زه خپله دغسې لوی و تشریحات لرونکي ژبني آثار که هغه لغتنامې وي او یا ګرامري آثار په پښتو منثورو آثاروکې نه شمېرم . زما په عقیده هغه ګرامري او لغوي کتابونه چې تشریحات يې پښتو وي کېداې شي د پښتو نثر په تاریخ کې یاورو. دلوړو یا دو شویو ژبنیو آثارو د مطالعې ځای د پښتو نثر د څېړنې کتابونه نه دي . لغوي او ګرامري او د اصطلاحاتو غیر تشریحي او تشریحي کتابونه، هغه هم چې تشریحات يې په نورو ژبو وي ځانته د مطالعې خپل ځای لري . ژ بپوهان يې د خپل مسلک له غوښتنو سره سم د خپلې مربوطې ځانګې په څېړنو کې تر کتنې لاندې نیسي.

دغو بنا غلو چې ریاض المحبت ، عجایب اللغات ، افریدي نامه او نورو دې ته ورته لغتنامې یوازې د پښتو کلماتو د موجودیت له امله پښتو نثر بللي دي . زما په خیال د دوی دا کار له هغو تعریفونو سره په مغایرت کې واقع کېږي چې نوموړو بنا غلو د خپلو آثارو په پیل کې د پښتو نثر لپاره راوړي دي .

(۷) له دغو آثارو څخه په ځینو کې دمستشرقینو یو فصل هم شته (۴۳) دا کار سه دی، خو زما په عقیده دغو بنا غلو لیکوالو چې په کومه شېوه کړې دی، مناسب نه برېښي . په دې معنی چې دوی په دې بحثونو کې تر ل هغه مستشرقین یا د کړي وي چې پښتو ته يې په بلا بېلو ساحو کې کار کړی دی. په دې فصل کې باید یوازې هغه مستشرقین راوړل شي چې پښتو نثري لیکلي دي او یا يې په پښتو نثر نه څه آثار ترجمه کړي دي.

(۸) دغو کتابونو کې د لیکوال د زوکړې او مړینې نېټې، د آثارو

د تألیف او ترجمې او همدارنګه د چاپ او خطاطي کلونه هم په ځینو موارد وکې ناسم را نقل شوي دي. د کتابشناسی مربوط معلومات یې هم سم نه دي راوړي. که د دغو ټول موارد نه دلته وښیم سرینه به نور هم اوږده شي. د دغو آثارو د اړوند تېروتنو ته به زه د دې کتاب په متن کې هم اشاره وکړم.

(۹) په دغو آثارو کې ځینې د یوه سړي آثار بل ته منسوب کړي دي لکه:

الف: له یادو شویو د مخنیو کتابونو څخه یوه کې د علي محمد مخلص منثوره تصوفي رساله، چې د بنګال ایشاټک سوسایټي په خطي کتابونو کې د ارزاني او مرزا له دېوانونو سره یوځای راغلې ده، د ارزاني ګڼل شوې ده او د مخلص د نثر نمونې یې د ارزاني بللي دي؛ حال دا چې دا رساله د مخلص ده او په کابل کې په بشپړه توګه د کابل مجلې په یوه ګڼه کې چاپ شوې ده(۴۵) د دې لپاره چې خبره ښه سپینه شي د رسالې له متن نه به یو سند راوړو. د رسالې یو ځای راغلي دي: ګوره په دا معنی یو بیان د فقیر پر نهه ناند شوی دی و کوینش شه.

نه حیران یم وعظیم د دریا کبیر ته
د سبدلی و انسان کبیر صغیر ته

د همدې پارګي په مقطع کې وایي:

مخلص وایي د کامل صحبت کیمیا دی
نن دا سیس صورت زر و لیوه اکسیر ته

بل ځای لیکي: «او فقیر هم په دا معنی یو بیان ویلی دی. دا سم ذات و صفاتو او افعالو خبرې پکښې کښلې دی، دلته وکوینش شه»

بیا یې یو پاړکی راوړی دی چې مقطع یې دا ده :

دا مخلص یې نندارکه ذات په کل صفات موسوم شه

زه فکر کوم چې نور خو به چا ته دا شک پاتې نه وي چې په بنګال

ایشاټک سوسایټي کې د میرزا او ارزاني له دیوانو سره محفوظه منثوره

رساله د مخلص ونه بولي.

ب : په دغو آثارو کې د شمس الدین غلجي سراج الموتی او نور

د شمس الدین کاکړ کمل شوي دي. (٤٦)

ج : په ځینو دغو آثارو کې د افضل خان خټک ترجمه کړی عیار دانش

د خوشحال خان بلل شوی دی (٤٧) یو بل ځای بیا عیار دانش او علمخانه

دانش دوه بیل کتابونه کنل شوي، یعني عیار دانش یې د خوشحال خان

او علمخانه دانش یې د افضل خان بللی دی. (٤٨) یو بل ځای بیا داغلي

دي چې کلیله ودمنه (عیار دانش) اول خوشحال او بیا افضل خان

ترجمه کړې ده (٥٠) یو بل ځای بیا دافضل خان عیار دانش د ملا

حسین واعظ کاشفي (٩١٠ هق مړ) دانوار سهلی ترجمه بللې ده.(٥١)

دا خبره سمه نه ایسي. افضل خان کلیله ودمنه د علمخانه دانش په

نامه د ابوالفضل له عیار دانش نه په پښتو ترجمه کړې ده. (٥٠)

په دغو آثارو کې په ځینو کې د خوشحال د د ستارنامې د نثر نمونې

دافضل خان د نثر نمونو په دول راوړل شوې دي. داکار مرحوم

عبد الحلیم اثر په پښتو ادب (٥١) کې کړی دی، چې یو هاند ربنتین

یې هم دا تېروتنه په خپل اثر ځینې تاریخي او ادبي سمونې کې

یاده کړې ده (٥٢) خونه باید د استاد ربنتین پر یادونه دا خبره

زیاته کړم چې د دستارنامې هم دغه نمونه تر اش وړاندې او ورسته

په دوو نورو ځايونو کې هم د افضل خان بلل شوې ده. (٥٣)

هـ: له دغو آثارو څخه په يوه کې د پښتو خزانې (لومړنی) يونيک تر دلرغوني پښتانه انګېرل شوی دی (٥٤) حال دا چې د اخبره سمه نه ده. محمد هوتک له مأخذو په عام ډول استفاده کړې ده، منظومې نمونې يې له خپلو مأخذو اخيستې دي، خو د لرغونو آثارو منثورې نمونې يې نه دي را نقل کړې.

ز: له دغو آثارو څخه په يوه کې د تاريخ سلطان محمود ترجمه د منشي احمدجان بلل شوې ده (٥٥) د تاريخ سلطان محمود ترجمه د مولوي احمد د هشنغر ده.

(١٠) له دغو آثارو څخه په ځينو کې يې د ليکوالو او شاعرانو نومونه سرګډ شوي دي، له څو تنو څخه يې يوځوړ کړی دی لکه:

الف: د جنګنامهٔ حسنين ناظم سيد حسين (چې د مخزن الاسلام د ځينو نسخو په ملحقاتو کې يې د حسين او سيد په نامه شعرونه هم شته) د کليد افغاني حسين، د ديوان خاوند د سبک هند پيرو شاعر حسين او د نافع المسلمين مسجع ليکونکی مير حسين هروي ځلور واړه سرګډ شوي دي او يو حسين ترې په يوه بله څېره کې جوړ شوی دی. د ابدعت مرحوم اثر په تبرهبر شاعران (٥٦) کې کړی و او له دغو څلورو سره يې يو سړی جوړ کړی او بيا يې خود ساخته بله شجره ورته جوړه کړې ده. او د سيد على ترمذي لکونی سره يې تړلي دی. دا اثر په پيروی د بي بي مريم د پښتو نثر په تاريخي او تنقيدي حبابونه نومي اثر کې هم تکرار کړې ده (٥٧) پروفيسور رضا هم د خلاصة الاسلام مسجع

لیکرنکی میرحسین هروي سید حسین بللی دی، چې د ده په قول د پیربابا کورنۍ ته منسوب و. (۵۸)

دا توله خبرې سمې نه دي. د خلاصة الاسلام مترجم حسین، میرحسین هروی دی چې د نافع المسلین په نامه یې پند کتاب په مسجع نثر لیکلی او ترجمه کړی دی او خلاصة الاسلام د دغه نافع المسلمین یوه برخه ده.(۵۹)

ب: د پښتو نثر زړکلن تاریخ نوي اثر کې مولوي احمد د تنګی او منشی احمد جان یوسفزی بللی شوی او د دواړو آثار سره ګډ شوي دي. ګنج پښتو او د تاریخ سلطان محمود پښتو ترجمه یې د منشي احمد جان بللي دي(۶۰) دا دواړه کتابونه مولوي احمد د تنګي لیکلي او ترجمه کړي دي. د منشي احمد جان آثار: هغه دغه، د قصه خوانۍ ګپ او تاریخ افغانستان دی.

(۱۱) د پښتو نثر د منابعو د ارزیابۍ په لړ کې د دې اړتیا لیدل کېږي چې پر پټه خزانه هم څه خبرې وکړو، ځکه پر دې کتاب هم ځینو داخلي او خارجي کسانو څه خبرې کړي دي او موږ اړ یو چې دا خبرې هم ارزیابي کړو او ځان پرې پوه کړو، چې په دې خبرو کې د منلو او یا نه منلو څه شته او که نه؟

په دې بحث کې موږ لومړی خپلې خبرې د پټې خزانې له پس منظره پیل کوو او توضیح کوو چې څنګه د دې کتاب پیدا کېدل افغانان او له او سني افغانستان نه د باندې پښتانه او ځینې د مدعا خاوندان غیر پښتانه او ورسره له پښتني فرهنګ سره منلک ختیځ پوهان حیران کړل او بیا به د غو دادعا خاوندانو ته ځواب وایو:

د دې کتاب پیدا کېدلو او خپرېدلو افغانان له اوسني افغانستان نه د باندې پښتانه او ځینې د مدعلخاوندان غیر پښتانه او ورسره پښتني فرهنګ سره منسلک ختیځ پوهان یوشان حیران کړل.

دا حیرانتیا د توجیه وړ ده او زما په پوهه یې توجیه داسې کېدای شي:

(۱) په افغانستان کې د روانې شمسي پېړۍ له پیله پښتانه د خپلې ژبې د علمي ودې او چارو ته لا متوجه شوي وو. د پښتو دغه پرځای هڅه او له خپلو فرهنګي حقوقو نه دفاع زموږ ځینې غیر پښتانه افغان ورونه دې ته وهڅول چې د پښتو په وړاندې ودرېږي او داسې تبلیغ وکړي چې پښتو یوازې د خبرو ژبه ده او لیک پرې نشي کېدای او دا به یې ویل چې څه پرې نه دي لیکل شوي. ارواښاد امین الله زمریالی (۱۲۷۲-۱۳۶۱ هش) چې د کابل په ادبي انجمن (۱۳۱۰ هش کال تأسیس) کې د پښتو لیکوال و او د دغه وخت د کابل په فرهنګي حلقو کې د پښتو په باب انګېرنې ورمعلومې وې، نو څرګندوي په خپله یوه مقاله کې په دې ارتباط کښلي دي:

«ما چې سږ کال ودې نامکمل کار ته اراده وکړه د دې سبب وو، یو دا چې ډېرو منکرانو دا ویل چې پښتو علمي ژبه نه ده او هیڅ کتاب پکې لیکلی شوی نه دی ...» (۹۱)

د دغسې ذهنیت خاوندانو چې همغه یوه ژبه حتی د لیکلو جوګه نه بولي، نو په طبیعي ډول باید دوهمه پېړۍ کې د تېر شوي امیر کرور په دریمه پېړۍ کې دا وسېدلي ابو محمد هاشم ابن زید السرواني (۲۹۷ هق مړ) د خبرو او ربړو هک پک شي. یو څوک چې یوې ژبې ته حتی په شلمه میلادي پېړۍ کې د افهام او تفهیم له وسیلې بالا په بل ارزښت نه وي قایل هغه به ضرور د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري د قصید و په لیدلو په ذهني ناروغۍ اخته کېږي.

زموږ د دري ژبو څرونو په څنګ کې د افغانستان پښتنو زیاترو دې کتاب ته د خپلې ژبې او فرهنګ د یوې معتبرې وثیقې په سترګه کتل او په دې باب یې حتی چاته د خبرو اجازه هم نه ورکوله.

(۲) له اوسني افغانستان نه د باندې زموږ په پښتونکې د پښتې خزانې د پيداکېدو ټو وخته مقبول شخصيتونه اخوند درويزه (رح) اوعبدالرحمن بابا (رح) وو. د عليخان، حافظ الپوري، عبدالعظيم رانيزي او لن هم د شيدا له نومونو سره اشنا وو، حتی د پښتو د ټو تولو لوی شاعر خوشحال بابا په باب هم خلک له ډېرو خبرو نا خبره وو. په داسې يو ماحول کې چې خلک څو محدود کسان پېژني او د پښتو آثار و لرغونتيا ورته هم دومره ايسي د دې و زړولوپه زړه کې هم د څينو پښتو شاعرانو نومونو او کلام را برسېره کېدلو څېنې کسان له حيرانۍ سره مخامخ کړل. خو له دې حيرانۍ سره سره په هيل وخت کې دغو پښتو د څه کتاب د خپل لرغوني فرهنګ جزء وباله او خپلې ادبي او فرهنګي څېړنې يې له دې کتابه پيل کړې.

له پښتنو سربېره زموږ په کاوندېانو کې څېنې نور خلک چې تر اوسه لا پر موږ د خپلې فرهنګي سلطې دعوه لري د دې نوي کتاب په رابرسېره کېدو تلوليي شول.

(۳) له پښتني فرهنګ سره منسلکو ختيز پوهانو تر هم، چې يې د پښتو ادبياتو د قدامت په باب، د پروفيسور دورن (۱۸۰۵–۱۸۸۱ع) او هانري جارج راورټي ليکنې د اساسي سند ونو په توګه منلې، ددې رابرسېره شوېو زړو کسانو نومونو او کلامونو څخه سوالونه را پيدا کړل.

له دغو بېلابېلو تمايلاتو او انګېزو سره يو ځای د دې کتاب د چاپ او بيا خپرېدو له وخته په دې کتاب خبرې پيل شوې، بحثونه وشول، مقالې وليکل شوې. پټې او سپکاره نيوکې وشوې. چا دا کتاب جعلي وباله او چا اصلي وماننه، څينو وويل چې عمداً هوتک جعل کړ

د دې او څېړونې د جعل نسبت استاد حبيبي ته کاوه خبره مقابلو ته سپره پاتې وه،
چې له پېړه مرغه دا بازار لا تر اوسه تود روان دی.

د دغو جنجالي بحثونو په ځواب کې استاد حبيبي د پټې خزانې د دريم
عکسي چاپ په مقدمه کې مفصل توضيحات ورکړل. په دې ځوابونو کې
د څېړونو خارجيانو او داخلي شکاکانو ټې رايو او ليکنو خبرې شوې دي،
او تر کومه ځايه چې مقدوره وه استاد خپل ځوابونه برابر کړي دي. دا
خو خبره داده، چې مسأله د لته پای ته ونه رسېده، بلکه دوام يې پيدا کړ
او د استاد حبيبي تر ځوابونو وروسته زموږ څېړونو پښتنو ورونو هم
دې ميدان ته راودانګل.

زموږ په پښتنو کې تر ټولو د مخه استاد عقاب خټک (۱۹۸۵ع مړ)
لومړی ځل په ۱۹۵۹ع کال د پټې خزانې په باب په خپل رحمان بابا نومي اثر
کې يو يا د ښت خپور کړی و، ځکه چې دا کتاب تر نشر وروسته خپله
مرحوم عقاب ته ونه رسېد، ته نه ورسېدلی او
استاد حبيبي ته نه و معلوم، که يې ليدلی وای نو به يې د پټې خزانې
د دريم چاپ په مقدمه کې ضرور خبرې باندې کړې وای.

نو موړي عقاب له لومړي يادښت سربېره د پټې خزانې په باب
دوه نور يادښتونه هم خپاره کړي دي، خو په اعتراضونو کې يې
داسې خبرې نشته چې دا کتاب د جعليت په معرض واقع کړي. دده
خبرې ټولې سرې يوه ذهنيګرايي تلقي کولای شي. ځکه چې د مباغلي
عقاب پر دې يادښتونو چا څه نه وو ليکلي، نو مې لازمه وبلله چې په
خپل يو تازه اثر: پټه خزانه او د سرحد پښتانه کې دده پر
کړيو اعتراضونو تفصيلي بحث وکړم. دده دکړيو اعتراضونو

په باب اصلي بحث دلته زاید بولم، ځکه څوک له موضوع سره مینه لري کېدای شي د دغه سوالونو او ځوابونو په هکله یادو شویو آثارو کې تعقیب کړي.

د ابن البناد خیال پخوا یا هم په مخ پهله کې شامل شوی و، د ډېره غرنا کې تحصیل کړی و او د ځینو اختیز پوهانو تر اغېز لاندې یې پر دغې کتاب د اولمپیو سیالي څو پېړۍ نه دا کتاب نه منم. د خیال دوره ویل شوي دي بې له منم د بحث لپاره څه نه لري، ځکه چا څه نه دي پر ویلي شا ایوه شوي او ویل چې نه يې نه منم یا يې منم. د دې کتاب د تائید یا تردید په لړ کې ارزښت نه لري.

د پټې خزانې د دغه منونکو پښتو په ډله کې په میدان ولاړ سري د پښتو نومیالي شاعر، لیکوال او مترجم ښاغلی قلندر مومند ګڼ. ښاغلی مومند د پښتو په معاصر ادبي پهلېر کې د حق خاوند سړی ګڼل.

ده اول ځل په ۱۹۷۶ع کال، دوهم ځل په ۱۹۷۹ع کال د پټې خزانې په تردید کې دوې مقالې وکښلې. د ده د دې مقالو په باب د اوسني افغانستان د پښتو تر عکس العملونو د منځه د دې سیمې پښتانه وا وپاوول. د بلوچستان د سیمې پښتانه پروفیسور سیال کاکړ د مروتو د سیمې پښتانه ممتاز شاعر ښاغلي عبدالرحیم مجذوب مروت یې په ځواب کې مقالې وکښلې. دا دواړې مقالې په ۱۹۷۶ع کال له کوټې څخه خپرېدونکي اولس کې خپرې شوې.

نومیالي لیکوال او شاعر ښاغلي همېش خلیل هم په ۱۹۷۹ او ۱۹۸۰ع کلونو کې د ښاغلي قلندر مومند د مقالو په ځواب کې دوې مقالې وکښلې. ښاغلي د دغو ځوابونو د دوه قناعت نه وي حاصل کړی، ځکه

ځکه یې بیا د پته ربیتنه خزانه في المیزان په نامه پښتو کتاب ولیکه، چې په ۱۹۸۸ ع کال په پېښور کې چاپ او خپور شو.

د دې کتاب نشر هم خلک قانع نه کړای شول، تر څو لو د مخه یې مبا غلي ورین ابخوار او آصف صمیم په ځواب کې په اکېږه کتاب وکښل چې د پټې خزانې میزان رښتیا میزان دی؟ نوم یې دی. دا کتاب په ۱۹۹ کال په پېښور کې چاپ شوی دی. ورپسې تو میالي لیکوال او شاعر ښاغلی همېش خلیل کتاب ځتو پارسنګه په ۱۹۹۳ ع کال کې له پېښوره چاپ شو، په سپیدې نومې مجله کې د ښاغلیو: پروفیسور صاحبزاده حمید الله، عبدالکریم بریالی او محمد معصوم هوتک مقالې کړ ه دغه کتاب په ځواب کې لیکل شوي دي همدا ډول د پېښور د خلیل ادبي او لسي جرګې له خوا د محمد هوتک له تو وکېدې د ری سوه د برشمې کالیزې د مناسبت جوړ شوي سیمینار په وړاندې شوي مقالې تولې د پټه خزانه في المیزان په ځواب کې تهیه شوې دي.

له دغو مقالو او کتابونو سربېره چې له افغانستان نه د باندې خپاره شوي دي. په افغانستان کې خپاره شوي د محمد هوتک یادونې، محمد هوتک ژوند او مزار، شیخ بستان بړیځ، د نور محمد غلجي نافع المسلمین، د امیر کروړ یادونې، د زرغونې یادونې، د نازو انا یاد په تو مونو کتابونو کې هغه اسي آثار دي چې د پټې خزانې له موقفه حمایت کوي او د ښاغلي قلندر د لیکنو په ځواب کې لیکل شوي دي. خو دا شخړه لا ختمه نه ده، د ښاغلي رفیع برهان قاطع او دیو هاند د وګړو زیات لیکلي کتاب لا پر لاره روان دی. او داسې نور وسنتي کتابونه هم ښاغلي په ځواب کې لیکل شوي دي. ښاغلي مشر قلندر مومند بلوبانو

هم په دې ارتباط څه هڅې پیل کړې دي.

د یادونې وړده، چې هرڅوک حق لري په یوکتاب یا یوه علمي مسأله شک وکړي، ځینې نظریات وړاندې کړي او داحق هیچاته حاصل نه دی چې څوک دې په یوه موضوع کې د نظر له اظهاره منع کړي. بناغلي قلندر حق درلود چې د دې کتاب په باب ځینې اعتراضونه وړاندې کړي، خو ډېر ښه به دا وای؛ د نقد او تحقیق د اصولو تقاضا هم داده، چې دوی ځینې شکوک د پوښتنو په بڼه طرح کړي وای، او دا یې ویلي وای چې د دغه کتاب په باب زما په ذهن کې دغه پوښتنې راولاړېږي، که دغو پوښتنو ته جواب ونه ویل شي، نو د دې کتاب اصلیت د شک په معرض کې واقع کېږي. خو زموږ مشر داسې ونه کړې، بلکه دوی لومړی دا کتاب په خپل ذهن کې جعلي فرض کړی دی او بیا یې د خپلې ادعا د ثبوت لپاره دلایل لټولي دي.

د دوی د هغې لومړنۍ مقالې مقدماتي خبرې چې سرې ولولي، نو دا نظر یه ترې ښکاره بېږي. بله خبره دا چې که واقعًا دا کار ښاغلي مومند له که چې تل لیکي علم ته خدمت په منظور کړی وي، نو ښکاره داوو هم تولو جوابي لیکنو او دده د اعتراضونو په مقابل کې د جواب ورکولو یکود وړاندې کړه و اسناد او یو حاج یې اخیستی وای او په خپل کار یې تجدید نظر کړی وای.

په هر صورت دا د دوی خپله خوښه ده، خو اوسني او آینده گان به اعتراضونه او ځوابونه دواړه ولولي او خپل قضاوت به وکړي.

له دې لوړو لیکنو سربېره زموږ د هېواد ځینو ښاغلیو هم د دې کتاب په باب ځینې شکوک اظهار کړي دي. ځینو شک اظهار کړی او ځینو دا کتاب جعلي بللی دی. د پخوانیو داخلي شکاکانو

په ځواب کې استاد حبيبي د پټې خزانې د دريم چاپ په مقدمه کې ځواب ويلي دي. په وروستيو کلونو کې له افغانستان نه د باندې زمونږ د هېوادوالو ځينې آثار نشر شوي دي. په دغو نشرشويو کتابونو کې هم د پټې خزانې په ارتباط خبرې نشر شوي دي.

اوس چې نه په دې کتاب کې پر پټه خزانه خبرې کوم، نو اړيم چې د خپلو دغو وطنوالو اعتراضونو ته هم لنډ تم شم او وګورم چې د وی څه داسې خبره کړې ده چې د اکتاب د جعليت په درشل کې ودروي؟

په اعتراض کوونکيو کې د غه لاندې کسان شامل دي:

(۱) زمونږ د هېواد اجتماعي او سياسي شخصيت اروا ښاد مير محمد صديق فرهنګ په خپل کتاب افغانستان در پنج قرن اخير، کې يو ځای د پښتو د پخوانيو استادو په باب کې ليکي (ترجمه): «په وروستۍ نيمه پېړۍ کې ځينې پوهان له هغې جملې څخه ښاغلي عبدالحی حبيبي په پښتو کې ځينو نو و آثارو ته اشاره کړې دې چې د تأليف نېټې يې د خيرالبيان د تأليف له نېټې څو پېړۍ وړاندې دي، خو دا چې د نوموړو کتابونو نسخې هيچېرې نه دي پيدا شوي او هغه مآخذ چې وړاندې شوي دي نسخې يې د لرغونوالي له پلوه تر علمي ازمېښت لاندې نه دي راغلي. پښتو پوهانو او ځينو پښتنو پوهانو له دې ډلې څخه د پاکستان پوهانو د هغو پېر ه کې شک او شبهه ښودلې ده» بيا ليکي: «نو بنا پر دې کله چې دغه شبهات رفع نه شي، نو د هغه د موندونکی د وينا له مخې بايد خيرالبيان په پښتو کې لومړی ليکلی اثر وبلل شي».(۹۲)

اروا ښاد فرهنګ خپلو دغو خبرو ته د استاد حبيبي پر هغې مقدمې حواله ورکړې ده، چې يې د پټې خزانې پر دريم (عکسي چاپ)

کتابي او هم د اسلامي دايرة المعارف په دوهم چاپ کې د مارگنستيرن مقالې ته.

داروابناد فرهنگ د غه کلي خبرې د څېړنې دا صولو له پلوه دغه لاندې اساسي نيمگرتياوې لري:

الف: د يو هېواد د يو لوی قوم د لرغوني فرهنگ د نفي کولو لپاره د غسې لنډې بې دليله او بې ثبوته کلي خبرې او نظرونه ورانديکول څوک نشي قانع کولای.

ب: دا چې په خپلو خبرو کې کومو شکوکو او شبهو ته اشاره کړې ده، دا هغه شکوک دي چې استاد حبيبي په خپله مقاله کې ورته اشارې کړې دي او د شکوکو د ازالې لپاره يې ځوابونه تهيه کړي دي، که دوی هغه شکونه او شبهې سمې گڼلې نو د تحقيق غوښتنه داوه چې دوی د استاد حبيبي په ځوابونو اعتراض کړی وای او داېې وبيلي وای چې د حبيبي خبرې په دغه يا هغه دليل ناسمې دي.

ج: ده په خپلو خبرو کې دا هم ويلي دي چې له ځينو پښتو پوهانو سربېره ځينې پښتانه، په تېره د پاکستان پوهان هم په دې باب شکوک لري. خو ده چې خپلې خبرې د کومې منبع په حواله کړي دی هلته خو د پښتنو يا د پاکستان د پوهانو يا د نه دی راغلی. که ده ته د پټې خزانې په باب د پښتنو مشکوکې خبرې معلومې وې. نو بايده وو چې په اسنادو يې ښوولې وای.

د: ارواښاد فرهنگ په خپلو خبرو کې د پټې خزانې مآخذو ته هم اشارې لري چې نسخې يې هيچېرې نه دي ليدل شوي. دا خبره په مطلق ډول د منلو وړ نه ده، د پټې خزانې ځينې مآخذ معلوم دي،

خطي او چاپي نسخې یې شته ، خو څېنې نورچې تراوسه نه دي ښکاره دا په دې دلالت نه کوي چې موږ دې په دې وسیله دا کتاب د شک او شبهې په یوړه کې ودروو ، ځکه په شرقي فرهنگ کې ډېر داسې کتابونه شته چې په متن کې د یا دو شویو مآخذو نسخې یې تراوسه نه دي میندل شوي ، مگر خلک د دغسې کتابونو پر اقوالو اعتماد کوي او هغه مني،لکه استاد حبیبي چې د طبقات ناصري او تاریخ بیهقي څېنې یا د کړي کتابونه سپوولي دي، چې، نسخې یې تراوسه نه دي پیدا شوي خو خلک پر دغو کتابونو اعتماد کوي . (دپټې خزانې مقدمه ۲٤مخ )

دغه راز په پښتو فرهنگ پورې مربوط د بایزید روښان حالنامه کې د څېنو کتابونو یا دونه شوې او حتی اقتباسونه یې حالنامې راوړي دي،مگر هغه کتابونه تراوسه چا نه دي لیدلي، لکه د ارزاني روښاني مراة المحققین او د خلیفه مودود ترین مقصود الطالبین ، خو څېړونکي د حالنامې د بیانونو له مخې د دغو کتابونو وجود مني ( حالنامه ، ۲۷۲ مخ )

هر: اروا ښاد فرهنگ بله خبره داکړې چې د حبیبي له خوا دا د ښه شوېو مآخذ و نسخه د لرغونوالي له پلوه تر ازمېښت لاندې نه ده راغلې موږ وایو که څوک شک لري نسخه پر ته ده تر ازمېښت لاندې یې دې راولي . دا چې نسخه تر ازمېښت لاندې نه ده راغلې او دا نه ده معلومه چې نسخه زړه ده که نوې او له هغه تاریخ سره چې پرمــوجوده نسخه لیکل شوی مطابقت لري او که نه؟ دا د هغه چا کار دی چې پر کتاب شک لري ، دا چې نسخه نه وي ازمویل شوې موږ ځکه کولای شو چې د هغه پر محتویاتو شک وکړو؟

که اروا ښاد فرهنگ شک درلود،نو بایده وو چې د نسخې د

ان مبنیت تلاښ یې کړی وای او بیا یې قضاوت کړی وای . که نسخه دهغه تاریخ نه وای ، لکه چې په نسخه کې راغلی ، نو بیا ده حق درلود ، چې د پښتو له نثر و فرهنګي آثارو صرف نظر وکړي او یا د شک په سترګه ورته وګوري .

بنا غلی فرهنګ زیار باسي دا وښيي چې خیرالبیان د پښتو لومړی کتاب دی او دا کار په دې نیامت کوي چې د پښتو زاړه آثار نفي کړي . په دې اړه یې د خپل کتاب یو بل ځای بیا ویلي دي : د خیرالبیان کاشف (اروابناد مولانا عبدالقادر) او مهتمم (اروابناد مولانا عبدالقدوس) د واړه دې نتیجې ته رسېدلي دي چې خیرالبیان د پښتو لومړنی کتاب دی (افغانستان در پنج قرن اخیر ۱/۵۰) دلته بیا اروابناد فرهنګ پر حقایقو سترګې پټې کړې دي که نه وي اروابناد مولانا عبدالقدوس قاسمي پر خیرالبیان د خپلې کښنې دیباچې په اول مخ کې چې د خیرالبیان د مقدمو په ۳۲ مخ کې راغلې ده ، هلته دپټې خزانې د روایاتو منندکوي او هم د تذکرة الاولیاء څوپاڼې د قدر وړ بولي او وروسته یې دا هم ویلي دي چې دا څوپاڼې دي او کتاب نه دی .

د مولانا عبدالقدوس مرحوم خبرې په خپل ځای هغه وخت سمې وې ، ځکه د پټې خزانې قدیم روایات څو کتابونه نه دي او خپله پټه خزانه څو په ۱۱۴۲ ق کال لیکل شوې چې تر خیرالبیان ډېره وروسته ده او تذکرة الاولیاء هم څو پاڼې دي بشپړ کتاب نه دی ، خو ځکه هغوی خیرالبیان د پښتو لومړی معلوم بشپړ کتاب ګڼلی دی ، اما روا بناد فرهنګ خپلې ادعا د ثبوت له پاره د هغوی په نثر و بیانونو پسې نه دی ګرځېدلی .

که اروابناد فرهنګ واقعاً له موضوع سره علمي دلچسپي لرلې وای نو دا خبره به هم ترې پټه نه وه پاتې ، چې اوس نوې څېړنې راښيي چې بایزید تر خیرالبیان د مخه د علم تذکره لیکلې ده . دا کتاب اول ځل د بناغلي فرهنګ

په ژوند ده ده په او سیدنځای کابل کې په ۱۳۵۵ هش کې د روښانی رساله په نامه خپور شو.

و: ده بله خبره د پښتو پوهانو کړې ده، چې ځینې پښتو پوهان هم د پښتو لرغونې آثار نه مني. دا خبره هم مجمله ده، کوم پښتو پوهان؟ خو یو مآخذ وکې یې بیا د اسلامي دایرة المعارف په دوهم چاپ کې د مارګنسټیرن مقالې ته حواله ورکړې ده.

مارګنسټيرن، چې په ۱۹٦۰ع کال د اسلامي دایرة المعارف په دوهم چاپ کې د پښتو د زړو آثارو په باب کومې خبرې کړې دي، د هغو ځواب د پټې خزانې د دریم چاپ په مقدمه کې استاد حبیبي ویلي دی (۳-۱۱ مخونه)

خو د ویلو وړ ده چې نه اروا ښاد حبیبي او نه اروا ښاد فرهنګ ته دا معلومه وه چې نقید مارګنسټیرن تر ځیل هغه لومړنۍ نظر څوکاله وروسته په خپل نظر بیا کتنه کړې ده.

نو موړي پروفیسور مارګنسټيرن د ایتالوي ختیځ پوه پروفیسور بوساني د یو خط په ځواب کې لیکلي دي: « پټه خزانه نه د حبیبي او نه د محمد هوتک راایستنه ده، او دې نه سترګې نه شي پټېدای چې د پښتو اشعارو د بڼې ښکلانه نمونې یې خوندي کړې دي » (۹۲)

لنډه دا چې د اروا ښاد فرهنګ یادونې هیڅ ډول علمي اساس نه لري ځکه د ده کوم داسې پرابلم ته اشاره نه ده کړې چې سړی پرې خبرې وکړي. یوازې د ځوانیو ردو شویو شکونو په راغبرګولو یې غوښتي دي اذهان مغشوش کړي او په دې ترکه یې د پښتو د لرغونو آثارو د بې ارزښته ښودلو یې نیمګړی تلاش کړی دی.

(۲) زموږ د هېواد د نابغې فرهنګي استاد رضا مایل هروي زوی

ښاغلی نجیب مایل هروي چې په ایران کې اوسیږي او د دکترمحمود افشار دموقوفاتو بنیا دېې کتابونه ورچاپوي. د ده یوکتاب چې « تاریخ وزبان در افغانستان »، نومیږي ، دهمدې وقفي ځانګې له خوا چاپ شوی دی .

په دې کتاب کې د ډېرو نورو د تأمل ور خبرونه سربېره په پښتوژبه چې یې ګوم بحث کړی دی هغه یې په ډېرو نرو او باطلو نظریو بنا کړی دی او د ډېروړند له کرښې را په دې خوا چې د پښتو کومه شمېره ښوولې هغه هم د پاکستان د حکومت دسرشمېرنې له خبرو شویې راپوړو نوسره د ځمکې – آسمان مغایرت لري .

زه دلته د ښاغلي د نجیب مایل هغو خبروته نه ئم کېږم چې د پښتو په باب یې کړی دي ، بلکه هغه خبرې یې څېړم چې د پښتو د زړو آثارو په باب یې کړي دي .

الف : ښاغلي نجیب مایل ویلي دي چې حبیبي او یاران یې په دې عقیده دي چې د پښتو پخوانی مکتوب اثر د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء (۶۱۲هق ) نومی کتاب دی ، چې څو پاڼې یې حبیبي او دده اصحابو لیدلي دي، نورو یې یوازې عکسي چاپ لیدلی دی .

د ښاغلي مایل له دې خبرو ښکاري چې ګوندې دانسخه نشته. زه په ډېر احترام خپل دغه ورور ته وایم چې : ګرانه ! یوازې چې د خطي متن عکس یې چاپیږي، نو دا خبره ضرور د سړي ذهن ته لوېږي چې خطي نسخه یې هم وي . د تذکرة الاولیاء موندل شوې خطي پاڼې د استاد حبیبي په کتابخانه کې وې ما په ۱۳۶۱ هش کال د ا خطي پاڼې ترې وغوښتې . د ې په ډېره مینه ماته راکړې او د رېم ځل مو د آفیسټ له لیارې د ځانګړې رسالې په ډول د کابل په دولتي مطبعه

کې چاپ کړي. کله چې ما دا پاڼې ښېرته استاد ته ورکړې، نومړي د دې

خطي پاڼو د لرغونتوب په باب د ده نظر وغوښت، دوی خپل نظر

راکړ چې ما په خپله مقاله « بیشبهاترین گنجینهٔ ادب کهن پښتو » کې هغه

راغبرګ کړ او دامې هم هلته کښلي وو چې :

« این نسخه که در حدود دوصد سال قبل در نواحی هلمند نسخه برداری شده است واگر کسی را شکی در این مورد در ذهن خطور میکند اوراق مذکور در کتابخانه استاد موجود بوده به هر نوع تجارب علمی حاضر و به دسترس دانشپژوهان و متن شناسان و نسخه شناسان قرار دارد ... » ( دامیرکروړ یاد ، ۱۰٤ مخ )

آیا ښاغلی نجیب داسې څوک را ښوولی شي چې هغه دې د تذکرة الاولیاء د څو پاڼو د خطي متن د لیدلو غوښتنه کړې وي او چا دې ورته نه وي ښوولې ؟ علمي پرنسیپ دا دی چې که څوک په کومه موضوع کې شکلري نو هغه د خپلو شکوکو پېژندلو لپاره ګرځي ، لټه کوي ، مآخذو ته رجوع کوي .

که له ښاغلي نجیب مایل سره د تذکرة الاولیاء د خطي پاڼو د وجود په برخه کې څه شک موجود و ، نو ده به یې لټون کړی وای ، که چېری پخپله لټه کې له ناکامۍ سره مخ شوی ، چاورته دا پاڼې نه وای ښوولې ، تو بیا د دغسې جبر و دلیکلو جواز ورته حاصل و .

ب : ښاغلي نجیب مایل د تذکرة الاولیاء د څو پاڼو دخطي متن په خبر د ښې خرانې په باب هم وایي چې د دې کتاب نسخه هم پوازې حبیبي او د هغه یارانو ته معلومه ده ، نورو نه ده لیدلې . سره له دې چې د دې کتاب هم عکسي چاپ شوی دی ، خو له عکس نه په اصلي نسخې پوهېدنه کېدای شي او تشو کړلای چې د نسخه پرهېږي او خط پوهېني له نظره یې تر ان حد لا ښندی و نیسو ، بیا یې د قصید مارګستیرو هغې مشهورې

مقالې ته حواله ورکړې ده او د ده څه خبرې یې هم راوړې دي (۹۲).

زما په پوهه ښاغلی نجیب له هیڅ شي نه هم نه دی خبر. که نه تر ډېر ځایه پورې دی ښه پوه دی خپل هېواد فرهنګي مسایل ورښکاره وای، د خپل هېواد د کتابخانو له ذخایرو خبر وای، نو ده به هیڅکله داسې نه وای کښلي چې د بېټي خزانې خطي نسخه له حبیبي او یارانو پرته بل چا نه ده لیدلې. دا ډول خبرې یو ډول تهمت دی چې یې پر استاد حبیبي پورې تړلی دی.

ښاغلي مایل په خپله لیکنه کې د عکسي چاپ خبره هم کړې ده، نو که ده واقعاً عکسي چاپ ته توجه کړې وای، نو پر اول مخ به یې د کابل د ادبي انجمن د کتابخانې او بیا د مطبوعاتو د کتابخانې مهرونه لیدلي وای. دا مهرونه په خپله د دې شاهدي ورکوي چې دا نسخه د کابل په رسمي کتابخانو کې وه، چې بالاخره اوس ملي آرشیف ته رسېدلې او د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده. ښاغلی مشتري چې د افغانستان د ملي آرشیف د پښتو نسخو کوم فهرست ترتیب کړی دی، په دې فهرست کې هم د بېټي خزانې نسخه معرفي شوې ده (۹۳).

بله خبره چې زه په دې ارتباط ښاغلي نجیب ته کوم هغه داده چې د بېټي خزانې خطي نسخه په آرشیف کې تل په وترینو نوکې ایښوول شوې وه، هرچا لیدلای شوه. د هغې په لیدلو او ازمایښ کولو کې هیچا هیڅ ډول بندیز نه و او نه چا دا نسخه له ازمېښته ایساره کړې ده.

په دې برخه کې چې ښاغلی نجیب مایل هروي د مارګنسټیرن کومې مقالې ته حواله ورکړې ده، له ورنوستیو انکشافونو هغه نه دی خبر. دی دې لطفاً د بوساني د پاکستان ادبیات وګوري، نو په هره برخه ورښکاره شي ښاغلی نجیب په خپله تړلو هغو خبرو کې چې د پښتو د نهو اسناد

په باب یې کړې دي، هیڅ نوې خبره نه لري. یو دا تهمت کوي چې
د تذکرة الاولیاء او پټې خزانې نسخې له حبیبي او یارانو یې پرته بل چا
نه دي لیدلي او بل هم د مارگنستیرن په خبرو اتکاء.
د دواړو مذا بحو نسخې هم ورو ښوول شوې، که ښاغلی نجیب مایل
وي اوکه بل څوک، آزادانه کولی شي دا نسخې وگوري؛ هر ډول ازمایښت
پرې کولای شي. له دغو خبرو سربېره کړ باید ښاغلي نجیب مایل سره
د دغو مذا بحو د جعلي والي په باب څه موجود وي، لطفاً دې میدان ته
کړي، هر پښتون باید دې ته حاضر وي چې هغه په سړه سینه واوري
او بحث پرې وکړي.
ښاغلی نجیب مایل د ژبپوهانو پېښې کوي، خو د پښتو په باب چې
ده کومې خبرې راوړې دي سړی ترې پوهېږي چې ښاغلی مایل څومره له
ژبې، د دې ژبې له آثارو، فرهنگ او د دې ژبې له لغوي زېرمې ناخبره
ښاغلی نجیب مایل لا تر اوسه د پښتو په باب د مغوافکاراواند پښتنو تابع دی، چې
د دې روانې شمسي پېړۍ په دوهمه لسیزه کې زموږ څینو دري ژبو
ودونو په خپلو ذهنونو کې پاللې.
د پښتو د آرې او ریښې په باب دومره نوې او پخې خبرې شوې،
دومره آثار یې رابرسېره شوي او دومره لغات او نوکلوریې راټول شوي
چې په ایران کې ناست ورور نجیب مایل یې لا یو پیخې ته هم نه دی
ورداخل شوی.
(۳) زموږ د هېواد یو هزاره ورور چې حسین علي یزداني نومیږي
او په ایران کې اوسي، ده هم یو کتاب کښلی دی چې «پژوهشی در تاریخ
هزاره ها» نومېږي. په دې کتاب کې یې هم د پټې خزانې په باب

خبرې کړې دي . مونږ به دخپل دغه هزاره هېوادوال خبرې هم وڅېړو او وبه ګورو چې دده په خبرو کې داسې څه شته چې د پټې خزانې پرجعليت دلالت وکړي ؟

الف: ده ویلي دي چې حبيبي په ۱۳۲۱ (سم ۱۳۲۲ هش) کې مدعي شو چې يو قلمي کتاب يې پيدا کړی دی چې د شاه حسين هوتک په امر په ۱۱۴۲ هق کال په کندهار کې ليکل شوی دی . د دې کتاب پيداکېدل خپله يو داستان لري او وعده يې وکړه چې د پيداکېدو جريان به يې وليکي ، خو خپله دغه وعده يې پوره نه کړه سره له دې چې له دې تاريخه ورو ستـه ٤ کاله نور هم ژوندی و . په دې اوږده موده کې ده په لسګونو کتابونه وليکل او مقالې يې وکښلې ، خو د پټې خزانې د پيداکېدو خبره يې بيا ونه کړه يا دا چې فرصت يې نه درلود او يا يې نه شول کړای چې په دې باب داسې يو داستان جوړ کړي ، چې لږ ترلږه عاقلانو ته د منلو وړ وي . په هرحال دا کتاب په ۱۳۲٤ (سم ۱۳۲۳ هش) کې چاپ شو. . .

ډېر محترم يزداني صاحب! تاسې چې دخپل هېواد د نورو ژبو په فرهنګي مسايلو کې د مطالعې خاوندیاست ، نو ضرور نه دي چې په تش لاس په يوعظيم ميدان ورګډ شئ او په يو عالم داسې تهمت وکړئ .

که تاسې د خپل هېواد مطبوعات لوستي وای ، نو به مو هيڅکله هم نه وای کښلي چې حبيبي د پټې خزانې د پيداکېدو داستان نه دی کښلی؟ ستاسې د معلوماتو له پاره بايد ووايم چې استاد حبيبي دغه داستان لومړی ځل په ۱۳۳۷ هش (۱۹۵۸ع) کال وکښل او په کوته کې خپرېدونکې ګلستان مجله کې يې خپور کړ ، چې له هغه ځايه بيا ډېرو ليکوالو دغه خبرې په خپلو آثارو کې راغبرګې کړې. استاد حبيبي د دې کتاب د

پيدا کېدو داستان هر وخت او هرچيا ته ويلى دى (۹۷) په آخر ځل دوى

دا داستان د ۱۳۵۶ هش کال دقوس په مياشت کې وکښښ چې تاريخي پلټنې

نومي کتاب خپور کړ ( تاريخي پلټنې ۱ - ٤ مخونه ) په دې ليکنه کې استاد

هغه عوامل څرګند کړي دى چې د وى ولې د دې کتاب د پيدا کېدو قصه

په خپل وخت ونه کړه . ښاغلى يزداني صاحب که دې يقين نه راځي لطفاً څو لوړ

يادو شوو آثارو ته مراجعه وکړه .

ب : دى بيا د پټې خزانې دخطي نسخې په باب وايي چې که داکتاب

جعلي نه واى ، نو بيا ولې خطي نسخه خلکو ته ونښودله . بيا يې د ښاغلي

نجيب مايل خبرې را نقل کړي دي .

دا ښاغلى تر اوسه ناخبره دى ، چې د پټې خزانې نسخه چېرې ده ؟

او د ده په قول پوازې حبيبي او يارانو يې ليدلې ده او بل چا ته يې نه ښيي؟

ځنګه چې ما د مخه د ښاغلي نجيب مايل پر خبرو د بحث په ترڅ کې

وويل د پټې خزانې نسخه استاد حبيبي او يارانو يې له خپل ځانه سره نه ده

ساتلې ، له ابتداء نه په رسمي کتابخانو کې وه او اوس د افغانستان د ملي

آرشيف په کتابخانه کې ساتل کېږي . هيڅ له هيڅ دول ازميښت څخه هيڅکله

نه ده منع کړى ، هرڅوک خپلې ازموينې پرې کولاى شي . که باسې يو څوک

را پيدا شي او ووايي چې مونږ دا نسخه د ازميښت له پاره غوښتې او حبيبي يې ممانعت

کړى دى ، نو بيا به د ښاغليو مايل او يزداني دواړو خبرې سمې وى .

او وا ښاد استاد حبيبي په رسمي لحاظ د دې نسخې په باب د ممانعت هيڅ

صلاحيت نه درلود ، ځکه چې دا نسخه د افغانستان د يوې دولتي مؤسسې په

ملکيت کې وه او ده ، نو استاد حبيبي يې څنګه د ازميښت ممانعت کولاى

شواى ؟ لږ غور پکار دى ؟

ج : ښاغلی یزداني بیا وايي په پټه خزانه کې دامیرکروړ په نامه د یو سري شعر راغلی دی، چې داوسنیو فاشستانو عوندې افکار يې بیان کړي دي او کوم اشعار چې د ده په نامه په پټه خزانه کې راغلي دي معاصر فاشستي رنګ او بوی لري، د ده شعر له حماسي پلوه دکمال په حدکې دی، دپرمختللیو ژبو له اشعارو سره سیالي کوي، که واقعًا پښتو په هغه وخت کې دومره پرمختللې ژبه وه، نو يې بیا ولې دیوې لهجې سرحدته سقوط وکړ. حال دا چې فارسي اشعار په هغه وخت کې دیو ماشومانه تصنیف له حده نتجاوز نه کاوه. اما دامیرکروړ حماسي پښتو اشعار په هغه زمان کې په داسې اوج کې وو چې فارسي يې ګرد ته هم نشوای رسېدای. آیا کېدای شي باور وکړو چې پښتو اشعار هغه زمان دکمال حدته رسېدلي وو؟ حال دا چې افغان نوم په اسلامي تاریخ کې ظاهرًا لومړی ځل په تاریخ یمیني کې له هغه زمانه دري قرنه وروسته ذکر شوی دی، د تضاد څنګه تو جیه کولای شو چې دیوملت ادبیات دې له هغه ملته د مخه پیدا شوي وي؟

د ښاغلي یزداني صاحب د اعتراضاتو د ابرخې چې مې ولوستې، نو رانه ښکاره شوه، دپښتنو او پښتنو په باب په عامه توګه په ژبو او ادبیاتو پورې تړلیو مسایلو پورې په خاصه توګه د دوی نظریات ډېر عامیانه دي او داترې ښکاري چې دايې دکار ساحه نه ده او هغه زموږ د ننګیال شاعر خوشحال بابا په وینا: « هر سړی پیدا دی خپل خپل کار له کنه ».

د ښاغلي یزداني د دعوا اعتراضونو په ارتباط به ووایو:

(۱) دامیرکروړ په نظم کې بیان شوې مفکورې ته فاشستي مفکوره ویل او یا هم دامیرکروړ منظومه حماسي شعر بلل ښاغلي یوازې دیزداني دفرهنګ له نورمونو سره برابرېږي.

سباغلي يزداني ته به نه وي معلومه چې دامیرکروړ منظومه یوه ویاړنه یا فخریه یا رجز دی، نه حماسه. د دغسې فخریو او رجزیه اشعارو ویل په شرقي فرهنګ کې ډېر پخوانی دود دی. په عربو او عجمو کې یې نمونې موندلې کېږي، د دري ژبې دا منظومې: «منم شیر شلنبه، منم بیریله» له کومې فاششتي مفکورې نه رازېږېدلې دی؟ که سباغلی یزداني صاحب په دې برخه کې لږ وړاندې لاړشي په عربي ادب او د دري په لومړنیو آثارو کې لږه مطالعه وکړي، نو دا به ورته ښکاره شي د امیرکروړ منظومه یوه داسې ویاړنه ده چې د هغه زمان په شرقي فرهنګ کې د دغسې منظومو ویل باب وو.

(۲) دامیرکروړ د شعر د پخوالي او د معیار د لوړوالي او د دري له هغه وختني شعر سره یې د مقایسې په ارتباط باید عرض کړم چې په ټولو ژبو کې د ادبیاتو د ایجاد او ودې شرایط، عوامل او مراحل یوشان نه وی او نه یو وخت شروع کېږي، نو ځکه دا ډول مقایسه، چې د دې ژبې ادبیات ولې داسې نه وو او د هغې بلې ولې داسې وو، علمي خبره نه وه او نه ده.

په دې ارتباط زه یوې بلې نکتې ته د سباغلي یزداني توجه جلبول غواړم او هغه دا چې د پښتو ملي شاعرۍ عنعنه دوی ته نه ده ښکاره. که دوی په دې عنعنه خبر وای، نو به یې دامیرکروړ د ویاړنې د پخوالي او معیار په باب داشکوک نه کول.

سباغلي یزداني صاحب باید پوه شي چې پښتو د شاعرۍ یوه داسې ملي عنعنه لري چې له پېړیو پېړیو راهیسې په دې اولس کې شته. د ځېړونکیو په عقیده دا عنعنه پښتو له نورو آریایي ادبیاتو

ځنګړ راخپله کړې ده . په دې منعنه کې شاملو شعري اوزانو او اصنافو کې د پښتنو د کليو او بانډو اولسي شاعران اشعار وايي . دغه شاعران زياتره سواد نه لري ، خو پردغو ملي اوزانو داسې په تول پوره ، روان او خوږ په اولسي انګړونو پسوللي شعرونو وايي چې د اميرکروړ شعر ورته هيڅ دې کرسري د دغو بېسوادو شاعرانو څنګيري شپاړس مسرېزي لس کپېزه ، دولس کپېزه چاربيتې وګورئ . نو هک حيران به پاتې شئ ، چې پرکليوال بېسواده شاعر ددې کپيو مسرې په داسې شېوه سره پيودلي دي چې ديوې چاربيتې په لسهاوو مسريو کې وزن او هجايي سيستم هيڅ تغيير او وړالنه هم نه لري . که موږ دا شرونه ده ته وښيو ، نو دی به ضرور د هغو د جعل نسبت هم چا ته وکړي .

سناغلی ين دايي صاحب ! پښتو د ګاسيې په ژبو کې دا امتياز تراوسه لري چې د اولسي شاعرۍ غني تجربې ورته له لرغوني زماني پاتې دي ، د دې شعرونو د پيدايښت او تکامل سيستم او روش د دريې ژبپوالي ادبياتو ديون او پر مختګ له جريان نه بېخي بيل دی .

د اميرکروړ روانه وياړنه هم د پښتو په هغو منعنوي اوزانو کې ويل شوې ده . شکلي رغښتونه يې له آريايي زړوسندرو سره نښتون لري . که د اميرکروړ شعر په دوهم هجري قرن کې هومره پوخ دی ، علت يې بايد داوګڼو چې دا شعر د هغو منعنو مطابق ويل شوی دی چې له ډېرې پخوا په دې اولس کې رواني وې . که ښاغلی ين دايي زموږ ملي شاعرۍ منعنه مطالعه کړې نو د معلومو او لاس ته راغليو نمونو له مخې به ورته ښکاره شي چې د پښتو ملي شاعرۍ د اميرکروړ له وخته بيا تر ننه په هماغسې شور او زوږ کې روانه ده او سقوط يې نه دی کړی .

د دې خبرو ترڅنګه باید دا خبره هېره نه کړو چې د دې شعر کومه لیکلې
بڼه چې موږ ته را رسېدلې ده هغه د ۱۳۰۳ ه ق کال لیک دی . دې شعر
شاید دیوڼ په دې اوږده موده کې څه تغییرات موندلي وي ، ځکه
موږ چې دهرې ژبې د یو متن بېلا بېلې خطي نسخې وګورو ، نو دا نسخې
یو له بلې تو پیرونه لري او دا توپیرونه زیاتره د نقلوونکو له لاسه نو
او کله کله له ناپوهۍ نه هم پېښېږي .

(۳) کمان کوم سناغلي ینزداني د ژبې او لهجې په فرق نه پوهېږي
پښتو خپله یوه مستقله شمال ختیزه آریایي ژبه ده چې په لسګونو لهجې لري
تر او یا وزیا تې لهجې یې ثبت شوې دي (فرهنګ ادبیات پښتو ۳/۱۷۲ )
دا شمېره د پښتونخوا د ټولو لهجو له څېړلو سره نوره هم زیاتېږي .
دا چې سناغلی ینزداني پښتو یوه محلي لهجه بولي
د پښتو ژبې او پښتنو په باب ددهٔ له طرز فکر سره اړه لري . نه پښتو محلي
لهجه ده او نه محلي ژبه ، بلکه پښتو د منځنۍ آسیا له ژوندیو ژبو څخه یوه
ژبه ده چې تر شلو پښتو ملیونو زیات خلک پرې خبرې کوي ، له افغانستان،
پښتونخوا او بلوچستان سربېره په کراچۍ کې په ملیونونو پښتو ویونکي
اوسېږي ، د پاکستان نور سبارونه پرې ډک دي . دا وسیني پاکستاني
پنجاب ځینې ضلعې اټک ، میانوالي او بکهر کې اوسېدونکي اکثر پښتانه
دي ، چې ځینو اوس ژبه هېره کړې ده او ځینې پښتو وايي .
په هندوستان او بنګله دېش کې پښتانه تر لسو ملیونو زیات دي ، خو پښتو
ویونکي یوازې په کشمیر او د هند او بنګال په ځینو سبا ریو کې شته . د
کشمیر پښتو ویونکي تر دریو سوزرو زیات سبوول شوي دي . ( په هند کې
د پښتو ژبې ادبیاتو دایجاد او ودې پړاوونه ، ۵۰ مخ )

د مرکزي آسیا په ځینو جمهوریتونو او ایران کې هم پښتانه شته، ویل کېږي چې ځینې یې اوس هم پښتو وایي. دا خبره هم باید توضیح کړم چې په کومو هیوادو او سیمو کې چې ما پښتانه وښوول دا د افغانستان د روانې غمیزې د اتراتو له امله نه دي تللي، بلکه دا خلک د هغو ځایو دي او ددغو هیوادو اتباع ګڼل کېږي.

یو قوم چې په یوه منطقه کې په یوه دومره ویره ساحه کې آباد دوي او ژبه یې په ملیونونو ویونکي ولري، موږ څنګه کولای شو، هغه یوه محلي لهجه وبولو؟

(٤) ده د خپلو اعتراضونو په سلسله کې دا خبره هم کړې ده چې د افغان نوم اول ځل په تاریخ یمیني کې ذکر شوی دی، چې دا یا دونه دامیر کروړ له شعره کابو دري قرنه وروسته راغلې ده، دا تضاد څنګه توجیه کېدای شي؟

دلته هم زموږ ګران هیوادوال خپل مسالي سره ګډې کړې دي، لکه:

(الف) په تاریخ کې د یو قام د نامه ذکر د هغه قام پېژندنې د ادبیاتو د پیداکېدو له مسالې سره هیڅ ډول منطقي اړه نه لري او دا یې دې دلیل چې هر قوم که څه هم صحرا نشین او بدوي وي په هغو کې د هغوی د اجتماعي ژوند خصوصیاتو او طرز فکر ته په پاملرنه د ادبیاتو د ایجاد زمینې موجودې وې، نو دا خبره هیڅکله دا معنی نه ښندي چې د یو قام نوم هغه هم د اسې نوم چې نورو پر ایښی دی او خپله ځان په هغه نامه نه یا دوي، که په تاریخ کې وروسته راغی، نو د دې قوم پخوانی هویت او ادبیات او فرهنګ به نفي کېږي.

(ب) ښاغلي یې دا یې ته دا نه ده معلومه چې په اسلامي عصر کې تر

تاریخ یمینی د مخه حدود العالم د ۳۷۲ هـ ق، تالیف کې دافغان نوم راغلی دی او له دې سببه تر اسلامي عصر پوره مخنیو آثارو کې دافغان د نوم سوابق تختین پوهانو او جغرافیا نو لیکونکیو په ځینو آثارو کې ښوولی او د اسابقه ۱۷۰۰ کاله د مخنیه ده (۹۸) نه د سباغلي یزدانی په قول د تاریخ یمیني له وخته .

(۵) سباغلی یزداني بیا وايي چې په پټه خزانه کې دراغلیو قهرمانانو نوم په هیڅ تاریخي کتاب کې نه دی راغلی، قاعدتاً باید د ځینو رجالو نوم په ځینو کتابونو کې راغلی وای ؟

د سباغلي یزداني دې خبرې نه په دې باوري کرم چې ده دپټې خزانې مخ هم نه دی لیدلی، ځکه که ده اصل متن او تعلیقات لوستي وای، نو بیا به يې دغسې هوایي دزې نه کولې .

د سباغلي یزداني دکتاب عادي لوستونکی بنايي د اخبرې ومني او ځینې د مدعا او منفي گرایشونو خاوندان به يې استنا د و کړي او دې خلک بړله لاربې و باسي ، خو زه سباغلي یزداني ته یلنه ورکوم چې د ی دې لطفاً پټه خزانه وگوري ، نو دا به ورته ښکاره شي چې په پټه خزانه کې راغلي رجال زیاتره د محمد هوتک له زمانې په دمخنیو او هم د ده په معاصرو او ځینو ورو ستیو تاریخونو کې مکرر راغلي دي او نورکي خلک نه دی . که د یو نیم ذکر چیرې بل ځای ونه موندل شي ، نو داخو یوه طبیعي خبره ده چې ټول تاریخي کتابونه او تذکرې یوه د بلې بشپړوونکې وي . که زه د پټې خزانې د رجالو یادونې په نورو تاریخي آثارو کې ور ته وښیم ، نو دا به د یوې ځانگړې بلې رسالې لیکل ایجاب کړي او موږ به له اصلي موضوع لیرې کاندي .

(٦) د بناغلي یزداني عقیده داده چې پښتنخنانه ددې له پاره رامینځ ته شوي او یا د ده په اصطلاح جعل شوي چې د هزاره جات سیمې د پښتنو وبښي؟ دې واېي د فاشېزم په سري جلسو کې به دا مسأله مطرح کېدله چې هزاره جات باید د پښتنو مسکن معرفي شي او د دغه جعلي کتاب له چاپه وروسته د پېړۍ مقالې او کتابونه ولیکل شول چې ټولو متفقاً د هزاره جات سیمه او غوري شاهان پښتانه وبلل او ټولو په پټه خزانه استناد کاوه (۹۶)

د بناغلي یزداني دا عشوا ضونو (!) ددې برخې له لوستلو سړی پوهېږي چې نوموړی غور هم هزاره جات بولي (پژوهشی در تاریخ هزاره مغ ۲۶۳) او له غور سره د پښتنو د ارتباط تاریخي سند پټه خزانه گڼي، نو ځکه ورته له قهره لوگی دی، چې څه یې په خوله راغلي دي هغه یې ویلي دي، د ټولو ملّي، اجتماعي او فرهنگي بنسټونو پرضد یې پښتانه فاشستان بللي دي. که په موضوع اجازه راکوله، نو به مې ده ته ښوولې وای چې فاشست څوک ته ویل کېږي او په افغانستان کې څوک فاشستان وو؟

گرانه یزداني صاحبه! علمي مسایل په زور، په اعصاب خرابېدو بل ته په ښکنځلو او دنورو آثارو ته په جعلي ویلو نه حل کېږي. تخیل اعصاب مه خرابوه، که په علم، منطق او سند عقیده لرې، نو باید دا موضوع په علمي لحاظ سره وڅېړو، په وچ زور له مسألې سره برخورد سړی د علم له ساحې لېرې باسي، نو ځکه زه ستاد ورو ستیو خبرو په ارتباط تاسې ته په دې احترام لیکم:

(الف) غور یوه داسې سیمه ده چې له ډېر، قدیمه د عربو

او عجمي جغرافيا ليکوونکيو پام ور او سېنتی دی او هېڅ بېر و جغرافي کتبو کې د غور حدود داخلي دي او ورسره زمونږ د هزاره وروڼو دا وسېدو ځايونه هم معلوم دي .

(ب) له غور سره د پښتنو دارتباط مسأله نه پېتي خزاني را مينځ ته کړي او نه استاد حبيبي ، بلکه دا خبره په کراتو په تاريخي متونو کې داخلي ده . آيا څوک کولای شي له هغو تاريخي متونو انکار وکړي او يا هغه روايات چې اوس هم په پښتني قبايلو کې موجود دي او له غور سره د پښتنو ارتباط ښيي ، له پامه وغورځوي ؟

ښاغلي يزداني او نورو ښاغليو ته چې له غور سره د پښتنو پر ارتباط شکمن دي او هغه نه مني ، زه د يوې رسالې په اندازه موا د وړاندې کولای شم ، دا مسأله د يو ځانگړي تيسس د ليکلو ايجاب کوي» زمونږ فرهنگي مؤسسې او هغه فرهنگيان چې له موضوع سره علاقه لري کېدای شي دا موضوع بېله پسې وڅېړي . د دغه حاضر کتاب شرايط چې څه اجازه راکوي ، د هغو په رڼا کې به زه ښاغليو منکرانو ته ځينې اسناد وړاندې کړم . ما دغه خبرې د امير کروړ ياد نومې مجموعې په مقدمه کې هم راوړې دی : (دامير کروړ ياد ، الف - ح مخونه)

(۱) په جامع التواريخ کې يې ليکلي دي : « د اسلام تر ظهوره وروسته د اکثر و افغانانو نسب قيس عبد الرشيد او شنسب پورې رسي . د دغه دواړه د پښتون قام سرداران وو او د غور په غرونو کې آباد وو.»

(۲) نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې راوړي دي : «کند، ولد خرشبون را دو پسر شد اول غوری که نام او شيخ ابراهيم بود ، چون در ممالک غور متولد شده ، بنا به آن اورا غوری ميگويند »

ترجمه: « د خرښبون د زوی کند دوه زامن وو اول غوري، چې نوم یې شیخ ابراهیم و ، څنګه چې په غور کې زوکړی و ، نو په دې اساس یې غوري باله .»

د پښتنو دانسابو په ټولو کتابونو او نورو تاریخي آثارو کې داخبره راغلې ده او د شیخ ابراهیم غوري په باب یې داخبره په وارو،وارو تکرار کړې ده .

د غوري په اولاد کې د پښتنو ډېر قبایل شامل دي ، لکه دولتیار خلیل ، زېراني او څمکني ، چې د مومندو او داؤدزو قبایل هم ورسره تړلي دي او د اټول قبایل بیا د پښتنو په تاریخي او ادبي آثارو کې دغوري او غوریه خېل په نامه یادېږي ، لکه د پښتو نازکخیال شاعر عبدالحمید مومند چې ویلي دي :

چې داستا د ناز بوی اخلي حمید ه !

څه به نه وي خوش دماغ غوري خښیني (۷۵)

(۳) شېر محمد خان ګنډه پور په تاریخ خورشید جهان کې راوړي دي :

« درقدیم الایام طائفه بیتنی مثل طوائف افاغنه درغورستان سکونت داشته وبعد خروج افاغنه از آن ملک اول به ممالک زابلستان ... رفته رفته به کابلستان رسیده درسمت مغربی کوه سلیمان آباد شدند ... بعد مدتی درحصهٔ شرقی کوه سلیمان اقامت کردند .»

ترجمه: « له پخوا زمانو څخه د نورو افغاني طایفو په څېر بېټنی طایفه هم په غورستان کې اوسېدله او له دې ملکه د افغانانو له وتلو سره سم لومړی زابلستان ته لاړل . بیا کابلستان ته ورسېدل او د سلیمان دغرو په غربي خواوو کې آباد شول او له څه مودې وروسته د سلیمان

دغرو شرقي برخو ته لاړل ...»

(٤) د پښتنو د ټولو غلجي قبايلو نسبت له غور سره په تاريخي متونو کې ثابت دی. له شاه اوسين غوري سره د بي بي متو دواده کيسه تشه افسانه، نه ده. د پښتنو د متوزيو يا غلجيو قبايلو ټولې قبيلې او عشيرې په لوړه کې د غه نسبي نسبت پورې تړلي. مخزن افغاني (۵۹٦ - ... ٦ مخونه)، تاريخ مرصع (٦١٢ - ٦١۵ مخونه)، تاريخ سلطاني (۲۳ - مخونه) حيات افغاني (۲۵٤ - ۲۵٦ مخونه)، خصايل السعادت (۱۵٤ - ۱۵٦ مخونه)، دملا مست ځمند خطي آثار، او نور په لسګونو تاريخي کتابونه او نسب نامې دغو نسبتونو ته اشارې لري. آيا دا ټول تاريخونه دروغ وايي او يوازې بناغلی يزداني او نور منکران رښتيا وايي؟

(۵) بناغلي منکران کولای شي اوس د غور له تايمنيانو پوښتنه وکړي چې د وی ځانونه څه بولي؟ له دې پرسېره د غور داوسني مرکز چغچران په شاوخوا کې د پښتنو د قبايلو په نامه کلي او درې شته، لکه دولت يار کلی، چې د چغچران شرق ته موقعيت لري او د غوري پښتنو د دولت يا له قبيلې سره يې په نسبت کې سړی د ېر نه تکنی کېږي. کاسي دره، چې په چغچران کې موقعيت لري دا هم د پښتنو له کاسي قبيلې سره يې ارتباط نه بنکاري.

د خېړونکيو رايه داده چې غوريه خپل او نور پښتانه د چنګيز(٦٢٤ ق) له تاړاکه وروسته دغور له غرونو کوچېدلي دي. (۷۱)

* * *

(٤) زمونږ له دري ژبيو ورونو څخه بل سړی چې د پښتو خزانې پر جعليت اصرار لري هغه د کابل پوهنتون پخوانی استاد پوهاند

سید سلطان شاه همام دی.

پوهاند همام یوه رساله کښلې ده چې «سخن اندر شرح دردهای خراسانیان»

نومېږي. دا رساله ډېرې داسې خبرې لري چې له موجودو واقعیتونو

سره سمون نلري. دهغو برخو د بحث ځای دلته دی، یوازې پرهغو برخو باید مونږ

دلته خبرې وکړو چې له پټې خزانې سره اړه لري. (۷۲)

د پټې خزانې په باب چې ښاغلي همام صاحب څه کښلي دي هغه

مونږ په دوو برخو ویشلای شو:

(۱) هغه خبرې چې ده د نورو په استناد کړې دي. (۲) د ده خپلې خبرې.

د نورو د خبرو په ترڅ کې ده بیا هماغه د ځینو ختیځ پوهانو لکه

فقید مارګنستیرن، دوپرې او ولبر خبرې راوړې دي. د دغو خبرو په

شاوخوا کې په کراتو بحثونه شوي او توضیحات وړاندې شوي دي. لکه

چې ما د مخه ویلي دي که څرک بیا د مستشرقینو پر هغو خبرو تاکید

کوي، لطفاً دې د هغوی د خبرو په رد کې په راوړل شویو توضیحاتو خپل

انتقادي نظر وړاندې کړي او که څوک غواړي چې په ردو شویو بابولالو

خپل عندې تیسس ته علمي رنګ ورکړي، دا نه د علم خبره ده او نه د

تحقیق او نه هم په تحقیقي مباحثو کې پرې څوک حساب کوي.

د همدې بحث په ترڅ کې ښاغلی همام وايي: « دوه وروستي

تحقیقي او علمي اثره چې په دې تازګیو کې راوتلي دي، هم یې پر ځای انتقادونو

کړي دي، د پټې خزانې پر جعلي والي یې ښکاره او بې پردې بحث کړی دی،

یو یې «افغانستان د پنځو قرنو اخیر» او بل یې «پژوهش در تاریخ هزاره ها»

دی.»

د دې کتاب لوستونکیو په د مخنیو بحثونو کې د پټې خزانې په باب د

اروابنا د فرهنگ او بنا غلي يزداني دبحثونو خلاصه ولوسته .
په هغو کې داسې څه نه وو چې زموږ د فرهنګ یو اساسي کتاب دې
پرې رد شی؟ ما په خپلو برخو کې د هغوی بحثونه وڅېړل. زه تر ټولو
محققانو ته بلند ورکوم چې په «افغانستان در پنج قرن اخیر» او «پژوهش در تاریخ
هزاره ها» کې دې د پټې خزانې په ارتباط د هغو دوو هېوادوالو بیانونه
وګوري که په هغو کې د علم، تحقیق او علمي نقد کومه خبره وي، نو
به موږ د پوهاند همام د اقضا وت مم ومنو. د هغوی ټوله اتکاء په ستا
ویلي ماویلي ده. دوی نه په پټه خزانه کې کومې علمي او تاریخي یا ژبنۍ
دېږي یا تضاد ته اشاره کړې او نه یې کولای شول. په دغسې تهمتونو او
افتراکانو علمي آثار جعلي ثابتیدای نشي .

بناغلي همام تردې وروسته زیاته اتکاء د بناغلي قلندرمومند پر
کتاب «پټه خزانه في المیزان» کړې . او بیا د هغه وړاندې کړې اعتراضونه
یو ځل په اجمالي ډول وړاندې کوي او بیا د خپل اجمالي بحث په پای
کې کاږي : « برای اطمینان کامل خواننده گان محترم خلاصهٔ نکاتی را یاد آور میشویم که
نشان میدهد کتاب موسوم به « پټه خزانه » محمد هوتک (!) (ویا مؤلف اصلی آن پوهاند حبیبی)
کاملاً جعل وساختگی وخیلیها دور از واقعیت می باشد ».

ترجمه : « د محترمو لوستونکیو د ډاډ له پاره د هغو نکاتو خلاصه
راوړم چې ښکاروي د محمد هوتک یا د اصلي مؤلف پوهاند حبیبي «پټه خزانه»
کاملاً جعلي جوړه شوې او د ډېر له واقعیتونو لیرې کتاب دی .»

محکې تردې چې زه د دوی اعتراض نکات درو بنیم ، ډېر محترم
استاد پوهاند همام ته عرض کوم چې که ناسې واقعاً دا کار له علم سره
مرستې په منظور کولای او بل ځانګړی هدف درېره نه و ، نو لاز مه وه

چې د بنا غلي قلندر مومند د اعتراضونو په ځواب کې چې کوم آثار ستا د هېواد د ننه او بيا په پېښور او کوټه کې کښل شوي او چاپ شوي دي، هغه دې هم ګڼلي واى او دا اعتراضونه او ځوابونه له پرتلنې وروسته دې بېوه بېطرفانه علمي رايه څرګنده کړې واى .

او س چې دې دا کار نه دى کړى او په خپل زعم دى د پېټې خزانې د جعلي ثابتولو تلاښ کړى دى، نو وبه ګورو چې ستاسې اعتراضي نکات څومره پرځاى دي او د بحث له پاره څه لري؟ تاسې ويلي دي :

(۱) د پېټې خزانې کاغذ د ولسمې پېړۍ پورې اړه نه لري .

ګرانه استاده! ته يو ځاى واې او ادعا کوې چې ما د پېټې خزانې نسخه پخپله ليدلې ده، نو که چېرې تاسې واقعاً ليدلې واى، نو به دې دا اعتراض نه واى کړاى، ځکه د پېټې خزانې موجوده نسخه په ۱۳۰۳ هق کال کې ليکل شوې ده، نه په ولسمه پېړۍ کې . کاغذ يې هر ډول ازمېښت ته آماده دى. نسخه لکه چې ما ويلي د افغانستان په ملي آرشيف کې ده، هر څوک کولاى شي هغه نسخه وګوري او ازمېښت يې کړي .

(۲) هغه رنګ چې د پېټې خزانې په ليکلو کې کار شوى دى نوى دى .

چا دا رنګ ازمېښت کړى دى او په کومه علمي ازمايښګاه کې او چا داويلي دي چې دا رنګ نوى دى؟ په علمي مباحثو کې په هوايي او بې سنده خبرو څوک ويسا نه کوي .

(۳) په مخونو کې د داغونو او لکونو موجوديت، چې د کتاب نه استعمال ښيي .

د دې خبرې په لوستو ما ته خندا راغله او په دې وپوهېدم چې زموږ استاد قلمي نسخې هيڅ نه دي ليدلي. په سلګونو نسخې زه سره

زړګونو دي، پښتو، عربي نسخې در تر سېوولای شم چې حتی دپټې خزانې ترموجودې نسخې په سوونو کاله دمخه لیکل شوې دي ،خو په ټوله نسخه کې یوه لکه او داغ هم نه لیدل کېږي .

ستا د اخبره په خپله په دې ګواهی لي چې پټه خزانه جعلي کتاب نه دی که ستا په زغم استاد حبیبي د اکتاب جعل کړی، د دې له پاره چې ستا غوښتې نقادانو تر اعتراض لاندې راشي، نو به یې نسخه سپه مروړلې او درنګ له داغونو ډکه کړې وای .

(٤) فصل بندی او بخشبندی یې د دولسمې پېړۍ نه ده .

د استاد همام له دې اعتراضه دا هم ښکاري چې د ه هیڅ تذکره تر اوسه نه ده لیدلې،که یې لیدلی وای نو بیا یې داخبره نه غبرګولای .

ګرانه که تاسې په شرقي فرهنګ پورې مربوطې ټولې تذکرې وګورئ نو به دا درښکاره شي چې په تذکرو کې فصل بندي او ویش سلیقه یي ارزښت لري او د لیکوالو په خپل ذوق پورې اړه لري . ځینوخپلې تذکرې په روضو ، مجمرونو، طبقو او ... ویشلي دي او ځینو په فصلونو، مقالو او.... لکه : تذکرهٔ میخانه چې پر دریو مرتبو ویشل شوې ده، تذکرهٔ بزم اراء په اوو فصلونو ویشل شوې ده یا آتشکدهٔ اذر چې په لوی سرو کې پر دوو مجمرونو ویشل شوې ده (فرهنګ ادبیات فارسي ۲، ۱۳۲ ،۳۲ مخونه) یالکه د قدرت الله شوق طبقات الشعراء چې پر پنځو مقالو ویشل شوې یو ازې لومړۍ مقاله یې ځلور طبقې لري .

خبره دا ده چې د پټې خزانې تصنیف او په دریو خزانو ویشنه د شرقي تذکره ګارۍ له عنعنو سره هیڅ ډول مخالفت او مغایرت نه لري.

(٥) په دولسمه پېړۍ کې پر پګراف ورکول معمول نه وو. دا د شلم

قرن مشخص ده.

زه باید د استاذ همام حضور ته عرض کړم چې د پټې خزانې موجوده نسخه د دولسمې پېړۍ نه ده، بلکه د څورلسمې د اوايلو ده. هغه څه ته چې بناغلي مومند د پټې خزانې په نسخه کې پر يګراف ويلي دي هغه نن ورځې د ليکوالو معمول پرېګراف نه دی، که نه وي د پټې خزانې عکسي چاپ د هرچا مخې ته پروت دی، لطفاً تاسې اصل متن ته مراجعه وکړئ. د ليکنې کوم روش چې د پټې خزانې په نسخه کې پالل شوی دی او څه چې بناغلي مومند پرېګراف بللي دغه روش د پټې خزانې ته موجودې نسخې د پړېخوا د ګوهرخان خټک د قلب السير په خطي نسخه کې هم ليدل کېږي (د پېښور ميوزيم نسخه)

(٦) د ١١٤١ هـ ق کال د جمادی الثاني ١٦ جمعه بېوول فاحشه غلطي ده.

ګرانه تا ته به معلومه نه وي چې په پښتو خطي نسخو کې د قمري مياشتو بنوولې شوې ورځې د دې زمانې له جوړ و کړيو تاريخي تقويمو سره سل په سلو کې برو شي نه راځي، د غسې تو پيرونه په ډېرو خطي نسخو کې شته چې زه به يې څو مثالونه درته وليکم:

الف: د پېښور د پښتو اکيډيمۍ په خطي مجموعه کې د شمس الدين د جرجيس د قصې خطي نسخه شته چې په ١٢٢٨ هـ ق کال د رمضان المبارک په ٢٨ مه د دوشنبې په ورځې کاتب له ليکو څخه فارغ شوی دی. د هماغه تقويم تاريخي له مخې چې بناغلي قلندر مومند پرې استناد کړی دی، دا ورځ دوشنبه نه بلکه شنبه ده.

ب: په همدې پښتو اکيډيمۍ کې د مبداء الخلايق يوه خطي نسخه شته چې د ١٢٨١ هـ ق کال د ربيع الاول په لومړۍ نېټه د دوشنبې په ورځ پای ته رسېدلې ده، خو د بناغلي هاشمي د تقويم تاريخي له مخې د ١٢٨١ هـ ق کال

د ربیع الاول لومړیه نیټه دوشنبه نه بلکې پنجشنبه ده .

ښاغلي لیکوال همېش خلیل په خپل کتاب تول پارسنګ کې چې یې د
ښاغلي قلندر مومند د پټه خزانه فی المیزان په ځواب کې کښلی دی، پنځه
موارد ه د اسې ښودلي دي چې په خطي نسخوکې ښوول شوې ورځې د
تاریخي تقویمونو له حسابونو سره سرنه خوري (۷۳)

محترم همام صاحب باید په دې پوه وي چې د پټې خزانې د شروع
ورځ که له او سنیو تقویمونو سره سرنه خوري دغه ډول توپیرونه او
اختلافونه په نورو نسخو کې هم شته، چې ماېې نظایر وښوول، له دې پرته
د همدې پټې خزانې د اختتامیه نیټې ښوول شوې ورځ له ټولو تقویمونو
سره برابره خېژي، که د یوې ورځې غلطي د دې کتاب د جعلیت باعث کېږي
هایله چې سمه ده، د هغې په باب به څه وایې؟

(۷) د پټې خزانې یوازې یوه نسخه شته، البته دوې درې نورې
نسخې د حبیبي په مرسته او تشویق لیکل شوې دي .

ښاغلی همام صاحب! داخبره سمه ده چې تر اوسه پورې د پټې خزانې
همدا یوه نسخه موږ ته ښکاره ده، خو دا خبره د دې دلیل نه کېږي چې کرد
یو متن یوازې یوه نسخه موندل شوې وي او نورې نه وې ،
نو دا متن دې جعلي وبلل شي . اروا ښاد استاد حبیبي د پټې خزانې د
عکسي چاپ په مقدمه کې هغه دري آثار ښوولي دي چې تر اوسه یې
یوازې واحدې نسخې په لاس کې دي . ما ته پخپله په پښتو کې تر سلو
زیات آثار معلوم دی چې تر اوسه یې یوازې یوه نسخه لیدل شوې
او د بلې هغې څرک یې نه دی ایستل شوی، لکه : د بایزید روښان حالنامه،
د مصري خان ګګیاڼي دیوان، د آدم دیوان، د عیسی هوتک دیوان، د فتح شاه

اما د ښاغلي همام دا بله خبره چې د پټې خزانې نورې نسخې د حبیبي په تشویق او مرسته لیکل شوې دي، محض یو افترا ده، هیڅ د ول ثبوتی دلیل نه لري. د پټې خزانې هماغه یوه نسخه زموږ په واک کې ده، چې د محمد عباس کاسي په خط ده او په ۱۳۰۳ هق کال کښلې شوې ده.

(۸) په هیڅ بله منبع او مآخذ کې د پټې خزانې یادونه نه ده شوې.

د ښاغلي استاد همام له دغه ډول نیوکو ښکاري چې د شرقي فرهنګ د ماخذ شناسۍ او کتابشناسۍ له اصولو سره هم بلدیت نه لري. که یې دوی له د غــو مسایلو سره بلد وای، نو به یې هیڅکله دا ډول اعتراض نه وای کړای.

ګوانه په لسګونو نه په سلګونو پښتو آثار ماته معلوم دي چې هیچا یې هیڅ پېرې هم یادونه، نده کړې. دځینو یې حتی خطي نسخې نشته، یوازې چاپي نسخې یې په واک کې دي، خو یوهان دغه آثار مني، په مثال کې به یې زه درته دبیر محمد کاکړ معرفة الافغاني دروښیم چې په د مخنیو آثار وکې یې هیچا هم یادونه نه ده کړې، خطي نسخه یې هم تر اوسه نه ده موندل شوې دخورلسمې پېړۍ یوه چاپي نسخه یې په واک کې ده، مګر څېړونکي دا اثر ددولسمې پېړۍ دیو متن په حیث مني. که خبره نه اوږدېدای مابه د یې مثالونه درته وړاندې کړي وای.

(۹) هندسي نومرې پخوا معمول نه وې.

بیا هم له همام صاحب پوښتنه کېږي چې تا څومره خطي نسخې لیدلې چې داسې قاطع حکم کوې؟ د محمد هوتک ژوند او مزار نومی کتاب (۲۶-۲۷ مخونه) وګوره، نو تا ته به ښکاره شي چې په نسخو کې د هندسي نومرو داستعمال رواج و اوکه نه؟ له دې برسېره مابه هندوستان کې دځینو کتابخانو به

پښتو خطي نسخو او د پېښور آرشيف د نسخو د کتنې په ترڅ کې د پرې داسې نسخې موندلې دي چې هندسي نومرې لري، دا نسخې اکثره د پېښې خزانې له موجو دې نسخې نه پخوانۍ دي.

(۱۰) پخوا د ک» او «گ» د «پ»، «ب» په څېر يو شکل درلود، خو په پټه خزانه کې دواړه شکله ليدل کېږي.

د لته بيا هم ښاغلي همام ته په احترام يادوم چې په خطي نسخو کې د «گ» دا شکل نوی نه دی او نه يوازې په پټه خزانه پورې اړه لري. ما ته تر پنځوسو زياتې نسخې معلومې دي چې «گ» د غسې ليکي، لکه چې په پټه خزانه کې راغلې دی، يوازې د محمد هوتک ژوندا و مزار نومي کتاب کې شپږ داسې خطي نسخې معرفي شوي دی چې «گ» يې د پټې خزانې غوندې ليکلی دی. (۲۹-۳۰ مخونه)

بله خبره د (پ، ب) ده په پخوانيو فارسي نسخوکې د «پ» آواز هم په «ب» ښوول شوی دی، مګر د پښتو په موجو دو نسخو کې د غه دواړه آوازه په خپلو او سنيو منليو شکلونو ليکل شوي دي، تاسې لطفاً پښتو نسخې وګورئ بيا اعتراض ونه وکړئ.

(۱۱) په پخوانيو زړو ليکنو کې مخصوصاً پړدولسمې پېړۍ پورې مربوطو پښتو متونو کې زور او حرکت ليدل کېږي، خو د پټې خزانې په عکسي متن کې نه ليدل کېږي.

زه بايد بيا ښاغلي همام صاحب ته ووايم چې موجوده نسخه د څورلسمې پېړۍ ده. بله خبره چې زه درته کوم هغه داده چې دوی نه د پټې خزانې خطي نسخه ليدلې او نه يې عکسي متن کتلی دی، نو که ده دا متن کتلی وای داسې اعتراضونه به يې نه کول. ښاغلی همام صاحب! تاسې لطفاً پټه خزانه

ولوله، نوکه نور نه شي کولای یوازې دعکسي متن (۲۰-۲۵ مخونه) په دقت وګوره ستا اعتراض (!) ته به ځواب پیدا شي.

(۱۲) په پخوانیو آثارو کې عناوین، عمده کلمات او اشارات په سور رنګ لیکل کېدل، اما په پټه خزانه کې نه دي شوي.

دا اعتراض (!) هم له خطي نسخو سره د ښاغلي همام د نابلدیت ښکارندوی کوي. دا کومه منلې کلیه نه ده چې په کومه نسخه کې سور رنګ نه وي کارېدلی یا دکومې نسخې عناوین په سور رنګ نه وي، نو هغه به جعلي وي، که تا پېښوس خطي نسخې ولیدلې نو تا ته به ښکاره شي چې په دې پېښوسو کې ډېرې نسخې داسې دي چې د سور رنګ هیڅ اثر هم پکې نشته. داسې نسخې زښتې زیاتې دي چې یوازې په توره سیاهي کښل شوې دي. بله خبره چې زه په دې ارتباط کوم هغه داده چې د لیکنې د سیاهۍ رنګ د یو اثر په جعلیت کې څه تاثیر لري، که یوه نسخه په هر رنګ لیکل شوې وي، یوازې هغه وخت پرې شک کېدای شي چې سیاهي د هغه وخت نه وي؟

(۱۳) د ځینو کلمو لکه هېواد، غلط استعمال چې په نورو متونو کې نورې معناوې لري.

د ښاغلي همام دا خبره د ښاغلي قلندر مومند په ځینو هغو استنتاجونو بنا شوې ده چې د ژبپوهنې علمي موازین یې نه مني.

هغه کسان چې د ژبپوهنې له اساساتو خبر دي د ژبې د تحول مسأله ورته حل ده او هغوی په دې پوهېږي چې لغات او کلمات د خپل ژوند په اوږدو کې شکلي او معنوي تغییرونه مومي. له دې سربېره په لهجو او جغرافي سیمو کې هم د یوې ژبې ځینې کلمات په مختلفو معناو و استعمالېږي.

بناغلي مومند چې د پټې خزانې په ځينو متونو کې د راغليو ځينو کلمو د معنا د غلط ثابتولو کوم کوښښ کړی دی او ځيني نظايرې له پښتو ادبه راوړې دي ، هغوی ته بناغلي د ژبې د تحول مسأله او د کلمو او معناو و د ادلون بدلون جريان نه وي معلوم . په پښتو زاړه ادب کې ډېر داسې نظاير شته چې د پټې خزانې د مفاهيمو او معناوو پلوي کوي ، که يقين دې نه راځي لطفاً د بناغلي همېش خليل کتبلی تول پار سنګ وګوره .

(۱۴) په نورو منابعو کې د امير کروړ او ځينو نورو شاعرانو د نامه نه ياد.

د بناغلي همام تول وړاندې کړې نکات په دې دلالت کوي ، چې بناغلی همام له شرقي فرهنګ او شرقي عنعنو نه بېخي بې خبره دی . تاسې د دري ژبې قديمې تذکرې ، لکه لباب الالباب او ددولت شاه تذکرة الشعراء وګورئ او بيا يې د ټولو راغليو مشاهيرو لټون په نورو منابعو کې وکړئ. نو ضرور به دا در معلومه شي چې ځينې شاعران پکې داسې دي ، چې په نورو منابعو کې يې يادونه نشته .

زموږ په پښتني فرهنګ کې حالنامه داسې کتاب دی چې نسخه يې هم يوه ده او ځينې داسې شاعران پکې راغلي دي چې بل هيڅ ځای يې ذکر نه دی شوی ، لکه : خواجه محمد ، ابابکر کندهاری ، شهزاد ګل او ځينې نور ... دغه راز د پېښور د اسلاميه کالج په کتابخانه کې د پښتو يوه مختصره خطي تذکره شته چې ګلشن اشعار افغانی نومېږي ، نسخه يې هم واحده ده او له ليکلو يې هم څه د پاسه ۹۰ کاله تېرېږي ، مګر ځينې داسې شاعران پکې راغلي دي چې يادونه يې بل ځای نه ده راغلې . نو که د پټې خزانې د څو محدودو شاعرانو ذکر په نورو منابعو کې نه وي راغلی داکومه د هېښتيا خبره نده . دا چې د څو شاعرانو نومونه يې په نورو کتابونو کې

کې نشته نو دا بیا جعلي کتاب دی ؟ دامیرکروړ د پلارنوم اوکورنۍ په تاریخونو او ډېرو متونو کې یاد شوی دی او معلوم خلک دي .

(۱۵) د محمدهوتک او دده د کارونو په باب په نورو منابعو کښې معلومات نشته ؟

که همام صاحب د افغانستان مطبوعات لوستي وای، نو دا به ورته ښکاره وه چې محمدهوتک څه ورک سړی نه دی . په ۱۳۵۵هش کال - کندهار مجلې د محمد هوتک د کورنۍ په باب ځینې مطالب نشر کړل، وروسته چې پسې پلټنه وشوه، د محمدهوتک اخلاف په کندهار او دکلات په سیوري کې اوس هم شته ، دده په نامه کلی او کاریز موجود دی او قبرېې معلوم دی . د ښکرهار پوهنتون له خوا خپره شوې دمحمدهوتک ژوند اومزار نومې رسالې د اتولې خبرې راوړې دي .

دغه راز استاد الهام په خپله یوه مقاله کې چې د سبکپوهنې اساسونه په پاملرنه یې لیکلې ده د سنته پترز بورګ د ختیځ پوهنې دانستیتوت په خطي کتابونو کې یوه موجوده پښتو غزله د همدغه محمد هوتک ثابته کړې ده.(۷۴)

(۱۶) په لومړیو چاپونو کې عبد العلي د نامه نه یادول .

ښاغلی همام صاحب ته د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپره شوی د تاریخي پلټنې کتاب کې لومړنۍ راغلې مقاله وګوره ، نو به هغه تول علل درته ښکاره شي چې ولې استاد حبیبي مرحوم لومړي چاپ کې د علامه عبدالعلي اخوندزاده کاکړ نوم نه دی لیکلی .

(۱۷) د پټې خزانې یوه برخه د ښاغلي مومند په عقیده د حبیبي لیکنه ده .

د ښاغلي مومند ووانده کړي نظریاتو ته چاند دي منلي، لکه چې ماد ګ

بحث په د مخینو برخوکې وویل دښاغلي مومند د نظر په ردکې کتابونه، مقالې او رسالې لیکل شوي او دا کار لا روان دی. د پټې خزانې پر نظم او نثر د حبیبي د شبک دا اثراتو څرک لا تر اوسه چا نه دي ایستلی.

(۱۸) لنډه دا چې افغانان په غور کې نه وو، لکه څنګه چې حبیبي او نورو ادعا کړې ده.

ښاغلی استاد همام ما دا بحث د مخه څېړلی دی. نور یې نه اوږدوم خو دو مره درته وایم چې ته تاریخي متونو ته رجوع وکړه او د پښتنو انساب مطالعه کړه، نو به دا پته درته ولګي چې پښتانه په غور کې وو او که نه؟

(۱۹) د پټې خزانې د جعلي تابه په باب د شرق او غرب د پوهانو نقد: ښاغلیه! چا چې تر اوسه پر پټه خزانه څه لیکلي دي او یا یې کومې پوښتنې مطرح کړې د هغو مستند، علمي ځوابونه ویل شوي دي، داسې څه نه دي پاتې چې هغو ته ځواب نه وي ویل شوی او هغه دلایل چې څېړنو د دې کتاب د جعلیت د ثبوت لپاره وړاندې کړي دي دا کتاب جعلي ثابتولای نشي.

(۲۰) په هیڅ کلاسیک اثر کې دومره غلطۍ نه دي راغلي، که فرضاً په یو کتاب کې سور رنګ نه وي استعمال شوی او یا یو تاریخ پکې غلط وي او یا په بل اثر کې صفحه رهل شوې وي، دا کمبودۍ جزیي دي او د اثر اهمیت نه لږ وي، خو که لکه پټه خزانه کمبودۍ ولري نو هغه به کاملاً جعلي وي!

دښاغلي همام دا خبرې هم، لکه د ده د مخنیو خبرو کومه علمي پشتوانه نه لري. زه باید په ډېر احترام د وی ته عرض کړم چې په

پټه خزانه کې به ضرور ځینې غلطۍ او تېرووتنې وي، خو دا غلطۍ
او تېرووتنې له نورو تذکرو په مراتبو لږې دي.

که د نورو ژبو حتی د معاصرو تذکرو غلطۍ او تېرووتنې موږ
وڅېړو او د پټې خزانې له هغوسره یې مقایسه کړو، نو د پټې خزانې هغې
بېراته په اوږو کې مالګه سپکاوه شي. یوسړی چې په شلم قرن کې له
ډېرو علمي سهولتونو او څېړنیزو اسانتیاووسره تېروتنې کوي
نو که محمد هوتک وکړې، نو یې کتاب جعلي دی؟

د دري آثارو لوی نقاد محمدعبدالوهاب قزویني د دولت شاه د
تذکرې په باب لیکلي دي:

«تراجم آنهایی را که نیز ذکرنموده است غالباً طرف وثوق نیست
شبهت به حکایات بی مأخذ وافسانه ها و اکاذیب ونحو آن واکاذیب
محصولات ولخواه آن ...» (۷۵)

که د چهارمقاله عروضی د غلطیو په باب د دري ادبیاتو د نقادانو
لیکنې ولولې، نو به دا ومنې چې په تذکرو کې غلطۍ وي، خو دا
غلطۍ د کتاب پر جعلیت دلالت نه کوي.

ښاغلی استاد همام یوازې پر دې خبرو بسنه نه ده کړې،
بلکه ځینې نورې خبرې هم لري چې هغه به هم په سرسینه وڅېړو.

دی د خپل کتاب په ۲۹ مخ کې د ښاغلي قلندر مومند پټه خزانه
فی المیزان علمی کتاب بولي او د دغه کتاب په ځواب کې چې چاڅه لیکلي
دي، په تېره یې سپیدۍ مجله کې چې د ښاغلي مومند په ځواب کې
څه نشر شوي، هغه ټول خام او غیر علمي بولي، خو د خپلې ادعا
د ثبوت له پاره یې څه دلیل نه دی وړاندې کړی. ښاغلی همام صاحب!

تاهر به سکاره وي چې څوک يو نظر تائيد وي او د هغې نظريې پرضد اراثر شوي نظريات غير علمي اوخام بولي، نو بايده دي چې د لايل اواسنا د وړاندې کړي. د خولې په تشه وينا نه يو اثر علمي کېږي اونه بل غير علمي.

- دی د خپل کتاب په ۳۳-۳۵ مخونو کې، په ۱۳۵٤ هش کال په کابل کې د پښتو څېړنې دبين المللي مرکز دپراينستلو دبين المللي سيمينار په ارتباط يوه قصه راوړي او وايي چې: «حبيبي پروفيسور مارکنستيرن ته دپټې خزانې يوه نسخه ولېږله چې پرې امضاء کړي، مگر هغه امضاء نه کړه، نو لهذا دا کتاب جعلي دی.»

ترکومه ځايه چې استاد حبيبي موږ ته معلوم و، هغه دغسې خاصيتو نه درلودل چې يو چاته خپل کتاب ولېږي چې امضاء يې کړي. بله خبره داده چې دپټې خزانې په باب دمارگنستيرن دليکو مستند ځواب استاد حبيبي ويلی و، نو دې خبرې ترې څه ضرورت ليده چې د هغه په امضاء تمسک وکړي اويا هغه سبا چاته وړاندې کړي.

دريمه خبره داده چې مارکنستيرن چې په هماغه سيمينارکې دپټې خزانې په باب له استاد الهام سره کوم بحث کړی دی (دابحث ورو سته راځي) دبناغلي همام ادعا باطلوي.

- بناغلی همام د کتاب په ۳٦-۳۷ مخونو کې يوه بله قصه راوړي چې لنډيز يې دادی: «د کابل پوهنتون يو استاد په خبرو کې ده ته ويلي دي چې مرحوم حبيبي د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي له ځينو استادانو او محصلانو سره په ۱۳۳۳ شمسي کال بامیانو ته تللی و، په استادانو کې پروفيسر محمدعليخان ميوندی، پوهاند حبيبي، پوهاند نعمان، پوهاند علمي، استاد الهام، استاد نگهت اوبناغلی حبيب الله تږی شامل وو. يوه ورځ چې

استاد حبیبي په بامیانو کې ډېر خوشحاله او خندانه ښکارېده نو ښاغلي تره‌کي له هغه پوښتنه وکړه : استاده دغې خزانې مسأله څنګه ده ؟ استاد حبیبي چې ډېر خوشحاله و ، نو یې وویل چې پټه خزانه ماجوړه کړې‌ده. تره‌کي بیا پوښتنه وکړه چې څنګه ؟ استاد حبیبي دویل : یوه ورځ انورخان نایب سالار راته وویل چې شاه‌محمود خان صدراعظم غوښتي یې . چې زه صدراعظم ته ورلاړم ، نو هغه راته دویل چې د پښتنو د تاریخ او ادب په باب یو ښه کتاب ولیکه ! نو ماپس له هماغه وخته د دې کتاب په لیکلو شروع وکړه او پټه خزانه مې ولیکله او د مطبوعاتو له لارې دا خبره خپره شوه چې له بلوچستان نه پټه خزانه لاس ته راغله . . . . » داچې حبیبي خپله ویلي دي « نوځکه‌ پټه‌ خزانه » جعلي ده .

ممکنې له دې چې د دې قصې بېلا بېلې برخې وڅېړو لومړی به یې دې قصه کې راغلیو نېټو ته ځیر شو .

په قصه کې راغلې لومړنۍ نېټه ؟ ۱۳۳ ده ، معلومېږي یې چې سفر به ډېر شمو کلونو کې پېښ شوی دی . داچې یو عدد له ده هېر شوی،کېدای شي دا عدد له ۰ - ۹ پورې وي . د دې خبرې د سپيناوي لپاره به مونږ دا استاد حبیبي ژوند پېښونو ته رجوع وکړو؛

استاد حبیبي په ۱۳۲۵ هرش کال دکندهار د معارفو رئیس و ، په ۱۳۲۶ هرش کال په چمن کې افغاني وکیل التجار و. په ۱۳۲۷ هرش کال دکندهار د خلکو له خوا د شورا په اوومه دوره کې وکیل و او تر ۱۳۳۰ هرش کال پورې یې دا وظیفه وه . . د همدې ۱۳۳۰ هرش کال په جریان کې له هیواده ووت او بیا په ۱۳۴۱ هرش کال کې بېرته راغی . (۷۶)

ښاغلي لوستونکي دې خپله قضاوت وکړي چې د ښاغلي استاد همام

داخبره څوصرو رښتیا دي ؟ مرحوم استاد له ۱۳۲۵ هـ ش کال نه وروسته له ادبیاتو پوهنځي سره روابط نه دي درلودلي او د ډېرشمو کلونو په جریان کې ګرد سره په افغانستان کې نه و . آیا د دې علمي سفر لپاره له پاکستان نه راغلی و ؟

بله خبره به داوڅېړو چې اروا ښاد سپه سالار غازي شاه محمود خان د ۱۳۲۵ هـ ش کال د جوزا په ۲۵مه د سردار محمد هاشم خان له استعفی وروسته صدراعظم شو . حال دا چې پټه خزانه د ده له صدراعظمۍ نه دری کاله دمخه په ۱۳۲۲ هـ ش کال له کوټې داوره شوه او په ۱۳۲۳ هـ ش کال له کابله چاپ شوه . صدراعظم شاه محمود خان کله او څه وخت استاد حبیبي ته د پټې خزانې دلیکلو دستور ورکړ ؟

دګو مو استاد انو نوموړ چې ده اخیستي دی ، شکر دی اکثریې ژوندي دي ، یو هم داخبره څېړې نه ده کړې چې استاد حبیبي ویلي چې دا کتاب مالیکلی دی .

کله د سباغلي همام صاحب راوړې قصې واقعیت درلودای او حبیبي دا منلې او ویل چې دا کتاب ما جوړ کړی ، نو بیا یې په خپلو وروستیو آثارو کې پردې کتاب ولې استناد کاوه او بیا یې ولې په ۱۳۵٤ هـ ش کال د دې کتاب په دفاع کې اوږده څېړنه وړاندې کوله او په ۱۳۵٦ هـ ش کال کې یې د پټې خزانې د پیدا کېدو داستان ولې ولیکښ او ..... لوستونکي دې خپله قضاوت وکړي ، څوک چې یو کتاب خپله جعلي بولي او د خلکو په مخکې اعتراف کوي چې دا کتاب ما جعل کړی دی ، او بیا د همدغو خلکو ترمخه له همدغه کتاب نه دفاع کوي او د پښتو ادبي تاریخ څېړنې پرې بنا کوي .

دغو ټولو تضادونو ته باید ځیر لوسو .

که حبيبي دا خبره کړې وای نو آیا استاد پوهاند دوکتور حبیب الله تږي به په خپله مقاله د پښتو ادب اصل او منشاء (۱۳۴۸ هوش، وږمه مجله) کې پر پټه خزانه استناد کړی وای ؟

که چیرې حبیبي دا ویلی وای، چې دا کتاب ما جعل کړی دی، نو زموږ محترم استاد پوهاند علي محمد زهما به د امیر کروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلین په افتتاحیه غونډه کې وینا کړې وای ؟ (د امیر کروړ یاد ۳۹ - ۴۰ مخونه).

بناغلی همام صاحب وایي « یوځل پوهاند الهام راته وویل چې د حبیبي - دوه کاره راته معلوم دي نو یو یې هم شاید همدا د پټې خزانې جعل وي ؟!!

بناغلی همام صاحب د پوهنتون استاد و، ضرور به یې په خارجي هیوادونو کې تحصیل هم کړی وي، د څیړنو میتودونه به یې هم لوستي وي، آیا د یو کتاب د - جعلي ثابتولو لپاره د غسې قصې او افسانې راوړل اساسي سند کیدای شي دا ډول قصې د بحث او انتقاد لپاره څه لري؟

دی په خپل کتاب کې، لکه چې یې د مخه تفصیل تیرشو استاد الهام یو بل ځای هم د سند په توګه راوړی اما د ټه نه ده معلومه چې استاد الهام د پټې خزانې د څیړلو لپاره څومره هلې ځلې کړې دي. د دوی یوه اوږده مقاله چې: د پټې خزانې پرسبک باندې یو خوځنده نظر، نومیږي په امیر کروړ یاد (۳۵۴ - ۳۸۹ مخونه) کې چاپ شوې ده او د دې مقالې په پای کې یې لیکلي دي «.... پټه خزانه یو لویه فرهنګي ادبي، تاریخي، حماسي او رواني خزانه ده چې نه یوازې د خپل وخت د ټولنیزو شرایطو له نظره محتوایي لوړ ارزښت لري، بلکې تر اوسه یې هم خپل د غه محتوایي ارزښت له لاسه نه دی ورکړی او په راتلونکیو پیړیو کې به یې هم وساتي ....»

(د امیر کروړ یاد ۳۸۷ - ۳۸۸ مخونه).

که چیرې استاد الهام غوندې یو ژبپوه او ادیبوه په دې باور وای چې -

دا کتاب استاد حبیبي جعل کړی دی، نو بیا یې هیڅکله هم پرپټه خزانه داسې اوبده علمي مقاله نه وای لیکلې.

لنډیکه مرغه استاد الهام اوس په پېښور کې دی او ما ترې د بناغلي همام د دغو خبرو په ارتباط پوښتنې وکړې. ده را ته وویل:

۱- ما ولې بناغلي همام سره په دې باب یوه خبره هم نه ده کړې؟

۲- که ما د غسې نظر درلودای، نو بیا مې هیڅکله د پټې خزانې په باب مفصلې مقالې نه لیکلې؟

۳- که زه اوس هم باوري شم چې پټه خزانه جعلي کتاب دی، زه به هیڅکله پر دې کتاب استاد ونه کړم او په واز کومې به ووایم چې دا کتاب جعلي دی، خو ما چې دا کتاب له مختلفو جهتونو څېړلی، دا یو طبیعي کتاب دی.

۴- وروستی ځل، چې کله په ۱۳۵۴ هش کال ما فقید پروفیسور مارګنسټیرن په کابل کې ولید. له هغه سره مې د پټې خزانې په باب خبرې وکړې، هغه راته په ډاګه وویل چې په پټه خزانه کې ځینې داسې کلمات راغلي، چې له زړو آریایي ژبو سره همرېښه دي. که دا کتاب حبیبي جعل کړی وای نو بیا یې بنایي دا کلمې د غسې نه وای راوړې، حبیبي یې په رېښه او معنی نه دی پوه شوی».

د بناغلي همام د لیکنو په ارتباط له استاد الهام سره زما د هغو خبرو خلاصه هغه وه چې ما لوړه راوړه.

ژ د پښتو ادبپوهنې د یو شاګرد په توګه خپلو ټولو هغو غیرپښتنو هیوادوالو ته دا عرض کوم چې پرپټه خزانه نقد ساده کار نه دی.

هغه څوک پر دې کتاب بریالی نقد لیکلی شي، چې ادبپوهنه او ددې پوهنې په ټولو اساسي او فرعي څانګو کې د مطالعې خاوند وي. په ژبپوهنه او رېښه شناسۍ (آرپوهنه) کې د معلوماتو څښتن وي او ورسره د پښتو د تاریخ او-

فرهنګ پر نقلو ابعادو لاسبري ولري. که څوک د دغو پوهنو په رڼا کې پردې کتاب نقد وکړي او څه داسې تکي پکې راوباسي، چې دکتاب جعليت پرې ثابتېږي نو بيا په هغه صورت کې، پردې کتاب ټينګار به دعلم په وړاندې د دريدلو معنی ولري. نو ل هغه کسان چې دعلم لپاره خدمت کوي او غواړي چې حقايق څانته او نورو ته ښکاره کړي نو هغه به هيڅکله هم پردغسې يوکتاب چې په علمي توګه رد شوی وي ټينګار ونه کړي.

تر اوسه چې په پټه خزانه د هرچا له خوا څه ويل شوي دي، هغه داسې خبرې دي، چې نظايرې په پښتو او نورو ژبو په آثارو کې پرېمانه ليدل کيږي او يو اثر پرې د جعليت د رشک نه وړ دی. ددې زياتره خبرې او نقدونه (۱) له څينو څانګړيو تمايلاتو رازيږيدلي چې دا ډول تمايلات دعلم او فرهنګ په ساحه کې ځای نه لري.

زموږ څينې دري ژبي ورونه د پټې خزانې په باب دختيځ پوهانو پر-څينو مشکوکو خبرو اتکا کوي.

موږ دختيځ پوهانو کار او زيار ته د درناوي په سترګه ګورو او هغه - ستايو. خو ددې ترڅنګه دا خبره هم نه هېروو، چې دپښتو د ژبې او ادب په وړاندې دختيځپوهانو تيروتنې ډوې منشاوې لري:

(۱) دا چې ډوی دپښتو د زړو آثارو په باب د راورټي او نورو ختيځپوهانو پر آثارو اتکا کوي حال دا چې ختيځپوهانو د پښتو آثارو د قدامت او وسعت په باب ډېرلږ معلومات درلودل. په وروستيو او يا اتيا کلونو کې د پښتو ډېر آثار-کشف شوي، چې له يوه يې هم ختيځپوهان نه وو خبر او نه يې د هغوی په آثارو کې يادونه شوې ده. اوس د پښتو آثار دختيځپوهانو د معلوماتو په تناسب په لسهاو چنده زيات دي. که موږ يوازې دختيځپوهانو پر معلوماتو اتکا وکړو، نو-

بويه چې د پښتو دا نور اثار گرده ردکړو.

(۲) د ختيځپوهانو بله تېروته دا ده چې دوی د پښتو ژبې د تحول مسأله د اروپايي او يا نورو پر مختللو قومونو د ژبو د تحول د پروسې پر معيارونو برابره تلي او د دې نامناسبې کتنې د استعمال په وجه يې په تللوکې ژبانو نه پښيږي او په داسې ناوړو سرکېږي چې د پښتو له پاره حتی غيرعلمي ربړې را پيداکوي. د پښتو ژبې د تحول سير بايد د دې ژبې د ويونکيو داجتماعي - تحول پروسې سره متناسب مطالعه شي .که داکار وشي نو بناعلي ختيځپوهان به د پښتو د ځينو نورو آثارو په باب شک پيدا نه کړي.

د دغه ټول بحث په پای کې زه په دې برخه کې دا وايم چې پټه خزانه يو تذکره ده، چې غلطې او ضعيف روايات او ځينې نورې کمبوتې هم پکې شته، چې د نوکمبوتيو ته په ورسته ټوکلونو کې گوتې نيولې شوې دي، خو دا تېروتنې او کمبوتې بيا هم د دې کتاب د جعليت باعث نه گرځي. موږ ته بنايي چې د دې کتاب هغه ضعيف روايات وانخلو او تېروتنې يې سمې کړو او پر نورو متن يې د نورو اسنادو تر پيدا کېدو په دا ډول زړه استناد وکړو.

## د دې اثر د ليکنې ضرورت

: که د سر يزې په لوستونکي پردې موضوع د شوي کار د سوابقو مطالعه کړي وي، نو ضرور به دا ووايي چې د دې اثر ليکلو ته هيڅ ضرورت نه و. زه خپله حتی له دغې يو عاجل قضاوت سره هم همنوايم ، ځکه پښتو تر دې نوره هم عاجل ضرور تونه لري چې بايد ورته توجه وشي. خو دا چې ما ولې دې موضوع ته مخه کړه، په دې باب به زه خپل عرايض داسې وړاندې کړم:

(۱) په ۱۹۹۲ کال په کابل پوهنتون کې د پښتو نثر د دوو جوړو شويو سيمينارونو کې گډون او په هغو کې د پښتو نثر پر تاريخي سير خبرو کولو ته زه دې ته وهڅولم چې په پښتو نثر د شوي کار مطالعه وکړم او ورسره وروسره د ۲۳ کالو په دوران کې د پښتو آثارو له مطالعې خپل اخيستي يادداشتونه او بيا يادداشتونه منظم کړم. د دې کار په نتيجه کې تر و رسولم چې په دې موضوع کار ضرورت شته. چا چې به دې لاره کې تر ما ډېر خواخلاستې کړې دي هغه يې د مننې وړ دي او کار يې په خپل ځای ارزښتمن دی؛

څو د دې تر څنګه بشپړ تابه ته اړه لري او بو به چې دا کاروند به یوه نوي اثر کې په نوي ډول پسې بشپړ شي . دا ځکه چې دوهمې ادبي دورې ته مربوط ځینې داسې آثار له ماسره وو او یا ماته معلوم وو چې د دې ساحې له پخوانو یادو ستویو او کتبنل شویو د مخنیو آثارو کې نه دي یاد شوي .

(۲) که څیرې مونږ غواړو چې د خپلې ژبې ادبي تاریخ او ورسره په څنګ کې د فرهنګ تاریخ ولیکو نو لازمه ده چې د موادو د اوبو اوبه دې لاس کې د ځینو لومړنیو خواساسي ګامونو د اوچتولو له لارې خیل منزل ته ځان ورسنبکړو . د خپلې ژبې د نظم او نثر تاریخونه ولیکو او په دې توګه د ادبي او فرهنګي مؤرخانو د کړاو په لنډولو کې مرسته ورسره وکړو. له دغه ډول آثارو څخه چې په هغو کې په ادبي او غیر ادبي آثارو د واړو بحث شوی وي هم د ادبي تاریخ لیکوال او هم د فرهنګي تاریخ لیکوال استفاده کولای شي :

(۳) له دې سربېره زما له نظره دا اړه هم محسوس وه چې تېرو کارونو ته باید په انتقادي نظر وکتل شي او د ادبي تاریخ د نویو اصولو مطابق ځوان نسل ته د پښتو آثارو د یو اړخ یو عمومي انځور وړاندې شي ، چې هغه له تذکره یي روشته ثمور ل شوې وي او په پښتو کې د نثر د تحول او پرمختیا پړاوونه لوستونکي ته وړاندې کړي .

همدغو ضرورتونو ته په پاملرنه ما د دې اثر لیکلو ته ځان وقف کړ.

## د دې اثر منابع :

د دې اثر په لیکنه کې داخلي منابعو ته زیات

ارزښت ورکړل شوی دی او دا هڅه شوې ده چې اصلي او داخلي

منابعو ته په پاملرنه دا کتاب بشپړ شي . په ځینو خاصو مواردو کې خارجي منابعو ته هم رجوع شوې ده . دکتاب منابع زیاتره چاپي او خطي متون دي او درس په دې ساحه کې شوې څېړنې ، پښتو ادبي تاریخونه او تذکرې .

له منابعو که هغه داخلي دي او که خارجي په پتوسترګو استفاده نه ده شوې ، بلکه له انتقادي ارزیابۍ وروسته ترې کار اخیستل شوی دی .

## دتحقیق میتود :

کرڅنګه چې دا اثر مکمل ادبي تاریخ نه دی او نه په دې کتاب کې ټول مطرح شوي آثار په ادبي تاریخ کې د مطالعې ځای لري ، خو ددې اثر په لیکنه کې ما دادبي تاریخ لیکنې له معمولو روشونو څخه استفاده کړې ده او دا روش زیاتره د تاریخي ـ تشریحي میتود تابع کېږي .

په دې اثر کې پر مطرح شوو آثارو د بحث په دوران کې زما زیاته توجه د آثارو پېژندنې ، دسبکونو تشخص او هغه ارزښت ته چې د فرهنګ په رشد کې دیو اثر پر پښتو لوستونکو پر مرکز ده ، نه دا اثر د لیکوال پر ژوند پښتو . ځکه په دې اثر کې راغلي آثار ، زیاتره د هغو کسانو دي چې په ادبي تذکرو ، تاریخونو او نورو ادبي څېړنو کې په واروارو معرفي شوي دي ، هغه لیکوال چې تراوسه نه دي معرفي شوي له ضرورت سره سم به یې دا اثر د تشریح په ترځ کې ضمني معرفي هم شوې وي .

ددې اثر په لیکلو کې له مقدمه بازیو صرف نظر شوی دی او نیغ په نیغه پر موضوع بحث پیل شوی دی . ما دا اثر په پیل او پای کې هم په بېلابېلو مباحثو کې د نثر ونو له تعریفاتو او دولونو له سنبولو ځان ژغورلی دی

ځکه نو ما په عقیده ددې دول بحثونو ځای دادول کتابونه نه دی.
دکتاب په بیلابیلو مباحثوکې له ځینو استثنایي مواردو پرته ما
نثرونه د شکل له نظره په مسجع، ساده اوروان، او هم د معنوي ارزښتونو
له نظره په عادي، علمي او هنري نثرونو په کالب کې ارزیابي کړي دي.
په دې اثر کې د موضوع ابتداء له ورکو آثارو، نه ده شوې،
بلکه دا کتاب پر موجودو آثارو خبرې او بحثونه وړاندې کوي. ځکه
چې د پښتو موجوده ترټولو د مخني معلوم منثور اثر د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء
څو پاڼې دي چې د ۶۱۲ هـ ق شاوخوا یې پر لیکلو پیل شوی دی.
په ۶۱۲ هـ ق کال کې یې له تألیف ۸۰۰ کاله تیرېږي او پښتو نثر اته سوه
کلنۍ ته داخلیږي، نو ځکه ما د دې کتاب نوم د پښتو نثر اته سوه کاله ایښی
دی.

## د دې اثر د دوره بندی روش:

ما چې د پښتو نثر د تاریخي سیر
په باب کښل شوې مستقل آثار کتلي دي زیاتره دوره بندي لري.
او هم په ځینو نورو بحثونو کې د پښتو نثر د تکامل دورې ښوول
شوي دي. که څېرې سړی دغه ټولې دوره بندۍ دلته یادې کړي،
بحث پرې وکړي او د پښتو ادبیاتو او په تېره د پښتو نثر د پرمختیا
د مسالې سره ارتباط یې ارزیابي کړي، سم او ناسم یې وښیي، نو دا
خبره دیوې ځانګړې مقالې ایجاب کوي چې په دې لیکنه کې یې
راوړل خبره اوږدوي. د دې ترڅنګه البته داویل ضروري دي
چې په دغو آثاروکې ښوول شوې دوره بندۍ سلیقه یي ارزښت لري او
هر یو له خپل ذوق او یا طرز دید سره سمې جوړې کړي دي.

داکتاب د هغې دوره بندۍ په چوکاټ کې لیکل شوی دی چې په ۱۳۶۶ هش کال په کابل کې د ادبي تاریخ د میتودولوژۍ په سیمپوزیم کې منل شوې ده. دا دوره بندي د پښتو آثارو د پیدا ایښت او رشد د مسالې عیني او خپلوتنه په پاملرنه ترتیب شوې ده(۷۴).

د دې دوره بندۍ له مخې ماپه دې اثر کې د پښتو نثر د تکامل پراختیا او پرمختیا تاریخ په درېو دورو کې بشپړ کړی دی:

(۱) لومړۍ دوره (۲) دوهمه دوره (۳) درېیمه دوره.

په اوله دوره کې موږ یوازې یو پښتو منثور اثر لرو دا دوره ذ هغې یو اثر پر بنا لیکل او د دې دورې د څېړونو آثارو د نوموړو کوم څرګونه چې د نورو منابعو له مخې ایستل شوي دي، د هغو په تشې یا دوې و شي.

دوهمه دوره یا منځنۍ دوره چې د پښتو د ادب تاریخ طلایي دوره ده، دا دوره د نثرونو د بېلابېلو سبکونو او ډولونو د پیدا ایښت او په پښتو نثر کې د تحول د راتګ له امله په څېړاوونو کې مطالعه شوې ده.

زما په نظر درېیمه دوره جنجالي دوره ده، ځکه د دې دورې مطالعه لکه دوهمه دوره په پړاوونو کې ماته مشکله ایسي، ځکه له یوې خوا د پښتو نثر لمن ډېره ویره شوې ده او له بلې خوا د دې دورې فرهنګي آثار تر یو واحد و سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي شرایطو لاندې نه تولید کې و ده نه مومي، بلکه په خو بېلابېلو ساحو کې تر بېلابېلو شرایطو لاندې واقع تولنو کې پیدا کېږي او وده مومي. نو ځکه دلته دادبي او فرهنګي آثارو څېړونکي له پرابلم سره مخامخ کېږي.

ما دې پرابلم د حل لپاره په دې دریمه دوره کې ځینې فرهنګي
حوزې مشخصې کړې دي او د پښتو نثرونو د پرمختیا مساله مې دګي
حوزو په چوکاټ کې پسې څېړلې ده. ولته باید دا خبره له یاده ونه
باسو چې په دې دوره کې دهغو فرهنګي حوزې ادبیات او فرهنګي آثار
بیا په خپله هماغه مشخصه حوزه کې په بېلا بېلو پړاوونو کې رشد کړی.
د آثارو دې لوی مختیا دغه پړاوونه په هره حوزه کې په پام کې نیول شوي دي.
دیادونې وړ بله خبره دا ده چې پښتو د تحریري آثارو تر څنګه د
شفاهي آثارو کافي ذخیره هم لري. هغه څوک چې پښتو ادبي تاریخ
او یا د پښتو د نظم او نثر تاریخ لیکي مؤظف دی چې پر تحریري
آثارو د بحث تر څنګه په شفاهي آثارو هم خبرې وکړي.
شفاهي آثار زیاتره د تحریري ادبیاتو په دوره بندي کې سرې
نشي مطالعه کولای، ځکه د فن کلونو تاریخ ټاکل ګران کار دی
او که څینو څو کلونو ي آثارونه تاریخونه هم ټاکل شوي دي،
هغه په دغو آثارو کې د روایاتو د تغییر او تحول له مخې څینو کسانو
ټاکلي چې له علمي روشونو سره سمون نه خوري. د مثال په ډول
د آدم درخو نکل څینو کسانو د اکبر پاچا د زمانې ګڼلی دی، ځکه چې د نکل
په روایاتو کې د اکبر پاچا نوم راغلی دی، خو باور دا دی چې دا
نکل په پښتو کې تر دې پخوا زمانه کې پیدا شوی دی.
ما دې ادبیاتو (چې د لیکلو نثرونو تر څنګه شفاهي نثرونه هم باید له یاده
ونه باسم) په پام لرنه له یادو شویو درې دورو څخه یو فصل به دې کتاب
کې ورزیات کړی دی چې پښتو شفاهي منثور آثار پکې مطالعه شوي دي
او د کتاب پیل له شفاهي او نالیکلو آثارو شوی دی.

## مأخذونه :


(۱) صبواد مل، زلمی : فرهنګ ادبیات پښتو، جلد دوم، کیته دولتی طبع ونشر، کابل، مطبعه دولتی، ۱۳۶۵ هـ ش، ۷۴ مخ

(۲) صبوادمل، زلمی : د پښتو نثر تاریخ لیکلو ته بیا ضرورت شته؟ مشتشاد، ٤ ګڼه، ۱۳۷۳ هـ ش، ٤۰ مخ.

(۳) خادم، قیام الدین : د پښتو نثر تطورات او دنثارانو تذکره، کابل کالنی، د ۱۳۱۹ هـ ش کال ګڼه، ۳۲۲-۳٤۷ مخونه ؛ کابل کالنی د ۱۳۲۰ هـ ش کال ګڼه، ۲۰۲ - ۲۱۶ مخونه.

(٤) رښتین، پوهاند صدیق الله : د پښتو نثر، کابل کالنی د ۱۳۲۰ ګڼه، ۲۵۱-۲۷۹ مخونه.

(۵) رښتین، پوهاند صدیق الله : د پښتو نثر تاریخچه، کابل مجله، ۱۳٤۲ هـ ش ۱۱-۱۲ ګڼه، ٤-۳٤ مخونه.

(۶) رښتین، پوهاند صدیق الله : د پښتو تاریخي سیمینار، یونیورسټی بک ایجنسی، پېښور، ۱۹۸۷ع کال، ۳۷ مخ.

(۷) رښتین، پوهاند صدیق الله : خوشحال او د هغه د نثر ځېړنه، ننګیالي پښتون، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه ۱۳٤۵ هـ ش.

(۸) رښتین، پوهاند صدیق الله : د خوشحال د نثر سبک، ننګیالي پښتون، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۰ هـ ش.

(۹) رښتین، پوهاند صدیق الله : د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، کابل، عمومي مطبعه، ۱۳۲۵ هـ ش، ۲۱-۲۳ مخونه، ۳۲-۳۳ مخونه، ۷٤ مخ، ۸۵ مخ، ۱۰۲-۱۰۳ مخونه.

(۱۰) حبیبي پوهاند عبدالحی : د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک، دوهم چاپ،

پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۴۲ هـ ش، ۲۰۹-۲۵۸ مخونه.
(۱۱) حبيبي، پوهاند عبد الحی، د پښتو نثر له نو نسمي پېړۍ راهيسې،
پښتو چاپي آثار، د څېړندوی خدمتګار په نيان، د اطلاعاتو او
کلتور وزارت، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷ هـ ش، ۵۲-۶۳ مخونه.
(۱۲) الفت، ګل پاچا: ليکوالی (املاء او انشاء) پښتو ټولنه، کابل،
دولتي مطبعه، ۱۳۳۹ هـ ش، ۸۸-۹۱ مخونه.
(۱۳) ژواک، څېړنمل محمددين، پښتو نثرونه، پښتو ټولنه، کابل، دولتي
مطبعه، ۱۳۳۵ هـ ش، ۱-۶ مخونه.
(۱٤) هېواد مل، زلمی: هېښتو له مطالعو مناسبو پېړنو او ارزيابي،
پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۷ هـ ش ۳۲۲- ۳۲۵ مخونه.
(۱۵) هېواد مل، زلمی، هشتصد سال نثر معلوم پښتو، سپېدې (مجله)
د ۱۳۷۱ هـ ش کال کېڼه، ٤- ۲۷ مخونه.
(۱٦) هېواد مل، زلمی: په پښتو کې مسجع ليکنې ترکومه دوام کړی؟
ششاد (مجله) ۳ ګڼه، ۱۳۷۲ هـ ش، ٤۸-٦٤ مخونه.
(۱۷) خټک، اجمل: پښتو ادب، اټک کے اس پار، ګوشه ادب،
لاهور (د چاپ کال نه لري)، ۱۵۹-۱۸۰ مخونه.
(۱۸) اشر، عبدالحليم: پښتو ادب، اداره اشاعت سرحد، پېښور د،
علمي پرنټنګ پريس لاهور، ۱۳۷۰ هـ ق، ۷۰-۱۲۳ مخونه.
(۱۹) سيد انوارالحق: پښتو نثر، پښتو مجله، پښتو اکېډيمۍ،
پېښور، ۱۹۵۸ء کال جنوري - مارچ ګڼه، ۹۳- ۹۹ مخونه.
(۲۰) کاکاخېل، پروفيسور تقويم الحق: بې بې نور (مقدمه) دوهم چاپ،
يونيورستی بک ايجنسی، پېښور، منظور عام پريس، ۱۹۶۳ء ٤-٤٦ مخونه.

(۲۱) یوسفزی، سحر: ادب څه دی؟ دوهم چاپ، پېښور، ۱۹۸۰ع، ۸۲-۹۱ مخونه.

(۲۲) عباسی، محمد مدنی: پشتو زبان اور ادب کی تاریخ، مرکزی اردو بورډ، لاهور، امپیریل پریس، پشاور، ۱۹۶۹ء، ۱۰۴-۱۲۲ مخونه.

(۲۳) بخاری، ډاکټر عظیم شاه: تیسرا دور، تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند، ج ۱۳، پنجاب یونیورسټي، علمي پرنټنګ پریس، لاهور، ۱۹۷۱ع، ۱۴۵-۱۵۰ مخونه.

(۲۴) بخاری، فارغ: پښتو ادب کی تاریخ (ابتدائي دور) تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند، ج ۱۳، ۵۷-۶۷ مخونه.

(۲۵) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: موجوده دور، تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند، ج ۱۳، ۱۷۱ مخ.

(۲۶) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: روهي ادب (دوهم چاپ) پښتو اکیډیمي، پېښور، جدون پریس، ۱۹۸۶ع، ۲۴۳-۲۶۰ مخونه.

(۲۷) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: پښتو نثر څنګه راورسېدو، پښتو نثر (څلورم چاپ) عظیم پبلشنګ هاؤس، پېښور، سلیمان پرنټرز، ۱۹۹۰ع، ۱۵-۲۳ مخونه.

(۲۸) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: د پښتو نثر د سفر قصه د دې مرکې په صدالت کې، پښتو (مجله) پښتو اکیډیمي، پېښور، جنوري او اپریل ګڼه، ۱۹۹۳ع، ۲۴ مخونه.

(۲۹) ارباب محمد یعقوب خان: په پښتو نثر د عربي اثر، پشاور یونیورسټي جرنل (السنه) ۱۹۲۹ع، ۱۰۰-۱۰۷ مخونه.

(۳۰) نوشهروي، پروفیسر عبدالرؤف: پشتو ادب یک تعارف،

اکادمی سائینس اردو ، پښتو ، پشاور ، ۱۹۸۶ع ، ۳۰-۶۳ مخونه.

(۳۱) هېوادمل ، زلمی : د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاېزه ، کابل مجله ، د ۱۳۶۶ هـ ش ۲ گڼه ، ۶۰ - ۷۶ مخونه.

(۳۲) داودخان ، پروفیسور داود : د پښتو نثر ارتقاء ، جرس کالج ، ۱۲ گڼه ، جنوری - مارچ ، ۱۹۹۵ع ، ۵۲ - ۵۹ مخونه.

(۳۳) د دورن دغه خریستوماتي په ۱۸۴۵ع کال هم مستقله چاپ شوې او هم په دې کال د سنټ پترز بورگ د امپیریل اکیډیمه په علمي بولټن ، د مارچ گڼه ۵۸۱ - ۶۴۲ مخونو کې چاپ شوې ده. په دې خریستوماتۍ د منظومو آثارو تر څنگ د مخزن الاسلام او فواید الشریعت د مسجع منثورو نمونې هم خوندي دي.

(۳۴) دورن : خریستوماتي ، سنټ پترز بورگ ، ۱۸۴۷ع ، ۱ - ۱۷۳ مخونه. دلوېي خریستوماتۍ په منثورو منتخباتو کې : له مخزن او فواید الشریعت سربېره ، مصباح دانش ، پښتو تورېت او پښتو انجیل منتخبات هم خوندي دي.

(۳۵) راورټي ، هانري جارج : گلشن روه ، هرټفرډ ، ۱۸۶۰ع ۳ - ۱۸۶ مخونه.

(۳۶) هیوز : کلید افغاني ، لاهور ، ۱۸۷۲ع کال ، ۷ - ۲۴۰ مخونه.

(۳۷) گیرس : پښتو هنري نثر ، د سرمحقق محمد شینواري ژباړه ، د چاپ او خپرولو دولتي کمېټه ، دولتي مطبعه ، کابل ، ۱۳۶۵ ، ۲ مخ.

(۳۸) رضا ، پروفیسور افضل : د پښتو نثر تاریخ ، عظیم پبلشنگ هاؤس ، پېښور ، منظور عام پرېس ، ۱۹۶۸ع ، ۳۸۴ - ۳۸۷ مخونه

پروفیسور رضا دخپل کتاب په دغو صفحو ترکې د مولوي تاج محمد او عجب خان یادونه کړې ده ، خو محترمې بي بي مریمې او پوهاند رښتین بیا دا دوه کسه په خپلو آثارو کې نه دي یاد کړي.

(۳۹) هوتک ، محمد : پټه خزانه ، داستاد عبدالحي حبیبي په زیار ، دارالتالیف کابل ، ۱۳۳۹ هش ، ۳۰ ، ۳۲ ، ۳۸ ، ٤۸ ، ۵۰ مخونه .

(٤۰) د پښتو د نثر تاریخ ، ۳۰۰ مخ ؛ مریم (بي بي) : د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاینزه ، جدون پریس ، پېښور ، ۱۹۸۶ع ۲۷۵ مخ

(٤۱) پشتو زبان اور ادب کی تاریخ ، ۱۱۵ مخ.

(٤۲) د پښتو نثر تاریخ ، ۲۳۲ مخ ؛ د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاینزه ، ۳۰۷ مخ ؛ د رښتین پوهاند صدیق الله ، د پښتو نثر هنداره یونیورسټي بک ایجنسي ، ۱۹۹۲ع ، ۲۵۳ مخ .

(٤۳) د پښتو د نثر تاریخ ، ۳۹٦-٤۰٤ مخونه ؛ د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاینزه ، ۳۵٦-۳٦۷ مخونه ؛ نوشهروي پروفیسور عبدالرؤف : د پښتو نثر ارتقاء ، اکادمی سائنس اردو ، پښتو ، پېښور ، ۳۰-۳۳ مخونه .

(٤٤) د پښتو نثر هنداره ، ٦۱-٦۲ مخونه .

(٤۵) هیوادمل ، زلمی ، د علی محمد مخلص منثوره پښتو تصوفي رساله ، کابل مجله ، د ۱۳٦۷ هش کال ، ۲،۱ ګڼه ، ۲۹-۵۵ مخونه .

(٤٦) د پښتو د نثر تاریخ ، ۳۰۳ مخ ؛ د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاینزه ، ۲۸۰ مخ ؛ د پښتو نثر هنداره ، ۱۷٦-۱۷۷ مخونه .

(٤۷) پښتو هنري نثر ، ۱۷ مخ . دیا دونې وړده چې تر تولو د مخه دوړن دخریستوماتۍ په مقدمه کې عیار دا نثر د خوشحالخان بللی دی .

(۴۸) پښتو ادب، اټک کے اس پار، ۱۶۵۰، ۱۶۹ مخونه. دد غه اثر
په ۱۶۱ مخ کې ویل شوي دي چې خوشحال خان د انوار سهیلي
د عیار دانش په نامه ترجمه کړې ده:

(۴۹) روهي ادب، ۲۵۶ مخ.

(۵۰) رشاد، پوهاند عبد الشکور: د گلشن روه مقدمه، دریم چاپ،
د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ هـ ش
۳۷ مخ.

(۵۱) پښتو ادب، ۱۷۵ مخ.

(۵۲) رښتین، پوهاند صدیق الله: ادبي او تاریخي سمولې، یونیورسټي
بک ایجنسي، پېښور، ۱۹۹۲ ع کال، ۱۳۲ مخ.

(۵۳) پښتو ادب، اټک کے اس پار، ۱۶۶-۱۶۷ مخونه؛ د توضیح وړ خبره
په دې ځای کې دا ده چې د لته عیار دانش د خوشحال خان بلل
شوی دی. په پښاور یونیورسټي جرنل ۱۰۲ مخ کې دا اثر په
پیروي همدا ډول د افضل خان کړل شوې ده.

(۵۴) د پښتو نثر ارتقاء، ۶ مخ.

(۵۵) پښتو نثر له نولسمې پېړۍ راهیسې، پښتو چاپي آثار، ۵۷ مخ.

(۵۶) اثر عبدالحلیم: تېر هېر شاعران، پښتو اکیډمي، پېښور،
۱۹۶۳ ع، ۳۴-۴۰ مخونه.

(۵۷) د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه، ۲۳۸-۲۴۰ مخونه.

(۵۸) د پښتو د نثر تاریخ، ۲۰۸-۲۰۹ مخونه.

(۵۹) هیواد مل، زلمی: د پښتو ادبي تاریخ خطي منابع، پښتو ټولنه
کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ هـ ش، ۱۴۸۹ مخونه.

(٦٠) زهیر، پوهاند دوکتور عبدالرزاق: دپښتونش زر کلن تاریخ، ۱۳۴۸ هـ ش، ۲۴-۲۰۵ مخونه.

(٦١) زمریالی، امین الله: دپښتو پر ادبیاتو یوه کتنه، کابل کالنی، ۱۳۱۸ هـ ش
کال، عمومي مطبعه، ۳۳ مخ.

(٦٢) حبیبي، پوهاند عبدالحی: دپټې خزانې د دریم چاپ مقدمه، کابل،
دولتي مطبعه، ۱۳۵۴ هـ ش کال، ۲ - ٤ مخونه.

(٦٣) فرهنگ، میر محمد صدیق: افغانستان در پنج قرن آخر، لومړی ټوک، پېښور،
۱۳۷۳ هـ ش کال، ۵۰ مخ.

(٦٤) زیار، پوهاند دوکتور مجاور احمد: دپټې خزانې رښتینوالی د
ژبپوهنې او ادبپوهنې په رڼا کې، پلوشه، د ۱۳۵٦ هـ ش کال،
۵ گڼه، ٦ مخ.

(٦٥) هروي مایل، نجیب: تاریخ و زبان در افغانستان، تهران، دویم چاپ،
۱۳۷۱ هـ ش، ۹۰ - ۹۱ مخونه.

(٦٦) نجرابی، عبدالقدیر مشتری: فهرست نسخ خطی پشتوی آرشیف ملی افغانستان
کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۵ هـ ش کال، ۵ - ٦ مخونه.

(٦٧) خلاند، ابوالخیر: دکسي لمر، خادم پریس لاهور، ۱۹۹۵ ع کال
۱۷۳-۱۸۰ مخونه.

(٦٨) کاکړ، پوهاند محمد حسن: افغان، افغانستان وافغانها...، وفا، پېښور، ۱٦ - ۲٦ مخونه.

(٦٩) یزدانی، حسین علی: پژوهشی در تاریخ هزاره ها، چاپ دوم، چاپخانه قم،
۱۳۷۲ هـ ش کال، ۲٦۱-۲٦۵ مخونه.

(٧٠) مومند، عبدالحمید: دیوان، پښتو ادبي مرکز سرای نورنگ،
جدون پرس، پېښور، ۱۹۹۱ ع کال، ۱۰۸ مخ.

(٧١) رشاد، پوهاند عبدالشکور: زاخېل، د راحت یاد، زلمیا هیواد مل په زیار،

کابل پوهنتون، ۱۳۶۳ هش کال، ۲۵٤مخ .
(۷۲) همام، پوهاند سید سلطانشاه: سخن اندر شرح دردهای خراسانیان، پیښاور، ۱۳۷۰ هش، ۲۶ - ۳۵ مخونه .
(۷۳) خلیل، همیش: نتول پارسنگ، فرهنگ جهاد، جدون پرنتنگ پریس، ۱۹۹۲ع کال، پینځور، ۵۰ - ۵۳ مخونه .
(۷٤) الهام، پوهاند دوکتور محمد رحیم: محمدهوتک او محمد یوشاعر دی که بیل کسان دی؟ د نانوانا یا د، دخوشحال فرهنګي ټولنه، دمحمداسمعیل یون په زیار، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰ هش کال، ۳٤ - ٤۲ مخونه.
(۷۵) پوهاند میرحسین شاه: روش تذکره نگاری در پټه خزانه، د محمدهوتک یاد، د زلمي هیواد مل په زیار، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲ هش کال، ۱۰۵ - ۱۰٦ مخونه .
(۷٦) خپل، هارون: آفریده های جهور علامه حبیبي، دافغانستان دعلوموا کاډیمی، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۷ هش کال، ۱۹مخ .
(۷۷) روهي، کاندید اکاډمیسین محمدصدیق روهي: دپښتو دادبي تاریخ دوري څنګه تاکل کېدای شي؟ دادبي تاریخ میتودولوژي، دزلمي هیوادمل په زیار، پښتو ټولنه، کابل ګوندي مطبعه، ۱۳٦۷هش ۱٤-۳۷مخونه .

«۱»

# زموږ په فرهنګي غناکې د شفاهي ادبیاتو ونډه

د پښتني فرهنګ هغه څېړونکي چې د پښتو د شفاهي ادبیاتو او فولکلور زېرمې ورمعلومې دي، هغوی ټول په دې باوري دي چې پښتو د فولکلور او شفاهي آثارو له پلوه ډېره بډایه او غني ژبه ده. ددې ژبې شفاهي آثار د خپلې تنوع، کیفیت او کمیت له پلوه د مجاورو زیاتو ژبو له فولکلوره څخه خاص امتیاز ورلري او د سیمې زیاتې ژبې له پښتو سره په دې ساحه کې سیالی نشي کولی.

خو ددې یادونې ترڅنګه باید دا خبره هم هېره نه کړو چې که له یوې خوا موږ د خپل فرهنګي بډاینې د ځرګندولو لپاره پر خپلو شفاهي آثارو نازېږو، نو له بلې خوا باید دا هم ومنو چې زموږ اجتماعي ونډه لا هماغسې د مېږي په پل روانه ده او زموږ په ټولنه کې د بېسوادو یو لوی لښکر اوس هم موجود دی او دا څنګه چې بېرته پاتې ټولنو او له سواده محرومو ټولنو کې فولکلور

او شفاهي آثار د پيدا ښت او پايښت زميني ډېرې لرې . له بناري ژوند او د نوي تمدن له اثراتو ډېر و لېرې پاتې شوي خلکو کې دا ډول آثار را پيدا کېږي ، خوندي کېږي او تر يوه وخته پاتې کېږي .

دا ډول آثار زموږ د ژبې مال دی او د خپلې فرهنګي عنا دشوت لپاره حساب پرې کوو او خلکو ته دا ښيو چې زموږ د کليوالو ټولنو خلک که بېسواده هم دي اما له هنر سره مينه لري ، د خلکو ځانګړي اجتماعي مسايل او پېښو ، ځان او جهان ته په پام ب فکر کولای شي چې زموږ د غه شفاهي آثار بايد د صمد غو کليوالو له تمدنه لېرې او له سواده بې برخې خلکو د هنري ذوق او فکري انديښو يوه هنداره ده

موږ چې کله د پښتو ادبي تاريخ ليکو، نو اړ کېږو چې پرخپلو ليکنيو ادبياتو د بحث او څېړو په ترڅ کې خپل فولکلور هم هېر نه کړو او د شفاهي ادبياتو ټول هغه توکي چې په نظم دي او که په نثر په دې ادبي تاريخ کې ارزيابي کړو او پر ارزښتونو يې خبرې وکړو :

د غه ډول که څوک د نظم او نثر تاريخونه په ځانګړي ډول ليکي ، نو هغوی ته هم دا مسأله ورد مخه ده چې په خپلو تاريخونو کې شفاهي ادبيات هېر نه کړي او خپلو ادبي آثارو د مبداء او پيدا د ليکنيو ادبياتو د سرچينې او زموږ د کليوالي فرهنګ د ښکارندوی په ډول يې پر هنري او فکري خوا و خبرې وکړي .

اوس چې ما د لوی خدای (ج) په مرسته د پښتو نثر د تاريخ ليکلو

ټکل کړی دی نو نه هم ځان اړ احساسوم چې د پښتو د لیکلی نثر د پیدا کېدو، لوېېدو او بنه ټکل له دورو او پړاوونو د مخنه د دې تاریخ د لومړي څپرکي په توګه د پښتو شفاهي آثارو هغه توکي چې په نثر دي له خپلې وسې سره سم مطالعه کړم.

د پښتو نثر د تاریخي مسیر د څېړنې کوم آثار یا تذکرې د وله د نثر تاریخونه چې کښل شوي دي په هغو زیاترو کې د هغو شفاهي منثورو آثارو ته چا توجه نه ده کړې او که په یو نیم کې یې څېړنې توکي بلکه متلونه اوکیسې راغلي دي هغه هم ځانګړی بحث نه لري بلکه د دوره بندیو په کالب کې یې د یو مشخص ادبي دورې په توګه کې څېړلي دی. (۱۰)

د ځینې مشخصو دورو په توګه کې د شفاهي آثارو مطالعه لوستونکي په دې باوري کوي، چې ګوندې څېړونکي ته د غو آثارو د ایجاد او پیدا ایښت وخت معلوم دی، ځکه که معلوم نه وای نو بیا یې ولې د دوره بندیو په کالب کې ځایول، حال دا چې د فوکلور یا شفاهي ادبیاتو د ایجاد د وختونه اکثر نامعلوم دي کله چې د غو آثارو ته تاریخي ارزښت ورکړل شي نو بیا یې فوکلوري ارزښت ته زیان رسېږي.

د پښتو کوم شفاهي آثار چې فوکلوري ارزښت لري په هغو کې د نظم د بېلا بېلو ژانرونو تر څنګه ځینې داسې ژانرونه او یا توکي هم شته چې نظم نه دي او پښتو ادبي څېړونکو او فوکلور پوهانو د اولسي نثر و او یا منثورو شفاهي ادبیاتو په نامه را بښولي دي.

دپښتو منثور شفاهي آثار په عمومي توګه په لاندې اولسي
ژانرونو کې ميندل کېږي :

(۱) حکايات او داستانونه (۲) متلونه ، کيسې.

د منثورو شفاهي آثارو د دغه تصنيف په ارتباط زه دوې
ځانګړې يادونې لرم ، چې هغه دا دي :

((الف)): متلونه او کيسې منظومې هم شته . ((ب)) : د پښتو د
شفاهي ادبياتو د تصنيف آثارو کې د اولسي نثرونو تر سرليک
لاندې د شفاهي نثرونو ژانرونه ډېر منل شوي دي (۲)
څوک لږ څه ځېړنه په دغو کتابونو کې داخلي اصناف ځينې
شکلي اړخ ثبت نه لري، بلکه يو مصنوعي ډول دی، چې ديو ځانګړي
فورم په توګه يې سره نشي منلای او ځينې ثبيني توکونه يې
د اولسي نثرونو د انواعو په ډول يادکړي دي لکه :
اصطلاحات ، تکيه کلامونه ، مشابهات او نور چې هغه په
ژبپوهنه کې د مطالعې ځای لري او په اولسي نثرونو کې د
يو ځانګړي ژانر په حيث نشي مطرح کېدای. زما په پوهه
شفاهي نثرونه مونږ په هغو ژانرونو کې موندلای شو چې
مالوړ يا دکړل او په دې بحث کې پرې په دې ډول خبرې کوم.

## ۱- داستاني او حکايتي نثرونه :

د پښتو په شفاهي منثورو آثارو
کې داستاني ژانر تر ټولو مهم دی او د پښتو د شفاهي
ادبياتو غنيمت ذخيره يې پکې پرته ده .

دا ډول داستانونه د نړۍ په ډېرو قومونو او ژبو کې شته او

تاریخ یې هم ډېر زوړ ښکاري.

د داستاني آثارو د تحقیق په یو کتاب کې راغلي دي:

« د قصو ویلو او اورېدلو شوق د هغه وخت نه سر لګوي د کله نه چې بنیادم د خبرو کولو چل زده کړی دی ...»(۳)

موږ په خپل فوکلور کې دا ډول کیسې او داستاني منثور آثار ډېر لرو، د غسې چې دا ډول کیسې په نورو اولسونو کې زړې دي او نخښې نښانې یې تر ډېرو زمانو ترسي. زموږ د ثبت شویو او موجودو شفاهي کیسو او داستانونو له مطالعې نه هم سړی تر یوه حده دا څرګندولای شي چې پښتنو هم له لرغونو زمانو دا ډول کیسې درلودې چې نسل په نسل به یې سینه په سینه سره لېږدولې دي.

د کیسو د تحقیق په هماغه لړ یا د شوي کتاب کې په پښتو کې د داستان په باب لیکي: « د داستان سر په پښتو کې د دولسمې صدۍ هجري سره سم لګېږي »(٤) مناغلي لیکوال دا خبره ډېره عامه کړې ده. که څېرې موږ د هم دغه کتاب هغه لومړۍ خبره منو چې ویلي یې دي د قصو ویلو او اورېدلو شوق له انسان سره د خبرو کولو له وخته را پیدا شوی دی، نو ورسره باید دا خبره هم تسلیم کړو چې له کله نه پښتو دیوې ژبې په توګه جوړه شوې ده، نو یې باید په ویونکو کې هم کیسې پیدا شوې وي. د پښتو د شفاهي داستاني آثارو دیوې غنیمت ذخیرې موجودیت موږ په دې باوري کوي چې د کیسه ویلو او اورېدلو سره مینه په پښتنو کې لرغونې ده.

له دې برسېره په لیکلیو ادبیاتو کې هم دکیسي تاریخ له دولسم قرن نه د مخنی دی. دارنزاني روښاني (۱۰۱۰ هرق حدود) په کلیاتو کې مونږ د حکایاتو نمونې موندلای شو.

دپښتو شفاهي داستاني نثرونه د خپل ساخت او جوړښت له پلوه دغه درې شکلي رغښتونه لرلای شي:

الف: اوږده تکلونه ب: منځني تکلونه او ج: وړې کیسې

پښتو تکلونه که اوږده دي او که واړه زموږ په فرهنګ کې د پېید ا کېدو دوې منشاوې سړی په نخښه کولای شي:

لومړی هغه تکلونه چې اصلي منشاءیې په هغه اولس پورې دې اړه لري او د پېړیو په اوږدو کې لرځینو اجتماعي او جنګي پېښو او ځینو میو او ورسره د دوی له روان سره سم د دوی له فکري اندیښونو را زېږولی دي، لکه فتح خان رابیا، بنادی بیبو، خشکیار او شاترینه، قطب خان او نازو، ظریف خان او مابه، طالب جان او ګلشره، شیرعالم او مامونځه مؤمن خان او شیرینو، یوسف خان او شیربانو، آدم خان او درخانۍ، دلی او شهو، موسیٰ خان او ګلمکۍ او نور په لسګونو تکلونه.

د وهم هغه تکلونه دی چې منشاءیې سړی له پښتني فرهنګ سره په پیوستون کې نشي مطالعه کولای، بلکه د نورو قومونو له فرهنګونو نه یې زموږ فرهنګ ته لاره پیدا کړې ده لکه: سیف الملوک بدری جماله(۵) بهرام او ګل اندامه (۶) شاتی حسن او نور داسې تکلونه چې زیاتره یې په دېوانو او ښاپېریانو، کوږو، جادو او دې ته ورته نورو موضوعاتو پېه محور چورلي او زموږ له فرهنګ سره هم د غه تکلونه نورو کانلیو قاموسو په عامیانه فرهنګونو کې هم شته، نو څکه

یې موږ سل په سلو کې منشاء په پښتنې ټولنې پورې نښلولای.
که څه هم د عنعنوي نکلونو له نورو اولسونو او فرهنګونو څخه زموږ د فرهنګ ته راغلي دي او پښتنو له خپل ذوق او له کیسو سره د مینې په اساس راخیستي دي خو داسې یې له خپلو کلتوري خوښتو سره سم عیار کړي دي چې وېلای شو پښتانه کړي یې دي او اوس زموږ د فرهنګ جز ګرځېدلي دي.
په دې ارتباط د پښتو نکلونو مطالعه رابښيي چې بنا یې د نورو سیمو او یا نورو فرهنګونو دا غېزمنې له امله زموږ په ټولنه کې ایجاد شوي او را پیدا شوي نکلونو کې هم تغییر و تبدیل پیښ شوي او له پښتنې ټولنې راوسپېږېدلو نکلونو کې هم له څېنو داسې وسایلو او روشونو کار اخیستل شوی وي چې د پښتنو خپل نه وو او له نورو یې راخیستل کړي وو.
د مناغلي عبد الباري جهاني په یوه لیکنه کې دا لاندې خبرې په زړه پورې دي:
« کله کله یوه کلتوري حوزه د بلې کلتوري حوزې یا حوزو تر اغیز لاندې کېږي، د همغو د نکلونو له وسایلو څخه استفاده کوي ... لکه د پښتنو په نکلونو کې چې اژدها، پېرۍ، دیب، جادوګر او خارق العاده وسایل خورا زیات لیده کېږي، په داسې حال کې چې نکلونه پوه دی نه دي، دا د دوی خپل فرهنګي میراث دی چې سینه په سینه ورته نقل شوی دي، ځکه د نکلونو پېښې او اجتماعي حالات د پښتنو د ژوند د یوې خاصې مثال یخي زماني نمایندګي کوي ....» (۲)
نکلونه که له هرې خوا په پښتنو کې پیدا شوي دي

که چې خپل وو او یایې له نورو اخیستي دي، په ټولو
پښتنو کې خواره شوي دي. د پښتنو کلیوالې سیمې کردې
دغه ډول نکلونه لري. کوم پښتو نکلونه چې له بیلابیلو
پښتني سیمو څېنو ښاغلیو ثبت کړي دي ددې پښتو ـــو
مطالعه او بیا پرتله ښیي چې نکلونو د لېږدیدو په پروسه
کې په روایاتو د اتلانو نومونو او د کردارونو په موقعیت
کې ډېر توپیرونه منلي دي، د هرې سیمې خلکو کلتوري
غوښتنو سره سم تغییرات پکې راوستي دي او حتی جغرافي
نومونه او ځایونه هم پکې بدل رابدل شوي دي.
د مثال په ډول ما په ملي هندارکې د جلات او شمایلي (۸)
نکل ولوست، د ننګرهار نکلونه نومې مجموعه کې دا نکل د
محبوبا او جلات خان په نامه ثبت دی. د نکل ادا په
په کلیت کې یوه ده، خو پېښې، ځینې نومونه او د نکل
ارکان په دواړو ثبتونو کې سکاره توپیرونه سره لري.
کوم نکل چې اروا ښاد نوري (۱۳۵۲ هـ ش ص) په ملي هنداره
کې د مرد او نامرد (۹) په نامه راوړی دی، همدغه نکل بیا ښاغلي
عابد په خپله ټوله کړې مجموعه کې د نیکي او بدي ترسرلیک
لاندې خوندي کړی دی (۱۰) خو په دواړو ثبتونو کې
چې یو د کندهار او بل د بلوچستان له پښتنو نه ثبت شوی
دی د محیطي تاثیراتو له امله پکې تغییرات پېښ دي، حتی د
نکل نوم هم په دواړو ثبتونو کې سره بېل دی، حال دا
چې حکایت یو دی.

له دې بر سیره ما چې پخپله سیمه کې د نیکۍ او بدۍ کوم نکل له یو ې زړې سنجۍ کا بو د پر ش کاله د مخه اوریدلی و ، محتوی یې له دواړو شپتونو بیله ده . پنځه ویشت - دیرش کاله د مخه ما دلغمان د بارکزو د کلي د یو محلي سندرغاړي له خولې د ظریف خان او امې نکل له خپلو دیرو جالبو ساړو سره اوریدلی و ، تر صفه وخته چې ما ملي هنداره بخپې ده نه وه لوستې ، نو به مې دا انکاوه چې د ملي هنداره په دوهم توک کې راغلی دظریف خان او مائجه نکل او د ظریف خان او امې نکل . بنا یې دوه بیلا بیل نکلونه دي ، خو کله چې مې ملي هنداره ولوستله نو راته ښکاره شوه چې دا دواړه نکلونه سره یو دی ، په یو ځای کې د ظریف خان ما ېنه په نامه او په بل ځای کې د ظریف خان اومې په نامه په حلکو کې موجود دی . همدا نکل پروفیسور محمد نواز طائر د ظریف خان امې په نامه (۱۱) او بنا علی میر احمد کوربز د ظریف خان په نامه ضبط کړی دی . د دې یوه نکل دا خلو ، سره ورپانبه چې ورکتل شي نو موږ ، روایات او واقعات یکې تبدیل شوی دی او د ظریف خان د معشوقې نوم هم په دغو وریانونو کې په بیلا بیلو بڼو ضبط دی . د پروفیسور طائر په ثبت کې ښکل ناری هم نه لري . پروفیسور طایر په خپل ثبت کې د ملا نعمت الله د ظریف خان سواتی له منظومې نه ځیني بیتونه د سارو په ځای راوړي دي . د بنا علي کوربز په ثبت کې دا نکل ناري نه لري او دا ترې ښکاري چې د دې سیمې نکلچیانو

به داشاري هېري کړې وي.

ماچې دخو مجموعو دنکلونو مقايسوي کتنه وکړه نو داخبره راښته ښکاره شوچې له يوې سيمې نه بلې سيمې ته دلېږد په دې جريان کې دواحد نکل ځيني پېښې له راويانو هېرې دي او دنکل ډېرشېرتا به "لپاره يې له خپلو محيطي شرايطو سره سم خپل پېوندونه پکې ور زيات کړي دي.

نکلونه پښتانه معمولاً په وزګار وخت کې دوخت دتېرولو لپاره اوري. اما زموږ ځيني ليکوال بيا له دې ډول خبرو سره مخالف دي. د مثال په ډول ما: په يوه مقاله کې ولوستل: «ددې مقالې په وسيله به له يوې خوا داخبره له مغزو ووځي چې دملي هنداري نکلونه دژمي داوږدو سړو شپو دلنډولو وسيله بلل کېږي ... دخلکو دساعت تېرئ وسيله ده»(۱۲)

زما په فکر هر په کلي کې اوسېدلی پښتون به داخبره ومني چې کليوال پښتانه نکلونه دوخت دتېرولو او ساعتېرۍ په منظور اوري. د نکلونو له اورېدو له هغوی سره کومه بله ګټه نه وي متصوره. داچې دا نکلونه د پښتنو دفرهنګي ځېړنو په بېلا بېلو اړخونو کې څومره ګټور دي او يا داجتماعي ځېړنو لپاره څومره مواد وړاندې کوي، داخو نو د هغه چاکار دی، چې هغه نکلونه اساسًا دوخت دتېرولو لپاره نه اوري او نه يې لولي، بلکه هغوی يې دخپلو ځېړنيزو مقاصدو په بنا مطالعه کوي. په دې باب ماته دکاندید اکادميسين روهي داخبرې ډېرې په ځای برېښي. دوی ليکلي دي:

«د فولکلوري ادب په تېره د ټکلونو عمده وظیفه تفنن او سرګرمي ده ، نه ټکلچي ، نه د ټکل اورېدونکي هیڅ یو د متولنپوهنې ، تاریخ او فلسفې په خاطر له ټکل سره مینه نه لري.»(۱۳)
ټکلونه معمولاً د ټکلچیانو زده وي او ټکلچیان دغه ټکلونه په فارغو اوقاتو معمولاً د شپې له خوا خلکو ته اوروي .

کاندید اکادمیسین محمد انور نومیالی په خپله رساله پښتو ادبیاتو کې د ټکلچیانو په ارتباط کښلي دي : « په کلیو او بانډو کې ځینې شاعر مشربه او خوږ ژبي کسان هم راپیدا کېږي چې هغه دا ټکلونه په ډېر ادبي سبک خلکو ته کوي . دوی خپل اورېدونکي د تېرې زمانې د خاطراتو په باب هیجان راولي او د ټکل ماجرا د ژوندیو احساساتو په هنداره کې وربانده وښيي . دغه کسان زیاتره ټکلچیان بلل کېږي . هغه څوک چې ټکلچي ته د ټکل په وخت کې منه - منه وایي هغه ته د ټکل شانه وایي ...» (۱٤)

دا ټکلچیان به له قدیمه د پښتنو په سیمو کې وو او د دغه اولس خلک به یې د دغو حکایاتو د اورولو له لیارې معروف ساتل . د پښتنو په کلیو او بانډو کې د ټکلچیانو د شتهوالي یو پخوانی روایت د مونټ ستوارت الفنسټون (۱۷۷۹-۱۸۵۹ع) دی . ده لیکلي دي : « له دوړه نه وروسته دوی کښیني او چلم څکوي او یا د قصې او بدلو ویلو د پاره یوه د ایرو جوړوي بو د اکان لوی قصه ویونکي دي ، د دوی قصې د پاچاهیانو او وزیرانو ، د پیریانو او ښاپیریانو دي . خو ډېرې یې د مینې او د جنګ په باب دي . دغه قصې له غزلو او ناروسره

کېږي شوي وي او ان د غیرت په ټکي ختمېږي. پښتانه
له قصو او غزلو څخه د پرخوند اخلي، څه وخت چې یو قصه
ویله کېږي دوی ټول چوپ ناست وي. د مخې په پای کې
ټول د ستاینې نارې وهي: ای شاباس ....» (۱۵)

له دغو شاعر مشربه ذوقیانو (چې یې ټکلچیان بولي) سربېره
ځینې په اوسنۍ اصطلاح سندرغاړي، په پخوانۍ اصطلاح
مطربان او قوالان هم د دې ټکلونو اورونکي دي. صدرخان
خټک د ادم خان درخانۍ په تمهیدي برخه کې دې خبرې
ته داسې اشاره لري:

داقصه له مطربانو　　یاله نورو قصه خوانو
په بل شان ومونډ ترکیبي　　له تا به شان معلومیږي (۱۶)

له دې لوړو بیتونو ښکاري چې مطربانو به هم دا ټکلونه
په خاصو مراسمو کې خلکو ته اورول.

ترشل پنځه ویشت کاله د مخه زماني پورې ماته د
سندرغاړو یوه کوچنۍ ډله ښکاره وه، چې دې کسه وو
دوی د لغمان د بار کنړ او کټجون د کلیو وو او د موسیقي
آلات یې هم غږول او د خلکو د خوښۍ په مراسمو کې به یې
کږون کاوه. د غو سندرغاړو کې یو تن د پښتو ټکلونو زده
وو او دا ټکلونه یې به د پرخوند کول، کله به یې چې ټکل وایه
ټول مجلس به ورته غوږ-غوږ و. ما خپله د ظریف خان او میه
آدم خان درخانۍ ټکلونه ترې اورېدلي دي. کله به چې دې یو
تن ټکل وایه نورسان به غلي و، خو چې کله به د ناری وخت راغی

نو به یې ناره له سان سره ناستو کسانو ته اوروله .

له ټکلچیانو او سندرغاړو سربېره په ځینو سیمو کې زړې ښځې هم د دې ټکلونو اورونکې وې ، د ژمي په شپو کې د نغري غاړې ته د کلیو خلکو ته دا ټکلونه ویل .

ځینې ټکلونه په خپل منځ کې ځینې منظومې هم لري چې په فوکلور پېژندونکو کې په ناوو او غزونو مشهورې دي . په ټکلونو کې د دغو ناوو د موجودیت له امله ځینې فوکلورپېژندونکي دا عقیده څرګندوي چې دا ټکلونه به په اول کې منظوم ایجاد شوي وي چې د زماني په تېرېدو سره به یې دا منظوم اشکال له منځه تللي وي (۱۷) . دا وړې منظومې قطعې چې اوس د ناوو په نامه پاتې دي دا د منظومې بېلې بولګې دي

خو د لته باید دا خبره هم هېره نه کړو چې کومې دا ډول ناوې چې اوس موږ په شفاهي منثورو ټکلونو کې ګورو په ځینو لیکلو منظومو قصو کې هم شته ، لکه د جلات خان او محبوبا قصه چې په ۱۱۸۸ هق کال محمد اعظم کودېزي نظم کړې ده . په دې قصه کې هم ، شاعر د داوړو بیانونو په منځ ـ منځ کې دا ناوې هم خوندي کړي دي . (۱۸) خو د دې منظومو قصو په باب البته دا استدلال هم کېدای شي چې د دغو قصو مأخذ دغه شفاهي ټکلونه دي چې په منثور شکل په اولس کې خواره دي . (۱) د دې ټکلونو منظوم شفاهي اشکال تر اوسه چا نه دي ثبت کړي ( د اولسي معلومو شاعرانو دغسې منظومې په دې کتاب کې نه راځي ) نو ځکه سل په سلو کې به دا نظر په

د منلو وړ نه وي چې که موږ ووايو چې د نکلونو ابتدايي اشکال به منظوم وو؟ په هر صورت دا خبره له امکانه لرې نه ده چې دا نارې دې د دغو منثورو شفاهي نکلونو په منځ کې مستقل هويت ولري او د نکل د لاخوندورتوب لپاره د نکل د ايجاد په وخت کې دا نارې منظومې ورسره ايجاد شوې وي.

دا نارې چې کله نکلچيان او يا سندرغاړي د نکل په هغو ټاکليو ځايونو کې وايي، نو د نارې تر ويلو د مخه د نکل شاته په نکلچي غږ کوي او ورته وايي، چې نو غږېږه يې ويلي وي؟ نکلچي ورته وايي چې څه يې ويلي وي او س به يې واورئ (١٩)

په پښتو نکلونو کې د داستاني عنصر يا داستاني خصوصيت په باب هم زموږ مشرانو څه نه څه خبرې کړې دي. زموږ يو ښاغلي مشر ليکوال کنبلي دي: «د پښتو شفاهي کيسې اکثراً داسې جوړې شوې دي چې کله يې سړی اورې يا يې لولي نو د کيسه ليکنې په فن پلد سړی پوهېږي چې په هغو کې د داستان ليکنې د فن اصول مراعات شوي دي. دا اصول په شعوري ډول په دغو کيسو کې نه دي ځای کړل شوي، بلکه اولسي تخليق هر ځای دغسې کمالات لري» (٢٠)

په دې ارتباط زه يوه خبره دا هم کوم چې کابلي شفاهي نکلونه د شرقي فرهنګ د روايتي حکايت د منلو عنعنو له پښتنو سره برابر جوړ شوي دي، دا نکلونه له خپلو شرايطو سره سم داستاني عنصر هم لري او د فن مدځې د داستان ليکنې

په اصولو د عقو تلل زمانه فکر اضافي برېښي .

پښتو ټکلونه د دغو او سنيو معيارونو له را پيدا کېږي و نه په سرونه کلونه پخوا ايجاد شوي دي . مونږ بايد دا ټکلونه په خيل چې کله چې اروپايي کړو ، نه دا وسنيو په غرب کې د وضع شويو اصولو په بنا . تر ټولو عمده خبره چې د ټکلونو په برخه کې د سمې توجه وړ ده وي ، هغه د ټکلونو موضوعي ځانګړنې دي .

زموږ په هاند لکه په هاند رښتين دا ټکلونه عشقي او جنګي شعرونه(۲۱) غالباً د ده په پېروعه پروفيسور سيال کاکړ هم پښتو ټکلونه په رزمي او بزمي برخو ويشلي دي(۲۲) چې ښکاره دا ستا د رښتين له تصنيف سره يوشي ښکاري .

اما که چېرې مونږ موجود ثبت شوي ټکلونه له نظره تېر کړي وي او هغه مو لوستي وي ، نو بيا را ته ښکاري چې زموږ د ټکلونو موضوعات رنګين دي يوازې عشقي او د دوی په اصطلاح رزمي يا جنګي نه دي .

زما په فکر په عام ډول مونږ په دې ټکلونو کې لاندې موضوعي ځانګړنې په ځغښنه کولای شو :

حماسه : که په پښتو ادب کې مونږ د تمام عيارو حماسو لټون کړو ، نو د پښتو پخوانۍ حماسې مونږ په دغو ټکلونو کې پيدا کولای شو . که څه هم پښتو ليکلي ادب په نظم او نثر کې حماسې لري ، خو دا حماسې له دوه لسمې پېړۍ لرغونې نه دي . که چېرې مونږ د حماسې تعريف ته په پاملرنه ځيل

پښتو ټکلونه له نظره تېر کړو نو د فتح خان او رابیا ، موسیٰ خان او ولي جان او آدم خان درخانۍ ټکلونه په ټوله معنا حماسي دي.

زموږ په څېړونکو کې کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي په خپله یوه مقاله کې (۲۳) د حماسي جوړښت او رغښت ته په پاملرنه دفتح خان او رابیا او آدم خان- درخانۍ ټکلونه حماسي بللي دي . او د استاد سرمحقق دوست شینواري (۱۳۷۲ هـ ش مې) چې په خپل اثر د پښتو اولسي ادب لارې کې ورېر دمخه هم دغه دوه ټکلونه حماسي ګڼلي دي (۲٤). کاندید اکاډمیسین عطایي بیا یوازې د فتح خان او رابیا ټکل (حماسه) ښودلې ده ، (۲۵) خو زما په فکر له دغو یا دوشویو دوو ټکلونو برسېره د موسیٰ جان او ولي جان ټکل هم یوه بشپړه حماسه ده . استاد رښتین هم د موسیٰ جان او ولي جان ټکل په رزمي ټکلونو کې شمېرلی دی .

له حماسو برسېره په پښتو ټکلونو کې د مینې او عشق په موضوع ټکلونه هم زیات دي لکه : ښادي ، بیبو ، طالب جان او ګلبشره ، ظریف خان او ماېده ، دلی او شهی او نور په لسګونو ټکلونه په پښتو کې د داسې ټکلونو هم کمی نشته چې د دیوانو ښاپېریانو ، شیشکو ، روو ، جادو اوکوډو او داسې نورو ته ورته مسایلو په محور چورلي ، څو ورسره پرځینو اخلاقي او اجتماعي نتایجو بنا ټکلونه هم موږ په خپلو ټکلونو کې لرو .

## د پښتو ټکلونو منابع :

د پښتون اولس ټولې کلیوالي سیمې

د دې ټکلونو اساسي منبع دي . اوس هم په لسګونو اوږده او

واړه ټکلونه د ذوقمنو شخو او تاریخدوو، حرفه یي ټکلچیانو او سندرغاړو په حافظو کې محفوظ دي. د دې ټکلونو یوه برخه د پښتني فوکلور خواخوږو او د شفاهي ادبیاتو مینه والو یا د ځیل ذوق یا هم د مینې او یا هم د رسمي مکلفیت او کله هم د حق الزحمې او یا ... په منظور راټوله کړې ده. دا کارونه که په هر نیت تر سره شوي دي فایده یې زموږ فرهنګ ته دا شوه چې زموږ د شفاهي ادبیاتو یوه غنیمت برخه یې خوندي کړه. دا چې دا ښتونه څومره ځیل هغه اصل ته چې په اولس کې د بې بېسوادو کلیوال په حافظه کې محفوظ دی، نږدې والی ښیي او څومره زموږ ټکل ټولوونکو پکې تصرف کړی دی؟ دا بېله خبره ده چې دلته پرې بحث لازم نه ایسي، خو کوم مباغلیو چې په دې ساحه کې کارونه کړي دي او دا ټکلونه یې خوندي کړي دا لاندې کسان دي:

(۱) اروا ښاد محمد ګل نوری (۱۳۲۰-۱۳۹۳ هـ ق) د ټکل ټولوونکو سرلاری دی. که څه هم ده په داسې وخت کې دا ټکلونه ټول کړي چې په افغانستان کې د فوکلور ټولونې اصول نه وو مروج او ده چې د ځیل ذوق او بصیرت له مخې په کومه شیوه دا ټکلونه ضبط او خوندي کړل کار یې هم د کمیت او هم د کیفیت او ځینو تخنیکي او علمي ارزښتونو له مخې تر اوسه بې جوړې کار دی. د دې ساحې ټولو هغو کسانو کار ونه ورسره سیالي نشي کولی چې د فوکلور د ثبتونو په میتودونو د پوهېدو دعوې لري. ده ډکندهار له سیمو پښتو ټکلونه ثبت کړي او د ملي هنداره، په درېیو

ټوکونو کې یې چاپ کړي دي. د ملي هنداره لومړی ټوک په ۱۳۱۸ هـ ش کال، دوهم ټوک په ۱۳۲۵ هـ ش کال او دریم ټوک یې د مړک په کال (۱۳۵۲ هـ ش کال) چاپ شوی دی.

(۲) عابدشاه عابد: ده د بلوچستان له پښتنو څخه د پښتو ځو نکلونه را ټول کړي دی او داولسي نکلونو په نامه یې د کوټې پښتو اکیډیمۍ له خوا په ۱۹۷۲ع کال چاپ کړي دي.

(۳) پروفیسور ولي محمدخان سیال کاکړ: د ده له خوا را ټول شوي نکلونه چې د لوړانو او کوچنیانو په نکلونو یې ویشلي دي، د «پښتو نکلونه» په نامه په ۱۹۷۷ع کال د کوټې پښتو اکیډیمۍ له خوا چاپ شوي دی.

(٤) عبدالکریم پتنګ: خپله یې له خلکو څخه نکلونه را ټول کړي چې یوه برخه یې په ۱۳۵۷ هـ ش کال د کډنۍ ادب په لومړي ټوک کې چاپ شوې ده او بله برخه یې د دې مجموعې په دوهم ټوک کې خوندي ده چې تر اوسه لانه ده چاپ شوې.

(۵) معاون سرمحقق نورالله ولسپال: ښاغلي نورالله ولسپال له څو کلونو راهیسې د خپلې سیمې د نکلونو په را ټولولو اخته و. ده خپل ټول کړي نکلونه ځینې په زړه پورې او ځینو نورو مطبوعاتو کې چاپ کړي هم دي. په ۱۳۷۰ هـ ش کال دهٔ د خپلو ټولو کړیو نکلونو مجموعه جوړه کړه او د افغانستان د علومو اکاډیمۍ ته یې وسپارله.

(٦) سرمحقق علي محمد منګل: ده د فولکلور د بېلا بېلو ژانرونو د ټولولو په لړ کې د نکلونو ضبط ته هم توجه کړې ده

او د آدم درخانه نکل یې د متلو له تکلچیانو ثبت کړي او په کتابي شکل یې چاپ ته آماده کړي دي .

(۷) محقق میراحمد گوربز : ښاغلی گوربز له ۱۳۵۹ هـ ش کال نه د خپلې سیمې د پښتو نکلونو د ټولولو خواته توجه کړې ده . ده له خپلې سیمې ښایسته زیات نکلونه را ټول کړي دي او (دگوربزو نکلونه ) تر عنوان لاندې یې په دوو ټوکونو کې سره اوډلي دي. لومړی ټوک یې په ۱۳۶۸ هـ ش کال او دوهم ټوک یې په ۱۳۷۰ هـ ش کال په کابل کې د افغانستان دعلومو اکاډیمۍ له خوا خپاره شوي دي .

(۸) محقق گل محمد خاورې: دې میرمنې د ننگرهار نکلونه « په نامه یوه مجموعه تهیه کړې ده او د دې سیمې ثبت کړي څو نکلونه یې پکې خوندي کړي دي . دا مجموعه په ۱۳۶۸ هـ ش کال د افغانستان دعلومو اکاډیمۍ له خوا چاپ ده. دې ویلي دي چې دیوې بلې مجموعې په حوصله نور نکلونه هم ورسره شته .

(۹) نورشاه جهان انور: د پېښور د پښتو اکیډیمۍ په خطي کتابونو کې د آدم خان د رخانۍ د نکل یو ثبت پر وت دی چې نوموړي پروفیسور انور د ختکو په لهجه د کرک د سیمې له ختکو پښتنو نه ثبت کړی دی. د پښتونخوا په سیمو کې د پروفیسور محمد نوازخان طایر د فوکلور ټولونې او فوکلور څېړنې په کارونو کې د نکلونو خواته هم توجه لیدل کېږي .

ښاغلي څېنې نور ښاغلي هم وې چې د پښتو شفاهي ادب دې برخې ته متوجه شوي وي او نکلونه دې یې خوندي کړي وي

خو ماته سملاسی نه دي معلوم.

د دغو لوړو یا دو شویو ښاغلیو کارونه دستاینې او منني وړ دي، داچې د ځینو په ثبت او د نکل په ثبه کې ځینې نیمګړتیاوې شته، په هغو بحث د دې خبرې کار نه دی، دلته زما هدف دا دی چې زه د دې اثر لوستونکو ته وښیم چې موږ په پښتو کې د شفاهي نثرونو یوه غنیمت زېرمه لرو چې یوه برخه یې زموږ ځینو خواخوږو له امحاء ګټورې ده.

## نکلونه په څه درد لګي؟ :

زه یو ځل بیا دا خبره په صراحت کوم چې زموږ کلیوال خلک له نکلونو نه د وخت تېرولو دیوې وسیلې په څېر کار اخلي، خو داچې د نکل له اورېدو د کلیوالو خلکو پر ذهن څه اثر پرېوځي، دا مسأله د کلیوال عام ذهنیت طرز فکر او فرهنګی سطحې په چوکاټ کې د مطالعې وړ ګڼل کېږي، اما که له کلیوالې جامعې تېر شو او ښاري ټولنې ته مخ وګرځوو نو له نکلونو څخه د استفادې ساحې د ېرې وسیع دي او له دې نکلونو نه په دې لاندې برخو کې استفاده شوې او یا کېږي لکه :

(۱) نکلونه د پښتو د داستاني لیکلو ادبیاتو د منبع او مأخذ په توګه : زموږ په لیکلي ادب کې له نکلونو نه د ډېرو لیکلو منظومو کیسو د مأخذ په توګه استفاده شوې ده.

د آدم خان درخانه، دلی شهی، فتح خان رابیا، جلات محبوبا موسیٰ خان ګلمکۍ او نورو منظومو قصو اصلي مأخذ د دغو

کیسو شفاهي روایات اونکلونه دی .

(۲) له نکلونو دفلمي سناریو د لیکلو لپاره ډېره ښه استفاده کېدای شي ، لکه چې په پښتوکې دفلمي صنعت له پرمختک سره سم ځینو سناریو لیکوالو د دې نکلونو په بنیا د ځینې فلمي سناریو کانې ولیکلې .

(۳) نکلونه د پښتني فرهنګ د بېلابېلو اړخونو د زړو ریښو د لټون له پلوه د څېړنې ډېر مواد لري او نه موږ د فرهنګ د ځینو ساحو کارکوونکې له دغو موادو ښه او باوري استفاده کولای شي. فقید مو تیروس ګریګوریېج اسلانوف (۱۹۷۷ع مړ) ویلي وو چې یوازې د موسی جان او ولي جان نکل د اتنوګرافۍ یو موزیم دی . په پښتنو محققانوکې کاندید اکادمیسین محمد ابراهیم عطایي له نکلونو څخه نه موږ د کلیوالي فرهنګ د ځینو اړخونو په څېړنه کې ښه استفاده کړې ده .

له نکلونو څخه چې ورته ېرشو په شفاهي داستاني ژانرونو کې بل منثور ژانر هغه ورېږ کیسې دي چې د کلیوالو پښتنو ترمنځ خورې دي ، د نورو اوښتو په حافظو کې ثبت دي . داورې کیسې ځینې دپښتني فرهنګ زېږنده ښکارې ، ځینې د نورو قومونو سره د ارتباط له امله په پښتني فرهنګ را ننوتي دي او حتی ځینې داسې ورېږ کیسې هم شته چې دشرق د کلاسیک ادب له ځینو حکایتو اشارو څخه پښتني ټولنې ته راغلي دي ، له نورو ژبو وارد شوي ، لیکن شکل یې په پښتني چاپېریال کې د نو کاورغېږي ته ځان سپارلی او په شفاهي بڼه د پښتنو

پر خولوجاري شوې او په مغزوکې خوندي شوې دي .

داوړې کيسې چې دځينو اساس او ريښه يې د ايسپ حکيم قصو پورې او د ځينو هم په زړو سنسکريتي حکايتي آثارو پورې اړه لري عمرېې د ډېر لرغونو ښکاري او فوکلورپوهان يې هم په قدامت او زړوالي باوري دي .

داکيسې ډېرې او متنوعې دي . انګرېزي فوځي افسر S.S Thour Burn پخپل کتاب بنو يا زموږ افغاني سرحد کې د پښتو دغه وړې مردمي کيسې په درېو برخو ويشلې دي: اخلاقي کيسې ، ټوکي کيسې او دڅوېو کيسې .

که د پښتو شفاهي کيسو محتوى سړي ته معلومه وي نو له دې تصنيف نه ښه تصنيف بل سړى نشي وړاندې کولاى . اما له دې لوړو دولونو سربېره په پښتو شفاهي کيسو کې موږ ځينې د اسې کيسې هم لرو چې په متلونو او يا هم په ځينو اصطلاحاتو پورې اړه لري .

داوړې کيسې که هر دول دي او په هرې کټګورۍ پورې اړه لري، انتباهي او تربيتي پدل يې ډېر دى او ځينې انواع يې که دتفنن او سرګرمۍ لپاره هم په ځينو موارد وکې ويل کېږي . په هغوکې هم ځينې په اجتماعي کچه ښه مفاهيم نغښتي وي . لنډه داچې ددې کيسو اجتماعي او فرهنګي ارزښت ډېر لوړ دى ، داولس په منځ کې داوړې کيسې تر نورو نکلونو نه ياتې کار آمد او په ټوله پورې دي .

د پښتو په عاميانه فرهنګ کې موجودو دغو وړو کيسوته

ترهغې دمخه د ځینو ختیځپوهانو مخ وراوښتی دی.

هانري جارج راورټي په خپل پښتو گرامر (۲۶) کې درې دوله وړې کیسې ضبط کړې دي، لکه نقل دملک د دامیسره نقل دانایه او طبیب او نقل د آفریدي او ملا.

د تابرن دکار په دې برخه کې د یادونې او ډېر منني وړ دی. ده دارا ټولې کړې وړې قصې په انگرېزي ترجمه کړي او بیا یې صنف بندي کړې دي.(۲۷) اول ځل یې په خپل کتاب کې چې ۱۸۷۶ع کال له لندنه چاپ کړې دي.

په پښتني معاشره کې داوړې خوږې وړې کیسې له ختیځپوهانو نه سربېره ځینو خوا خوږو پښتنو هم ټولې کړې دي.

د ارواښاد عبدالله عیشي (۱۳۰۰ - ۱۳۲۳ هـق) شیرین مجلس، (خوږ قبانډار) دارواښاد محمدگل نوري خوږ بانډار (دادواړه کتابونه نه دي چاپ شوي، خطي نسخې یې د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي دي) داستاد رښتین او ښاغلي جرار ټولې کړې پښتو قصې (د ۱۳۳۱ هـش کال چاپ) د ښاغلي پتنگ فولکلوري مرغلرې (د ۱۳۵۶ هـش کال چاپ) ددې لړې ځینې نړکارونه دي.

له کوټې خپرېدونکې اولس مجلې هم کله کله داډول وړې کیسې چاپ کړې دي. داکیسې زیاتره ښاغلي فاروق شاه سمایلزي ټولې کړې دي چې ځینې نمونې یې پروفیسور صاحبزاده حمیدالله په خپل اثر (نغوره ادب) کې راخیستي دي.

د پېښور د پښتو اکېډیمۍ نشراتي ارگان پښتو مجلې هم د اویایمو کلونو په اوا خرو کې او همدارنگه د اتیایمو کلونو په جریان

کې په خپلو پاڼو کې د دې ډول کیسو چاپېدګانې ورکړې دي.

په متلونو او اصطلاحاتو پورې مربوطې کیسې چې په پښتو کې مروجې دي، دا کیسې هم ځینو ښاغلیو راټولې کړې دي، لکه:
د متلونو قصې، چې ښاغلي ابو الخیر ځلاند راټولې کړې دي او په ۱۹۷۵ع کال په کوټه کې چاپ دي. د [illegible] قصې ښاغلي نصرالله نصرتي هم راټولې کړې دي او د زړې پېړۍ الفونو د ۱۳۵۷ هـ ش کال په کندهار کې چاپ دي.
د ښاغلي موسی خان شینواري ټولې کړې د متلونو قصې چې په دوو ټوکونو کې په پېښور کې چاپ شوي هم د صبر ولونه دي.
ښاغلي ولي محمد ولي هم د متلونو قصې تر سرلیک لاندې یوه مجموعه جوړه کړې ده، چې په ۱۹۸۶ع کال له کوټې شوې ده.

په اصطلاحاتو پورې تړلې وړې قصې ښاغلي پښتون زوی راټولې کړې دي چې ځینې یې د شمسي سنې په حساب په پنځوسو کلونو کې ورځپاڼو مجلې خپرې کړې دي او تیاره کړې مجموعه هم له دوی سره ده.

کوم کار چې په دې ساحه کې شوی دی، مرحله دی چې غنیمت دی، خو کافي ځکه نه دی چې زموږ په ټولنه کې په سلګونو د غه ډول کیسې لا تر اوسه شته. زما په عقیده لازمه بریښي چې د غه کر دې کیسې د امکان تر حده اول راټولې شي او بیا یې د منشاء لټون وشي چې کومې د پښتني فرهنګ زېږنده ګۍ او کومې له نورو لارو څخه زموږ فرهنګ خپلې کړې دي.

کاندید اکادمیسین روهي پخپل اثر فولکلور پېژندنه کې په شفاهي منثورو داستاني ژانرونو کې د اولسي ډرامې یادونه هم کړې ده. دا ډرامې د اولسي هنر په زړه پورې نمونې دي.

ماخيله ددې ډول اولسي هنرونو ننداره کېږي ده . کومه تشريح چې استاد نوموړي ددې ډرامو په باب ورکړې ده دغسې ډرامې موږ دافغانستان په شرقي سيموکې هم درلودې ، دېرش، پنځه‌دېرش کاله دمخه به دځينو سندرغاړو په ډله کې يوخاص دغسې ډلې وچې ځينې طنزي او ټوکې ډوله پارچې به يې په ميدان تمثيلولې.

کومې پارچې چې به په دې اولسي ننداروکې تمثيلېدلې ځينې به يې منظومې اوځينې به يې منثورې وې . له دغو مخصوص اولسي ننداروسربېره دکليوالو ښځو لهخوا هم دغسې تمثيلي پارچې اجراء کېدې، چې زياتره منظومې وي .

د ننداريزو هغو کومې منثورې پارچې چې اورېدل شوې دي ، کلهکله د طنز او ټوکو په جامه کې ځينې د پرحاد ورځني اجتماعي مسايل رانغاړي ، فساد ، بې عدالتۍ او ورځنيو اجتماعي ناوړو ټکوته نيسي .

له دغو لوړ و يادو شويو اصنافو سربېره موږ دشفاهي نثر ځينې نور ژانرونه هم لروچې په هغوکې متلونه اوکيسې شاملېږي داد وه ژانره داسې دي چې منظومه برخه هم لري .

متلونه هغه پخې او په ټول تللي خبرې دي چې په يوه لنډه جمله کې ډېرعمق مفاهيم رانغاړي ، دبيان رسايي او سپېڅلتيا هم لري .

د پښتو متلونو مطالعه د پښتنو د فرهنگ دځينو اړخونو څېړونکو ته ډېره په زړه پورې ايسي. هسې خود پښتني فولکلور ټول اړخونه دغه خواص لري او د ډېرو فولکلوري

پدیدو له ژورې مطالعې مونږ کولای شوی د پښتنو د اجتماعي ژوند
قبیله يي مناسباتو، طرز فکر او انګېرنو یو انځور وباسو، خو
د نورو فولکلوري پدیدو تر څنګه متلونه بیا په دې برخه کې ځینې
ځانګړي امتیازي خصوصیات لري او د پښتنو د اندود او ژوند
د فلسفې څه داسې برخې پکې شته چې د پښتنو د اجتماعي
او فکري تاریخ په څېړنو کې د اول لاس موادو ارزښت لرلای
شي. زمونږ فرهنګي څېړنکي د خپلو تېرو سونو د بشپړتیا لپاره
زیاتره په دویم او دریم لاس لیکلیو موادو پسې ګرځي او د خپلو اول
لاس شفاهي او فولکلوري موادو ته توجه نه لري. پښتو متلونه که له یوې
خوا د پښتنو د اجتماعي ژوندانه په څېړنه کې ډېر ارزښت لري،
نو له بلې خوا د پښتو د نظم و نثر په څېړلو کې يې هم مونږ نشو هېرولای
ځکه د پښتو شفاهي نثر یوه برخه ددې متلونو په لنډو لنډو
جملو کې نغښتې ده. زمونږ د پښتو متلونو ډېره برخه په افغانستان
او پښتونخوا کې ځینو ښاغلیو او یا علمي مؤسساتو راټوله کړې او
خوندي کړې ده. اما ددې لړۍ پخواني کارونه د ختیځپوهانو
له خوا تر سره شوي دي.

تاوبرن په خپل کتاب کې (بنو یا زمونږ افغاني سرحد)[۲۹] کې او
ورپسې ډارمستېټر د پښتونخوا شعرهار و بهار (د ۱۸۸۸ع کال چاپ)
کې ځنې متلونه چاپ کړي دي. په پښتونخوا کې سید احمد، مولوي
غلام محي الدین افغان (۱۳۰۰ هش مخ) او وروسته د محمد ګل نوري،
او وروسته د زمرلای، او وروسته د محمد قدیر تره کی، پروفیسور
ولي محمد خان سیال کاکړ او نورو په دې برخه کې د قدر وړ

کار ونه کړي دي .

د پښتو متلونو يوه غنيمت مجموعه پروفيسور محمد نواز طاير تدوين کړې ده ، چې د روهي متلونه په نامه په دوو ټوکونو کې د پېښور پښتو اکاډيمۍ له خوا چاپ شوې ده .

بل ځانګړې د شفاهي نثر ونو په برخه کې د ټېرېدلونه دي ، هغه کيسې دي . کيسې معمولاً د دغې ارزښت لپاره د ټټکيو، ځوانانو او ماشومانو تر منځ ويلې کېږي ، د پښتو په کليوالو سيمو کې منظومې او منثورې کيسې د ډېرې پيدا کېږي چې ځينې مرغې يې ټولې شوې هم دي .

کيسې د دغې ارزښت د يو ې وسيلې په توګه حتى اوس د ارواپوهانو د توجه وړ هم ګرځېدلي دي .

## مأخذونه :


(۱) د پښتو نثر هنداره ، ۳۷ - ٤٤ مخونه .

(۲) خاورې ، غوټۍ : پښتو شفاهي ادبيات ، پښتو ټولنه ، کابل دولتي مطبعه ، ۱۳٦٦ هـ ش ، ۱۰۷ - ۱۳۲ مخونه .

(۳ و ٤) اعظم پروفيسور محمد اعظم : پښتو افسانه ، عظيم پبليشنګ هاوس ، پېښور ، منظور عام پريس ، ۱۹۷٦ ع ، ۱۸ ، ۲٤ ، ۲۵ مخونه

(۵) خاورې ، غوټۍ : د شکرهار نکلونه ، پښتو ټولنه ، کابل دولتي مطبعه ، ۱۳٦۸ هـ ش ، ۱۵۳ - ۱۹۸ مخونه .

(٦) ګوربز ، مير احمد : د ګوربزو نکلونه ، لومړی ټوک ، پښتو ټولنه کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳٦۸ هـ ش ، ۲۷۲ - ۲۹۸ مخونه

(۷) جهاني ، عبدالباري : ملي هنداري ته نوې کتنه ، د

پښتو چاپي آثار، ۱٤۹ مخ.

(۸) نوري محمد گل : ملي هنداره لومړی ټوک، رحمن گل پبلشر

پېښور، ۱۳٤ – ۱۵۱ مخونه

(۹) ملي هنداره لومړی ټوک، ٤۵ - ۵۱ مخونه.

(۱۰) عابد عابدشاه، اولسي نکلونه، پښتو اکيډيمي کوټه، اسلاميه

پريس، ۱۹۷۲ع کال، ۷۱ – ۹۸ مخونه.

(۱۱) طاير پروفيسور محمدنوازخان : ظريف خان اوراوي، پښتو مجله،

پښتو اکيډيمي، پېښور، د ۱۹٦۹ع کال ۵ گڼه، ۲٦- ۳۰ مخونه.

(۱۲) ملي هنداره، نوي کتنه، ۱٤۷ مخ.

(۱۳) روهي، کانديد اکادميسين، محمدصديق، تقريظ د نکل هار

نکلونه، دريم مخ.

(۱٤) نو ميالی، کانديد اکاډيميسين، محمد انور : پښتو ادبيات، د امير کروړ

د زلمي هېوادمل په زيار، پښتو ټولنه، کابل، د پوهنې

او روزنې مطبعه، ۱۳٦٤ هـ ش، ٤۷۷-٤۷۹ مخونه.

(۱۵) مونټ سټوارټ الفنسټون : د کابل سلطنت بيان، لومړی ټوک، مترجمين

پوهاند دوکتور کاکړ او نصرالله سوبمن، د پښتو څېړنو بين المللي

مرکز، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۹ هـ ش، ۲٤۲ مخ.

(۱٦) خټک صدر خان : آدم درخانۍ، د پروفيسر طاير په زيار، دريمه چاپ

پښتو اکيډيمي پېښور، جدون پريس، ۱۹۸۹ع، ۱۲۳ مخ.

(۱۷) کشمالی : د شاهي ادبياتو د پېر ځانگړې څېرې، به باب ځيني متکی

وفا (جريده) د ۱۳۲۳ هـ ش کال ٤۱ - ٤۲ گڼه.

(۱۸) هېوادمل، زلمی : د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع، پښتو ټولنه،

کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ هـ ش، ۱۳۴ مخ.

(۱۹) پښتو ادبيات، د فوکلور پېژندنې د ۱۷۶ مخ په حواله.

(۲۰) عطايي کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم، د پښتو شفاهي داستان پوه تحلیلي څېړنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۷۰ هـ ش، ۱۱۵ مخ.

(۲۱) د پښتو ادب تاریخ، ۲۷ مخ.

(۲۲) کاکړ، پروفیسور ولي محمد خان: پښتو نکلونه، پښتو اکیډیمي، کوټه اسلامیه پریس، ۱۹۷۹ کال، ۲۳ مخ.

(۲۳) روهي، کاندید اکاډمیسین: د امیر کروړ او خوشحال خان حماسي شعرونو پرتله، د امیر کروړ یاد، ۶۱ مخ.

(۲۴) شینواری سرمحقق دوست: د پښتو د اولسي ادب لارې، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ هـ ش، ۴۱ مخ.

(۲۵) د پښتو پر شفاهي داستان یوه څېړنه، ۱۰۳ مخ.

(۲۶) ډاکټر هانزي جارج: پښتو گرامر، څلورم چاپ، پېښور، ۱۹۸۱ ع کال ۲۰۲ - ۲۴ مخونه.

(۲۷) ښاربرن: بنو یا زموږ افغاني سرحد، دوهم چاپ، لاهور، ۱۹۷۸ ع ۱۷۱ - ۲۲۳ مخونه.

(۲۸) روهي کاندید اکاډمیسین محمد صدیق: فوکلور پېژندنه، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۵ هـ ش، ۱۷۶ - ۱۷۹ مخونه.

(۲۹) بنو یا زموږ افغاني سرحد، ۴۱۴ - ۴۷۳ مخونه.

(۳۰) زلمی هیوادمل: د پښتو په اولسي شعرونو کې ارونه، فوکلور مجله، د ریم کال (۱۳۵۴ هـ ش) پنځمه گڼه، ۲۷ مخ.

# لومړی ادبي دوره

د پښتو لاس ته راغلیو منظومو او منثورو لیکلیو آثارو ته په پاملرنه د پښتو دادبي تاریخ لومړۍ دوره دادبپوهانو د نوي تصنیف له مخې له دوهم هجري قرنه پیلیږي او د بایزید روښان تر ظهور پورې دوام کوي. په دې دوره کې رامنځته شوي پښتو آثار دخپلو شکلي او موضوعي خصوصیاتو او دایجاد شرایطو ته په پاملرنه په څو پړاوونو کې مطالعه کېدای شي، چې د پښتو د بشپړ ادبي تاریخ سپاغلي مؤرخین به دا کار د میتود پوهنې اساساتو ته په پاملرنه سرته رسوي.

که څه هم مونږ غواړو ددخپل نظم او نثر تاریخ سره بېل لیکو، تو بیا هم اړکېږو چې دخپل ادب دا دوه اساسي برخې سره جلا-جلا خو د همدې دوره بندۍ په کالب کې وڅېړو.

د پښتو دادبي تاریخ لومړۍ دوره چې کومه تاریخي زمانه (۱۳۹ - ۱۵۰۰ هـ ق حدود) رانغاړي، په دې دوره کې پښتو له خپلو اصلي ټاټوبو د غور، د غرو او سلیمان له غرونو

څخه د تاریخي افغانستان نورو برخو او د هند نیمې وچې ته لیږد پیل کړی دی. د دوهمې او دریمې هجري پیړۍ په شاوخوا کې دې د سلیمان له غرو او غور له غرونو د اباسین غربي غاړو ته رسېدلي او مېشت شوي وو. (۱) همدا رول د سلطان محمود غزنوي (۳۸۷-۴۲۱ هـ) او سلطان شهاب الدین غوري په لښکرو کې په کافي تعداد پښتانه د هند ځمکو ته ورشیوه شول (۲) د غه زماني مقطع کې زیاترو پښتني قبیلو د خپل لیږد پراوونه بشپړ کړي دي. په غور کې مېشت پښتانه لکه غوري قبایل (۳) او ځیني متوري قبایل (٤) زیاتره د چنګیز خان (٦٢٤ هـ ق) له حملو وروسته له غوره د افغانستان نورو سیمو ته تللي دي (٥) او د خښې او غوري قبایلو د لیږد د دغه جریان بیانونه په تواریخ افاغنه او نورو آثارو کې په تفصیل سره بیان شوي دي.

په دې دوره کې پښتانه د نیمه لیږد او نیمه مېشتېدنې په حالاتو کې واقع وو، ترڅو مندې زیاتره په غیلو او د څارویو په روزنه تربیوه حد بزګري، سپاه ګري او د هند ځمکو ته د اسانو او نورو شیانو په تجارت تېرېده.

په دغه زمانه کې پښتنو ته درې ځله محلي حکمدارۍ او پادشاهۍ رسېدلې دي، لکه په غور کې د سوریانو حکمراني چې اساس یې لا تر اسلام مخکې ایښودل شوی و (٦) په ملتان کې د لودي شاهي کورنۍ حکمراني، د اکورنۍ د هجري څلورمې پیړۍ په اواخرو کې په ملتان کې قدرت ورسېده. د حکمرانۍ ساحه کې یې له ملتانه تر لغمانه پورې ځمکې شاملې وې. (۷)

همدارنګه د نهمې پېړۍ په اواسطو کې پښتانه ددې جوګه شول چې په هندوستان کې د حکومت چارې سمبال کړي. د ۸۵۰ هـ ق کال د ربیع الاول په ۱۷مه سلطان بهلول لودهي په هندوستان کې پاچاشو او د لودهیانو د سلطنت بنسټ یې کېښود.

د دې دورې فرهنګي وضع ته په پاملرنه باید ووایو چې د پښتنو قبایلو : د اسلام دین له منلو وروسته دیوې دینې ژبې په توګه د عربي نفوذ منلی و. د دري ژبې او ادب او فرهنګ اغیزې د مجاورت له امله پر دوی اوددوی پر فرهنګ ثابتې دي ، او له هند سره د روابطو د ایجاد او ټینګ ښت له امله یې د هندي فرهنګ له اغېزمنه هم سترګې نشي پټېدای.

په دې دوره کې د پښتو ادبي او فرهنګي آثار د دغسې یو اجتماعي ، اقتصادي او فرهنګي چاپېریال تر اغېز لاندې راپیدا شوي او وده یې موندلې ده.

## « ٦ »

# د پښتو نثر پيلامه

که چېرې موږ د پښتو لاس ته راغلي لرغوني آثار چې د پښتو د ادبي تاريخ په لومړنۍ دورې پورې اړه لري، له نظره تېر کړو، نو دا آثار که له يوې خوا د کميت په لحاظ لږ دي، نو له بلې خوا د نورو دورو په پرتله متفرق هم دي او په دې دورې پورې مربوط منظم آثار زياتره تر موږ نه دي را رسېدلي او يا دا چې نه دي کشف شوي.

د دې لږوالي موجب علتونه د بېشمېرل کېدای شي، خو زما په نظر د دغو دوه عامله عمده برېښي:

(١) کومه زماني مقطع چې موږ يې لومړنۍ دوره بولو، زموږ له غوره کړې تصنيف سره سم له دوهمې هجري پېړۍ نه د لسمې هغې تر اواسطو پورې دوام لري. په دې دوران کې که چېرې موږ

کې د پښتنو اجتماعي ساختار ، دوه بېلو قبیلوي چاپي ژوند،
په دوی کې د سواد خپرېدو جریان او دې عملي ته په پاملرنه
له سیمه ییزو فرهنګي جریانونو د اشنایي مسأله وڅېړو، نو دا
به را ته ښکاره شي چې په دې دوره کې به لیکلی آثار د پښتنو
کې ډېر نه وي را منځ ته شوي . البته د پښتني جامعې جوړښت
ته په پاملرنه د شفاهي آثارو ایجاد ته زمینه مساعده وه. شفاهي
ادبیات په زیاته توګه به په دا وخت په دې جامعه کې ډېر
ایجاد شوي وي چې ځینو یې د همدې مقطع په جریان کې
کتابونو ته هم لاره پیدا کړې او ځینې یې وروسته ثبت شوي
او زیاته برخه یې، لکه چې د دې اشعارو او آثارو ځانګړنه ده ،
د وخت په تېرېدو سره له منځه تللي وي ؟
(۲) کوم آثار چې په دې دوران کې لیکل شوي او یا ایجاد
شوي دي په مکمل ډول تر موږ نه دي را رسېدلي . د ځینو نو
یې د وروستیو منابعو په مرسته موږ ته لاس ته راغلي دي ، ځینې
هم نیمګړې تر لاسه شوي دي او د ځینو هم له نومونو خبر یو، خو
خپله کتابونه موږ واک کې نه دي . د دې آثارو د نه تر لاسه کېدو
څو احتماله سړی له نظره لېرې نشي ساتلای : یو احتمال دا شته
چې کېدای شي د اولې دورې د معلومو آثارو ځینې بشپړ متون ،
خوندي پاتې وي او یو وخت ښکاره شي . دا کار له توقع لرې نه دی
لکه څنګه چې معلومه ده پښتنو به خپلو آثارو پسې د دنیا ټولې
کتابخانې نه دي لټولې . اما غالب احتمال دا دی چې د دغو آثارو
کافي برخه به زمانې سره سیلیو ورسره وړې وي . څنګه چې موږ

په همدې اسلامي پنځلسو پېړيو کې د پښتنو سياسي او اجتماعي تاريخ مطالعه کړو نو د دوی په ژمکو او ورشو او ځړځايو منو او غرونو د خپلو او پردو د ډېر تاړاکونه راغلي دي او اوږدې او ممتدې خانه جنګۍ پې ليدلې دي. د غو جنګونو او لېږ د پرنو د دوی هغه لږ فرهنګي زېرمه هم خوندي نه ده پرېښې.

ځېنې کسان چې د مختلفو غير علمي د لايلوله مخې او ځينې د خاصو اغراضو له مخې زموږ په لرغونو ادبياتو شهه نيونکې لري، نو د دوی له اعتراضونو څخه به يو اعتراض دا هم وي چې د پښتو د زړو آثارو ملخذونه ولې ورک دي؟

زموږ مشرانو به د دغو خلکو په ځواب کې ويل چې اول امکان لري کړ ده دغه آثار ورک شوي او بلکه ورک هم وي داکوم ناشوني خبره نه ده ځکه موږ د پښتنو د اوسېدو ځايونو جغرافي موقعيت ترکورو نو د دوی سيمې له اوومې هجري پېړۍ نه د دوولسمې[12] تر اوسطو پورې په بېلابېلو وختونو کې د مغلو او نورو ګاونډيو حکمرانيو له خوا تر تاخت او تاراج لاندې واقع شوې دي. بيا د تيمورشاه دراني له مړينې وروسته د امير عبدالرحمان خان تر راتګه (١٢٩٦ هـ ق) چې زموږ په هيواد کې د قدرت غوښتنې کورنۍ جګړې رواني وې او په همدې دوران کې زموږ په هيواد د څو ځله انګرېزي قواوو او هم سکهانو يرغلونه وکړل، نو په دغسې يو بحراني حالت او د جنګ او مرګ ژوبلې تاخت او تاراج په حکمرواليه کې د فرهنګي زېرمو خوندي ساتل څه کرانه خبره ښکاري او زموږ ډېر آثار بنايي د دغو تاړاکونو په اثر

له منځه تللي وي.

داچې د مخالفینو به په دې استدلالونو قناعت حاصل شوې وي او کړنه؟ دا په دوی په خپل درک پورې اړه ولري، خوکه چا ته په وروستیو اوه لسو اتلسو کلونو کې (۱۳۵۷-۱۳۷۴ هـ ش) د افغانستان له روان ناورین نه را زیږېدلي حالات معلوم وي، نو په دې پوهېږي چې په دې کلونو کې د افغانستان د کلیوا و ښارونو دورانیو او بربادیو، چور، غارت او د خلکو د مهاجرتونو له امله ډېر آثار له منځه ولاړل. د کابل موزیم چور شو، د کابل پوهنتون له کتابخانې دوه نیم زره خطي نسخې یا وسوځېدې او یا غلا شوې (۸) د خطي نسخو شخصي زېرمې په کابل (۹)، کندهار او نورو ځایونو کې له مینځه ولاړې. داچې موږ د ساینس او تکنالوژۍ او د وسایلو په دې عصر کې د ازبرمه ونه ساتلی شوه، نوکه د لومړیو اسلامي سدیو آثار مو دیر دیو پر غلګرو چپاوه ونو لاسره ورېجي وي، نو دا کومه د هېښتیا خبره نه ده.

بله خبره چې زه په دې ارتباط کوم هغه داده: موږ په خپلو سترګو ولیدل چې کله په کابل کې د ثور تر کودتا وروسته د خلکو د کورونو پلټنې پیل شوې او د کودتا عاملینو د خپلې ایډیالوژۍ مخالف کتابونه نه پرېښودل او درلودونکو ته یې جزاوې ورکولې نو ډېرو خلکو د حاکم رژیم د مذاق خلاف کتابونه یا وسوځول او یا یې په ځمکه کې ښخ کړل. د غه راز کله چې د ۱۳۷۱ هـ ش کال په ثور کې تنظیمونه د افغانستان پر اداره حاکم شول، دوی هم تول هغه کتابونه چې په تېر رژیم کې چاپ وو، د تېر رژیم دمیراث

په توګه یاځینو وسوځول او دکتابونو لرونکو ددوی له وېرې وسوځول. دغسې جفاوې زموږ له فرهنګي زېرمو سره وخت په وخت شوي دي، چې دا یې یو معاصر مثال و.

د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې په لاس ته راغلیو آثارو کې دنثر برخه ترنظم هغې خوا ره هم ده او دقدامت په لحاظ ورسره هم. د ایه دې معنا چې زموږ د معلوم نظم تاریخ ترنثر هغې پخوانی دی. د اجریان په ځینو شرقي ژبو کې د نظم او نثر دپیدایښت له روایاتو سره سمون لري. د زیاترو شرقي ژبو د ادبیاتو تاریخونه چې موږ وګورو هلته نظم تر نثر لرغونوالی لري. د مثال په دول دري، اردو، هندکو او بلوچي ژبو کې هم د لاس ته راغلي منظم بولګې ترنثر هغې پخوا لنه دی (۱۱)

موږ چې د خپل ادبي تاریخ په لومړۍ دوره کې د نثر جاج اخلو، نو را ته ښکاري چې:

(۱) د دې دورې مربوط منثورو آثارو کې د وېرې یوازې نوموړنه موږ ته را رسېدلي دي. دا نوموړنه او د دغو آثارو وجود د نورو خارجي منابعو په مرسته ثابتېږي، خپله آثار یا ترا وسه نه دې موندل شوی او یا دا چې د زمانې تو ندو سیلیو ورسره وړي دي.

(۲) هغه آثار چې نمونې یې تر موږ رسېدلي دي او پشپړ آثار اوس نشته.

پر دې دوره د بحث په ترڅ کې موږ اړ یو چې د هغو آثارو یادونه هم وکړو چې وجود یې د نورو آثارو په مرسته

ثابت دی .

د دې آثارو له جملې څخه یو اثر هم د «سالو وږمه» نومېږي چې د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک (۱۰۸٤هـق زوکړی) یې له وجوده موږ داسې خبروي : «نقل کا : چې ابومحمد په پښتو یو کتاب کښلی و چې په هغه کې یې د عربي د اشعارو فصاحت او بلاغت بیان کړی و او نوم یې و د سالو وږمه» (۱۱)

د اکتاب ابومحمد هاشم ابن الزید السرواني (۲۲۳-۲۹۷هـق) لیکلی و . دا صراحت شته چې کتاب په پښتو و ن داچې کتاب منثور و په پټه خزانه کې یې ښکاره څه نه دي ویلي، اما د : « په پښتو یو کتاب کښلی و » له جملې څخه سړی اټکل کولی شي چې دا کتاب به پښتو نثر و.

که دا کتاب وای، نو بیا بایده وو چې موږ د پښتو نثر آغاز له همدې کتاب کړی وای . اروا ښاد پوهاند دوکتور زهیر چې خپل اثر ته « د پښتو نثر زرکلن تاریخ » نوم ورکړی و ، هغه د پښتو نثر پیل له همدې کتابه کړی دی .

مګر زه دلته د « سالو وږمه » کتاب په باب د پټې خزانې له لږې اقتباسي متوقي څخه زیات څه نه لرم او نه یې اضافي هراړخیز بحث کوم او نه د پښتو نثر تاریخ له دې زوایته پیلوم ، ځکه دا یا د نور بحث او کره وپېژني لپاره څه نه لري .

زه د پښتو نثر تاریخ د پښتو له معلوم نثره پیلوم . د پښتو تر ټولو پخوانی منثور اثر ، د سلیمان ماکو سابړی د پښتو تذکرة الاولیاء دی چې له بده مرغه د کتاب بشپړ متن تراوسه دی تر لاسه شوی ، تش څلور

پاڼې یې ځمونږ په واک کې دي.

د پښتو تذکرة الاولياء دا څو پاڼې لوی استاد اروا ښاد پوهاند عبدالحی حبیبي په غالب ګمان د روانې هجري شمسي پېړۍ په دوهمه لسیزه کې په جرېیان کې موندلي دي. کله چې ځمونږ مرحوم استاد «تاریخچهٔ شعر پښتو» لیکه دا پاڼې یې نه وې موندلې، ځکه په تاریخچه کې هیڅ د دې پاڼو د محتویاتو یادونه نه ده کړې (۱۳). استاد له ۱۳۱۰ هش کال راپدې خوا د پښتو د زړو آثارو او دلتونو په سلسله کې کلیو په کلیو ګرځېده او د همدې پلټنو په لسو کې یې دا پاڼې هم د هلمند د آدم خان کلي په جوماتو کې د یو زاړه چاپي کتاب په منځ کې موندلې وې او څو کاله له دوی سره تالوستې پرتې وې (۱۴).

څو کله چې یې د کابل کالنۍ د ۱۳۱۹ هش کال د کڼې لپاره «تاریخچه سبکهای اشعار پښتو» نومې رساله لیکله، نو د دې پاڼو په لوست بریالی شوی او د دې پاڼو محتویات یې په دې رساله کې شامل کړل، د اصلي نسخې پاڼې یې هلته زنګوګرافو هم کړې (۱۵) له دې رسالې یو کال وروسته پښتانه شعراء لومړی ټوک چاپ شو. په دې کتاب کې هم په تذکرة الاولياء کې د راغلیو شاعرانو احوال راغلل او د پښتو تذکرة الاولياء اصلي پاڼې عکسي هم پکې چاپ شوې (۱۶) له دغو دوو چاپونو سربېره تذکرة الاولياء د مستقلې رسالې په بڼه په ۱۳۶۱ هش/ ۱۹۸۲ع کال د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا چاپ شوې ده. په دې چاپ د استاد حبیبي یو نوی یادښت هم چاپ شوی دی. په دې چاپ کې د تذکرة الاولياء پاڼې هم زنګوګراف شوې دي.

د تذکرة الاولیاء په مستقل چاپ کې چې کله وار داصلي پاڼو د عکسي چاپ ته راورسید، نو دا موجودې خطي پاڼې ما له مرحوم استاد څخه واخیستې او مطبعې ته مې د چاپ لپاره یوړې، چې په مطبعه کې مو عکسونه ځینې واخیستل، نو مې پاڼې بیرته استاد ته وسپارلې.

کله چې ما پاڼې بیرته استاد ته سپارلې نو مې د غه وخت د دې پاڼو په باب ځینې پوښتنې هم له مرحوم استاده وکړې، چې د غه پوښتنې او ځوابونه او د دغو خطي پاڼو معرفي زما په هغه مفصله مقاله کې راغلي دي، چې مې د امیرکروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلین (۱۵٤ - ۱٤۰٤هـق) د نړیوال سیمینار په ویاړ په همدې تذکره کې کښلې ده (۱۷).

د تذکرة الاولیاء د خطي پاڼو قطع ۱۸X۲۳ سانتي متره او د هر مخ کرښې یې مختلفې دي، له ۱۵ نه تر ۹ پورې کرښې د تذکرې په بېلابېلو مخونو کې کښل شوي دي. ځکه چې نسخه بشپړه نه ده، نو ځکه یې د کښنې تاریخ نه معلومېږي. کاغذ یې سالم او د شکل له مخې زوړ نه ښکاري، خو هغه کسان چې په نسخه پېژندنه کې ماهران دي، هغوی وایي چې د کاغذ ظاهري شکل غولوونکی وي. د شکل له مخې ډېر سالم کاغذونه زاړه وي، مګر بالمقابل د شکل له مخې زاړه کاغذونه زاړه نه وي (۱۸).

کله چې ما دا نسخه وکتله نو کاغذ یې زما سترګې هم وغولولې، له مرحوم استاده مې د دې نسخې د کاغذ په باب وپوښتل، هغوی وویل چې دا کاغذ غالباً خوقندي دی، چې په کندهار کې یې کوکاڼي باله او د دې نسخې قدامت سږکال د وه سوه پنځوس کاله

د مخه تخمین کولی شي . د کاغذ سیاهي او د نسخه پېژندنې د ځانګړنو له امله استاد دا نظریه قایمه کړې وه .

د پښتو تذکرة الاولیاء د خطي نسخې په لیکه کې د پښتو د خاصو آوازونو د یوه آواز لیکلو لپاره ځانګړی ګرافیم پر ټاکل شوی دی ، نو د نسخې لیکدود کې کومه بله د یادونې وړ خبره نشته . په دې نسخه کې د «ځ» ګرافیم په داسې بڼه لیکل شوی دی چې د «ج» له پاسه یې همزه وراچولې ده «ځ» . څرنګه چې د پښتو املا په تاریخ کې د دغه ګرافیم د غه لیکنه بڼه نوي ښکاره ، نو هغه ضرور دا ګومان کوي چې ګوندې په تذکرة الاولیاء کې د «ځ» ګرافیم په اوسني مروجه بڼه لیکل شوی دی .

له دغو کسانو څخه یو هم زمونږ ګران مشر لیکوال او شاعر ښاغلی قلندر مومند دی . دوی یو ځای لیکلي دي : « دلته دا خبره هم باید یاده وساتلی شي چې د « ځ » دا توری په هغه قلمي تذکره کښې هم استعمال شوی دی چې سلیمان ماکو پورې تړلی شوې ده او د محترم پروفیسر رشاد د رای مطابق د « ځ » موجوده شکل د وزیر محمد ګل خان مومند ایجاد دے نو پهٔ دې بنیاد د سلیمان ماکو تذکره هم د پېټې خزانې غوندې یو جعلي دستاویز دے او د بیټ نیکه ، د ملک یار غرشین او شیخ اسمعیل د شاعرۍ قصه هم یوه افسانه ثابته شي » (۱۹)

دوی چې تر کومه ذهنیت لاندې او په کوم نیت دا خبرې کښلې دي ، هغه د دوی خپل کار دی ، مونږ څه یې نه وایو اما د لایل یې پر مینه اوروو او په سړه سینه یې ځوابونه وایو .

زه دګران مشر قلندر مومند حضور ته دا عرض کوم : ځنګه چې دیتي خزانې دجعلیت په باب ستاسې له فرضیو سره څوک نه دي موافق او درد لپاره یې کافي کار شوی دی ، دغسې دتذکرة الاولیاء په باب هم ستاسې نظر به څوک نه مني .

دوی دتذکرة الاولیاء جعلیت او په سلیمان ماکو پورې ددوی په زعم ددغې تذکرې تړل په دې پورې مربوط ګڼلی دي چې ګویا ددې تذکرې په خطي پاڼو کې د «ځ» ګرافیم په اوسنۍ معموله بڼه لیکل شوی دی .

زما په پوهه په دې ځای کې دګران مشر قلندر مومند افکار ددوو اشتباهګانو ښکار شوی دی :

(۱) دوی فکر کړی دی چې دتذکرة الاولیاء په خطي پاڼو کې د «ځ» دګرافیم لیکنۍ بڼه سمه نه ده درک کړې او فکر یې کړی چې دا لیکنۍ بڼه «ځ» هم دا اوسنی مروج شکل دی . حال دا چې دتذکرة الاولیاء په خطي پاڼو کې د «ځ» ګرافیم ته لکه چې د مخه ما توضیح کړه د «ج» لپاسه همزه ور کړل شوې ده «ځ» .

استاد پوهاند رښتین چې دتذکرة الاولیاء دخطي پاڼو د لیکدود په باب خبرې کړې دي ، دوی هم په دې پاڼو کې د «ځ» ګرافیم دغې ځانګړتیا ته اشاره کړې ده (۴) او دا شکل یې له «ځ» بېل بللی دی .

د «ځ» دګرافیم دا بڼه دتذکرة الاولیاء له خطي پاڼو سربېره ، دعبدالرحیم هوتک ددیوان په هغو خطي نسخه کې هم راغلې چې عبدالرحیم هوتک پخپل خط لیکلې ده (۵) ، دا

نسخه گرده مانقل کړې ده. اصلي متن يې تر ۱۳۷۱هش کال دافغانستان دعلوموا کاډيمۍ په کتابخانه کې و.
عبدالرحيم هوتک ددولسمې پېړۍ شاعر دی، پديو روايت په ۱۱٦۲ هق کال په بخارا کې مړ او هوړي ښخ دی (۲۱). د عبدالرحيم د ديوان په ډېر و بر خو کې د «ځ» گرافيم داسې راغلی دی، لکه څنگه چې دتذکرة الاولياء په پاڼو کې دی. په دې ديوان کې څو ځايه «ځ» گرافيم داوسنۍ مروجې بڼې په څېر هم راغلی دی، خو نړما گومان دی چې په دغو ځايونو کې به له کښونکي تکی هېر وي.
له دې پرته دقرآن عظيم يوه پښتو ترجمه چې له فوايد و سره په ۱۲۷۸ هق کال په بهوپال کې چاپ ده او دبهوپال او ولايت (افغانستان) دعلماوو له خوا جوړه شوې ده.
څنگه چې ددې ترجمې او فوايد و په تهيه کې څو تنو علماوو کار کړی دی، نو ځکه ددې فوايدو په ځينو ټوټو کې د «ځ» گرافيم دغسې راغلی، لکه چې په تذکرة الاولياء او دعبدالرحيم هوتک په ديوان کې موجود دی. ما چې په خپل يو اثر: «په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو دايجاد او وده پړاوونه» کې پر دې مبارکې ترجمې او فوايد و بحث کړی دی، هلته مې ددې ترجمې د چاپي نسخې په ليکدود د «ځ» د گرافيم پر دغه ځانگړتيا خبرې کړې دي، خو يوه سهوه چې راته شوې، هغه داده چې هوړې مې دا شکل د «ځ» پر ځای «خ» بللی دی (۲۲) چې سم نه دی.

د «ج » د دې شکل په ارتباط زما څاکرې یا دونه داد ه
چې د روانې هجري شمسي پیړۍ په لومړیو دوو لسیزوکې چې
کوم پښتو مطبوعات له کندهاره راوتي او خپاره شوي دي په
دې موقوتو او غیر موقوتو خپرونو کې «ځ » دا سې لیکل
شوې ده «ځ ». زما په پوهه دا بڼه د «ځ » د ګرافیم د «ځ » د
بڼې او سبتي انکشافي شکل دی . د «ځ » د ګرافیم دا دوه شکلونه
«ځ » او «ځ » د کندهار په فرهنګي حوزه اپه لري او
مبایي له څو پیړیو را په دې خوا په خطي نسخوکې مستعمل وو او
حتی هغه پښتانه چې له دې سیمې هندوستان ته تللي دي د «ځ »
دا لیکنی شکل یې هورې هم پخپلو لیکنو کې استعمال کړي دي .
(۲) دوی دا خیال هم کړی دی چې «ځ » مروجه بڼه
زموږ داملاء په تاریخ کې زړې ریښې نه لري . دوی چې
په دې مورد کې په کوم سند اتکاء کړې ده د هغې تکیې
له مخې باید د دې آواز او سنې مروجه لیکنه بڼه د روانې
شلمې سدعه د څلورمې لسیزې په جریان کې باب شوې وي
حال دا چې خبره دا سې نه ده . د دولسمې پېړۍ په جریان کې
لیکل شوې چینو آثار وکې دا ګرافیم په همدا او سنۍ بڼه لیکل
شوی دی (۲۳) . مباغلی محقق همیش خلیل هم پخپل ا شر
«تول پارسنګ » کې چینې داسې خطي آثار بنودلي دي چې «ځ »
پکې په همدا اوسنۍ بڼه لیکل شوې ده . (۲٤)
استاد پوهاند رشاد پخپله یوه مقاله کې کښلي دي چې کله
ما دخیر البیان لیکدود مقاله کښله ، نو ماته د دیوان رتن چند

کندهاری رهنمای پښتو نه وه معلومه ترڅکه ما د « ځ »
او سنی بڼه د ونیر محمد گل خان مومند ایجاد بللہ ، حال دا چې
د رتن چند په رهنما ی پښتو کښې د ا آواز په همدې او سنی
بڼه راغلی دی . رهنمای پښتو نومی کتاب په ۱۸۹۲ ع کال په
کوټه کې چاپ شوی دی . (۲۵)

په پخوانیو چاپي آثارو کې ماتر معلوم بل اثر چې دا آواز پکې په
موجوده بڼه لیکل شوی دی د معلم عبد العزیز شعري مجموعه دیوان
عزیزي دی ، چې په ۱۹۰۰ ع کال په لاهور کې چاپ شوی دی .

د تذکرة الاولیاء خطي پاڼو د املاء په باب د بنا علي قلندر
مومند د اعتراضونو ځواب مالوړ وکښل ، که دوی پر دې تذکره
دویلو نورڅه هم لرلي ، موږ ورته سترګې په لاریو . هر معقول او د
فرهنګ په کټه نقد باید د سر په سترګو ومنل شي .

له لیکدود چې ورتېر شو د خطي پاڼو د محتویاتو په باب
باید و وایو چې پر دې پاڼو کې یوه مقدمه او د څلورو پښتنو ویناوالو
مشایخو یا د مؤلف (ماکو) په اند ولیانو لنډ احوال او د و یناو و
نمونې راوړل شوې دي . د دې تذکرې مقدمه د مؤلف په باب
لنډ معلومات لرونکي ده وې اندې کوي او د کتاب د لیکلو هدف
هم را ښکاره کوي . د دې کتاب مقدمه دا ده : « وایم حمد و
سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم
چې دی یادار دکو نینو او رحمت د ثقلینو ، لوی لوی رحمتونه
دې وي د هغه دا ستازي پر آل او یارانو چې د واړه جهانه
پر دوی دي روښان . امابعد نه غریب خادم سلیمان زوی

د بارک خان ماکو سابن ی چې په ویاله دارغستان هوسېږم او
په دې زمکو پایېږم . په سن دولس شپږ سوه د هجری تللی
وم او د پښتنخا په راغوا کلیو کې ځېدم او مراقد داولیا وواو
واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل اوددوی
په خدمت خاکپای وم او هرکله په سلام ورته ولاړ.

چې له دې سفره په کورکې کښېنستم او تناکې مې وچاودلې
د پېښو، بیا پاځېدلم او له ځبتنه مې مرستون سوم چې احوال دهغو
کاملانو وکاږم او دوی چې هغه وینا وې پا ته کړې دي او
پښتانه به لولې اوس ... (۲۶)

د دې کتاب د لیکوال په باب زموږ په ادبی پلټنوکې تر دغو
اساسي څرګندو چې دهٔ په مقدمه کې کړې دي ، بالا نورڅه
نه دي راغلي او نه مو دده په باب نورڅه په واک کې دي .

د کتاب هدف دکاملانو د احوالو او وینا وو ضبط دی او
په کتاب کې راوړي معلومات یې له اوریدلو او د پښتنو په هغه
وختنیو تولنه کې د تښو شفاهي معلوماتو او روایاتو په بنا
کښلي دي ، ځکه چې په موجوده پانو کې کوم کتاب یا بل لیکلي
سند ته حواله نه ده ورکړل شوې . له دې سره داهم نه ده تر
لومړ ي چې په تذکره کې راغلي پاړکي به یې هم دخلکو له
خولو لیکلي وي .

د تذکرې په موجودو پانو کې د څلورو کسانو، لکه
شیخ بیټنی ، شیخ اسمعیل ، ملکیار غرشین او قطب الدین
بختیار کاکي لنډ احوال او د شعرونو نمونې خوندي شوې دي

دا څلور کسه په تاریخ کې معلوم خلک دي. تر سلیمان وروسته نورو مؤرخانو هم د دوی احوال کښلي دي.

که څه هم سلیمان ماکو د دغو کاملانو د ژوند د زمانې په باب څه نه دي لیکلي. له روایاتو او اورېدنو نه بغیر و ل مقصد تر سره کېدای هم نه شي، خو نن ورځ وروستیو محققانو چې د دې پاڼو محتویات تحقیق کړي دي د نورو تاریخي لیکنو په مرستې یې د دغو څلورو تنو د ژوند زمانه هم ټاکلې ده او له خپلو برداشتونو سره سم یې د دغو څلورو تنو احوال سره بشپړ کړي دي.

په دې تذکره کې د راغلیو کسانو د احوالو په باب او همدارنګه د دغې تذکرې د اشعارو، د تذکره نګاریزه دروشونو او نورو اړخونو په باب ډېرې خبرې کېدای شي، خو که نه دا کار وکړم نو به دا کتاب له خپله هدفه لرې شي. د تذکرة الاولیاء د دغو څو پاڼو بېلابېلې خواوې دارواښاد استاد حبیبي له خوا د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک او د پښتو تذکرة الاولیاء په مقدمه او تعلیقاتو کې سپړل شوي دي او ما هم پخپله یوه رساله کې چې «بیش بهاترین گنجینۀ ادب کهن پښتو» نومېږي له خپل وس سره سم د دې پاڼو په مختلفو اړخونو تفصیلي او اوږد بحث کړی دی. دا رساله (۵۹) مخه په «امیرکروړ یاد» نومي مجموعه کې چاپ ده.

اساسي خبره دا ده چې نه باید دلته د دې تذکرې د موجودو پاڼو پر نثر خبرې وکړم.

دانش چې مايې د مخه لنډه نمونه وړاندې کړه تر ۱۲۶ هـ ق کال پورې وسته کښل شوی دی او تر دې نثر د مخه موږ د پښتو د پېر نثر نمونه نه لرو او وروسته له دې منثوره تحقیق سره د پېر معاصر نثر بېلګې هم له موږ سره شته چې په مقایسه یې ډول یې ارزیابي کېدای شي. د تحول یا انحطاط څرګونه ځینې وایستلای شو او یا یې هم د سبک پر ځانګړتیاوو څه خبرې وکړای شو. دانش د پښتو نثر لیکنې یو ځانګړی سبک دی چې د نورو اسنادو تر پیدا کېدو پورې یې باید ځانګړتیا ته قایل واوسو.

د محمد ضو موجودو پاڼو له مخې موږ دانش په موضوعي لحاظ په علمي نثرونو کې مطالعه کولای شو چې د خپل وخت له شرایطو سره سم او د هغه وخت د مسلطو فرهنګي جریانونو تر اغېز لاندې لیکل شوی دی او په نسبي ډول د مسلطو فرهنګي او ادبي جریانونو اغېزې پرې ښکاره دي.

د سلیمان ماکو د نثر پر ځینو خصوصیاتو اروانباد استاد خادم (۴۷)، اروانباد استاد حبیبي، استاد رښتین، پوهاند زیار پروفیسور رضا او نورو درېیو لیکوالو بحث نه کړی دی او دا ډېره مشکله ده چې د دې نثر پر ځینو خصوصیاتو تر دې خبرو زیاتې خبرې وشي. نو د دغو ښاغلیو څېړنو او خپله موږ د متن ته په پاملرنه دومره ویلای شو چې:

په دې نثر کې جملې لنډې - لنډې راغلې دي، مطلب پرېکړې او کوټلې اداکوي، وضاحت لري، پېچلې نه دي.

په دې منثورو ټوټو کې د پښتو ځینې زاړه لغات ، تعابیر او اصطلاحات شته لکه : تنهاکې وچاودلې د پښتو ، ډېرن سبتې ووژل ، پرنډه د ستن ږغو وه ... ، وګروهېد ، پاړکی ، ستن ځنبنتن ، ګهون ، دښن ، جوبله ، کول ، تا ټوبی نډه ، سوب ، خوځ ، مینه ، هسک او نور ... د دی زوړمتن زاړه لغات او تراکیب دي .

د ماکو نثر د ځینو ژبنیو ښېګڼو تر څنګه ناوړې هم لري ، خبر یې پر مبتدا ، مضاف پر مضاف الیه او موصوف پر صفت مخکې کړي دی (۲۸) لکه : وایم حمد وستاینه « د لوی خاوند با زه غریب سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزی ، چې په ویاله دارغسان هوسېږم ... یا خدای مهربان د اسماعیل په برکت سربن ته نصیب کړه دولت زامن چې اوس تر وس تېر شو ګهون دهغو ، یا په غره دکسي .... یا په ځېر د زمریو ... ».

نوموړی اکثر مثران څېړونکي په دې عقیده دي چې کڅه هم د سلیمان نثر د جملو په رغښت کې د دري او عربي ژبې اغېزې منلي ، خو له دې سره سره دا نثر ساده نثر دی ، لکه اوابنا د خادم چې ویلي دي : سره له دې چې د سلیمان ماکو په نثر کې د عربي رنګ شته مګر دا رنګ دومره کمزوری دی چې د ده کلام یې د فصاحت څخه نه دی ایستلی ، که مونږ ورته خلک ملتفت نه کړو ممکنه ده چې څوک ورباندې پوه هم نشي . سلیمان اوږدې او پېچیده جملې نه مستعملوي ، نو ځکه د ده نثر د یوې طبیعي مکالمې او مصاحبې صورت غوره کوي ... » (۲۹)

دا نظریه د تذکرة الاولیاء د نثر په باب ویل شوي لوړې نظریه ده ، ځکه اروا ښاد خادم دا مقاله د دې یا نې د خپرېدو په کال لیکلې ده . تر دې نظریې وروسته چې چا څه ویلي تولو د الفاظو په تغییر دا خبره تائید کړې ده ، چې د عربي او دري د ځینو انیزو له منلو سره سره دا نثر عمومي مکالمې ته نژدې دی ، ساده ګي یې ښه ښکاري ، نه د بې ګران دی او نه د پراسان ، بلکه د ساده نثر یوه متوسطه نمونه ګڼل شوې ده . (۳۱)

اما د پښتو نثر د څېړونکي په یو کتاب کې مې ولوستل چې : « د سلیمان ماکو نثر څه عربي ، څه فارسي او څه پښتو دی» (۳۲)

زما په عقیده د سلیمان د نثر په باب دغسې یوه اند با بې اساسه او داځکه چې عربي او فارسي کلمات خو نورو لیکوالو هم تر دې زیات پخپلو نثرونو کې اخیستي دي ، مګر موږ دا نه وایو چې دا نثرونه څه عربي دی ، څه فارسي او څه پښتو ، بلکه د اخیستنو تناسب یې څېړو .

د سلیمان په نثر کې د یره برابره ساده ګي او روانی ترڅنګه کله کله د ځینو جملو په پای کې سجع او موازنه هم رعایت شوې ده لکه : « په ویاله دارغسان هوسېږم او په دې زمکو یا ښېږم» یا لکه : مرا قند داولیا وو او وا صلینو یې پلټل او په هرلوري یې کاملان موندل ؛ . یا په جوړله کې ملکیان د اباړکي ویل : چې غازیان وباړېدل ... او نور .... دغه رنګه د ځینو افعالو په پای کې د ترنم لپاره (نه) هم نښلوي (۳۳) بختیار سندیې کړېنه ، مپاړکي لړبینه او داسې پسې نور ....

ما باید ددې اثر له غو ښتنو سره سم د تذکرة الاولیاء
پر ژبنیو ځېړنو دا لوړې مختصرې خبرې هم نه وای کړای، ځکه
داثر د فرهنګ د رشد پر مسائلو آثارو او پر اغېز منیو او سبکي
خصایصو او د اثر د ایجاد پر شرایطو خبرې لري ، نه د آثارو
پر ژبنیو ځانګړنو؛ البته ځینې ځنګنۍ اشارې به داثر ژبنیو
خصایصو ته هم وکړو ، خو هغه به اساسي نه، بلکه فرعي وي، خو
دا چې د تذکرة الاولیاء په بحث کې ددې اثر ژبنیو خصوصیاتو
ته لږ تم شوم، علت یې دادی چې په ګرده لومړی دوره کې
موږ همدا یو اثر لرو.

## د پښتو تذکرة الاولیاء ارزښتونه :

د پښتو تذکرة الاولیاء د هغو پانو که څه هم کمي ارزښت
یې لوړ نه دی، خو په کیفي لحاظ دومره ارزښتمن ثابتې شوې
دي چې زموږ دادبیاتو داوږده ځنځیر ځینې ورکې کړۍ یې
سره کو شېر کړې. له دغو پانو زموږ فرهنګي تاریخ ته
دغه لاندې ګټې متصورې دي :

(۱) په دې پانو کې د پښتو شعر ځینې لرغوني نمونې شته
چې تاریخ یې څلورم هجري قرن ته رسېږي او دا نمونې
د لرغونتابه له اهمیته پرسېره د پښتو شعر ځینې لرغوني
ډولونه هم په لاس راکوي چې د پښتو شعر داوزان او
انواعو په څېړنو کې نشي هېرېدای او هم د پښتو شعر په
تاریخ کې موږ ددې تذکرې پر همدغو څلورو پاڼو
د یوه بناء کولای شو .

(۲) د پښتو نثر تر ټولو قديمه مکشوفه نمونه له همدې پانې تر لاسه کېږي او سملاسي موږ د خپل نثر تاريخ له همدې پانې پيلوو. دا پانې په اوومه هجري پېړۍ کې په پښتو کې د نثر ليکنې سبک او ډول را ښيي او دا ثابتوي چې په هغه وخت کې د پښتو نثر ليکنې عمومي رواج درلود.

(۳) د تذکرې دا پانې که څه هم لږې دي، خو د پښتو د يوه زاړه کتاب ښودونکې دي. تر دې کتاب د مخه موږ ته د پښتو بل کتاب نه دی تر لاسه شوی او په پښتو کې د کتاب ليکنې د سوابقو په پلټنه کې دا پانې موږ ته کار آمد تمامېږي او دا را ښيي چې دا وخت د پښتنو په ځينو حلقو کې د کتاب ليکنې ذوق پيدا شوی و او پښتانه هم دې خبرې ته متوجه شوي او هڅېدلي وه چې د سيمې د مسلطو فرهنګي جريانونو په پيروۍ دوی هم پخپله ژبه کې کتابونه وليکي. دا کتاب د خپل وخت د مسلطو ذهني شرايطو تر اغېز لاندې ليکل شوی دی، دا په دې معنا چې لوستو پښتنو سره دا فکر پيدا شوی و چې په دوی کې د تېرو شويو کاملانو احوال سره را ټول کاندي چې نور لوستي پښتانه ترې خبر شي.

(٤) د دې کتاب موجوديت دا را ښيي چې دا وخت په پښتنو کې سواد يو څه عام شوی او د لوستو کسانو شمېر هومره و چې د کتاب د ليکلو ضرورت ورته حس کېده.

ډېر تأسف ځای دی چې دا کتاب بشپړ نه دی تر لاسه شوی که چېرې دا کتاب ټول د خدای تعالی په مرحمت را پيدا شي، نو ډېرې

د پرې خبرې به ترې پر سبره شي او زموږ د لرغوني ادب او
فرهنګ د بشپړتیا په مراتبو کې به ترې ډېره استفاده وشي.

د پښتو د نثر تاریخ د څېړلو په ترڅ کې موږ ته په لومړۍ
دوره کې د څېړونو او داسې کتابونو نومونه مخې ته راځي چې
نثر بلل شوي، خو اوس په لاس کې نشته، تر څو د وضع شوي
پر نسیب له مخې په دې کتاب کې ندراځي، خو بیا هم د دې سلسلې
دیوه کتاب له یادونې چاره نه وینم، دا کتاب د شیخ ملي دفتر
دی چې خارجي منابعو یې د موجودیت ذکر کړی دی، خو
لاتر اوسه نه دی پیدا شوی.

اخوند درویزه (رح) (۹۴۰ - ۱۰۲۸ هق) په تذکرة الابرار والاشرار
کې د شیخ ملي دویش یادونه کړې ده. شیخ میرداد خلیل (؟) په تاریخ
افاغنه کې د شیخ ملي د دفتر یادونه کړې ده او دا خبره بیا پیر معظم شاه
دیاد شوي تاریخ افاغنه په لنډیز تواریخ حافظ رحمت خاني کې داسې
راوړې ده: «گویند چې شیخ ملی نهایت متدین، متقی، قایم اللیل
صایم الدهر سړی و. هرچرته یه چې ته خدمتگار به کوزه داو واسه
یې ور سره کړ خوله او دی ماتحت د ملک احمد مقتدا د درست مندړ
و. دی د هرې چارې د هر مهم غمخور و، همگی کلي، ملکونه تپه
په تپه، کور په کور دده په دفتر ختلي وو او ده ویشلي وو»(۳۳)
له دې پر سېره خوشال خټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هق) هم د دې دفتر
یادونه په دې ډول کړې ده:
په سوات کې دې د دوه څیزه کمخنی دی کمعلي * مخزن د درویزه دی یا دفتر د شیخ ملي

نورو منابعو کې هم دد غه دفتر د موجودیت یادونې شوې دي،
مګر اګکړ ختیځ پوه هانری جارج راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۶ع) یادونې
د پام وړ دي. ده د خپل پښتو ګرامر په مقدمه کې (۳٤) له نثرلیکونکو
د شیخ ملي نوم د پخواني لیکوال په توګه یاد کړی دی او د ده د لیکلي
تاریخ یادونه یې کړې ده. نوموړي راورټي د خپلې پښتو ډکشنرۍ
د مقدمې په (۱۷) مخ کې هم د دې دفتر یادونه کړې ده (۳۵).
څینو نورو ختیځ پوهانو هم د راورټي د همدې یادونې په اساس
په دې کتاب خبرې کړې دي، لکه جیمز دار مستتر (۱۸٤۹-۱۸۹٤)
چې د پښتو نخوا د شعر هار و بهار کې د شیخ ملي د کتاب په باب
کښلي دي: «داسې مشهوره ده چې لومړی کتاب چې په پښتو کښل
شوی دی او د دې سویمن ستېر د بېلو بېلو پښتو تر منځ د سوات
سیمه ویشله شوې ده، د دې کتاب لیکوال د شیخ ملي په نامه بولي
چې د یوسفزو او مشرو . مشهوره چې په دې کتاب کې داسې دودونه
او رواجونه مشروع سنوول شوي وو چې له اسلامي شرعې سره برابر
نه دي، لکه نجلۍ ته د ښځې له خوښې پرته میړه کول، له بلې خوا مشهوره
ده چې د سوات خلک اسلامي دین ته په غاړه ایښو دلو کې ډېر ټینګ
دي، له همدې کبله خوشال خان خټک له یوې شرعې نه بې لارې اوله بله
پلوه په دین کې زیات تعصب دواړه په خپل دې بیت کې د کنایې په ډول
کې غندلي:

په سوات کې دي دوه [illegible] یو ځغنې دی بل جلبي
یو مخزن د درویزه دی بل دفتر د شیخ ملي (۳۶)

د خوشحال بابا د لوړ بیت په لومړۍ مسرۍ کې «[illegible]» کلمه په نوره

ضبطوونکي «شیخ» او «کانه» راغلي دي .

د شیخ ملي د دفتر د لیکلو کال په افغاني منابعو کې (۸۲۰ هق) کال ښودل شوی دی ، اما پروفیسور محمد نواز خان طایر د تواریخ حافظ رحمت خاني په مقدمه (۲۵) مخ کې د اکال ۹۳۰ هق شاوخوا اټکل کړی دی .

د دغو لوړو یادو شویو اسنادو او خارجي منابعو په یادونې له مخې د شیخ ملي د دفتر وجود ثابت دی ، ځکه چې د ادفتر او س نشته ، نو ځکه تر دې زیات پرې څه نشي ویل کیدای .

د پښتو ادب په لومړی ادبي دوره کې موږ ته دیو مطلوم منثور اثر څرک پاملې رسیدلی دی چې په مخنیو برخو کې ځینې یادونه وشوې ، د نوروهغو په باب ځینو خارجي منابعو تشې یادونې کړې دي ، چې د ځینو لازمو هغو په ماهم یادونه وکړه ، دنورو په باب پرېکړې حکم څه ناشونی غوندې هم ښکاري او له بلې خوا زما د کار له شرایطو سره هم سمون نه خوري .

## مأخذونه او توضیحات :

(۱) رشاد پوهاند عبد الشکور ، لودي پښتانه ، پښتو ټولنه ، کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳۳۶ هش ، ۹ - ۱۰ مخونه

(۲) هېواد مل ، زلمی ، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه ، شرکت پرنتنگ پریس ، لاهور ۱۳۷۳ هش ، ۲۷ - ۳۰ مخونه

(۳) نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې کښلي : وکند ولد خرشبون را دو پسر شد اول غوری که نام او شیخ ابراهیم بود ، چون در ممالک غور متولد شد ، بنا بر آن اورا غوری میگویند » (دوهم ټوک ، پاک ، ۱۹۶۲ ع ۵۶۶ - ۵۶۷ مخونه )

په غوري پښتو کې؛ دولت یار، خلیل، نیازي، خټکي اوش شامل دي.
(٤) توله هغه غلجي قبایل چې نسابانو دبي بي متو او شاه حسین هوتکي له اولادې څخه ګڼلي دي د پښتنو په اتنیکي څېړنو کې د متوزي پښتنو په نامه ښیول کېږي.
(٥) رشاد، پوهاند عبدالشکور: زاخېل، دراحت یاد، د زلمي هیوادمل په زیار، کابل پوهنتون، ۱۳٦٤ هـ ش، ٢٥٤ مخ.
(٦) غبار، میرغلام محمد: افغانستان در مسیر تاریخ، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٧٠ هـ ش، ۱۲۹ مخ.
(٧) حبیبي، پوهاند عبدالحی، د ملتان لودهي شاهي کورنۍ، د زلمي هیوادمل ترجمه، پښتو څېړنې، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، کابل، ګوندي مطبعه، ۱۳٦٢ هـ ش، ۲٧ مخ.
(٨) حسن یار، پوهاند دوکتور سید امیر شاه، مصاحبه، دوفا جریده، ۱۳٧٤ هـ ش کال ۱۹-۲۰ ګڼه.
(٩) هیوادمل، زلمی، تاراجګران فرهنګ ... ، وفا (جریده) د ۱۳٧۳ هـ ش کال ۳۰ مه ګڼه.
(١٠) هوتک، محمد معصوم: دخطي زېړ مولو تهیدنه، وفا د ۱۳٧٣ ش ۲٤ ګڼه
(١١) هیوادمل، زلمی: د محمد هوتک ژوند او مزار، ننګرهار پوهنتون دلوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، ۱۳٦۲ هـ ش، ۹۰ مخ.
(١٢) هوتک، محمد: پټه خزانه، د اروابناد استاد عبدالحی حبیبي په زیار، دتالیف او ترجمې ریاست، دفرانکلن خپرونې، ۱۳۳۹ هـ ش، ٦۰ مخ.
(١٣) حبیبي، پوهاند عبدالحی، تاریخچهٔ شعر پښتو، طلوع افغان

کندهار، د یارلسم کال، ۵ گڼه، د ۱۳۱٤ هـ ش کال د عقرب ۲.

(۱٤) حبیبي پوهاند عبدالحی: پښتو تذکرة الاولیاء (یادښت) د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل دولتي مطبعه، ۱۳٦۱ هـ ش کال لسم مخونه.

(۱۵) حبیبي پوهاند عبدالحی: تاریخچه سبکهای اشعار پشتو، کابل کالنۍ، ۱۳۱۹ هـ ش، ۱۷٤ - ۱۷۵ مخونو ترمینځ.

(۱٦) حبیبي پوهاند عبدالحی: پښتانه شعراء، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، کابل، عمومي مطبعه، ۱۳۲۰ هـ ش، ٦٤-٦۵ مخونو ترمینځ.

(۱۷) هیواد مل، زلمی، بیش بها ترین گنجینه ادب کهن پښتو، د امیرکروړ یاد، پښتو ټولنه، کابل، ښوونې او روزنې مطبعه ۱۳٦٤ هـ ش، ٤۰۰ - ٤۵۸ مخونه.

(۱۸) منجد - صلاح الدین، روش تصحیح نسخه های خطي، ترجمه دکتر حسین، خدیوجم، تهران، ۱۳٤٦ هـ ش، ص ص ۳۱ - ٤۱.

(۱۹) مومند، قلندر، پټه خزانه فی المیزان، د چاپ ځای، پېښور، ۱۹۸۸ع، ۱۷۲ مخ.

(۲۰) د پښتو نثر هنداره، ۳۲ مخ.

(۲۱) هیواد مل، زلمی، د تذکرة الشعراء تعلیقات، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦٦ هـ ش، ۲۹۳ مخ.

(۲۲) په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، ٤۵۰ مخ.

(۲۳) رفیع، حبیب الله، خط نامه، پښتو اکیډیمي، پېښور، جدون پریس، ۱۹۸۵، ۸٤ مخ.

(۲٤) خلیل، همیش، تول یا رسنگ، پېښور، جدون پریس، ۱۹۹۳ع ۲۵۵-۱۵٦ مخونه.

(۲۵) رښاد، پوهاند عبدالشکور، دا تېروتنې باید سمې شي، وفا،
د ۱۳۷۳ هش کال ۵مه گڼه.

(۲۶) ماکو سلیمان، تذکرة الاولیاء، د استاد حبیبي په زیار،
پښتو ټولنه، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۶۱ هش، ۱۹ مخ.

(۲۷) زیار، پوهاند دوکتور مجاور احمد، د تذکرة الاولیاء ژبنی خوا،
دا میر کروړ یادګار، دزلمي هیوادمل په زیار، ۳۹۰-۳۹۹ مخونه.

(۲۸) د تذکرة الاولیاء ژبنه خوا، ۳۹۲ مخ.

(۲۹) خادم، قیام الدین، د پښتو نثر تطورات او د نثارانو تذکره،
کابل کالنی، ۱۳۱۹ هش، ۳٤۲ مخ.

(۳۰) د پښتو نثر هنداره، ۳۹ مخ.

(۳۱) د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاینزه، ۳۴ مخ.

(۳۲) حبیبي پوهاند عبدالحی، د تذکرة الاولیا مقدمه، ۱۷ مخ.

(۳۳) پیر معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، د پروفیسور
محمد نواز طایر په زیار، دوهم چاپ، جدون پریس، پېښور
۱۹۸۷ع، ۱٤۵ مخ.

(۳٤) راورټي، هاټري جارج، پښتو ګرامر، چاپځی، پېښور، ۱۹۸۱ع،
۳۲ مخ.

(۳۵) د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه، ۵۲ مخ.

(۳۶) جیمز ډارمستتر، د پښتونخوا شعر هار و بهار، مقدمه
د حبیب الله رفیع په زیار، پښتو ټولنه، کابل د مني و نو
امروزني مطبعه، ۱۳۵۶ هش، ۹ مخ.

# دوهمه ادبي دوره

د کوم تصنیف او کومې دورې بندۍ مطابق چې زه دا اثر بشپړوم د هغې له مخې د پښتو ادبیاتو دوهمه دوره د لسمې هجري پېړۍ په اواسطو کې د بایزید روښان له غورځنګ او د دې غورځنګ له ادبي منود سره په ارتباط کې پیلېږي او د شپاړسمې هجري پېړۍ تر لومړیو دوو دریو لسیزو پورې رسي.

دا دوره د پښتنو په سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ژوند کې د تحول او غورځنګونو دوره ده. پښتنو په دې دوره کې د ژوند په بېلابېلو ساحو کې ډېرې لوړې او ځوړې لیدلې دي. د دې لوړو ځوړو بشپړه څېړنه دلته مورد نه لري، خو د دې بحث له فرهنګي جریانونو سره په اړیکه کې د پښتنو د سیاسي، اجتماعي او فرهنګي ژوند ځینو ځانګړنو ته د ځینو ځغلنو اشارو اړتیا محسوسه بولم:

(۱) ددې دورې دپيل په درشل کې په هند کې دلودهي پښتنو پاچهي ختمه شوه (۹۳۲ هق). ددې پاچهۍ په ختمېدو سره د هند په نيمه وچه کې پرمېشتو پښتنو او ورسره په زړه کې پرپښتنو ډېر غلکرو ګوډګانيانو حملې او ناتاروغه پيل شول او پښتانه يې له ډېرو ستونزو او اجتماعي ناخوالو سره مخامخ کړل. د حالنامې يو بيان د هغه وخت د حالاتو ښه ترجماني کولای شي. په حالنامه» کې راغلي دي: ۱

«وچون کاروان به شهر قنوج رسيد در آن نواحی داماد بابرشاه آمده بود، چون مردم لشکر کاروان را ديدند داماد بابرشاه را واقف گردانيد که اين کاروان مردم افغان است، فرمود: مردم افغان را به قتل برسانيد ومالش را تاراج نمائيد. مردم لشکر افغان راکه ميافتند به قتل ميرساندند. درخانه ايشان درمی آمدند ودختران ايشان را به زور وظلم کشيده ميبردند» (۱)

ترجمه: «کله چې کاروان د قنوج ښار ته ورسېد، دې سيمې ته د بابرشاه زوم راغلی و. لښکريانو چې کاروان وليد، نو دبابرشاه زوم خبر کړ او ورته يې وويل: دا کاروان دافغانانو دی. هغه وفرمايل: افغانان مړه کړئ او مالونه يې تاراج کړئ. لښکريانو به چې افغان پيدا کاوه، نو به يې واژه، په کور به يې ورننوتل، لوڼه به يې په زور او ظلم له کوره ايستلې او بيولې.»

تر پنځلس کلن فترې ورووسته د هند پښتنو يو ځل بيا په هند کې د پاچهۍ واګې ترلاسه کړې، شېرشاه سوري (۹۴۲-۹۵۲ هق) او اولادې يې څه موده پر هند حکومت وکړ. خو دا پاچهي او واکمني ډېره ونه پايېده له او همايون په ۹۶۲ هق کال بيا نيولې وه (۲)

او په دې ډول په هند کې د پښتنو پاچهي پای ته ورسېده او بیا يې په وروستيو پېړيو کې پښتنو د هند په بېلا بېلو برخو کې محلي پاچهيانې جوړې کړې.

په دې دوره کې د تاريخي افغانستان سيمې ته هوتکي غورځنګ پېښېږي. تعقيب او ددې غورځنګ د بري ته نېژدې وروسته يې ځينې برخې او بيا د احمدشاهي غورځنګ تر بري پورې تر ټولو په يوه استقراري مثلث کې پنګېل وې. د شرق، غرب او شمال له خوا کاونډيو متقدرو امپراتوريو او خانانو د تاريخي افغانستان ځمکې په خپل منځ کې وېشلې وې او پښتنو کوم مرکزيت نه درلود.

خو د صدو په دوو دوه نيم سلو کلونو په جريان کې د تاريخي افغانستان په شرقي برخه کې دوه غورځنګونه را منځ ته شول.

له دغو غورځنګونو څخه يو روښاني غورځنګ و، چې مؤسس يې بايزيد روښان (۹۲۶-۹۸۵ هق) و، زامنو، لمسيو او کړوسيو يې هم تعقيب کړ. د دې غورځنګ د ماهيت په باب پوهانو او څېړونکو ډېرې خبرې کړې دي، چې د هغو انتقادي څېړل د پښتنو د اجتماعي سياسي تاريخ کار دی، اما له دې څېړنې سره په رابطه کې بايد دومره ووايو: هغه کسان چې دا غورځنګ محض يو مذهبي حرکت بولي او له ملي او سياسي ځانګړتياوو يې انکار کوي، هغوی د حالنامې د دې کتنو ځواب به څه کوي، حالنامه کې راغلي دي: «چهار پشت خاندان پير دستگير قدس سره در قبايل افغانان حاکمی کرد و هفتاد سال کم و بيش با مردم پادشاهی عداوت و حرب داشت

وگاه غالب وگاهی مغلوب بوده اند ... وهیچ عدو دست برایشان نیافتند
که به موجب آن مغلوب ومطیع کسی شده باشند مگر به سبب مخالفتی که
در میان خاندان پیدا شد واز یکدیگر جدا شدند واطاعت پادشاه
قبول نمودند » (۳)

ترجمه: « د پیر دستګیر د کورنۍ څلور پښتو په افغاني قبایلو
حکومت وکړ او زیات وکم او یا ځاله یې د پادشاه له خلکو سره
عداوت او جګړې درلودل، کله به غالب او کله به مغلوب وو
هیڅ دښمن پر هغوی بری ونه موند، خو هغه مخالفت چې هغوی
په کورنۍ کې پیدا شو له یو بل نه بېل شول او د باچا اطاعت یې ومانه»

تر روښاني غورځنګ وروسته د پخواني افغانستان د
شرقي سیمې د خټکو په خانانو کې د دې خانۍ او سردارۍ د مشر
لوی خان خوشحال خان خټک په ژوند کې یوه مرحله داسې راغله
چې خپل منصب او جاګیر او مرڅې یې پرېښوول او د خپل قام په
ننګه ودرېد او د پښتنو د یووالي دانا یې اوچته کړه:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو دي ننګ په کار پټ او اشکار

ښاغلی دوکتور راج ولي شاه خټک د خوشحال خان خټک ژوند
د دې مرحلې پیل او ددوه فکري تحول د خپلې PhD په تیسس
کې داسې تعبیر کړی دی: « د خوشحال د خپلې ځوانۍ تر وخته
شاید د منصب د ذمه واریو او تقاضو له سببه دې صورت
حال ته پام شوی نه وي، ولې ښکاري داسې چې هغه
ترېې یو لاشعوري تاثر ضرور اخیستی وو او شاید د غه وجه

چې کله موقع را غله نو هغه دیو ملي تهذیب ساز ولو بیرغ پورته کړ، د هغه ذهن لاشعوري طور دې منزل ته درالتلو لپاره تیار ېدو او چې کله تیار شو، نو بیا ورته منصبونه جاګیرونه هیڅ ښکار ېدل. قبیلوي تعصب یې ذهن نه بېخي وتی و او چې د خپل مرام د حصول لپاره یې قدره واخیسته نو یې وویل:

دا افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم «(٤)

دا دوه متو ز ګوشه د پښتنو په سیاسي، اجتماعي تاریخ کې خپل ځای لري. د دغه موفقیت علتونه یې د هغه وخت په سیاسي اوضاعو او احوالو، د پښتنو په سیاسي اجتماعي جوړښت او موقعیت او د پښتنو په ځینو فطري او رواني ځانګړنو کې لټول کېدای شي. د خوشحال بابا له مړینې ۱۹ کاله وروسته د تاریخي افغانستان په جنوب غربي سیمو کې یو بل ننګیالي د غلجو خلکو په مرسته د یو ملي قیام رهبري ته ملا وتړله. دا ننګیالی حاجي میرخان نیکه و، چې د کندهار د ملیونو په مرسته یې د افغانستان یوه برخه له بیګانو وژغورله او خپل ملي حکومت یې هلته قایم کړ (۱۱۱۹ هـ ق). پر دې قیام او د تاریخي افغانستان پر یوه برخه د پښتنو د آزاد حکومت موجودیت د پخواني افغانستان د نورو سیمو پښتانه هم وپر خوشحاله وو او ددې حکومت د پایښت او بري غوښتونکي وو. افضل خان خټک چې دا وخت د خټکو سردار او د هند د مغلي امپراتورۍ جاګیردار و، د میرویس نیکه د حکومت په باب کښلي وو: «تر دا تاریخ چې

سرن زړیتل ځلیږیشت دی، په قندهار ناست خپل حکومت او سرداری کا، توفیق یې رفیق شه، سبه پښتون دی « (۵)

د میرویس نیکه په لاس جوړ شوی ملي حکومت د ده د اخلافو په زمانه د تاریخي افغانستان د ننه ان تر (دېرو) پورې افغاني رنگې خپلې کړې او د غرب خواته له افغاني پولو واوښت او په اصفهان کې یې افغاني حکومت جوړ کړ. په کندهار کې د افغانانو دغه ملي حکومت تر ۱۱۵۰ هـ ق کاله پورې دوام وموند او بیا د نادر افشار په لاس سقوط شو. نادر چې د ارخت د افغانستان پر خلکو او په تېره پښتنو کومې نادودې کړې دي هغه د تاریخ په حافظه کې خوندي دي. له تاریخي اسنادو سربېره زموږ په فولکلور کې د دې وړې واقعې سنه انځور ایستل شوی دی. دادوی ناره په دې باب دکتو دي:

له زړ یانو سوې خالي د هېواد دړې — نادر وکښې د سید ال میرني سرکې

ص

شاه حسین ویل په نادر بندوق تهل ورخي
خو زما قوم ناپوه و، نادر ماته کړه زما ملا به خپل سوخي (۶)

دادوی ناره د نادر د قساوت او هم د پښتنو د خپلو بې اتفاقیو او ددوی د خپلو کمزوریو په باب جالب نکات وړاندې کوي شي.

د هوتکو د پاچهۍ تر رنگېدو وروسته بیا تر لسو کلونو پورې د تاریخي افغانستان ټولې سیمې د پردو قوتونو په ولکه کې وې، خو کله چې په ۱۱۶۰ هـ ق کال لوی احمد شاه بابا د شیر سرخ په لویه جرگه کې د افغانانو د ملي مشر او زعیم په توګه و ټاکل.

شو. نو ده په خپل تدبر او مېړانه او د ټولو افغاني قومونو په مرسته د افغانستان طبيعي حدود بېرته خپل کړل او د تاريخي افغانستان ټول او سپېڅلي د خپل واک او اختيار خاوندان شول.

تر احمدشاه او تيمورشاه وروسته د بابا د لمسيانو ترمنځ او بيا د سدوزو او بارکزو ترمنځ د مخالفتونو په وجه په افغانستان کې د نفاق او کورنيو جنګونو اور بل شول، عالمونه دې جګړو تباه کړل. په کشمير کې او سېدلي کندهاري رحمت داوي په خپله يوه قصيده کې دا وضع ښه انځور کړې ده، چې دا يو بيت يې هم زموږ د مدعا له ثبوت سره مرسته کوي، لکه:

داحمد فرزندان څرګ - د پرهالم يې ګرتوپان (۷)

ص

دافغاني و اکمنانو له بې اتفاقيو او خانه جنګيو دافغانستان ګاونډيانو ته زمينه په لاس ورکړه. د شرق او غرب له لورې زموږ پر هېواد حملې وشوې. سکهانو او ايرانيانو، دواړو صرفه ونه کړه. سکهانو دافغانستان ډېرې برخې لاندې کړې او ايرانيان هم په دې برخه کې له چا پاتې نه وو.

دا وخت په هند کې انګرېزي او په ماوراء النهر او مرکزي آسيا کې د تزاري روس استعماري هلې ځلې هم پرمخ روانې وې. دې دواړو استعماري امپراتوريو دافغانستان پر زمکو سترګې وکړې. چې له انګرېزانو سره د

افغانانو دوې جګړې په همدې د ورې پورې اړه لري .
د ظلم رنګه لښکر استعمار ځواکونو سره هم زموږ مېړنو جنګونه وکړل . د هرات د سيمو اولسي پښتانه شاعر زاهدخان ابراهيم زي له خوا ځواکونو سره د افغانانو د جګړو تصوير په يوه اولسي چاربيته کې ريستلی دی ، د همغې چاربيتې سر دادی :

جنګ دی په پنجده غوث الدين خان ويل لښکرته
فخريه باندې راغله پښتنو کښېنئ سنګرته (۸)

د همغو دوو استعماري امپراتوريو د شوم اهدافو په بنا افغانستان خپلې ډېرې زمکې له لاسه ورکړې ، څو بالاخره د همدغو استعماري دسيسو پر بنا په ۱۸۹۳ع کال د ډيورنډ معاهده لاسليک شوه .

خان عبدالولي خان په خپل يو نوي اثر کې چې د معتبرو آرشيفي اسنادو په بنا يې ليکلی دی ، د دغو دوو استعماري امپراتوريو په خپلو کې ، د افغانستان د زمکو د ويش ، پر موضوع يو ځای کښلي دي : « لندن او سنټ پيټرزبورګ کښېناستل د افغانستان تقسيم يې شروع کړلو . خاوره ، ملک او ناموس د پښتنو و او ويش تالان ترې کښېناستل » (۹)

د افغان او انګليس تر دوهمې جګړې وروسته امير عبدالرحمان خان ( ۱۲۹۶ - ۱۳۱۹ هـ ق ) په تدبر او فراست په موجوده افغانستان کې امنيت ټينګ شو ، خو تاريخي افغانستان کډ وډ شوی و او استعماري کاونډيو خپله برخه بېلې کړې وه .

د پښتنو د ادبي تاريخ د دوهمه دوره له دغو يادو شويو اوځينو

نورو د ډېرو سياسي تحولاتو سره مله راغلي ده چې ما يې لوړ يادونه وکيښې .

(۲) په دې دوره کې پښتانه د هند په نيمه وچه کې لا پسې خواره شول ، تر شرقي او جنوبي هنده ورسېدل . له ايران او ماوراء النهر سره يې هم اړيکې نوې مراحلو ته داخل شول ، ځکه نو راتلونکو او په دې سيمو او هېوادونو کې د پښتنو د ميشتېدو تاريخي شواهد او اسناد شته . کاوندېو هېوادونو ته له انفرادي ، ګروپي او کتله يي مهاجرتونو سربېره د تاريخي افغانستان د منځ هم ځينې ورې لويې لېږ دېدنې وې . د کندهار ، کابل او ننګرهار له سيمو نه د پېښور او روه نورو شرقي او شمالي برخو ته د پښتنو هغه لوی-لوی مهاجرتونه د دې دورې تر پيل د مخه لا پيل شوي وو

لنډه دا چې په دې دوره کې د سيمې له نورو اولسونو سره د پښتنو اجتماعي روابطو لا زياته پراختيا پيدا کړه او ځينې پښتانه د سيمې د هېوادونو له بېلا بېلو او لسونو سره محشور او خلط شول .

(۳) دا خبره بايد له ياده ونه غورځوو چې حتی د يوويشتمې پېړۍ په درشل کې لا هم د پښتنو زيات وکم دوه ميليونه تولنه ميشته نه ده . د غه خلک په کوچياني اقتصادي روابطو کې واقع دي او دا اقتصاد د ابتدايي تر بيه بنه لا تر اوسه پکې چلېږي . مګر دوی تر څنګه په دې دوره کې نورو پښتنو د ځمکو ، جاګيرونو ، ګلداري تجارت ، سپاهيګرۍ او نورو لپارو نه د خپل ژوند د تامين وسايل تر لاسه کړي دي . د ژوند سطح په ټولو پښتنو سيمو کې له نسبي توازن نه برخمنه نه وه او تر اوسه هم نه ده . د اجتماعي

اقتصادي انکشاف پړوسه په ډېرو پښتني سيمو کې ورو ورو روانه وه او تر اوسه لا روانه ده.

په دې دوره کې که څه هم د پښتنو تجارت، زمکو او رمو کلو له لياري څه عوايد تر لاسه کول، مګر نورو په ډېرو بدو اقتصادي شرايطو کې له فقر او بدبختۍ سره ژوند کاوه. د دې دورې په وروستيو کلونو کې چې پښتانه سره بېل کړل شول، نو اقتصادي مناسبات له پخوانه د افغانستان په ختيځ او لوېديځ کې سره متفاوت وو، په دې دوران کې نور هم سره په توپير کې راغلل. هغه پښتانه چې په برېتانوي هند پورې تړل شوي وو، هلته نويو اقتصادي مناسباتو وده وموندله او تر نويو شرايطو لاندې يې ځيني ژوند سمبالاوه.

(٤) که څه هم پښتانه له عربي ژبې او فرهنګ سره د اسلام له اوايلو اشنا شوي وو او له دري ژبې سره آشنايي او پر پښتونولۍ د دري ژبو ورونويي فرهنګي اثرات هم لرغوني سوابق لري. په دې دوره کې د لومړۍ دورې په پرتله په پښتنو کې د سواد دنيا تېده او عامېدو له امله له دغو يا دوشوبېو فرهنګونو سره روابط او مناسبات لا پراخ شول. د هند نيمه وچه، ايران او ماوراءالنهر ته د پښتنو ورتګ دوی د دې سيمو له فرهنګونو او ژبو سره اشنا کړل. په زياته د هند د نيمې وچې له څو ژبو را ترجمه شوي پښتو آثار په دې دوره پورې اړه لري.

د دې دورې په وروستيو څو لسيزو کې د افغانانو په هېواد کې د انګرېزي استعمار د نفوذ له پيل اکبدو او پر ځينو سيمو دګ

دتسلط د ټينګېدو له امله ځينو پښتنو انګرېزي ژبه هم زده کړه.

(۵) د دې دورې په وروستيو لسيزو کې د تاريخي افغانستان په شرقي سيمو د انګرېزي استعمار د پيشروۍ له امله د نوي تمدن نخښې په دې سيمو کې څرګندې شوې. د هغه رات په کابل کې هم د امير شيرعلي خان د دوهمې باچهۍ (۱۲۸۵-۹۶ ۱۲ هق) په دوران کې د نوي عصري ژوند نخښې را څرګندې شوې: چاپخانې، اخبار او د کتابونو د چاپ کار پيل شو ل . د هند په نيمه وچه او بيا د تاريخي روه (افغانستان) د شرقي برخو په مشهور ثقافتي مرکزپېښور کې خو لا طباعت تر کابل پخوا رواج شوی و او د پښتو آثارو چاپ د هند په نيمه وچه او پېښور کې پيل و. د نوموړيو تحولاتو د پښتنو په اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي روابطو خپل خاص اثرونه څرګند کړي دي .

د پښتو د ادبي تاريخ په دوهمه دوره کې چې د پښتنو پر ټولنه او هېواد کوم سياسي، اجتماعي تحولات او انقلابونه راغلي او د کومو اقتصادي مناسباتو د لاندې چې دوی ژوند کړی او کوم فرهنګي اثرات چې دوی منلي او يا دوی پر نورو منلي او هم هغه تحولات او د غربي ژوند ژواک اثرات چې د دې دورې په وروستيو کې پر دې خلکو طاري شوي او پر دې هېواد راغلي دي، د دې ټولو تحولاتو، تغييراتو او انکشافاتو د دوی د فرهنګ مؤسسه متأثره کړې ده او د دوی د دې دورې فرهنګي زېرمې

د همدغو شرایطو په رڼا کې را زېږ بدلي او ترمونږه رارسېدلي دي. مونږ چې اوس په دوهمه ادبي دوره کې د پښتو نثر تاریخي سیر څېړو، نو د دغو ټولو سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي شرایطو او روابطو اغېز مني به مونږ د پښتو نثر د ودې او په شا تګ په مسأله وو وینو.

د پښتو نثر د پیدا ښت، پایښت او پرمختیا دا دوهمه دوره زما د مطالعې له مخې په لاندې څلورو پړاوونو کې مطالعه کېدای شي:

(۱) د مسجع لیکنې پړاو

(۲) بیرته عادي نثر یا ساده لیکنې ته رجوع؛ ۳. د پښتو نثر کره لیکنې پړاو

(۴) د پښتو نثر پرمختللي اصلاحي پړاو او د هنري نثر د پیدا ښت زمینې.

په دې دریو یا دوشویو پړاوونو کې په زیاته به د دوهم پړاو کې مونږ د دې پړاو د آثارو ترمینځ ځینې سبکي او فکري تفاوتونه وینو، چې یې د دې پړاوونو ترمینځ د ځانګړیو جریانونو په نامه سره بېلولای شو او داکار به انشاء الله د دې پړاو د مطالعې په جریان کې ترسره شي.

## مأخذونه:


(۱) مخلص، علی محمد: حالنامه، به کوشش نورالله ولسپال، اکادیمی علوم افغانستان، کابل، ۱۳٦٤ هـ ش، ۸ مخ.

(۲) حبیبي، پوهاند عبد الحی: تاریخ مختصر افغانستان، طبع دوم ۱۳٦۸ هـ ش، پیښاور، ص ۲۰۱.

(۳) حالنامه ، ص ٦٣٦ .
(٤) خټک دوکتور راج ولي شاه ، د پښتو ادبي تحریکونه ، پښتو اکیډمي پېښور ، جدون پرس ، ۱۹۸۹ع ، ۱۵۹ مخ .
(۵) خټک ، افضل خان ، تاریخ مرصع ، د استاد کامل په زیار ، یونیورسټي بک ایجنسي ، پېښور ، ۱۹۷٤ ، ٤۰۲ مخ .
(٦) رفیع، حبیب الله ، د خلکو سندرې ، تاریخ و ادب ټولنه ، کابل، دولتي مطبعه ، ۱۳٤۹ هـ ش .
(۷) داوي، رحمت : دیوان رحمت داوی ، د همیش خلیل په زیار ، پېښور ، ۱۹۸۰ع .
(۸) هوتک صالح محمد او سعید سراج الدین : تذکرة الشعراء (خطي ) د افغانستان د ملي آرشیف نسخه ، ۲٤٦ مخ .
(۹) خان عبد الولي خان : باچا خان او خدایي خدمتګاري، پېښور، ۱۹۹۳ع ، ۲۳ مخ .

«۳»

# په پښتو کې د مسجع نثر پيدايښت او پرمختيا

په شرقي ژبو کې عربي او دري هغه دوې ژبې دي چې په فرهنګي ساحه کې تر ې پښتو د برخه اخيستي دي او دواړو ژبو اثرات د پښتو پر ليکلو فرهنګي آثارو مشهود دي.

د دې دواړو ژبو د نثر تاريخونه که و پلټل شي، نو ښکاري چې د دواړو ژبو د نثر ليکنې په جريان کې يو دوران داسې راغلی دی چې ليکوالو يې په نثر ليکنه کې د ساده نويسۍ پرځای مسجع او مصنوع سبک غوره کړ او په دې سبک کې يې نثرونه وليکل.

اروا ښاد استاد عبدالحی حبيبي د پښتو ادبياتو تاريخ په دوهم ټوک کې په پښتو کې د مسجع ليکنې د رواج په ارتباط په عربي او فارسي ژبو کې د نثر د دغې شېوې د ليکنې پر سير هم ښې خبرې کړې دي. نو هم په دې ځای کې د موضوع د روښانتيا

لپاره ځینې لنډ توضیحي بیانونه اخلم :

عربي نثر د جاهلیت په دوره کې ډېر ساده او روان و ، سجع او مکررات یې نه درلودل ، خو کله چې دوی د هجرت په دوهمه پېړۍ کې د نورو اولسونو له آثارو او کتابونو سره اشنا شول ، نو بیا د دغو اثراتو له امله عربي نثر خپل پخوانۍ ساده والی له لاسه ورکړ او په عربي نثر نګارۍ کې د سجع خوا ته توجه وشوه . د دریمې پېړۍ په جریان کې بیا عربي نثر دا ډول اثرات ومنل او د څلورمې پېړۍ په عربي نثر لیکنه کې د مسجع او مصنوع نثر لیکل باب شول ، په دې ډبه کې د دې سبک لومړنی مؤسس عبدالحمید بن یحیی ګڼل کېږي . (۱)

دري نثر د سامانیانو او غزنویانو په وخت کې ډېر روان او ساده و ، خو بیا وروسته د آریایي ادبیاتو او هم د عربي د فني نثر د اثراتو له امله په دري نثر کې هم سجعې او موازنې ته توجه وشوه او د شپږمې پېړۍ په جریان کې په دري نثر لیکنه کې هم مصنوع او متکلف نثر وده وموندله . (۲)

داکتر ذبیح الله صفا هم د دې نثر د پیدا ینبت په ارتباط په تفصیل سره د دغې وینا وې کړې دي چې د ځینو برخو راوړل یې زموږ د موضوع له روښانتیا سره مرسته وکړي ده لیکلي دي :

« فارسی روان ودل انگیزی که در آثار دورهٔ سامانی میبینیم اندک اندک به نثر متکلف مصنوع که امیزش بسیار با تازی یافته باشد بدل میگردد . مبداء و منشاء اصلی تغیر سبک پارسی را درین عهد باید رواج ادبیات عربی درمیان

طبقه درس‌خوانده دانست و این امر علاوه به آن که نتیجهٔ نفوذ روز افزون دین اسلام و متعلقات آن بود، از توسعه مدارس دینی و تعداد آنها در سراسر کشور نیز حاصل شده ...» (۳)

ترجمه: «هغه رواني او زړه وړونکي پارسي چې د سامانیانو په دوره کې مونږ ګورو ورو-ورو په مصنوع او متکلف نثر اوړي او یوه داسې بڼه غوره کوي چې له عربي سره ډېر ګډه شوې ښکاري. د دې سبک د ترویج علتونه باید په لوستي طبقه کې د عربي ادبیاتو له رواج سره په ارتباط کې ولټوو. دغه راز د اسلام د مقدس دین ورځ په ورځ زیاتېدونکي نفوذ او په ټول هېواد کې د دیني مدارسو پرمختیا او پراختیا هم د دې کار په چټکتیا کې مرسته کړې ده ...»

که چېرې په پښتو کې مونږ د مسجع نثر د پیدا ښت جاج واخلو هغه هم له داسې یو وخت سره اړه لري چې د عربي او دري ادبیاتو نفوذ د پښتو پر لوستي قشر زیات شوی دی او زمونږ دیني علماوو غوښتي دي چې خپل تحلیلي آثار په دغسې یو سبک ولیکي چې زمونږ څېړونکو مسجع نثر، قافیه وال نثر او یا نیم منظوم سبک بللی دی.

د دغو فرهنګي اثراتو تر څنګه د پښتنو د جامعې خپلو شرایطو او ضروریاتو هم د دې سبک ایجاد ته زمینه مساعده کړه.

## په پښتو کې د مسجع لیکنې پیدا ښت :

د پښتو د لومړي دور نثر چې نمونې یې مونږ د سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء کې ګورو، د اروا ښاد استاد حبیبي په تعبیر ساده، بسیط، واضح، خوږ او څرګند و (٤) لکه دا نمونه :

«نقل کاندی چې بیهتی سپین ږیری سو، نو د ه به هرکله ښتن ستایه او رب ته به درخواست کاوه چې زما په کاله او دسړبن او عزښتي په کول کې برکت کښېږده، باداس قبول کا داخواست او ډکه سوه زمکه د پښتنخا ددوی په کول.» (۵)

اما ددوهمې دورې په لومړي پړاو کې چې موږ د پښتوکوم نثر مومو هغه دسلیمان ماکو غونډې په نسبي ډول روان او له وړو جملو نه جوړ شرکند نثر نه دی، بلکې یو داسې سبک دی چې داوږدو جملواوعبارتونو پای کې دسجع رعایت کوي لکه دانمونه:

« په قهر به ورته وایي چې خدای دې څوک دی. پیغمبر دې څوک دی او دین دې کوم دی. ترو به گنهکار هسې ورته وایي چې ما اورېده په ژبه مې ویل چې خدای یو دی ولې په یگانگی نه پېژنم چې به څه یو دی، یا به له ډاروېره وایي چې خدای می ته دې سبحان.» (٦)

په پښتوکې ددې سبک رواجوونکی دروښانی غورځنگ مؤسس بایزید روښان (٩٢٦-٩٨٥ هـ ق) دی. دده دمشهور کتاب خیرالبیان پښتو برخه دغه سبک پالي او دې کتاب په پښتوکې د مسجع نثر پیدا ښت ته زمینه برابره کړه.

خیرالبیان دبایزید دخپلې وینا له مخې یو الهامي کتاب دی (حالنامه) دخیرالبیان دپرداخت شېوه هم په دې گواهي لي چې بایزید داکتاب الهامي بولي، لکه: او بایزید!

وکښه خیرالبیان، په هغسې الحان چې لوست سورت الرحمن

زه عاجز بنده عامي یم، خپس وتاوته ګنهکار او بدکار ګڼم له

واړو ګنه کارانو د محمد په امت کې علیه السلام، ولې امیدواري

مې ستا وښیګڼې ورحمت و بخښش وته ده. راوبخښه وماته

اوزما یارانو اوفرمان بردارانو او محبتي وته ګناهان. بل مې

زه وقرارشې او ستا وکلام وته وګارشې او سجان!

خیرالبیان په څلورو ژبو: عربي، دري، پښتو او هندي

کښل شوی دی. د دې کتاب کرمه نسخه (د آلمان د تیوبنګن نسخه)

چې تر اوسه د پښتو تر منځ مروج ده، په دې نسخه کې د کتاب

پیل له لومړي مبحثه پر ته په نورمتن کې دا څلورسره ژبې

نه لیدل کېږي، خو د خیرالبیان هغه نسخه چې څوکاله د مخه

ما د هند دا اندهراپردیش د ایالت د مرکز حیدرآباد په

سالارجنګ موزیم کې وموندله په دې نسخه کې د کتاب

مطالب په څلورو ژبو کې راغلي دی. (٧)

د خیرالبیان په بیانونو کې د نمانځه دفرایضو، واجباتو

او سنتونو بیان، دغسل بیان، دتیمم بیان، داو داسه بیان،

د نجاست د مکروهاتو، اوامر او نواهیو بیانونه، دروژې، زکوة

او حج بیانونه، د نفس، ژوند مرګ، عذاب دګور، ایمان، ذکر

خفی، ورسره د روښاني تصوفي لارې مقامونه لکه: شریعت،

طریقت، معرفت، حقیقت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت

خبرې راغلي دي. د دې کتاب د بیانونو او ژبو باب په خیرالبیان

کې راغلي دالاندې مطلب هم زموږ د مدعا له اثبات سره مرسته

کوي: « ګوره کړی مې دی خیرالبیان په څلورو ژبو موافق له قرآن، پکښې دی بیان د رښتیا، دروغ، د حلال وحرام، دکړه نه کړه د هر مقام به تا دې وی اعلام » (٨)

لنډه دا چې په خیرالبیان د روښاني لارې دیوه لاروي لپاره د لارې د خوځښت تګلاره برابره شوې او هغه څه چې، د دې طریقې امام یې، پیروي د خپلو مریدانو او عامو خلکو لپاره لازمه بلله، هغه یې په دې کتاب کې بیان کړي دي.

د حالنامې یو روایت دی چې کله بایزید وفات شوه، نو یارانو تر ې وپوښتل چې وخت نازک دی او پیر دستګیر باید څه وفرمایی، نو پیر دستګیر و فرمایل: هغه څه چې لوی خدای جل جلاله زمانږه ته الهام کړي وو، هغه ټول ما په خیرالبیان کې راوړل او په دې کار کې مې له بخل نه کار نه دی اخیستی.

له دې روایت نه دا سې ښکاري چې د روښاني لارې اساسي کتاب همدا خیرالبیان دی.

د خیرالبیان د بشپړېدو کال په کتاب کې واضح نه دی ځرګند د بنا علي شر قلندر مومند د ښیرنې له مخې بایزید له ٩٥٧ هـ ق) کال نه مخکې د الهام دعوی کړې ده (٩) په همدې اساس باید دا کتاب د لسمې پېړۍ د دوهمې نیمایي په لومړۍ لسیزه کې بشپړ شوی وي.

د خیرالبیان پښتو نثر چې څه نمونې یې تاسې لوستې وکتلې، نمونې په فرهنګي تاریخ کې د مسجع نثر لومړنۍ نمونې دي او تر دغو نمونو د مخه موږ د نثر لیکنې د دې سبک نورې

زړې نمونې نه لرو، نوځکه مونږ بایزید په پښتو کې د مسجع لیکنې پیلوونکی او د ده خیرالبیان په پښتو کې د مسجع نثر لومړنی منظم کتاب بولو. دا یې ځینې کسان لکه دوکتور میرولي خان مسعود دی د پښتو نثر لیکنې باني ګڼي (۱۰) دا خبره سمه نده ځکه تر ده د مخه مونږ د پښتو نثر نمونې هم لرو او د نثرلیکنې روایات هم.

د بایزید د خیرالبیان د شکلي جوړښتونو په باب زمونږ په معاصرو پوهانو کې په اند رشادخبره کړې اود خپلو څېړنو په مرستې یې دا واضحه کړې ده چې د بایزید د خیرالبیان که ټولې نه وي، نو ډېرې برخې یې خو نظم دي. دوی خپله د دغه څېړنې د « خیرالبیان نظم دی که نثر؟ » تر سرلیک لاندې د بایزید روښان څلورسوم تلین د بین المللی سیمینار په مناسبت بشپړه کړه او هماغه وخت د ورځې مجلې چاپ کړه. د استاد د دې څېړنو خپل ځانګړې ارزښت دی. د دغه راز زمونږ له پوهو پوهانو پروفیسور تقویم الحق کاکاخیل نه سباغلی حنیف خلیل د اخوند درویزه د څرګندونو په رڼا کې د خیرالبیان د سبک په باب پوښتنه کړې وه، نو دوی یې په ځواب کې ویلي وو چې: « نثرمسجع د شعرابتداء ده یعني شعر چې نثر ته راشي نثر مسجع شی. »

د خیرالبیان د سبک په باب زمونږ د مشرانو خبرې ګټورې دی، خو کېدای شي په دې باب ځینې نورې خبرې هم وشي، لکه:
- که د عروضي څېړنو له مخې اود تقطیع د روښونو په مرسته د خیرالبیان ځینې ټوټې تقطیع شي، ضروري یې یوه برخه نظم کېږي

ځيني برخې يې د اخواص لري او حتی ځينې دوغ بيتونه هم ښکي ښتته ، لکه دا بيت :

مرګ به ورشي وسږي ته ناګهان

نښته د سړي به دنيا کي تل دتله مقام (١١)

اما په بنيادي ډول بايزيد د اکتاب په داسې يو سبک ليکلی دی چې اوس يې زموږ پوهان مسجع نثر بولي او د نثر ليکنې دا شيوه د يوه جريان په حيث په نورو ژبو کې هم سابقه لري او پښتو ته هم د ليکنې دا سبک په يوه خاصه زمانې مقطع کې راغی او تر ډېره يې پايښت وموند ، ډېرو ليکوالو په دې سبک چېر آثار بشپړ کړل . د دې سبک د ځانګړتيا او شعوری رواج په باب زما بل دليل دادی چې که بايزيد غوښتل چې خيرالبيان په نظم بشپړ کړي ، نو دا کار خو يې په اسانه کولی شو ، ځکه ده په پښتو نظم دوې رسالې راپاتې کړي دي ، لکه تذکره د علم او فرحت المجتبیٰ د غه راز يې په دری هم نظمونه پريښې دی ، چې نمونې يې موږ په حالنامه کې مومو .

دا چې زموږ مشر پروفيسور تقويم الحق کاکاخيل ويلي دي چې نثر مسجع د شعر ابتداء ده ، زه په ډېر احترام خپل د غه مشر ته عرض کوم چې دا خبره له تاريخي واقعيتونو سره سمون نه لري .

۱- په عربي ژبه کې مسجع نګاري په ځلورمه پېړۍ کې رواج شوې ده ، حال چې په عربي شعر تر دې زمانې ډېر لرغونی دی او د جاهليت د دورې قصايد خو د عربي ادب نقادانو په رايه

ددې ژبې دادبياتو دسرتاج دی.

۲- په دري ژبه کې د نثرليکنې مصنوع او متکلف سبک په شپږمه پېړۍ کې باب شوی دی، حال دا چې شعر تر دې زمانې د پر لرغونی او دفردوسي د شاهنامې غوندې جهاني شهکار او نور د پر د يوانونه په دې ژبه کې د مسجع ليکنې تر دوران د مخه موجود شوي وو.

۳- پښتو هم د دغسې مشابه جريانانو تابع ده، د پښتو ادبياتو د لومړۍ دورې له منظومو آثارو برسېره همدغه مسجع نثرنګاران اکثرا نظمونه لري، حتی ځينې د ومره اوچت نظمونه لري چې د شعريت ټول اسباب او لوازم سره يکې موندلی شي، لکه د اخوند درويزه او اخوند احمد او نورو ځينې غزليات او شعري انواع له دې برسېره د بايزيد د پښتو ايجاد يانو په باب اروابناد سرمحقق دوست شينواری د انظر درلود چې بايزيد روښان تذکره دعلم (علم رساله) تر خيرالبيان د مخه ويلې ده (۱۳) پردې باب ده ځينې مقنع دلايل هم وړ اندې کول. که خبره دغسې وي، نو بايزيد تر مسجع نثر نظم د مخه ليکلی دی.

بايزيد روښان (رح) چې خيرالبيان په کومه شېوه ليکلی دی د دې سبک د خصوصياتو په باب زما په عقيده د اروابناد استاد حبيبي تر دغو لاندې خبرو اضافي خبرې بنايي د پر خوندونه لري. استاد ليکلي دي: « سره له دې چې د آهنګ د ساتلو لپاره روښان د پښتو جملې سره اړوي او د محاورې له جاري دولـه تخاف کوي، (خو) بيا هم د ده نثر له وضاحته

او صراحته نه وزي، خپل مقاصد په فصاحت ادا کوی او له دې جهته خپل نثر ته يو خاص ملاحت هم بخښي .،، (۱۳)

د بايزيد خيرالبيان ښوونيز، روزنيز او لارښودي اهداف تعقيبوي او مؤلف د عامو خلکو او خپلو مريدانو د فايدې او ګټې لپاره ليکلی دی . په دې کتاب کې د دغه پول کتابونو اهدافو ته په پاملرنه مطالب او مقاصد ښکاره بيانېږي او تفسيرېږي . کله چې بيان ښکاره او مسايل تفسير شي نو په دغسې موارد وکې ادب او هنر ځای نه لري، په همدې اساس په صراحت داويلی شو چې خيرالبيان هنري او ادبي ارزښت نه لري، مګر د اچې دا کتاب د پښتو د يو غورځنګ د باني له خوا ليکل شوی دی او هم يې له لارښوونې او تعليمي ارزښتونو سترګې نه شي پټېدای، نو ځکه زموږ په فرهنګي تاريخ کې د مطالعې خپل ځای لري او له دې سربېره خيرالبيان لومړنی پښتو اثر دی چې د يوې منظمې عرفاني مفکورې اساسات بيانوي او زموږ په هېواد کې د فکري جريانونو د مطالعې په دوران کې نشي هېرېدای او د خيرالبيان ارزښت له دې پلوه ډېر لوړ دی، زموږ په لرغونو پښتو آثارو کې د عرفاني افکارو د بيانولو ځرکونه سرې ليدای شي او د عرفان ريښې په خپلو ادبي آثارو کې پيدا کولای شو، خو هغه منظم نه دي او له يوې سوځنده الهي مينې حکايت کوي او يا هم د تصوف د ځينو ځانګړو ځانګړنو بيان پکې شوی دی، اما عرفان د يوې مشخصې

مفکورې په حیث بایزید په خپلو آثارو کې وړاندې کړې، چې د دې مفکورې ځینې غوښتنې، ضرورتونه لوازم او اساسات په خیرالبیان کې هم بیان شوي دي.

## د مسجع لیکنې پیروي او پایښت:

په د مخنیو بحثونو کې تاسې ولوستل چې مسجع لیکنه په پښتو کې څنګه شروع شوه او چا پیل کړه؟ اوس به نو وګورو چې نورو هم د دې سبک پیروي کړې ده او که نه؟ په دوښا بیانو کې چې چا په پښتو نثرونه لیکلي دي د هغو د نثر لیکنې شیوه له خیر البیانه بېله ده. دا چې روښانیانو ولې په نثر نګارۍ کې د خیرالبیان شیوه نه ده تعقیب کړې زما په یوهه روښانیانو دا باور درلود چې خیر البیان یو الهامي کتاب دی، ښایي د درناوي او د خیرالبیان د سبک اصالت د خوندي ساتلو په منظور یې دا سبک نه دی تعقیب کړی.

اما چا چې د دې سبک پیروي وکړه هغه د افغانستان مشهور متشرع عالم او د بایزید د افکارو سرسخت مخالف اخوند درویزه ننګرهاري (۹٤۰-۱۰۲۸ هق) و، چې د خپل مشهور اثر مخزن الاسلام ځینې رسایل یې په داسې سبک و لیکل چې هغه په کلیت کې مسجع نثر بالـه شی او ښانې ېې په پښتو کې بایزید روښان ته.

داخوند درویزه مخزن الاسلام د ګڼو رسالو او مضامینو مجموعه ده چې زیاته برخه یې د اخوند (رح) خپلی لیکنې او

ترجمې دي او ځيني برخې يې د ده دکورنۍ دغړيو، لکه : ملا اصغر، اخوند کريمداد، رحيمداد (عبدالرحيم)، عبدالسلام، عبدالحليم او مصطفی محمد مسجع ته نثر او زياتره هم رسا-نظمونه دي چې ځينې يې حتی د شعريت مزاياوې هم لري او د شعر درشل ته ور رسيدلي دي .

په مخزن الاسلام کې د اخوند درويزه له متفرقو نوشتو سربيره د ده دا لاندې رسايل هم راغلي دي :

(۱) د سراج الدين ابو محمد عبدالله بن عثمان الاوشی الفرغانی (۵۷۵ هق مړ) د قصيده امالی (۵۶۹ هق نظم ترجمه) دا برخه د مخزن د لومړنۍ بيان دی .

(۲) قصيدهٔ برده ترجمه، دا قصيده شرف الدين ابو عبدالله محمد بن سعيد البوصيری (۶۹۵ هق مړ) ويلې ده او اخوند درويزه د مخزن په دريم بيان کې په پښتو ژباړلې ده .

(۳) عقايد نسفی، د علم الکلام دا معتبره رساله امام نجم الملة والدين ابو حفص عمر بن محمد بن اسماعيل بن محمد بن لقمان-النسفي کښلې ده او اخوند د مخزن په دريم بيان کې راژباړلې ده . دا عقايد درې برخې يا درې مقالې دي . په لومړۍ کې د خدای (ج) په دوهمه کې د نبوت او امامت او په دريمه کې د آخرت په باب مطالب او بيانونه راغلي دي . استاد پوهاند رشاد ويلي دي چې اخوند درويزه د عقايد نسفي په ترجمه کې ځای په ځای د علامه تفتازانی له شرحې څخه هم د توضيح په منظور کټه اخيستې ده (۱٤) .

(٤) د مخزن الاسلام پنځلسم بیان کې د لطف الله نسفي الکیداني (٥٧٥ هق) د خلاصهٔ کیداني پښتو ترجمه راغلې ده. خلاصه د لمانځه په باب د حنفي فقهې یوه کوچنۍ رساله ده.

(٥) پنځم بیان یې چې درې فصله لري. اول فصل یې د ضیاء الدین امام محمد شامي د عقاید و د بحثونو ژباړه ده. دوهم فصل یې د دولسو فرقو عقاید دي چې د اعقاید هم نسفي لیکلي دي او اخوند درویزه یې پښتو ترجمه کړي دي.

(١٥)
د تجوید رساله چې د مخارج حروف په نامه په دریم فصل کې راغلې ده

(٦) د مخزن الاسلام شپږم بیان د درویزه د الفنا مې دی چې د روښاني الفنا مو په مخالفت کې یې ویلي دي. په دې ارتباط داخوند (رح) خیله وینا داده: «این فقیر نیز محض از برای مخالفت ایشان چیزی تقریر نمود.» ترجمه: «دې فقیر یو ازې له دوې سره د مخالفت له امله څه ویلي دي.»

(٧) د نکاتو بحث دی چې په ٢٣ نکتو کې یې بېلا بېل موضوعات یې بیان کړي دي.

یو بل بحث چې عنوان یې په مخزن کې داسې راغلی دی:

«در ذکر علتی که سبب شده است مر تالیف این کتاب را»

دا بحث په پښتو او درې دواړو کې راغلی دی. د روښان او روښانیانو په باب یې له خپل نظر سره سم ځینې خبرې یې کړې دي.

اخون درویزه چې د مخزن بیانونه لیکلي او یا ترجمه کړي دي په هغو کې یې د لیکنې یا ترجمو کلونه، نه دي ښودلي، خو

داسي ګومان کېږي چې اخوند (رح) د روښانیانو دفعالیتونو دزور اوشور په دوران کې په بېلا بېلو وختونو کې د دوی له نفوذ سره دمقابلې او د ده په عقیده د خلکو دګمراهۍ د مخنیوي په خاطر دا رسایل ترجمه کړي او لیکلي دي .

زما ددې خبرو ملاتړ د اخوند په دې لاندې لیکنو کې موندل کېږي :

«اما سبب تالیف این کتاب : معلوم باد که فی زماننا در افغانان یوشخص زندیق پیدا شده بود ... در آن زمان شهرت تام یافته نام او بایزید بود ، لقب خود را پیرروشان کرد و فقیر لقب اورا پیرتاریک کرد. به زبان افغانی شعر میگفت ، فقیر برخلاف او شعر افغانی آغاز کرد ... »

له دې خبرو څخه سړی پوهېږي چې د بایزید دخیرالبیان او منظومو رسالو تر عامېدلو وروسته یې د مخزن توری لیکلي او ترجمه کړي دي . چې په دې حساب د مخزن د بېلا بېلو رسالو او ټوټو د ترجمې او لیک وختونه دلسمې پېړۍ وروستۍ لسیزې او د یو ولسمې پېړۍ او دوهمه لسیزه اټکل کېدای شي . د خبرو نکو دا رایه ده چې اخوند (رح) مخزن د خیرالبیان ، ارشاد-الطالبین او ارشاد المریدن د مقصود المومنین او فخرالطالبین او تذکرة الابرار والاشرار د حالنامې په وړاندې لیکلي دي (١٦)

مخزن لومړی ځل په ١٠٢٤ هـ ق د ده زوی اخوند کریمداد راټول کړی دی . دوهم ځل یې کړوسي مصطفی محمد په ١١١٢ هـ ق کال راټول کړی دی . په دواړو وارو کې د اخوند دکورنۍ د غړیو او د دوی مرید انو لیکوالو او شاعرانو ملحقات

هم ورسره مله شوي دي . دمخزن له څينو خطي نسخوسره د ملحقاتو پنډې پنډې مجموعې ملې دي .

له دې بحثونو نه وروسته به اوس را شو. دې ته چې دمخزن سبک او شکلي جوړښت څه دی؟

اخوند(رح) لکه چې تاسې یې بیان ولوست ، مخزن نظم بولي ، اما خوشحال خان خټک چې مخزن لیدلی هم یې وایي دي:

مخزن مې داخون چې تمامي په نظر کښېوت
په ده کې نه عروض شته نه یې مابحر موندلی
ص

بیا :

که یوه مصرع په شل بله په سل ده
نا مربوطه ناموزونه په و سیل ده

اما همدې خوشحال بابا په سواتنامه کې دمخزن په باب د سوات د شیخ میانور نظر هم راوړی دی ، چې هغه دا کتاب څه باله ، خوشحال بابا دهغه له خولې وایي دي:

بل د مونږ مخزن نه شعر نه بیان دی
بیان شوی نظم نه دی په بل شان دی

بیا دوباره خوشحال بابا په دی ارتباط خپل نظر داسې څرګند کړی دی:

ماوی بس زما مقصود مراد هم دا دی مدعي په دا خبرو خود اګاه دی
دینیز ستاینه کوره په مخزن کی ـ هم مخزن نه دی دشعر په هر فن کی(۱۷)

له دې بیانونو څخه دا را وزي چې نه خوشحال بابا او نه شیخ میانور مخزن نظم بللی دی . اما زمونږ په معاصرو پوهانو کی استاد رښاد

د مخزن زیاتره رسالې نظم بولي او استاد رښتین خپله نظریه په دې باب داسې کښلې ده: «مګر موږ د نظم په قانون مخزن ته پوره شعر ویلای نشو، البته یو نیمګړی شعر ورته ویلی شو. که په بل عبارت وواېو مخزن یو نیم منظوم نثر دی چې په مسجع او قافیه وال نثر کې راننوزي.» (۱۸) خو د مخزن له دقیقې مطالعې نه سړی ته ښکاري چې ځینې رسالې یې نظم دي او په دې لنډ کړاو ترې روغ نظمونه جوړېږي، خو ځینې بیا دا خصوصیت نه لري او مطلب ترې دومره په اوږدو جملو کښې بیان شوي چې د نظم حیثیت ترې بېخي زیان رسولی دی. زما په نظر هغه په مخزن کې د اخوند راغلي بیانونه او رسایل زیات ضعیف نظمونه دي، خو د مسجع نثر نمونې هم پکې ښته، دلته یې دالاندې نمونې دکتلو دي:

له عقاید نسفي څخه:

«په هره زمانه کې چې د ګمراهان پیدا شي بادشاهان به پر هغه خلق باندې ظالم وي. نم به هر رنګه بلا هلته پیداشي، دا حضرت رسالت هسې ویلی

سکه پرهېز دی هر څوک وکاله دې هسې ګمراهي زیات هغه چې دوی په خدای او په رسول لاس لګولی

دا روایت که دی امام عمر نسفي په فارسی کړی افغاني یې دروېزه ځنې ویلی»

له خلاصې نه:

«پنځلس څېزه فرض دی په نمانځه کی څوک درون دی

څوک بیرون دي عزیزانو .

تن، ځای جامه دی پاک وبي خپسر پټ کاڼئ یارانو

وقت، نیت، قبله زده کړه له تکبیره دا انه سره بیرون دی-

بیا قیام له قرائته له رکوعه له سجوده هم وزوستی

کذار کښینئ مصلیانو »

له قصیدهٔ بردهٔ نه:

« زما توبه ده له ګفتاره، بې عمله بی کرداره، حاصل نشته،

لکه څوک شنډه عورته چې مېږه سره حملي نه لګېږي -

تا ته سبه پند و نه وایم، ولې زه پرې ولاړ نه یم، لکه زه

پرې ولاړ نه یم سکه دا خبره په تا هم نه لګېږی » ،

که څه هم اخوند درویزه مخزن دخیر البیان په مقابل کې

لیکلی دی، خوکه چېرې د مخزن د مسجعاتو سبک سره وګوري

نو د بایزید د مسجع نثرونو پایې ته نه رسېږي، ځکه دخیرالبیان

په مسجعاتو کې متانت نشته . اروا ښاد استاد حبیبي دغې موضوع

ته داسې اشاره لري: « دا ملاحت او عذوبت (دخیرالبیان )

د اخوند درویزه په مخزن کې ډېر لږ موندل کېږي، سره له

دې چې درویزه دخیرالبیان په ماتولو کې ډېر کوښښ هم کړی دی »(19)

که څه هم د اخوند مخزن د خپلو تعلیمي او دیداکتیک اهداو

له پلوه د خپل وخت یو مهم کتاب و، خوکه چېرې موږ دادب او

هنرله جهته دا اثر وکورو نو د هنر څرک نه پکې پیدا کېږي او د

مخزن ټولې ترجمې او لیکنې یې هیڅ ډول ادبي ارزښت نه لري، بلکه

نیغ په نیغه یې خپل مطالب بیان کړي دي او حق د نورو ژبو ادبي

آثار چې یې ترجمه کړي دي، هغه هم په داسې شېوه ترجمه دي چې دخوشحال خان دالاندې وینا یې په حال شه صادقه ایسي:

قصیده دبوصیري ترجمه کړي – عربي یې تر پښتو مضحک راوي

دوه ربیت د قصیدې چې دُر ځای – په پښتو کې تراوربشو لا ارزان کړي

ص

د اخوند (رح) د مخزن داسبک دده دکورنۍ په لیکوالو
دده او کورنۍ په مریدانو، پیروانو او نورو پښتو لیکوالو کې
ومنل شو. نور دیني، فقهي، حکایتي او عرفاني آثار په
دې سبک ولیکل شول. داخوند درویزه په کورنۍ کې ماته خپله
دغه لاندې لیکوال، ناظمان او شاعران معلوم دي:

(۱) ملا اصغر دګدای زوی، داخوند ورور.
(۲) اخوند عبدالکریم کریمداد، داخوند درویزه زوی.
(۳) عبدالخالق (خالقداد) داخوند درویزه زوی.
(٤) محمدحلیم دعبدالله زوی، داخوند درویزه لمسی.
(۵) عبدالسلام د پاینده محمد زوی، داخوند درویزه لمسی
(٦) مصطفی محمد دنورمحمد زوی دعبدالکریم لمسی او داخوند درویزه کړوسی.
(۷) رحیمداد، د مصطفی محمد زوی، دنورمحمد لمسی دکریمداد کړوسی داخوند درویزه کودی.

په دغو اوو تنو کې د عبدالخالق، محمدحلیم، مصطفی محمد او رحیمداد مسجع نوټلیق ماخپله نه دي لیدلي، خو دملا اصغر کریمداد او عبدالسلام د مسجعاتو نمونې د مخزن الاسلام دځینو

نسخو په ملحقاتو کې شته.

د لته باید دا خبره یا ده کړو چې دغه دري تنه نظمونه هم لري او په دغو کې بیا اخوند کریمداد نظمونه څه، چې د عرفان په رموزو آراسته ښکلي شعرونه لري، خو دا چې د مسجع لیکنې خبره راشي نو د دغو دریوو تنو یا دونه ضرور ایسي.

د ملا اصغر دا نمونه چې زه لاندې راوړم د مخزن الاسلام له یوې داسې نسخې را اخیستل شوې ده چې په ۱۱۶۷ هـ ق کال کتابت شوې ده:

« واوره! یاران نبي ناست په جماعت و، جبرائیل یې وراغلی، سبه له خدایه پرې رحمت و. ده وی دا دی جبرائیل راغی یا رانوله سبه خدایه چې زما پو نسو کاله تیر شي دا امت به شي درې او یا څوځایه. ګمراهان په رنګا رنګ دی دا تاریک په ګمراهۍ کې ډېر قوي دی....»

اخوند عبدالکریم چې په فرهنګي حلقو کې په کریمداد مشهور دی، دیوولسمې پېړۍ د مشهورو علماوو، لیکوالو او شاعرانو په ډله کې ولاړ سړی دی. ده په پښتو، فارسي او عربي لیکنې او اشعار پاتې کړي دي او له مهمو کارونو څخه یې د پلار د آثارو ټولول او تدوین دی. د ده مسجع نثر ټوټې د مخزن الاسلام په ملحقاتو او هم د مسجع نثرونو په ځینو مجموعو کې میندل کېږي.

پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل په مخزن کې د کریمداد

ملحقات په لاندې ډول شمېرلي دي:

«د نمانځه سبق، د عقايد څه توکي، د دوو آيتونو تفسير، د امنت بالله ترجمه، د جنازې مونځ، فقهي مسايل او الفنامه» (۲۰)

د اخوند کريمداد په دې ملحقاتو کې الفنامه شعر دی او نورې څه نظمونه او مسجع توټې دي او د مسجع ټوټې يوه نمونه يې داده:

«د اول په عربي وو د ساده افغان د پاره په پښتو ژبه مې روغه رساله کړه. دا بيان د عقيده و مؤمنانو سکه مايې نامه روغه عقيده کړه. دا ايمان به يې توي شي هرچه دا همبرې باور کا او په ياد کا. کريمداد يو ګناهګار دی، سکه دی يې هم په ښکه دعا ښاد کا.» (مخزن خطي)

د لته بايد يوه بله خبره هم له ياده و نه غورځوو چې ځينې ښاغلي داسې ګومان کوي چې په مخزن کې د اخوند عبدالکريم ټول ځای شوي آثار مسجع نثر و نه دي؟ د مثال په ډول د پښتو نثر د تاريخي سير د څېړنې په دوو کتابونو کې چې ما د کريمداد غوره شوې ځينې نمونې وکتې دا نمونې ما ته مسجع نثر نه ايسيدې، بلکه نظمونه او شعرونه دي، لکه:

نن به يکشنبها يوازې ننداره کا ... چې د ده رحم پر وشي سپين به هغوته ښکاره کا

با د شاهانو سره ناسته پر تخت د ... له ګدايه سره ګرځي درويزه کا

له سپين ږيريه سره ناسته د زهيږ کريمداده له هلکه سره ذوق و تماشه کا (۲۱)

د ابوه پنځه بيتيزه غزله ده چې درې بيته يې ما لوړ راوړل. بل

ځای هم همدغسې شوي دي:

روښنان د شاه جمال دی
کل ظهوری په کمال دی
په معنی کې د بوه شهي جمال دی
دا جمال له دې جمیله ګوښې نه دی
کی ګورې لک جمیل هسې جمال دی (۲۳)

د کریمداد په ارتباط باید یوه بله خبره دا هم وکړم چې د ده په پښتو کې له سجع لړې روان نثر هم لیکلي دی چې پر راتلونکي فصل کې به په خپل ځای کې خبرې باندې وشي.

عبد السلام هم د خپل نیکه سبک ته ورته بیانونه لري او د پنج ګومر، په نامه یو پښتو بیان یې هم د مخزن په ځینو خطي نسخو کې راوړل شوی دی. د مسجعاتو د لیکنې روش یې دا دی:

« یو ویې به درته وایم د صدیق له بزرګیې، د رسول له جماعة، چې صدیق و سرحلقه د اولیاوو غه لوی بخره موند لی له رحمته، دویم عمر فاروق دی، چې مکه یې کړه وزګاره له کافرو له بتانو په یکلخته. دریم عثمان ذی النورین دی چې درسته کاروئ یې وو د خدای په رضا ایښي چې خبرشه د رسول له نبوته. څلورم یې مرتضی علی دی چې به دی په دلدل سورشه، غه کافران یې مړه وو له هیبته » (۲۴)

دا خوند دروېزه د کور ته له غمو څخه چې وروسته شوی ده. د کورنۍ د مریدانو وار راځي په دې دله کې د دوو تنو نوم نه سړی په سرکې را وړای شي، یو میرخان او بل

عمرخان شلماني. د دې دواړو نظمونو او مسجعات د مخزن په څينو خطي نسخو او هم په څينو خطي مجموعو کې ليدل شوی دی. ميرخان د اخوند کريمداد په مرثيه کې يو بيان ويلي دی چې ورته برخه يې داده: «مرګ يو نهر چې په څو ناست دی شب و روز د ده بهير دی نه کمېږي. ول شهيدان هغه زلمي شو چې د مرګ شربت يې وڅښی د کافرو په غزا کې. مخدوم کريمداد سني مذهب و، غمي د دين د پاک نبي و، ځکه دی وو ييدلی په رښتيا کې، ګمرهان دې شرمنده شي مرګ حق لوی لار ده هيڅوک به پاتې نه شي د هغه کوچ خبرې يې وشي په دنيا کې. دا بيان ميرخان د غم په وقت ويلی چې يا د شوی د اخوند کريمداد په غمګينو شاګردانو کې.»

زموږ استاد پوهاند رشاد د ګلشن روه د سريزې د ۳۰-۳۱ مخونو په حاشيه کې ميرخان شاعر بللی دی او د دغه مرثيه ګوټې د اقتباسي برخې هره اوږده مسره يې دوه ځايه کړې او د نظم په بڼه يې اړولې ده. د استاد عروضي څېړنې او په دې برخه کې د دوی صلاحيت پر خپل ځای دی. او استاد په اوږده کې يې له څينو برخو رسا نظم جوړ شوی دی خو ما چې دا مرثيه په دوو دريو خطي متونو کې وکتله، ټوله مرثيه د دغو مسجع اوږدو جملو په بڼه ضبط شوې ده.

عمرخان شلماني د دې کورنۍ په مريدانو او پيروانو کې ولاړ بل ليکوال دی. اخوند درويزه په تذکرة الابرار - والاشرار کې د خپلو شاګردانو په ډله کې يا د کړی دی. د مخزن په ډېرو خطي نسخو او خطي مجموعو کې يې نظمونه او مسجع ټوټې راغلي دي. د ده د مسجعاتو سبک دا دی:

«هر چې دا وايي موجود وی اماره شيطان به لار يې نه مومي.

عنه روندهٔ یې له حرکته امانت دی. دابیان اخوندکریمداد ویلی پوشیده و، معنایې هیچا ویلی نشوه. بیچاره عمرخان چې ورخبرشه تاربه تار معنی یې ووی ... » (۲٤)

زما په پوهه دعمرخان کومې پټې چې ماليدلې دي ځینې یې دخپل شکلي جوړښت له پلوه بې قافیې سپینو او آزادونظمونو ته پاتې کېږي.

دعمرخان شلماني په باب زما يوه يله ځانګړې يادونه داده چې دعمر په نامه چې کوم نظمونه او مسجع ټوټې په مخزن او دمسجعاتو په ځینو جونګونو کې راغلي دي يوه پارچه يې «دګورغه تنکه خونه» ځینو مناغلیو د ملاعمر بن برهان خان قصوري خیشکی بللې ده. دانسبت کوم اساس نه لري يوازې په حد سیاتو اتکاء کوي. زه محکمه هغه پارکی دملاعمر نه بولم او زما غالب ګومان دادی چې دمخزن په نسخو کې د عمر اوعمرخان په تخلص راغلي مسجعات او پارکي دهمدغه عمرخان شلماني دي.

داخوند درويزه اوکورنۍ پرمريدانو، پيروانو او پلويانو دخپرو اوبحثو نو په لړکې درې تنو نورو نومونه هم ځکه راځي چې داخوند درويزه دمخزن دسبک پيروي يې کړې ده او په دې سبک کې یې ځینې آثار پاته کړي دي.

له دغو دريو تنو څخه يو تن بابرجان دی چې په يولسمه پيړۍ کې دافغانستان له لويو ديني عالمانو، شاعرانو او ليکوالانو څخه حسابيږي. دی سيد علی ترمـذی (۹۰۸-۹۹۱هق) ته چې

پښتانه يې پير بابا بولي او هم اخوند درويزه او دده زوی کريمداد ته ادا د تمند سړي و (۲۵) ده ويلي دي :

چې اخوند جدا يې بېل که بلوچانه ※ پسې ورانه شوه زما د زړګي خونه
په دې غم دې داخوندزه مسي سرګړې ※ د جمله هوس له ذوقه مړه وه مې
دغه حال بيان په خوله راوايه نشي ※ چې مې ياد شي داخوندخوانه ورونه

* * *

د بابوجان د ژوکړې او مړينې نېټې نه دي څرګندې. داورنګ زېب عالمګير (۱۰۶۸ – ۱۱۱۸ هـ ق) او نورو معاصرانو يادونې داښيي چې ده به يو ولسمه پېړۍ کې ژوند کړی و او دغه پېړۍ يې د فرهنګي فعاليت دوره وه. دده قبر د صوابۍ په سيمه کې د نوی کلي او توړلاندي سهيل ته د ترکه نه نمرخاته ته واقع دی او وايي چې به يو سفزو کې دا مشهوره ده چې بابوجان په قام يوسفزی و (۲۶).

که څه هم هانزی جارج راورټي دی نژادا سياپوش کافر بللی دی او ويلي يې دي چې بابوجان يو ملا له څان سره راوستی و.

د بابوجان د آثارو له مطالعې څخه داسې ښکاري چې دی له پښتو سربېره په عربي، دري او هندکو ژبو پوهېده.

ده په پښتو کې د خپلو آثارو يو پنډ کليات پرېښی دی. دده د آثارو په کتلو نسخوکې ما ته بشپړه نسخه هغه ښکاري چې په رضا لايبرېرۍ رامپورکې شته ده. د کليات دا نسخه په دوو دفترونو وېشل شوې ده. په لومړي دفترکې حمد و نعت، د اصحابو مدح، داورنګ زېب ستاينه، د باريتعالی د توحيد فصل، د

فرایضو او د ایمان باب، د رسولانو او پاچهانو ستاینې، د مریم قصه او نور را غلي دي.

دویم دفترې د پیغمبرانو او نیکو خلکو حکایات، دیني، فقهي او اخلاقي موعظات بیانوي. ده اکثره بیانونه د پند عبرت او د خلکو د اخلاقي او دیني روزنې په منظوروېلي دي.

ده قصیده سریاني هم په پښتو نظم ترجمه کړې ده. خطي متنونه یې دده په کلیات او هم په ځانګړي ډول موندل کېږي. پروفیسور ډورن دا قصیده په ۱۸۴۷ع کال په پښتو منتخبات کې چاپ کړې ده. د ده کلیات تر اوسه نه دی چاپ شوی، خطي نسخې یې موندلې کېږي او منتخبات یې چاپ دی.

د بابوجان د کلیات د شکلي جوړښت په باب ادبپوهانو مختلفې نظریې وړاندې کړې دي:

هانري جارج راورټي د خپل پښتو ګرامر په مقدمه کې بابوجان د پښتو نثر نګارانو په ډله کې معرفي کړی دی(۲۷) او همدا علت به وچې کله یې د ګلشن روه مجموعه تهیه کوله نو یې د بابوجان منتخبات د نثر په برخه کې راوړي دي.(۲۸)

راورټي چې د بابوجان کوم منتخبات په ګلشن روه کې نثر بللي دي لوستونکي چې یې پیل ولولي نو پوهېږي چې دا نثر نه دی، په ګلشن روه کې د بابوجان منتخبات داسې پیل شوي دي:

څو د دې د دنیا شاهان وو هغه څه شو
آبر باد د دوی تختونه په هوا وړه هغه څه شو

د موږ استاد اکادمیسین پوهاند رشاد په ګلشن روه کې د

بابوجان دغه منتخبات نظم ثابت کړي دي او د پوهاندی علمي درجې ته دخپلې ترفيع تيسس يې په دې موضوع ليکلی دی .

ځينې د بابو جان ګرده کليات نظم بولي . بله نظر يه ببيا داسې ده چې د بابوجان د آثارو مجموعه د مخزن په سبک ليکل شوې بولي او زياتوي چې په دې مجموعه کې رسا نظمونه هم شته، خو زيا ته برخه يې په نيم منظوم سبک ده ، نوځکه د اخوند درويزه د لارې غبتلی ملګری دی . (۲۹)

زه خپله د دې نظريو ملګری نه يم ، نه دا منم چې د بابوجان آثار ټول نثر دی . دغسې د ټولو د پوره نظم والي پلوی هم نه يم او دا خبره مې هم چندان زړه ته نه لوېږي چې د مجموعې زيا ته برخه دې په نيم منظوم سبک وبلل شوې وي .

ما چې د بابوجان د آثارو د مجموعې يا د کليات ځينې بشپړې او ناقصې خطي نسخې کتلي دي او يا مې هم د مخزن په ملحقاتو او ځينو خطي جونګونو کې د ده د آثارو منتخبات ليدلي دي ، نو ما په پوهه د ده د آثارو زياته برخه نظم ده او دخپلې زمانې د مسلط فرهنګي جريان تراغېز لاندې يې د ځينو ديني او اخلاقي نصايحو په بيان کې ځينې مسجع ټوټې هم ليکلې دي ، چې د ده په آثارو کې يې اندازه نسبت منظومو آثارو ته ډېره لږه ده ، خو بيا هم چې کله موږ په پښتو کې پر مسجع نګارۍ خبرې کوو نو اړ کېږو چې بابوجان هم له ګوتو و نه باسو ، ځکه چې ځينې مسجعات يې شته . دې مسجع بيان يو ټوټه کرښې ولولئ :

«د حيض لږ مدت درې ورځې ويلي ګمتر دا نه زيات يا کم وي صغره يخ دی ورسينه . په مثال د جراحت په صرفت دی او حس کاندي چې يې فرض په قضا کېږي . او کمه دی ورځې حيض وه پسې پاکه شوه ډېر ورځې

تر بابوجان وروسته د پښتو يو بل ناظم او ليکوال اخوند قاسم يا پين خيل شينواری دی چې د پیر بابا او اخوندانو (اخوند درويزه او اخوند کريمداد) له اراد تمندانو او پيروانو په ډله کې ولاړ دی. دی هم ديوولسمې پېړۍ د دوهمې نيمايي او ددولسمې پېړۍ د اوايلو ليکوال شکاري، چې په ننګرهار، پښور او شاوخوا سيمو کې اوسېدلی دی.

د ده د خپل مشهور اثر فوايد الشريعت په مقدمه کې د پیر بابا او اخوندانو ستاينې کړې دي، چې څو بيته يې دا دي:

عجب نور دی پيدا شوی د سرهد له خاندانه
وافغان ته راختلی د ترمذ له پاکه کانه

دا خوندانو په باب يې ويلی دي:

اخونان شهيدان دواړه خدای پيدا کړل چراغونه
په افغانانو ملک صفاشه دين روښان شه په ملکونه

اخوند قاسم په پښتو ژبه د فوايد الشريعت په نامه يو پنډ کتاب کښلی دی چې په بشپړو نسخو کې يې د بابونو شمېر دوه اتيا دی. په دې دوه اتيا بابونو کې مؤلف د مشروعاتو او غير مشروعاتو پر معانيو او احکامو، د ايمان په ارکانو او شروطو د اهل سنت پر عقايدو، د بنځو حقوقو پر نرو او د نرو حقوق پر بنځو، د قران پر فضايلو، د اوداسه، غسل، تيمم، حيض او نفاس، د لمانځه پر ټولو مربوطو مسايلو، جماعت، زکوة، صدقه، جامو، شيخيت، باطنی سير، پر سود او د سو پر حرموالی

قوبا ئنه او نورو موضوعاتو خبرې کړې دي او په پای کې يې څو بابه د آنحضرت (ص) د شمايلو، معجزاتو، د اولادونو، غزاوو، روزګار، ناروغۍ، غسل و دفن او د دوی د ازواجو او ابوبکر (رض) پر خلافت بحثونو ته وقف کړي دی.

په مجموعي ډول فوايد الشريعت ديني، فقهي او شرعی احکام، ځينې اخلاقي او اجتماعي موضوعات بيانوي او په پای کې د اسلام د نازولي پيغمبر پر سيرت او شمايل مفيد بحثونه لري. مؤلف په فوايد الشريعت کې ځېل مطالب او اخيستنی د فايده تر سرليک لاندې راوړي او مختصر يې «ف» ليکي.

د دې کتاب په تاليف کې اخوند قاسم له ډېرو آثارو څخه استفاده کړې او ځېل اثر يې ترې بشپړ کړی دی. استاد رشاد دا مأخذونه دوه پنځوس شمېرلي دي. په فوايد الشريعت کې ځينې مطالب شته چې بشپړ له ځينو آثارو څخه ترجمه دی، لکه نمونې استاد پوهاند رشاد په دې باب کښلي دي:

«د فوايد الشريعت وروستي څو بابه چې د حضرت پيغمبر شمايل پکې څېړل شوي دی د امير جمال الدين عطاء الله بن فضل الله الحسينی الهروی (۹۳۲ هـ ق مړ) له «روضة الاحباب فی سير النبی و الآل و الاصحاب» څخه اخيستل سوي دی» (۳۰)

د فوايد الشريعت له نورو مأخذونو څخه د ځينو نومونه دا دي:
احياء العلوم، مشکوة المصابيح، مطالب المؤمنين، صحيح بخاری، تفسير مدارک، تفسير زاهدی، تفسير الکشاف، تفسير حسيني، تفسير يعقوب چرخي، ذخيرة الملوک، تنبيه الغافلين، رسالهٔ قدسيه

ارشاد المریدین، شرعة الاسلام، انیس الواعظین، کیمیای سعادت تذکرة الاولیاء، نفحات الانس، فتاوای قاضیخان، خزانة الفتاوی، فتاوای غرایب او نور ډیر آثار ....

د فواید الشریعت مطالعه او ورسره ددې کتاب په لیکلو کې دده داستفادې لاندې مأخذونو ارزیابي سړی په دې باوري کوي چې اخوند قاسم پاپین خیل شینواري دخپل وخت له نومیالیو علماؤ څخه و.

زموږ په ادبي څېړنو کې د راورټي د پښتو ګرامر ددوهم چاپ دمقدمې د ۳۳ مخ په حواله دا خبره راغلې ده چې اخوند قاسم فواید الشریعت په ۱۱۲۵ هـ ق کال بشپړ کړی دی.

ترکومه ځایه چې ښکاره ده د فواید په متن کې داسې کوم شهادت نشته چې مؤلف دې دکتاب دبشپړېدو نېټه څرګنده کړې وې.

ښاغلي راورټي دفواید کومه داسې نسخه لیدلې وې چې د۱۱۲۵هـ ق کال لیک وي. داسې ګومان کېږي چې تر ۱۰۷۳ هـ ق کال وروسته یا ورسره جوخت پښتو موړې اخوند ددې کتاب په لیکلو پیل کړی وي او په لومړنی شکل تر بشپړېدو وروسته یې نور بابونه په بېلا بېلو وختونو کې ورزیات کړي وي او داکتاب یې ترنهایي شکل ته دوانیا بابونو پورې رسولی وي.

دفواید الشریعت په نسخو کې د بابونو دعدد تفاوتونه په څپله په دې ګواهي لي چې مؤلف داکتاب په تدریجي ډول بشپړکړی دی.

ددې کتاب دلیکنې دسبک په باب باید ووایو چې پیل یې په نظمونو شوی دی او پای یې هم په ځېنو نسخو کې بشپړ نظم دی

خو د کتاب اکثر مطالب په داسې شېوه او سبک بیان شوي دي
چې اخوند دروېزه مخزن پرې لیکلی دی، لکه دا بیان :

« په حدیث کې دي راغلي چې د نیکبخت نښانې درې دي اول رزق به يې حلال وي، دويم له صالحان به یې مینه هم محبت وي، دريم نمونځ به يې عادت په جماعت وي. هم دبدبخت نښانې درې دي اول رزق به يې حرام وي، دويم مجلس به يې دايم له فاسقان وي، دريم نمونځ يې يکتنها بې امام وي. »

که چېرې موږ دده مسجعات وګورو نظر نورو نثرونو ته مسجع نثرونو ته ښکاره ګند تیا ډېره لري، مطالب لنډ لنډ اداء کوي. استاد رښتین يې هم مسجعات تر نورو غوره بللي او دا يې ويلي دي چې ده ډېر ګران او ناچله عربي لغات هم نه دي استعمال کړي . (۳۱)

د اخوند درویزه او دده د کورنۍ په پیروانو کې ماته بل معلوم سړی خلیل دی چې دوه کلامه يې ما د پښور آرشیف په یوه خطي مجموعه کې لیدلي دي . دا خلیل تر اوسه په پښتو خبرونو کې نه دی معرفي شوی او لومړی ځل پښتانه د ده له نامه سره آشنا کېږي او دا ورښکاري چې دیوولسمې پېړۍ په جریان کې د خلیل په نامه یو ویناوال هم په پښتونخوا کې اوسېدلی دی .
دده په بیانونو کې د نظم خواته تمایل زیات دی، خو به نهايت کې يې سړی په مسجعاتو کې حسابولای شي . دده د مسجعاتو یو تکرار دی :

«اوس زموږ په زمانه کې کرېمداد هم نېکخواه دی د سنیانو،
ای خاونده! په خپل فضل خوندي کړه دا کلام دی هم فقیرخلیل
ویلی، مؤمنان دې هم طلب ددې وېي کا.»

## د مسجع لیکنې خپرېدنه او پرمختیا:

مسجع لیکنه یوازې په دغو یا دوشپږو څو تنو پورې محدوده
پاتې نه شوه، د یو ولسمې پېړۍ په جریان کې یې د پښتنو په دیني
حلقو کې سبه وده موندله او د یو ولسمې هجري پېړۍ په دوهمه
نیمایي او دولسمه پېړۍ کې موږ له سواته تر ملتانه او له ملتانه
بیا تر هراته د میشتو پښتنو په دیني علماو کې د دې سبک پیروان
لیکوونکي، لوستونکي او شایقین مومو. دا بحث به زه د دې سبک
د نورو پیروانو د فرهنګي کارونو په سبو دلو پرمخ بوځم.
کله چې موږ له اخوند درویزه، کورنۍ او نږدې مریدانو
وروسته په نورو مسجع لګارانو خبرې کوو، نو تر ټولو د مخه
موږ ته د ملا ځالاک (رح) نوم مخې ته راځي.
د ځالاک په باب موږ ته د تذکرو او تاریخ په کتابونو
کې د څو تنو نومونه معلوم دي.
مشاغلی لیکوال ډاکټر چراغ حسین شاه په خپل یو اردو اثر تذکره
پیرسباک کې د پیر ځالاک، اخوند چالاک او ملا چالاک په نامه
درې تنه ښوولي. (۳۱)
په دغو درېو تنو کې پیر ځالاک هغه څوک دی چې اخوند
درویزه په خپله تذکره کې یاد کړی دی او بل هم اخوند ځالاک
دی چې په تاریخ مرصع کې یې یادونه او مناقب راغلي دي (۳۲)

دی د شاجهان (۱۰۳۷-۱۰۶۸ هـ ق) معاصرو . د تاریخ مرصع دکښلو له مخې اخوند ځالاک تو غنه تړین و ، پلار یې په خټکو کې او سېده او د خټکو په سیمه کې مړ دی . اخوند ځالاک یوسفزیو ته تللی و او هورې یې له غازیانو سره جهاد کاوه . تاریخ مرصع یې له خوشحال بابا سره د لیدنو خبرې هم کړې دي او دایې ویلي چې شاجهان یو فرمان هم ورا ستولی و .

د بل ملا ځالاک یادونه اروا ښاد کامل مونند د تاریخ مرصع په نو بتو کې په دې ډول کړې ده : « مرزا محمد کاظم په عالمگیرنامه کې لیکي چې ملا جالاک د بهیری او خوشاب یو ملا و چې یوسفزي یې د خپل مکر په جال کې گرفتار کړي وو او یوسفزیو دغه او بهاکو خان په صلاح مشورې یو گمنام سړی د محمد شاه په نامه خپل بادشاه کړو او بغاوت یې وکړو ... » (۳۳)

مرحوم استاد کامل په دې گماني دی چې ښایي د تاریخ مرصع اخوند ځالاک او د عالمگیرنامې یادکړی ملا ځالاک دواړه یوتن وي . داچې زما د کار ځالاک پکې کوم یو دی دا خبره به وروسته په سپینه شي .

ما په پښتو مسجع نثر یو او ږد بیان لیدلی دی چې په سر یې د عنوان په دود کښل شوي دی : « در بیان گفتار ملا ځالاک افغانی آورده شود (شد) »

له دې عنوانه دا نه ښکاري چې د پښتو مسجع نثر به دکوم ځالاک وي او زما صحت ته نږدې حدس دا دی چې دا ملا ځالاک هماغه تړین اخوند ځالاک دی چې سوات دکوهستان په سیمو کې یې جهاد کاوه او تاریخ مرصع یې د « قدوهٔ محققین، زبدهٔ

علمای دین متین پیغمبر امین ، غازی غزای کفار طرف کوهستان کاشغر وچین » په القاظو اوالقابو ستایي .

دا چې نه وایم داپښتو نثر به دهمدغه اخوند ځالاک وي ، په دې باب زما دلایل دادي :

(۱) داخوند ځالاک لیکوال دی په دري اوعربي ژبه يې آثار شته ، په تذکره پیر سباک کې یې دده دري تالیفونه شمولي دي ، فتاي غربیه ، بحرالانساب غزویه او مناقب اخوند پنجو . د پښتو په آرشیف کې ما د اخوند ځالاک یوه رساله کتلې ده چې په پیل کې یې اسماءالحسنی په دري ترجمه کړي دي او بیايې د لمانځه ، اوداسه ، حج او نورو دینې مسایل د آیتونو او احادیثو په رڼا کې بیان کړي او ددې اثر په تالیف کې يې له دېرو آثارو استفاده کړې ده . داخوند ځالاک دارساله ۲۲ پاڼې ده . ژبه یې دري او عربي دي . داچې په دې دوو ژبو کې عالم او لیکوال و ، نو دا بعیده نه ده چې په پښتو به يې هم لیکنې کړې وي .

(۲) بنايي ځینې کسان اعتراض وکړي چې دا ترین ځالاک خو به اخوند ځالاک مشهور و او د پښتو مسجع نثر لیکوال بې لیکل شوي دي ، ملاځالاک ، نو دا بنايي بل ملاځالاک وي ؟ ددغې احتمالي پوښتنې په ځواب کې بايد ووایم چې په همدې تاریخ مرصع کې یې یوځای د همدغه اخوند ځالاک په مناقبو کې ده ته ملاځالاک هم ویلي دي ، لکه : « نقل دی چې یو طالب علم په مکهٔ معظمه کښې کتاب مطول چې مجمع د بلاغت او فصاحت او علم بدیع معاني دی لوست يو اشکال په کتاب مذکورکې ورته پیښ شه . هیڅ یوه

فاضل حل کوڵے نه‌شه . یو شخص ورته ورې چې ملا خالاک نومی

یو عالم دی په ولایت دکابل قریب وپښتون ته یوسفزوکې په‌سدا

اوسي هغه‌ته‌ورشه حل به یې وکا ... » (٣٤)

له دغو بیانونو نه دا نتیجه اخلم چې دا پښتو نثر به دهغو

لیکوال اخوند خالاک چې په ملا خالاک مشهور و ، وي .

د ملا خالاک دا په پښتو مسجع نثر ویل شوی بیان مابه یوخطي

جونګ کې لیدلی دی . دا جونګ په ۱۱۰۱ نومره د پښتو اکیډیمۍ په

خطي مجموعه کې خوندي دی . ټولې پاڼې یې ۱٦۳ دی . په دې

جونګ کې د ډېرو ناظمانو او لیکوالو نظمونه او مسجع نثرونه خوندي

دی چې یو په کې هم دا ملا خالاک دی .

زما د معلوماتو له مخې په پښتو خپرونو کې تر اوسه پورې چا

ملا خالاک د پښتو لیکوال په حیث نه دی راپېژندلی او دا اثر لومړنی

کتاب دی چې ملا خالاک د یوه پښتانه لیکوال په توګه رامعرفي کوي .

د ملا خالاک ویل شوی بیان په مجموعه کې داسې شروع

شوی دی : « واورئ مؤمنانو د اخبر کورئ په دا رنګ معلومېږي

مؤمنان له ورکېږي شي په بهښت کې پر آسونو به سواره شي ، د هر

مؤمن پر سر به تاج وي چې د دنیا تر پورې هیڅ نه څرګندېږي .

هم به حورې فرښتګان غلمان وي دده رکاب نیولی د خاکي آدم

به هسې خدمت کېږي . په اول حصار چې ورشي دی د سپین نزو

روغ دی پهنایې د یونسو کالو لاره ویل کېږي . په صافی کې

هسې صاف دی چې د روغ بهښت بیرون تره څرګندېږي .

هم کنګرې دې د سرو نزو باندې روغې هم اویا نره سرایونه

پکې وایي څوک د سرو څوډ د جواهرو د غوځوله حقیقت خبر ې کېږي. او په هر سرای کې او یا نه کوټې دي دګوهرشب چراغ چې نورونه یې ځلیږي."

دا ویل شوی پښتو بیان چې د جنت تعریف او تشریح کوي او په بهشت کې د مؤمنانو په ژوند او د الله په دیدار خبرې لري، د جوړښت په لحاظ د مسجع نثر په چوکاټ کې لیکل شوی دی او د پښتو د مسجع نثرونو د لړۍ یوه کړۍ ده. کله چې ما د خلاک دا بیان د ده له خپل نامه سره په دې جونګ کې وموند، نو بیا راته څرګند ه شوه چې د دې بیان یوه بله نسخه د هند د رامپور په رضا لایبریرۍ کې په ۳۹ نومره قید مجموعې په لسو پاڼو کې خطاطي شوې ده، خو هلته یې د مؤلف نوم څرګند نه دی. (۳۵)

تو بلا خلاک وروسته د ده مرید ملا مست محمند هم ردېدی لاری بیلانوی دی. د مست یو پښتو کلیات مونږ ته پاتې دی، چې یوه معلومه نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې شته (۳۶) او وروسته بیا ښاغلي حبیب الله رفیع راته وویل چې د مست د آثارو یو نسخه د کراچۍ په موزیم کې هم موجوده ده.

د مست د آثارو د غه مجموعه ګرده ز موږ په پښتو خپرونو کې د سلوک الغزات په نامه معروفه ده، حال دا چې سلوک الغزات د دې مجموعې یوه رساله ده او په مجموعه کې د ده نورې څلور رسالې هم شته چې موضوعات یې له سلوک الغزاته بېل دي او هره یوه رساله په مجموعه کې بېله پیل شوې او پای ته رسېدلې ده.

سلوک الغزات چې د دې "کلیات" لومړۍ رساله ده تول مخونه ...

یې ۱۰۸ دي . او د مست د کلیات لومړی رساله ده . دا کلیات د ۱۰۳۰ - ۱۰٦٤ هـ ق کلونو تر مینځ بشپړ شوی دی . په دې کلیات کې د مست راغلــــې زیاتره رسالې منظومې دي، چې ځینې نظمونه یې مات ګوډ ، ځینې رسا او ځینې ټوټې په هغه سبک دي چې موږ یې مسجع نثر بولو . استاد رښتین هم په خپل اثر د پښتو ادب تاریخ کې د سلوک الغزات سبک نیم منظوم بللی دی .

خو په خپل بل اثر د پښتو نثر هند اره کې یې دی په مسجع نګارانو کې نه دی یاد کړی اما پروفیسور افضل رضا د پښتو نثر تاریخ کې او هم بي بي مریم د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه نومي اثر کې د استاد رښتین د پښتو ادب تاریخ په استناد د مسجع نګارانو په ډله کې حساب کړی دی ، خو د مسجع نثر نمونه یې ورسته نه ده موندلې .

ما چې تر کومه ځایه د مست کلیات کتلي او د ده منتخبات مې ترې د چاپ لپاره برابر کړي دي ، د ده په کلیات کې مسجع ټوټې زیاتره په سلوک الغزات نومي رساله او هم د سوال او ځواب په هغه رساله کې راغلي دي چې مسایل یې د سوال او ځواب په بڼه مطرح شوي او د کلیات دریمه رساله ده .

د مست د مسجع ټوټو منبع سلوک الغزاته په پیل کې په دري نثر یوه مقدمه لري او ورپسې د اخوند ځالاک د غزاوو حکایات او د ده محامد بیانوي . مست د اخوند ځالاک په ستاینه کې یو ځای ویلي دي : « مست مرید د اخوند جیو غازی ځالاک دی ، چې همیش په کفر غزا سبا بیګاه کا . »

دده د مسجعاتو د سبک د ښو ولو لپاره دا دوې لاندې ټوټې دکتلو دی :

« بیچاره چې دا بیان له سوزه ووې په کوه لک کې نرخلویښت کلونه دحضرت دهجرت تېرو د محجرو »(۳۹)

یا لکه دا نمونه : « ما ویل چې د بې ثواب په څه موندو شي راته وایه ، تا ویل چې درنګون پو ښتنه کا ، جنازه وړېږي ، آخرت یاد لري یارانو ... » (٤٠)

د لیکنې دا ډول شیوه د هغو مسجع لیکونکیو له سبک سره یو شان والی ښیي چې دیو ولسمې پېړۍ په جریان کې یې په دې سبک آثار لیکلي او یا ترجمه کړي دي .

ملامست دیوولسمې پېړۍ په جریان کې د ننګرهار په شینوارو کونړونو او پېښور کې ژوند کړی دی او د مرګ تاریخ یې ښکاره نه دی ، خو د شینوارو په مامند کې یې قبر مشهور دی او د مست بابا زیارت ته خلک ورځي .

داخوند ځالاک او دده شاګرد ملامست له آثارو سره په ارتباط کې دیې مسجع نورنامې له یادونې هم چاره نه لرم . دا نورنامه داخوند ځالاک لیاره لیکل شوې ده . د پښتو اکیډیمۍ (پېښور) دخطي نسخو ښاغلي فهرست نګار په دې فهرست کې ښودلې دي چې د اکیډیمۍ په خطي نسخو کې په ۱۰۸ نمبر یوه نورنامه شته چې نسخه یې ۲ پاڼې لري او ملا عبدالرحیم کاتب کښلې ده . د نورنامې لیکوال حلیم دی او نورنامه یې داخوند ځالاک لپاره لیکلې ده . د نورنامې پیل داسې شوی دی : « پیدایش چې د مخلوق وهم اول نور د پیغامبر و ځلیدلی . په اویازره کالونه (لې) له خدایه سره رازکړ عاقبت یې خپل صورت حسني ښکلی . »

دا نورنامه چې ښکلي سکښت یې دیوولسمې پېړۍ له مسجع آثار وسره یو شان برېښي په دې

عبارت پای ته رسید لی ده: «داصفت که څوک یه یادکایاپې لولي یاپې څان سره څوندي کا له دنیا به هم بره نه ځي څوېې ځای څپل په جنت نه وي ایدلی. داقصه مې عربي وه، دنبي دخولې حدیث وه دې فقیرحلیم پښتو کې. داکتاب اخوند چالاک پر کابل ولولي.»(٤١)

ددې نورنامې یوه بله نسخه دحمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې شته، هلته یې دا وروستۍ برخه داسې ده: «داقصه مې عربي وه دنبي دخولې حدیث دی، دې فقیرحلیم پښتو کړه. آخوند څالاک په کابلکرام دې لولولی» داوروستۍ متن سم دی.

دیادونې وړ خبره دا ده چې دمحمدحلیم په نامه مونږ داخوند درویزه ننګرهاري په کورنۍ کې یو تن پېژنو. چې مسجعات یې ماته مشخص نه وو معلوم. څه آثار چې یې معلوم دی هغه ګرده منظوم دي. دمخزن دیرې نسخې په ملحقاتو کې ما دمحمد حلیم د ملحقاتو په ترڅ کې دآیت الکرسي ترجمه او تفسیر لیدلی دی چې مسجع نثر دی، خو دحلیم نوم یې نه دی راغلی، نوځکه ما حلیم داخوند درویزه دکورنۍ نه دمسجع نګار په ډول کې نه یې معرفي کړی، اما ګمان وم چې کیدای هغه ترجمه او تفسیر داخوند درویزه دلمسي محمدحلیم وي؟ خو دا نورنامې موجودیت او په پای کې دحلیم نوم ماته دې نوګمان کوي چې دآیت الکرسي ترجمه او پښتو تفسیر دواړه دمحمدحلیم بن عبدالله بن درویزه وي؟ البته دابوحدس دی امکان لري نوماسناد نوري خبرې راڅرګندې کړي.

محمدحلیم دژوند زمانه هم داخوند څالاک دژوند له زماني سره سمون خوري او کیدای شي ددوی ترمنځ روابط موجود وو او دهغو روابطو په بنا دې حلیم دانورنامه اخوند څالاک لپاره ترجمه کړې وي.

میرحسین هروي یو مسجع نګار دی چې نافع المسلمین په نامه یې یو کتاب لیکلی او ترجمه کړی دی.

نافع المسلمین دکلو رسالو مجموعه ده چې په پښتو نظم او مسجع نثر کې میرحسین هروي نظم کړي، لیکلي او ترجمه کړي دي.

د پښتو په ادبي څېړنو کې داسې له ډېرو غیرواقعي شوانو سره دحسین په نامه او کتاب یې د«خلاصة الاسلام» په نامه معرفي شوی دی. حال دا چې دده کتاب نافع المسلمین نومېږي او مؤلف یې په خپله مقدمه کې کښلي دي.

« واین مختصر نافع المسلمین نام نهاده شد ...» (٤٢) او د مولف بشپړ نوم میرحسین هروي دی، چې په مقدمه کې يې خپل نوم داسې ښوولی دی: « فقیرحقیر میرحسین الهروی » اما د مسجع بیانونو اونظمونو په پای کې يې خپل نوم حسین راوړی دی.

داسې ی اول حل د ده دکتاب دیوې ناقص الاول اوناقص الاخر نسخې له مخې، چې اوس دافغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده، په ناقص ډول دحسین اوکتاب يې دخلاصة الاسلام په نامه معرفي شو. دې معرفه دپښتو ادب ډېروخېړنو ته لاره وکړه او څېړنو یا څینې غیر واقعي خبرې ورسره ملې کړې. په دې باب ما د کتاب په مقدمه کې خبرې کړې دي.

که څه هم ما دپخوا ني شوروي اتحاد دکتابخانو دپښتو خطي نسخو فهرست چاپ ته برابر وه، نومې ددې کتاب په باب یوه خېړنه وکړه او ددې کتاب ددریو معلومو بشپړ او ناقصو نسخو له مخې مې د دې کتاب اومؤلف اصلي نومونه وښوول. (٤٣)

دمیرحسین هروي نافع المسلمین په ابتداء کې یوه دوه مخیزه مقدمه اوبه یو مخ کې يې د مآخذ و نومونه ښوولي دي. ورپسې دنافع المسلمین بحثونه شروع دی. په اوله رساله کې دعقاید او ایمان بحثونه او د ذمیمه، حمیده، صغیره اوکبیره بیانونه راغلي دي. او دخلاصة الاسلام یو باب يې هم له دې رسالې سره مل کړی دی. خپله مؤلف دې مسألې ته داسې اشاره کړې ده:

« این فقیر باب اول آن را درسر کتاب در باب بیان که از مختصر وقایه نوشته

شده آن جا درضمن آورده ...»

ترجمه: « دې فقير (درسالې) اول باب دکتاب دپيل دايمان په بحث کې راوړی دی . دا بحث له مختصر وقايه نه ليکل شوی دی»

ورپسې دميرحسين ليکلې نور نامه راغلې ده . په دې رسالې پسې جوخت دخلاصة الاسلام درسالې پښتو ترجمه ده . دارساله لطف الله باخرزی ليکلې ده او دوه ويشت بابه ده . دخلاصة الاسلام تر ترجمې وروسته چې په نافع المسلمين کې کوم بحثونه راغلي دی دلمانځه دصفاتو بيان ، دشريعت ، طريقت ، حقيقت اومعرفت بيان ، دفقر روشونه ، دخلوت ، عزلت ، ... او باطني شغل او [illegible] راغلې دي . کتاب الصناع ، قيامت ، انساني صفات ددې کتاب نور بحثونه او بيانونه دي او دکتاب په پای کې يې دوې منظومې الفنامې هم شته .

داکتاب ميرحسين په ۱۰۷۰ هـ ق کال بشپړکړی دی ، ده ويلي دي : « زر اويا کلونه له هجرته ووتېرشوي ، چې تمام مې داکتاب کړ »

دنافع المسلمين صحنه برخې چې ميرحسين ليکلي دي دمعتبرو ليکنه کې يې له ډېرو کتابونو استفا ده کړې ده چې دځينونومونه يې راوړي : تفسير زنجاني ، تفسير وسيط ، تفسير يعقوب غزنوي ، تفسير کشاف مختصر وقايه ، تنبيه الغافلين ، عمدة الاسلام ، دافع الملحدين ، کنز الدقايق ، فتوت نامه ، مفتاح الجنان ، راحت المحبين ، قوت القلوب ، سراج القلوب ، نورنامه ، او نور ...

دا کتاب په مجموعي توګه د ديني او شرعي لارښوونو

ترڅنگه عرفاني بحثونه هم لري .

په دې کتاب کې الفنا مې بشپړې منظومې دي او نور بحثونه تول نه زیاتره په نیم منظوم سبک لیکل شوي دي، چې یوه نمونه یې داده : « په مفتاح الجنان کې هسې وایې عالمانو دي وېلي لمانځ گذار په دوه رکعت لمانځه کې دولس څیزه محتاجېږي هرچه دا دولس څیزه مه زده که لمونځ کاندي هغه لمونځ یې نه قبلېږي »

هغو سباغلیو چې د مخزن الاسلام ملحقات لرونکې نسخې اوپا دیوولسمې پیړۍ د مسجع لیکونکو د کلام او وینا وو او بیانونو جوړگونه لیدلي دي ، هغوی په ځینو دغو خطي نسخوکې پریوه ساده اماپرساده گۍ کې سنکلې او له سوزه ډکه غزله ضرورپېښ شوي وي ، چې د مطلع یوه مسرعه یې داده : « جنت یې روغ کړ په زیب کلونه » دا غزله دا خوند احمد ده چې د دغې یوې له شوره ډکې غزلې ترڅنگه ځینې نور رسایل هم لري .

دده رسایل زیاتره مسجع نثر دی ، یو نیمه یې منظومه هم ده . سباغلي حبیب الله رفیع چې دده د یوسف (ع) ، قصه ځانگړی چاپ کړې ده د قصې په مقدمه کې یې دده د دغه لاندې آثار بنوولي دی : د حضرت محمد (ص) او ابوجهل قصه ، شفاعت نامه ، د بي بي خدیجې قصه ، د حضرت داؤد (ع) ، قصه ، د بې نمازانو بیان ، د حضرت ابراهیم خلیل قصه ، د مرگ بیان ، تولدنامه حضرت رسول (ص) ، د یوسف (ع) ، قصه ، شمایل نامه او دری وصیت نامه ... » اما وروستیو څېړنو له دغولړو آثارو

سربېره دده له خوا ليکلی دحضرت محمد (ص) دمعراج قصه يا معراجنامه او ځينې نور ساسونه هم ترګوتو کړل.

زما په پوهه دده په نورو يا دو شويو آثارو کې شمائل نامه په پښتو نظم ده چې ددريو و مخمسونو په کالب کې يې بشپړه کړې ده. دا شمائل نامه اول ځل ارواښاد عبدالرؤف بېنوا (۱۳۶۳ هش مړ) په خپله يوه مقاله کې چې يې د ۱۳۵۷ هش کال په اوايلو کې د زېرې اخبار ته دننتر ليارې استولې وه، معرفي کړه. دا خوند شمايل نامه ديوې مجموعې په ترڅ کې راغلې ده. دا مجموعه هغه وخت دپښتو څېړنو په بين المللي مرکز کې خوندي وه چې بيا دافغانستان علومو اکاډيمۍ ته وسپارل شوه. ددې شمايل نامې يوه بله نسخه دپېښور د پښتو اکېډيمۍ په خطي مجموعه کې هم شته.

ددې شمايل نامې مأخذ داخوند درويزه (رح) ويلې شمايل نامه ده چې يې دمخزن دکتابو په بحث کې راوړې ده. ددې شمايل دمأخذ او تکلې سکينت په باب اخوند احمد (رح) خپله ويلي دي:

شمايل مې له مخزن له دوه بيتو په پنځو کړ

ساده نثر مې په نظم د پښتو کړ

نورې رسالې چې قصص او له پند او موعظو دک دينی طرز فکر تر اغېز لاندې اخلاقي بيانونه پکې شامل دي، ګرده مسجع نثرونه دي.

په پښتو مسجع نګارانو کې اخوند احمد د بر پرکاره سړی معلومېږي

دي آثار يې په دې سبک ليکلي دی . خودا خبره هم بايد ورسره قيد کړو چې دی ناظم هم دی ، منظوم رسايل يې هم شته اوهغه يوه ماته معلومه غزله يې زما په عقيده د ی د پښتو د قديمو شاعرانو په دله کې هم درو ي .

د اخوند احمد له آثارو څخه ښاغلي رفيع د ده دوې قصې چاپ کړي دي . د يوسف (ع) قصه په مستقل ډول د ورک زوی څنګه پيدا شو ؟ په نامه او د ابراهيم خليل الله قصه يې د زوی قرباني په نامه د زېري کالنۍ په دوهمه ګڼه او تلوسه (مجله) لومړۍ ګڼه کې چاپ کړې ده . نور آثار يې ګرده ناچاپ دي .

ښاغلي رفيع د يوسف (ع) پر قصه يوه خوندوره مقدمه هم ليکلې ده . دوی په دې مقدمه کې د ځينو خارجي اسنادو په اتکاء د دغو لوړو يا دو شويو مؤلفاتو خاوند اخوند احمد د پښتو د اخوند احمد لنډۍ کې او سېدلي اخوند احمد بللی دی چې نيکونه يې په بلخ کې اوسېدل ، بيا يې د ننګرهار د کوټ په تيراهی کې زمکې او خانه وموندلې . اخوند احمد د ننګرهار په کوټ کې زوکړی دی ، بيا د علم او کامل پير د موندلو په تکل له خپلې سيمې راکوچېدلی او د حاجي سعدالله وزير آبادي (۱۱۰۲ هق) نه يې لاس نيوی کړی دی او بيا په پېښور کې استوګن شوی دی چې د سعدالله وزير آبادی د تصوفي سلسلې د ياترو مشايخو د غه اخوند احمد د يو لوی عالم په حيث يادکړی دی .

د پېښور د لنډۍ د اخوند احمد پلار اسماعيل او نيکه يې پاينده محمد نومېدل . دی په ۱۱۱۳ هق کال د جماد الثاني په ۱۲ مه مړ او

د پښتو د لنډۍ په جامع جونګ کې چې اوس دده په نامه اخوند احمد لنډۍ په نامه یادېږي بشپړ دی. (٤٤)

دا خوند احمد په باب چې ماکومې خبرې د ښاغلی رفیع د تحقیق مطابق لوړې راوړې دا یوه هم د اخوند احمد په لیدل شوې پښتو آثار وکې نه ثابتېږي . که سړی ده ته شکاک وي ښایي د اخبره سل په سلو کې و نه مني چې د پښتو د لنډۍ اخوند احمد دی چه دغه پښتو مسجع نثر نګار ، ناظم او شاعر اخوند احمد وي ، خو دا چې په څېړنو کې د داخلي شواهدو په نه موجودیت کې په خارجي شواهدو هم اتکاء کېږي ، نو هم د نورو په پیروۍ د اخوند احمد همدغه د پښتو د لنډۍ اخوند احمد ګڼم ، خو که چېرې په کوم داخلي سند کې په لوړه یاده شوې ادعا نه کې یو توکه هم غلط ثابت شي ، نو بیا بویه چې دا دواړه سره بېل کسان وبولو.

د دغه پرکار مسجع نګار د مسجع نګارۍ د ښوې د څرګندولو لپاره دا اړتیا لیده کېږي چې د مسجعاتو یو نمونې دلته راوړل شي ، اخوند احمد په خپله شفاعت نامه کې راوړي دي :

« د ښه خدای ثنا به وایم چې نبیان یې په سر یو کې پید ا کړه ، ځکه نور مخلوق یې واړه تر بزرګیه نه رسېږي . د دګو سر آدم صفي و او بیا آخر یې محمد قریشي و ، چې دا توغ د شفاعت یې هم په ده باندې دربېږي . »

دا خوند احمد د مسجع آثارو یو ازینې مزیت په دې کې دی چې دی په خپلو مسجعاتو کې حکایتې ژانر روزي او کوشش کوي چې د پیغمبرانو قصې او بیا په هغوی پورې مربوط

حکایات له‌خپل ذوق او سلیقې سره سم په خپلو مسجمو یکښې
راونغاړي .
دیوولسمې پېړۍ په مسجع لګارانو کې موږ څو تنه نور هم
پېژنو چې خانکرې رسالې لري او څینې متفرق بیانات یې هم
لیکاره دي .
په دغو کسانو کې یو هم شیخ محمد سعید دی او زما په‌ګمان
دا به هماغه سعید وي چې دولت لواڼي په خپله یوه مصرع کې
له‌احمد او نورو سره یو ځای یاد کړی دی او احمد یې هم
زما په‌ګمان همدغه اخوند احمد دی ، چې د مخه مولن‌څبرې
باندې وکړې . دا شیخ محمد سعید ناظم او مسجع لګار دی .
ما یوه خانکړې رساله لید لې ده چې شفاعت نامه نومېږي او
خطي نسخې یې په زړو جونګونو په کابل ، پېښور او لاهور (هند)
کې شته . دا رساله په مسجع نثر ده . د دې رسالې یو ټوکړ دادی :
« ستا د رحمانه په څه را څخه کېږي . ستا طلب دګومې چاره چې
تصدق‌ اهې رانه وایه . بې بې وایي دا ثرا مې په واسطه د دغو نیک
زنانو چې زما په دوستۍ مهشتري بخښلې ځنبتن تر . ای خاونده ته
یې وبخښې وما ته . پر بې بې به دا فرمان وشي له‌خاونده چې نیک
زنانې له‌تا سره تېرېږي . »
شیخ محمد سعید شفاعت نامه له‌دري نه پښتو کړې ده . په دې باب
یې ویلي دي : « په فارسي کتاب کې هو بېره دي لیکلی ، شیخ محمد سعید
هو بېره ځینې پښتو کړه . »
شیخ محمد سعید یو پښتو مریح هم لري . دا مریح به پېښور

پښتو اکیډیمۍ کې یو خوندي جونګ کې ثبت دی . دا جونګ په دې اکیډیمۍ کې په (۹۱٤) نومره ساتل کېږي .

اخوند موسی یو بل دیني عالم دی چې د حقوق الاستاد په نامه د مسجع نثر یوه پښتو رساله یې د پېښور او هند د کتابخانو په ځینو خطي مجموعو کې خوندي ده . د دې رسالې نوم په متن کې نښته ، ما چې د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخو فهرست برابراوه نو مې د رسالې متن ته (چې د استاد د حقوقو په شاګرد بیان کړي دي ) په پاملرنه مې دا رساله ( پر شاګرد د استا د حقوقو بیان ) تر سرلیک لاندې معرفي کړه . ښاغلي رفیع چې د پېښور د پښتو اکیډیمۍ د خطي نسخو کوم فهرست جوړ کړی دی هلته یې یو ځای دا کتاب عاق نامه نومولې ده . په دې وروستو کې ما د پېښور په آرشیف کې پښتو خطي نسخې پلټلې هلته مې د اخوند موسیٰ د دې رسالې یوه بله نسخه ولیدله چې محمود نومي کاتب په ۱۲۷۲ هـ ق کال لیکلې ده او په پای کې یې کښلي دي:
«تمت تمام شد رساله حقوق الاستاد من تصنیف اخوند موسیٰ علیه الرحمة ».
څنګه چې د محمود کاتب ضبط د یوې نیمې پېړۍ په شا وخوا کې قدامت لري نو ځکه ما هم دا رساله حقوق الاستاد و نومو له .

د دې رسالې په لیکلو کې اخوند موسیٰ له دېرو عربي او نورو کتابونو استفاده کړې چې د ځو نومونه دا دي : ارشاد العالمین ، تنبیه الغافلین ، فتاوای نوادر ، ذخیره ، مشارق ، حجة الاسلام او نور.
په دې رساله کې د اخوند موسیٰ د لیک دول دا دی : « واوري یارانو دا خبرې له خبرو معلومېږي ، هسې وایي که یو حرف دې له چا زده کړ دی بنده هغه شو چې دا شي به ارشاد العالمین یې وکوره که باور دی

په پښتو ژبه نه کېږي ...»

له دې رسالې سربېره د پېښور د پښتو اکیډیمۍ په تېر یاد شوي خطي جونګ (نمبر ۹۱٤) کې د اخوند موسیٰ د همدې حقوق الاستاد تر رسالې مخکې دده یو بل بیان هم شته چې یوه دعایې له عربي نه په پښتو راړولې ده. په دې بیان کې نوی انکشاف دادی چې اخوند موسیٰ د خپل پلار نوم هم ښوولی دی او ویلي یې دي چې د پلار نوم یې محمد و. لکه چې ددې دعا په پای کې وایي: دا دعا په سریاني وه د عباس زوی عبدالله چې په رواېږو ډې د خدای رحم وینه، دا دعا په عربي وه ساړه کړې اوس موسیٰ د محمد یې په پښتو کې جوړه دینه».

ددې اخوند موسې په باب یو بل اټکل د اکبدای شي چې دا به هغه د بټي کوټ مشهور اخوند موسیٰ وي چې زیارت یې اوس هم د ننګرهار په بټي کوټ کې دی او په خلکو کې دده په باب ډېرې کیسې شته او د مارانو عهده دار و. په تاریخ مرصع کې د میا موسی بټي کوټي په نامه یاد شوی دی. دا یو قیاس دی، کېدای شي را تلونکي اسناد نور څه را پیدا کړي.

دا اخوند موسیٰ او تر ده دمخه یاد شوی شیخ محمد سعید د پښتونثر د تاریخي سیر په کمبل شریو چاپي کتابونو کې نه دي معرفي شوي او یواځې ښاغلي سیار یې په خپل کتاب «په پښتو کې د مسجع لیکنې د پیدایښت او پالېښت مسأله» کې د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې له مخې یاد ونه کړي دي. (٤٥). په پښتانه شعراء پنځم ټوک کې هم د همدې یاد شوي منبع له مخې (د هند د کتابخانو پښتو نسخې له) دواړه د شاعرانو په نامه معرفي شوي دي (٤٦)(٧٣)-ص، ټمبله ١ سه پخمه

د پښتانه شعراء د پنځم ټوک ليکوال ښاغلي سر محقق بختاني د منډ د کتابخانو پښتو خطي نسخې په کتاب کې د دغو دواړو شيخ محمد سعيد او اخوند موسى راغلي اقتباسات ښايي نظم منلي وي او په دې اساس يې په خپله تذکره کې معرفي کړي وي.

زه لا ددولسو دیارلسو کلونو هلک وم چې زموږ دکلي يو ذوقمن بنګړ شيخ مصلي له خولې مې ځينې ښکلې له درداو سوزه ډکه مستانه عرفاني غزلې اوريدلې وې.

دې ذوقمن بنګړ چې به کله سهار دوخته يوې را وايسته او په خپلو زمکو کې به يې يوې کوله نو به يې په خپل خواږه آواز ځينې صوفيانه غزلې ويلې، ديوې له شوده ډکې غزلې مطلع يې چې تر اوسه زما په ياد ده:

که دې دحق مينه روزي شي له دوامه سره
لکه الف چې وصلت بيا موندە له لامـه سره

تر ۱۳۵۳ هـ ش کال پورې راته نه وه ښکاره چې دا غزله دچا ده؟ په دې کال د ښاغلي رفيع دادبي ستورې لومړی ټوک چاپ شو او هلته مخ ګنده شوه چې دا غزله داخوند ميا داد ده، چې له يوو ناره جونګه يې ترلاسه کړې وه.

دا اخوند ميا داد ددېوان خاوند شاعر دی، چې د معرفتاو سلوک په موضوع پيبلي اشعار يې ويلي دی. دژوندزمانه يې يې لنیه پيړه اټکل کېږي. د ښاغلي عبدالحليم اثر دروايت مطابق ميا داد دشيخ رحمکار صاحب (کاکا صاحب) (۱۰۶۳ هـ ق مړ) مريد او د هشتنغر د اتمانزو د هوديې مې او بنيخ دی.(۴۷)

که څه هم د اخوند میا داد په باب په تذکرو کې بیانونه شته او دده د شعر نمونې یې ورکړې دي ، خو نه د شاعرانو په تذکرو کې او نه هم د پښتو نثر د تاریخي سیر په باب کښل شویو کتابونو کې چا داخبره کړې چې اخوند میا داد نثرونه هم لیکلي دي . که نه وي په ۱۹۶۷ع کال د پېښور د پښتو اکیډیمۍ مجلې (پښتو) د دغه مسجع توټې چاپ کړې وې او په ۱۳۵۵ هـ ش (۱۹۷۶ع) کال کې یې په کابل مجلې کې یوه منثوره نورنامه معرفي شوې ده .

په هر صورت کله چې موږ په پښتو مسجع نګارانو خبرې کوو، نو ارګینې وه چې د اخوند میا داد مسجعات هم یاد کړو . دده په مسجعاتو کې یوه مستقله رساله مانه معلومه ده چې نورنامه نومېږي . یوه نسخه یې ما په کابل کې له بناغلي رفیع سره لیدلې وه او بله مې یې په پېښین کې د صاحبزاده حمیدالله په خپلې مجموعه کې ولیده . زه چې دلته د دې نورنامې کوم ټوټې وړاندې کوم د پروفیسور صاحبزاده حمید الله له خپلې نسخې څخه رانقل شوې دي: « د نورنامه له برکته عاصیان به واړه بخښینه ، خدای دې رحم وکا په جمله مؤمنانو باندې چې شفاعت د محمد (ص) یې روزي که هم د یدار له دې ورشي د وړاندې ... » .

اما دده کومې مسجع توټې چې دده دیوان له یوې نسخې سره منبتي دي ، د شاجهان (۱۰۳۶ - ۱۰۶۸ هـ ق) او اورنګ زیب عالمګیر (۱۰۶۸ - ۱۱۱۸ هـ ق ) معاصر دیوسفزیو د خان بهاکو خان په نامه لیکل شوې دي او له دغه څخه یې غوښتي دي چې د پاچا په وړاندې له بعضې نه لاس واخلي . ده لیکلي دي :

« راشه سر له بادشاه ما خله ، تللګ قبول که چې مخ رو لمنی تر

بادشاه ورشي ای قلندره ... هرچه له بادشاه خپس باغي کا، ځان به عاصي کا، ملک ورپرېښ دي، کچکول راواخله اوس دروېزه کا. قام دې خوار که. ننګ دې اختیار که. ځان دی په دار که. ای باګي خانه، غمونه لغړه. پښتون جلیل دی، ایل په مغل دی، هرچه و بادشاه ته سرکوزی نه کا او د منصب پرېماني غواړي سحرګره.» (٤٨)

ما چې داخوند میاداد کوم مسجعات لیدلي دی په دعوې د نورنامې سبک هغو مسجع نثرونو ته ورته دی چې اخوند دروېزه او نورو لیکلي دي، مګر له دېوان سره نښتو ټوټو کې د نظم خواته تمایل زیات لیدل کېږي.

* * *

دیوولسمې پېړۍ په مقدمو مسجع لیکوالانو کې یو بل ناپېژندلی سړی چې تراوسه یې بل ځای نوم نه دی یاد شوی، جورایا جوهرنو مېږي. ده د حضرت پیغمبر (ص) وفاتنامه په مسجع نثر بیان کړې ده. په پېښور آرشیف کې داخوند دروېزه د لمسي محمدحلیم په قلم د مخزن الاسلام یوه نسخه شته چې په ٦٣ نومره په دې آرشیف کې ساتل کېږي.

د دې نسخې د ملحقاتو برخه کې څه هم لوبد نې لري، خوځینې ناچاپ آثار پکې خوندي دي. په نوادرو کې یو هم دجورایا جوهر لیکلې وفاتنامه ده چې یو اتۍ پای برخه یې پکې راغلې ده. په دې نسخه کې د دې وفاتنامې په پای کې د لیکوال نوم فقیرجواه لیکل شوی دی.

له نېکه مرغه د همدې آرشیف په خطي کتابونو کې په ٢٦٢ نومره د

مخزن یوه بله خطي نسخه شته . د مخزن دا نسخه د ملحقاتو له پلوه ډېره مهمه ده . په دې نسخه کې د دې د وفاتنامې بشپړ متن خوندي دی او په دې ډول پیل کېږي : « دا روایت دی له رسوله چې اول آیت د قرآن اقراء ، الیوم اکملت لکم دینکم دا آیت یې آخرین دی . دا آیت یې رسول راغی دده خاطر پرې نګران شه دامت له دېره غمه اندوهګین دی »

د دې وفاتنامې متن چې د مخزن د دې نسخې ٦ پاڼې یې نیولې دي . په پای کې یې د لیکوال نوم داسې راغلی دی : « فقیر جورا چې دا بیان پښتو کې امیدوار دی له شفاعته که وم ونیسي له لاسه ما به خلاص کړي له حولو نه ای رسوله ستا په شفاعت زما یقین دی . »

د مخزن د همدې نسخې په ملحقاتو کې د همدغه سړي یو بل بیان هم شته ، چې د مکاره سنځو بد افعال یې پکې غندلي دي او په پای کې یې ویلي دي : « فقیر جوراچې دا بیان کړ روایت یې په تحفه کتاب کې دی لیدلی . »

په همدغه آرشیف کې په ۳۵ نومره داخوندکبیس د جنت الفردوس یوه نسخه شته او د دې نسخې په منځ کې د دغه اخوند د لیکلې وفاتنامې یوه شلېدلې پاڼه هم چاپېږي ده . دا شلېدلې پاڼه د دې وفاتنامې وروستۍ پاڼه ده . په دې وروستۍ پاڼه کې د وفاتنامې د لیکوال نوم جوهر راغلی دی .

د دې پاڼې د پای برخو کې راغلي دي : ای پاکه رسوله لهدنیا ولاړې - زړه مې ستا له غمه نه چوي ، دا نو بې زړګی ځشکل سنګین

دی... یوه خدایه د وفاتنامه له برکته رحم وکړې په جمله مؤمنان
هم هغه کس چې وفات شوی د حق دین دی . فقیر جوهر چې دا
بیان په پښتو ووی امیدوار د محمد د شفاعت ، د پاک نبي په شفاعت
د ده یقین دی .»

دا پاڼه چې د جنت الفردوس په نسخه کې اېښــــودل شوې
ده د ملا اختیار په خط ده . ۱

له لوړه بیانه ښکاره شوه چې د وفاتنامې د لیکوال نوم دوه ځایه
«جوهر» (په نسخه کې یې واو ته پېښ هم ورکړی دی) یو ځای (جوهر)
او بل ځای جوهر راغلی دی . جواه ماته غلط ښکاري او د کتابت
له غلطیو به یې ښتنه کړې وي . د جوهر ثبت یې پخوانی د ۱۱۱۲ق
دی او جوهر یې وروستی ثبت دی . په دې وروستي ثبت کې
د رسالې په متن کې هم لاسوهنې شوي دي .

د دې وفاتنامې په باب زما یوه ځانګړې یادونه دا ده چې
د رامپور د رضا لایبریرۍ په کتابخانه کې چې د بابو جان د کلیات
کمه نسخه شته . د دې نسخې د پای په ۸ پاڼو کې یوه وفاتنامه
دیوې ځانګړې رسالې په توګه خطاطي شوې ده . دا وفاتنامه هم په
پښتو مسجع نثر لیکل شوې ده . د وفاتنامې په پای کې د لیکوال نوم
احمد راغلی دی ، په دې ډول : « دا معجزه د پاک رسول په
عربي وه ، دی کمینه احمد پښتو کړه غه یاران چې یې لولي یا یې
اوري سکه دعا دی پسې وکا » ( د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې ۲۸ مخ)
اما د پیل کوم اقتباسات چې یې له ما سره شته هغه د همدغه
جوهر یا جوهر د لیکلې وفاتنامې دی . زما فکر دا دی چې په دې

نسخه کې اول همدا وفاتنامه خطاطي شوې ده بیا ورپسې داخوند
له خوا ترجمه شوې معجزه مسلسله ورپسې راغلې ده. څنګه چې
په فهرست کې داثر سره او پای اخیستل کېږي، نو ځکه یې سر
د وفاتنامې او پای یې د معجزې نه اخیستل شوی دی.
له دې بیانه زما مقصد دادی چې د رامپور په رضا لایبریرۍ
کې موجوده وفاتنامه هم د جوړاجوهر په نزدا خوند احمد.
د پېښور د پښتو اکېډېمۍ د کتابخانې ۹۱۴ نومره جونګ چې
علام محمد مولوي خطاطي کړې دی د ډېرو مسجع نګارانو متفرق
بیانونه او مستقلې رسالې تر مونږ رارسوي. په دې جونګ کې دوې
ثبت شوې مستقلې مسجع رسالې د دوو داسې کسانو دي چې تراوسه
یې مونږ له نامه او آثارو نه ناخبره وو او دا دې اوس پرې خبرېږو.
په دغو دووکسانو کې یو تن یارمحمد نومېږي چې د حضرت
پیغمبر (ص) معراجنامه یې په مسجع نثر لیکلې ده او د بیان شیوه
یې هماغه د یوولسمې پېړۍ د مسجع نګارانو ده. دده د معراجنامې
د پای څینې برخې دا دی: « هرچه دا معراجنامه پراخلاص لولي یا یې
اروي پاک حبیب بې مددي هورې وي هم به لاس پرې نه رسي
د کمراهان د بداعتي د جمله وو د ښمنان. یارمحمد چې دا بیان کړ
امیدوار دی د پاک رسول له شفاعته هم ... د دعا دی، هرڅه
دی به څوک پرنکه دعا یا دکا د خدای د پاره، پر هغو کسان دې
خدای خیل کرم پر وکا چې به سختي وي هم پروا ه عالمیان »
د یارمحمد د ژوند زمانه یوولسمه پېړۍ دا ښکاره کېدای شي.
د یوولسمې پېړۍ په مسجع نګارانو کې بل سړی حقداد نومېږي

ده دحضرت یوسف(ع) قصه له درة البیضا څخه په پښتومسجع نثر اړول ده . ددې قصې د پای څینې ادبې بې قافیه والې جملې دادي : « دبیا رسول دخدای ویلی چې زنا شفاعت حرام پر هغو چې غمازې کا ، هغه چې مور او پلار آزار وینه . بل هغه چې اصیل فروش وي ، دوی له خدایه نه ویرېږي او له رسوله نه شرمېږي اصیلان په خرڅوینه .

دابیان حقداد ویلی ، ده درة البیضا کې ولیدلی ، کوندې څوک یې په مجلس کې ووا یینه ، بیا مهتر یعقوب سوال وکړ چې له کومه یې راغلی . ده جواب ورکړ زه له مصره یم راغلی ، تضاعې وروڼ مې دي ورک شوي ، زه طلب کړم پسې گرځم ، دي جدا شوي د زړه صبر مې نشینه .

ددې بحث په دمخنیو برخوکې تاسې دهغو مسجع نگارانو له نومونو سره اشنا شوئ چې یا خو دیوې حلقې په پیروانو ارادتمندانو اومریدانو کې شامل وو او یا یې هم مستقلې رسالې په مسجع نثر کښلې وې . زمانه مطالعې له مخې دیوولسمې پېړۍ په جریان کې د پښتنو په فرهنگي او دیني حلقانو کې نور ډېر مسجع نگاران تېر شوي دي چې څینې متفرقې مسجع نوټې او بیانونه یې څینو خطي مجموعو ته موږ رسول دي .

که چېرې څوک دمسجع نگارانو څینې خطي مجموعې ، جونگونه او په تېره د مخزن څینې ملحقات لوونکي نسخې له نظره تېرې کړي ، نو له ډېرو داسې نومونو اوداسې آثار و سره به مخامخ شي چې تراوسه کې ده سره په ادبي څېړنو کې مطرح

شوي نه دي .

ما په کابل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ او د افغانستان د ملي آرشیف په خطي مجموعو، د ښاغلي رفیع د کتابخانې، د خپلې خطي مجموعې، د هند د ځینو کتابخانو، د پخواني شوروي اتحاد د ځینو کتابخانو د پښتو د پښتو اکیډیمۍ او د پېښور آرشیف په خطي مجموعو کې پخوانۍ ځینو چونګو او د مخزن په ملحقاتو کې ځینې داسې کسان پیدا کړي دي چې آثار یې زما په عقیده مسجع نثر او لیکوالي یې زیاتره د پښتنو نا پېژندلي فرهنګي څېرې دي، چې د دې بحث د بشپړتیا په خاطر یې باید د لته یادونه وکړم:

(۱) ملا سلیمان : په د ډېرو خطي چونګو او د مخزن په ملحقاتو کې د ده متفرق بیانونه موندل کېږي . د حکایت رسول (د حضرت پیغمبر (ص) دیو خوب قصه ) د متن د ځینو نسخو په مقطع کې هم د ده نوم راغلی دی . د احکایت تر ټولو د مخه ارزاني د روښاني په پښتو نظم ویلی دی . د ارزاني نظم کړی حکایت رسول د ده باعیاتو په چوکاټ کې دی . ما چې د ارزاني . غه نظم کړی حکایت رسول د ملا سلیمان په نامه حکایت رسول سره وکوت ، نو را ته ښکاره شوه چې د حکایت اصلي ناظم ارزاني دی . چې په آخر کې ملا سلیمان خپل نوم په ډېره ستړه رباني کې وراچولی دی .

د سلیمان نوم ما د سلیمان په نامه د دې حکایت په دوو بېلابېلو نسخو کې داسې موندلی دی :

ای فقیره سلیمانه                تهٔ به ومرې له ارمانه

غه دوزخ بهٔ تاڅه کاندي          که اور نه وی ستا له ځانه

بل ځای :

دا پښتو سليمان ويلي    په کتاب کې يې ليد لي
که شوک يادي په دعا کا    غم کسان دي خداى غافلي

که څېرې د ارزاني نظم کړي حکايت رسول دګ حکايت د سليمان په نا مه منظوم شوى سره وکوت شي، نو له مقابلې يې ښکاره يږي چې دا حماسه د ارزاني ويلې منظومه ده او سليمان کوتي پکې وصلې دي.

ځينې مسجع نثرونه يې هم د ورديانې کړي دي، لکه دا توته: «د حضرت عمر و مدعي شپېته کلونه يو معراج چې اتلس کاله شپه وه. دې ډوندى په صحبت و. په ظاهر کې يو من دوسير خواره وو، روايت صحيح راغلي. په دا در شپېته کلونه کې حيات پر دا دنيا وه، شپه ورځ غافلانه وه.»

ملا سليمان په دې حکايت ولیکيه ور زياتو کړي مسجع نثرونو سربېره ځينې نور مسجع بيانونه هم لري چې اکثر د مخزن الاسلام په ملحقاتو کې راغلي دي او ځينې هم په ځينې خطي مجموعو کې. د مخزن الاسلام يوه خطي نسخه چې په ٦٦ نمره په پېښور آرشيف کې ضبط ده د هغې په ملحقاتو کې د موسى (ع) او قارون په باب د ده يو مسجع بيان محفوظ دى چې پاى يې دا دى: «د ده ډوندي په زمکه روبه غه هم يې ځاى تحت الثرى شه، ولې هسې خبر نه و د موسى له نيک خواهى. ځينې وايي له غه کفر د ېر پښېماه دى، ځينې وايي پښېمان نه دى، چې صحيح قول د خدا دى چې قارون وله شيطانه پيدا شوى. سخترين عذاب يې وايه په بند بدې دلهم او د مارانو اښوهى.»

د پېښور پښتو اکيډيمۍ په ١١٠١ نومره خطي جونګ کې يادا ذانپښتو ترجمه هم شته.

(٢) ملا عبد الرحمن: مونږ تر اوسه په خپله قديم فرهنګي تاريخ کې

دعبدالرحمٰن په نامه یو اثر چې د ټولو پښتنو محبوب شاعر عبدالرحمٰن بابا[1] مومند سره یې پېژاند چې دیوولسمې پېړۍ په اواخرو او ددولسمې پېړۍ په اوایلو کې یې ژوند کړی دی او د دولسمې پېړۍ د دریمې لسیزې یې لا نه ده پوره کړې . البته له عبدالرحمٰن بابا نه وروسته موږ د دیارلسمې پېړۍ په جریان کې په دې نامه څوتنه عبدالرحمٰن نومي پېژنو . خو دغه عبدالرحمٰن چې دلته یې نه یادونه کوو، غالباً به زموږ د عبدالرحمٰن بابا زمانې ته ورنږدې وي، خو تر هغه لږ دمخه.

دا مولانا عبدالرحمٰن چې زه یې دلته دربیم او پښتانه یې لومړی بلا له نامه او اثر خبروي، د روښانیانو سرسخت مخالف دی. سره له دې چې دا خوند درویزه ننګرهاری (رح)، او د ده د کورنۍ د غړیو د چا صریح یاد یې هم نه دی کړی.

ده د خپلې زمانې د یوه سرکښه عمر نومي د ده په ژبه بد صتي پر خلاف په پښتو ژبه یو بیان لیکلی دی چې د دې بیان د لیکنې شیوه مسجع نثر دی او په دې بیان کې د عمر نومي د اعمالو له مذمت او رټنې برسېره د ده په اصطلاح د پیر تاریک یادونه یې هم کړې ده او هغه یې په بدو او ناشایسته الفاظو یاد کړی دی.

د ده دا بیان ما په دوو منابعو کې لیدلی دی. یو د پښتو ټ د پښتو اکیډمۍ په ۱۱۰۱ نومره خطي جونګ کې او بل هم په پښتو ټ آرشیف کې په ۲۶۰ نومره خوندي مخزن الاسلام په ملحقاتو کې. دا نسخه کټ نه وم غلط د اخوند کریمداد د لمسي مصطفیٰ محمد په خط ده.

دا بیان مولانا عبدالرحمٰن داسې پیل کړی دی: « د الله ثنا به وایم

چې احد دی مل يې نشته د خدای . په خوله وايي چې خدای يو
دی ، سم د زړه اقرار يې وکړ د الله يو يگانه گي . پر سنت د مصطفی
برابر درومه د غه لار ده برابره که کج نه يې . په سلسله شه د سينانو
لار ده مستقيمه که له ديه اعراض شه ته گمراه يا مبتدعي شې . . . .
په وړ نبيه زمانه کې څوک تاريک و ، چې نه زلمي يې سره يو ل کړه ،
څوک خايل و څوک يې عقل مهمند نه . . . . اې تاريکه خوارشې
چونه زلمي دې وبله يو ل کړه د خدای نوم دی ترمیان دام کړه ،
چونه زلمي اوس يېنبه تا پر وسه د ايمان کړی . . . اوس زمونږ په
زمانه کې حاجي عمر بدعت چوړ کې مجالس يې له زنان ول زيات دا مهمند زي.
ای عمر و گوش که شرم د عمر د نامه وکړه چې عمرخطاب د نبي
يار و دی ولاړ و د نبي په پسر وي . ولې ته اباحتي بدعتي شوې
خدای دی لار کا درځکنده ته پير و د حضرت نه يې . ه
د دې بيان له شيوې څخه ښکاري چې مولانا عبدالرحمن ديولي
پېړکه د حدودو يو ملا و چې د ځه ليکلو استعداد يې درلود او
د هغه وخت په ديني حلقو کې د معمول مسجع سبک په چوکاټ کې
يې خپني بيانونه ويلي دي ، چې دا دی يو يې تر اوسه مونږ ته
معلوم دی .
(۳) حبيب : دا سړی همونږ کاو تر اوسه يې مونږ له نامه او
آثارو ناخبره وو . خپني خطي چوکونو يې آثار ترمونږه را
رسولي دي ، ده د قرآن عظيم الشان ديو آيت تفسير په پښتو
مسجع نثر بيان کړی دی . دا تفسير يې داسې پيل شوی دی :
« يوم ينفخ في الصور فتاتون . تاسې واورئ ياراتو ! دا آيت چې

راغی غه مضمون یې په دا رنګ معلومېږي . په تفسیر معالم کې وایي چې رسول له حجرې ورا وتلی، دی و ډېر هیبت وهلی چې دخدایه ډېر وېرېږي »

د دې آیت شریف د تفسیر په باب کې ده خپل نوم داسي راوړی دی : « فقیر حبیب چې د دې آیت معنا پښتو کړه ، سکه غرض یې نصیحت دی ، مؤمنان دې په یاد کا هم دی برابر پر شرع دروې چې په عصات کښې و نه شرمېږي »

په پېښور آرشیف کې په ۲٦۰ نومره محفوظ مخزن الاسلام کې د قران عظیم الشان د دې آیت د مفسر نوم حبیب دی ، خو هم دغه تفسیر چې د پښتو اکیډیمه ضبط ۱۱۰۱ نومره جونګ کې راغلی دی هلته یې نوم هیبت دی ، البته داسي یې لیکلی دی «حیبت» . خو زما غالب ګومان دا دی چې دا نوم به حبیب وي او په دوهمه نسخه کې به له کاتب نه « حیبت » شوی وي .

(۴) ملاعلي خان : د دې سري آثار ما لومړی ځل په ۱۳۵۴ هـ ش کال کې د ښاغلي حبیب الله رفیع په کتابخانه کې محفوظ د عبدالغني کاسي په خط لیکل شوي مخزن الاسلام (۱۱۴۲ هـ ق کتابت) په ملحقاتو او بیانونو کې وکتل . د ۱۳۵۵ هـ ش کال په اوړي کې ما په غزني کې د مخزن الاسلام یوه بد خطه نسخه و موندله چې ملا محراب په ۱۲٦۱ هـ ق کال لیکلې ده . دا نسخه که څه هم بدخطه وه، خو د بیانونو او ملحقاتو له پلوه د و مره غني او مړه نسخه ده چې که و وا یو د عبدالغني کاسي د بیانات افغاني ټول بیانونه پکښې خطاطي شوي دي، نو به مو څه ریاته خبره نه وي کړې . په دې نسخه کې هم د

ملا علي خان آثار موجود دي . په همدې اساس کله چې ما د لومړنګه
لومړۍ تذکره کښې نوټ مې د علیخان په باب وکښل :
د علیخان سرغلانی : په یو ولسمه پېړۍ کې د افغانستان له صوفیه
مشاهیرو او لیکوال شخص و ، په پښتو ، پارسي او عربي ژبو پوهېد
د حضرت عیسیٰ قصه او د معاذ بن جبل حکایت یې له پارسي او عربي څخه
په پښتو مسجع نثر ترجمه کړې دی ... » (۴۹) . په کابل کې هغه وخت
موجودو دوو منابعو کې د علیخان له نامه سره د سرغلاني تخلص هم لیکل شوی
خو ما چې کله د پښتو په آرشیف کې پښتو خطي کتاب نوبت ۴۴ نومره
د قید مخزن الاسلام په ملحقاتو کې چې د ملا علیخان یو بل بیان لیکل شوی
چې د اولیاوو کرامت یې په پښتو مسجع نثر راوړی دی او عنوان یې همدغه
ورکړی دی : «قصهٔ افغانی از ملا علی خان سرلغانی» . ما ته څرګنده دوه
معلومه ده ، چې د ننګرهار په کږدي غوښ او د کونړ په سرکاڼو کې
میشت الکوزي څانګه سرغاني بولي ، کېدای شي دا ملا علیخان هم
سرغاني وي . او د خطي نسخو کاتبانو چېرې سرلغاني او چېرې سرغلاني
کښلی وي . له دغو مراجعو پرته د پښتو اکیډیمي په ۱۱۰۱ نومره
جونګ کې هم د علي په نامه دیو مسجع نګار دوه مسجع بیانونه خوندي
دي چې د یو عنوان دی : «دربیان صفت خدای تعالی» او د بل عنوان دی :
«دربیان صفت رسول الله صلی الله علیه وسلم» . دا دواړه بیانونه ما ته د همدې ملا علیخان
ښکاري ؟ . د ده د مسجع نګارۍ شېوه دا ده :
«هسې صفت یې مه کاندئ خلقه ، لکه نصاری د عیسیٰ کړې هرچې
د مخلوق برابري وي هسې رنګه صفت یې کاندئ هرڅه ستاسې په
خاطر وي . دی دی خدای لوی کړی د بهترۍ حد یې نشته ،

فقیرګویا په ډېره صنعت یې کړی نه شي ، د فقیر علي ژبان ځني قاصر دی .»

(۵) آدم : د آدم په نامه موږ قدیم شعراء هم لرو. د شیخ آدم دیوان زموږ په خطي کتابونو کې و، چې د حمدي نسخې له مخې ښاغلي رښتین په انډې ستورېیا سوهم ټوک کې معرفي کړ (۵۰). دا سړی د اورنګ زېب عالمګیر (۱۰۶۸ - ۱۱۱۸ هـ) یا دوي او ده معاصر ښکارېږي . اما د آدم چې یو مسجع بیان یې د عبدالغنی کاسي ملتاني په بیاضات افغاني (د ښاغلي رښتین نسخه) او زما د کتابخانې د مخزن په ملحقاتو کې شته. دا سړی مې هم له پخوا پېژانده او آثار مې یې لیدلي وو او په فرهنګ ادبیات پښتو کې مې ځای ورکړی و. خو دا خبره مېشک هم سل په سلو کې نشي کولای چې دا مسجع نګار آدم چې ځان فقیر آدم بولي او مغه بل د دیوان خاوند آدم چې ځان شیخ آدم بولي دوی دواړه یو تن دي او که بېل کسان دي ؟ له ماسره په دې ارتباط کافي دلایل نشته نو ځکه نه شم ویلی چې دا مسجع نګار آدم د لې له خپلو مسجعاتو سره ونیم. د ده بیان له لوړ و بیا د و شپږ مثنا یعنو سربېره د غلام محمد په جونګ کې هم شته . دی د ډېر ولسي ښپېړه د مسجع نګارانو په شان مسجعات لیکي او مضامین موضوعات بیا نوي چې دې پلې بیان کړي دي . دې بیان یې چې ما لیدلی دی د عقل د برترۍ او نفس د هوا د اسارت د مسالې په تشریح کې یې ویلی دی او د دې بیان په پای کې یې ویلي دي :

« دا نا د زمانې هسې ویلي چې عقل هوا دواړه سره جنګ کا . توفیق خدای له خدایه په طاعت کې ، هوا یار د خناس د شیطان نوس د دوی په منځ کې یو وخت دی . هر یو چې فتح وکړه ، نو س به هم په ده پسې ورځي.

د ابیان فقیر آدم ویلی په خلاصه توګه داسي لیکلې دي.

د دې دوو مسجع نګارانو : ملا علي خان سرغلاني، سرلختي یاسر غلي او آدم یا دولت د پښتو نثر په تاریخ کښې نه دي راغلي او نه یې چا آثار لیدلي او راوړي دي. ښاغلي سیار چې د خپلې علمي ترتیبیاتو په مسجع نګارانو کومه رساله کښلې، د دې رسالې په ۱۲۷-۱۳۳ مخونو کې یې پر ملا علي خان او آدم باندې بحث کړی دی، خو جالبه دا ده چې د هند د کتابخانو خطي نسخې فهرست کې معرفي شوې دوې لې مؤلفه مسجع پښتو رسالې یوه (د الله دیدار په جنت کې) او بله د ابراهیم قصه) یې د دوی دواړو ته منسوب کړي دي. ما چې د ښاغلي سیار رساله کې دا خبرې ولوستې له حیرانه نه خولې نشوم. څنګه کېدای شي چې یو لیکوال دې بې سنده دې سړي آثار بل ته منسوب کړي؟ وروستو څېړنو وښوده چې (د الله دیدار په جنت کې) نومې رساله د اخوند ځالاک ده.

(۶) تاووس خان : د تاووس نوم هم ماته نوی دی. تر اوسه زه په پښتو څېړنو کې بل ځای د تاووس پر نامه نه یم پیښ شوی او نه مې یې د آثارو څرک ایستلی دی. د غلام محمد د جونګ له مطالعې راته ښکاره شوه چې دیوه لسمې هجري پېړۍ په حدودو کې د تاووس په نامه یوه پښتانه عالم هم ژوند کړی دی او مسجع بیانونه یې پر بښتي دي، چې پر یوه یې موږ لاسبري شوو. دا بیان د لمانځه په ښېګڼو کې ویلی شوی دی او په پای کې یې راغلي دي :

« لسم که پر لمانځه باندې مهین یې، پس و صاف د جنت حورې مینې پر لمانځه دي، ته چې لمونځ دلې کوې دوی هوسېږي. هیبه و ورځ په ځان یوه که، ا ت تاووسه د جنت حورې هم کوره

ښایسته دي که یې وویني په سترګو سکه نو هم بې هوښه کېږي».

(۷) عبدل: مونږ په پښتو شاعرانو کې د عبدل په نامه یو شاعر پېژنو چې زموږ مشرانو ښېې ونکیې د خوشحال بابا د زامنو معاصر ګڼلی دی (پښتانه شعراء ۱/ ۲۶۵-۲۶۶ دلاهور چاپ) مګر ما یو خطي جونګ کې د عبدل نه بیانونه وموندل چې دوه یې د مسجع نګارانو د ولې د ځینو ناظمانو غوندې مات کوډ نظمونه دي او نور یې مسجع بیانونه.

د دوه اول نظم چې په دې منبع کې راغلی دی، اول بند یې پنځه مسرعه، دوهم یې درې مسرعه، دریم یې څلور مسرعه او هم نور بندونه یې ځانته جوړه سبت لري. بل نظم یې هم د اوږدو مسریو لرونکی نظم دی چې یوه مسرعه یې داده:

«زه به یو بیان کړم د بدانو له حالته»

دریم بیان یې چې د خدای د نازولي رسول حضرت محمد (ص) په صفت کې ویلی دی چې پیل یې دادی: «یو ویي به درته وایم د رسول له سروري. چې رسول سرحلقه د انبیاوو لویه بخره یې راوړې د ښه خدای له ښه خدایي.

د دې بیان په پای کې یې خپل نوم داسې راوړی دی: «هرچه د ښې کا د رسول له خلیفه کان دی به نا مید شي د رسول له شفاعته هم به اوسي تل ته تله د دوزخ په تاریکي ای عبدله ته په شرع د نبي شه خاک پای شه د علمان که خدای دې مل کا د نبي او د یاران له ټولي».

څلورم بیان یې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) پنځم بیان

د حضرت عمر (رض) ، شپږم د حضرت عثمان (رض) او اووم د حضرت علي (رض) ، اتم بيان يې داسې پيل شوی دی : « د رسول د څلورو يارانو صفت مې وکړ اوس بايده دی مؤمنانو چې صفت کړم د رسول د شپږو يارانو له ډېر زړه » او د نهم بيان په پای کې يې ويلي دي : « ای عبدله ته پر شيخ درزمه که د شيخ عبدالقادر مريد ترې يې » . لسم بيان يې « که ته څښتن چې پنځه پاڼه ورکه اموال تېر يې ، دوستي د آخرت کړه د دنيا دوستا په يوه نل شرمېږې » په پای کې وايي : « هر چه عبدل په دعا ياد کا ده کساد دی په دنيا په آخرت ونه شرمېږي . » (۵۱)

د عبدل دا (۹) بيانه چې شه يې نظم اوشه يې مسجعات دي د خپلو موضوعي خصوصياتو ، ځانگړنو او د پر داخت د څېړولو په توله هغه کره وړه لري چې د يو ولسي مجموعې پېړه د مسجع نکارانو او ناظمانو په آثارو کې ليدل کېږي ، نو ځکه زه په ډاډه زړه دا نشم ويلای چې دا عبدل به هماغه د خوشحال بابا د زامنو معاصر غزلسرا عبدل وي ، چې چمن بېنظير ، چمن بې عديل ، بياض مسيا حسيب گل او نورو خطي جونگونو يې متفرقې غزلې خوندي کړې دي او ديوان يې ورک دی .

د دغو بيانو نوځا وند عبدل ما ته گوري چې د نظمونو ته چې سرگوري ، نو د نثري زړه ته دا نه لويږي چې دا مات گوره غير مرتب نظمونه به هماغه غزلسرا عبدل ويلي وي ، چې په توله پوره غزلې ليکي . هغه مسجع نگاران چې غزلې ليکي . غزل او شعر يې به توله پوره دی ، لکه : احمد ، کريمداد او نور نو ودې شي چې دا مسجع بيانونه دې د حمد غه غزلسرا عبدل وي ؟

خونه د نورو اسنادو تر پیدا کېدو پورې د احتیاط اصل ته په پاملرنه دا دواړه یو سړی نه گڼم. که چېرې د ده دېوان پیدا شي او یا ځینې داسې نور شواهد چې دا دواړه عبدله دې یو سړی وي، نو به په آینده څېړنو کې سړی په غور بحث باندې وکړي.

۸) ملا هارون : دا سړی هم دیوولسمې پېړۍ مسجع نگار او ناظم سبکاري او د دیني علومو ملا. د ده آثار او نوم هم دا ننۍ لوړې څېړنو ته لار پیدا کوي. د ده ځینې بیانونه او نظمونه د مخزن الاسلام د ځینو خطي نسخو په ملحقاتو کې موندل کېږي. نظمونه او مسجعات یې د یوولسمې پېړۍ د مسجع نگارانو له آثارو سره په یوه ردیف کې درېږي. د ده د مسجعاتو نمونه داده : « ای هارونه تل تتله ژاړه او شپې ویې د قیامت په ورځ به خدای ز ده څه فرمان شي »

د ده دا بیان چې ما یې د پای برخه راوړه د قیامت په باب دی او داسې یې پیل کړی دی : « واورئ مؤمنان باورکانئ مسلمانان چې د قیامت ساعت عیان شي »

تر دې ځایه ما هغه مسجع نگاران یادکړل چې زما په څېړنه د لسمې هجري پېړۍ په اواخر او یوولسمې هجري پېړۍ په جریان کې یې ژوند کړی دی. اکثر دیني علما وو، د دیني سبوونو په منظور یې ځینې آثار هم په مسجع نثر او بعضاً په نظم کښلي دي چې ما په د مخني بحث کې خبرې باندې وکړې.

## د مسجع ليکني ورو ستي مزلونه :

استاد او مدارک دا ښيي چې د يو ولسمې پېړۍ په جريان کې د پښتو په فرهنګي کړيو کې مسجع نګارۍ ښه بابه وه، خو په ورو ستيو پېړيو (دولسمه - ديارلسمه) کې سره له دې چې موږ ځينې مسجع آثار ګورو او دا راته ښکاري چې د بخوانۍ افغانستان په ديني حلقو کې ناستو ځينو علماوو د مسجع نګارانو پښې کولې او خپل د يني آثار يې پر هماغه سبک کښل چې زموږ د يوولسمې پېړۍ مسجع نګارانو کښلي وو، خو د ورو ستيو مسجع نګارانو شمېر هومره نه دی، لکه څومره چې په يوولسمه پېړۍ کې وو .

زه به دې ځيرکې دا بحث د دولسمې او ديارلسمې پېړۍ د فرهنګي آثارو د مطالعې ترڅ کې داسې پرمخ بوزم چې د مسجع ليکنې د ورو ستيو مزلونو څرکونه ځنې را ايستل شي .

د دولسمې پېړۍ د مسجع نثر ليکونکيو په سرکې ما ته د جان محمد نوم مخې ته راځي . زما په اټکل دې سړي د يوولسمې پېړۍ په او اخرو او د دولسمې پېړۍ په او ايلو کې ژوند کړی دی . د پښتو شاعرو . متفرق غزليات يې په ځينو خطي مجموعو او مخزنونو په هغو نسخو کې ليدل کېږي چې د دولسمې او ديارلسمې پېړيو په جريان کې کښلې شوې دي . جان محمد په پښتو مسجع نثر يوه مستقله رساله ليکلې ده چې نورنامه نومېږي، او د اسلام د پيغمبر (ص) د نور پيدا ايښت بيانونه يې پکې را وړي دي . د ده نورنامه چاپ شوې ده او خطي نسخې يې د برېږي موندلې کېږي . د ده د مسجع ليکنې روش دا دی : « دا احوال د نور نا ی وه

په پارسي په عربه کې، جان محمد ترې دا بیان په پښتو ژبه ولیکه.
نورنامه په عربه کې خزانه پټه پرته وه، په پښتو شوه څرګنده
پښتنانه یې لولینه.» (نورنامه خطي)

دجامع الانوار اودموسئ(ع) دقصې مؤلف پښتون لیکوال په ملتان
کې او سیدلی محمد خان خټک د جهان خان زوی ددې دلې یو بل عالم
مسجع نګار او ناظم دی چې دپښتو نثر دتاریخ په لیکل شویو څینو آثارو
کې د ده او دده د آثار و نوموته بشپړ نه دي راوړل شوی(٥٢)
ده داسلام دپیغمبر په سیرت کې یو جامع کتاب لیکلی دی چې نوم یې
جامع الانوار دی او له تالیفه یې په ۱۱۱۸ هق کال د اورنګ زیب عالمګیر
دوفات پرکال فارغ شوی دی، ده ویلي دي:
« داکتاب چې تصنیف شوی عالمګیر بادشاه څه کال وفات شوی
دهجرت نه سل کلونه پرې دپاسه اتلس حسابږي » (٥٣)
جامع الانوار یو تمهید او ۲۱ بابه لري، هر باب یې په فصلونو
ویشل شوی دی. د دې کتاب د محتویاتو په باب خپله مؤلف کښلي دي:
« ابتدا از آفرینش نور آن سرور عالم مصطفی صلی الله علیه وسلم تانهایت رحلت آن
سرور مع معراج، احسن القصص وشمایل آن حضرت ومحارب معجزات وخانواده...»
ترجمه: « په دې کتاب کې د آنحضرت(ص) د نور له پیدا ښته ددوی
تر رحلته پورې ټول واقعات، معراج، احسن القصص، شمایل
غزاوې، معجزات او ددوی کورنۍ بیان شوی دی.»
د دې کتاب په تالیف کې محمد خان له ډیرو کتابونو استفاده کړې
ده، چې ځو یې دا دي: روضة الاحباب، مصابیح، مشارق، رساله مهري
تمهید المعرفت، مدارک او نور .... .

داکتاب تر اوسه چاپ نه دی، خطي نسخې یې دکابل په ملي آرشیف وحمدالله صحاف کندهاري په کتابخانه او دپښتو پښتو اکیډیمي په کتابخانه او پېښور آرشیف کې موندل کېږي.

ددغه بل اثر چې موږ ته ښکاره دی قصه د موسی(ع)، قصه ده، چې شل فصله لري او مؤلف په دې باب وایلي دي:

« د موسی قصه عجیبه ده راغلې. په قرآن کې ځای په ځای ده خدای ویلې، ما دا واړه پښتو کړه چې عامیان خبر شینه.»

د جامع الانوار او د موسی(ع) د قصې په بېلابېلو برخو کې د مؤلف او ناظم نوم محمد راغلی دی، خو د جامع الانوار د ځینو نسخو په پای کې د ده نوم محمد خان راوړل شوی، د پلار نوم یې جهان خان او ځای ځایګی یې ملتان او نسبي سلسله یې په حُمند پورې ښتې ښودلې ده.

د ده آثار که په شکلي لحاظ وکتل شي د نظم خوا یې درنه ده، بشپړ نظمونه هم یې شته، مانګوه نظمونه هم لري او مسجعات هم یې موندل کېږي. کله چې سړی په پښتو کې د مسجع نګارۍ بحث کوي نو محمد خان حُمند نشي هېرولای.

ده د مسجعاتو یوه بېلګه داده: « د غني خدای له رحمته، د موسی له برکته، امرزش له خدایه غواړم چې امان مې له شیطانه وشغورینه ».

د میرویس نیکه د کورنۍ استاد ملا نورمحمد غلجي د دولسمې پېړۍ عالم، شاعر، ناظم او مسجع لیکوال دی. د ۱۱۳۷ هـ ق کال شا وخوا یې د نافع المسلمین په نامه یو کتاب په مسجع سبک لیکلی دی. په دې کتاب کې دده دوه مخمسه هم راغلي دي چې یو مخمس یې

په پښتو خزانه کې هم ضبط دی.

د ده نافع المسلمین له مقدمې د شاه حسین هوتک له مدحې برسېره د اسلام د پنځو بناوو، د ایمان د ارکانو او د لمانځه د فرایضو واجباتو، سنتونو له بیان وروسته په کتاب طهارت (د اوداسه کتاب) کتاب الصلوة (د لمانځه کتاب) د روژې کتاب، د زکوة کتاب د حج کتاب وېشلی دی او په هر کتاب کې یې په بېلا بېلو بابونو کې د اوداسه، لمانځه، روژې، زکوة او حج پورې مربوط فقهي مسایل بیان کړي دي.

دا کتاب یوازې په همدې مسایلو مبني نه دی، بلکه ددې مطالبو په بیان پسې د پښتنو مسلمانانو د فایدې لپاره له دین سره تړلي او یا هم ددیني اند ښېښنو تراغېز لاندې ځینې نور اجتماعي موضوعات هم بیان کړي دي.

ده د خپل کتاب په تالیف کې له ډېرو معتبرو کتابونو څخه استفاده کړې ده چې د ځینو نومونه دا دي: «مخزن الاسلام، صلوة مسعودي، فتاوای کبیری، فتاوای ناصري، فتاوای شهابي، اساس الاسلام، فرایض نماز، مفتاح القلوب، حاشیهٔ چلپی، هدایه، مشکوة، کیمیای سعادت، عنایه، حاشیهٔ هدایه، شعب الایمان، حصن حصین، کفایه، مجمع البحرین، شرح کنز الدقایق او نور ډېر کتابونه...»

د ده د مسجع لیکنې سبک د څرګندولو لپاره یې دا مسجع ټوټه وګورئ: «که په برجو کې ځان محکم کړې یا په لوی غرونو کې ځان حصار کړې، له دا مرګه خلاصی نشته پر ده راسی، دی به نه ځني خلاصېږي.» (۵۴)

د دولسمې پېړۍ د مسجع نګارانو په ډله کې په ملتان کې د

اوسېدلي يوې پښتني فرهنګي کورنۍ مشر غړی عبدالغني کاسي
د ملا شېرخان زوی هم د همېږ ولو نه دی. دی يو هنرمند خطاط
و او د خپلي کورنۍ نورغړي يې هم په دې لاره کې روزلي وو.
حسيني متفرقي نيمه منظومي ټوټې يې له موږ سره شته (۵۵) دا
ټوټې د بيانات افغاني په هغه خطي نسخه کې راغلي دي چې همدغې
ملاعبدالغني کاسي په ۱۱۴۲ هـ ق کال په ملتان کې خطاطي کړې.
دا بيانات د ښاغلي رفيع دکتابخانې دی.

د دولسمي پېړۍ په اوايلو کې د تېرو شويو مسجع نګارانو او
يا دليکني له دې روش سره د اشنا خلکو په ډله کې د يادونې وړ
سړی محمد منير دی. دصراط المستقيم په نامه د يوپند دينی کتاب
مؤلف او ناظم دی. ده خپل کتاب په درې شيو و ليکلی دی: نظم
روان نثر او مسجع نثر. ده د خپل کتاب د دوهم جلد مقدمه
په مسجع نثر ليکلې ده او پيل يې داسې شوی دی: «زده کړه.
ای طالبه چې ارکان د دين اسلام واړه څلور دی: اول نص دی له
حديثه باور وکړه. بيا قياس د مجتهد دی له اجماع دامت، که له
دې څوک انکار کا د هغه مخ تور دی.»

دا مقدمه ښا بيسته اوږده ده او ددې کتاب دخطي نسخې
اووه اته مخه يې نيولي دي. څنګه چې داسې روان نثرونه هم
لري او نه اړ يم چې د ځېنو د نثر نګارۍ په پرمختيايي يون کې ددوه
منثورې نوشتې هم يادې کړم، نو ځکه زه دده په باب او دده
دکتاب په باب په بېل فصل کې خبرې کوم. دا ځکه چې دده په
کتاب کې روان نثرونه تر مسجع نثرونو ډېر دي.

زما په انګکل د دولسمې پېړۍ يو بل نثر نګار شاه محمد ترکاڼ دی، چې په نثر نګارۍ کې يې مسجع سبک ته تمايل زيات ليدل کېږي. ده د ترکاڼانو د کسب په باب دوې رسالې ليکلي دي، چې يوه يې (۹) پاڼې او بله (٤) پاڼې ده.

دا رسالې چې د نثر نګارۍ په کومه شېوه کښل شوې دي ډېرې يې سکښت مسجع دی، لکه دا بېلګه: « اوکه تاڅوک و پوښتي چې جمله اسباب د ېرېکول له کومځايه دی راوړی. ځواب ورکړه چې مهتر جبرائيل عليه السلام په حکم د خدايتعالیٰ له جنته راوړی او په ټول اسباب باندې يو يو آيت نازل شوی دی او هرهغه څوک چې دا کسب يې کړی يا يې کوينه او له ديه کسبه او به د دو ډی خورينه او دا آيتونه يې زده وينه، حلال به خورينه اوکه په دا آيتونه نه پوهيږي حرام به خورينه او په ورځ د قيامت به د دې سړي مخ د دوار و استادانو د وړاندې تورشينه.»

د يادونې وړ خبره ده چې د شاه محمد خان ترکاڼ په دې رساله کې ځينې داسې هم شته چې سجع لري، لکه دا بېلګه: «امام جعفر دي دا ويلي چې ای کاريګره په هغه وقت چې ته تبر يا ترخځ يا اره په لاس کې اخلې څه به وايې، ځواب ورکړه چې نه به دا وايم بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ.»

په دې رسالو کې مطالب زياتره د سوال او ځواب په بڼه طرح شوي دي. دا رسالې چې د ديني طرز فکر تر اغېز لاندې د ترکاڼۍ د کسب د مشروعيت او د دې کسب د آدابو په باب ځينې څرګندونې لري د شاه محمد ترکاڼ په خط هم دي او ليکوال يې هم دی ما ته ښکاري.

داولې رسالې په پای کې یې لیکلي دي: «تمت تمام شد کسب نامه د ترکانانو او دا خط د شاه محمد دی.» د دوهمې رسالې په پای کې یې بیا لیکلي دي: «او دا کتاب وقف کړی دی شاه محمد ترکانی» له دې و روسته لیکنې خو مانه داسې ایسي چې اصلي لیکوال به هم شاه محمد ترکانی وي. په رسالو کې د لیکوال په صفت د بل چا یادونه نشته. تر هغې چې بل سند پیدا کېږي په احتیاطي قید سره دا رسالې د شاه محمد بولو. که څه هم زموږ د مؤلف له نامه سره دېر کار نشته، رساله موږ ته مطرح ده. رساله موجوده ده او دا راښیي چې په دولسمه پېړه کې یو څوک داسې و چې نیاریې ایست په روان نثر د ترکانانو کسب نامه ولیکي، خو ښایي دده داوسپدنې په حوزه کې د مسجع لیکنې دوداج په اړ پر ده هم ددې سبک اغېزې پر پرېوتې وي او په رساله کې ترې روان نثر مسجع شوی هم وي.

دا چې ما وویل ښایي دا اثر د دولسمې پېړۍ د اوایلو وي زه دا انګل ددې کسب نامې د خطي نسخې له کاغذ، رنګ او دلیک له شیوې نه کوم. همدارنګه د رسالې ځینې خصوصیات هم زاړه دي. دارسالې په پېښور د آرشیف کې خوندي دي.

ښاغلي حبیب الله رفیع د پېښور د پښتو اکیډیمۍ د خطي نسخو په فهرست کې په مسجع نثر کښلې یوه معراجنامه معرفي کړې ده چې لیکوال یې اخوند احمد دی. دا خوند احمد له بیانو نو دروسته دهٔ یوه اوږده مسجع نثر ته هم نقل کړې ده چې غالباً په ۱۱۸۰ هـ ق کال کښل شوې ده. دا نثر ته د نسخې کښونکی (کاتب)

کښلې چې خپل نوم یې عثمان ښوولی دی، د افضل خان زوی، د لوی تهکال اوسېدونکی و، خو په څه وخت کې یې په اکوړو کې استوګنه درلوده.

د ده دا مسجع بیان داسې پیل شوی دی: «معراجنامه دحضرت رسول چې کاتب نوشته کوله ای یارانو، امیدوار په شفاعت دهغه څوان دی چې دجمله پیغمبران دی سردار دی هم ددوی شفاعت کاندې هم به کېږي.»

دا ضماعه روښانه دی چې مسجع نګارانو پاله. عثمان نومې هم یو داسې کاتب و چې له کتابت سربېره یې د مسجع لیکلو توان هم درلود.

د پېښور د پښتو اکیډمۍ دخطي نسخو په فهرست کې د«ګنج-الثواب» په نامه یو بل کتاب معرفي شوی دی. لیکوال یې اکبرشاه ښوول شوی او دشکلي او موضوعي خصوصیاتو په باب یې مباغلي فهرست جوړوونکي کښلي دي: «دنظلي او نثرې ابې لمونځونو، ادعیو اورادو او نورو په باب دماخذ و په ذکر روایات او مسائل لري چې په نیم منظوم دول ویل شوي دي.»

ما چې په فهرست کې ددې کتاب اخیستل شوې نمونې وکتلې نو یوه سپکه اشتباه راته پیدا شوه. داشتباه دلرې کولو لپاره ار شوم چې اصلي نسخې ته مراجعه وکړم. نسخه چې مې وکتله ماد اکبرشاه نوم پکې پیدا نه کړای شو. سبا یې رفیع صاحب لیدلی وي. دنسخې له کتنې راته ښکاره شوه چې ګنج الثواب نه دېرش فصله لري دبېلابېلو وختونو دلمانځه، نوافلو، مختلفو دعاوو،

د نوڅو د فضیلتونو ، دقرآن دځینو سورتونو دخواصو، د مسواک د فضلیت ، د جامو د سکېنتلو، سرخرئیلو سفر اونورو په باب بیانونه راوړي

د ۲ کتاب د قرآن آیتونو ، نبوي احادیثو اونورو ډېرو معتبرو دیني او فقهي کتابونو په استناد ترتیب شوی دی.

دگنج الثواب د فصلونو مباحث د اخوند عبدالکبیر د منظوم جنت الفردوس له مباحثو سره یوشی دی او ډېل یې هم له منثور جنت الفردوس سره یوشی دی، اما دلیک روش چې مې یې وکوت دانه منظوم جنت الفردوس ته پاتې کېږي نه منثور ته .

د منظوم جنت الفردوس دنظم شېوه داسې ده :

ولیکن چې به پوسنبتنه له تاکېږي له لمانځنه
اول فرض اداء کړه ورته پنځه وقته نمونځ دی کوره

د منثور جنت الفردوس دنثر یوه نمونه : « پیغمبر (ص) ویلي دي هرڅوک چې روژه دایام بیض نسي خدایتعالی به ورکا بدله دهری روژې ثواب دلسو زروکالو روژو... »

دگنج الثواب دلیکلو روش هم وګورئ :

« هرسړی چې صبر کا په معصیت کې . پاک الله به ترې راضي وي همېشه په هرساعت کې . هغه ورنبې ودوستي به وایه ګناهونه دده ، وبښي په فضل لازیاتې به ځني زر درجې ورکه په جنت کې . ملایک به همه وایه رحمتو نه په ده وایي . لور دلوره ګناهونه به یې لوی شي ، دی به غرق شي په رحمت کې . د دوزخ اور پرې حرام تنې ترې خلاص شي که هرڅو په دا دنیاوي مستغرق به

معصیت کښي ».

لوړه نمونه د مسجع نثر یوه تیپیک نمونه ده چې د منظوم او منثور جنت الفردوس د نظم او نثر د یو داخت له شیوې سره توپیرونه ښيي.

ما ته خپله داسې ښکاري چې د کوم مأخذ نه چې جنت الفردوس ترجمه شوی دی، د گنج الثواب لیکوال به هم دا کتاب له هماغه کتابه راژباړلی وي او دا امکان هم شته چې پښتو جنت الفردوس دې د گنج الثواب ناظم او لیکوال سره مروړلی وی او پردې اوسني تشکل یو اثر دې یې ترې جوړکړی وي ؟

د گنج الثواب په پای کې ځینې تعویزونه او ځینې طبي هدایات د مسأله تر عنوان لاندې راغلي دي، لکه دا لاندې مساله:

« او که حیض وي جاري چې نه ودرېږي. په اوبو دې ترې سر وینې بهېږي. نیم پاؤ کونځلي دې په شپې خوشتې کوي، سبا یې دې ښځې په نهري په سبه شان چې میده کېږي. خوړود دی دا کار که. غم دې بیانه کا هغه وینې به یې بندې شي، نه بهېږي »

د گنج الثواب مؤلف کوښښ کړی چې خپل مطالب په نظم پیل کړي د هرې برخې څو بیته یې په نظم جوړکړي دی. بیا ترې مسرکه اوږدې شوې او بې توله شوې او په مسجع نثر اوښتي دي.

په هرصورت مونږ په متاخرو مسجع آثارو کې د گنج الثواب په نامه یو کتاب هم لرو.

د پښتو اکیډیمۍ پېښور د پښتو نسخو ښاغلي مولف په خپل

جوړکړې فهرست کې د کتاب احادیث په نامه یو بل اثر راپېژندلی
او د مجموعې د احادیثو تعلوینکی او پښتو مترجم یې شاه نور ښودلی
دی. ماچې د دې فهرست نور کتابونه وپلټل د «دررالبحر»
په نامه د یو بل کتاب په معرفه هم وپېښ شوم چې مؤلف یې نه دی
معلوم، خو ښاغلي لیکوال رفیع یې په معرفه کې کښلي دي: «د بېلا
بېلو فقهي مسایلو په باب نبوي احادیث پکې راغونډ شوي طرز یې
مسجع نثر دی...»

ماچې له دررالبحر نه د ښاغلي رفیع په جوړ کړې فهرست کې
اخیستل شوي اقتباسات د کتاب احادیث له اخیستل شوو اقتباساتو
سره وکتل خو راښکاره شوه چې دا دواړه د یوه کتاب دوې بېلابېلې
نسخې دي. په یوه نسخه کې یې د کتاب نوم نشته او په بله کې یې د
مؤلف. د دواړو نسخو له کتنې سره هم د مؤلف او هم د کتاب نوم
ترلاسه کېدی شي.

کله چې موږ په پښتو کې د مسجع نګارۍ پر مسأله بحث کوو، نو
شاه نور او د ده دررالبحر څخه هم سترګې نشو پټولای.

د دې کتاب پیل داسې شوی دی: «پس بنده ضعیف شاه نور
دارنګه وایي عفرالله له ولوالدیه چې انواع د علم ډېر دی. علماؤ
واړه بېل بېل بیان کړي دي اوس حاجت یې چندان نشته د بیان ته
ولې دی یو ګناه کار دی، وسیله د عمل نه لري په مخ کې ځکه دا
څو پاڼې د حدیث کړې سره جمع کوندې څوک به نفع واخلي به
دعاکې یې یادېږي. نوم دُرالبحر د حضرت افعال اقوال پکې دي
جمع دوی په مثل د دری د دریاب دي....»

د مسجع لیکوالو په ډله کې مونږ په متقدمو مسجع نگارانو کې هم ځینې داسې کسان لرو چې د نورو دینې او اخلاقي وینااو او مواعظو ترڅنګه یې ځینې حکایات هم لیکلي دي، خو دغه حکایات زیاتره د پیغمبرانو قصې دي او یا هم ځینې اخلاقي حکایات.

په متاخرو مسجع نگارانو کې مونږ یو سړی بل هم پېژنو چې پوازې حکایات یې مونږ ته را رسیدلي دي. دا سړی حاجي ابراهیم سواتي دی. د ګوند زمانه یې اروا ښاد د اثر ۱۲۰۰ هـق ښودلې ده. (تبصرهٔ شاهران، ۲۶۶ مخ) په مسجع نثر یې دوه حکایتي اثره راپاتې دي. د ده په منثورو حکایتي آثارو کې یو د زقوم قصه ده او بله هم د سیف الملوک او بدری جمالې قصه. زما د معلوماتو له مخې دا دواړه قصې تر اوسه نه دي چاپ شوي. د زقوم قصې دوې نسخې ما لیدلې دي چې یوه د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ دانشتیوټ نسخه او بله زما د خطي مجموعې نسخه. اما د سیف الملوک د قصې یوه نسخه ماته معلومه ده چې په پېښور میوزیم کې ساتل کېږي. حاجي ابراهیم سواتي خپل مسجعات په دې ډول شروع کړي دي: «یوه ورځ د مدینې په جماعت کې رسول ناست وه، جبرائیل له حق ته راغی پیغام یې راوړی. په تعظیم یې ورته داسې وی: ای رسوله، خدای سلام ښتاویلی په بار بار» (د زقوم له قصې نه)

له دغو مسجعو رسالو پرته د ده سړي بل اثر ماته معلوم نه دی. د ده د آثارو سبک ته چې سړی ګوري نو له ورایه ورته ښکاري چې د ده په هغه غزلو ابراهیم نه وي چې غزلیې پچې بې نظیر، ګلشن بې عدیل او د حسب ګل میا بیاض را وړي دي. د نوموړي مسجع آثار د پښتو د حکایتي مسجعاتو په مطالعه کې خپل ځای لري او د پښتو د حکایتي ژانر په څېړنه کې د پېژندلو وړ دي. دلیکن شاید په دغو مسجع نگارانو کې ښکاره تفاوتونه نه لري.

شمس الدين غلجي د دولتمي پېړۍ د ادبا څخه او د ديارلسمې پېړۍ په اوايلو کې د کندهار د ميوند د ولسوالۍ په کشک نخود کې اوسېدلی دی. د ديارلسمې پېړۍ د منځنګارانو په استازو کې مونږ د ده نوم په خاص ډول يا د ولاي شو، دا ځکه چې دی په دې سبک کې د ډېرو آثارو خاوند دی.

ده د سراج المواق، مرحوم الموتي خلاصة المريدين، تحفة العابدين، مذهب نامه او رساله فرايض ميراث په نامه رسايل کښلي دي، چې د ديني، شرعي، فقهي او حتی عرفاني مسايلو اړه پيدا کوي اما په خلاصة المريدين کې په ځانګړي ډول ځينې عرفاني مسايل بيان کړي دي.

استاد رښتين ويلي دي چې: « شمس الدين په دغه کتاب (خلاصة المريدين) کې د وحدة الشهود او وحدة الوجود د اختلاف مسأله په ډېر ښه شکل حل کړې ده.» (۵۵)

خلاصة المريدين د عرفاني مقاماتو، منازلو او سيرونو په باب ډګان مطالب لري. مذهب نامه يې د حضرت محمد (ص) د سيرت او معراج په باب له مقدماتي خبرو سره سره د امام اعظم (رح) د مذهب او شاګردانو په باب ښه بيانونه لري او د دوی په باب يې ځينې حکايات هم راوړي دي.

دغه خپلې زمانې عالم سړی و او خپل کتابونه يې د شرقي فرهنګ د ډېرو معتبرو کتابونو په استناد ليکلي دي. هغه کتابونه چې ده د خپلو دغو ښېړو کتابونو په تاليف کې ترې استفاده کړې ده، د ډېر دې خو د ځو نومونه يې دا دي: حيرة الفقهه، مرصاد العباد، فتوحات مکيه

نفحات الانس ، سیر الطالبین ، مشکوة المصابیح او نور....

د ده د آثارو جوړښت او دنثر د پرداخت شوې ته چې سمې گوري په عام ډول د ده نثرونه مسجع دي او د مسجع نگارانو په ډله کې درېږي. خو د ده په ځینو آثارو کې داسې نثرونه هم شته چې سجعې ته تمایل پکې لږ لیدل کېږي، لکه د مذهب نامې پیل:

«اعلم ته زده کړه ای طالبه چې په شپه د معراج رسول د خدای عرض وکړ، چې یا الهی هغه ستا شفقت مکنونه او هم سبب نزول عفرالله لامة ضعیف هدیه فی نجات یوم القیامة کوم دی چې زما وزرگي شي په هغه تکیه ستا دوستي په زما پر امت و ماته ښکاره شي، حق تعالی ویل جبیبا»[51]

د ده د مسجع لیکنې یو نمونه له خلاصة المریدین نه:

«بل دا زده کړه چې معرفت په درې نوع یا دېږي. اول معرفت عقل دوایره مخلوقات معرفت عقل په خپل مقدار اندازه سره تل کېږي. سبب یې په حواس خمسهٔ ظاهري مسمی کېږي».

د شمس الدین غلجي په آثارو کې یوازې خلاصة المریدین چاپ دی. دا اثر په ۱۳۴٤ هـ ش کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له خوا چاپ شوی دی او مقدمه یې پوهاند میرحسین شاه کښلې ده.

د دیارلسمې پېړۍ د دوهمې نیمایي په مسجع لیکوالو کې د سیدال فقیر نوم هم د هېرولو نه دی. ښاغلی اکمل اسدآبادی د ده د یو کښلي کتاب خوابه پیدا کړې وه. دا کتاب سیدال د اسلام د ستر پیغمبر په سیرت کې کښلی دی.

د سیدال فقیر پلار پاینده خان او نیکه یې سربلند خان دخټکو

د ریاست په تیریږ کې اوسېده ، هوري د ۱۲۶۷ هـ ق کال شاوخوا
مړ او بنخ دی، نظمونه هم لري (۵۷) اما د سیرت د کتاب څو بابه
یې تر لاسه شوي دي چې ا د بیو هانو نیم منظوم نثر ارزیابي کړي
دی (۵۸). د ده د کښلي سیرت نمونه داده : « د هجرت چې
څلورم کال و واقعی. ابو سفیان او مکرمه ابولاعوري وغوښتلی
دوی وی ته که قول راکړي محمد ، موږ به درشو چې له تانه به یو
زموږه کېږي . »

د دیار لسمې پېړۍ د اما خرو په مسجع لکار انو کې بل سړی
صفي الله خټک دی چې ژوند یې د څوار لسمې پېړۍ تر اوایلو پورې
یقیني دی . دی د کوټې د حضرتجي (۱۲۱۰-۱۲۹۴ هـ ق) مرید و.
په پښتو او دري ژبو یې نظم اونثر لیکلی دی. محزن الاسرار دده
یو کتاب دی چې په ۱۲۷۹ هـ ق کال کې یې بشپړ کړی دی . د اکتاب یوه
مقدمه، خاتمه او ۳۶ بابه لري . ځینې بابونه یې په روغ نظم او ځینې
بابونه یې په مسجع نثر دی .

داکتاب په عام ډول د عرفاني مسایلو تشریح ته وقف شوي دي،
خو په ځینو بابونو کې د لیکوال مرشد (د کوټې حضرتجی) په باب خبرې
هم شته . او دري د برشم بیان تر ل دده اقوال بیانوي .

مخزن الاسرار د کوټې د صاحبزاده عبد الحی په همت چاپ شوی
دی . د مخزن الاسرار څلورم باب د شیخ طریقت د نیولو مساله تشریح
کوي . دا باب داسې شروع کېږي : « واوره ای یاره چې نیول
د شیخ ضرور دي ، هم حاجت ورته پیښېږي . چې یې شیخ په طریقت
کې چېرې نه وي داشیخي یې د شیطان ورته رغېږي . چې یې پیر

نه وي نيولی که هرڅو په طريقت کې دی په ځان باندي چالاک وي عبادت او زهد کاندي شب و روز مگر وخدای ته دې هرگز به نه رسېږي » (۵۹)

د مسجع ليکونکيو په ډله کې متأخر ما ته معلوم سړی ملا لعل بيگ خراسانی دی چې په پښتو کې يې يوه طبي رساله په داسې سبک کښلې يا ترجمه کړې ده چې سړی يې په مسجع نثرو منو حسابولی شي. داسړی د ديارلسمې پېړۍ داواخرو ليکوال معلومېږي. ده يوه طبي نسخه داسې تشريح کړې ده :

« دوران سر په دوه قسمه دی. زهٔ به وايم علاج دهغه باد چې سی گرځي هسې دور دی دباد. چې سر يورته کا پر بوځي. علاج ووايه لعل بيگه چې خوری رنځور پرې روغ شي، پاکيزه دې شي سېر تخم د قاشقاش که په جوک تول شي، بيا څلور منه اوبه کړه او ايشوه تر هغه پورې چې يو اوگی (داوړی) پاتې شينه » (۶۰)

داوو هغه مسجع ليکونکی چې نوموته او آثار يې ماتهٔ معلوم وو اوما ددې اثر له شرايطو سره سم خبرې باندي وکړې. بنايي نور مسجع نگاران او آثار يې هم وي چې تر اوسه يې نه په پيداکولو نه يم بريالی شوی. مگر ځينې داسې پښتو مسجع مستقل رسايل ماته معلوم دي، چې ليکوال يې په موجود و او معلومو کتل شويو نسخو کې نه ښکاري، خو دا امکان شته چې يو وخت ځينې داسې منابع موږ تر لاسه کړو، چې د دغو آثارو اصلي خاوندان هم موږ ته معلوم شي. ځکه چې په وروستيو کې د څومنا بعو په پيداکېدو سره موږ د ځينو داسې مسجع آثارو ليکوالان وموندل چې دمخه يې

لیکونکی ته وو ښکاره . هغه مسجع آثار چې لیکونکی یې تر اوسه نه دي څرګند دادي:

الف- د جمجمې قصه: دا قصه د زړو جونګونو او د مخزن دځینو نسخو په مخطوطاتو کې راغلې ده .

ب - د منصور حلاج قصه : دا بیان په ډېرو زړو نسخو کې راغلی دی.

ج - د ولس خبرې ؛ د: د بي بي مریم قصه ، هـ : د عم پارې د آیتو نو خواص او نور ډېر بیانونه چې پېيلا بېلو دیني او اخلاقي موضوعاتو پورې ویل شوي دی .

دا بې لیکواله مسجعات د خپل جوړښت او د هغو خطي نسخو دخصوصیاتو له مخې، چې دا مسجعات پکې ضبط دی، ډېر زاړه ښکاري . د لیک وخت یې سمې یوولسمه پېړی ه اټکلولای شي ، ندرتاً به ځینې د دولسمې پېړۍ په اوایلو پورې هم اړه ولري.

## د مسجع لیکنې دې جریان ته یوه کتنه اوپښتو ته د مسجع لیکونکو بخښنې

ددې فصل د محتویاتو له لوسته به ښاغلیو لوستونکیو ته څرګنده شوې وي چې په پښتو کې مسجع لیکنه د بو جریان په توګه دلسمې هجري پېړۍ په دوهمه نیمایي کې راپیدا شوه او د یوولسمې پېړۍ په اوږدو کې یې دخپلې ارتقاء ټول مراحل شاته کړل . د یوولسمې پېړۍ د پښتو آثارو او اسنادو مطالعه راښیي چې ددې پېړۍ په جریان کې د پښتنو په دیني حلقو کې د

مسجع لیکنې زور و او هغو علماو دچې څه لیکلای شوای ، هغو نیاتو و تولوخپل آثار په همدې شیوه لیکل .

د دې پېړۍ په جریان کې د د یارلسمې پېړۍ تر پایه ځینو دیني عالمانو خپل آثار چې د دیني شعورونو په منظور یې لیکلي یا ترجمه کړي وو ځینې د همدې سبک تابع دي .

په پښتو کې د لیکنې د دې سبک د پیدا ښت په باب هم ځینې نظریې شته چې ما لې دوړ د دې فصل په مقدماتي برخو کې اشارې ورته کړې دي . خو که سړی په لسمه پېړۍ کې د دې سبک د ایجاد شرایطو ته په پاملرنه پر موضوع لږ څه غور وکړي . نو دا ورته ښکاري چې د دې سبک باني بایزید روښان ښايي په شعوري توګه دې سبک ته توجه کړې وي . ځکه ده غوښتل چې خپلې لارښوونې او تعلیمات عام اولس ته ورسوي او عام خلک خپلې لارې ته راوبولي . د ده هدف یوازې د پښتو دلوستو قشرخوګوتو په شمار کسان نه وو ، نو په همدې بنا ده وغوښتل چې د خپلو تعلیماتو او لارښوونو اساسي کتاب خیرالبیان په داسې شیوه بشپړ کړی چې جملې یې آهنګینې او عبارتونه یې سجعې اوموازنې ولري او په خاص لحن وویل شي ، په هغسې لحن چې بایزید یې تعبیر داسې کړی دی : « وکښنه خیرالبیان په هسې الحان چې به لوست سورة الرحمن » ده ځکه داکار کاوه چې د ده مدنظر ټولنه یوه بېسواده ټولنه وه ، د ده تعلیمات او کتابونه به د ده د خلفاوو او لوستو مریدانو له خوا عامو خلکو ته لوستل کېدل . په روښاني منابعو کې داسې اشارې شته چې د خلکو سره

اجتماع کې دخیرالبیان او د بایزید د نورو آثارو دلوست خبره تائید وي .

هرکله چې بایزید (رح) خیرالبیان په دغه سبک ولیکه، نو یې مخالفانو په پټه حضرت اخوند درویزه ننگرهاری (رح) هم زیار وایست چې خپل مخزن په هغه شېوه او سبک ولیکی چې بایزید کښلی و . په اخوند پسې دېرو کسانو اقتداء وکړه او داسبک بیا زموږ په دیني حلقو کې پسې تعقیب شو، چې مفصل جریان یې تاسې په دې فصل کې ولوست .

د دې سبک په باب زموږ د ځینو معاصرو پوهانو له خوا دوه ډوله نظریات وړاندې شوي دي .

له ځینو سره دا نظر دی چې د مسجع نگارۍ په نامه د لیکنې کوم خاص سبک نشته ، بلکه د مسجعاتو په نامه ټول آثار منظومات دي او ځینې بیا دا وایي چې مسجع نثر د نظم ابتداء ده .

ما د دغسې نظریاتو په وړاندې خپله رایه د دې فصل په دمخنیو بحثونو کې وړاندې کړې ده او اوس چې د دې فصل عمومي ارزیابي وړاندې کېږي بې ارتباطه به نه وي که وویل شي چې دمتقدمو مسجع نگارانو لکه : بایزید (رح) مثر اخوند (رح) اوکش اخوند (رح) په آثارو کې : د بشپړو نظمونو، ښکلو شعرونو او له سجعې عاري روانو نثرونو موجودیت موږ په دې باوري کوي چې دې خلکو ځینو روان نثر لیکلای شوای، نظمونه یې جوړولای شول او ځینو په ټول پوره شعر ویلای شوای نو ځکه یې مسجع لیکنې موږ ته یو یک کې دناتوانۍ نخښه نشو بللای

چې وو ایو د اروش د نظم ابتدایي شکل دی او یا دا چې مسجعات پوره نظم شوي دي، بلکه دا یو ځانګړی تمایل وو چې ابتدایي له ضرورت سره تړلې وه او بیا د استادو پښتنو په قول: «دا قسم نثر هغه وخت د دیني او مذهبي مطلبونو د بیانولو لپاره رواج وو». البته کله چې سړی د مسجع نثر پټول بهیر مطالعه کوي او په دې سبک پورې مربوط آثار له نظره تېروي، نو په متاخرو مسجع نګارانو کې ځینې داسې کسان هم مومي چې کوښښ یې دا وو چې یو اثر یا په نظم ترجمه کړي او یا یې ولیکي، خو زور یې نه دی ور رسېدلی. دغه برخې ځینې برخې یې اول په نظم شروع کړي دي بیا تر یې مسجع نثر شوی دی.

لنډه دا چې د مسجع لیکنه زموږ د نثر په تاریخ کې یو مسلسل جریان دی چې موږ یې د تاریخي قدامت له مخې دد دوهمې دورې لومړي پړاو په توګه څېړو او دا لاندې ځانګړنې یې په لنډه توګه کسولای شو:

(۱) کوم کسانو چې په دې پړاو کې آثار ایجاد کړي دي او یا یې موږ هم په مسجع نګارانو کې حسابولی شو، پټول عالم خلک دي، په دوو، درېیو ژبو پوهېدل، له ځینو موږ ته ښکاري (پښتو) سربېره په عربي، دري او ځینې یې په هندي ژبو کې هم په پوره نیمه پوهېدل. دغه کسان اکثر علماء، په دین شرع او مشرقي مروجو علومو کې د مطالعې خاوندان او ځینې یې د شجره تر درجې د دیني او شرعي علومو عالمان وو. د وی ځینې علمي تجربې درلودې او لیکنو له لارې یې په مسجع نثر په پښتو بیان کړي دي.

(۲) که څېرنه هوښ پښتو مسجع آثار په موضوعي لحاظ ډلبندي کړو، نو د غو مسجعاتو کې موږ په لاندې موضوعاتو کې و پېل شوي بيانونه موندلای شو:

الف : د مسجع نګارانو، په ځانګړې ډول د لسمې پېړۍ هغې، زياته توجه د دين توضيح او تشريح خواته او ښوونې ښکاريږي. دا مسجع نګاران د مسلمانو ښځو بناويږ او له هرې پناه سره ترليو موضوعاتو د تشريح خواته زيات ته هڅه کړي. شرعي او فقهي مسايل بيانوي. زما په پوهه پښتو مسجع ګارانو د دين په تشريح، توضيح او ښوونه کې نيات زيار ګاللي دی.

ب : په پښتو کې د مسجع ليکنې دوران د روښاني غورځنګ دتيارۍ له زمانې سره تړلی دی. بايزيد روښان او دده ملګرو چې په نظم او نثر کوم آثار بيان کړي دي او کومه عرفاني لارچې يې خپله کړې ده، د پښتنو د هغې زمانې د علماوو د يوې ډلې له نظره د ا بدعت او له سمې لارې او ښوونې تلقي ګېده، نوځکه د غو علماوو د دوی په اصطلاح د بدعتيانو په وړاندې خپله هڅې پيل کړې او څه چې يې ليکل زياتره د بدعت پرضد وو. که چېرې يو لوستونکی پښتو مسجعات په تېره د يوولسمې پېړۍ هغې له نظره تېر کړي د غسې يو مقابله يي تمايل به د پرښه ووينې.

ج : عرفاني افکار هم په مسجعاتو کې ځان ښکاره کوي. له خيرالبيان نه پيلې يې صفي الله خټک تر مخزن الاسرار پورې د ځينو مسجع نګارانو په آثارو کې موږ د تصوف ځينې بيانونه موندلای شو. ځينو دې خواته د ېر و توجه کړې ده او ځينو لږه، خو عرفان ديوه مسلک

په حیث په دې مسجع پښتو آثارو کې بیان شوی دی.

د: قصص او حکایات هم موږ په دغو آثارو کې مومو. د دې پر او په آثارو پورې مربوط حکایات چې له موږ سره شته زیاتره د پیغمبرانو او اسلامي مشاهیرو په ارتباط راغلي حکایات دي او ځینې په قرآن عظیم الشان کې بیان شوي قصص دي، چې پښتو مسجع نګارانو د پند او عبرت په منظور بیان کړي دي.

هـ: د ځینو قرآني آیتونو ترجمې او تفسیرونه او د نبوي احادیثو ترجمې هم موږ په پښتو مسجعاتو کې پیدا کولای شو.

و: د اسلام د نازولي پیغمبر د سیرت، شمایلو او معراج په ارتباط هم په پښتو مسجع آثارو کې موږ کافي مواد پیدا کولای شو او مسجع نګارانو په دې ارتباط راوړې معلومات او اطلاعات د دیني نصوصو او هم د مغازي او سیرو د معتبرو کتابونو په استناد بیان کړي دي.

ز: په وروستیو تر لاسه شویو مسجعاتو کې موږ ځینې داسې آثار هم وینو چې د طب، حکمت، اورادو او دعیو بیان ته وقف شوي دي.

ح: د سنځو حقوق پر نرو او د نرو پر سنځو، د اجتماعي ژوند معاملات، راکړه ورکړه، د خلکو تر مینځ اجتماعي روابط راشه درشه، د کسبونو زده کړه او حلال رزق پیدا کولو پورې مربوط موضوعات او دې ته ورته نور مسایل هم د دیني هدایاتو قرآني ارشاداتو او د نبوي احادیثو له لارښوونو سره سم په دې مسجع آثارو کې راغلي دي.

لنډه دا چې د پښتو مسجعاتو موضوع د ديني علومو د توضيح، تشريح او تفسير په محور چورلي او د دې په څنګ کې د ديني اندېښنو تر لاندې ونو او يا د ديني ذهنيت تر اغېز لاندې ځيني اخلاقي مطالب او مواعظ او حکايات هم يکې راغلي او د ديني ارشاداتو په رڼا کې يې د ځينو اجتماعي مسايلو بيان ته هم توجه کړې ده .

(۳) د پښتو مسجعاتو د موضوعي رنګارنګۍ د نشتوالي تر څنګه بايد دا خبره هم صبره نه کړو چې په مسجع نثر کښلي شويو کتابونو کې موضوعي تکرار زښت زيات ليدل کېږي. صرف د الفاظو په تغيير هماغه يوه موضوع په څو بېلا بېلو کتابونو کې بيان شوې ده .

(۴) د مسجع نثرونو د موضوعي ځانګړنو د نشتوالي تر څنګه دا هم لازمه ايسي چې د دغو نثرونو پر جوړښت هم څه وويل شي:

الف: په دې ډول نثر و نوکې د جملو په پای کې (ځينو شاغليو دا مسجعې په سرو تعبير کړې دي) د سجع مراعات کېږي . دا جملې په ځينو مسجعاتو کې ډېرې اوږدې دي او په ځينو ځنو کې لنډې او متوسطې دي .

د مسجع بيانونو جملې په خپلو کې داوږدوالي او لنډوالي له امله کوم خاص توازن نه ساتي . داسې بيانونه هم شته چې يوه جمله يې لنډه وي بله اوږده، بله يې متوسطه او داسې مسجعات هم شته چې د جملو توازن يکې ترسترګو کېږي .که مسجع نګار لنډې جملې جوړې کړې دي نو يې کوښښ کړی چې په نسبي ډول دا تعادل وساتي، خو دا ډول آثار ډېر لږ دي .

ب: کوم مسجع آثار چې تر اوسه ليدل شوي دي په ځينو کې ليکوال د سجع تر څنګه د وزن د پيداکولو کوښښ هم کړی دی . شاغلي اجمل خټک دا خبره د اخوند درويزه په مسجعاتو کې ايسي دی (الکډے د س پاره ۱۶۴ مخ) اما

استاد رښتین د دېرو مسجع لیکونکیو په آثارو کې دا دول ځانګړني په ګوته کړې دي ،

ج : د مسجعاتو جوړښتونو او خصوصیاتو ته په پاملرنه ددې دول نثرونو پېژندنه هم څه ګرانه ده . ځینې کسانو چې په خطي نسخو کې د کتابونو د نه توجه له امله د نثر په دوه ډکښلي منظوم آثار هم چېرې لیدلي هغه یې مسجع بللي دي ، لکه د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاج نومي کتاب ۳۴۷ مخ کې چې د غلام محمد نور نامه نیم منظومه بلل شوې ده ، سمه خبره نه ایسي . دا نور نامه منظومه ده نه نیمه منظومه .

د غسې ما هم په دې ارتباط په یوه مقاله (۶۱) کې یوه تېروتنه کړې ده او د حمد الله صحاف کندهاري په خطي کتابونو کې د محفوظو دوو رسالو : شواهد السلوک او موصل القرى شکل جوړښت مسجع بللی دی ، خو اوس زه په هغه فکر نه یم . پر دې رسالو به په راتلونکو فصلو کې خبرې وشي .

د : په زیاتو مسجع نثرونو کې د تالیف ضعف لیدل کېږي . دا په دې معنا چې مسجع لیکونکیو د جملو په اوډون کې د پښتو له خپل جوړښته بې ضرورته سرغړاوی کړی وي ، مبتدا یې تر خبر ، مضاف یې تر مضاف الیه ، صفت یې تر موصوف او داسې نور اجزا یې وړاندې وروسته کړي دي . زموږ استاد پوهاند رشاد په دې ارتباط یو ځای کښلي دي : « د پخوانیو لیکوالو په موجزو او مسجع نثرونو کې د غه عیب (د تالیف کمزوري) ډېر و . (۶۲)

هـ : د مسجع نثرونو ډېره برخه ترجمه ده . دا آثار په اوله درجه کې له عربي او په دوهمه کې له دري ترجمه شوي په ترجمو کې یې د نورو ژبو اثر ښه او د نورو ژبو لغات یې هم په کافي اندازه استعمال کړي . د ځینو مسجع نګارانو استعمال کړي پردي لغات پر ثقیل دی ، خو د ځینو بیا داسې دي چې زموږ په ژبه کې یې چلند عام کړی .

و : د پښتو مسجع لیکنې زیاتره د لسمې ، یوولسمې او دوولسمې پېړۍ دا وایلو کې . په دې متنونو کې د هغه وخت د مروج پښتو ځینې جوړښتونه ، مصطلحات او مروج لغتونه چې ځینې یې اوس متروک دي ، هم استعمال شوي دي . دا متون له دغو جهتونو هم د یادونې وړ ځینې ارزښتونه لري .

(ه) د مسجعاتو هغه آثار چې ترجمې نه دي او لیکوالو کښلي دي ، په دېرو کې د هغه وخت د تحقیق له

معمولو روښونو سره له نورو آثارو څخه استفاده شوې ده. لیکوال د اخیستنې ځای نه ښیي. خو په زیاترو د غو آثارو کې مأخذ په عیب جن ډول ښودل شوی دی. مسجع نګاران د ځینو آثارو یوازې د مؤلف نوم اخلي د کتاب یا رسالې نوم نه لیکي، د ځینو کتابونو نومونه نیمګړي یادوي. کله که سړی د دغو آثارو پر مأخذونو څېړنه کوي، نو له ډېر کړاو ورسره مخ کېږي.

(٦) که څه هم د پښتو مسجع نثرونو نثرونو په اوسنیو معنوي ډولونو کې دننه وګورو، نو زموږ په پوهه پښتو مسجعات په علمي نثرونو کې حسابېدای شي، البته ځینې حکایتي مسجعات اوس نیم بل بیان په هغه کټګوره کې ودرولی شو چې ادبیوهانو عادي نثرونه بللي دي.

(۷) په مسجعاتو کې ادبي او هنري ارزښتونه تر سترګو کېږي، اکثر وېچ بیانونه دي. د مسایلو، توضیح، تشریح او تفسیر ته توجه کوي، په همدې اساس د پښتو مسجعاتو زیاته برخه د اوسنیو معیارونو له مخې په ادبي تاریخ کې د مطالعې ځای نه لري. مسجع حکایتي آثار سره له دې چې کوم آرایش او د هنر تومنه نه لري، خو دا چې حکایات دي نو په پښتو کې د حکایتي ژانر د پیدایښت په جریان کې نشي هېرېدای، کېدای شي پر دغو مسجع حکایتي آثارو هم ادبي مورخین څه بحثونه وکړي او خپله توجه ورته متمرکزه کړي.

(۸) که څه هم دا آثار د هنر له پلوه تش تو ر دي او د وجود پښت له پلوه نیمګړتیا لري. خو په پښتو کې یې په لسګونو رسایل او کتابونه او په لسګونو حتی په سلګونو بیانونه پر پښتنو دي. پښتني فرهنګ یې په موضوعي لحاظ غني کړی دی او د پښتو د فرهنګي سرمایې یوه غټه برخه په دغو مسجعاتو پورې اړه لري.

(۹) مسجع نثرونو په خپل وخت کې خپل روزنیز رسالت ترسره کړی دی او د تألیف او ترجمې له وخته تراوسه پورې د پښتو په دیني حلقو او مدارسو کې د پروطالبانو او علماوو له دغو پښتو آثارو استفاده کړې او د استفادې دا لړیه لا تراوسه روانه ده. دغه راز په مسجعاتو کې بیان شویو مواعظو، پندونو او اخلاقي بیانونو د هغه وخت د پښتو په اخلاقي روزنه کې هپله ونډه ښه سرته رسولې ده.

لنډه دا چې زموږ په فرهنګي تاریخ کې د مسجع لیکنې خپل ځای دی او څوک سترګې ترې نشي پټولی.

## مأخذونه:

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک، ۲۵۲ مخ.
(۲) د همدا لوړ یا د شوي کتاب، ۲۵۳ مخ.
(۳) صفا، دکتور ذبیح الله، تاریخ ادبیات ایران، ج ۲، تهران ۱۳۶۹ و ش، ص ص ۸۷۹ - ۸۸۰.
(٤) د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۲۵۷ مخ.
(۵) تذکرة الاولیاء، ۲۰ مخ.
(٦) روښان بایزید، خیرالبیان، پښتو اکیډیمی، پېښور دوهم چاپ، جدون پریس، ۱۹۸۸ع، ۱۸۰ مخ.
(۷) د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې، ۹-۱۰ مخونه.
(۸) خیرالبیان، ٤۲٤ مخ.
(۹) مومند، قلندر، دخیرالبیان تنقیدي مطالعه، پېښور،

چاپځی، ۱۹۸۸ع، ۱٦ مخ.

(۱۰) ښاغلی میرولي مسود، د ښاغلي شیرافضل بریکوټي د کتابونو د مخ کتنې په محفل کې د ا خبره وکړه.

(۱۱) خیر البیان، ۱٤۹ مخ.

(۱۲) شینواری سرمحقق دوست، روښاني رساله (مقدمه) پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۵ هـ ش.

(۱۳) د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۳٦٤ مخ.

(۱٤) رشاد، پوهاند عبدالشکور، دګلشن روه دریم چاپ، مقدمه، دکابل دولتي مطبعه، ۱۳۵٦ هـ ش، ٤۹-۵۵ مخونه.

(۱۵) رشاد، پوهاند عبدالشکور، د مخارج الحروف تعلیقات، د افغانستان دعلوموا کاډیمي، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۹ هـ ش، اووم مخ.

(۱٦) بختانی سرمحقق عبدالله، په پښتوادب کې د روښاني آثارو مقام، د روښان یاد، د حبیب الله رفیع په زیار، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵٥ هـ ش، ۹۹ مخ.

(۱۷) د خوشحال خان خټک سواتنامه، د همیش خلیل په زیار مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګه، اکوړه، شوکت پرنټنګ پریس، لاهور، ۱۹۸٦ع، ۸۱-۸۲ مخونه.

(۱۸) د پښتو نثر هنداره، ٦۸ مخ.

(۱۹) د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۳٦٤ مخ.

(۲۰) کاکاخیل، پروفیسور تقویم الحق، د مخزن مقدمه، پښتو اکیډیمي پېښور، دوهم چاپ، جدون پریس، ۱۹۸۷ع، صبح.

(۲۱) پښتو نثر تاریخ ، ۲۰۱ - ۲۰۲ مخونه.

(۲۲) د پښتو نثر هنداره ، ۷٤ مخ .

(۲۳) د پښتو ادب تاریخ ، ٤۳ مخ .

(۲٤) مخزن الاسلام ، پښتو اکیډیمی پېښور ، جدون پریس ، ۱۹۸۷ع ، ۱۸۳ مخ .

(۲۵) د ګلشن روه دریم چاپ مقدمه ، ٤۳ مخ .

(۲٦) خلیل ، همیش ، ودکه خزانه ، لومړی ټوک ، پېښور ، ۱۹٦۰ع ، ۱۵٤ مخ .

(۲۷) دراورټي پښتو ګرامر ، ۳۳ مخ .

(۲۸) ګلشن روه ۱ / ۱۱۹ - ۱۳۲ مخ .

(۲۹) د پښتو نثر هنداره ، ۸٦ مخ .

(۳۰) د ګلشن روه دریم چاپ ، مقدمه ، ۳۵ مخ .

(۳۱) ډاکټر چراغ حسین شاه ، تذکره پیر سباک ، عکاس پرنټرز پشاور ، ۱۹۸۹ع ، ٦۹ - ۷۱ مخونه .

(۳۲) افضل خان خټک ، تاریخ مرصع ، د مرحوم دوست محمد خان کامل مومند په زیار ، یونیورسټی بک ایجنسی ، پېښور ، ۱۹۷٤ع ، ۵۹۲ - ۵۹۳ مخونه .

(۳۳) مومند دوست محمد کامل ، د تاریخ مرصع نوټونه ، ۱۳۱۰ مخ .

(۳٤) تاریخ مرصع ، ۵۹۵ مخ .

(۳۵) د هند دکتابخانو پښتو خطي نسخې ، ۱٤ - ۱۵ مخونه .

(۳٦) مشتری عبد القدیر ، فهرست نسخ خطي آرشیف ملي ، کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳٦۹ هش ، ۹۱ - ۹۲ مخونه .

(۳۷) هیواد مل زلمی ، فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ، ج ۲ ،

کمیټه دولتي طبع ونشر، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۶۵ هـ ش
ص ۱۷۰ .

(۳۸) د پښتو ادب تاریخ ، ۴۰ مخ .

(۳۹)(۴۰) مست ۶ د مست کلیات (خطي) ، دافغانستان د علومو آرشیف
خطي نسخه ، ۸۳ ، ۲۲۸ مخونه .

(۴۱) رفیع ، حبیب الله : د پښتو اکیډمۍ خطي نسخې (مسوده) .

(۴۲) هروی ، میرحسین : نافع المسلمین (خطي) ، د افغانستان
دعلومو اکاډمۍ نسخه .

(۴۳) هیواد مل ، زلمی : د پښتو د ادب تاریخ خطي منابع ، دافغانستان
دعلومو اکاډمي ، کابل دولتي مطبعه ، ۱۳۶۶ هـ ش ، ۸۹ - ۹۰ مخونه .

(۴۴) رفیع ، حبیب الله : ورک زوی څنګه پیدا شو؟ امان کتاب ،
پېښور ، ۱۳۶۴ هـ ش ، ۱۵ - ۱۹ مخونه .

(۴۵) سیار ، وسیع الله : په پښتو کې د مسجع نثر د پیدا ښت او
پایښت مسأله ، ۱۴۱۳ هـ ق ، ۱۲۰ - ۱۲۵ مخونه .

(۴۶) بختاني ، سرمحقق عبدالله : پښتانه شعراء ، پنځم ټوک ، پښتو ټولنه
کابل ، ۱۳ ، ۱۵ ، ۳۵ ، ۳۶ مخونه .

(۴۷) تېر هېر شاعران ، ۲۹ مخ .

(۴۸) کاکړ عبدالقیوم : میاداد ، پښتو (مجله) پښتو اکیډمي پېښور
۱۹۶۷ ع کال ګڼه ، ۱۱۸ - ۱۱۹ مخونه .

(۴۹) فرهنګ ادبیات پښتو ، ج ۱ ، ص ۳۴۳ مخ .

(۵۰) رفیع ، حبیب الله : ادبي ستوري ، ج ۲ ، د اطلاعاتو او کلتور
وزارت ، کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۹ هـ ش ، ۱۰ - ۲۴ مخونه .

(۵۱) د پښتو اکيډمي پېښور خطي جونګ ، ۱۱۰۱ نومره نسخه.
(۵۲) د پښتو نثر تاريخ ، ۲۱۰ مخ ، د پښتو د نثر تاريخي او تنقيدي جايزه ، ۲۷۱ مخ .
(۵۳) ځمند ، محمدخان : جامع الانوار (خطي) د افغانستان د ملي آرشيف نسخه .
(۵٤) غلجي، نورمحمد : نافع المسلمين ، د زلمي هېواد مل په زيار، کلتور دولتي کمېټه ، کابل ، ۱۳٦۳ هـ ش، ۱۰۲ مخ .
(۵۵) د پښتو نثر هنداره ، ۱۷۹ مخ .
(۵٦) د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع ، ۱۸ مخ .
(۵۷) فرهنګ زبان و ادبيات پښتو، ج ۱ ، ص ۲۲۷ .
(۵۸) د پښتو نثر هنداره ، ۱۸۱ مخ .
(۵۹) ختک ، صفي الله ، مخزن الاسرار ، د صاحبزاده عبدالحی په زيار ، کواپريټيو ستيم پريس لاهور، ۱۳٤۲ هـ ق ، ۹ مخ .
(٦۰) خراساني، لعل بيګ، طب شهاب افغاني ، طب يوسفي افغاني مطبع مجتبائي ، لاهور، ۱۳۰۷ هـ ق ، ٤۱ مخ .
(٦۱) رشاد، اکاډميسين عبدالشکور : د تاليف کمزوري ، وفا ۲۵-۲٦ ګڼه ، ۱۳۷٤ هـ ش .
(٦۲) هېواد مل، زلمی : په پښتو کې مسجع ليکني ترکومه دوام کړی دی ؟ شمشاد (مجله) د ۱۳۷۲ هـ ش دوهمه ګڼه، ٦۰ مخ.

«۴»

# پښتو نثر لیکونکیو سجع پرېښوده پښتو نثر بېرته په خپله اصلي لاره روان شو

په دمخني څپرکي کې مو ولوستل چې دځينو نوروڅېړونو وښوده چې د پښتو نثر لیکنې پر جریان هم یو زمان مسجع لیکنې غلبه وکړه او د پښتو ډېر و لیکوالو خپل آثار دځينو اهدافو پر بنا پر دغه سبک وکښل چې تفصیل یې په دمخني فصل کې ستاسې له نظره تېر شو.

که څه هم مسجع لیکل دیوه روش په توګه د لسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د پښتنو په فرهنګي حلقوکې رایج شول او په یوولسمه پېړۍ کې یې حاکمیت وموند، خو د پښتو آثارو له مطالعې څخه څرګندېږي چې دې جریان د پښتنو د هغه وختني فرهنګ پر ټولو اړخونو لاس برې ونه موند، بلکه په هماغه لسمه او یوولسمه پېړۍ کې موږ ځینې پښتانه لیکوال مومو چې د مسجع سبک پیروي یې نه ده کړې

ځینو که د مسجع سبک پیروي هم کړې ده ، مګر د مسجعاتو ترڅنګکه یې د سجعې له قید ه آن اد، عاري نثرونه هم لیکلي دي . دا عاري نثرونه د هغو لیکوالو دي چې یا پخپله مسجع لیکونکي دي یا له مسجع لیکونکیو سره محشور او یا له دې جریانونو نه اغېز من وو :

د مسجع لیکنې د بهیر ترڅنګکه د .. ن نګارۍ .. را تو کېدلې جریان موږ ته دا افاده راکوي چې د مسجع لیکنې بهیر ورځ کولای شول چې زموږ پر فرهنګي چاپېریال دومره برې وموي چې پښتانه د پښتو نثر لیکنې له هغې نږې عنعنې نه بېګانه کړي :

داچې د پښتو تذکرة الاولیاء نثر لیکنې تر شپږې ورووسته بایزید روښان له خوا د نثر لیکنې یوه داسې شیوه ایجاد شوه چې یوه ځانګړې ... نثر بللی دی . په نثر لیکنه کې د دې نوي روش را پیدا کېدو پر اساس هغه پخوانۍ لړۍ پرې شوه ، نو ځکه که اوس موږ د مسجع نګارۍ په دوران کې را پیدا شوی عاري نثرونه ارزیابي کوو نو اړیو چې دا نثرونه بېرته اصلي لارې ته د رجوع یو تمایل وبولو .

## د بازګشت جـــریان :

تر هغه وخته چې د پښتو منثور آثار نه وو کشف شوي زموږ مشرانو ته د سلیمان ماکو له تذکرة الاولیاء وروسته یوازې د روښان او اخوند درویزه (رح) او نورو مسجعات معلوم وو . کله چې دوی د خوشحال خان عاري نثرونه ولیدل نو یې له مسجع ګارۍ نه روان نګارۍ ته بازګشت دابتکار نکړه هم د خوشحال بابا پر سر کړه .

د پښتو څېړنو په جریان کې په وارو وارو داخبره راغلې ده

چې پښتو نثر خوشحال بابا ببر ته اصلي لارې ته راګرځولی دی. په یوه ځبرنه کې راغلي دي: « پیر روښان د ۹۷۰ هق په شاوخوا کې خپل خیرالبیان ولیکه. په دغه کتاب کې یې ټولې مسجعې او مصنوعې جملې استعمال کړې او تر ده وروسته بیا اخوند درویزه ننګرهاري او نورو لیکوالو هم ددوی پیروي کړله ... خوشحال خان چې د ذوق خاوندیو افغان لیکوال و، د روښاني نثر لیکلو ناوړه طریقه یې نه کړه غوره ... » (۱)

دغه لوړ اقتباسي بیان په خپله دا افاده راکوي چې زموږ مشران د مسجع لګارانو او خوشحال بابا تر مینځ له نورو نثر لیکونکیو نه وو خبر. په وروستیو دېرش پنځه دېرش کلونوکې چې پښتو آثار ویلطل شول نو دا ښکاره شوه چې ترخوشحال بابا د مخه ځینې پښتانه لیکوال تېر شوي دي چې مسجع سبک یې نه و منلی او یا هم که ځینو د خپلوخاصو مقاصدو لپاره مسجعات هم لیکلي وو، خو ورسره یې پرپښتو د روان نګارۍ خواته هم هڅه کړې ده.

هغه د له لیکوال چې له مسجع نګارۍ نه روان نګارۍ ته د بازګشت په جریان کې شامل دي په هغو کې مشر سړی ارزاني روښاني دی . دی د پنجاب په قصورکې اوسېده. د برهان خان خویشکی زوی و. د روښان پیر له مریدانو او خلفاوو څخه و (۲۴) او د بایزید روښان له معاصرینو څخه ګڼل کېږي . دی د پښتو نظم یو پنډو کلیات او له کلیات سره مله د نثر و نو یوه رساله هم لري.

زما د معلوماتو له مخې دارزاني له منثورې رسالې تر ټولو د مخه

زموږ ارواښاد استاد پوهاند حبیبي یادښتونه اخیستي وو، کله چې یې د پښتو ادبیاتو تاریخ د دوهم ټوک دوهم چاپ کې د روښانیانو څپرکي ور اضافه کاوه نو یې په ځینو استنشها دي موار دو کې د ارزاني ځینې منثورې ټوټې هم اخیستي وې.

د پنځو سمو کلونو په جریان کې نوموړي ارواښاد استاد د ارزاني له دیوانه خیل ټول اخیستي منظوم او منثور یادښتونه ما ته را وسپارل. ښاغلي رفیع او ما په خپلو څېړنو کې استفاده ځینې وکړه او بالاخره ما په ۱۳۵۷ هش/۱۹۷۸ع کال د ارزاني پر نثر یوه ځانګړې مقاله د کابل چاپ پلوشه نومې مجله کې خپره کړه.

د پښتو نخوا په لیکوالو کې هم ځینو دغې رسالې ته توجه درلودلې ده. د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جاینزه نومې کتاب کې هم دارزاني پر منثوره رساله خبرې شوې دي او هلته یې کښلي: «ما چې دارزاني کوم قلمي دیوان ته استفاده کړې ده هغه د محمد نوازخان خټک مرحوم په ذاتي کتابخانه کې پاتې شوی دی، او اوس د پښتو اکیډیمه پېښور یونیورسټي د قلمي آثارو کتبخانې کې پرته ده... د منظوم کلام د ختمیدو نه پس د نسخې سره د څلیریشتو پاڼو یوه رساله هم شته چې په نثر لیکل شوې ده، دغه رساله نیمګړې ښکاري. په دغه رساله کې د رومبي دارکان خمسه د تفسیر بیان شوی دی. د عباداتو، عقایدو او اخلاقیاتو بیان یې کړی دی او په آخر کې یې د خپل مسلک د اتومقاماتو تفصیل هم بیان کړی دی.» (۳)

په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې په اوو نه
نومې کتاب کې چې ما د ارزانی په نثر لیکلی کومې خبرې کړې دي
د دې رسالې د معرفې په برخه کې مې د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي
جاېزه نومې کتاب په همدې لوړې معرفه ته پاملرنه کړې ده .(۴) اما
اوس چې زه د لته پر دې رساله خبرې کوم دا وخت ما دا رساله
ټوله لوستې ده او د دې رسالې په باب وایم چې :

دارزانی د دیوان هغه خطي نسخه چې په ۹۳۷ نومره
د پېښور اکیډیمه په خطي مجموعه کې خوندي ده ، د دې نسخې
په پای کې د ارزاني منثوره پښتو رساله هم شته چې ټول ۲۲
مخونه لري. رساله چې پر کومه بڼه ماليدلې ده د پیل او پای د دواړو
خواوو نه ناقصه بربښي .

په موجود شکل چې دا منثوره رساله پیل شوې ده په ابتداء
کې یې د الله تعالیٰ د پېژندګلو پر موضوع خبرې کړي دي او
دا یې ویلي دي چې هیڅ عبادت د الله له معرفته نه قبلېږي .
ورپسې په دې رساله کې عمده بحثونه دا دي .

توبې ته د طالبانو د کښېنولو لارې ، د عبادت د ولونه ، د انسان د
بدن د اعضاوو د وظایفو بیان ، د پیر کامل د احترام پنځه آداب ،
د محبتي طالب اووه خصلته ، د قربت مقام ، د روح د ولونه
بیان د آواز د ذکر ، بیان د وصلت ، بیان د اسم اعظم ، څلور
مسألې او حیني نورې وړې وړې عرفاني لارښوونې .

لیکوال په هره برخه کې د خپل قول د پیاوړتیا لپاره پر قرآني آیتونو ،
نبوي احادیثو او د مشرانو پر وینا وو اتکاء کړې ده . دوه حاشیه

يې داستشهاد لپاره دريې منظومې هم انتخاب کړې دي، چې يوه عرفاني غزل د محمود مرجاني دی.

زما په خيال دا رساله په اصل کې د روښانيانو لارې د خلفاوو لپاره يو لارښود دی او ارزاني د دې لارې ټول هغه آداب پکې لنډ لنډ تشريح کړي دي چې خليفه يې بايد د دې لارې طالب ته وښيي. دا لارښوونې ټولې ته د طالب د کېنناستو له شېبې پيل کېږي او بيا پسې پرمخ ځي. ارزاني د دې رسالې په بېلا بېلو برخو کې خليفګانو ته لارښوونې کوي چې ته به له طالبانو څه پوښتې او څه به ورته وايې.

ارزاني د ټولې پرضرورتونو له خبرو وروسته وايي:

«ترو دې طالب غسل وکا، ترو چې او به پرځان اچوي هسې دې وايي: ای خالقه! لکه مې تن په او به پاک شه زړه مې د تا په ياد پاک کا. چې طالب غسل وکاندي په زنګون دې کېنيني او دواړه لاس دې پر زنګانه کښېږدي. او دې اللهم وولي چې له ګنا مخلاص شي ... دوم کلمۀ شهادت دې وولي ... بيا دې داوولي امنت بالله ... ترو د خليفه لاس دې ونيسي په دواړه لاسونه. اول دې د طالب نوم زده کا. ترو خليفه دی هم هسې ووايي ... دالاس د ميان لاس دی، طالب دې هم هسې وولي او پير مې ميان دی، ترو توبه مې وکړه له واړو بدو او طالب دې هم هسې ووايي، ترو دې خليفه مبارکي ورته وکا ...»(۵)

که څه هم دا لوړه ټوټه ښيي چې دا نثر سجع نه لري او مطالب دېر څرګند اداء کوي، خو په نثر نګارۍ کې د ارزاني دېر دا خت

دشبوې دڅرګندولو لپاره لازمه ایسي چې له دې رسالې یوه بله نمونه هم راواخلم :

«د سرې اندامونه خدای کړي دي . دهر اندام بخروشته. سترګې خدای کتو لره کړي دي او خوله خدای خبرو لره کړې ده او غوږ خدای اورېدو لره کړي دي او پښې خدای یا نه لره کړي دي او زړه خدای یاد لره کړي دی ، چې هیڅ دم دخدای له یاد مه یې تش ننباسه او مه یې وباسه ...» (٦)

دارزاني د منثور رسالې دانمونې په ښېله راښيي چې ارزاني په نثر لیکنه کې مسجع سبک نه و منلی او چې کله یې وغوښتل پښتو نثر و لیکي ، نو یې د خپل مسلک لارښوونې د خپلو مسلکي تعلیما تو په رڼا کې په داسې پښتو نثر و لیکلې چې دجملو په پای کې سجع نه لري او دموازنې پابند نه دی ، جملې یې څرګندې او زیاتره لنډې دي .

په روښانیانو کې یو بل سړی چې د ارزاني غوندې روان او عاري نثر لیکلی دی او په نثر نګارئ کې یې د ده ملګرتیا کړې ده علي محمد مخلص دی . د ده یوه منثوره رساله د ارزاني او مرزا له دېوانونو سره یوځای په یوه وقایه کې د کلکتې په بنګال ایشاټک سوسایټي په خطي مجموعه کې خوندي ده . (٧)

دا رساله د حق د ذات او صفاتو په باب بیانونه لري او هم یې د روح د حقیقت مسایل پکې څېړلي دي . دا خبرې مؤلف د رسالې په پیل کې داسې راوړې دي : «اما معلوم دې وي د ذات او د صفات او د روح حقیقتا کښل پر فقیر ډېر مشکل وو .

باري په عنايت دالهي د خپل پوهې په مقدار يې څه وکښل .» (۸)

مؤلف په رساله کې د خپلو بيانونو او اقوالو د تقويې لپاره د نورو پښتو ښنايي شاعرانو او زياتره خپل څو مکمل يا بعکې او هم ددري ژبو شاعرانو ځيني بيتونه دا ستشهاد په توګه راوړي دي . په دري استشهادي بيتونو کې د مولانا جلال الدين محمد بلخي (٦٠٤ - ٦٧٢ هـ ق) څو بيته هم شامل دي . ليکوال د رسالې په مأخذونو کې يوانې د بايزيد روښان د مقصود المؤمنين يادونه کړې ده . د قرآن عظيم آيتونه او د پيغمبر احاديث يې هم د خپلو اقوالو د پياوړتيا او د خپلې مدعا د ثبوت لپاره راوړي دي.

دا رساله ماله خطي نسخې را نقل کړې وه او څو کاله د مخه مې له مقدمې او تعليقاتو سره د کابل مجلې له لارې خپره کړه.

ددې رسالې د کښنې روښ دا دی : « هر کله چې هغه پينه روح نباتي تو دماغه ورسوي روح حيواني پکې داخل کا . حرکت ، پينځه حسه پکې ورشي . ګوره پينځه ګوهره پينځه چراغه دي . هر کله چې دا پينځه چراغه په پينځه ځايه صورت کې بل کا هاله روح انساني پکې داخل کا »

د علي محمد مخلص دغه منثوره رساله دارزاني د نثرونو غوندې سجع نه لري ، جملې يې لنډې او څرګندې دی او عاري نثر دی . ما په خپل کتاب په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه کې دارزاني او مخلص د نثرونو يوه مقايسوي کتنه وړاندې کړې ده (۹) د هغو تکرار ماته بې لزومه برېښي ، خو څه چې په ويلو ارزي هغه دا دي چې دارزاني په نثر کې څه د روندوالی

اوسختي شته . دا دروندوالی د هغه وخت په پښتو کې د ځينو ترکيبو دا ستعمال له پلوه دی. د مثال په ډول ارزاني نثر و ، خپس او ځيني نور داسې کلمات په خپل نثر کې راوړي دي اما د مخلص په نثر کې دا کلمات هسې نه دي استعمال شوي چې نثر ته ثقلت ور په برخه کا. د مخلص په نثر کې دارزاني په پرتله د نورو ژبو لغات ، اصطلاحات او ترکيبونه ډېر دي. د مخلص او ارزاني دواړو په نثرونو کې د زړو کښښو ځانګړتيا ليدل کېږي چې د «کا» او «شه» استعمال يې ښې بېلګې دي .

له دغو دوو روښانيانو پرته مونږ د بازګشت په دې جريان کې په روښاني غورځنګ پورې مربوطه د نثر کومه بله رساله نه لرو. يوازې يوه منثوره ترجمه راښکاره ده چې ښايي همه دان بن شيخ نعمت روښاني خليفه سرته رسولې وي . دا ترجمه د بايزيد روښان د عربي اثر مقصود المؤمنين تحت الفظ پښتو ترجمه ده .

مقصود المؤمنين د روښان په تاليفاتو کې تر خيرالبيان وروسته مهم کتاب دی او ښاغلی مشر قلندر مومند هم د روښانيانو په نږ د د دغه کتاب پر اهميت خبرې کړي دي(١) مقصود المؤمنين يوويشت بابه لري چې د وعظ او نصيحت د فوايدو، د عقل او نور د معرفت، د ايمان د اصولو او فروعو، خوف او عقوبت ، رجاء، د نفس او د هغه د عداوت ، د شيطان د مکر او ضلالت، قلب، روح، دنيا ، آخرت، توکل او قناعت ، توبه او له نواهيو اجتناب مسايل پکې بيان شوي دی او اته وروستي فصلونه يې د روښاني تصوف د اتو مقامونو تشريح ته وقف شوي دي. هر مقام : شريعت ،

طریقت ، حقیقت ، معرفت ، قربت ، وصلت ، وحدت او سکونت یې په یوه فصل کې تشریح او تفسیر کړی دی . (۱۱)

د دې منثورې ترجمې یوه نمونه دا ده : « ثنا او وصفت هغه خدای لره چې دې صفتونه د ده دانا تر او بزرگتر او بخشایندْ او کلانتر » (۱۲)

دا ترجمه که څه هم مسجع نه ده او په عاري نثرونو کې راځي ، خو د روانې له پلوه یې ارزښت د ارزانې او مخلص د نثرونو مومره نه دی . دا ترجمه تحت اللفظ ده او په ترجمه کې یې د نورو ژبو ترکیبونه راخیستي او د نورو ژبو د جمله بڼاونې اثرات پرې لیدل کېږي .

د مقصود المؤمنین دا تحت لفظ ترجمه نه ده چاپ شوې او یو از یینه خطي نسخه یې د هند دا ندهرا پردیش دایالت د مرکز حیدر آباد په سالار جنګ موزیم کې خوندي ده .

کله چې له مسجع لیکنې نه روان نګارۍ ته د بازګشت په جریان خبرې کېږي یې له لوهو یا دو شوبو دربو تنو روښانیانو سربېره دا خوند درویزه (رح) د عالم ، شاعر ، ناظم او مسجع نګار زوی اخوند عبدالکریم (کریمداد) نوم هم مخې ته راځي . سره له دې چې دی مسجع نګار دی او مایې د مخه د مسجع نګارانو په ډله کې یادونه وکړه ، خو د ده دوې داسې منثورې ټوټې ماولوستې چې هغه مسجع نه دي او د روان نثر دوې ښې نمونې ګڼل کېدای شي .

دا دوه ټوټې یوه د اخوند درویزه د تذکرة الابرار والاشرار

په یوه خطي نسخه کې محفوظه وه چې د استاد رښتین کورتو ته ورغلې ده. په دې منثوره ټوټه کې ده داویلي دي چې دخپل پلار دا اثر ده ټول کړی دی اوله لوستونکو یې غوښتنه کړې ده چې که څه سهوه پکې وي، نو ده ته دې بخښنه وکړي.

د دې ټوټې ځینې برخې دادي: «ای خدایه ستا دعام کرم ځنې اوستا دقدیم لطف ځنې امید لرم چې دلته دسهواو سبو پیدو اثر پرې نن دی او په نظر د معززو او اشرافو علماو او پرهیزګارو اوغوره شویو عارفانو یې قبول کړې چې په صحت د دې کتاب او په حفاظت دایمان زموږ کې دعا وکړي. ای خدایه! ددوی دعاوې زموږ په حق کې قبولې کړې، زموږ په خطاګانو قلم دعفوې راکاږي او موږ په حقه لار برابر کړې...» (پښتونو ځنداری)

دا خونده کریمداد دروان نثرپوله ټوټه هغه ده چې ارواښاد عبدالحلیم اثر (۱۹۱۰ - ۱۹۸۷ع) د اخوند درویزه دارشادالمریدین دیوې خطي نسخې له خاتمې را نقل کړې او په تېر هېر شاعران کې یې چاپ کړې ده. (۱۳)

د دې ټوټې ځینې برخې دادي: «زه عاجز فقیر حقیر کثیر التقصیر عبدالکریم په اندازه دخبرداریه خپلې سره غواړم چې دوالد بزرګوار دغه ټولې رسالې صحت ته ورسوم، چنانچه په دې سلسله کې داشپږمه رساله ده چې دی یا یزار او هیتونکی د صالحانو سرته ورسوله او امید له تقوی دارو عالمانو څخه دا دی چې هر کله په صحت او فساد ددې رسالې واقفیږي نو په مضمون ددې قول سره چې کومه صفا خبره ده هغه قبوله کړه او چې کومه

ریمنه ده هغه یې پن ده ».

په دې دوره نوتو کې چې کوم نوته استاد رښتین ثبت کړې ده په هغې کې ما ته لاسوهنه نه ښکاري او نوموړې خپل لرغوني خصوصیات ساتلي دي، مګر د اروابنا د اثر په نوتو کې لاسوهنه له ورایه ښکاري. ده د متن ځینې ژبني ترکیبونه او جوړښتونه د پېښور د معاصرې مروجې پښتو ته اړولي دي.

د کریمداد دادوي نوتو چې تاسې یې نمونې لوړې ولوستې د روان نثر ښې بېلګې دي چې په یو ولسمه پېړۍ کې دداسې چاله خوا لیکل شوي دي چې په خپله هم مسجع نګار دی او په داسې یو چاپېریال کې یې ژوند کاوه چې هلته د مسجع لیکنې بازار تود و. استاد رښتین د کریمداد د دې روانو نثرونو په باب د تبصرې پر مهال کې کښلي دي: « د دې برخې بنه له نیم منظوم پوول څخه او ښتې ده او د عادي نثر په شان ده. له دې څخه دا خبره را وځي چې په دغه زمانه کې د قافیه وال نثر څخه پر ته عادي نثر هم لیکل کېده خو یوازې په مذهبي او دیني مطالبو کې قافیه وال نثر رواج در لود»

د کریمداد دادوي نوتې سربېره پر دې چې د مسجع لیکنې په دوران کې د روان نګارۍ نمونې را په ګوته کوي د ارزانې او مخلص له منثورو نه هم رواني او ساده دي او پیچلتیا یکې نشته. دا نوتې زموږ په فرهنګي مطالعاتو کې هم د هېر بدو نه دي او دا ترې ښکاري چې داخوند درویزه (رح) آثار د ده زوی کریمداد را نقل کړي دي او حتی ځینې سمونې یې هم پکې کړې دي.

## دیو نوي تمایل په ملتیا د بازگشت د جریان پر مختګ:

روان نګارۍ ته د پښتو نثر د بازګشت د جریان د استازي ارزاني روښاني له فرهنګي فعالیتونو سره همزمانه، د پښتنو د متشرع عالم، د بایزید روښان د نظریاتو د سرسخت مخالف اخوند درویزه ننګرهاري فرهنګي هاندوهڅه پیل کېږي، لکه چې په تېر فصل کې یې بیان راغی، ده خپل مخزن الاسلام د بایزید روښان د خیرالبیان په مقابله کې لیکلی دی، د ده د مخزن ځینې برخې هم ادبپوهانو مسجع نثر بللي دي او په دې حساب درویزه د بایزید د مسجع سبک لومړنی پیرو بلل شوی دی.

تر اوسه هیچا ته دا نه وه معلومه چې مشر اخوند په پښتو کې د مخزن د منظوماتو او نیمه منظومو مسجعاتو ترڅنګ روان پښتو نثرونه هم لیکلي دي.

ما د پېښور آرشیف د پښتو خطي نسخو د مطالعې په جریان کې د اخوند درویزه ننګرهاري (رح) یوه داسې رساله پیدا کړه چې نه یې چا د مخه یادونه کړې وه او نه یې تر اوسه بل ځای د بلې نسخې څرک ابېستل شوی دی.

دا رساله د دې رسایلو د یوې مجموعې په ترڅ کې راغلې ده. مجموعه په ۲۵۹ نومره په پېښور آرشیف کې ضبط ده.

ټولې پاڼې یې ۴۰ دي. د رسالې په پیل کې کښل شوي دي:

«این الفاظ کفر است از تصنیف اخوند درویزه قدس سره العزیز به لفظ افغانی بیان کرده.» دا رساله مقدمه او مؤخره نه لري، یو ازې -

اصلي متن پکې راغلی چې مسایل پکې بیان شوي دي . ماچې وکتلې پتولې ۳۱۳ شاوخوا مسألې پکې بیان شوي دي . هرمسأله د « مسأله » یو وړوکې سرلیک لري چې په خطي متن کې په سره رنگ لیکل شوی دی . او بیا مسأله بیان شوې ده .

ددې مسألو مطالب اخوند (رح) له ځینو کتابونو اخیستي دي او د تر استفادې لاندې کتابونو نومونه یې ښودلي دي ، لکه :
شرح مشارق ، مختار الفتاوی ، شرعة الاسلام ، تمهید ، تحفة الفقهاء ، فتاوای سراجي ، دافع الملحدین ، تذکرة الاولیاء اونور . . .

ددې مسئلو او له برخه درافضیانو داقوالو په رد کې ده ، ورپسې یې هغه نواهي د مسئلو په ترڅ کې بیان کړي چې په کړلو یې د مؤلف په قول سړی کافر کیږي . دریمه برخه کې اخوند هغه منهیات په مسئلو کې راوړي دي چې کړل یې گناه کبیره بلل کیږي او په دروستۍ برخه کې یې په حراموپورې مربوطې مسئلې تشریح کړیې دي .

ددې رسالې پیل داسې شوی دی : « ځینې رافضي وایي علی خدای دی ، هغه کافردے پس آنچه روافض دراین زمانه علی را خدای میگویند ، به این معنی گفته باشند پس کافر اند »

اخوند درویزه (رح) ، چې په کومه شیوه دا رساله پیل کړې ده ، په هغې کې یې پښتو نثر له دری سره گډ لیکلی دے . دا یو داسې تمایل دی چې په پښتو کې یې نورې نمونې هم شته .

داخوند (رح) ددې رسالې ترکشف دمخه مونږ ددی تمایل یالونکی لرغونی کتاب تواریخ افاغنه گڼلو ، چې شیخ ونکیبو یې د تالیف او سره اودون نیټه ۱۰۳۳ هق حدود بللې ده .

داکتاب هم یوه موضوع په پښتو شروع کوي، تر یوه ځایه خپل مطلب په پښتو بیانوي، بیا پښتو پرېږدي او هماغه مطلب په دري تر سره تعقیبوي.

اوس چې داخوند درویزه (رح) دا رساله را پیدا شوه دا ثابته شوه چې د لیکلو دا روش تر تواریخ افاغنه د مخه هم موجود و چې د اخوند (رح) تر لاسه شوې دا د مسایلو رساله یې یوه نمونه ده. زه د احتیاط اصل ته په پاملرنه اخوند هم ددې سبک باني بولم. امکان لري تر دې وروسته تر اخوند د مخه دغسې پښتو-دري کډې نثرونه تر کوتو شي. سملاسي موږ دومره ویلای شو چې اخوند (رح) په پښتو نثر نګارۍ کې ددې (پښتو-دری) کډ سبک معلوم سرلاری او دا سبک یې پخپله یوه رساله کې پاللی دی.

ددې ډول نثرونو بله نمونه داده: «هسې شحر ویل چې پکې دروغ وي یا د مسلمان بنکنځل وي حرام دي پس آنچه ملنګان این زمانه شعرها راست کرده اندران علمان را دشنام میدهند ومیګویند حرام است وشنیدن آن حرام است ...» (١٤)

داخوند په دې رساله کې راغلي مسایل تول په دې کډوله روش نه دي لیکل شوي. داسې مسایل هم په رساله کې شته دي چې یوازې په پښتو لیکل شوي دي. یوازې په دري بیان شوي مسایل پکې نشته. د پښتو- دری کډ مسایل دیوازې پښتو څخو په پرتله خورا لږ دي.

په یوازې پښتو یوه راوړل شوې مسأله: «یو لوی خوی درا فضیلان پیران دادی چې وایي په هره زمانه کې

يې پيري كامل به وي چې دا خلق به په ده سره وخداى ته رسيږي، له بلا به خلاصيږي، ځكه دوى وايي بې پيره و خداى ته لار نشته او د سنيانو مذهب دا دى چې بې ايمانه او بې عمله وخداى ته لار نشته .

داخوند درويزه دا رساله چې تاسي يې لوړى نمونې وكتلې، د ده د مخزن له نمونو سره ښكاره فرق لري . دلسمي پيړۍ په اواخرو كې او يا ديوولسمي پيړۍ په اوايلوكې په پښتوكې د بو داسي ليكلي نثر نمونې را ښيي چې د سجع له قيد و بند څخه آزاد دى، جملې او عبارت يې ډېرې روښانه او څرګند دى، عام فهمه دى . دهغې زمانې مروج ځيني لغات پكې شته ، لكه : كوزل ، پرهرژلي اوړى او داسي نور .

په پښتو نثر نګارۍ كې ددې تمايل تابع بل كتاب تواريخ افاغنه دى چې دمؤلف په نوم كې يې محققان يوه خوله ندى . ددې تاريخ مسودې پيرمعظم شاه (١٢٣١ هوق مړ) په ١١٨٢ هوق كال دحافظ رحمت خان شهيد (١١٢٠ - ١١٨٨ هق ) په امرلنډې كړې دي او يوه مقدمه يې په دري ژبه پرې كښلې ده . ددې كتاب اصلي مسودې د ١٠٣٣ هوق شاوخوا بشپړې شوې دي ، لكه چې يو ځاى په كتاب كې راغلي دى : « نن ورځ چې سن هجري زر دېرش دى ، حيات دى . » څنګې اضافي له ١٠٣٠-١٠٣٣ هوق پورې زمانوكې پرې شوې دي .
ددې مسودو داصلي مؤلف په باب د ډېرې خبرې شوې دي چا يو څوك او چا بل څوك ددې كتاب د مسوداتو داصلي مؤلف په حيث ښودلى دى ، مګر د تاريخ افاغنه هغه نسخه چې

د دهلي د ملي موزیم په خطي مجموعه کې موجوده ده، په پای کې یې راغلي دی : « تمام شد و به اختتام رسید نسخهٔ عجیبه من تواریخ افاغنه تصنیف قطب الزمان شیخ میرداد خلیل قوم موتیزی حسب الامر فان والاشان حافظ الملک والغرفان وحید العصر والزمان رحمت خان به دستخط پیر معظم شاه ولد پیر محمد فاضل متوطن پیر سباک من اعمال تعلقه پشاور و کابل سنه ۱۱۸۲ هجری کذا تحریر یافت » (۱۵)

د دې کتاب د مسودانو دا ملي مؤلف د نامه په باب دا یو پخوانی سند دی. مگر د کتاب چاپي متن کې ځینې داسې اشارې هم شته چې سړی دا کتاب د شیخ میرداد نشي بللی. د مثال په ډول د موجود کتاب په ۳۳ مخ کې شیخ میرداد خلیل مړ بلل شوی دی اما کومه خبره چې اروا ښاد عقاب پخپله یوه تحقیقي مقاله (پښتو ۲) کې کړې ده، د هغې له مخې د دې مسوداتو لیکوال باید په خټه خلیل وي او مرحوم عقاب دا هم ویلي دي چې کېدای شي دا د میرداد کوم لمسی وي.

زما خپله رایه داده چې کېدای شي د دې مسوداتو ترتیب شیخ میرداد خلیل پیل کړی وي او بیا به یې کوم لمسي بشپړ کړی وي؟ ځکه که داسې نه وای نو پیر معظم شاه به په خپل لاس جوړه کړې او ترتیب کړې نسخه کې ولې د شیخ میرداد نوم دا صلي مؤلف په حیث کیښ. ضرور به په مسوداتو کې په دې ارتباط څه اشارات وو.

دا مسودات که د هرچا وي، زما یې له خاوندسره د بوکار نشته، نه یې په کتاب خبرې لرم.

دا کتاب ورډوستي ترتیبونکي په او و مقامو ویشلی دی. په اول

مقام کې یې د یوسفزو د پښتنو د مهاجرتونو قصې بیان کړې دي او هم یې د کابل د هغه وختني پاچا میرزا الغ بیګ سره د یوسفزو پر د روابطو خبرې کړې دي، د اووسوه یوسفزو د وژل کېدو قصه یې هم بیان کړې ده چې په یوه ورځ په کابل کې د الغ بیګ د جلادانو له خوا ووژل شول.

په دوهم مقام کې یې پېښور، دوآبې، باجوړ ته د یوسفزو د رسېدو قصې راوړې دي او د اشنغر نیول او له دله زاکو سره د جنګو قصې هم پکې راغلې دي.

دریم مقام کې سوات ته د یوسفزو د ورتګ خبرې کړې دي او هم یې سوات ته د بابر د ورتګ قصې بیان کړې دي.

څلورم مقام یې دوابه ته د ګګیانو د راتګ بیانونه لري. پنځم مقام د ګګیانو او د دله زاکو جنګ ته وقف شوی دی، شپږم مقام د شیخ ملي د ویش په باب خبرې لري او په اووم مقام کې د غوریه خیلو او یوسفزیو د جګړو پېښې او قصې راغلې دي.

د محققانو رایه ده، چې په دې کتاب کې په عام ډول له ۸۶۳ نه تر ۹۹۲ ع کال پورې د پښتنو د ځینو قبایلو د اجتماعي سیاسي تاریخ په ځینو جګړو پورې مربوط واقعات بیان شوي دي.

د تواریخ افاغنه په مسوده او متن کې پر راغلیو پېښو ځینو مشرانو محققانو لکه: اروا ښاد عقاب خټک (۱۹۸۵ع مړ) او پوهاند دوکتور حبیب الله تږي ځینې نیوکې کړي دي. لکه سرفرازخان عقاب خټک چې کښلي دي: «... دا د تواریخ په اصولو نه ده لیکله شوې او په دا کښې افسانې او غیر مصدقه روایاتو عنصر زیات او

د تواریخ برای نام ده ... » (۱٦).

زموږ استاد پوهاند دوکتور حبیب الله تږي هم د دې کتاب پر یو روایت انتقاد کړی دی او د خپلې لیکنې په پای کې یې کښلي دي: « نه یوازې د یو سفر په اصطلاح د دغه لوی مهاجرت د وخت او تاریخ په باره کې د تواریخ حافظ رحمتخاني د روایت منل گران کار دی، بلکې د تواریخ د ډېرو نورو مطالب او ټکي هم د تاریخي واقعیتونو له مخې په اسانۍ سره نه شي منل کېدلی ». (۱۷)

د ځینو ضعیفو روایاتو او ناسمو معلوماتو ترڅنګه د دې کتاب له قصو او په کتاب کې له راغلیو ځینو وقایعو د پښتنو د اجتماعي، او سیاسي تاریخ د یوه ځېرکې د بشپړتابه په مراتبو کې استفاده کېدای شي او موږ کولای شو، د دې کتاب له هغو برخو چې له تاریخي وقایعو سره په مغایرت کې نه دي واقع، سمه استفاده وکړو.

د دې کتاب مطالب زیاتره د زباني روایتونو پر بنیاد کښل شوي دي او په ځینو برخو کې یې د اخوند درویزه له تذکرة الابرار والاشرار نه هم استفاده کړې ده. د تواریخ افاغنه د کښنې روش دا دی: « او حضرت زبدة الکاشفین عمدة الاولیاء شیخ عثمان بن موسی مولینزی قدس سره هم په دغو مظلومانو کې لاس تړلی ولاړ وو. په دغه میان کې شیخ عثمان دغو پښتو واړو را نیزیو ته غږ وکړې: تاسې چېرته خدای را وستای. دوی ورته وویل چې دا زموږ قام وو زغلي وو، موږ ورپسې راغلو له دې هسې حاله خبر نه وو. شیخ عثمان ورته وویل چې دا اووه سوه کسه یو سفري چې ما سره منبر لیدل چې په یو ځای قتل شو تاسې خوښې ود سره نه لیدلی

چې د خدای دلته رواو ستلئ. دوی بیا وخته وویل چې په قام
پسې راغللو هیڅ خبر نه وو. القصه در آن روز که میرزا قتل یوسفزی
میکرد روسای گگیانی نیز حاضر بودند فی الفور ایشان را طلبیده ـ ورته
یې وویل چې دادې اوره سوه غوره سبا غلي مردان د یوسفزو یو
لاس ته یې راځي و تاسې ته درکړل ...» (۱۸).

له دې لوړې اقتباسي ټوټې نه به دا درته څرګنده شوې وي
چې تواریخ افاغنه په دغسې یو ګډ روش لیکل شوی دی او د
نثر لیکنې دا روش هماغه دی چې اخوند درویزه (رح) په خپله رساله
کې پاللی دی.

د تواریخ افاغنه د پښتو برخو نثر د اخوند درویزه د نثر په
پرتله ډېره روانې لري او د روغندوالی او څه خاص کړکیچ پکې نه لیدل
کېږي. د تواریخ افاغنه نثر د یوولسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې
د پښتو نثر لګاریو د یوې پرمختللې تجربې حکایت کوي. د دې کتاب
له مطالعې سړي ته څرګندېږي چې مؤلف د کتاب پښتو بیا نوره د
خلکو عامې محاورې ته نږدې لیکلې دی او د عامې محاورې اثرات
پر زیات دي. په همدې بنیاد یې ارزښتمني هم د دې جریان د
نورو نثرونو په پرتله زیاته ده.

د پښتو نثر په باب لیکل شویو څینو آثارو کې دانش د پیر معظم شاه
منسوب شوی دی (۱۹)، حال دا چې پیر معظم شاه د دې کتاب د اصلي
مسودو لنډیز او ترتیب کړی دی، نو ځکه د دې کتاب مؤلف
نه شي بلل کېدای. ده یوازې یوه درې مقدمه پرې کښلې ده. همدا
علت به وچې ارواښاد عقاب خټک په خپله هغه مقاله کې چې مایې د مخه

یادونه کړې ده، ویلې وو : « اگرکه هغه نه خو د معظم او نه د رحمت خان تصنیف یا تالیف وه . . . . دا کتاب د بهادرخان داوُدزي دکتبخانې نه برآمد شوه وه او یوه خلیل لیکله وو.» (۲۰)

د پښتو نثر لیکنې دغه ګړه شپوه چې موږ یې نمونې د اخوند درویزه په رساله او تواریخ افاغنه کې ولیدې، د معلوموا سنادو له مخې وروسته دېره نه ده تعقیب شوې. ما ته یوازې دوې نورې داسې نمونې ښکاره دي چې پښتو او دري یې ګډه سره لیکلې ده، لکه:

(۱) د معدن المسایل په نامه یوه مجموعه دحمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې موجوده ده . په دې مجموعه کې ځینې منثورې ټوټې په دې ګډ دول لیکل شوې دي، لکه دا نمونه : « اگرکوههانوری زمین همه ویجاړ وبرباد بود . قال عبدالله یا محمد (ص) دا زمکې په څه بردي اوڅومره په اوبو ده دي . قال محمد (ص) د ښسو کالو لار طول دارد وهمه بریک سنکرگاو افتاده است » (۲۱) .

(۲) په پښتو آرشیف کې یوه طبي مجموعه شته چې منظومې برخې یې د صدیق دي او د منثورو طبي نسخو دیوې لاندې دعبدالجبار نوم لیکل شوی دی او دنورو لیکوال نشته . په دغو نسخو کې هم ځینې طبي نسخې داسې شته چې شروع یې په پښتو شوې، هدایات یې په پښتو بیان کړي او خاتمه یې په دري کړې ده، لکه دا نسخه : « د تریخې د زېړې غوا بیا دغوایه کوچو دې ډک کي او به د تېې دې هم پکې وي او بزاندي کی تر هغه چې اوبه وخاتې نو دیه هغو کوچو دې . . . خوروي چند روز . . . سکست شود مجرب است » .

دهغو خصوصیاتو له مخې چې ماد یې وروستیو دوو نمونو د متونو

له خطي نسخې او خپلو نورو ژبنیو څانګو نو را ښکاره شوي دي، زه
اټکل کوم چې په دې نمونو کې لومړی نمونه د دولسمې پېړۍ او دو
د دیارلسمې پېړۍ د حدودو ده. دا دوې وروستۍ نمونې په دې
ګواهي لري چې د غه ګډه سبک زمونږ په فرهنګي حلقو کې ان تر دیارلسمې
پېړۍ پورې ځای ځای تعقیبیده. دا چې په دې ګډه شبوه به
څو مره آثار لیکل شوي وي دا خبره به د آینده څېړنو په مرسته
سپینېږي. پخوا زمونږ څېړونکیو ته په دې روش کښل شوي
کتابونو کې یوازې د تواریخ افاغنه نمونه معلومه وه. دا دی دا کتا ب
یې د دې نوې نمونې هم لوستونکیو ته وړاندې کوي.

## د بازګشت جریان ته یوه کتنه :

تاسې په دمخنۍ بحث کې ولوستل چې د مسجع نګارۍ په اوج کې
د مسجع نګارانو پلې ته منسوب ځینو کسانو د غه سبک ونه مانه او په
یوه دا سې شبوه یې نثر لیکل پیل کړل چې هغه له سجعې پاک وو او
هم پله مسجع نګارانو د خپلو مسجعاتو ترڅنګه ځینې داسې نثرونه وکښل
چې هغه مسجع نه وو. د بازګشت دې جریان بیا دیوبل تمایل په
ملتیا نوی رنګ وموند. د دې جریان د پیدا ښت زمانه دلسمې پېړۍ
اواخر اټکل کېدا ی شي، چې ځینې آثار یې بیا په یوولسمه پېړۍ
پورې هم اړه لري.

د دې جریان عمومي خصوصیات دا سې ښودل کېدای شي:

(۱) په دې جریان کې چې کوم پښتو آثار را مېنځ ته شوي دي
د نوښتیانو هغو یې عرفاني آثار دي چې د دې لارې دلارویانو

د ښکلو لپاره پښتو لیکل شوي دي او د ارزانۍ د سالم خوږ ځالګري تعلیمي لولار ښودی ارزښت لري، ځکه د ده رساله د روښانۍ لارې د خلیفه ګانو د لار ښوونې لپاره لیکلې شوې ښکاري او موږ د معلومو مسجع نګارانو په آثارو کې د غسې یو هدفمند اثر نه لرو.

د اخوند درویزه رساله دیوه متشرع ملا مسایل دي، چې هیله لري په دې وسیله د ده په اند د بدعت مخه ونیسي او سینا نو ته سمه لار ښوونه وکړي . دا الزهم ښوونیزه او روزنیزه مخه لري او د مسجع نګارانو په برخه کې موږ د مسایلو د غسې یو لنډ او مختصر کتاب نه مومو چې لوستونکي دې ترې زر استفاده وکړي، خو دا ګرده آثار په موضوعي لحاظ دا سې آثار نه دي چې ترې جریان د مخه دې د مسجع لیکنې په برخه کې شوي، بلکه د مسجع لیکنې په برخه کې عرفاني او شرعي فقهي مسایل خورا ډېر بیان شوي دي. د دې رسالو ارزښتني یو اړخ د تألیف د نوعیت له پلوه ده.

د دې جریان په آثارو کې د ارزښت وړ کتاب تواریخ افاغنه دی چې پښتو یې په کلیوالی ګړدود او بولنه پسولل شوې ده او ډېر وخت ورځنۍ کلیوالي پښتو ته ډېر نږدې کښل شوی او تر دې اثره د مخه موږ د پښتو د غسې تاریخ تر اوسه بل نه لرو او یا نه دی کشف شوی.

د دې اثر موجودیت دا ښیي چې له پښتو سره دا وخت د خپل تاریخ د ضبط خوا ته توجه عامه شوې وه او دا ضرورت ورته محسوس و چې خپلو خلکو ته د دوی تاریخ د دوی په ژبه ولیکي . دا اثر د موضوع نوعیت او د نثر د سبک له پلوه خپل ځانګړي ارزښت نه لري .

(۲) په دې جریان پورې مربوطو آثارو کې یو ترجمه کړی اثر هم شته

دا ترجمه د بایزید د مشهور کتاب مقصود المؤمنین پښتو ترجمه ده.
ددې کتاب ترجمه کول داښيي چې دبایزید زیاتره لوستي پښتانه مریدان په عربي نه پوهېدل ، نو د روښاني لارې خلفاو او شیخانو داخبره محسوسه کړې وه چې ددې لارې دا بنیادي کتاب هم باید پښتو شي .

(۳) په دې جریان پورې مربوطو آثاروکې د پښتو او دري مشترکو آثارو د موجودیت یوه توجیه سړی داکولی شي چې زموږ ځینو لیکوالو د ځینې مورنۍ ژبې ترڅنګه په دري ژبه هم د خپلې ژبې په څېر تسلط درلود ، لیک لوستي یې چې کولای شوای او عام لوستونکو ته هم دری ژبې د آثارو په لوستلو کې څه کړاني نه پېښېده . په پښتو آثاروکې د دغسې کډو (پښتو- دري) آثارو موجودیت د دغو دوارو ژبو سره د نژدېکت د دوارو فرهنګونو او خلکو د خپلوۍ ښکارندوی کوي .

(٤) د دې جریان آثارکه څه هم لږ دي ، خو خپل کیفي ښېګڼې لري او د پښتني فرهنګ د رشد په پروسه کې یې پدل مثبت ارزیابي کېدای شي .

(٥) د دې جریان نثرونه ادبي ارزښت نه لري او د نوعیت له مخې یې که د نثرونو په ډولونو کې تصنیف کړو ، نو د کرېمداد له هوتک او تواریخ افاغنه پرته نور ګرده آثار په علمي نثرونوکې حسابېږي او د کرېمداد او تواریخ نثرونه په عادي نثرونو کې حسابول شو .

## د پښتو نثر د بره تګ نوې زمینې :

یوولسمه پېړۍ د پښتني فرهنګ د روڼې لپاره بختوره پېړۍ ده .
د پښتو آثارو او موجودو اسنادو له مطالعې د پښتني فرهنګ

يو څېړونکی ته دا پته لګي چې د پښتني فرهنګ د بن د لاسبېران تیالپاره چې کوم نیالګي د لسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې ایښوول شوي وو د دوسنا لي غوړځنګ او ددې غوړځنګ د مخالفینو د فکري جریانو تر اغېز لاندې يې وده وموندله او زیا تره دیوولسمې پېړۍ په جریان کې ثمر ته ورسېدل. له بله پلوه د همدې یوولسمې پېړۍ د دریمې لسیزې په دوهم کال د پخوانې افغانستان په شرقي پېښو کې د خټکو په سرداری کې خوشحال خان خټک تبارز وکړ، د نورو کارونو ترڅنګه يې خپلې ژبې او فرهنګ ته مخه کړه.

خوشحال خان باید سړی د پښتني فرهنګ لپاره یوه ګرانبها خداوندي عطیه وبولي چې لوی خدای پر پښتنو ولوروله. خوشحال بابا هغه څه پښتني فرهنګ ته وبخښل چې دا قوم او دا فرهنګ يې له خپلو کاوندیانو سره د سیالۍ جوګه کړ او هغه د فقیدپروفیسور مورګنستیرن (۱۹۷۸ع مړ) خبره: « د فکر د ژوروالي، د لفظي ترکیب د باریکۍ او د شاعرانه اظهار له مخې په فارسي شاعرانو کې د خوشحال مساوی هیڅوک نشي کېدای.» (۲۲)

دخوشحال خټک د شخصیت ملي اوسیاسي ابعاد هم د پښتنو په سیاسي، اجتماعي او ادبي تاریخ کې د مطالعې ځیل ځای لري، خو دده فرهنګي هڅې او پښتنو ته دده بخښنې د خپل جامعیت او فکري، هنري مزایاوو او ارزښتونو له پلوه تر اوسه خپل انفرادیت ساتلی دی، زما په عقیده دا دخوشحال بابا حق دی چې ووایي:

که د نظم که د نثر که د خط ده — په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه

ددې کتاب په روانو مباحثو کښې مونږ د بابا پر هغه حق خبرې لیږو چې د نثر په برخه کې یې پر پښتو ژبه باد دی.

ددې لپاره چې مونږ په نثر لیکنه کې د بابا حق پر پښتنو او پښتو فرهنګ ثابت کړو، نو بو به چې د بابا منثور آثار پسې وګرځو.

دخوشحال بابا د نثرونو یوه غټه ذخیره د ده هغه متفرقې لیکنې دي چې ده په بېلا بېلو وختونو کښې په سفر او حضر کې کښلې دي. دده د دغه لیکنو اصلي مسودې ورکې دي، مګر افضل خان خټک دخان بیاض په نامه ترې په تاریخ مرصع کې ګڼ مطالب نقل کړي دي.

د اروا ښاد عقاب خټک بیان دی چې افضل خان دخوشحال خان خټک له بیاضه شپږ شله ځا یه اقتباسات کړي دي.

دخان ددغو منثورو نوشتو منبع تاریخ مرصع دی. دخوشحال بابا دا لیکنې چې دخان له بیاض نه په تاریخ مرصع کې اقتباس شوي دي، تاریخي پېښې، سفري ګزارشونه، وصیت نامه، د خان لیدلي کتلي تول راچاپېروي او د واقعه نګارۍ د برې ښې نمونې یې لیدل کېږي. د خان دا متفرق منثور آثار د پښتنو د تاریخ، انساني او اجتماعي مناسباتو په څېړنه کې دکار ور مواد لري.

دخان کومې منثورې لیکنې چې په تاریخ مرصع کې اقتباس شوې دي په موضوعي لحاظ مختلفې دی. بناغلي لیکوال حبیب الله رفیع زیار ایستلی دی دغه ځانګړي لیکنې یې له تاریخ مرصع نه استخراج کړې، لکه هندکوه نامه چې د افغانستان شمالي سیمو نه

دخان بابا د يو جنګي سفر کن ارش دی . دا سفر د شهزاده مراد بخش په ملتيا په ۱۰۵۵ هق شا وخوا شوی و (۲۳)

دغه رنګه نوموړي ليکوال له تاريخ مرصع نه د بابا يوه وصيت نامه هم استخراج کړې ده . دا وصيت نامه خان د ۱۰۷۶ هق کال د روژې په لسمه د اشرف خان هجري په نامه په رنتهبور کې کښلې او د عمر اسماعيل خيل په لاس يې روره ته استولې وه .

دخان له بياضونو چې کوم اقتباسات په تاريخ مرصع کې راغلی دي په هغو کې د تاراکګهر د مهم واقعه هم ضبط شوې . افضل خان په دې ارتباط کښلی دي : « هرګاه چې بادشاه بهادر خان او اصالت خان په مهم د تاراګهر تعيين کړه خان عليين مکان يې هم وباله له قبيلي لمقومه اولسه سره ورغي . د هغه مهم احوال ده په خپل دستخط کښلی دی » (۲۵)

په تاريخ مرصع کې د تاراکګهر احوال د خوشحال خان دی ، دا واقعه په ۱۰۵۱ هق کال کې پېښه شوې ده . (۲۶) نوځکه د دې مهم احوال به هم لوی خان په دې وخت کې ليکلي وي . د انوانيلد عقاب خټک په عقيده په تاريخ مرصع کې چې دخان له بياض يا بياضونو نه کوم اقتباسات شوي دي په آخري اقتباس کې د ۱۰۸۶ هق واقعات بيان شوي دی . (۲۷)

له دې خبرې داستنتاجه اخيستل کېدای شي چې خوشحال بابا د ۱۰۵۰ هق شا وخوا په پښتو نثر ليکلو پيل کړی دی . بنا پر دې د مخني نثرونه يې هم وي اما د وسته منثور دې ليکنې يې د يهدتني بيان مطابق د ۱۰۸۶ هـ ق کال دی . په دې حساب تر دې نيټې ورو وسته موږ تر د خان نثرونه نه دي را رسېدلي .

خوشحال بابا چې په بياضونو کې کوم نثر ليکلی دی د هغو يوه

نمونه داده :

«په دامیان کې یو شخص د تاجیک پسه تر گردن نیولی په لور دهغې دره چې پکښې د راجپوتانو وه تهٔ . هغه شخص مې ځان ته وباله، مرچې یې عوسبتل هغه مې ورکړه اومنت یې په ځان بار کړ، پسه مې هغه زمان ذبح کړ - لړمون مې یې په اور واچوه ، لږ څه وریت شه . له اوده مو را واخیست او اور دلون یې بریږ مړکړ»(۲۸)

له دغو منثورو متفرقو آثارو سربېره چې یې وخت په وخت پرچېلو بیاضونو کې کښلي وو دخان تر ټولو مشهور او دوییاړ ور منثور اثر دستارنامه ده .

دستارنامه خوشحال خان خټک د رنتهبور په کوټ کې په ۱۰۷۶هـق کال د ربیع الاول په اوه لسم تاریخ بشپړه کړې ده .

داکتاب یو مقدمه لري،چې دا مقدمه پر دوو فصلو سره مشتمله ده. لومړی فصل د دستار او دستار دقابلیت په باب دی، دوهم فصل یې ذکر د ولایت او اسباب سیاست او ریاست .

بیاکتاب په دوو بابونو ویشل شوی . په اول باب کې یې شل هنرونه معرفي شوي دي ، چې په دې هنرونوکې : دځان د معرفت هنر، د علم، خط ، شعر، تیر اندازی ، آب بازی، اسپ تازي، ښکار ، شجاعت ، سخاوت ، دازدواج معاشرت، داولاد تربیت ، تاد یب خدم وحشم ، اسباب معیشت ، دزراعت ، تجارت ، تحقیق نسب پرهنزي بحثونه شوي دي.

په دوهم باب کې یې دسیاست په لوازموکې شمار دا لاندې شل خصلته بیان کړي دي : مشورت ، عزم ، خاموشی، راستي ،شرم حیاء

خُلقت ، مروت ، عفو کرم ، تمیز د تاني ، عدل وانصاف ، توکل ، تربیت اوشرم دخپل نوازش ، خوف ورجاء ، د ملک انتظام ، همت ، حلم ، غیرت ، حزم واحتیاط ، ورع ، اطاعت وعبادت ، استغفار .

اوبله هم دکتاب خاتمه ده چې دحماقت علامتونه یې پکښې شوولي دی . د دستارنامې تالیف هدف خپله خوشحال خان بابا داسې ښوولی دی : « باني ددې انشاء ، مؤلف ددې املاء چې باعث ددې تصنیف ده دابیت :

چې د ستار تړي هزار دي ـــ د دستار سړي په شمار دي

دابیت په فراقنامه کې وارد شوی دی ، په طریق د واردات ، دوه بحره دوه قافیې لري ذوالقافیتین واقع شوی دی . تفسیر وتفصیل د پر لري . په خاطرفاتر ورسېدل چې یوه موجزه مختصره رساله پښتو کړم انشاء چې عبارت یې روان وی ، قریب الفهم وي ، دستارنامه نام کړم هغه چې معنیٰ ددې بیت دی ... د دستار په سرکول چې تعلق په قابلیت لری شرایط یې ډېر دی ترحساب ترشماره تېر دی . وا ړه موقوف په قابلیت دی . د قابلیت اسبابونه هم بلا احصا او بلا انتها دي ، لکه هنرونه اوخصلتونه چې په تفصیل او په تدخیل یې سړی قابل باله شی . په عدم او په خلاف یې نا قابل باله شي په واړو کې ماشل هنرونه ، شل خصلتونه اختیار کړل ، چې پېدا رساله کې راوړم که دا هنرونه خصلتونه چا ونیول قابل به بالهٔ شي ... » (۲۹)

له دې لوړو لیکنو څخه په تاسې ترښکاره شوې وي چې د دې کتاب دلیکلو هدف څه دی ، څو د دستار هغه معهود سړی چې خوشحال

يې يادوي کړم دی . په دې باب بيا خان وايي : « خبر شه چې دستار په سر کول د شپږ اوېا دېارو نه دي . دستار د مرد شرم او عزت دی . تمامي شرم د مرد په دستار کې دی . هرچې په حکم د حديث د دستار په باب ما څه ليدلي دي، هغه به هم درته ووايم . ولې په عرف په عادت کې هم نظر وکړه چې هر کله چې پاچا يا امير په ابتداء په تخت يا په مسند دلوېي کښېني د بادشاه په سر تاج ، د امير په سر دستار کېښش شي . هرچې قابل او لايق دی ، دا کار په هغه پسنده په ناقابل پسنده نه شي . هرچې په اتفاق دستار د هغه په سر کښېږدي هغه اطاعت اختيار کا . د دستار شرم په دوا لوريه لازم شي . اول په هغو چې دستار د هغه شخص په سر کښېږدي . بيا په هغه دستار دلويي په سر کا ... » (۳۰)

د دستار نامې له لوړو اقتباسي ټوټو او په خپله د کتاب د متن له بېلا بېلو برخو څرګندېږي چې دا کتاب خوشحال بابا د ملوکانو لپاره ليکلی دی او دا يې غوښتي چې ملوکان بايد د دستار مقام ومنزلت او درياست او سياست د غه شل هنرونه او خصلتونه خپل کړي ، که دا يې خپل کړل نو بويه چې د غه ملوک يا امير يا د دستار سړي او يا مشرته قابل وويل شي .

د دستار نامې مطالعه سړی په دې باوري کوي چې خوشحال بابا د پښتنو د خپل يې ملي رياست نظريه په خپل ذهن کې پالله، چې اساسات يې ورته په خپل دغه کتاب کې تشريح کړي دي .

خوشحال بابا دا کتاب په هندوستان کې د قيد وبند په شرايطو کې داسې مهال ليکلی دی چې دی د رنتهبور په کوټ کې و

اوکتابونه ورسره نه وو. داشکایت ده خپله دکتاب په پای کې په دې ډول کړې دی: «کتابونه راسره نه وو اوکه نه ښې تکمې به یې دا کتاب کړې وې». (دستارنامه ۲۳۸مخ) خو دکتابونو له نشتوالي سره سره ده په کتاب کې دځینو کتابونو حوالې هم ورکړې دي، لکه: «تحفة الغیاثي (۲۵مخ)، رسالهٔ تیر اندازی (۴۶مخ) دشرف الدین علی بن دی ظفرنامه (۲۸مخ)، تاریخ روضة الصفا (دوه حایه) دحجة الاسلام امام غزالی ځینې آثار (۱۴۳مخ). اماله دې سربېره ده د خپل قول دپیاوړتیا لپاره له قرانی آیتونو نبوي احادیثو او پښتو متلونو هم استفاده کړې ده. پښتو او دري اشعار او بیتونه یې هم داستشهاد په توګه په ټول متن کې اخیستي دي. (۳۱)

زموږ استاد پوهاند میرحسین شاه د دستارنامې د دري اشعارو ماخذونه په خپله یوه ارزښتناکه مقاله کې ښودلي دي.
له دې سربېره دکتاب په بېلا بېلو برخو کې دهنرونو او خصلتونو دتشریح په ترڅ کې خوشحال بابا په ځینو باچاهانو، ملوکانو او امراوو په ارتباط ویل شوېاو پېښ شوي فرهنګ کې موجود ځینې واړه واړه حکایات هم راوړي دي او د دې حکایاتو پرنتایجو یې په هره برخه کې د خپل طرح کړي تیسس بنستونه پیاوړي کړي دي، لکه په ۲۰۴ مخ کې د خوف او رجاء د خصلت په ترڅ کې یې په نوشیروان پورې مربوط یو حکایت داسې راوړی دی: «نوشیروان عادل په طعام ناست وه، بقاول طعام راوړ د آش کاسه یې راوړه، کاسه کږه شوه، څه خو آش ورځني توی شه د نوشیروان لمن پرې ککړه شوه. هغه ورسته کاسه په سر د نوشیروان تویه کړه

دوست يې ولاړه نوشیروان ورته ووې چې دا دې ولې کېل چې درسته کاسه دې د آش ډاباندې واړوله . بقال ووې : داوله چې لږ آش توی شه د ما په اختيار نه وه ، ستا لمن ککړه شوه ، تاراته بد نظر وکړ په دا کاته په لږ گناه هم ته قتل فرمایې، ما په نړۀ کې خپل مرگ ولیدۀ. ماویې : نو خو مرم ولې درسته کاسه دده په سر وانه چوم چې ډیر گناهگار شم گوندې مې وبخښي که مې ووژني هم په گناه به ومرم نه بیگناه نوشیروان وبا خښه .

دا سې مېکارې چې په کتاب کې راغلي بېتونه ، اقوال اوحکایات و امثال کرده بابا ىخپلې حافظې په مرسته په کتاب کې درج کړي دي .

دستارنامه دشرقي له کلاسيکو آثارو سره هم ځینې شباهتونه لري. زموږ استاد اعلا بناد پوهاند عبد الحی حبیبي له ځینو شرقي آثارو سره ددستار نامې مقایسوي کتنه کړې ده او دخپلې څیړنې په ترڅ کې يې کښلي دي : « د دستارنامې ځینې فصلونه له قابوسنامې او سیاست نامې سره موافق دي ، لکه : شعر ، ښکار ، داولادروزنه ، علم ، تجارت زراعت ، کتابت ، موسیقي ، نرد او شطرنج فصلونه چې په قابوسنامه کې هم شته ، مگر دمشاورت،عدل او انصاف ، تربیت ، خدم وحشم ، خوف ورجاء بحثونه يې سیاست نامې سره برابر دي ، حو د دستارنامې دتحقیق انساب او خصایلو فصلونه دابن مقفع اوماوردی اوجاحظ او غزالي له کتابونو سره شباهت لري او ځینې فصلونه یې د خوشحال خان ابتکار دی ، لکه : آب بازی ، خانداني روابط ، ازدواج

دستارنامه نه یوازې د شرق له کلاسیکو نظریاتي کتابونو سره د موازنې او پرتلنې مواد لري ، بلکه د غرب له دغه ډول آثارو سره هم مقایسه کېدای شي.

کاندید اکاډیمسین محمدصدیق روهي په خپله یوه څېړنه کې ویلي دي : « د ښوونې او روزنې د فلسفې په تاریخ کې د پلوتارک (مورالیه) او د کوینټلیان ( د بلاغت اصول ) چې د محتویاتو له پلوه د خوشحال له دستارنامې سره پوره شباهت لري ». (۳۲)

روهي صاحب نه یوازې دا چې په دې غربي آثارو کې له دستارنامې سره شباهتونه ویني ، بلکه په همدې مبحث کې وايي : « همدغسې پلوتارک کوینټلیان او کامینیوس او داسې نورو د ښوونې او روزنې د نورماتیف فلسفې په ورانديکولو سره د فیلسوفانو په حیث شهرت موندلی دی . خوشحال هم د دغه لقب مستحق دی . »

دستارنامه د څېړنو لپاره ډېرې پراخې زمینې لري ، د اجتماعي علومو د ځینو څانګو څېړونکی او د پوهان کولای شي ، د دې کتاب پر محتویاتو د خپلو څېړنو ستنې ودروي .

دستارنامه د خپلو معنوي ارزښتونو له امله نه یوازې په پښتو کلاسیکو آثارو کې بې جوړې کتاب دی ، بلکه د شرق په کلاسیکو آثارو کې د درېدلو حق لري او پښتنو ته بویه چې د خپلو څېړنو په برکت د شرق د کلاسیکو آثارو په ردیف کې د دستارنامې د درېدو حق ثابت کاندي.

د دستارنامې اردو ترجمه پروفیسر خاطر غزنوي کړې ده او په ۱۹۸۰ع کال پېښور پښتو اکیډیمۍ خپره کړه او انګرېزي ترجمه یې هم د دوکتور فضل رحیم مروت په قول صاحبزاده شکیل احمد تهیه کړې او د پېښور پوهنتون په ایریا سټډی سنټر کې شته.

څو کاله د مخه په سنټ پیټرز بورګ کې د پروفیسور ګریونبرګ یو شاګرد د خپل تیسس له پاره په دستارنامه کار کاوه. د بناغلي صولت شاه میرګن دیو لیک له مخې د تاجکستان د خپتیځ پوهنې دپوهنځي د پښتو څانګې یو استاد فرقت شاه احمداف هم خپل تیسس پر دستارنامه کښلی دی.

تر اوسه چې کوم کارونه په دستارنامه شوي دي ځینې یې ډېر غنیمت دی او د دې کتاب حق یې تر یوې اندازې اداء کړی دی، لکه:

(۱) په افغاني پوهانو کې تر ټولو د مخه شهید پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح (۱۹۸۸ع مړ) پر دستارنامه یوه څېړنه کړې ده. دا څېړنه دوی د ختیځ پوهانو په نړیوال کانګرس کې اورولې وه او پښتو ترجمه یې د وږمې مجلې په ګڼو کې خپره ده. د شهید پوهاند مجروح څېړنه پر دستارنامه یوه نوې او د نویو غوښتنو په رڼا کې بشپړه شوې څېړنه ده.

(۲) اروا ښاد استاد پوهاند عبدالحی حبیبي چې د خوشحال خټک د جهانداری نظریه تر سرلیک لاندې پر دې کتاب کومه څېړنه کړې ده او له شرقي کلاسیکو مشابه آثارو سره یې د دستارنامې کوم پرتلیز انځور ایستلی دی د دستارنامې مقام په کلاسیک شرقي ادب کې ښه

جوتولئې شي . دا مقاله ۱٤ مخه په ننګیالی پښتون کې چاپ شوېده.

(۳) اروا ښاد خادم چې په د ستارنامه کومه مقاله لیکلې ده. دا کتاب یې د پښتونوالی له عینکو کتلی دی. (۳۳)

(۴) کاندید اکادمیسین روهي چې دخوشحال د ښوونې اوروزنې فلسفه تر سرلیک لاندې پر د ستارنامه کومه څېړنه کړې ده، هغه په خپله نوع کې نوې څېړنه ده او ځینې داسې خبرې لري چې د دې کتاب په باب تر اوسه چانه دي کړې. دا مقاله ۲۱ مخونه په ادبي څېړنې کې چاپ شوې ده. په دې مقاله کې د ښوونې او روزنې له غربي میتودونو سره د خوشحال د دستارنامې تربیتي میتودونه مقایسه شوي دی او د دې څېړنې په یوځای کې راغلي دي: « د خوشحال له خبرو څخه داسې ښکاري لکه چې هغه د شلمې پېړۍ د ښوونې او روزنې پر نسیبونه بیانوي.» په مقاله کې دا خبره روښانه شوې ده چې دخوشحال خان د ښوونې او روزنې ځینې پرنسیبونه هغه دي چې نن په متمدنو هېوادونو کې عملي کېږي.

(۵) پروفیسر خاطر غزنوي په اردو ژبه د « ستارنامه» تر سرلیک لاندې یوه مقاله کښلې چې په پاکستان نومې مجله کې چاپ ده.[۳۴] ده هم د دې کتاب په څېړنه او د ارزښتونو په ښوونه کې زیار ایستلی دی دا کتاب یې په خپل انداز کې اردو ژبو ته ښوولی چې په اردو ژبه کې د دې کتاب د پېژندنې یو ښه کوښښ ګڼل کېدای شي.

خو د افسوس خبره دا ده چې د دستارنامې د پېژندنې رغنده لوړ آثار هم خلکو ته نه دي رسېدلي او تر اوسه لا زیاتره پښتانه د دې کتاب له ارزښتونو ناخبره دي.

د لوی خان خوشحال بابا د نثرونو پر معنوي ښېګنو له لوړو څېړو وروسته اوس دې ته وار رارسېږي چې د ده د نثر پر شکلي ځانګړنو څه ووایو.

د پښتو نثر د تحول په تاریخي سیر کې د شکلي ځانګړنو له پلوه د خوشحال بابا د نثرونو د موقف په باب له دوه دریو دوله تمایلاتو سره مخامخ شوی یم:

۱- له مسجع نګارۍ نه روان نګارۍ ته بازګشت خوشحال بابا کړی دی.

۲- خوشحال د پښتو د نویا نثر باني و. (۳۵)

۳- خوشحال په نثر کې د نوي سبک موجد دی. د ده نثر د لرغونو مسجع او منثورو(...) نثر او معاصر نثر تر منځ یو پل دی. (۳۶)

په دغو لومړي و تمایلاتو کې د لومړي تمایل په ارتباط ما د دې فصل د بازګشت په برخه کې خبرې کړې دي. زموږ مشرانو چې د خوشحال بابا د نثرونو د موقف په باب کوم وخت دا ډول خبرې کړې هغه وخت دوی ته دا رنګ ابي، مخلص او اخوند انو نثرونه نه وو معلوم، نو ځکه د بازګشت ویاړ بابا ته ورکاوه.

دوهم تمایل د بېخوشیینانه ایسي، ځکه د پښتو د نوي نثر باني یا بانیان نور کسان دي او پښتو نثر د خوشحال بابا له زمانې نه د نوي نثر د پیدا کېدو تر عصره د پېړاوونه وهلي دي.

درېیم تمایل واقعیتونو ته نږدې دی، ځکه چې بابا په پښتو نثر نګارۍ کې د یو ځانګړي او نوي سبک مؤسس دی، که دا سبک د مسجع نګارۍ او معاصر نثر تر منځ د نښتو ن مستقیمه واسطه نه هم وي، خو د دې سبک د موجد او پیروانو نثرونو په

پښتو کې د نثر لیکنې غنې تجربې اخلافو ته پرېښودې او د پښتو نثر د پرمختیا په ورو ستیو پړاوونو یې له اغېزو سترګې نشي پټېدای .

خوشحال بابا چې په خپلو آثارو کې کوم سبک پالی دی، دهغه سبک ځانګړنې سړی داسې ښوولی شي :

- په دې سبک کې د لیکنې شېوه د بازگشت د جریان د نثرونو په پرتله متینه او قوي ده .

- که څه هم د بازگشت د جریان پلویانو د مسجع لیکونکیو د اوږدو جملو لیکل پرېښي وو او په خپلو نثرونو کې یې لنډې جملې لیکلې، خود خوشحال بابا په نثرونو کې د جملو لنډوالي ته زیاته توجه وشوه او مطالب په ښکلو لنډو جملو کې ډېر کوټلي او صریح بیان شول .

- په دې سبک کې له ځینو مواردو پرته ، زیار ایستل شوی چې د جملو ترکیبونه د ژبې له طبیعي جوړښتونو سره سم وي .

- د بابا په نثرونو کې د بازگشت د جریان د ځینو نثرونو په پرتله روانې او حتی کله هم سادګي زیاته ده .

- د بیان د استدلالي قوت د پیاوړتیا لپاره په لیکنه کې د پښتو متلونو او ځینو مقولو (بولنو) را وړل د دې سبک په ځانګړنو کې شمارل کېدای شي .

- بابا زیار ایستلی چې ځینې ځانګړي کلیوالي پښتو اصطلاحات هم په خپلو لیکنو کې ځای کړي . د دغو اصطلاحاتو لیکلو د ده نثر لیکنې ته خاص رنګ او خوند وربخښلی دی .

- که څه هم تر خوشحال بابا دمخه د تواریخ افاغنه په پښتو برخو کې د کلیوالې او عامې محاورې مطابق نثرونه مونږ لرل، خو بابا په ځانګړي ډول په خپلو متفرقو منثورو لیکنو کې چې په بیاضونو کې یې کښلي وو، ځینې ځایونه داسې نثر لیکلي چې د کلیوالې پښتو اثرات پرې ښکاره دي.

- د بابا په نثر لیکنه کې د نورو ژبو لکه: عربي، ترکي، فارسي او نورو لغات استعمال شوي دي، خو د دې لغاتو مقدار هم دومره نه دی. له بلې خوا یې په داسې شیوه استعمال کړي چې د لوستونکي مخ ډېر نه وراوړي.

- په دې سبک پورې مربوط آثار چې د خټکو دي، په هغو کې د دې قبیلې لهجه یې خصوصیات ډېر ځایه ځان څرګند وي او سړی ترې د تاریخي کړ دود پوهنې په مطالعه کې ښه استفاده کولای شي.

- د بابا د نثر عمده ښېګڼه داده چې دا سبک یوازې په ده پورې خاص نه شو، بلکه دده زامنو، دکورنۍ غړیو او نورو پښتنو ویاله او په خټکو کې خو ان د دیارلسمې پېړۍ تر اواخرو پورې دا سبک باب و.

دخوشحال بابا دنثر لیکنې د سبک په باب له دې اجمالي لیکنې چې ورته پر شو، اوس به په دې خبره هم لږ غور وکړو چې زمونږ مشرانو په خپلو لیکنو کې دا نثرونه څنګه ارزیابي کړي دي؟

پروفیسور تقویم الحق کاکا خېل په خپله یوه څېړنه کې دخوشحال نثر داسې ارزیابي کړی دی:

«دخوشحال خان نثر ډېر روان، ډېر بې تکلفه او ډېر ساده

دی. دهغه په بیان کې نهتصنع شته ، نه اړوپیچ ، چې څه یې په
نړه دي ، هغه یې په خوله دی او چې یې په خوله دي ، هغه یې
دقلم په څوکه دي ... » (۳۷)

ښاغلي قلندر مومند په دې ارتباط کښلي دي : « دخوشحال بابا
نثر نه صرف روان اوښیسته دی ، بلکه دهغو ټولو تکلیفونو اوتصنعاتو
هم پاک دی ، چې څه خو دمابعد الطبیعاتی او مافوق الفطری شکل
... او دعامې ژبې نه دشعوري طور سره دلیرې کېدو په وجه پیدا
کېږي . د خوشحال بابا ذاتي ډایري چې اکثره حصه یې افضل خان
په خپل تاریخ مرصع کې دبیاض په نوم عیناً نقل کوي . ددې نه هم
زیات شګفته نثرلري ... » (۳۸)

دلوړ و نظر یا تو ځیني خبرې سمې دي ، اما که په مطلق ډ و ل
مطرح وي اختلاف ورسره کېدای شي ، ځکه دغه ډول سخاوتمندانه
لوړیینې سړی د معاصر نثر پر شهسوارانو هم نشي کولای .

زما په عقیده د خوشال بابا نثر د خپل زمان له شرایطو سره سم
پرمخ تللی ، له کړکېچونو آزاد او په نسبي ډول روان نثر دی . اما
دا خصایص یې د روزنامچې یا ډایرې یا بیاض په نثرونو او د
دستارنامې په نثرونو کې متفاوت دي . د دستارنامې د نثرونو په
پرتله د بیاض نثرونه عامې محاورې ته ډېر نږدې دي ، خو دلیکوال علمي
سویه او له نوډو ژبو سره او دنورو ژبو له متونو سره یې داشنایی
اثرات پر نثر لیکنه مشهود دي .

د مخه مو وویل خوشحال بابا چې دنثر لیکنې کومه شیوه غوره کړې
وه ، دا سبک دده په کورنۍ کې پسې و پالل شو او نورو پښتنو نثرلیکونکو

يې هم پيروي وکړه ، نو اوس د دې وار راسېدلی دی، چې د ګ
سبک پيروان يا د کړو

## دخوشحال د سبک پيروان :

زما د مطالعې له مخې د خوشحال بابا د نثرليکنې په غوره کړې
لارې دغو لاندې کسانو يون کړی دی :

(۱) **اشرف خان هجري :** د خوشحال بابا مشر زوی او د پښتو
په زړه شاعرعه کې د وچتې پايې خاوند اشرف خان هجري (۱۰٤٤–
۱۱۰٦ هق) هم موږ په نثر نګارانو کې يا دوو. که څه هم دده مستقل
منثور اثر تر موږ نه دی رسېدلی ، خو دده متفرقې کوچنۍ منثورې
ټوټې موږ ته رسېدلې دي .

هجري دا منثورې ټوټې د خپلو يارکو په سرکې د ياد داشت
په دول کښلې دي . که څه هم دا نثرونه دفن څنګ په رشدکې کومه
ونډه نشي درلودای ، خو دا افاده ضرور راکوي چې اشرف خان
هجري په پښتو نثر کښلای شوای .

دده د دري ديوان ځينې قصايد په سرکې پښتو يادښتونه
لري ، لکه :

(الف) قصيده بې نقطه دلې يې په دکن کې هيڅ ځواب ونه کړ ،
غالباً چې د کابل په صوبه ګری کې يې هم څوک ځواب ونه کا .

(ب) دا قصيده چې (په) مهم روح الله خان راغلی و ، د ديانت خان
په ويل ما ورو ستو له مهربانۍ وشوه ، عرض يې وکې . کار جوړ شه
ولې نه ومې .

(ج) دا قصيده مې د باد شاه استا د لره استولې وه ډېره يې پسند کړه

ولې تر نظر یې داورنګ شاه تېره نه کړه ، په دا سبب چې خوشا مد یې پکې نشته ، کوره چې څه وایي ۰ (۳۹)

که څه هم دالوړې توقې تشې یا دوې دی ، چې دفرهنګ په رشد کې کوم اغېز نه لري ، خو د دې تر څنګه دا افاده راکوي چې اشرف خان هجري په پښتو نثرهم کښلای شوای او دهجري غوندې د یو لوی شاعر دا څوکرښې هم غنیمت دي ۰

(۲) **عبدالقادرخان خټک** ؛ د خوشحال بابا له عالمواودانشمند زامنو څخه یو هم عبدالقادرخان خټک (۱۰۶۳-۱۱۲۶ هـ قحدود) دی ، چې د ځینو نوښتونو په ملتیا یې په نثر لیکنه کې د خپل پلار د نثر لیکنې په وضع کړې لار یون کړی دی ۰

عبدالقادرخان خټک په پښتو لیکلی نثر هم لري او پښتومنثوره ترجمه یې هم کړې ده ۰ د ده د دېوان په پیل کې یوه پښتومنثوره لیکنه شته ۰ دعبدالقادر د دېوان ټولې خطي نسخې چې وکتلی شي دا لیکنه په ټولو کې نه ده راغلې ۰ د مثال په ډول دکندهار چاپ دعبدالقادر دېوان چې دکومو نسخو له مخې تهیه شوی دی ، په هغه نسخوکې دا مقدمه نه وه ، ځکه نو دکندهار چاپ کې دا لیکنه نشته . ځینې نورې لیدل شوې خطي نسخې هم دا منثوره لیکنه نه لري . له دې څخه سکاري چې دا لیکنه به شاعر ورو سته کښلې وي او له کومې نسخې سره به یې مله کړې وي ۰ (۴۰)

دا مقدمه یې لیکنه د چاپي دېوان په (۱ - ۱۰ مخونو) کې ځای شوې ده ، د محتوی له پلوه دا سې یوه مقدمه نه ده ، لکه چې د

دیوان د مقدمو دود دی، یعني دهٔ هلته ددیوان د ترتیب او تدوین په باب خبرې نه دي کړي، بلکه دا یوه موعظه ده چې په پښتو نثر کښل شوې او له حمد و درود وروسته یې لوستونکو ته د دینې اخلاقو په چوکاټ کې ځینې وعظونه کړي، د ښو کارونو کولو او له بد و پرهېز ته یې تشویق کړي دي.

سړی چې دا مقدمه ولولي، نو فکر کوي چې عبدالقادرخان هسې یوه موعظه کښلې او له خپل دیوان سره یې مله کړې چې اوس یې بیا د ده د دیوان د مقدمې حیثیت غوره کړی دی.

که چېرې څوک دا مقدمه ولولي او ورسره په شرقي فرهنګ کې د دغسې مقدمو له سوابقو او دلیکنې له روښونو خبر وي، نو به وایي چې کښې عبدالقادرخان په مقدمه لیکنه نه پوهېدهٔ او یا دا دود نه و ورمعلوم خبره دغسې نه ده. عبدالقادرخان ته دا دود معلوم و، دهٔ چې د ګلدستې مقدمه په کوم روش لیکلې ده، په زاړه شرقي فرهنګ کې د مقدمه لیکنې له مروج دود سره برابره ده. نو نما په پوهه کومه منثوره موعظه چې د دهٔ د دیوان په ځینو خطي نسخو کې شته، د دیوان مقدمه نه شي کېدای، امکان لري چې هسې یې اخلاقي مضمون کښلی وي او د دیوان له نسخې سره دې مل شوې وي او یا دا چې عبدالقادرخان غوښتي دي دا اخلاقي او مواعظ ځانګړی اثر ولیکي، چې پیل به یې دا مضمون و؟ په هر صورت د دهٔ دیوان د ځینو خطي نسخو په پیل کې یوه پښتو منثوره موعظه شته، چې دهٔ خپله کښلې او په دې وعظیه، اخلاقي مضمون کې یې د کښنې روش دا دی:

«لن خوږه د بېځه ده، د چامه خوږه، په نوره و خوږه، په هلکانو رحمت

کوه، د پیرانو حرمت کوه، د عالمانو عزت کوه، د فقیرانو خدمت کوه، په هر کار کې، په تله په ناست په کښتان، په خوراک تقدیم د مشر کړه. مشر ورور لکه پلار ګڼه، د پلار اشنایان لکه ترونه، د چا عیبونه مه شماره پرده پوش اوسه.» (٤٠)

له دې مضمونه سربېره عبدالقادر د ګلدستې د مقدمې زیاته برخه هم خپله کښلې ده. ما چې پر عبدالقادرخان کومه رساله کښلې ده دې رسالې دوه ځایه د دې مقدمې یادونه شوې ده. یو ځای یې تر له مقدمه د عبدالقادر بلل شوې او بل ځای «سبب د تالیف د دې کتاب...» نه وروسته بخښونه د عبدالقادر دی. دا دواړه خبرې د قیقي نه دي ځکه د مقدمې او له برخه ترجمه نه او د عبدالقادر خپلې لیکنې د مقدمې له دې ځایه «پس د خدای تعالی له حمد او د رسول الله ... » پیل کېږي (٤١) او «سبب د تالیف د دې کتاب» بحث ورپسې دی.

کوم نثر چې عبدالقادر د دې کتاب په مقدمه کې کښلې دی یو نمونه یې داده: «په علم عربي کې یې لږ دخل و. په فارسي کې سرآمد د خپل عصر و. شعر یې فارسي- پښتو سره انشا کاوه، اما پښتو شعر یې جهان لکه شیخ سعدي ونیوه. شعر یې غزل، قصاید، رباعیات، مقطعات صنایع مثنویات، تر لکونو بیتونو متجاوز دي...»

اما د ګلدستې نوره برخه ترجمه ده، چې عبدالقادرخان خټک د سعدي(٤٢) (٦٩١ یا ٦٩٢ هـ ق) د ګلستان نظم په نظم او نثر په نثر ترجمه کړی دی.

ګلدسته، لکه چې عبدالقادرخان خټک خپله وېلې دي:

«داکتاب چې ګلدسته د ګلستان دی ګل چیني کا عبدالقادر خټک»

د سعدي (رح) د ټول ګلستان ترجمه نه ده، د استاد رشاد له

څېړنې سره سم عبدالقادرخان خټک د ګلستان دلومړي باب څلور، د دوهم باب یو، د دریم باب څلور، د څلورم باب یو، د پنځم باب یو، د شپږم باب دوه، د اوم باب یو حکایت چې ټول څوارلس حکایته کېږي. او دغه راز داتم باب اته ویشت حکمتونه، نه دي ترجمه کړي (٤٢).

د سعدي (رح) د ګلستان پښتو ترجمې ته د عبدالقادرخټک پام هغو کسانو اړولی دی، چې داکتاب به یې له ده لوست. ده ددې کتاب په مقدمه کې کښلي دي: « بعضو دوستانو راتخه ګلستان لوست، ډېر ډېر به یې راته ویل چې دعربي فارسي کتابونه ډېر دي. اما په پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نشته. ستا قوت د تصنیف د ترجمې البته شته که تصدیعه په ځان قبوله کړې، ګلستان کتاب چې مرغوب د خاص عام دی، هم یې لوی سړي کوزي نصیحت تری اخلي هم یې هلکان لولي برکت تری اخلي. اساني ډېره وشي. اکثر خلق یې متن ولولي، دوهم حل یې معنی که په پښتو ژبه ترجمه شي، پښتنو ته به اسان شي ... »

دعبدالقادرخان خټک له لوړې کښنې دا څرګند سکارېږي چې هغه وخت دپښتنو په لوستي قشر کې دا ذهنیت پیدا و چې، لکه ګلستان غوندې کتابونه دي د دوی په ژبه کې هم وي.

عبدالقادرخان هم دې ضرورت ته په پاملرنه دغه ډېر مشهور اخلاقي او روزنیز کتاب په پښتو ترجمه کړی دی او د ترجمې له لیارې یې په پښتو کې د یو داسې کتاب اضافه کړې ده چې د مخه په پښتو کې نه و.

د ګلستان د ترجمې د نثر یوه کوچنۍ نمونه داده: « یو بادشاه و حیات یې په آخر ورسیدو، اجل یې منکول کښنوه، قایم مقامي څوک

نه وو، وصیت یې وکړ چې هرڅوک سبا په وقت ښهر ته را ننوځي د ملک بادشاه دې هغه وي. اتفاقاً اول چې داخل د ښهر شه یوګدای و، چې همه عمر یې لقمه لقمه ټولوله، خرقه یې په خرقه ګنډله...» (٤٣)

نو اوس که سړی دا ترجمه وګوري، نو پوهیږي چې د عبدالقادر له لیکلو نثرونو سره یې څه فرق نه ښکاري او هغه د ارواښاد استاد حبیبي نتیجه ګیري رښتیا کیږي، استاد کښلي وو:

«په دې ترجمه کې عبدالقادر آزاد تللی دی، مګر د پښتو سلاست او شریني یې پکې ساتلی ده او مطلب یې هم په ډېرو لنډو کلماتو کې سره یو ځای کړی دی. په دې کتاب کې نثر په نثر اونظم په نظم ترجمه سوی دی او هغسې موفق دی، لکه د نثر په ترجمه کې...» (٤٤)

د عبدالقادر خان ختک نثرونه، لکه چې د پوهانو خیال دی، د خوشحال بابا د نثرلیکنې د سبک تابع دی، مګر عبدالقادر نثرونه ځینې خاصې ځانګړتیاوې هم لري، یعنې دا چې ده د ه نثرونه په مجموعي ډول د خوشحال بابا د نثرونو په پرتله یو څه د حرکت تیا، خوږلت او روانه خواته درومي. که څه هم ځینې ګران عربي تکي د ده په نثرونو کې هم شته، خو دا تناسب په ډېره لږه فیصدۍ کې نه دی واقع. سباغلی ضیاء جعفري په خپله یوه اردو رساله کې ویلي دي:

(ترجمه) «عبدالقادر خان له خپل پلار نه هم سلیسه او زیاته صافه ژبه لیکلې ده او د پښتو نثر د سلاست او روانۍ خواته یې یو قدم وړاندې کړی دی.» (٤٥)

ما چې د لیکوال خان کوم نثرونه کتلي دي هغه هم له ځینو برخو پرته روان او خوږه دي، خو که د عبدالقادر په هغو کې څه زیات خوږلت محسوسیږي

داخبره باید طبیعي وبولو، ځکه کړد خوشحال بابا او عبدالقادر په نثرونو کي که د هغه زمان له معیارونوسره برابر یوځه پرمختیایي نخښې ونه لیدل شي، نوبویه چې په ادبیاتوکښې دتحول له پروسې نه انکار وکړو.

(۳) **صدرخان خټک** : دخوشحال بابا داستان پرداز زوی چې دآدم خان درخانۍ او دلي شهو مثنوي گانې یې د پښتو داستاني ادب نه دویاړ شمله ده. دی دخون ومثنوي گانو ترڅنګه په تول برابرغزلونه اوقصاید لري، مخمسات یې هم لیدل شوي. منثور مستقل اثر یې تراوسه نه دی لیدل شوی، خو دده دځینو منظوماتو په ترڅ کې منثوری نوشتې هم شته. کله چې دخوشحال بابا په کورنۍ کې موږ پر پښتو نثرخبرې کوو، نوصدرخان هم نشو هیرولای.

دصدرخان خټک دزوکړې تاریخ دادبپوهانو دڅیړنو پر بناء (۱۰۶۵هـ ق) راوزي او په تاریخ مرصع کې یې نوم د۱۱۲٤هـ ق تروقایعو وروسته نشته، نوځکه یې تر دې نېټې وروسته د ژوند حالات ښکاره نه دی (٤٦). دی د ۱۱۲۰هـ ق په شاوخوا کې دتیرې فوجدار و. دده په لاندې دوو منظومو آثاروکې موږ ځینې متفرقې توټې کورو :

دده دآدم خان درخانۍ په مثنوي کې سربېره پردې چې عناوین یې په پښتو نثر دي، په ځینو ځایونو کې ددوو بحثونو ترمینځ یو داستان پورې مربوطې ځینې خبرې په پښتو نثر کښل شوې دي. لکه دا منثورې توټه:

« مناظره ددرخانۍ دآدم خان سره چې درخانۍ ترې امتحان دسوال وکړ. یعنې چې فضیلت دآدم زاد په سایر حیوانات په څۀ سبب دی. مدعاله دې سواله ددرخانۍ اګرچې ضمناً اصل کارو، اماظاهراً یې د آدم فضیلت دعلمیت وو یعنې چې دآدم فضیلت او علمیت به له دې

سوا په بل څه معلوم نه کړم او جواب باصواب مستدل له آدم خان او آفرین باد د درخانۍ په آدم خان چې داهسې یار مې له حضرت سنان بیا موند.» (٤٧)

ما د ۱۹۹۲ع کال په جولای کې د پېښور پوهنتون د پښتو دیپارتمنټ هغه وختنی مشر دوکتور محمد اعظم اعظم په بلنه د پښتو نثر پر تاریخي سوابقو په یو سیمینار کې یو اوږد لیکچر ورکړ . په دې لیکچر کې ما ویلي وو چې د آدم خان درخانۍ په داستان کې د پښتو عناوینو د موجودیت له امله مونږ صدرخان په پښتو نثر لیکونکیو کې شمېر حسابولی ، ځکه کېدای شي د اپښتو عناوین وروستیو نسخه پردازانو ورکړي وي ؟ خو کله چې ما د صدرخان خټک نظم کړې د پیغمبرانو د معجزاتو د مثنوي خطي نسخې وکتلی په یوه نسخې کې د پښتو د عناوینو تر څنګه پښتو منثوري ټوټې هم وې . دې ټوټو لږ څه متوجه کړم او دا مې نه نه ولوېدل چې نباید صدرخان پښتو نثر کښلی وي .
یو ځل بیا مې د آدم خان درخانۍ مثنوي وکتله هلته هم ځینې داسې منثورې ټوټې راتر سترګو شوې چې له عنوان نه سربېره یې توضیحي ارزښت درلود . د معجزاتو په نسخه کې ما د صدرخان خټک ځانګړې منثورې ټوټې څلورځایه په نخښه کړې . یوه نمونه یې دا ده :

« دوه تنه حضرت لره راغلل پوښتنه یې ځني وکړه چې ته وایې تر خلیل الله تر موسی کلیم الله تر عیسی روح الله بزرګ اعلایم . له موسی سره کلام ملک العلام بې واسطه کاوه . له تا سره هم چېرې پروردګار په خپله کلام کړی دی . حضرت عیسی مړي ژوندي کاوه نه اوله تا نه کار معلوم شوی نه دی . ته له دویه ځان بزرګ کوې اوس یوه معجزه مونږ ته وښیه ... » (٤٨)

دا منثوري ټوټې که څه هم د هجري نثر منثورو ټوټو زياتې دي،
خو پښتو نثر په رشد کې کومه ونډه نه لري او يوازې په دې مو
خبروي چې د خوشحال يوبل فرهنګيالي زوی صدر خوشحال هم پښتو
نثر ليکلی شوای.

## د پښتو نثر ليکنې رون سباوون

## افضل خان ختک او د دهٔ فرهنګي هڅې ٤ دخوشحال

د کورنۍ په غړيو کې افضل خان ختک هغه سړی دی چې د سردارۍ
او رياست د چارو ترڅنګه يې په ډېر اخلاص او مينه د خپلې مورنۍ
ژبې خدمت هم کړی دی .

د سردارۍ او مشرۍ له مصروفياتو سره سره د دهٔ خپله ژبه نه وه
هېره، ده خپله هم کار کاوه او نور يې هم مشغول چې پښتو ته کار وکړي.
افضل خان ختک د اشرف خان هجري زوی د خوشحال خان ختک لمسی
و . په فراقنامه کې يې له يادونې سړی وېلای شي چې افضل خان به په
۱۰۷۵ هق کال نوکری وي، ځکه خوشحال خان په فراقنامه کې دی
داسې ياد کړی دی :

هغه ملک واره بخل دی چې پيکې د ما افضل دی (٤٩)

او فراقنامه خوشحال خان په ۱۰۷۵ هق کال په رنتهبور کې بشپړه کړې ده
له دې برسېره ده د عيار دانش د ترجمې په مقدمه کې خپل عمر دېرش
کاله ښوولی دی. د دې کتاب په ترجمه ده په ۱۱۲۸ هق کال پيل کړی
دی . په دې حساب د ده زوکړه په ۱۰۷۵ هق کال سمه خېژي .

افضل خان د ځوانۍ له ابتداء د خپلې کورنۍ رياست، سردارۍ
او سياست په چارو کې محشور و . نيکهٔ يې خوشحال بابا دهٔ ته توجه

درلوده او د خپلې سردارۍ مسند يې ده ته په پام کې و. دده سرداري په رسمي ډول په ۱۱۰٤ هـ ق کال پیل شوې ده او تر ۱۱۵۳ هـ ق کال پورې ٤٩ کاله سردار او د خپل ریاست مشر و. (٥١)

دده د مرګ په کال کې هم اختلاف دی، ۱۱۵۳ هـ ق، ۱۱٦۱ هـ ق، ۱۱۸۳ هـ ق یا ۱۱۸۹ هـ ق کال دده د مرګ کلونه ښودل شوي دي.

اکاډمیسین پوهاند رشاد په خپله يوه ورووستۍ څېړنه کې چې د حیات افغاني د دریم ټوک په تعلیقاتو کې چاپ شوې ده، د افضل خان د مرګ تاریخ په باب ويلي دي: «ماته د افضل خان د مرګ تاريخ په ۱۱۵۳ هـ ق کال موجه ښکاري.» (٥٠)

ځينې دلایل شته چې د افضل خان مرګ په دې کال د نوټ جیه ور څرګندوي. د اروا ښاد استاد کامل مومند (۱۹۱۵-۱۹۸۱ع) د کتېنو پر اساس افضل خان د زيارت کاکا صاحب د احاطې لاندې ښخ دی (٥٢). ځکه چې مونږ د مخه وويل افضل خان له ځوانۍ نه د کورنۍ له سیاست او ریاست سره په ارتباط کې و، خصوصاً چې کله يې پلار اشرف خان هجري په (۱۰۹۲ هـ ق) بندي شو له خانۍ سردارۍ سره يې د ارتباطات نور هم زیات شول او په داسې مهال کې دی میدان ته راووت چې د خټکو سردارۍ دیلار (خوشحال) او زامنو ورونو او وربرونو ترمینځ د مخالفتونو ښکار شوی و.

د دغو مخالفتونو د علللو څېړل او په دې برخه کې اوږد او هراړخیز بحث د دې ځای کار نه دی. د پښتنو د سیاسي او اجتماعي تاریخ لیکوونکي او یا لږ تر لږه ادبي مؤرخین به دا پېښې څېړي.

د ریاست، سردارۍ او کورنیو اختلافاتو په سلسله کې ځينې کسان

د ده پر سیاسي سیرت ځیني نیوکې لري، د ده دخیل تاریخ مرصع په استناد ځیني شواهد وړاندې کوي چې د ده دخپلې سردارۍ د سالو لپاره دخپلو ترونو، ورونو او تره نامنو په نیولو، بندي کولو او حتی وژلو صرفه نه وه کړې. د پښتو قادرالکلام شاعر عبدالقادرخان خټک او شهبازخان د قید په باب ده خپله کښلي دي: «آخر کار په هسې حد ورسید چې له صلاح په فساد راغی، له ځان حیران، پرېشان متفکرشوم مصلحت مې تر وهلو، شړلو، وژلو په قید کې ولید. په سن زرسل پنځه ویشت میاشت دجمادی الاول عبدالقادر او شهباز دفرزندانو سره او عبدالله او محمد مې دواړه قید کړه ...» (تاریخ مرصع ۴۰۸ مخ).

د ختیځ پوهانو او پښتنو په ځینو څېړنو کې داخبره راغلې ده چې عبدالقادرخان، افضل خان وژلی دی، (۵۳) . اما د دې ترڅنګه افضل خان خټک مدبر، دفکر خاوند او له فرهنګ سره علاقمند، عالم او دانشمند سړی و. د علمیت اندازه یې دآثارو له مطالعې ښکارې ده چې د تاریخ مرصع په مقدمه کې درياست په باب خپل نظریات لیکلي دي دا دول نظریات او د ده په همدې تاریخ مرصع او نورو آثارو کې څه داسې ځیني نورې یادونې د ده څېره د یو فرهنګ دوست، اجتماعي مفکر او درياست په امورو آګاه مشر په توګه څرګندوي. ده د حکومت او ریاست هدف او غایه خلکو ته په خدمت کې بلتله. ده ویلي دي: د خلکو خدمت لوی خدمت دی. خلک راضي خدای راضي، خدای راضي خلک راضي.

دغې مشرۍ او ریاست تصور او اساسات چې خوشحال بابا په دستارنامه کې وړاندې کړي وو داخبرز با توي چې خوشحال د

د خپل قوم (پښتنو) له پاره د دوی خپل ځانګړی ریاست هیله درلوده که څه هم دا هیله سرته ونه رسېده. د افضل خان د تاریخ مرصع د مقدمې د ځينو بيانونو په ژبانه د ریاست له بیان سره په پیوند کې وشمېري، نو پو هېدای شي چې افضل خان هم د خپل نیکه مفکوره پالله.

د تاریخ مرصع په مقدمه کې د لودهیانو د پادشاهۍ د سقوط پر مساله خبرې کول، خپله دا ښيي چې له ختکو پښتنو مشرانو سره د پښتنو د پخوانۍ شان او شوکت مینه وه او د تېر پرم بیا احیاء مفکوره ورسره وه. د تاریخ مرصع په مقدمه کې د لودهیانو د سقوط خبره داسې لیکلي:

« د پښتنو بادشاهي چې په سبب سره یې څو کاله وکړه. چې مدد کار یې بې توقف وو خپله توره یې برهم کړه بیا نه یې له خپلو لاسه راوستل توره یې تلف کړه، په دا امید چې توره د مغل امرایې دموږ چې توره د مغل قایمه نه وه د دوی امرایي قایمه وه چې توره د مغل قایمه شو فکر یې وکړ چې دې قوم چې خپله توره برهم کړه د موږ سره به څه وفا وکا لایق دا امرایې نه دي په وار وار یې امرایي ځني واخیسته اوس یې کا څه. بها نشته ... » (تاریخ مرصع، ۱۱مخ)

دا خبرې افضل خان پښتنو ته د عبرت لپاره کښلي چې خپلو پخوانیو نقایصو ته متوجه شي او دده په اصطلاح خپله توره برهم نه کړي.

د افضل خان د کار، دانش، لیاقت، فهم او علمیت تصدیق دده د معاصرینو په آثارو کې هم موندل کېږي. دده ترهٔ ګوهرخان خټک د قلب السیر په مقدمه کې د افضل خان په باب کښلي دي:

« افضل خان نوی دا شرف خان مرحوم ... دیلار نیکه پرځای قایم مقام دی. سنه سرداری لري، نظر یې په نیکنامه په آبا دانه دی

په دا قحط الرجال کې دی غنیمت دی » (قلب السیر خطی ۸ مخ)

عبدالحلیم ویلي دي :

چې عقل کل لري، علم کامل لري دولت له بخت سره شامل لري
خان د خانانو، میر د میرانو محمد افضل د خدای دې تل لري (۵۴)

یو معاصر مؤرخ چې د افضل خان له آثارو څخه یې یوازې تاریخ مرصع کتلی دی، نو یې ویلي دی: د تاریخ مرصع له مطالعې سړي ته ښکاري چې افضل خان یو عالم او د نظر خاوند سیاست مدار و، چې د خپل عصر له نورو مونږ سره سم په سیاسي، اداري او اخلاقي علومو پوهېد او په نورو ژبو او مسایلو کې د پوره مطالعې خاوند و. (۵۵)

د افضل خان خټک د سیرت او فضل و کمال په باب له دې اجمالي بحث نه وروسته اوس د دې وار رارسي چې دا وښیو چې د ده خیلې ژبې ته څه کړي دي؟ دې پوښتنې ته د ځواب لپاره مونږ اړ یو چې لومړی د ده خپل آثار وښیو او بیا یې هغو آثارو ته هم وکړو چې د ده په غوښتنه نورو په پښتو کښلي دي.

**د افضل خان خپل آثار:** د افضل خان په خپلو آثارو کې د زیات اهمیت ور کتاب د ده تاریخ مرصع دی، چې له مختلفو اړخونو د مطالعې زمینې لري. تاریخ مرصع افضل خان د ۱۱۲۳-۱۱۳۶ هـ ق کلونو ترمنځ بشپړ کړی دی او د دې کتاب د تألیف سبب یې داسې ښوولی دی: « مدت متمادي وشه چې په خاطر فاطر به رسېدل چې یو کتاب له فارسي ژبې په پښتو ترجمه کړم، چې په پښتنو یې لوستل اسان وي، فکر مې وکړ چې هیڅ تواریخ د دې قوم په ژبه نشته ... » (تاریخ مرصع ۱۴ مخ)

له دې بیانه ښکاري چې افضل خان خپلو خلکو ته د دوی په ژبه

دیو تاریخ د ترجمې احساس کړی و. مگر دا یوه خبره ده چې هیڅ تاریخ ددې قوم په ژبه نشته، یوځلې د تأمل او بحث وړ خبره ده. ځکه د تواریخ افاغنه مسودات خو په ۱۰۳۱-۱۰۳۲ هـ ق کلونو کې لیکل شوی و. بنا پر دې ته به نور سپړلی او دې به ترې خبر. ددې ترڅنګه دا خبره هېرول نه دي پکار چې تواریخ افاغنه د پښتنو یو جامع او عمومي تاریخ نه دی.

تاریخ مرصع یوه مقدمه، درې بابه او اووه دفتره لري. اول باب ذکر د مهتر یعقوب ... دوهم باب په بیان د احوال د ملک طالوت او راتلل ددې قوم دغور وکوهستان ته، دریم باب د خالد بن ولید، دحضرت عمر(رض) دخلافت تر پایه.

اول دفتر، احوال د سلطان بهلول، سلطان سکندر لودی او سلطان ابراهیم لودی، دوهم دفتر د سوري پاچهانو احوال، دریم دفتر د لویو امراوو بیان، څلورم دفتر د کابل د صوبې سرگذشت، پنځم دفتر دغوري او خښي قبایلو د مهاجرت بیان، شپږم دفتر د خټکو سرگذشت اووم دفتر د درویشانو احوال، خوارق او عادات.

د تاریخ مرصع د بیانونو فهرست افضل خان په خپله مقدمه کې هسې کړې چې مایې خلاصه لوړه راوړه، خو د کتاب په متن کې د درویشانو له احوالو وروسته د لاندې عنوان هم لیدل کېږي: «ذکر په بیان د ختم د کتاب او بیان د بعضې انساب» (تاریخ مرصع، ۶۰۶مخ)

د تاریخ مرصع په متن کې ددې بحث د موجودیت په اساس اوس مونږ ویلای شو چې تاریخ مرصع یوه مقدمه، درې بابه، اووه دفتره او یوه خاتمه لري.

د تاریخ مرصع د دې لوړ جوړښت او د تألیف د څرګنوالي په باب د افضل خان خټک خبرې دادي : « د دا تواریخ مې د پښتنو د باد شاهانو له فارسۍ نه چې په وخت د جهانګیر بادشاه د خانجهان لودي په حکم چې د فرزند خان په خطاب سرفراز وه ، خواجه نعمت الله هروي کړی وه ترجمه کړ او هرچه پس له غایت د خان جهان لودي لوی لوی امراکان د پښتنو تېر شوی دی او سرګذشت د کابل د صوبې او حقیقت د خیل قبایل او اولیاء الله چې پس له هغه یې تیغ د ولایت په میدان د هدایت بلند کړی دی ور سره مې پیوند او ملحق کړ» (تاریخ مرصع ۴ مخ)

له دې بیانه دا یوه خبره واضح شوه چې د تاریخ مرصع یوه برخه د مخزن افغاني پښتو ترجمه ده ، خو د تاریخ مرصع تألیف او ترجمې د برخو د څرګندونې له پاره چې د دې کتاب د محتویاتو کوم تصنیف اروا ښاد استاد کامل وړاندې کړی دی ، هغه له لوستونکو سره دېره مرسته کوي .

استاد کامل دا کتاب په دریو برخو ویشلی دی :

اوله برخه یې د خواجه نعمت الله هروی د مخزن افغاني پښتو ترجمه ده . دوهمه برخه د ځینو پښتنو امراوو له احوالو پیل کېږي او د خوشحال بابا تر وفاته رسي ، دریمه برخه د پښتنو اولیاوو احوال او د پښتنو ځینې انساب دي ، چې ځینې برخې یې د مخزن افغاني ترجمه او ځینې برخې یې د افضل خان خپل لیک دی . (۵۵)

د پورتني تبویب له مخې د تاریخ مرصع دوهمه برخه د پښتنو د تاریخ د بیلابېلو اړخونو د څرګندولو له پلوه ډېره ارزښتمنه ده ، په دې برخه کې د خټکو په شمول د ځینو قبایلو د انسابو او مهاجرتونو

رو ښانيانو، د خوشحال بابا او ده د کورنۍ، مير ويس نيکه د احوالو او ځينو نورو واقعاتو او مسايلو په اړه بيانونه لري، چې ارزښتمندي يې د تاريخ مرصع مدون او محشي اروا ښاد استاد کامل هم ښودلې ده او دا رمستتر مستشرق هم د تاريخ مرصع د دې برخې د ارزښت په باب خبرې لري ( د پښتو نخوا شعر هار و بهار مقدمه ۱۲-۱۳ مخونه)

شکه چې څرګنده ده د تاريخ مرصع يوه برخه د مخزن افغاني ترجمه ده ، يوه بله برخه يې د خپل نيکه خوشحال خان له بياض نه کټ مټ را اخيستې ده ، چې ما د دې کتاب د خوشحال خان خټک په بحث کې دا اقتباسات د اروا ښاد عقاب خټک په حواله (۱۲۰) ځايه ښودلي دی .

د خوشحال بابا له بياضه سربېره ده د ځينو برخو په ليکلو کې د اخوند درويزه (رح) له تذکرة الابرار والاشرار او مخزن الاسلام ، طبقات اکبری ( تاريخ مرصع ، ۲۴۲ مخ) نه هم استفاده کړې او ځينې نور خپل ليدلي کتلي او اورېدلي يې پکې بيان کړي دي .

د اولياوو په بحث کې د مخزن افغاني د اولياوو د بحث له ترجمې پرسېره يې د ځ دکومو اولياوو احوال کښلي دی ، په هغوکې يې ځينې د لو خان د بياض په حواله معرفي کړي ( تاريخ مرصع ۵۶ مخ ) او ځينې يې هم خپله کښلي دي د شيخ آدم بنوړي د احوالو په کښلو کې د نوموړي شيخ له تاليف نکات الاسرار نه هم استفاده کړې ده (تاريخ مرصع ، ۵۵۱ مخ ) .

د تاريخ مرصع په متن کې مؤلف د استشهاد لپاره کافي پښتو او دري اشعار هم راوړي دی . په تاريخ مرصع کې د را غليو دري اشعارو مآخذ ز موږ استاد کاندید اکاډميسين پوهاند مير حسين شاه په يوه مقاله کې ښودلي دی (۵۷) په تاريخ مرصع کې د خوشحال خان او

افضل خان له دري اشعارو سربېره د نظامي ، سعدي ، عمادی شهریار ، سلطان سکندر لودی ، جمال الدین ، ابن یمین ، کنبو بن جمالی ، صایب ، مولوي جلال الدین محمد بلخي ، سنایي غزنوي ، اسدي ، فردوسي ، کوهر خان ختک ، اشرف خان ختک ، امیرخسرو او نورو اشعار اوبیتونه راغلي دي.

د پښتو اشعارو مآخذ یې په هنوال دوکتور زیون سیووله دی[58]

په پښتو اشعارو کې د خوشحال ، هجري ، عجب خان ، مرزا خان روښاني ، افضل خان او نورو بیتونه او اشعار شامل دي .

که څه هم تاریخ مرصع په دوولسم قرن کې ترجمه شوی او لیکل شوی دی ، خو د لیکنې روش یې داوسنیو څېړونکیو او نقادانو په سترګه ګرانه ښکاري . کاندید الاکادیمیسین محمد صدیق روهي چې د اکتاب د میتود د پوهنې د ارزښت په رڼا کې کتلی دی ، نو یې خصوصیات په دې ډول بیان کړي دي :

« د تاریخ مرصع د لیکنې د میتود یو مهم خصوصیت دا دی چې تاریخي پېښې په یوه قرینه کې بیانوي . د هرې واقعې پس منظر او د پېښېدو علتونه پلټي . په دې اساس د ده په لیکنه کې که څه هم په ابتدایي بڼه د تاریخ فلسفه پرته ده ، ترکومه ځایه چې ممکنه ده افضل خان عیني او ذهني مکتوبونه راښیي . د ده په لیکنه کې د خلکو نقش او د واقعاتو په مسیر کې د عامه ذهنیت اغېزه خاص اهمیت لري ... »[59]

د تاریخ مرصع د نثر نمونې د دې بحث په بېلا بېلو برخو کې تاسې وکتلې دا نثر د خوشحال بابا د سبک په پیروۍ لیکل شوی قوي نثر دی ، خو د جملو جوړښتونه یې په ځینو برخو کې د نورو ژبو اغېز منې .

د افضل خان ختک بل منثور کتاب د کلیله ودمنه پښتو ترجمه ده

چې د ابو الفضل (۹۵۸ ـ ۱۰۱۱ هـق) له عیار دانش نه یې د علمخانه دانش په نامه پښتو ترجمه کړې ده.

د پښتو نثر د ځېړنو په ځینو کتابونو کې راغلي چې د افضل خان خټک علمخانه دانش د حسین واعظ کاشفي (۹۱۰ هـق مړ) د انوار سهیلي پښتو ترجمه ده. د اخبرې د پښتو نثر تاریخ (۳۶۱ مخ) روهي ادب (۲۵۵ مخ) او د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه (۲۲۷ مخ) کې راغلې دي.

دا نظریه زما په عقیده سمه نه ده، که څه هم د عیار دانش، انوار سهیلي، کلیله و دمنه او نورو منشاء یوه ده، خو د افضل خان علمخانه دانش د ملا حسین له انوار سهیلي نه، بلکې د ابو الفضل له عیار دانش نه ترجمه شوې ده. د دې اثر اصل او منشاء د پنچا تنترا نومې حکایتي اثر دی چې لومړی په سنسکریت کښل شوی او بیا له سنسکریت نه د نړۍ په نورو ژبو اوښتی دی، پښتو هم یوه له هغو ژبو څخه ده چې د دې کتاب د ځینو روایاتو منظومې ترجمې پکې شته. خو د افضل خان ترجمه په پښتو کې د دې کتاب تر ټولو معلومه قدیمه ترجمه ده.

بناغلي لیکوال حبیب الله رفیع د دبیر دانش په مقدمه کې د پنچا تنترا په تاریخ او ترجمو څورا اوږده او مختمنه څېړنه کړې ده، د دې څېړنې مطابق د پنچا تنترا کتاب پنځه څپرکي لري او په هر فصل کې یې یوه ځانګړې موضوع بیان شوې ده.

لومړی تنترا د دوستانو بیلتون سرلیک لري او اصلي نقشونه یې د دوو شغالانو دي چې د کلیله او دمنه په نامه مشهور دي.

د کتاب دوهم فصل یا دوهمه «تنتره» د دوستانو ترلاسه کول»

سرلیک لري چې د کوترې، کارگه، موږک، باښې او هوسۍ د دوستۍ پر محور څرخي.

د دریمه تنترا چې دریم فصل دی د کونگانو او کارگانو دښمنۍ نومیږي. څلورمه تنترا د ترلاسه شویو خوښیو له لاسه ورکول تر سرلیک لاندې تنظیم شوې ده، او پنځمه تنترا د ناسنجول شویو چارو زیانونه شمېري. (٦٠)

څرنګه چې تاسې د مخه ولوستل چې د دې حکایاتو اصل په پنځو څپرکو کې ترتیب شوی دی، مگر وروستیو رعایاتو او ترجمو کې د فصلونو او بابونو شمېر تر پېړوند سره لري. د مثال په ډول ارواښاد سر محقق دوست شینواري (۳۷۲ هش مه) چې د افضل خان علمخانهٔ دانش پر کومه خطي نسخه تحقیق کړې دی، د دې کتاب د بابونو شمېر (١٦) بشوولی دی. (٦١)

زموږ د استاد پوهاند رشاد د څېړنو له مخې عیار دانش پر ترجمه افضل خان د ١١٢٨ هـ ق کال د صفرې تر لومړۍ ورځې وروسته پیل کړې دی او د ١١٢٩ هـ ق کال د محرم د میاشتې په ١٣ مه یې بشپړه کړې دی. (د گلشن روه مقدمه، ٣٩-٤٠ مخونه) ما هم په خپلو ډېرو لیکنو کې د دا سنې د غسې اخیستې دي. خو ارواښاد دوست شینواري په خپله مقاله (پښتو کلیله و دمنه) کې د کلیله و دمنه له خاتمې څخه یو عبارت دا سې را نقل کړی دی:

«اصل دکتاب د کلیله او دمنه تمام شو، خاتمه یې په نظر ثاني په دیارلسم د محرم سن هجري یک هزار و یک صد و بیست و هشت، عجب کتاب پښتو ته یا دکار پاتې شه، البته چې خلقي به له فایدې

نه وي ، که څوک يې لولي که فايده څنې بيا مومي يقين چې په دعا يا دويې چې محروم له شکرګذارۍ نه شي . دکتاب نوم ی علمخانه دانش کيښې .»

څنګه چې په لوړ عبارت کې دکتاب دخاتمې سند په حروفو راغلی او دهندسي اعدادو دتېروتو خطو پکې نشته ، نوځکه دا بايد ووايو چې افضلخان داکتاب په همدې ۱۱۲۸ هق کال بشپړ کړی دی .

ښاغلي رفيع هم ددبير دانش په مقدمه (۴۹مخ) کې داسنه ۱۱۲۸هق ښوولې ده او داختتاميه قطعې دودوستی مسرې له تاريخي مادې نه چې يې کوم کال استخراج کړی دی، هغه هم ۱۱۲۸هق دی .

ددی کتاب مقدمه او خاتمه په خپله افضلخان ختک کښلې دی او متن يې ترجمه کړی دی . مقدمه يې داسې پيل کړې ده :

« داکتاب چې په نظر دما راغی مدت شوی و ، چې اراده مې دنوي کتاب دوضع په پښتو ژبه په خاطر کرځېده ، چې علم اخلاق پکې بيان کړم . پنځه ويشت کاله حکمراني چې په دا خپل قوم باندې وشوه ، په داسن چې عمر عزيز په دري پنځوس کاله راغی ، په داحکمرانۍ کې نيک وبد تجربې ددورنګار لکه عادت ددورنګار غدار دی له خيلو پرديو وليد شوې په خاطر راورسېدل ... له دې تجاربو دروستی هم مګر بهره مند شي يوکتاب دحکمت يادګار پرېږدم ، لکه خان مرحوم ملک خوشحال خان چې نيکه دما دی دستارنامه څنې يادګار پاتې شوې ده .»

موږ پوهېږو ، چې دا فضلخان ددووکتابونو تاريخ مرصع څينې برخې او علمخانه دانش له مقدمې او خاتمې پرته نورې ټولې

برخې یې له دري نه ترجمه شوې دي . اوس چې د دغو دوو کتابونو بحث ختم و ، نو بویه چې د افضل خان پر ترجمو هم څه وویل شي .

ما په خپله یوه مقاله (فرزانه مردی از دودمان فضل و دانش خوشحال خان ) کې (٦٢) د تاریخ مرصع د ترجمه شویو برخو یوه نمونه او همدا راز د عیار دانش یوه حکایت له پښتو ترجمې سره مقایسه کړې وه او ماته دا ثابته شوه چې افضل خان د مخزن افغاني مطالب په ډېر تلخیص ترجمه کړي دي او د عیار دانش په ترجمه کې یې هم د ترجمې شیوه ښکلې او ښه ده .

اوس به زه د عیار دانش د دري متن یو پارګراف له پښتو ترجمې سره د لوستونکو مخې ته کښېږدم :

« برهمن گفت آورده اند که در زمین قنوج گوشه نشینی پای خود را از هرزه گردی فراهم آورده ، به یاد الهی مشغول بودی و هرچه از روی خانهٔ غیب برای او آمدی به مسافران و درویشان دادی . » (٦٣)

ترجمه : « راوړي دي چې په ځمکه د قنوج یوه ګوښه نشین خپلې پښې د هرزه ګردۍ ټولې کړې او په کنج د قناعت کې په یاد الهی مشغول وه هرچه له غیبه رزق د ده پیش شه و مسافرانو او درویشانو ته یې ورکول ... » (٦٤)

که څېرې مونږ د افضل خان د ترجمې د دغه لوړ پارګراف وکړو له لیکوالنثر و نو سره یې توپیر نه لري ، ترجمه یې بده نه ده ، روانې ښکې لیدل کېږي .

له دغو دوو کتابونو : تاریخ مرصع او علمخانه دانش پرته

(چي نسبت يې افضل‌خان ته ثابت دی) حيني نور منثور آثار هم شته چې افضل خان ته يې د نسبت دعوه کېږي ، په دغو دوو کتابونو کې يوه پښتو منثوره بازنامه او بل هم عرفاني تفسير دی .

الف- بازنامه : د پېښور پښتو اکيډيمۍ په خطي مجموعه کې په ۱۰۹ نومره يوه منثوره بازنامه موجوده ده ، چې مرفود کاتب په ۱۲۹۳ق کال کښلې ده .

په دې نسخه کې ظاهراً دليکوال نوم نشته ، خو ځای داستشهاد لپاره دخوشال بابا د پښتو بازنامې بيتونه پکې راغلي دي .

ددې بازنامې په باب لومړنی يادښت په ۱۹۸۰ع کال دپښتو اکيډيمۍ په پښتو مجله خوشحال نمبر کې خپور شو .(۶۵) دا يادښت ښاغلي دوکتور راج وليشا خټک کښلی و ، د اکيډيمۍ په خطي مجموعه کې دخوشحال بابا د نورو آثار دنسخو دمعرفې په ترڅ کې يې دا منثوره بازنامه هم لن لن ښوولې وه او دخوشحال بابا يې ګڼلې وه .

کله چې د پښتو مجلې داګڼه کابل ته راورسېده د دې منثورې بازنامې په باب ترې ما درې ځايه استفاده وکړه : دخوشحال د فراقنامې مقدمه (۶۶) دخوشحال د منظومې پښتو بازنامې مقدمه (۶۷) او دخوشحال د منثورې دري بازنامې په مقدمه (۶۸) کې . څنګه چې اصلي متن په کابل کې ميسر نه و ، نوځکه مو د پښتو اکيډيمۍ د مجلې په استناد دا بازنامه دخوشحال بلله .

د ۱۹۹۲ع کال په مئ کې چې نه پېښور ته راغلم ، نو مې د پښتو اکيډيمۍ په خطي مجموعه کې دا بازنامه وکتله ، د مقدماتي بحثو سره له مطالعې څخه راښکاره چې بازنامه دخوشحال خان نه ده . ځکه په

دي بازنامه کې یو ځای راغلي دي: «لکه لوی خان یې تعریف کړی دی په خپله نظم بازنامه کې» په همدې اساس کله چې ما د همانغه کال په جولای کې د پېښور پوهنتون پښتو دېپارټمنټ په بلنه د باړه ګلی په سیمینار کې دېښتو رښتو د پېژندنیا لې سیر په باب وینا کوله، نو مې هلته وویل چې دا بازنامه د خوشحال نه ده، خو دا چې د چا ده، دا ځواب هم را سره نه و، اما دومره پوهېدم چې د خوشحال د کورنۍ کوم فرد به لیکلې وي.

د یادونې وړ ده چې همدغه منثوره بازنامه اروا ښاد رضا همداني په اردو ژبه ژباړلې او په ۱۹۸۵ع کال د اکیډیمۍ له خوا د خوشحال خان په نامه چاپ شوې ده.

د دې منثورې بازنامې په باب زما دغه کار خیال و، بو ځکه مې لږ لږ پلټنې په دې باب کولې. د پلټنو په لړ کې مې د پېښور د پښتو اکیډیمۍ هغه فهرست هم وکوت چې ښاغلي لیکوال حبیب الله رفیع جوړ کړی دی. په دې فهرست کې دا بازنامه د افضل خان بلل شوې وه. ما لا خپلې پلټنې جاري ساتلې، بیا خبر شوم چې ښاغلي همیش خلیل پر دې بازنامه کار کړی دی او ښايي دده څېړنې ژر چاپ شي. ما چې دا نېږی واورېد نو مې دا کار پرېښود.

دا منثوره بازنامه ښاغلي لیکوال همیش خلیل په ۱۹۹۴ع کال د ادارهٔ علم وفن پاکستان له خوا چاپ کړه، د ده یوه نهه مخیزه مقدمه هم ورسره مله ده، دوی دا بازنامه دا فضل خان بللې ده. او افضل خان ته یې د دې بازنامې په نسبت کې یوازینی دلیل دا وړاندې کړی چې د بازنامې په متن کې چې د شهزاد د رفیع القدر په ارتباط کومې خبرې

راغلي دي، دا خبره د تاريخ مرصع په متن کې هم تائيدېږي.

د سباغلي همېش خليل د دې دليل ترڅنګه د دې بازنامې له مطالعې ماته ځيني دا سې قراين او متني شواهد هم ترلاسه شول چې دا افضل خان ختک له نورو آثار وسره شباهتونه ښيي، لکه: افضل خان د علم خانه دانش په مقدمه کې ليکلي دي: «په داسې چې عمر عزيز په دري پنځوس کاله راغی» دبازنامې په مقدمه کې هم راغلي دي: «اوس چې پس دسال په څهل وششم راغلم» له دې دوو اقتباسونو نه غرض دادی چې مؤلف دخپلو آثارو په مقدمه کې خپل عمر ښيي .بل«خوشحال خان ته د لوی خان» دلقب استعمال په منثوره بازنامه کې هم راغلی دی، په تاريخ مرصع کې هم يوځای نيم موندل کېږي.

د دغو قراينو له شتوالي سره سره زه د احتياط په قيد دامنثوره بازنامه د افضل خان بولم. د نورو اسنادو تر پيدا کېدو و پورې يې د ده په آثارو کې شمېرم. که دا منثوره بازنامه دا فضل خان وي، لکه چې اوسني شواهد پر دې خبره ګواهي لي، نو بايد د دې بازنامې دتأليف کال ۱۱۲۱ هق کال وبولو، ځکه دا فضل خان د زوکړې کال ۱۰۷۵ هـق دی، دا اثر يې دعمر په شپږ څلوېښتم کال ليکلی دی.

دا بازنامه کوچنۍ ده، که څه هم بابونه يې دياړلس دي، خو متن يې د چاپي نسخې په ۷۱ مخونو کې ځای شوی دی.

د دې بازنامې اول باب چې اووه فصلونه لري د بازونو رنګ او ترکيب ښيي؛ دوهم باب د مرغانو د ښکارولو او جلاب خبرې لري،

دریم باب د جُرې بیان کوي، څلورم باب د باښې، پنځم باب د شکرې او شپږم باب د بیرې معرفې ته وقف دی. داووم باب عنوان یې دا دی: «په بیان د انواع د سیاه چشم، مشتمل په اوو فصل» په دې اوو فصلونو کې د شاهین انواع او د کریز او ښکار په مسایلو یې خبرې کړې دي. اتم باب یې د بحري بیان لري. نهم باب درې فصله لري چې د مرغ شکار خبرې یې پکې راوړې دي. لسم باب د لګړ، یوولسم باب د تُرمتي بیانونه لري، دولسم باب د قنبیله ملاط چرګ ښیي او دیارلسم باب چې شپږ فصله دی، د بازونو د ناروغیو او رنځونو ښوروالو او د علاج طریقو او نسخو ته وقف دی.

د دې کتاب نثر روان او ښې خونده وردی او د خټکو د کورنۍ د لیکوالو د نثرونو ځانګړنې پکې لیدل کېږي، یوه نمونه یې دا ده:

«د بازونو د ساتلو د پاره هوا د کابل، د جلال آباد او د پېښور د جانورو د پاره نهایت ژبوند ده. خصوصاً پېښور په اوړي نهایت ګرم دی، په ژمي نهایت سوړه دی» (٦٩)

که څه هم په پښتو نظم کې موږ د خوشحال بابا منظومه بازنامه درلوده، خو په نثر کې د غني یو کتاب نمونه موږ ته نه وه ښکاره، دا تشه په دې بازنامه ډکه شوه، خو تر دې کتاب وروسته هم چا د دغې کتاب د لیکلو تکل نه دی کړی او په څېلو کې په پښتو دا ځانګړی امتیازي کتاب دی.

ب- عرفاني تفسیر: هانري جارج راورټي د خپل کتابي پښتو ګرامر د دوهم چاپ په مقدمه ۲۹ مخ کې کښلي دي چې افضل خان په پښتو د قرآن تفسیر هم کښلی دی.

په ۱۳۵۵ هـ ش کال سناغلي رفیع او ما د پښتو خطي نسخو د لټون په سلسله کې د قرآن عظیم دیو پښتو تفسیر یوه نیمګړې نسخه وموندله، نسخه د خټکو په لیکدود ده، د راوړلو دا روایت هم موجود و، نو ځکه ښاغلي لیکوال رفیع صاحب دا نسخه لومړی ځل په ۱۳۵۵ هـ ش کال د نړۍ جریدې په ۳۸ ګڼه کې د عرفاني تفسیر په نامه معرفي کړه او د افضل خان یې وبلله. په ۱۳۵٦ هـ ش کال چې ما د فرهنګ لومړی ټوک کښل، نو د راوړلو د کښلو او همدې مقالې په استناد د افضل خان په آثارو کې مې د پښتو تفسیر یادونه هم وکړه. (فرهنګ زبان وادبیات پښتو ٤١٨)

مون دوارو دا نسخه په ۱۳۵۷ هـ ش کال د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ته ورکړه او بیا د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابخانې ته ولېږل شوه.

د مقالې او فرهنګ تر نشر خلور – پنځه کاله وروسته اروا ښاد سرمحقق دوست شینواري دا نسخه وکتله او وڅېړله. هغه د خپلې څېړنې نتایج د کابل مجلې د ۱۳٦٠ هـ ش کال په دریمه ګڼه (۲۵–۳٤ مخونو) کې خپاره کړل او د خپلو د غو څېړنو له مخې یې وویل چې دا تفسیر د افضل خان خټک نه دی.

اما ښاغلي لیکوال حبیب الله رفیع په خپله یوه بله مقاله کې چې یې د عرفاني تفسیر تر سرلیک لاندې په سپیدې نومې مجله (۷،۱) کې خپره کړې ده یو ځل بیا د خپلې هغې پخوانۍ وینا – چې یې په ۱۳۵۵ هـ ش کال کړې وه – پخلی کړی دی او بیا یې ویلي دي چې دا تفسیر د افضل خان خټک دی.

د تفسیر تمهیدي برخې او وروستی برخې نشته، نو ځکه د مفسر یا مترجم نوم پکې نه معلومېږي. کوم دلایل چې ښاغلیو رفیع او سرمحقق دوست

مشينواري وړاندې کړي، په خپل ځای ارزښت لري، خو زما په پوهه که څېړې مونږ ضرور غواړو چې داخبره ثابته کړو چې دا تفسيردچا دی، يو خو بايد د بلې نسخې لټون وکړو او يا يې د پيدا ښت انتظار وباسو او يا هم ددغو دوو ښاغليو څېړونکيو دلايلو ته په پاملرنې د تفسير شريف موجوده نسخه بيا و پلټو خو دمتني قراينو او شواهدو په استناد د افضل خان دنورو آثارو سره وکتل شي، نو بويه چې په ښې ډول حقيقت نه نږدې نتيجه ترې تر لاسه شي.

زما عقيده داده چې که دا تفسير مبارک د هرچا وي وي دې.

خپله متن يې ارزښت لري، کاشکې بشپړه نسخه يې زمونږ په واک وای. دغه موجوده نسخه چې ٤٧٦ پاڼې (٩٥٢ مخه) لري، د دې تفسيرلومړنې نيمايي برخه تر مونږ ه رارسوې، خو د دې برخې د سرخو پاڼې يې هم لوېدلي او د سورهٔ فاتحه د څو وروستيو آيتونو تفسير پکې نشته.

(سپيدې مجله ٤/ ٤ مخ) . د ښاغلي ليکوال حبيب الله رفيع د برداشت له مخې چې دا تفسير شريف له کوم دري تفسير نه په پښتو ژباړل شوی دی او تاليف نه دی. دهٔ زياته کړې ده: «... څنګه چې دا تفسير يو عرفاني تفسير دی او عرفاني نکات او تشريحات لري. همدا راز کښې شمېر عارفانه او لاړ ښود شعرونه له عربي او دري نه پکې راغلي دي او په سوونو بيتونه او قطعې په پښتو ترې را ژباړل شوي دي ...» (سپيدې ٤/ ١٠ مخ)

د دې تفسير د نثر يوه نمونه داده:

« راوړي دی چې په صباح د دې شپې قصه د معراج تقرير بيان وفرمايل، مؤمنانو تصديق ظاهر کې او کافرانو طلب د دورې

عظیم با هرکې نښاني د بیت المقدس وپو سنبتېد او هغه مسجد وړاندې د د ه په نظر کښې مشتمل شه له هر څه چې به یې طلب کول له نښانو به یې دهغو خبر ورکړه».

دا نثر که څه هم د خوشال خان د سبک ځېنې کړه ، وړه لري ، خو هغه روانې او شگفتگي چې د دې سبک په نورو نثرو نو کې لیدل کېږي په دې نثر کې نشته ، د ترجمې رنگ یکې ډېر ښکاره دی او د دې سبک د ترجمو چې کوم نثرونه دي، هغه هم په نسبي ډول روانې لري، ما د دې مبارک کتاب د ترجمې نثر په هغه پایه کې روان نه دی ، یا دا چې زه داسې فکر کوم ؟

## دافضل خان په تشویق رامینځ ته شوی نور نثرونه :

په تیرو بحثونو کې دافضل خان خټک له آثار وسره اشنا شواو دا راته ښکاره شوه چې د عند پښتانه مشر له خپلو ریاستي کارونو ، کورنیو شخړو او نورو نا خوالو سره سره خپلې ژبې او فرهنگ ته څومره کار کړی دی؟ وروسته به موږ ته ترکنده شي چې افضل خان د خپلو کارونو ترڅنگه څومره نور خلک تشویق کړي دي چې خپلې ژبې اوفرهنگ ته کار وکړي ؟ اوس به زه دهغو کارونو جاج واخلم چې د افضل خان خټک په غوښتنه نورو ته سره کړي دي :

(۱) گوهرخان خټک او ددهٔ قلب السیر: گوهرخان خټک د خوشحال خان خټک زوی دی، ما د فراقنامې په تعلیقاتو کې کښلي دي چې د زوکړې او مرګ نېټې یې نه دي څرګندې (یوشاوېښتم مخ) د زوکړې د تاریخ په باب یې زما لوړ به خبره سمه نه ده، ځکه چې د تاریخ مرصع په ۲۵۹ کې د ګوهرخان د زوکړې تاریخ د خوشحال بابا په یو درې بیتي کې راوړل شوی دی، چې ارواښاد استاد کامل تورې د دې کتاب په نوښتونو کې ۱۰۷۰ هـ ق کال استخراج کړی دی. (تاریخ مرصع، ۱۱۸۰ مخ)

د مړینې نېټه یې چا نه ده ضبط کړې او یا دا چې زه پرې نه یم خبر.

ګوهرخان باید ماتې افضل خان د مخه د خوشحال بابا د زامنو په بحث کې معرفي کړی وای، خو دا چې هلته مې معرفي نه کړ، علت یې دا و چې دده د نثر نګارۍ کار د افضل خان خټک له فرهنګي هڅو سره ارتباط درلود، نو ځکه دا فضل خان په پر مایښت د ترجمه شوي او لیکل شوې منثورو آثارو د پېژندنې بحث له ګوهرخانه شروع کوم:

دهٔ په ۱۱۲۰ هـ ق کال د افضل خان خټک په پر مایښت د اسلام د نازولي پیغمبر حضرت محمد (ص)، د سیرو یو پند کتاب په پښتو ترجمه کړی دی. دهٔ د دې ترجمې په مقدمه کې په دې اړه کښلي دي:

«... بل سبب دکتاب دا وه چې افضل خان زوی د اشرف خان مرحوم، نمسی د خوشحال خان خټک کرلاڼي غفرالله له چې سن د هجري زر سل شل دی ... نور مسایل که د پښتو کتابونه له هره قسمه لکه فارسیا نو کړي دی مرتب شي، د نیکه شعرې یې وار ه په بیاضونو ځای په ځای متفرق وه، دده په تالاش چې څو مدت په دا سعي کې وه له هر چا به یې جمع کې دیوان یې مرتب، بلکه

کلیات د شعر یې چې څهٔ وه په نظم په نثر، لکه: دستارنامه، فراقنامه ... وغیره کتابونه یې واړه په کاتبانو په څو څو حُلّه وکښل، په اطراف به یې د شهرت له پاره و هرځا وته استول، حق تعالیٰ یې توفیق د نیکه رفیق کړه، په مجلس کې به یې همیشه ویل چې که د چا څه طبیعت قوت وي چې پښتو کتابونه، لکه فارسیا نو له عربي په فارسي ترجمه کړل، څوک یې له فارسي په پښتو ترجمه کا نهٔ وماوته به یې اکثر اوقات مخ را وجاریوست، اگرچې زما قوت هومره نه وه لیکن چې نظر مې په تصنع د اوقات وکړ ومې لید چې څه عمر گرانمایه ضایع دروي په هرحال مې دې محنت ته ملا وتړله، نور مې اکثر کتابونه مطالعه کړه چې که یو کتاب په قال په حال مضبوط او معتبر وي له فارسي ژبې یې په پښتو ترجمه کړم. دا کتاب مې بیا موند چې نهایت په افضال په قال په حال د موږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پخته او معتبر وه ... نور مې شغل ورسره واخیست، چې دا شغل هم عظیم نعمت دی له فارسي په پښتو ترجمه کړ، نوم قلب السیر کښېښې شه» (۷۱)

له دې لوړ اوږده اقتباسه موږ ته ښکاره شوه چې دا کتاب گوهرخان د افضل خان په غوښتنه له دري نه په پښتو ترجمه کړی دی او نوم یې پرې قلب السیر ایښی دی. له دې سربېره له دې اقتباسه دافضل خان د فرهنگي شخصیت په ارتباط هم ځینې جالبې نکتې را برسېره کېږي: لومړی دا چې افضل خان د خپل نیکه آثار هم خوندي کړي دي، او دوهم دا چې دافضل خان هغې مېنې ته اشاره کړې چې د ه له خپلې مورنۍ ژبې سره درلوده او غوښتل یې چې

دتځو له لارې ډېره مورنه ثبت بدا یه کړې، نوځکه یې په مجالسو کې هرچا ته ویل چې له نورو ژبو په پښتو آثار ترجمه کړي .

دا سیرت مبارک خو ګوهرخان دافضل خان په غوښتنه ترجمه کړې، نو اوس دا معلومول ښکاري چې ددې سیرت دري اصل د چا دی، اوځو بابه اوفصله دی اود حضرت پیغمبر (ص) سیرت او ژوند یکې څومره بیان شوی دی؟

ددې کتاب د اصل په باب چې د چا دی، دري ترجمه یې دچا ده؟ مترجم (ګوهرخان) څه نه دي ویلي، اما دکتاب په متن کې راغلي دي: «محمد بن اسحق رحمة الله علیه و الي» (۴۷ مخ) دا نوم دکتاب تر پایه ډېر راغلی دی .

اروا ښاد استاد حبیبي چې دا نسخه یې کتلې ده، دنسخې په تشه پاڼه یې یو یادښت کښلی دی. په دې یادښت کې راغلی دی:

«اکثر مضامین این کتاب عبارت از روایات محمد بن اسحاق، صاحب مغازی است، که کتاب خود را درحیره برای جعفر المنصور وحدود (۱۵۱ ه) به عربی نوشت . وی در بغداد بمرد ونزد قبر ابی حنیفه دفن شد، امام اصل سیر و مغازی است....»

ترجمه: د دې کتاب اکثر مضامین د مغازي د خاوند محمد بن اسحاق روایات دي. ده خپل کتاب د ۱۵۱ هرق کال شاوخوا په حیره کې د جعفر المنصور لپاره په عربي وکښ، دی په بغداد کې ومړ او د ابي حنیفه د قبر ترڅنګه ښخ د سیر و مغازي اهل و .»

دپښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه نومي کتاب په ۲۲۰ مخ کې دا اردو انسایکلو پیډیا په حواله ویل شوي دي چې: « دمحمد بن اسحاق دسیرت ترجمه دشیخ سعدي په زمانه کې د ابوبکر سعد زنګي په

په حکم په فارسي وشوه ،، څنګه چې سعدی (رح) د اتابک ابوبکر بن سعد بن زنګی (۶۲۳-۶۶۸ هـق) او دده د زوی سعد بن ابوبکر معاصر و، نو ویلای شو، چې د محمد بن اسحاق سیر په اووم هجري قرن کې دري ته اوښتی دی، خو دانه ده معلومه چې دا ترجمه چا کړې وه او آیا ګوهرخان همدا ترجمه پښتوته اړولې ده، کېدای شي دا کتاب نورې ترجمې هم ولري. خو دا یوه خبره ثابته ده چې د قلب السیر اصل او منشاء د محمد بن اسحاق سیردی.

دا کتاب ټول د برش بابه دی. د حضرت پیغمبر (ص) د نسب په باب یې په څو بابو کې خبرې کړې دي. بیا یې د حضرت محمد (ص) له زوکړې تر وفاته ټول واقعات راوړي دي. ورپسې یې د خلفای راشدین، معاویه (رض) او نورو خلفاوو احوال ثبت کړی دی، بیا یې د قیامت علایم، نزول حضرت عیسیٰ، جوج ماجوج، قیام د قیامت او بعث او د حشر، حساب وکتاب، میزان او صراط او ذکر د دخول د جنت او نار ونعمت په باب خبری کړې دي.
په کتاب کې د برې خبرې او روایات د حکایاتو په بڼه هم بیان شوي دي.

تر وروستیو کلونو پورې د دې کتاب یوازې یوه نسخه معلومه وه، چې ۷۶۱ مخه لري او د پېښور میوزیم کې ساتل کېږي. دا نسخه لومړی ځل استاد حبیبي کتلې وه او د دوی په وسیله یې پښتو ادبي څېړنو ته لار پیدا کړه (۷۲) اما وروستیو دوو کلونو د پېښور پښتو اکېډیمې د دې کتاب یوه بله خطي نسخه پیدا کړه چې په ۸۰۸۲ مه نومره په دې کتابخانه کې ساتل کېږي، پاڼې یې

۲۵۷ دی.

د قلب اسیر مقدمه خپله گوهرخان لیکلې ده، چې نمونه یې تاسې وکتله، او متن یې ترجمه دی. د ترجمې د روش د ښوولو لپاره یې دا لاندې پاراگراف د کتلو دی:

«محمد بن اسحاق رحمة الله علیه وایي: څلور تنه پخوا تر مبعث د پېغمبر صلوات الله علیه له قریشو یا څېدل ترک یې د بت پرستۍ وکړ د دین حق په طلب په جهان سرشول او لاړل، هغه څلور تنه دا وو: ... او حکایت د دوی داسې وه چې د قریشو اختر وه او ... وا په حاضر شوي وو او بت یې له ځانه سره وړی وه او د هغه پرستش یې کاوه...»

د ده د لیکنې او ترجمې د پر فرق خو ماته نه ښکاري. د گوهرخان ترجمه چې سړی وگوري زما په گومان په دواړو ژبو کې یې مهارت تر ې څرگند بېږي.

(۲) عبدالحلیم او د ده فرهنگي فعالیتونه: په پښتو ښېرنوکې د عبدالحلیم نوم راغلی، خو چېرې چې د ده نوم یاد شوی، یوازې د اختیارات بدیعي د پښتو ترجمې په اساس یاد شوی دی. د پښتو نثر په باب د دمخنیو کښل شویو کتابونو له جملې څخه یوازې د پښتو نثر هنداره (۱۳۶ - ۱۳۹ مخونه) کې د عبدالحلیم او د ده د اختیارات بدیعي یادونه شوې ده.

اما زه دی دلته نه یوازې د اختیارات بدیعي پر اساس ښیم، بلکه د ده یو بل قصصي کتاب هم ښیم چې تر اوسه یې چا نوم نه دی اخیستی او لومړی ځل د دې کتاب په وسیله تاسې ته معرفي کېږي.

عبدالحلیم دافضل خان د فرهنګي هڅو په جریان کې شامل سړی دی، نه یوازې مترجم و، بلکه ښه خطاط هم و او نستعلیق خط یې دکمال په حد کې لیکه، دخوشحال بابا د دستارنامې نسخه (۱۱۱۹ هق لیک)، د عبدالقادرخان ختک دیوسف زلیخا نسخه (۱۱۲۳ هق لیک) او نورې نسخې دده په خط لیدل شوې دی.

عبدالحلیم داختیارات بدیعي له ترجمې لس کاله دمخه په ۱۱۲۰ق کال کې د افضل خان ختک په پرمایښت دپیغمبرانو قصص په پښتو ژبه ترجمه کړي دي.

عبدالحلیم ددې کتاب د ترجمې باعث داسې ښيي: « باعث د تألیف وترجمه دتاج القصص: په سنه زرسل شل له هجرته دحضرت نبوی صلی الله علیه وسلم وه چې خان عظیم الشان زبده عظام قدوه دکرام سرآمد خوانین بلند مکان سردفتر اهل عصر او آوان، منبع داحسان معدن دحسن استحسان، مجمع دعلما مقصد دفقراء محمد افضل خان ختک مضاعف دې کا الله تعالی اقبال دده. له اول عنفوان شباب محبت او شغل یې په مطالعې دکتب اواصل علم وه او ذوق وشوق یې په ترجمه دکتب عربي او فارسي وه او انواع شعرا و اقسام اقسام کتابونه د افغانی په واسطه دعموم خلق مرتب کړي وو او اکثر اوقات یې په زبان مبارک دا مذکور جاري وه چې هرقوم او هرګروه نظر په عموم خیر کتابونه موافق او مطابق دخپل لغت او دخپلې ژبې چې له ځانه او چې له کتبو، لکه عربو په عربي او اهل فرس په فارسي هذا القیاس په زبان فصیح او په بیان ملیح تصنیف او ترجمه کړي دي او ډېر بې فیض او رنګارنګ مقاصد دمذهب او د

ملت د شرع او د دین او قصص د پیغمبرانو... له خپلو کتابونو حاصل او محصل کړي دي، مګر یو افغانان چې له دې عمومه فیضه بې بهره دي....

یوه ورځ مطابق د حال مذکور اضعف العباد عبدالحلیم ته یې وفرمایل چې تاج القصص، چې له اول ظهور آدم او تا آخر حضرت خاتم او نور انبیاء اشرف او حالات او عجایبات او معجزات د دوی.... پس بایده دي چې کمر د سعی او د تر دد په ترجمه د تاج القصص مضبوط او مستحکم کړې... اما په حکم د خان معزالیه او نظر په استمداد او اصلاح دده او بل په ذمه د مترجم سواتي ترجمه بله عهده نشته شروع وشوه....»

له دې اوږد اقتباس نه غرض دا و چې بناغلیو لوستونکیو ته دافضل خان د فرهنګي ذوق د څرګند تیا لپاره یو بل ثبوت وړاندې شي.

په لوړ اقتباس کې د وه درې ځایه د کتاب نوم تاج القصص راغلی او دا هم راغلي چې «تألیف او ترجمه» خو دهمدې اقتباس په آخر برخوکې بې ځان یوازې مترجم ښوولی دی.

دې سوالونو ته د کتاب د مقدمې په وروستیو برخوکې یوڅه جواب موندل کېږي او ورسو سرې په دې مم پوهېږي چې په دې کتاب کې چې کوم مطالب راغلي په دې باب د مقدمې پېبای کې ویل شوي دي:

پس دا کتاب په تنبیه د غافلانو مشتمل په بیان دا اول آفرینش عالم او د مکې اسمانونه او جمیع موجودات له آدم او حضرت خاتم صلوة الله علیهما او نعت او اخلاق او معراج او غزا د دوی او معراج د حضرت

صلی الله علیه وسلم او فضیلت د صحابه او وفات د دوی او فضیلت د دې امت ... لکه په تفاسیرو او په تواریخ کې په نظر تېر شوي دی، جمع شه او نوم د دې کتاب معارج القصص شه ....»

له لوړو خبرو یو څو دا ښکاره شوه چې دا کتاب له څه شي بحث کوي او دا یې هم وښوو له چې عبد الحلیم د کتاب مطالب له بېلابېلو کتابو چې تفاسیر، تاریخونه او قصصي کتابونه پکې شامل وو، ترجمه کړي او بیا یې سره تألیف کړی او د معارج القصص نوم یې پرې ایښی دی. دا چې د مقدمې په لومړیو برخو کې څو ځایه د تاج القصص نوم راغلی د ...رمایه عقیده دوی د نبیانو قصص تاج القصص بللی.

په دې کتاب کې د دغو پیغمبرانو او نیکانو قصې راغلي دي:

د آدم(ع)، ادریس(ع)، ابراهیم (ع)، یعقوب(ع)، یوسف (ع)، موسی(ع)، ایوب(ع)، یونس(ع)، ملک طالوت، داؤد(ع) سلیمان(ع) زکریا او یحیی(ع) عیسی(ع) جرجیس (ع) د اصحاب کهف، ذو القرنین او لقمان قصې او په پای کې د حضرت محمد(ص) احوال.

د معارج القصص د متن یوه نمونه دا ده:

«د خواجه غلامان وو، هر یوه ترې گوسفند ورکړ او وې هسې ځای ترې بوزئ چې هیڅوک مه ته وینی حلال یې کړئ او لقمان ترې هم گوسفند ورکړ، غلامانو ځایونه د خلوت پیدا کړه او گوسفندان یې ذبح کړه، پوست یې وکېښ او غوښې یې راوړې. لقمان گوسفند ژوندی راووست. خواجه ووې ولې دې ذبح نه کړ. وې وې په دا چې هر ځای ته چې تلم، خدای لیدم، هر گاه چې هیڅ ځای مې خالي بیا نه مو نه بیا، نه مې راووست.» (۷۳)

د معارج القصص يوازيني خطي نسخه پښتو آرشيف کې محفوظه ده ، قطع يې لويه ده او ټول مخونه يې (۱۲۳٦) دی او د پښتو ټولنې په غنيمه ذخيره کې هم محفوظه ده .

د عبد الحليم په معلومو آثارو کې بل اثر د اختيارات بديعي پښتو ترجمه ده چې دا کتاب يې له معارج القصص نه لس کاله وروسته په ۱۱۳۰ هـ ق کال د همدغه افضل خان ختک په غوښتنه په پښتو ترجمه کړی دی .

عبد الحليم د اختيارات په مقدمه کې وايي دی : « خانصاحب چې صاحب د بخت دی ، بخشنده د دولت د تخت دی عقل کامل يې رانجه د سترګو د بينايۍ تو تيا د کسو د دانايۍ ، دعاګوی عبد الحليم ته و فرمايل چې اختيارات بديعي که په پښتو ژبه په اسان عبارت ترجمه شي ... »

( د پښتو نثر هنداره ، ۱۳۷ مخ )

اختيارات بديعي په دري ژبه د زين الدين علي بن حسين انصاري ، مشهور په حاجي زين الدين عطار ( ۷۳۰ هـ ق زوکړی ) په ۷٦۷ هـ ق کال د عصمة الدين بديع الجمال په نامه ليکلی دی او په ۷۷۰ هـ ق کال يې د دغه کتاب دوهم بشپړه بڼه ور اندې کړه (۷۴)

د دې کتاب محتويات عبد الحليم د اختيارات د پښتو ترجمې په مقدمه کې داسې ښودلي دي : « ... دا کتاب په دوه مقالې دی : او له مقاله په بيان د مفو دارو ده چې تنها تنها واحد وي او بيان دی د دوی د نومونو چې مذکور په هره ژبه وي ، لکه عربي ، پارسي ، يوناني ، سورياني هندی على هذا القياس او تبديل او تعبير او اصطلاح او نفع او ضرر د دوی او دويمه مقاله په بيان د مفو دارو چې مرکب مستعمل دي ، قبل بايد زده کړي چې دارو يا نباتي يا حيواني يا معدني دي ... » (۷۵)

اختیارات بدیعي هم تر اوسه نه دی چاپ شوی، یوه بشپړه خطي نسخه یې چې ۸۰٤ مخونه لري په ۱۱۹۱ هق کال د کاظم خان شیدا لیا ره لیکل شوې ده، د هند دا تر پردیش د ایالت د رامپور په رضا لایبریرۍ کې محفوظه ده. ددې منثور کتاب د مقدمې ځینې نمونې تاسې وکتلې چې هغه د ده خپلې وې، دا دی د کتاب د ترجمې یوه نمونه:

«بادنجان: پښتانه یې باتینګن بولي، بهتر یې هغه وي چې خواږه او تازه وي، طبیعت یې ګرم او خشک دی» (پښتو نثر هند اره، ۱۳۸مخ)

تاسې د عبدالحلیم دخیل کښلی نثر او د ده د ترجمو نمونې وکتلې، ده په خپلو کښنو، هغه مقدمه چې ده پر معارج القصص کښلې، روانې او ساده ګۍ ډېره نه لري، کړکېچونه یې ښسته او د جملو ترکیب یې په ځینو ځایونو کې سم نه ایسي او عادي لوستونکی ترې رسا مفهوم نشي اخیستی، خو د هماغه کتاب په ترجمه کې بیا ځه ښتلی شوی دی او داسې نثر یې لیکلی چې عام فهمی ته ځه نږدې شوی دی. داسې فکر کېږي چې په معارج القصص کې به ده د نثر لیکنې لومړی تجربې کولې، خو کله چې یې اختیارات بدیعي ترجمه کړې دی، نو یې په مقدمه کښنه کې هم پیاوړی ښکاري او د ترجمې نثر یې هم روان او بریالی دی.

دده دا اختیارات یوه بله ښېګڼه دا ده چې د دارو بوټو پښتو نومونه یې هم ښودلي دي. د ډېرو بوټو فارسي او هندي نومونو ښودلو تر څنګه یې پښتو نوم هم راوړی دی.

(۳) محمد مظفر او تاریخ اعثم کوفي پښتو ترجمه: دا کتاب هم د افضل خان خټک په پر ما یښت په پښتو ترجمه شوی دی. د کتاب مترجم محمد مظفر

خپل مشوق داسې ښوولی دی:

په مدد دپاک سبحان ... په اقبال د عالیشان
چې تاریخ اعثم کوفي ... په پښتو شو له پارسي
که قبول دخانصاحب شي ... مفتخر به يې کاتب شي

(دپښتو ادب تاریخ، ۷۸-۷۹مخونه)

مترجم په ۱۱۲٦ هق کال دا کتاب ترجمه کړی دی او په مقدمه کې يې ددې کتاب د اصل په باب ویلي دي: ابتداء په نامه د هغه خداوند چې دنیا کې يې څوک په غم کړ، څوک په انند. درود دی په بهترین د خلایق باندې چې محمد دی صلی الله علیه وسلم چې بې له خدای خدای د هر صفت لایق کړی دی او په آل او په یا را نو د ده چې همه واړه پسولې دی. په پسول د رضا د تسلیم. پس له حمده له درودو دا کتاب چې تاریخ اعثم کوفي باله شي، په عربي ژبې تصنیف کړی و، پس تر هغه محمد بن احمد مستوفي هروي چې تمام له اوله تر آخره مطالعه کړ ...» (۷٦)

باید ووايو چې ددې کتاب اصلي نوم فتوح ابن اعثم دی؛ په عربي ژبه ابومحمد احمد بن اعثم الکوفي (۳۱٤ هق مړ) لیکلی دی. دا کتاب په ۵۹٦ هق کال د صدر اجل موید الملک قوام الدین په غوښتنه احمد بن محمد المستوفي الهروی له عربي نه په دري ترجمه کړی دی (۷۷)

په تاریخ ادبیات ایران کې يې لیکلي دي چې دا کتاب د مسلمینو فتوحات او د خلفای راشدینو احوال او معاویه ته د خلافت د انتقال کیفیت د ده او د ده دنوی یزید د حکومت دورې او د کربلا واقعات بیانوي، خو ما چې په فرهنگ ادبیات پښتو کې (۷۸) دپښتو اعثم کوفي په

ارتباط کومه شرحه کښلي هلته راغلي دي ، چې دا کتاب د اسلام د تاریخ یوه برخه ده چې د حضرت محمد (ص) له ژوندده د امام حسین (رض) ترشهادته پورې واقعات یې پکې راوړي دي .

دفتوح ابن اعثم پښتو ترجمه چې محمد مظفر دمحمد بن احمد مستوفي هروي له پارسي ترجمې نه پښتو ته راړولې ، پښتو ترجمه یې په تاریخ اعثم کوفي مشهوره ده ، دا ترجمه تر اوسه نه ده چاپ شوې یوازینۍ معلومه خطي نسخه یې ۳٦٤ مخه د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده .

پوهاند رښتین ویلي دي چې محمد مظفر دکوهاټ په کلاچه کې اوسېده ، زما په عقیده کلاچه به لاچي وي . ځکه لاچي دکوهاټ په نواحیو کې یوه سیمه ده ، چې خټک پکې اوسېږي . کوم نظم چې دپښتو تذکره لیکو ځینې په ... هنداره کې نقل شوی په مقطع کې یې لاچه راغلی دی .

دتاریخ اعثم کوفي د مقدمې د نمونې تر څنګه ، د دې کتاب د ترجمې یوه نمونه داده :

«لښکر د اسلام له مدینې روان د مصر په لور پویان شه ، چې مصر ته ورغی خط د حضرت امیر رضی الله عنه عبدالله بن سعد بن ابی سرح ته ورکې په سرداري دلښکر عبدالله خوشحال شه د افریقې په لور روان په استعمال شه ، درویشت زره سواره پیاده ورسره جمع شول دافریقې پادشاه جرجین تام تابع د روم د پادشاه . »

زما په یو ... ده دمحمد مظفر بن ملا اسماعیل قریشي ترجمه خوږه او روانه او د افضل خان د فرهنګي فعالیتونو تر اغېز لاندې په رامینځ ته شویو نثرونو کې یوځه امتیازي ښکنې لري .

(٤) دامام غزالي دکیمیای سعادت پښتومنثوره ترجمه: حجة الاسلام ابوحامد محمد بن محمد غزالي (٤٥٠ - ٥٠٥ هـ ق) له مشهورو آثارو څخه یو هم کیمیای سعادت دی چې یې د ٤٩٠ - ٥٠٠ هـ ق کلونو ترمینځ په دري نثر کښلی دی. داکتاب دا حیاء العلوم خلاصه ده. کیمیای سعادت څلور عنوانونه او څلور رکنونه لري چې په عناوینوکې یې: دخپل نفس پېژندنه، دحق تعالی پېژندنه، د دنیا پېژندنه او دآخرت پېژندنه شامل دي. په څلورو رکنونوکې یې: عبادات، معاملات ددین دسختو لارو غوښول او منجیات راغلي دي.

داکتاب په پښتو ژبه ترجمه شوی دی. ددې کتاب یوازینۍ ترسره معلوم، ناقص الاول والاخر ګډوډه خطي نسخه په پېښور - آرشیف کې خوندي ده، چې ټولې پاڼې یې ٤١١ او مخونه یې ٨٢٢ دي. دانسخه د خټکو په لیکدود او په هغه خط کښل شوې ښکاري چې په دې کتاب کې د مخه راغلي عبدالحلیم معارج القصص پرې لیکل شوی دی. کاغذ دخط او لیکدود دول یې هم ددولسمې پېړۍ داوایلو ښکاري. د مخطوطې قطع هم دهماغه یاد شوې کتاب په اندازه ده. ما ته خیله ددې کتاب ترجمه هم دهغو هڅوجن ښکاري چې پښتانه مشر افضل خان خټک په پښتو ژبه د نورو آثارو د ترجمې په لړکې پیل کړې وې. موجوده نسخه مسوده ښکاري ده چې ګمان کېږي دوهم ترتیب ته به یې د مترجم وار نه وي رسېدلی او یا هم کېدونی لري چې ترتیب شوې نسخه دې یې هم وي خو ترموږ دې نه وي رسېدلې؟

په هرصورت د امام غزالي دکیمیای سعادت غوندې غښتلي کتاب

هم دې پخوا پښتو ته ترجمه شوې دی. د دې ترجمې د نثر یوه نمونه دا ده:
«آگاه شه چې هغه علت او بیماري چې په مقدار دیوې دانې وي او تا له لاره د سعادت چار بابي او له بهشت دې په حجاب کې اچوي علاج د هغه علت فرض عین دی او هیڅوک له دې بیمارۍ خالي نه دی او علاج د دې بیمارۍ په دوه نوع دی، یعنې په دوه رنګ دی یو په طریق د جمله دی او بل په طریق د تفصیل دی...»
د انثر د خوشحال د نثر لیکنې د سبک په پیروۍ درا پیدا شو یو پښتو نثرونو د لړۍ یوه کړۍ ده چې په ترجمه کې یې ښه رواني ستر ستر ګو کېږي او زما په عقیده لوستونکي له بندښت او ګنګي ته ور سره نه مخامخ کوي.

## د خوشحال بابا د نثر لیکنې د سبک پراختیا:

خوشحال بابا چې په پښتو نثر لیکنه کې کومه لاره غوره کړه، د پښتو ورو ستیو د پېرو نثر لیکونکیو لپاره سرمشق شوه، د پېرو پردې لاړې ون وکړې او خیل آثار یې په دې سبک او شیوه ولیکل. په دې لاړو یو کې نه یوازې د ده زامن، لمسي او د ده د کورنۍ د ریاست تر حمایت لاندې روزل شوي پښتانه لیکوال شامل شول، بلکه له دې کورنۍ او ریاستي محدودې د باندې نورو پښتنو لیکوالو په دې لاره پلونه کېښوول. د ورو ستۍ دوړې د پښتو منثورو آثارو، کړو وړو ته چې سرې ګورو یې نو یې د لیکنې روش او ساخت و بافت د لړۍ خان دا یجاد کړي سبک له اساساتو سره سمون خوري، خو فرق به یې دا وي چې د لیکوالو خیل

ابتکارونداو د زمان شرایطو ته په پاملرنه فرهنګي پرمختیا اصل
به هم خپل اثرات پرې پرېښي وي .
په نورو پښتنو کې دخوشحال بابا د نثر لیکنې د سبک په پیروۍ
دغو لاندې لیکوالو خپل آثار کښلي دي :
(۱) مسعود بن عبدالله : داسړی د اورنګزیب د زمانې پښتو لیکوال
او ناظم دی . که څه هم پښتو تذکرو یې د ژوند زمانه د ۱۱۰۰ هـ ق
تناوخوا ښوولې ده . خو د دهٔ یو پار کی چې ماله شاغلي نصرت کندهاري
سره په یو خطي جونګ کې لیدلی و . د هغه پارکې دا شارواضح دی
داورنګ زیب (۱۰۶۸ - ۱۱۱۸ هـ ق ) معاصر ښکاري .
ده په پښتو نثر د آدم خان درخانۍ کیسه لیکلې ده . کیسه څلور
مجلسه ده ، په مینځ مینځ کې یې ناری هم راوړي دي او د کیسې
په پیل او پای کې د مسعود خپل منظومات هم شته . د مسعود دا
قصه کندهاري تاجرانو په لاهور کې چاپ کړې ده ، د چاپي
نسخې ټول مخونه ۹۶ دي . خطي نسخې یې هم په کابل ، هند او کوټه
کې شته .(د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې ۳۷۲ - ۳۷۳ مخونه)
د پروفیسور محمد نواز طایر وینا ده چې دا قصه په انګریزۍ هم ترجمه
شوې ده ، خو ما یې خپله انګریزي ترجمه نه ده لیدلې . دده د
پښتو نثر نمونه دا ده : « په پیش زمانه کې په یوسفزوکې یو
ځوان پیدا شو چې آدم خان نوماند . د حسن خان زوی او یوه ښځه
پیدا شوه چې درخو نومانده ، د تاوس خان لور وه ، دا نور
پسې له سره نقل کوم چې آدم خان درخو د یو فقیر له ګفته
پیدا شوه . بعد له هغه نو حسن خان زوېیه نه درلود ، یو فقیر

راغی نعره يې وکړه . حسن خان وویل په دا ډېرو فقیرانو دې بلاکړه شي چې خیراتونه صدقې ورېې دعانه کوي ... »
(د پښتو نثر هنداره ، ۱۳۲-۱۳۳ مخونه)

دا نثر روان دی ، کړکیچ نه پکې لیدل کېږي او داسې فکر کېږي چې مؤلف ښکله داقصه اور بدلې صسې يې ضبط کړې ده . د نثر سبک او ځانګړنې يې د خوشحال دکورنۍ نثر ونو ته نږدې دي اما ددې کورنۍ دنثرونو په پرتله يو څه بریالي پرمختګونه پکې شته .

د پښتو ادب استادانو لکه استاد حبیبي او استا د رښتین هم دا ډول خبرې کړې دي . استاد حبیبي د مسعود دنثر په باب ویلي دي : « نثر يې دخوشحال دمکتب نثر ته ورته دی ... » (۷۹) .

(۲) فخرالدین صاحبزاده : هانري جارج راورټي د خپل پښتو ګرامر ددوهم چاپ د مقدمې په ۳۳ مخ کې دپښتو نثر لیکونکیو په سلسله کې د فخرالدین صاحبزاده نوم اخیستی دی او ویلي يې دي چې دآدم خان درخانۍ کیسه يې لیکلې ده . د همدې مخ په حاشیه کې چې نوموړي راورټي دپښتو آثارو د قدامت او نسبت په باره کې د پروفیسور دورن تېروتنو ته اشاره کوي ، نو دهمدې حاشيې په وروستۍ کرښه کې کاږي چې دآدم خان درخانۍ دقصې يو وریانت فخرالدین صاحبزاده لیکلی دی او دا يې هم ویلي دي چې دا وریانت سل کاله دمخه کښل شوی دی. دهانری جارج راورټي ګرامر دوهم ځل په ۱۸۶۰ع کال کې چاپ شوی دی . دا سل کاله چې ترې وباسو نو ۱۷۶۰ع کال باید دآدم درخانۍ

دلیکني کال قبول کړی، خوکه دا خبره راوړتي دخپل ګرامر په اول چاپ (۱۸۵۵ع) کې هم کړې وی، نو دا کال باید ۱۷۵۵ع وي. پروفیسور محمد نوازخان طایر د صدرخان دادم خان درخانه په مقدمه کې همداسې ضبط کړی دی (۸۰) اما، مایه فرهنګ زبان و ادبیات پښتو کې ۱۷۷۵ع راوړی دی چې ناسم دی.

هانری جارج راوړتي دخپل ګرامر په ۳۹، ۴۰، ۴۱، ۴۲، ۴۳، ۴۶، ۵۲، ۷۴، ۸۷، ۱۰۶، ۱۰۹، ۱۱۱، ۱۲۱ او ۱۶۶ مخونو کې ددې قصې د نثر نمونې راوړې دي.

پروفیسر طایر د صدرخان دآدم درخانه په مقدمه کې دراوړتي له ورکړیو نمونو څخه دری نمونې اخیستي دي او کله چې پوهاند رښتین د پښتو نثر هنداره لیکله نو یې د راوړتي په حواله دا سړی هم په پښتو نثر نګارانو کې معرفي کړی او د نثر نمونه یې د پروفیسر طایر د مقدمې په حواله ورکړې ده. (د پښتو نثر هنداره، ۲۰۶ مخ)

ماچې دراوړتي په ګرامر کې دآدم درخانې دا نمونې وکتلې نو په اول سر کې یوه اشتباه پیدا شوه چې سنایې دا هماغه د مسعود بن عبدالله آدم درخانه وي او راوړتي دې یې د اسې نسخه کتلې وي چې هغه دې فخرالدین صاحبزاده کښلې وی؟ ددې اشتباه د رفع کولو لپاره زه اړوم چې د مسعود له قصې سره دفخرالدین صاحبزاده دا موجودې نمونې مقایسه کړم، متاسفانه په پېښور کې د مسعود د قصې خطي او چاپي نسخې ما ته کړې پیدا، خو استاد رښتین چې د پښتو نثر هنداره کې د مسعود کومې نمونې راوړې دي، په هغو کې یوه نمونه د قصې له هغې برخې

چې راوړېتي هم په خپل ګرامر کې د فخرالدين د قصې د هماغې برخې يو پارګراف راوړی دی. دغو دوو نمونو د مقايسې يوه زمينه راته مساعده کړه.

د مسعود قصه کې راغلي دي: «نقل له ميرو چې يار وغار د آدم خان و، په هر درد کې دده درمان و او دا رنګه شوي دي چې يو سردار و يوسفزی په دولت تيمورس و په اسم تاوس خان نوماندو. د ده لورده بي بي درخانۍ نوماند ه. د حسن سيال يې نه و.» (د پښتو نثر هنداره، ۱۳۳مخ)

د فخرالدين صاحبزاده نمونه: «يو سردار و د يوسف زيو په دولت کې لکه طهورث وٴ په اسم طاووس خان نوماندې وٴ. دده يو لور وه، درخانه نوماندي او د حسن سيال يې نه وه...» (دراورټي ګرامر ۵۲مخ)

د دې دواړو نمونو له کتنې سړی پوهېږي چې ډېر لږ لفظي توپير ونه پکې شته او نور مفاهيم يې سره يو شی دي.

که سړی ډېر شکاک وي نو به ووايي چې بنايي دا توپيرونه به د کاتبانو له لاسوهنو پېښ وي او دا دواړه وريانتونه به د يو متن وي. يا به فخرالدين صاحبزاده کښلي وي او يا به هم مسعود؟ خو که سړی لږ نورو واقعيتونو ته هم نظر وکړي چې د دې قصې اصل منشاء يوه ده، په ټولو منظومو او منثورو وريانتونو کې د قصې بافت او ساختمان يو ډول دی، يو ازې دالفاظو توپيرونه پکې ليدل کېږي.

د دې قصې همدا برخه د آدم خان درخانۍ له يوبل وريانت نه:

«نقل دی له ميرونه چې د آدم خان ډېر اشنا او خاص ملګری و،

چې په کوزه بازدره کې د یو سفر و یو سردار و چې ډېر دولت یې لاره، او نوم یې طاوس خان و او دهغه سردار یوه لور وه چې دهغې نامه درخانۍ یا دېدله ولې په ښایست کې په هسې شان وه چې بله سیاله یې په هغه زمانه کې چیرته نه وه ... »

دمفهوم په لحاظ دا لوړ وریا نتې هم له هغو دوو سره څه توپیر نه لري، خو دا چې له لوړو نمونو څخه دپاسه سل کاله وروسته په دیارلسمه پیړۍ کې لیکل شوي دي، نو ځکه روایي او ساده ګۍ پکې زیاته لیدل کېږي.

په هر ترتیب موږ سمد ستي د فخرالدین صاحبزاده قصه د راوړنې په حواله د احتیاط په قید دآدم درخانۍ دقصې یو بل منثور وریانت بولو چې دمسعود له آدم درخانۍ وروسته کښل شوی دی.

دپښتو ټولنې هنداره په ۲۰۷ مخ کې هم تقریبًا مشابه تشویش ښکاره شوی دی و یلي یې دي: «مګر که موږ دغه روایت ته په ځیر وګورو نو څه قدر شک پکې پیدا کېږي، ولې چې د فخرالدین صاحبزاده نوم بل ځای زموږ له نظره نه دی تېر شوی. نو کېدای شي چې مستر راوړنې په دغه خبره کې تېر وتی وي. بله خبره دا ده چې دغه جمله کټ مټ د مسعود دآدم خان درخانۍ په نمونه کې د مخه هم راغلې ده...»

په دې برخه کې د شک جواز ځکه نشته، چې که د فخرالدین صاحبزاده نوم له راوړنې پرته بل چا نه وي اخیستی او موږ دې پر دې نامه شک وکړو. له دې خبرې سره زه بېخیله متفق نه یم دا ځکه د ډېر دا سې لیکوال او شاعران موږ پېژنو چې یوازې په یوه منبع کې یې کلام او نوم راغلی دی، مګر موږ پر هماغه واحد

خبر اتکاء کوو او په خپلو ادبي څېړنو کې يې يا دوو ، په دې برخه کې د نورو ژبو له مثالونو که تېر شو په پښتو کې له موږ سره د ډېر مثالونه شته . په حالنامه کې د ځينو کسانو نومونه او بيتونه راغلي دي له دې منبع پرته بل هيڅ ځای يې چا يادونه هم نه ده کړې او يا هم د تواريخ افاغنه په مسوداتو کې د ځينو اشخاصو په نامه ځينې بيتونه شته چې له دې منبع پرته يې بل ځای موږ ښوا ی موندلای .

بله خبره چې په دې اړه زه کوم هغه داده : کومه نمونه چې د پښتو نثر هنداره کې د فخر الدين په نامه راغلې ده ، د راوړنې په ګرامر کې هغسې نه ده . مايې مقايسه په همدې بحث کې وړاندې کړه . له مقايسې څرګندېږي چې د واړو نمونې سره کټ مټ يوه د بلې نقل نشي بللای .

له دې ټولو خبرو سره سره په دې برخه کې بايد نوره څېړنه هم وشي او دا ژيار وايستل شي چې د فخرالدين صاحبزاده د قصې وريا نثر پيدا شي . تر اوسه دا وريا نثر نه دی موندل شوی ، دا نمونې يوازې د راوړنې په ګرامر کې راغلې دي .

د دې قصې يوه بله نمونه : « عالم ورته ځواب از روی عذر خواهي وکړ ، چې زما فهم هرګز په درخانه شوی نه دی که به ما په قصد بې انصافي کړي وي خدای مې دې په سترګو روند کا »
(پښتو ګرامر ۱۲۱مخ)

د فخرالدين صاحبزاده د آدم درخانه د نثر کښنې لوړ ته چې سړی ګوري د الفاظو د انتخاب او د جملو د جوړښت د فارسي لغاتو او تراکيبو د استعمال له پلوه د خوشحال بابا د سبک په پل روان دی

کې دربېدای شي .

(۳) محمد فهیم : د تېر هېر شاعران د ۵۹ مخ په حواله موږ پوهېږو چې محمد فهیم د دلدارالدین زوی د ضیاء الدین لمسی او د شیخ رحمکار کاکاصاحب کړوسی دی . ده په ۱۱۴۹ هـ ق کال یوه نورنامه په پښتو نظم کښلې ده . دا نورنامه په ۱۲۹۸ هـ ق کال چاپ شوې هم ده ، خطي نسخې یې هم موندل کېږي . ما ددې نورنامې په یوه خطي نسخه کې ځینې منثورې ټوټې هم لیدلې دي ، چې د منظومو مباحثو په منځ کې راغلې دي ، لکه دا ټوټه : « اوس جواب د هغه جواب چې جبرائیل وحضرت ته وویل چې ومانه ووایه چې وروره ته تر ماکشړی او حضرت ورته ووې چې ته څو یاد لرې ، حضرت ورته ووې چې زما همبره یادېږي » (۸۱)

له دې یو ټوکر څخه موږ ته دومره اندازه کېږي چې محمد فهیم کاکاخیل په پښتو نثر هم کښلای شوای .

(٤) قاید الانام الی بیت الحرام : دیو نا معلوم ، خوعالم مؤلف یو په روان نثر کښل شوی نوږ کتاب دی چې د پښتو نثر څېړونکي ځینې نه دي خبر او د پښتو نثر په باب لیکل شویو آثارو کې یې کوم یادونه نه ده راغلې . البته دا باید ووایو چې د دې کتاب په باب ځینې متفرق یادښتونه او اطلاعات پخوا هم خپاره شوي دي . بناغلي رفیع په ۱۳۵۹ هـ ش کال ( د حج کتاب ) په (۸۲) مخ کې د قاید الانام الی البیت الحرام نومي کتاب یادونه کړې او ددې کتاب یوه نمونه یې خوندي کړې ده .

د بناغلي رفیع تر یادونې اووه کاله وروسته ما پردې کتاب یوه

مقاله وکښله او کابل مجلې خپره کړه (۸۳) .

قاید الانام الی بیت الحرام دوې خطي نسخې موږ ته معلومې دي، چې متاسفانه دواړې يې د پيل له خوا نيمګړې دي او د کتاب تمهيدي برخه چې غالباً د مؤلف نوم پکې راغلی هغه پکې نشته .

د دې کتاب يوه نسخه د پېښور پوهنتون په کتابخانه کې په ۵۹۳ نومره محفوظه ده ، زما د يخوا ني ياد ښت له مخې چې مې په کابل مجله کې خپور کړی دی ، د کتاب موجود متن ۳۱۰ مخه ښو ول شوی دی او اوس چې بيا ما دا نسخه وکتله او مخونه مې يې وګڼل نو۳۰۸ شول . ښا يي په ګڼلو کې يوه يا بله خطا شوې وي .

د پېښور پوهنتون د کتابخانې په نسخه کې د کتاب نوم هم نه دی راغلی او د کتابخانې کاركوونكيو د شرح بخاری په نامه ضبط کړې دی .

له ښکه مرغه د همدې کتاب يوه بله نسخه د پېښور د پښتواکيډمۍ په کتابخانه کې هم شته ، چې د ښاغلي رفيع د اطلاعاتو مطابق ( د پښتو اکيډمۍ د خطي نسخو فهرست ) دا نسخه ۲۰۶ مخونه لري او په ۱۱۷۶ هـ ق کال کښل شوې او په پای کې د کتاب نوم قاید الانام الی بیت الحـــرام راغلی دی .

داسې ښکاري چې د اکیډمۍ نسخه د پيل له خوا د بره نيمګړې ده ، خوشه چې پکې غنيمت دی ، هغه دا دی چې د کتاب نوم را ښيي او د نسخې د کتابت تاريخ مو په دې باوري کوي چې کتاب به ضرور د همدې دولسمې هجري پېړۍ په شاوخوا کې ليکل شوی وي .

د کتاب په تأليف کې مؤلف له ډېرو کتابو نو څخه استفاده کړې ده او

د برو آثار ته يې حوالې ورکړې دي، چې دځو نومونه دا دي:
مطالع الاسرار شرح مشارق الانوار، دامام غزالي احياء العلوم، حكايات الصالحين، تذكرة الموضوعات، دابن عربي فصوص، مجمع البحرين نظم الدر و المرجان، رياض المذكرين، دلايل نبوت او نور...
په كتاب كې له مأخذو داستفادې روش داسې دی: «امام حجة الاسلام غزالي رحمة الله په احياء العلوم كې په باب الخوف كې راوړي دی»
يا «ابن عربي مصنف فصوص...»
د دې كتاب د محتوياتو په باب بايد ووايو چې دا كتاب دحج او دحج د مناسكو او حرمينو په باب معلومات راوړي او حاجيانو ته لارښوونې لري.
د دې كتاب وجود داخبره د سړي ذهن ته وراچوي چې هغه وخت د پښتنو فرهنګي حلقوکې د پښتنو حاجيانو د لارښوونې له پاره د داسې يوكتاب دکښلو يا ترجمې ضرورت احساس شوی و او پښتانه به د حج له پاره حرمينو ته تلل.
په دې كتاب كې له مآخذو داستفادې روش سړی په دې باورې كوي چې دا كتاب به تأليف وي، خو ور سره دا خبره هم ذهن ته راځي چې كېدای شي اصل يې په همدغه بڼه له د برو كتابونو په استفادې ليكل شوی وي او دغه (اوس) نامعلوم پښتانه دې ترجمه كړی وی؟ خو كله چې سړی دکتاب يو لاس او روانه ليکنه ګوري نو بيا فكر كوي چې قايد الانام تأليف دی، چې مؤلف يې په ډېر زحمت له د برو آثارو په استفادې تهيه كړی دی. خو دا خبره هم پكې شته چې ځينې مطالب يې له ځينو كتابونو ترجمه شوي ښکاري

د بشپړې نسخې تر پیدا کېدو سره د دې کتاب په باب هم دومره ویلای شي ، کله چې بشپړه نسخه پیدا شي ښایي د دغه کتاب په باب نورې ډېرې خبرې را پیدا شي .

په دې کتاب کې د معلوماتو ، اطلاعاتو او لارښوونو په ترڅ کې ځینې خوندور واړه واړه حکایتونه هم راغلي دي چې ما یې پخپله یاده شوې مقاله کې څو حکایته نشر کړي دي ، یو حکایت یې دا دی:

« په حکایات الصالحین کې یې راوړي دي : یو شیخ و ، حج له روان شه ، پر بیابان پر تاریکه شپه کې تـه . ناګاه یې پر پښه کې هډوکی لاړ شه ، هم هغه ځای کې پرېوت ، طاقت یې د قدم اخیستو نه وه پاته . نهایت مغموم وه او له فوت حج یې خوف کېده چې سږ کال مې حج پاته شه . نور و آسمان ته یې وکاته دایې ویل دا رنګ کاروانه له ضعفا عاجزانو سره کوي ، پر میان د بادیه کې ستا بنده و مرګ ته نږدې دې او له حج یې امید قطع شه سږ کال ... هیڅوک نشته نور اوده شه په خوب کې یې یو عظیم مار لید ه چې واړه اندامونه یې دده لکه تې هسې وروده ، تر هسې حده پورې چې هډوکي له پښې وخوت پس له هغه بیدار شه . پښه یې سلامت روغ روان شه . قافله ته ورسـېده ، سم هغه حج یې وکړ» (۸۴) .

دانش لکه چې تاسې وکوت د دولسمې پېړۍ د روانو نثرونو خصوصیات پکې نغښتي دي او ما چې یې په خپله مقاله کې کومه مقایسوي څېړنه کړې ده ، هلته مې ویلي دي چې دانش د عبد القادر خټک نثرونو ته ډېر نږدې دی .

(۴) **فتح شاه** : فتح شاه هم له ناپېژندلیو شاعرانو او لیکوالو څخه

دی ، دکلیات یوه نسخه یې دلندن په انډیا آفس لایبریرۍ کې خوندي ده ، چې دوکتور میکنزي یې معرفي په خپل فهرست کې راوړې ده(۸۵) او دهمدې فهرست له مخې په فرهنګ زبان وادبیات پښتو (۱/۳٦٦) کې دده لنډ احوال راوړل شوی دی .

په کابل کې دده دکلیات مایکروفلم موجود او ماته یې دځینو برخو دکتنې اولوست زمینه مساعده شوه . اوله دې کتنې ماته ښکاره شوه چې فتح شاه د منظوماتو ترڅنګه منثور آثار هم لري چې له کلیاتو سره یې ضمیمه دي .

دده دکلیاتو کومه نسخه چې موجوده ده ، د لیکلو تاریخ یې ۱۱۹۸ هق کال دی . دا تاریخ را ښیي چې فتح شاه به له ترلږه ددولسمې پېړۍ په حدودو کې ژوند کاوه .

دده دنثر کومې بېلګې چې له ماسره شته د هغو جوړښت او ځانګړنو ته په پاملرنه دانش د خوشحال دسبک په پیروۍ لیکل شوبو نثرونو کې پرمختللی نثر دی ، چې رواني یې تر نوروننثرونو زیاته ده . ددې نثر یوه بېلګه ته پام وکړئ : « نقل دی چې بازید قدس سره چې له فاني جهانه ولاړ شه یو عالم په خوب لیده وې پوښتنه چې حق تعالیٰ له تاسره څه وکړه ، ورته یې وویل : ای کسه ! هونبره عادت دیوې وربشې قدر هم نه وه ، هغه بزرګی دنیمې اوربشې په تول مقدار نه ارزېده دخښتن درګاه د بې نیازۍ وی ، هیڅوک دې په ځان غره نه شي چې ما هم څه وکړل لاڅه کوم ... » (۸٦)

(۵) آصف اودنصیحت الملوک پښتو ترجمه : دا سړی هم نوی دی ، تر اوسه یې چا نوم چېرې دنثر لیکونکي او شاعر په توګه نه دی یاد

کړی. د دې سړي د آثار و يوه کوچنۍ مجموعه د ميا طارق شاه کاکاخېل په تولو کړيو خطي کتابونو کې وه، چې بيا يې د پېښور پښتو اکيډمۍ ته ورکړه.

د آصف د آثارو دا مجموعه په نستعليق خط د ختکو په ليکدود، په وړه قطع کښل شوې، د پاڼو شمېر يې ٤٤ دی، ځينې ملحقات او ضمايم هم لري.
په دې مجموعه کې چې د ده په خپل خط ده، د ده دوې رسالې راغلي يوه يې منثوره رساله ده (نصيحت الملوک) او بله هم منظومه رساله ده چې (تحفة العقايد) نومېږي او له عربي نه يې پښتو ترجمه کړې ده، لکه چې وايي يې دي:

عربي شوه پښتو ياره محض د غه نيت د ياره

له دې برسېره په دې مجموعه کې د آصف غزلې هم شته او له غزلو څخه وروسته چې په نسخه کې د ميا شتو هندي نومونه په فارسي طبي نسخې او په آخره کې ٩٦ پښتو لغتونه را غلي دي. دا د آصف په خط نه دی، بلکه د بل چا په خط دی.

د آصف د آثارو دا مجموعه مانه نيمګړې ښکاريږي، لوېدلي لري، خوڅه چې موجود دي، هغه هم د برغنيمت دی، او ديو ناپېژندلي ليکوال او شاعرآثار ترموږه رارسوي.

د آصف کومه منثوره رساله چې تر موږه رسېدلې ده، د آثارو د مجموعې لومړنۍ رساله يې ده. دا رساله ګرده ٣٦ پاڼې ده او په پيلامه کې يې داسې معرفي کړې ده: «پس له حمد او له سپاس د خداوند عالم او له ذکر د بهترين د فرزندانو د آدم صلی الله عليه واله وسلم په نصيحت کې دارباب ممالکو او د اصحاب مسالکو کتاب نصيحت الملوک چې وه په

باب کې د سلوک، په لسان فارسي مقد مینو دانشمندانو فرمایلي وه،
او س د پاره دا سانی دا فغانانو چې اکثر په فن فارسی کې ابکم د ي،
سعی بلیغ په افغانی کړنه کې د سخې چې پرفهم قریب اوله تکلیف بعیدد ه
صرفه شوه .....))

له دې منثورې مقدمې وروسته څو پښتو بیتونه هم شاعر ویلي
دي، بیا کتاب شروع شوی دی، له بیتونو څخه یې دوه بیته دادی:

چې فارسي کتاب پښتوکه   خلق یې مینه په لوستوکه
چې په لوستو یې زړه ښادکا   آصف هم په دعا ښادکا

بیا دکتاب متن شروع دی، چې مطالب یې د حکایتونو، حکمتونو
او پندونو ترعناوینو لاندې راوړي دي. منځ منځ کې یې پښتو او
دري بیتونه هم شته.

مترجم دکتاب اصل خاوند نه دی ښودلی، دومره یې ویلي دي
چې له فارسي یې ترجمه کړې دی. په فارسي کې د نصیحت الملوک په
نامه ښایي نور کتابونه هم وي، خو یو قدیم کتاب چې ماته معلوم دی هغه
دامام غزالی نصیحت الملوک دی. امام دا نصیحت الملوک په ۵۰۳ هق کال کې
په دري ژبه لیکلی دی.

داکتاب د دیني ارشاداتو په رڼا کې د باچا او درباریانو د
لارښوونې لپاره لیکل شوی دی، یو مقدمه، اووه بابه او یوه خاتمه
لري، چې د پاچهانو، وزیرانو او درباریانو سیرت ښیي، د یوهانو
حکمت او د خردمندانو صفتونه بیانوي. (۸۷)

ما چې دا ترجمه وکتله د موضوع له پلوه د دري نصیحت الملوک له
لوري تشریح سره ایرخ لګوي، خو نه د خاتمې مقدمې، نه د بابونو او

نه د خاتمې کوم څرک نيکې شته . د نصيحت الملوك پښتو ترجمه چې کومه لنډه مقدمه لري ، هغه مترجم کښلې ده او د اصلي کتاب مقدمه نه ده.

اما متحويات يې :

« په حکم ددی چې عدل او انصاف د سلاطين موجب د استقامت د رعيت دی ، هرگاه چې رعيت لره عمارت او زراعت پيش در پيش واقعه شي نو مې د ښکه دامن او د راحت په اطرافو کې د ولايت شهر ن پذير شي او بازرگان او مسافران يې هم په بلده کې ساکن او متنعم وي ... »

**حکايت:** « استاذه پيشينه وو فرمايلي دي چې شاه غزنين محمود سبکتگين انار الله برهانه هرگاه چې په شپه داخل د حرم سرای شه ، جامه به يې د سلطنت بدر کړه او خرقه به يې د درويشی په بر کړه په درگاه به يې د حق تعالی سر د طاعت په مزکه د عجز نهاده کې ... »

**حکمت:** « صاحب رياست ته لازم دی چې هميشه په ملک د خدای فکر کاندي او په گردش د گردون پر انديشه اوسي ... »

**حکمت:** « بادشاهان صاحب نظر (ته) بايده وي چې په استحقاق کې دوا ړو وابسته وو نظر فرمايی او هر يوه وته په قدر د خيل دلداری کاندي او نه غوږ باسي قول د منافقانو.... »

**حکمت:** « مطرب او شطرنج باز او شعبده باز افسانه گوی او په مثل د دې طايفې ، دخل ورته ملوکان په انجمن کې نه ورکوي ، مگر گاه گاه لپاره د رفع د ملالت . »

**حکايت:** « راوړي دي چې شيخ شبلی رحمة الله عليه په مجلس د يوه بادشاه راغی . بادشاه يې وليده چې له وزير سره (يې) شطرنج بازي کوله ،

مشغولوه یې. شیخ وزیر ته وفرمایل پس تعجب دی چې ته می لپاره
د راستی کینبنولی یې او ته بادشاه ته بازي ورکوي.»

پند: «مصلحت د مملکت له پیرانو جهان دیده وو طلب کړی بویه
اوکار دکار زار له ځوانانو نوخېزه وو.»(۸۸)

په دې کتاب کې د مطالبو او مفاهیمو دارائی روش دادی چې
لومړی لارښوونې او هدایات د حکمت او پند تر سرلیک لاندې بیانیږي
بیا دځینو په حکمتونو او پندونو کې بیان شویو خبرو په ارتباط حکایات
هم راوړي. په متن کې استشهادي پښتو او دري بیتونه هم شته.

که څېړې مونږ دپښتو نصیحت الملوک محتوا ته پاملرنه وکړو، نو داسې
ښکاري چې داکتاب به هماغه دامام غزالی(رح) د نصیحت الملوک ترجمه وي،
ځوکه دامام غزالیؒ دکتاب دجوړښت توصیف په پام کې ونیسو، نو باید
ووایو چې دا رساله به دکوم بل نصیحت الملوک ترجمه وي، نه د امام
غزالی د نصیحت الملوک، ځکه په پښتو ترجمه کې نه دبابونو درک شته
او نه د مقدمې. داسې امکان هم شته چې آصف دی ددې کتاب
ځینې برخې راترجمه کړې وي.

ددې کتاب اصل که دهرچا وي، پښتو ترجمه یې غنیمت ده
او په پښتو کې دیو اجتماعي کتاب د اضافي حیثیت لري. آصف چې
کوم وخت دا کتاب ترجمه کاوه، نو افغانانو خپل مستقل دولت درلود
خو ددې دولت د فرهنګي بنسټونو دتقویې، حکامو او امراوو ته
د نیا و اورعایاوو د پالنې او د ادارې دچلونو دښوولو لپاره بنیادي
آصف ددې کتاب ترجمه ضرور بللې وي.

نصیحت الملوک آصف بنایي په ۱۱۹۳هـ ق کال ژباړلې وي، ځکه د

نصیحت الملوک له ترجمې سره مل چې ددهکومه منظومه رساله تحفة العقاید موجوده ده د هغې په پای کې یې د تحفة العقاید رسالې دترجمې کال داسې ښوولی دی :

سن دهجرچې سلیم دی عین وقاف اوصاد اوجیم دی

دا دواړې رسالې : نصیحت الملوک او تحفة العقاید خپله مترجم د تاراګړه په مقام کې کښلې دي . دتحفة العقاید په پای کې لیکي : « به اتمام رسید و (به) اختتام انجامید کتاب تحفة العقاید وکاتبه المصنف عفی الله عنه بروز یکشنبه درمقام تاراګړه »

په لوړه اختتامیه لیکنه کې راغلی تاراګړه هم هغه ځای دی چې رواښاد استاد کامل یې د تاریخ مرصع په نوټو نو ۱۱۳۱ مخ کې موقعیت داسې ښودلی دی: « د تاراګړه کوټ د پیرنګوالي د چنبه د ریاست د حدودو دننه د چنبه نه جنوب مشرق لوري ته او نور پور او مو له تاراګړه جنوب مغرب ته در یاست له حدودو بهر واقع دی ... »

نو په دې صورت کې ویلای شو چې آصف به هغه مهال په هندوستان کې اوسېده او که چېرې د پښتونخوا په سیمو کې په دې نامه کوم ځای وي نو بیا نو دې توجیه داده چې دی به د دې بل تاراګړه وي ؟ ماته سملاسي په پښتونخوا کې په دې نامه کوم بل ځای نه دی معلوم.

د نصیحت الملوک د مترجم آصف په باب سربېره پر دې دا خبره په ډاډه زړه کولای شي چې دی ؑ به تام ختک وي، ځکه خپل آثار یې د ختکو په لیکدود په پاخه نستعلیق خط کښلي دی ، د نثر لیکنې شیوه ، د کلماتو او الفاظو د استعمال روش یې کټ مټ هماغسې دی، لکه په دولسمه پېړۍ کې چې د ختکو دکورنۍ په نورو نثرونو کې مروج و.

له دې سربېره د آصف ماته هماغه آصف خان ختک ښکاري چې

دعبد القادر ختک د دیوان دیوې خطي نسخې پرسرېې په نستعلیق
نرې خط کښلی دی: «ملکیت آصف خان ختک ۱۱۹۰ هق» دا نسخه
چې د ده ملکیت وه، په دې کې د عبد القادر خان ځینو بیتونو ته
پښتو شرحې هم کښل شوې دي، چې په غالب گمان به دا شرحې هم دده
وي. په دې برخه کې یو بل دلیل چې له ماسره شته هغه دا دی
چې ده د خپلې منظومې رسالې (تحفة العقاید) ځینو بیتونو ته هم پښتو
منثورې شرحې لیکلې دي.
(٦) منیر: د مسجع لیکونکیو په ډله کې هم ما دده یادونه کړې
دا ځکه چې ده دکښلي او نظم کړي کتاب صراط المستقیم د دوهم جلد
مقدمه په پښتو مسجع نثر وه.
دا سرې د نظمونو او مسجع نثرونو تر څنگه دختکو د کورنۍ د
نثرونو دخوند او رنگ لرونکی روان نثرونه هم لري. دصراط المستقیم
د لومړي جلد یو بحث په روان پښتو نثر کښل شوی دی. ده دا کتاب د
ختکو په تیرې کې د دولسمې پیړۍ په پای کې کښلی او نظم کړی دی، لکه
چې ویلي یې دي:
په دې دهر کې چې دین دی غریب شوی دولسم صد دیار لسم ته قریب شوی
دا کتاب د دین د اساساتو په باب منظوم بیانونه لري او د نثر کوم بحث
چې یې په لومړي جلد کې راوړی دی، هغه هم دځینې موضوعاتو بیانونې.
د دې نثر یوه بېلگه دا ده:
«په کتاب د شیخ شیوخ شمس العارفین شهاب الدین سهروردی
کې داسې فرمایلي دي چې هرکس چې پس له لمانځه دفجر یو ځل د
اسماء حسنی ختم کاندي زر نور ورند به الله تعالی په هغه بنده له انوارو

د معرفت او هدایت نازل کاندي » (۸۹) .

بله بېلګه :

« حکایت له بایزید بسطامی قدس سره په تذکره کې لیدل شوی چې یوه ورځ (یې) په مجلس ذده کې د یوه شیخ نهایت صفت وکړ، تر هسې حده چې فلانه شیخ نن ورځ عجب په کمال کې یګانه د عصر لیدی شي . تزکیه یې په د اشان ده چې د عید په ورځ په یوه قرص نان جوین افطار کاندي ، تر آینده عیده بیا هم صایم وي . »

(۷) طبی فرهنګ : د پېښور د پښتو اکیډیمۍ په خطي کتابو نو کې په ۷۷٤ نومره یو پښتو طبي کتاب محفوظ دی ، چې ټول مخونه یې ۳۳۲ یا ۳۳۱ دی . کتاب د مرفود کاتب په خط په ۱۳۰٦ هـ ق کښل شوی دی . او د امرفود کاتب هغه څوک دی چې په تېر بحث کې یا ده شوی د افضل خان خټک بازنامه یې هم خطاطي کړې ده .

په دې کتاب کې دارو ګان او دارو بوټي په الفبایي سیستم راغلي دي ، که څه هم په ځینو پټیو کې راغلي داروګان په خپلو منځو کې مردفنه دی . د مثال په ډول : باب الف په اطریلال پیل شوی دی . له اطریلال وروسته یې بیا نور نو مونه لکه : ارغیس ، اپار ، ابق ، ابکون ، ابقر او نور راوړي دی . خو د کتاب بابونه په الفبایي سیستم او ډول شوی دی . که چا د اختیارات بدیعي پښتو ترجمه لیدلې وي او ورسره د انسخه په اول نظر وګوري ، نو ضرور دا ګمان کوي چې دا په د اختیارات بدیعي د پښتو ترجمې بله نسخه وي . همدا علت و ، چې کله اوله لس ا ټکس کاله د مخه ما پښتو اکیډیمی د طبی فرهنګ دا نسخه ولیده ، نو مې دا ګمان شو چې دا به د اختیارات بدیعي بله نسخه وي ، نو چې کله ما د هند د کتابخانو

پښتو خطي نسخې كتاب برابره وه نو مې د هغه كتاب په ۲۸۱ مخ كې دا
وكتل چې د اختيارات بديعي يوه بله نسخه د پېښور په پښتو اكيډيمۍ
كې هم شته . خو دا چې د پاڼو شمېر يې د اختيارات د نسخې له پاڼو لږ
و، نو مې ورسره دا هم كتلي دي چې دا نسخه ښايي نا قصه وي . خو
كله چې ما دا حاضر كتاب كښې نو مجبور وم، چې د پښتو اكيډيمي په كتابخانه
كې دا فرهنګ بيا له سره وګورم . د فرهنګ د پيدا كولو لپاره مې لومړى
د پښتو اكيډيمۍ د خطي نسخو جوړ كړى فهرست وكوت او هغه تشريح مې
هم وكتله چې د نومو ړي كتاب په باب ښاغلي فهرست جوړوونكي
كښلې ده . په فهرست كې د دغه طبي فرهنګ په باب راغلي دي :
«طبي ډكشنري ده چې د هرې طبي كلمې او بوټي په باب بشپړ
او مفصل معلومات لرى ، له كوم فارسي طبي فرهنګ نه ترجمه ښكاري»
د دې خبرو تر څنګه ما دا كتاب له سره وكوت ، خو د دې كتاب
ځينې برخې چې مې وكتلې ، نو مې شك پيدا شو، چې دا به د اختيارات
بله نسخه نه وي، لكه :
« مؤلف د اختيارات وايي ...»، بل ځاى راغلي دي : «صاحب جامع
وايي ...» صاحب تقويم وايي : ګرم او تر وي غوښه ټچې يې وسوځي ايره
شي » ما چې په دې كتاب كې د غسې خبرې وليدې نو بيا مې زړه
دا نه منله چې دا كتاب دې ګرده د اختيارات پښتو ترجمه وي ، بيا
مې چې لږ نور لټون پكې وكړ ، نو دا شك نور هم پياوړى شو، يو ځاى
بل په دې تشريح پېښ شوم :
«جالينوس وايي تخم د بنګو باد دفع كوي او خشكي ډېره لري ، ډېر
خوراك يې آب منى خشك كا . بوعلى سينا وايي خلط بدترې پيدا كېږي

د مشقي وايي گرم دى په اوله درجه او خشک دى . په دوېمه درجه معدې ته ځکنی ورکوي او چمچي د نس مهوي او چې او به يې پوزې ته ناس کا د ماغ پاک کا او نس بندوي او بول جاري کوي. معدې ته بد دى درد سر راوړي ، مصلح يې شراب ليمودى، اسحٰق بن سلمان وايي تخم د ښکو چې ورته کا ضرر يې کم شي او دفع يې د مضرت په سکنجبين قندى سره کا » (۹۰)

دالوړه تونه سرى په دې باوري کوي چې دا به ديوه کتاب ترجمه نه وي او مؤلف له بېلا بېلو منابعو نه په استفاده ليکلى وي، خو ورسره دا هم نسري ته په زړه کې وګرځي چې بنايي اصل به يې په محققانه روش تهيه شوى وى، څوکه سرى دا لاندې عبارت وګوري نو به ورته ښکاره شي چې يوازې دا ختيارات بديعي ترجمه خونه ده ، په همدې فرهنګ کې راغلي دي :

« شحم الارض : صاحب منهاج وايي ينبه ده او صاحب جامع وايي خراطين دى ، خراطين او د سرچمچى دي ، د ولې به غاړه په ختو کې دي ، مؤلف د اختيارات وايي خراطين ته امعاء الارض وايى مذکوريې تېر شوى دى . »

د دې توپونو او شهودې د لايلو سره مې دا هم لازمه وبلله چې د دې کتاب ځينې برخې د اختيارات بديعي د پښتو ترجمې له متن سره مقابله کرم. ماسره چې د اختيارات کومې نمونې وې هغه د دې کتاب د مقدمې او خاتمې وې، د متن يې نه وې. له نيکه مرغه دا استاد رښتين د پښتو نثر هنداره په ۱۳۸-۱۳۹ مخونو کې د اختيارات د متن د وى نمونې خوندي وې، دا دوې نمونې ما د طبي فرهنګ له هغو

برخو سره مقایسه کړې. د پښتو نثر هنداره کې د بادنجان شرح داختیارات بدیعي په حواله داسې راوړل شوې ده: « بادنجان پښتانه یې باتینګن بولي بهتر یې هغه وي چې خوږ او تازه وي، طبیعت یې ګرم او خشک دی » که داتشریح په اختیارات کې همدومره وي، نو په طبي فرهنګ کې یې بیا د بادنجان تشریح داسې کړې ده: « پښتانه یې باتینګن بولي بهتر یې هغه دی چې خوږ او تازه وي طبیعت ګرم خشک دی په دویم درجه چې په غوړو کې ورته کا نس خوږ کا او که په سماق چې پښتانه یې تتري بولي یا په سرکې یې پاخه کا امساک راوړي او دردمعده او د خاصره یعنې د مقعد ترې پاڅي او سر او ستر ګو ته زیان او بواسیر پیدا کوي او توره وینه حاصلوي او سودا پیدا کوي او سره یعنې غوښه په نس کې راوړي او رنګ توروي. شیخ الرئیس وایي باسي بد دی تا زه نقصان نه لري له باسي نه جزام یعنې پشک او دردسر او بې خوابي پاڅي او علت د سرطان او د کلف یعنې ترسیرې او سده دینې راوړي او که مبني پاخه کا سره دینې بې انزي او کل د باتینګن چې ... وچ کا او میده کا په بواسیر پورې کا نهایت نافع دی او که زېږ باتینګن دالیسې په غوړو کې پوخ کا له هغو غوړو موم روغن سان کا) په لاس او په پښو چې شقاق وي یعنې چاود وي پورې کا نهایت نافع دی او که ګل د باتینګن او برابر روغن د ترخه بادام سره وټکوي او په بعضو کې د بنفشه واغزي، په زخمه یې پورې کا له ویخه یې وکاږي. بهتر دا دی چې په ملکوبي کې خو یشته کا بیا یې سپین کاد کونځلو په تېلو یا په روغن بادام کې یې ورته کا.....»

د بادنجان داتشریح که له هغې تشریح سره چې استاد رښتین د اختیارات په حواله داوړې سره وګوري نو څرګندېږي چې په دې

تشریح کی دبرخه او دبری خبری داسې دي چې هغه په اختیارات کې نشته .

استاد رښتین له اختیارات نه د بابونج اوږده شرح هم په (پښتو نثرهنداره) کې راخیستې ده . ما داشرح په طبي فرهنګ کې د بابونج له شرحې سره وکتله ، دواړې شرحې ترزیاته حده یوشی دي ، خو د فرهنګ شرح په بای کې ځینې اضافي خبرې هم لري .

ما ته دمتن له کتنې او د اختیاراتله ځینو برخو سره له مقایسې داسې څرګند ېږي چې ددې طبي فرهنګ اساس د اختیارات بدیعي پښتو ترجمه ده . مؤلف داختیارات بدیعي د پښتو ترجمې پتول نه ، بلکه ځینې طبي داروګان او بوټي راخیستي او داختیارات له معلوماتو سربېره یې ځینې نور معلومات ورسره مله کړي دي اویو بشپړ د استفا دې ور طبي کتاب یې ځنې جوړ کړی دی . داکار بنا یي داختیارات مترجم کړی وي او یا بل چا ، په هرصورت طبي فرهنګ د پښتو په منثورو آثارو کې دلرغوني طب په باب یو ځانګړی اثر دی چې معلومات او اطلاعات یې له دبرو معتبرو زړو طبي آثارو څخه اخیستل شوي دي . خو بیا هم د اختیارات له نسخې سره ددې فرهنګ دیوې عمومي کتنې ضرورت لا نه دی مرفوع شوی .

(۸) خانزاده شیرعلیخان اوده مجمع الانساب : کوم پښتو منثور آثار چې ما کتلي او یا تر اوسه را ته ښکاره دي ، په هغوکې دخانزاده شیرعلیخان خټک مجمع الانساب وروستی اثر دی چې دخوشحال دنثرلیکنې د سبک اثرات پکې ښکاري .

خانزاده شیرعلیخان (۱۲۵۸ - ۱۳۲۳ هـق) دشاهدادخان زوی

دی چې اتم پښت کې خوشحال خان ته رسېږي . ده په پښتو، دری او اردو ژبو د مجمع الانساب په نامه یو کتاب کښلی دئ او د ختکو د خانانو او د خپلې کورنۍ حالونه او شجرې یې پکې راوړې دي (۹۱)
ده د مجمع الانساب په مقدمه کې د خپل نیکه افضل خان ختک د تاریخ مرصع یادونه کړې ده او دایې ویلي دي چې په دې تاریخ کې زموږ د کورنۍ نسب نامه په تفصیل سره بیان شوې ده، خو داچې له هغه وخت نه وروسته نور ډېر کسان پیدا شوي او مړه شوي دي او مختلف واقعات پېښ شوي دی، نو ځکه یې د دې خبرې اړه محسوس کړه چې دا نسب نامه ولیکي .
د دې د یادونې یو ځای وایي : « پس له دا سبب به ډېر کوښښ او محنت سره دا نسب نامه جمع کړی شوه په هسې مضمون سره چې انشاء الله له ابتداء د خان مرحوم چې مصنف د کتاب دی تر موږه پورې چې اووه اته پېړه تېرې دي هیڅ قدر یې تغیر او نقصان راغلی نه وي..»
خانزاده شېرعلیخان په خپل مجمع الانساب کې د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان ختک او ده د اولادونو په باب لیکي : « محمد افضل خان چې زموږ په خاندان کې په خان مرحوم سره مشهور معلوم دی ورته خداوند تعالیٰ اته فرزندان عنایت کړي وو، چنانچه سعدالله خان، کاظم خان له یوې موره محمد علی خان، حسن علی خان له بلې موره، عبید خان، محمد عماد خان له بلې مور. محمد اشرف خان له بیلې موره . په دوی کې سعدالله خان مشرؤ او س په شهید خان سره مشهور دی ... » (آواره شیدا، ۷۷ مخ)
تر دې ځایه ماته معلوم هغه پښتو نثر لیکونکي وښودل شول چې زما په پوهه یې په نثر لیکنه کې د خوشحال د سبک پیروي کړې ده .

بنا يې دا دول کسانو نو هم وي او وروسته څېړنو څخه نور داسې آثار ترلاسه کړي چې د دې سبک د پلويانو او پالونکو شمېره پرې نوره هم زياته شي.

## د فرهنګ پرورده د دغه سبک د پلويانو د آثارو اغېزې :

پښتو نثر ليکندې چې خوشحال بابا د کوم سبک تا داو ايښی دی او نورو فرهنګي څېړنو کې د ده د سبک په نامه مشهور دی ، ابتدا يې غالبًا د يوولسمې هجري پېړۍ له دوهمې نيمايي نه کېږي ، دا سبک د ده زامن، لمسي ، کړوسي او نورو پښتانه ليکوال منلي او پيروي يې کوي.

د پښتو کوم منثور آثار چې ما ليدلي دی په دغو آثارو کې زمانه پوره د دې سبک د پيروۍ څرک آن تر څوارلسمې پېړۍ پورې سره ايستلی شي . داسې ښکاري چې د دې سبک يوولسمې پېړۍ له دوهمې نيمايي نه ان تر څوارلسمې هغې پورې پلويان پيدا کړي دی او ځينو ليکوالو دا سبک پاللی دی ، چې ما لنډه يادونه په تېر بحث کې وکړه .

د خوشحال نثر ليکنې د سبک په پيروۍ ليکل شوې او ترجمه شوي آثار د پښتو د نثر په تاريخ کې ځانګړي مقام او پېر او حيثيت لري، او د فرهنګ پرورده يې اغېز منې ، داسې بېلولای شو :

(۱) په دې سبک چې کوم آثار ليکل شوي او ترجمه شوي دي په موضوعي لحاظ زياتره اجتماعي، ديني، تاريخي ، د ښکاري مرغانو روزنه ، حکايتې او طبي آثار دي ، چې ځينې موضوعات يې ډېر نوي او په د مخنيو پېر اوونو کې ساری نه لري . ځينې داسې آثار هم پکې شته چې په خپله نوعه کې بې جوړې آثار دي ، نېوازې

په پښتو ژبه آثاروکې يې بله نمونه نلري ، بلکه دشرق په کلاسيکو آثارو
کې د ودريدو جوګه آثار دي ، لکه : دستارنامه .
لنډه دا چې د دې پړاو منثور آثارو پښتو نثر ته موضوعي وسعت
ورپه برخه کړې دی .

(۲) په دې پړاو کې د ليکلو آثارو ترڅنګه ، ترجمو ته ډيره توجه
ليدل کيږي . د ترجمې اصل ته توجه دا فضل خان خټک له فرهنګي
هڅو سره نيغه اړه پيدا کوي .

د دې پړاو د آثارو له مطالعې ښکاري چې افضل خان خټک ته
د خپلې ژبې علمي فقر ورمعلوم و او ده چې د دې فقر د له منځه وړلو
لپاره کومه مبارزه شروع کړې وه ، دا مبارزه د ترجمې پر محور چورليده .
له اسنادو ښکاري چې افضل خان ته دا خبره څرګنده وه چې ترجمه
د يوې ژبې د علمي غنا په برخه کې څومره ډېر رول لري او ژموږ کاوندي
فرهنګونو له دې اصل نه څومره استفاده کړې ده . په همدې بنا د ده
غوښتل چې د ترجمو له لارې د نورو ژبو او فرهنګي علمي تجربې ، اطلاعات
او معلومات خپلې ژبې او خپلو خلکو ته را نقل کړي او هم له دې لارې خپل
فرهنګ ښه اې کړي .

(۳) د دې پړاو د آثارو مطالعه لوستونکی ته دا هم ښيي چې د
فرهنګ سرپرستي او د يو مشر له خوا ژبې ته توجه ، که دا توجه د محلي
رياستي مشر له خوا وي او يا د يو هېواد د مشر له خوا د ژبې او فرهنګ
په وده کې څومره مؤثريت لرلی شي ؟

دافضل خان تر سرپرستۍ لاندې چې کوم پښتو منثور آثار د ترجمې
او تأليف له لارو را مينځ ته شوي دي . د کميت په لحاظ د پښتو په

قديم فرهنګ کې بې جوړې دی، کیفي خوا يې هم دهغه عصر له غوښتنو سره سم داعتنا وړ ده .

د لته دا یا دونه ضرور کوم، چې ښايي په آینده کې موږ ډېر نور داسې آثار ومومو چې د دغه پښتانه مشر فرهنګي هڅو را ژېړ ولي وي.

(٤) ددې پړاو آثار داهم راښيي، چې داوخت په پښتنو کې د ژبې او فرهنګ خواته توجه پیدا شوې وه او دا هیله د ځینو پښتنو په زړونو کې تانده شوې وه چې پښتو او پښتانه هم باید په فرهنګي ډګر کې له نورو ژبو او قومونو سره لږ تر لږه په یوه لاره یون وکړي. له بلې خوا دا هیله او دا ذوق دا هم را څرګندوي چې په هغه وخت کې به دکتاب د لوستونکو شمېره هم په پښتنو کې زیاته شوې وه او سواد به څه عمومیت پیدا کړی و.

(٥) که څه هم تر دې پړاو د مخه موږ د مسجع نګارۍ په پړاو کې هم د حکایتي ژانر ځینې نمونې لرو، خو دا نمونې زیاتره دیني دی او د پیغمبرانو په ژوند اړه لري. په دې پړاو کې پښتو حکایتي ژانر په دوو استقامتونو کې د پرواز لپاره خپلې وزرې پرانیځي :

الف : د ترجمې له لیارې د سنسکریتي حکایتي آثارو مشهور کتاب پنجاتنترا پر بنیا د جوړ شوي عیار دانش په پښتو ترجمه شو. ددې کتاب حکایات، که له یوې خوا د لوستونکو قصه لوستنې ذوق تسکینوي ، له بلې خوا د حکایاتو تربیتي او رزنیز اړخ هم د ډېر ولو نه دی، ځکه ددې اثر سرګډ سره پر یوه اجتماعي نتیجه بنا ده او دانسان په روزنه کې خپله خاصه ارزښتمني لري.

ب : په دې پړاو کې دآدم خان درخانۍ د کیسې لیکنې منثور وریانت یا وریانتونه موجودیت موږ په دې باوري کوي چې داوخت پښتانه لیکوال

دې خبرې ته متوجه شوي وو چې دخپلو شفاهي ادبياتو له سرشارو زخيرو د تحريري ادبياتو تشه ځولۍ هم ډکه کړي او د خپلو ليکنيو ادبياتو په غنا کې له فولکلور نه هم کار واخلي .

(٦) د دې پړاو په آثارو کې د ادبياتو له او سنيو تعبيرونو سره سم دادبي ارزښتونو څرک پوازې سره په حکايتي آثارو او يا د دغه پړاو په ځينو کتابونو کې راغلي حکايو کې ليدل کېدلای شي ، نور کتابونه اکثر علمي ارزښتونه لري او د علمي نثر کټيګورۍ کې يې سره درولای شي .

(٧) په دې پړاو کې شامل آثار ځيني د ختيځو له خوا کښل شوي او يا ترجمه شوي دي . په دې آثارو کې د ختيځو د لهجې استعمال په خورا اهتمام شوی دی . ځيني لغات ، ژبنۍ محاورې ، اصطلاحات او ترکيبونه د همدغې لهجې مطابق پکې راغلي دي .

هغه ژبپوهان چې د پښتو تاريخي ګردود پوهنه څېړي ، هغوی د کرلانيو او بيا په زياته د ختيځو د لهجې په څېړنه کې له دغو منثورو آثارو ډېره ښه استفاده کولای شي .

له دې سربېره د پښتو نثر هغه غني ذخيره چې مونږ په دې پړاو کې لرو د پښتو لغاتو او ګرامر له پلوه هم ځيني خاصې ځانګړتياوې لري . د پښتو لغاتو څېړونکي او په پښتو کې د ارکايېزم او هستوريزم څېړونکي هم ترې د زړه مرادونه حاصلولای شي .

(٨) په دې پړاو کې د پښتو ملي حماسه آدم خان درخانۍ د کاغذ پر مخ کښل کېږي او په ليکلي نثر کې لومړنۍ حماسه له همدې عصر سره اړه لري .

# د هوتکو غورځنګ او په پښتونش لیکنه کي دیو نوي سبک تبارز:

د دولسمي هجري پېړۍ د دوهمي لسیزي په وروستیو کلونو کي که له یوې خوا د ېخوالي افغانستان په شرقي پیڅوکي دیو پښتني ریاست پښتانه مشر افضل خان خټک د خپل ریاست د چارو د سمبالولو ترڅنګه د پښتني فرهنګ د غنا لپاره هم هڅې کولې، نو له بلې خوا د هغه د تاریخي خو دېر دو ترمینځ وپشل شوي هېواد په جنوب غربي پیڅه کي یو بل پښتون مشر لګیا و د افغاني قوموتو مشران یې سره راټولول، جرګې یې کولې او هوښتل یې خپله سیمه او خپل خلک د ملت د اتحاد له لیاري د پردو له تسلطه وژغوري. دوی دا وخت تر ټولو د مخه په دې فکر کاوه چي څنګه د افغانستان په دې برخه کي د پردو تسلط ته خاتمه ورکړي او د خپل واک خاوندان شي.

دا افغان مشر حاجي میرویس خان هوتک افغان و چي په ۱۱۱۹ هـ ق کال کي یې پر کندهار د پردو تسلط ته خاتمه ورکړه او د تاریخي افغانستان پر دې سیمه یې د خپلواکۍ بیرغ ورپاوه.

پر کندهار د هوتکو ملي حکومت د میرویس نیکه تر مړینې (۱۱۲۷ هـ ق) وروسته د ده په کورنۍ کي پایښت وموند او تر ۱۱۵۰ هـ ق کال پوري یې دوام درلود. دا افغانانو د دغه ملي حکومت حدود د میرویس نیکه د اولادونو د پاچهیو په دورا نونوکي د پر پراخ شول. د تاریخي افغانستان د ننه په غرب کي تر هراته او په بله خوا کي تر کوټې او له هغه ځایه تر دېره پوري ورسېدل او د ۱۱۳۵ هـ ق شا وخوا یې د نفوذ ساحه د افغانستان

له عربي ساحو ور واو ښته او د اوسني ايران ځمکې پې هم لاندې کړې.

د هوتکو غورځنګ د افغانانو د ملي حيثيت دا عادې تر څنګه د فرهنګ

مؤسسې ته هم جدي توجه درلوده. استاد وا ښيي چې د هوتکو کورنۍ په

دې پوهېده چې د يو حکومت د ملي او سياسي بنسټونو د ټينګښت لپاره

د فرهنګ پشتوانه ډېره ضروري ده، نو ځکه دې کورنۍ فرهنګ ته هم

توجه وکړه. د دې کورنۍ ځيني نراوښځې خپله له فرهنګ سره مسلک کسان

وو. د نيکه مور نازو انا، خپله ميرويس نيکه، فرهنګيالۍ زوی يې

شاه حسين هوتک او بهادره لوريې بي بي زينبه ګرده شاعران وو.

د دربار اړکان يې علم دوست خلک او خپله هم شاعران وو.

د هوتکو دکورنۍ تر سرپرستۍ لاندې چې پښتو ته کوم کارونه

شوي دی هغه د يو منظم غورځنګ په بڼه د پښتو د ادبي تاريخ په

مطالعاتو کې ځيل ځای لري.

زه په دې بحث کې د هوتکو دکورنۍ د فرهنګي فعاليتونو پر يو

اړخ خبرې لرم. زما د مطالعاتو له مخې د هوتکو دکورنۍ د فرهنګي

فعاليتونو تر اغېز لاندې يو ډول نثرليکنه رواج شوه چې د خپلو

ځانګړنو له پلوه يې موږ يو نوی سبک بللای شو. د دې سبک د شکلي

جوړښتونو ساری په د مخنيو نثري سبکونو کې نه ليدل کېږي.

د انوی سبک زما په پوهه د لاندې ځانګړتياوې لري:

(۱) د دې سبک د نثر په شکلي جوړښت کې اصلي بنسټ اېښودونکی

د پښتو د شفاهي نکلونو او ټانې ته توجه کړې ده. په دې سبک کې

ليکل شوي تر اوسه معلوم لومړنی کتاب جوړښت داسې دی چې په هغه

کې د پښتو د ځينو جنګونو رزمي کارنامې په حکايتي شکل بيان شوي دي.

او په منځ کې یې منظومې هم دی ، چې دا جوړښت زموږ له شفاهي نکلونو سره یوشانوالی ښيي .

دلیکنی د اروش په دې سبک پورې مربوطو ځینو آثارو کې موږ یالل شوی دی خو ځینو نورو بیا د خپلو آثارو دلیکنې سبکونه تألیف د وخت په پام کې معیار کړی دی، خو عامی ځانګړتیاوې یې په دې سبک کې شاملېږي .

(۲) زما په پوهه دا سبک ډېر سیمه ییز خصوصیت لري . ددې سبک آثار دغا جو پښتنو قبایلو د لهجې ژبه ځانګړې د انغاړي او له ځینو مواردو پرته د دې سبک په آثارو کې د پښتنو د نورو لهجو اثرات ډېر نه ښکاري .

(۳) د پښتو نثر په تاریخ کې سربېره سبک لومړنی سبک سره بللی شي چې د خلکو د ویک ژبې په لیکنو کې ډېره استعمال کړې ده . د پښتو نثر لیکنې په دوهمه دوره کې تر دې سبک د مخه د بازګشت په جریان کې او د خوشحال بابا د سبک په ځینو آثارو کې د خلکو ورځنی محاورې استعمال ته توجه شوې ده ، خو دا توجه د هوتکو د پاچهۍ تر سرپرستۍ لاندې فرهنګی بهیر نه رازېږدلی نثر کې ډېره څرګنده د یادونې او منلو وړ ده .

(٤) د دې سبک تابع آثار په لوړه کې دغه دریځ کوتې یادی شوي ځانګړتیاوې لري ، خو دا چې کینوونکي یې زیاتره لوستي خلک دي ، د نورو ژبو آثار یې هم لوستي دي ، نو ښایې دی د دې سبک د ځینو آثارو په جمله بندیو ، د ژبنیو او لغوي جوړښتونو له پلوه د نورو ژبو اثرات هم لیدل کېږي . خو دا اثرات د پښتو نثر د مخینو پړاوونو او سبکونو په پرتله ډېر لږ دی .

(٥) د دې سبک په تابع آثارو کې « پټه خزانه » یو داسې کتاب دی چې د نثر لیکنې د شیوې ځانګړي اثبات یې موږ په کندهار کې

په دولسمه پېړۍ کې د اوسېدلو نورو پښتنو پر لیکلو نثرونو هم لیدلی شو.

موږ په پېړۍ وچې زموږ مشرانو فرهنګیانو د هوتکو په فرهنګي بهیر کې د نثر لیکنې د پیداښت سبک مؤسس د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک بللی دی او د ده د پټې خزانې له مخې یې د دغه سبک ځانګړتیاوو ته تیوري جوړه کړې ده. زموږ مشرانو لکه: استاد حبیبي، استاد خادم، استاد الفت، استاد رښتین تر او بیا د دوی په پیروۍ د پښتنو د سیمو څېړونکو لیکوالو ته نور اسناد نه وو معلوم او یا دا چې نه وو کشف شوي، نو ځکه د وی د هوتکو د فرهنګي غورځنګ معلوم نثر نګار همدا محمد هوتک بللی دی. اما وروستیو څېړنو او پلټنو ثابته کړه چې د هوتکو د پاچهۍ کورنۍ د فرهنګي هڅو تر اغېز لاندې چې د نثر لیکنې کوم جریان پیل شوی دی، د تر اوسه ښکاره اسنادو له مخې د دې جریان پیلامه محمد هوتک نه ده کړې، بلکه یو داسې چا کړې چې له محمد هوتکه د مخنی دی. د ده لیکلی منثور کتاب اساس ګڼل کېږي او د محمد هوتک پرې پسې راځي.

دا سړی چې موږ یې د هوتکو په دوران کې د پښتو نثر لیکنې د یو ځانګړي سبک مؤسس بولو، محمد امین سرپړکی نومېږي چې له مرانیو غلجیو کوچیانو څخه و. اوړی یې په غونډان، کلات او غوره مرغه کې تېراوه او ژمی به واهې او د برو ته کوچېده. د ده د زوکړې نېټه ۱۰۹۹ هـ ق کال ښودل شوی ده. نوموړی د شاه محمود هوتک له لښکرو سره اصفهان ته تللی او له بېرته راتګ سره سم یې د اصفهان نیولو او د محمود د جګړو کیسې په یو کتاب کې په پښتو نثر کښلې دی. کتاب د واقعاتو د بیان په ترځ کې منظومې نارې هم در لودې او د ده د خپل کتاب د ادانې په اوږدو کې همدغه د پښتو شفاهي نکلونو جوړښت

په پام کې و.

محمد امین سرپیکری په ۱۱۷٤ هـق کال وفات شوی دی (فرهنګ زبان وادبیات پښتو ۸/۲۰۹). د محمد امین سرپیکري دکتاب یادونه او نمونه دده د زوی حافظ نورمحمد د خدیمه په نکل کې راغلې ده. ددې قصې یوه نسخه اروا ښاد میرحمید رصاحبزاده (۱۳۱٤-۱٤۰۷ هـق) ښاغلي رفیع ته ورکړې وه.

د خدیمه د نکل له مقدمې ښاغلي رفیع ځینې یادښتونه په ږبې (الخبار) کې خپاره کړل او د حاجي محمد امین سرپیکری دکتاب «جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان» په باب یې بله مستقله مقاله هم ولیکله چې په تاریخي پلټنې کې خپره شوه او په دې توګه د محمد امین سرپیکري نوم او کتاب پښتو څېړونو ته راغی. خو د پښتو نثر کوم مستقل آثار چې ددې مقالې تر نشره وروسته خپاره شوي دي ددې لرغوني پښتو منثور اثر یادونې نه ده کړې.

ددې کتاب بشپړ متن تر اوسه نه دی کشف شوی، بلکه د محمد امین سرپیکري د زوی حافظ نورمحمد دخدیمه د نکل د مقدمې له مخې مونږ له دې کتابه خبرېږو. دی وایي:

«ده مبارک چې حال ددې جګړې په خپله لیدلی و، نو یې یو وړوکی کتاب په ژبه خوږه د پښتو کې په حال ددې جګړې کې لیکلی و او نوم ددې کتاب جګړه د محمود افغان نیول د اصفهان دی. حق دا دی چې ډېر ښه او رښتینی بیان دی او دا کتاب په زړو د پښتنو لهجه د بدلو د قومونو قیمتي دی او نو ښځې او کم ولوی یې خوا شتي دي ....» (۹۲).

د دې کتاب (جګړه د محمود افغان اونیول د اصفهان) دوې جملې حافظ نورمحمد د غځدي د نکل په مقدمه کې را غیستې دي. د غځدي د نکل په مقدمه کې را غلي دي د ه مبارک لیکلي وو: «زه په دې غزا کې شپږ د برش کلنی وم د جنګ په فنون او فتورونو کې ګرندی وم.»

دا دوې جملې ما د غځدي د نکل د هغه متن له مخې وکښلې چې نسخه یې د حبیب الله رفیع په کتابخانه کې خوندي ده. د سنا غلي شېرین ناصر په ضبط کې دا دوې جملې داسې دي: «زه په دې غزا کښې شپږ د برش کلنی وم د جګړې په فن او د تورې په وهن کې ګرندی وم»(۹۳)

د دغو جملو روانې او خوږ والی مونږ په دې باوري کوي چې (جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان) نومي کتاب په روان نثر کښل شوی و او د نثر لیکنې کوم روان او د خلکو د ژبې پربښتۀ ولار سبک چې د هوتکو په دوران کې را پیدا شو تر اوسه معلوم پخوانی کتاب یې همدا د محمدامین سرېړېکړي جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان دی.

تر محمدامین سوړېکړي وروسته بل سړي چې د هوتکو له دربار سره تړلی و او په پښتو نثر اثر څُښي پاته دی، هغه محمد هوتک (۱۰۸٤ هـ ق زوکړی) د داؤد خان هوتک زوی دی، چې د شاه حسین هوتک د دربار منشي و او دده په غوښتنه یې پټه خزانه کښلې ده.

پټه خزانه د پښتو شاعرانو یوه عادي او کوچنۍ تذکره ده چې د ده د پلار په شمول تر پنځو سو زیاتو شاعرانو لنډ احوال او د کلام څه نمونې یې خوندي شوي دي.

دا تذکره د پخوانیو څُینو تذکرو په دود یوه مقدمه، درې برخې او یوه خاتمه لري. په مقدمه کې لیکوال د کتاب د تألیف

اسباب ښودلي او په متن کې چې په دریو برخو ویشل شوی دی، په لومړۍ خزانه کې لرغوني شاعران د کلام له نمونو سره معرفي کړي دي، چې تر ټولو پخوانی شاعر یې امیر کروړ سوری (۱۵۴ هـ ق) دی او نور یې د دریمې، څلرمې، پنځمې او را وروسته پېړیو دي ان تر یوولسمې هجري پېړۍ. په دې خزانه کې رحمان بابا (۱۱۲۸ هـ ق) یوازینی شاعر دی چې د دولسمې پېړۍ په دریو لومړیو لسیزو کې یې ژوند کړی دی.

دوهمه خزانه یې د مؤلف د معاصرو شاعرانو د احوالو او آثارو په معرفۍ کې کښلې ده او دریمه خزانه یې د شپږو تنو ښځمنو شاعرانو لنډ احوال او د کلام نمونې خوندي کړې دي.

په خاتمه کې یې د خپل پلار او خپل ځان په باب څه معلومات راوړي دي.

د دې کتاب په تألیف په ۱۱۴۱ هـ ق کال پیل شوی دی او په ۱۱۴۲ هـ ق کال کې یې مؤلف له تالیفه فارغ شوی دی.

د دې کتاب یوه متأخره نسخه چې په ۱۳۰۳ هـ ق کال په کوټه کې د حاجي محمد اکبر هوتک له پاره محمد عباس کاسي کښلې ده، موږ ته رارسېدلې ده. دا نسخه ارواښاد استاد حبیبي پیدا کړه او بیا په ۱۳۲۳ هـ ش کال د نوموړي استاد حبیبي له تحشیې، تحلیق او دري ترجمې سره د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوه.

د پټې خزانې په لیکلو کې مؤلف له لیکلو آثارو، روایاتو او هم له خپلو مشاهداتو او مستقیمو نقل قولونو نه استفاده کړې ده. مؤلف خپل مآخذ ښودلي او په دریو برخو کې یې د راویانو نومونه هم یاد کړي دي.

د پټې خزانې په مستقیمو مآخذو کې: لرغوني پښتانه، بستان الاولیاء

کلید کامراني، مخزن افغاني، د محمدرسول هوتک بیاض، غزنهنت نامه،
دځینو شاعرانو دیوانونه اونور شامل دي.

د پټې خزانې مؤلف چې په خپله تذکره کې خپل مآخذ په کوم دول
ښودلی اویا له روایاتو اومشاهداتو یې چې په کوم روش استفاده
کړې ده، هغه په شرقي فرهنګ کې د تذکره نګارۍ له معمولي عنعنې
سره کوم توپیر و نه لري او دا تذکره سرې له دې جهته له لرغونو
او وروستیو تذکرو سره د مقایسې په نتیجه کې په منه معیارکې ارزیابي
کولای شي (۹۴) او سړي ته دا معلومیږي چې محمدهوتک په شرقي
فرهنګ کې د تذکره نګارۍ له معمولو عنعنو خبرو.

د پټې خزانې ارزښت او اهمیت څو اړخیز دی. د دې کتاب اطلاعات
اومعلومات د پښتنو د فرهنګي تاریخ، د پښتو د ادبیاتو تاریخ، د پښتنو د
نظم اونثر تاریخ لپاره ډېر ګټور معلومات وړاندې کوی او موږ د
خپل لرغوني ادبي تاریخ مانۍ د رغون بنسټ د همدې کتاب پر محتویاتو
ږدو. له فرهنګی مسایلو سربېره د پټې خزانې له محتویاتو ځینې داسې
نکات هم ترلاسه کېږي چې له ټولنیزو مسایلو سره اړه لري او هغه د استاد
الهام خبره: «په پټه خزانه کې ټولنیزې پېښې، ټولنیز تضادونه، ټولنیز
او سیاسي هڅې او ارمانونه د سړیو په شخصیتونو، کړو وړو اوشعرونو کې
انځور شوي دي.» (۹۵)

دلته باید دا خبره هېره نکړو چې په پټه خزانه کې تېروتنې هم
شته. د دې تېروتنو په باب دا خبره ګول ضروري ایسي
چې دا تېروتنې به د چا وي؟ له مؤلفه به پاتې وي اوکه به له کښونکو
پېښې وي. ځینې خو یې یقیناً د کښونکو دي، اما که چېرې موږ دا

تېر وتني پوړلې د محمد هوتک هم وبولو، نو دا د نورو ژبو په پرتله لږ ډېر حتی که د پښتو له معاصرو تذکرو سره یې هم وګورو، نو را ښکاره به شي چې زمونږ معاصرو تذکره ګارانو په شلمه پېړۍ کې د دوه تېروتني کړي دي چې په دولسمه پېړۍ کې دا وسېدلي محمد هوتک هغې په تناسب کې په نشت شمار دي .

د مثال په د ول مايه خپل یو اثر د پښتو د ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیا به کې لومړی فصل د پښتو تذکرو پر پېژندنه او ارزیا به کښلی دی (۳۳ - ۱۹۸ مخونه) په دې فصل کې په ټولو تذکرو کې ما ته معلومې تېروتني سنوول شوې دي ، په دې ارزیابۍ کې د زیاترو پښتو تذکرو تېروتنې پر پټه خزانه څو چنده زیاتې دي .

د لته باید یوه خبره زه وکړم چې دا تذکره په خپل وخت کې یعني په لومړي چاپ کې نقد نه شوه او چاپر دې تذکره علمي نقد (البته نقد د یو اثر د جعلي ثابتولو معنا نه لري) و نه کړ . وروسته که چا د دې تذکرې تېروتنو ته ګوته نیوله ، هغه ته د مرتد په سترګه کتل کېدل او نورې تاپې پرې هم لګېدې . زمونږ دغې ډلې مشرانو لیکوالو تر بنا یې نه وه معلومه چې په تاریخي آثارو کې د غلطیو ښوول ، د دې آثارو بې اعتباره کولو معنا نه ښندي . پر آثارو نقد پر همدې بنا کېږي ، چې که ه او کوته یې سره بېل شي ، لوستونکیو او څېړنکیو ته لاښوونه وکړي ، چې دا اثر له ښو خبرو کته واخلي او له تېروتنو یې ځان د ژغوري .

د پټې خزانې نه نقد دې ته زمینه مساعده کړه چې ځیني داسي نقدونه پر و شي چې له یوې خوا له علمي موازینو سره سمون ونلري او له بلې خوا یو مخ یې کتاب د جعلیت (۱) تاپې ولګوي .

په دې ارتباط یوه توضیح یا دونه زه داهم کوم چې دپټې خزانې د کشف له وخت سره مصادف غالباً دکابل دپښتنو په فرهنګي حلقوکې دا ډول یوه نظریه وه چې پخواني له نقده ماوراء دی. دروانې هجري شمسي پېړۍ دشلو کلونو په لومړیو کې (۱۳۲۲ هش کال) د ترین په نامه یو لیکوال دپښتو پر نهه شاعرانو خوشحال، رحمن بابا، حمید او شیدا یو نقد کړی واو دا نقد په انیس کې خپور شوی و. زموږ کوم پښتانه لیکوال چې هغه وخت په کابل کې اوسېدل ټولو ددې لیکوال دنقد جوابونه برابر کړل او هغه یې سپک سپاندکړ. دجوابي لیکنو په لړکې د پټې خزانې د محشي، مقدمه لیکونکي او مدون دجوابي مقالې عنوان و: (آیا حق لرو چې پر پخوانیو تنقید وکړو؟» (۹۶)

له دې عنوانه نه دا اټکل کوم چې استاد حبیبي او دده نورو رفیقو ملګرو هغه وخت پر پخوانیو نقد کول جایز نه بلل او په همدې علت به یې دپټې خزانې محتویات هم په پټو سترګو منلي وي.

دهوتکو په دوران کې دپښتو نثر لیکنې پر ځانګړي سبک د کښل شویو آثارو په لړکې پټه خزانه یو بشپړ کتاب دی، چې د شاعرانو د کلام له نمونو سربېره د دوی احوال په پښتو روان نثر یکې کښل شوی دی او د هوتکو دورې دنثر لیکنې دځانګړي سبک یوه برخه دې کتاب را خوندي کړې ده.

د پټې خزانې پر نثر د خبرو لپاره موږ اړیو ددې کتاب دنثر یوه نمونه انتخاب کړو. په پټه خزانه کې راغلي دي:

«... په کال سنه ۹۲۹ هجري یې یو کتاب په شعر نظم کړ چې نوم یې دی غرغښت نامه، دا کتاب چې ما ولیدی شیرین بیتونه

په مثنوي لري او غړغښت بابا قدس الله سره الکريم حکايات اوله رشتينو خلقو يې روايات راجمع کړي دي. دغه کتاب زماپلار په توبه کې ميندلى واو زموږ کهول کې موکوچنيو او زنيو په سبق لوست»(۹۶)

د پټې خزانې دالوړ تذکره اونورو بوخې چې سړې ولولې، نو له ورايه ورته ښکاري چې له عامه محاورې او په کندهار او شا وخوا سيمو کې د ښتنو له مروجې روزمره پښتو وينا وو زيات اغېزمن دى، او ځاى نيم يې دغلجيوالې لهجې اثرات هم پکې شته، لکه په لوړ اقتباسي برخه کې د «زنيو» ويې چې غلجي يې دغسې تلفظ کوي او موږ يې داستعمال دغسې موارد د غلجيو پښتنو له خوا په کبنل شويو نورو منثورو ليکنو کې هم ميندلاى شو. اما دده مطالعې او له نورو ژبو سره اشنائي کله دده پر نثرخيل ځان ښکاروي او په ځينو برخو په ژبانه مقدمه کې يې جملې او داداء روش د نورو ژبو ښتونه منې.

د محمدهوتک نثر ليکنه زموږ مشرانو څېړونکيو زيا تروستايلې او دا نثر يې عام فهم، روان او ساده بللى دى، چې ابهام نه لري او پيچلى نه دى. ما د محمدهوتک ژوند او مزار(۹۸) نومي رساله کې د پټې خزانې دنثر دخصوصياتو دڅرګندونې لپاره د څېړونکيو نظريات راوړي دي او دا ترې ښکاري چې دا نثر زموږ د پوهانو د توجه ورو. ادبپوهان په دې عقيده دي چې د پټې خزانې دنثرسبک د ختکو له سبک نه هم ځينې خاص امتيازونه لري.(۹۹)

د دولسمې پېړۍ په حدودو کې موږ په کندهار کې ځينې نور نثرونه هم ګورو، چې دا نثر و نه ظاهراً د هوتکو له ادبي دربار

سره د تېرلي فرهنګي جريان تراغېز لاندې نه دي راغلي شوي، خو د ليکنې سبک يې هغه ښېګڼې او خوږوالی نه لري، لکه محمد هوتک د پټې خزانې نثرونه.

د دې لړۍ په نثرونو کې ماته دوه اثره معلوم دي:

(۱) د حميد د شعرونو منثور شرح: د افغانستان د ملي آرشيف په خطي کتابونو کې چې د حميد د ديوان کومې خطي نسخې محفوظې دي، په هغو کې دوې نسخې داسې دي چې څينو بيتونو ته يې په پښتو روان او د کندهارۍ لهجې تابع نثر شرحې کښلې دي. ما چې کله د حميد د ديوان تحقيقي متن چاپاوه، نو مې د دې متن په مقدمه کې دا دواړې شرحې سره بېلې وبللې. (۱۰۰) او په خپله يوه مقاله کې مې هم دا شرحې سره بېلې معرفي کړې (۱۰۱) خو کله چې مې د پېښور په آرشيف کې د پښتو نسخو تحقيق کاوه، نو هلته هم د حميد د ديوان له يوې داسې نسخې سره مخامخ شوم چې شرح يې درلوده او شرح هم په کندهارۍ لهجه کښل شوې وه. ما چې دا شرحه وکتله نو مې د افغانستان د ملي آرشيف له شرحوا خيستي ياددښتونه هم ورسره وکتل، له دې مقايسې راته څرګنده شوه چې په درې واړو خطي نسخو کې راغلې شرح يوه شرحه ده او ما چې په لومړي دوو يا دو شويو ځايونو کې سره جلا بللي دي، نه سم ونه وم.

د پېښور آرشيف نسخه که څه هم تاريخ نه لري، خو د کاغذ او د خط له شيوې يې ښکاري چې د دولسمې پېړۍ په حدودو کې به کښل شوې وي، ځکه نسخه يې په ياخه نستعليق خط کښلې ده او د پښتو زياتره زړې نسخې په نستعليق خط دي.

د دې شرحې د نثر نمونې :

د حمید د دې بیت :

«که یې راکړ خال و خط و مالیچن لاس

بیا په دوست باندې برمه شه د دښمن لاس»

په شرح کې کښلي دي : «یعنې زه په سترګو لیچن وم ، د معشوق د مخ و نمرته مې کتلی نه سو ، اوس د معشوق خال وخط ومانته لاس راکی یعنی مخ نس یې اندک تېره کئ چې زه ورته کتای سم ، سره له دې په هر دوست باندې چې د معشوق مخ وی ، د سبن لاس چې خط دی برمه سه».

د یو بل بیت :

«هسې وژله کا د مهر په پرده کې

لکه خضر په چشمه شي د حیوان ډوب»

شرح یې داسې کړې ده :

«معنی د دې او د مقدم بیت یو ده ، یعنې خوبرویان په ظاهر مهر ظاهروي ، او په باطن کې قتل کوي ، د دې تمثیل داسې وي چې حضرت خضر د حیوان له چشمې څخه اول په حیات وغولیږي او آخر پکې ډوب سي».

د دې شرحې د ټولو برخو د لیکنې روش او روانې په ډېرو برخو کې د پښتو خزانې سبک ته نژدېوالی لري .

(۲) معرفة الافغاني : دا د پښتو د زده کړې یو کتاب دی ، چې د احمد شاهي عصر شاعر او د پښتو او دري ژبو لیکوال پیر محمد کاکړ لیکلی دی . د معرفة الافغاني د تحقیقي متن په مقدمه کې ښاغلي رفیع

کښلی دی، چې دا کتاب به پیر محمد کاکړ له ۱۱۸٦ هق د مخه کښلی وي او په دغه کال به یې د شهزاده سلیمان د لنډه که یا چه په موده کې ده ته وړاندې کړی وي. (۱۰۲)

معرفة الافغاني په خپل نوعیت کې د پښتو د ژبې لومړنی کتاب دی او تر دې کتاب د مخه موږ په پښتو کې داسې بل کتاب نه لرو، نو ځکه زموږ څېړونکیو دا کتاب د پښتو د ژبې لومړی کتاب بللی دی.

معرفة الافغاني ټول لس بابه لري، چې لومړي څلور بابونه یې منظوم دي. په څلورو منظومو بابونو کې لومړی باب حمد باری تعالیٰ، دوهم باب نعت، دریم باب ذکر اصحاب، څلورم باب د شهزاده سلیمان مدح پنځم باب کې یې داسې جملې راوړې دي چې پاچاهان، حاکمان او د دیوان اهل یې استعمالوي. شپږم باب کې هغه جملې دي چې عادي خلک یې وایي، په اووم باب کې د خوراک، څښاک او اغوستن په اړه مستعملې جملې راغلې دي، په اتم باب کې د شپنو او غوبنو او صحرایي خلکو په کاروبار او ژوندانه پورې مربوطې جملې راغلې دي، په نهم باب کې داسې جملې راوړل شوې دي چې ښکاریان یې استعمالوي. لسم باب چې شپږ فصله لري، مؤلف ورته دا عنوان ورکړی دی: «په بیان کې د لغاتو او د اسماوو مفرده وو دی، مشتمل پر شپږ فصله».

معرفة الافغاني چې په کوم میتود لیکل شوی دی، د ښوونې او روزنې د میتود پوهانو له نظره د ښوونې له او سنیو روښانو سره سمون خوري:

کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي په دې ارتباط کښلي دي:

«د معرفة الافغاني له کتنې څخه ان په لومړي نظر جوتېږي چې نوموړی کتاب (الف) د لویانو له پاره لیکل شوی نه د ماشومانو له پاره.

(ب) د مبتدي زده کوونکو له پاره لیکل شوی او ساده جملې پکې راغلې دي

(ج) کتاب د وچو او سکولاستیک عبارتونو په ځای حیاتي اړتیاوو ته وقف شوی دی. که چېرې د پښتو ژبې له ځینو درسي کتابونو سره د اوسنیو معیارونو او موازینو په اساس د پیرمحمد معرفة الافغاني پرتله کړو، له یوزیات شمېر کتابونو څخه د معرفة الافغاني وزن درونده ښکاري. دا چې ملا پیرمحمد به ترکومې اندازې پورې د میتود په خوښونه کې آګاهانه کار کړی وي او یا دا چې د ده میتود په اتفاقي او تصادفي توګه له نننیو معیارونو سره سرخوري، په دې برخه کې قضاوت کول ښکل برېښي. مهمه خبره دا ده چې کتاب د یو واقعیت په حیث زموږ په مخکې پروت دی او د زده کړې او سیکالوجي له ځینو معاصرو پرنسیپونو سره توافق لري.(۱۰۲)

په معرفة الافغاني کې چې کومې پښتو جملې راغلې دي، څه لنډې، پوښکې او رواني دي، لکه: «فرمان ورکړ سو، فرمان ورکړ سوی دی، فرمان به ورکړ سي، فرمان ورنه کړ سو.»

په معرفة الافغاني کې یو ځای یو توضیحي عبارت هم راغلی دی چې زه یې د پیرمحمد کاکړ د انشاء د نمونې په توګه دلته راخلم:

«وربښم زیات د سنځو دي او ناړینه وو له خدای او رسول ناروا کړي دي هم په دغه رنګ سپین زر او سره زر ناروا دي، پرېښې دی مردان مسلمانان ورځنې د برکړي، چېرته چې په اغوستن سره دوی ځان سزاوار د اور کړي ...» (۱۰۴)

د پیرمحمد کاکړ د نثر کښنې د سبک په باب د پښتو نثر هنداره کې راغلي دي چې د دې نثر سبک او لیک دول د څه کو نثر تر ورتېر او

نږدې دی. بیایې کښلی دي: « دا نثر که څه هم د دولسمې پېړۍ نثر دی او د خټکو په سبک کې داخلېږي، مګر په خاص ډول یو جلا او کوښښي شکل لري او د پټې خزانې له نثر سره زیات نږدې والی ښکاره کوي.» (د پښتو نثر هنداره، ۱۶۰ مخ)

ترکومه ځایه چې پیرمحمد د معرفة الافغاني په جملو اړه لري، د دغه جملې د خپل جوړښت له پلوه د خټکو د سبک د نثر نګارۍ د سبک کړه وړه نه لري، حتی د خټکو د نثر د سبک له تابعو متاخرو نثرونو نه هم د پیرمحمد کاکړ جملې رواني، روښانه او خوږې دي. دا خبره سمه ده چې دا نثر یوه ځانګړې بڼه لري چې په عام ډول په کندهار کې د دولسمې پېړۍ په توخ کې د روان نثر لیکنې د یو معمول جریان تابع دی او د پټې خزانې له نثر سره ډېر نږدې پکتونه لري.

له دغو دوو منثورو اثرونو سربېره د هوتکو په دربار کې د روزل شوي نثر پیروي نورو ورو ستیو نثر نګارانو پر لیکنو هم ښکاره کړه:

الف - حافظ نورمحمد: د پښتو نثر لیکونکی او د محمدامین سرېکزي زوی دی او دا محمدامین، لکه چې د مخه یې بیان تېرشو، چې د محمود افغان، سپول د اصفهان نومي کتاب یې کښلی دی.

حافظ نورمحمد د زوکړې کال ۱۱۷٤ هق کېل شوی دی. (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ٪ ۵۳۰) دی د پښتو لیکوال او ناظم و. ده د ډېر ښنا ناصري کیسه په پښتو نثر لیکلې ده او د کیسې په مینځ مینځ کې د پښتو د اولسي نکلونو په پیروۍ منظومې هم ور سره ملې کړې دي.

مؤلف ددې قصې په مقدمه کې ویلي دي چې پلار يې محمدامين سربېکړې داصفهان دجګړې حال په پښتو ليکلی و، نو ده هم غوښتل چې د خپل پلار پیروي وکړي او کتاب وليکي. لکه چې ويلي يې دي:

« نو ماهم قصد وکاوه چې پرسېږ په پله د ده رهي سم »

ده په همدې مقدمه کې ويلي دي: « نو ماحافظ ليدلې نوه. بله جګړه په سترګو په خپله زمانه کې چې له جګړې د غدۍ ناصري په مابين د تره د ناصر او سليمانخيل کې وه. که څه دا جګړه په عزيزانو او په مسلمانانو او په مسلمانانو د اهل ستوګې راغليه ده، خو له جهته د پښتو او پښتونولی کنبلې ده. دې هر يو قوم په مثل د دورانې پښتو د جنګو او د غيرت بدلې بللې ... »

د کومې جګړې کيسه چې حافظ نورمحمد ليکلې ده، دا جګړه په ۱۱۸۸ هق کال د ناصرو او سليمانخېلو ترمينځ واقع شوې وه. د جګړې علت پر ښښنا ناصروه. پر ښښنا پر سلېمانخېلو واده وه چې بيا ناصرو ستنه کړه او ددې ستنولو په نتيجه کې د دواړو قبيلو ترمينځ جګړه ونښته او دې جګړه کې له دواړو خواوو په سوونو ځوانان مړه شول.

ددې جګړې د پېښېدو په وخت کې د کيسې ليکوال څوارلس کلن و، خو کله چې يې دا کيسه ليکله نو يې عمر د پرشو کلونو ته رسېدلی و او دا کيسه يې په ۱۲۰٤ هق کال کې ليکلې وه.

ددې کيسې جوړښت د پښتو اولسي فوکلوري نکلونو ته ورته دی او د بيان کومه شېوه چې ددې کيسې په انشاء کې خپله کړې ده هغه دغلجيو پښتنو د لهجې تابع ده او د هغه سبک پيروي يې کړې بنکاري چې د هوتکود باچهۍ په زمانه کې راپيدا شوی و او سملاسي ددې کيسې ليکوال پلار محمدامين

سوې پیکړي ددې سبک په سرلارو کې حسابېږي.

دبرېښنا تکل که موږ له سره تر پایه مطالعه کړو، نو دا یوه حماسه ده، چې د دوو پښتنو قبیلو ترمینځ رزمي کارنامې په حکایتي بڼه بیانوي، د برېښنا او یره خان مینې ددې حماسې په زړونو کې ځنپله ونډه اخیستې ده. حافظ خنپلې کیسې ته یوه مقدمه هم ورکړې، چې د خیل پلار او ځان په باب یې یکې خبرې کړې دي او بیا یې دد غې کیسې د لیکلو باعث ښودلی دی. نو مقدمې وروسته چې دا تکل پیلوي نو دبرېښنا د ښکلا په توصیف کې دی کاږي: «دتیمورشاه دپاچهۍ په زمانه کې سرورخان ناصر یوه لور دبرېښنا په نامه درلوده او په نوره شپه کې په مثل دډیوې دتیلو له ځیله نوره بڅکېدله، ددې د تندې دسپوږمۍ تجلي وې، دسیځې یې توري لیندۍ غوندې کږې وې، په تورپیکی باندې یې ځوړندې دوه رویڼه وې، دنرګس په شان خوږخوا سترګې، دوې زلفې کږې په مثل د دال وې، شونډان یې سره په مثل د لال ... خوله یې وه کمه دالف په شان یې پوزه وسمه، ویښتان یې دسر تک تور تر زنګنو رسېدل، غوږ ول به یې ډېر او چوتي به یې ښوړل دکهی اولویو، ځوانانو او زړو خوښېدل. دمعتبرو سردارانو یې دیدن ته مینه کېدله ...» (دپښتنو ېرخلیک، ۱۳۸ مخ)

ب- دوست محمد: حاجي دوست محمد کندهاری دکندهار شاوخواسیمو له صوفیانو او مشایخو څخه و. ددیارلسمې پیړۍ په جریان کې یې ژوند کړی دی. ده اوږې په غوندان، کلاتاو غوږه مرغه کې تېراوه او په ژمي به ډېرو ته، ته او د یخنۍ په موسم کې به په ډېرو کې و. ډېر خلک یې ارادتمندان او مریدان

وو. په پښتو یې لیک کولای شوی. د پښتو لیکنې نمونې په واک کې دی، ( فرهنګ ادبیات پښتو ۱/۱۷۸). ددهٔ یو پښتو لیک چې یې خپلې یوې ښځمنې مریدې ته لیکلی دی، ښاغلي حبیب الله رفیع پیدا کړی و. په دې لیک کې له یو ښتې ګروېږ نې سربېره ځینې تصوفي لارښوونې هم شته او یو دول ارشادي لیک دی او د ۱۲۷۰ هـ ق کال شاوخوا کښل شوی دی.

د دې لیک د نثر نمونه داده: «پس له حمد او له صلوٰة له جانبه د دې حقیر فقیر دې سلام وي بي بي صاحبې ته، له آفاتو د دنیا د آخرت دې حق تعالیٰ تا تر سلامتګی او نجات درکي. پس له سلامه چې طریقه داهل اسلام ده معلومه دې وي وتاته چې دلې ومانه خیریت ګی له هرې وجې، ستاسې خیر هم له هرې وجې له خدایه غواړو او کاغذ د حال احوال د خیریت په خپل لاس د ملا محمد سعید صاحب چې دې استولی و، په سنه وقت په نیک ساعت یې راورساوه، په لوستلو د هغه کاغذ چې بیان ستاسې د خیر او صحت و پکښې زما زړه ډیر ډیرې خوشحال شو. خدای تعالیٰ دی... د خیرو تاسو درکي چې په دا حال او... دهغه وخت نې زه خبر کړم...» (۱۰۵)

ج- محمد اکبر هوتک: محمد اکبر هوتک (۱۲۳۸-۱۳۱۷ هـ ق) هغه څوک دی چې د کندهار د هوتکو له فرهنګی ذوقمنو ځخه و. په خپله یې هم پښتو لیکلای او لوستلای شوای. داسې هغه څوک دی چې د پټې خزانې موجوده نسخه دده پر برمایښت لیکل شوې ده. دده پښتو یوه عریضه لیکلې چې متن یې ښاغلي رفیع پیدا کړی و، خپله یې هم نشر کړې او ما هم په بیدیا نې ګلونه نومې تذکره کې د حاجي محمد اکبر هوتک

له احوالو سره راوړي ده.(۱۰۶)

د حاجي محمد اکبر د لیک نمونه داده : « ستا قربان سم د درست اسلام پادشاها او د هر غریب پناها ! کمکی د غلامانو او مخلص د دعاگویانو هغه حاجي محمد اکبر چې په فرمان د عفوې سرفراز سوی و، نن روح ده چې په قدم بوسه د پادشاه عادل په کابل کې حاضر دی. بخت و تخت دې ابداً برقرار وبا وقار او سه په روی د سرور کائنات علیه افضل الصلوٰة وعلی آله واولاده واصحابه واتباعه اجمعین .... »

زما د معلوماتو له مخې د هوتکو په زمانه کې چې په کندهار کې د پښتو نثر لیکنې کوم نوی سبک را پیدا شوی و، د هغه سبک اغیزې په لوړه پیمانه شوې ماته معلومو آثارو کې سړی لیدلای شي او یا لږ تر لږه د کښنې خصوصیات یې د هوتکو د زمانې د نثر لیکنې سبک ته ډېر ورته بریښي. ښایي نور د غسې آثار هم وي او یا وروسته کشف شي چې د دغه سبک تابع یې سړی وبولي، سملاسي چې ماته څه معلوم وو هغه وښوول شول.

## د فرهنګ پروده ددې سبک اغیزې :

د نثر د غه سبک چې د مخه مو یې خبرې وکړې د راپیداکېدو وخت یې د د ولسمې پېړۍ څلورمه لسیزه ښوول کېدای شي او له هغه وخته بیا ال تر خورلسمې پېړۍ پورې ځینو لیکوالو د دې سبک عمومي ځانګړنې د خپلو لیکنو په سبکونو کې راخپلې کړې دي.

هغه آثار چې د دغه سبک تابع دي او زیاتره یې تر اوسه د پښتو نثر په څېړنو کې نه دي معرفي شوي، د فرهنګ د رشد پرمسالې اشوونه په لاندې ډول ارزیابي کولای شو :

(۱) په دې سبک چې کوم آثار کښل شوي دي، د تاليف د دولونو او موضوعي خصوصياتو له پلوه له يوه اثر پرته نور داسې آثار پکې نشته چې په دغسې موضوعاتو دې د مخني کتابونو نه وي ، خو بيا هم دا آثار ځينې ابتکاري خواوې هم لري لکه :

الف - که څه هم په د مخني پړاوکې موږ ليکلې پښتو حماسي شرک ايسټلای شو، خو حماسه په دې پړاوکې بل رنګ اخلي . په دې پړاوکې د محمد امين سرېږکړي «جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان» يو داسې حماسي اثر دی چې له نورو سره د افغانانو د توري او مړانې کيسو ته په وقف شوی و . د دغه حماسي اثر کوم انځور چې د مؤلف زوی په خپل اثر کې ايستلی دی ؛ زموږ دا باور پياوړی کوي . له دې حماسې سربېره د دې سبک له پړاو سره تړلې بله حماسه چې زموږ په لاس کې ده، هغه د بريښنا کيسرده چې دا حماسه بيا په خپلو ځينو خصوصياتو کې د تېر پړاو له حماسې سره نږدې يکتوالی لري .

ب : په پښتو کې د تذکرې ليکل په اوومه هجري پېړۍ کې پيل شوي دي . د پښتو د پخوانۍ معلومې تذکرې «پښتو تذکرة الاولياء» شو محدودې يانې زموږ په واک کې دي، نور متن يې نه دی تر لاسه شوی، خو کومه تذکره چې په دې پړاو کې ليکل شوې ده هغه له خوا ارخونو د د مخنۍ تذکرې په پرتله پر مختللې او ابتکاري ده . د ليکوال هدف يې ابتکاري بڼه لري ، ځکه د پخوانۍ تذکرې له اهدافو سره توپيرونه لري ؛ په تذکرة الاولياء کې مؤلف غوښتي چې د بزرګانو احوال راوړي، خو هغه بزرګان چې وينا يې پاته کړې دي . اما دا تذکره په ښکاره د شاعرانو او وينا والو يوه تمام عياره تذکره ده چې د پښتو د فرهنګي تاريخ په څېړنو کې ښې خبرې

ځنې ترلا سه کېدلای شي. د ليکنې روش، د معلوماتو ساحه او ځينې نور خصوصيات يې له هغې بلې سره فرق لري.

ج: په دې سبک پورې تړليو آثارو کې ځينې داسې کتابونه شته چې تر دې پړاو د مخه يې په نورو پړاوونو کې موږ څرک نشوايستلی. د ا کتاب د پيرمحمد کاکړ معرفة الافغاني دی، چې د پښتو ژبې د زده کړې لپاره ليکل شوی دی. د دې کتاب د ليکلو له هدفه سړی پوهېږي چې د دولسمې پېړۍ په حدودو کې پښتنو ته دا احساس پيدا شوی و چې نورو ته د دې ژبې د زده کړې لپاره بايد آثار وليکي. د دې کتاب په پنځم باب کې راغلي بيانونه دا افاده هم راکوي چې سبايي په دفتراو ديوان کې د پښتو د شموليت ضرورت هم هغه وخت احساس شوی و.

د: که په موضوعي لحاظ موږ د دې پړاو آثار له د مخنيو پړاوونو سره پرتله کړو، د دې پړاو له آثارو د تېرو پړاوونو په پرتله د فرهنګي تاريخ په ليکلو کې زيات استفاده کېدلای شي او له دې سربېره ځينې جوتې پرمختيايي هڅې پکې موږ ليدلای شو، چې په د مخنيو کې يا نشته او که وي هم د دې پړاو د آثارو په پرتله لږ دي.

(۲) د دې پړاو په آثارو کې ادبي ارزښتونه موږ يوازې په هغو د وو چاسو کې ليدلای شو، نور نثرونه عادي او يا هم علمي نثرونه دي، چې ادبي ارزښتونه پکې نشته، اما فکري خواوې يې هم له ملي او علمي دواړو خواوو د بحث او يا دوڼې وړ دي. ځينې آثاريې د يادا کتيک ارزښتو هم لري.

(۳) د دې سبک له ځينو آثارو د کړه د ود پوهنې د ځينو څنګونو په مطالعه کې کې د ود پوهان د ېره استفاده کولای شي، په زياته د غلجيو

پښتنو په آثارو کې دا خصوصیت څرګند او متبارز دی.

(٤) په دې سبک پورې مربوط آثار، د لیکنې دروش، دفکر د پرمختیا او د پښتنو د فرهنګي اړ تیاوو د وسعت او ځینو نورو ځانګړنو لپاره د پښتو نثر د پیدایښت له د مخنیو پړاوونو سره څرګندې انکشافي نخښې لري.

(٥) د پښتو د پرمختګ او د پښتنو د فرهنګي غښتلتیا کوم کار چې دروه په شرقي پیڅوکې پښتانه افضل خان خټک پیل کړی و، د هوتکو په دربارکې یې نوی رنګ او نوې بڼه پیدا کړه. د دې پړاو د آثارو په تېره بیا د پټې خزانې مطالعه داښيي چې په دربارونو کې د ادبي مخافلو جوړېدل او لیکوالو او شاعرانو ته د صلو ورکول هم په پښتنو کې باب شوي وو.

## یوه د اتصال کړۍ:

د پښتو کوم نثرونه چې ماته معلوم دي

ځینې یې داسې آثار دي چې په زماني لحاظ د هوتکو د پاچهۍ په اواخرو او د لوی احمد شاه بابا د پاچهۍ تر مینځ لیکل شوي دي. د سبک په لحاظ نه د هوتکو په دربار کې له ایجاد شوي نثري سبک سره نښتي ښيي او نه له دې سبکه د مخنیو سبکونو تابع کېږي. هر یو یې خپلې ځانته ځانګړنې لري، نوځکه نو دغه دول آثار د هوتکو د زماني د سبک او د احمدشاهي عصرله نثرونو سره د نښتون د یوې ځانګړې کړۍ په توګه ارزیابي کوم.

کوم آثار چې په دې لړ کې راځي دا دي:

الف ـ د قرآن عظیم د لسو پارو تفسیر: د قرآن عظیم د لومړنیو لسو پارو د دې تفسیر وخت ۱۱٤۸ هق ښوول شوی دی. د دې تفسیر مفسر عصام الدین احمد

د ملاعزیز الله زوی و، چې د کندهار په شاوخوا سیمو کې اوسېده، د ده د پښتو تفسیر یوازینۍ معلومه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده. (۱۰۷)

د دې نثر یوه نمونه داده: «... او زوړ دی چې وبه وېنې خدای عمل ستاسې او رسول دخدای به هم وویني عمل ستاسې یا توبه به وکاږئ له نفاق او یا به مړه شئ په کفر ...»

د دې نثر د کښلو وخت د هغو کوډو یا لږ ورو پښتو کلونو سره برابروي، خو د هغه سبک خصوصیات پکې نشته چې هغه وخت د کندهار په علمي محافلو د هوتکو له دربار سره د تړلیو لیکوالو له خوا پالل کېده. د عصام الدین احمد نثر هم روان دی، مگر د هغه دوران په کندهار کې لیکل شویو نثرونو سره سیالي نه شي کولی، په ژبه کې یې د روند والی لیدل کېږي.

ب - کیمیای سعادت: کیمیای سعادت د امام غزالي (رح) د کیمیای سعادت پښتو ترجمه نه ده، بلکه دا رساله د حضرت میا فقیرالله جلال آبادی (۱۱۰۰ - ۱۱۹۵ هـ ق) په درېیو معلومو پښتو رسالو کې یوه رساله ده، چې منظومې او منثورې برخې لري او له سلو شلو زیاتات کلونه کېږي چې دا رساله د میا صاحب له درېیو نورو پښتو رسالو سره یوځای چاپ شوې ده. قدیمترینه چاپي نسخه چې یې لیدل شوې هغه د ۱۲۹۳ هـ ق کال ده. له هغه وخته وروسته تر دا اوسه پورې د میا صاحب کیمیای سعادت، اسماء الحسنیٰ او فواید فقیرالله یې سره یوځای چاپېږي. د کیمیای سعادت تحقیقي متن سناغلي زرین انځور تهیه کړی دی، چې په ۱۳۶۷ هـ ش کال د افغانستان د اسلامي علومو د څېړنو له مرکزه خپور شوی دی.

د کیمیای سعادت د مؤلف په باب زموږ په ادبي څېړنو کې ځینې داسې خبرې

نش دي چې له د اقعیتونو سره سمون نه لري . په پښتانه شعراء لومړي ټوک کې د میافقیرالله جلال آبادي اسماء الحسنیٰ،فواید او کیمیای سعادت ګرده د سعادت خان په نامه ښودل شوي، چې دا خبرې سمې نه دي. دغه آثار د سعادت خان نه دي، بلکه په وروستیو څېړنو کې ثابته شوه چې دا کتابونه د میا فقیرالله جلال آبادي (رح) دي.

دغه ډول د پښتو داد ب تاریخ د لومړي چاپ په ۱۲۶ مخ او د دوهم چاپ په ۱۱۶ مخ کې کیمیای سعادت د قطب شاه بلل شوی دی. ما چې کله په ۱۳۵۹ هـ ش کال د میا صاحب (رح) دوې منظومې رسالې اسماء الحسنیٰ او فواید فقیرالله چاپ ته برابرولې، نو مې له دغو دریو رسالو څخه چې په یوه مجموعه کې چاپ وې دا دوې رسالې د میا صاحب (رح) وبللې، دا ځکه چې د دغو دریو رسالو خطي نسخه هم موجوده وه او په خطي نسخه کې دا دریمه رساله چې کیمیای سعادت ده، نه وه. زموږ استادانو ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي او اکادمیسین پوهاند رشاد هم په دې نظر وو. استاد رشاد چې د میاصاحب (رح) پر دغو دواړو ما ترتیب کړیو منظومو رسالو کومې مقدمې کښلې دي، هلته یې هم دا دوې رسالې د ده بللې دي. (۱۰۸) په همدې ۱۳۵۹ هـ ش کال ښاغلي زرین انځور یوه مقاله ولیکله او د ځینو متني قراینو له مخې یې دا وښودله چې له اسماء الحسنیٰ او فواید سره راغلې دریمه رساله (کیمیای سعادت) هم د میا صاحب (رح) ده . ښاغلي انځور ځینې داسې متني قراین پیداکړي دي چې د کیمیای سعادت په رساله کې راغلي نظمونه د اسماء الحسنیٰ او فواید فقیرالله له نظمونو سره د یوه سبک تابع ښيي.

د میا صاحب (رح) دا رساله (کیمیای سعادت) د نظمونو تر څنګه ځینې منثورې برخې هم لري . د دې رسالې ځینې منثورې ټوټې د نورو دریو

خطي نسخو په ترڅ کې خطاطي شوې دي، که چا ته کیمیای سعادت نړۍ
ښکاره نه زیاتره د امنثورې توقې د بل چا بولي.
سملاسي د نورو اسنادو تر پیدا کېدو د امنثورې توتې چې په کیمیای
سعادت کې راغلي دي د میاصاحب بولو. په وروستیو وختونو کې ما
د سباغلي سعید ګوهر په خطي نسخو کې د کیمیای سعادت یوه نسخه ولیدله.
د میا صاحب د پښتو آثارو د لیکلو وخت ۱۱۵۱ هق کال بلل کېږي، ځکه
د فوایدو په پای کې د اختتام نېټه د غه متبول شوې ده. نو دا نور آثار به
یې هم د دغه کال شاوخوا یا په همدې کال لیکلی وي.
په کیمیای سعادت کې د غه مطالب مېندل کېږي: «په دې اثر
کې لومړی لس دعاوې. نه نقشونه له خپلو منظومو اسنادو او خاصیتونو
سره او د نوې میاشتې د کتلو ترتیب راغلي دی. تر دې وروسته
د منزمل د سورې خاصیت بیا د جامو اغوستل، نوکونه پرېکول، سرخړیل
د حضرت علي وصیتنامه، د جماعت د لمانځه او جومات ته د ننوتو د آدابو
په باب مطالب یې راغلي دي.. .» (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد
او ودې پړاوونه، ۲۴۵مخ)
د میاصاحب د نثر لیکنې روش داډول دی: « نوې جامې چې څوک
سکمني یا یې اغوندي، یا سرخریي یا سر وینځي، د شنبې په ورځ کې
څوک نوې جامه اغوندي له غمه له اندوه به خلاص وی، ولې هغه
جامه به زرخیرلې شي، ولې چې اغوندي د شنبې په ورځ به اول وقت
دې اغوندي او په آخر وقت دې نه اغوندي او دا جامه یې چې څو
اغوستې وي هره ورځ به یې سود په لاس کنبوزي ... « (۱۰۹۱)
دا نثر هم د دولسمې پېړۍ د ژباړنو او نورو تعلیمي او دیداکتیک

نثرونو غوندې رواني لري، خو د میا صاحب د نثرونو کوم اشکال چې زمونږ په لاس کې دي هغه له چاپي نسخو ترلاسه شوي دي او دزیات چاپ له وجې د بڼې لاسوهنې یکې شوې سکاري، په کیمیای سعادت کې چې کوم نثرونه شته ، د اسې لفظي بدلونې هم پکې سرې سوولای شي چې دهغه د ول کلمو استعمال ددیارلسمې پیړۍ په نثرلیکنه کې مروج وو.

ج ـ تصوفي منثوره رساله : د دې تصوفي منثورې رسالې لیکوال محمدگل کوهاټی دی، چې د حاجي بهادر کوهاټي کورنۍ ته نسبت لري .

د محمدگل کوهاټي ، څو کوچنۍ رسالې تر موږ رسېدلې دی. دا رسالې منظومې او منثورې برخې لري . د ده درې رسالو نومونه دادي : شمایلنامه ، فقرنامه او صوفي نامه . د ده په رسالو کې یوه منثوره رساله هم شته چې د نقشبندي طریقې اصولو او لارښوونو ته په پاملرنه ځینې تصوفي مسالې بیانوي ، موږ ته معلومه ده . د محمدگل کوهاټی د منظومو او منثورو آثارو یوه مجموعه له یوهاند دوکتور عبدالاحمد جاوید سره وه چې بیا یې دافغانستان دعلومو اکاډمۍ کتابخانې ته ورکړه . ما په فرهنگ (ج۲ ص۳۹۶) کې د دې رسالو د نظم او لیکلو کال ۱۱۶۷ هق ښوولی دی او په یوه بله مقاله کې چې مې په وفا اخبار کې نشر کړې ده ( د ۱۳۷۳ هش کال دسنبلې د ۹ مې گڼه ) د دې رسالو د لیکلو کال ۱۱۵۶ هق ښا وخوا گڼلی دی. دا وروستی سنه مانته سمه ایسی او په فرهنگ کې راغلې سنه سمه نه ده ، ځکه وروستۍ سنه ده په خپلو منظوماتو کې راوړې ده او د اسکندرخان دشمایلنامې په تعلیقاتو کې اخیستې ده.

محمدگل کوهاټی د خپلو منثورو تصوفي نوشتو په تألیف کې له لاندې آثارو څخه استفاده کړې ده :

شرح مرغوب القلوب ، شرح مخزن الاسلام ، خلاصة المعارف ، فتوحات مکیه ، مکتوب شیخ احمد ، ارشاد الطالبین ، مخزن ، مونس جان ، قصص الانبیاء ، سلسلة الذهب ، شرح کنز ، فتاوای قاضیخان ، عصمت الانبیاء ، تفسیر حسینی ، شرح عقاید او نور ....

دا رساله چې محمدګل کوهاټي په کومه شپږه کښلې ده ، دلیکنې روش یې زیاتره روان دی ، خو د دولسمې پېړۍ د دیني او عرفاني نثرونو رنګ او د لیکنې له روشونو پیروي پکې له ورایه ښکاري . د دې رسالې د نثر نمونه دا ده :

« د فقیر حضرت حاجي بهادر نقشبندي کوهاټي دي فرمایلي په شرح د مخزن الاسلام کې هسې رنګ ویلي چې یو کامل دی ، یو مکمل دی ، کامل هغه دی چې هم له شریعت هم له طریقت هم له حقیقت آګاه وي ، بیا یې هسې ویلي دی چې هم یې اثر وي په ذکر کې چې وجود د طالب په اسم ذات او په معنی اثبات کا او مکمل هغه دی چې له شریعت او طریقت عارف د ذات او د صفات وي ... »

د محمدګل کوهاټي د منثورو تصوفي نوشتو یوه خطي نسخه د پېښور د اسلامیه کالج له پروفیسور پیر مسرت حسین شاه صاحب سره هم شته . دی غواړي دا متن تصحیح ، تحشیه او تعلیق کړي او بیا یې انګرېزي وژباړي او د دوکتورا تیسس په حیث یې وړاندې کړي .

## دې کړۍ ته یوه کتنه :

د پښتو کوم منثور اثار چې موږ د پښتو په دې کړۍ کې مطالعه کړل ، دا آثار ټول د پښتو د نثر په تاریخي څېړنه کې نه دي پیدا شوي ، البته د دغو نثرونو په باب په ځینو څېړنو کې خبرې راغلې دي ، د دې کړۍ آثارو ته

سرې دالاندې ځانګړنې تاکلی شي:

۱- په موضوعي لحاظ په دې آثارو د نوښت ډېرې نخښې نه لیدل کیږي، څکه د قرآن مجید تفسیر تر دې مهاله د مخه لا موږ د ختیکو د کوربنو د نثر لیکنې په پړاو کې ګورو، چې پښتنو دې خوانه توجه کړې ده او دا آسماني کتاب یې په پښتو تفسیر کړی دی، تصوفي او دیداکتیک موضوعات هم تر دې کړه د مخه نورو بیان کړي دي. خو نقشبندي تصوفي سلسلې د ارشاداتو د تلقین له پاره د محمد ګل کوهاټي رساله د پښتو نثر په تاریخ کې د دې سلسلې د نثرونو په لومړنیو آثارو کې سرې شمېرل کېږي او د میاصاحب د نثرونو په څېړنه کې داسې خبرې راغلي دي چې تر ده د مخه بنایي چا نه وي بیان کړي او یا هم مخکې یې یوانه په نوي معلومې.

۲- دا نثرونه سره له دې چې روان دي، خو هغسې کره ورته نه لري، لکه له دې پړاو د مخه چې د پښتو نثرونو درلودل، د ختیکو او بیا د هوتکو په دوران کې چې کوم نثرونه راپیدا شوي دي، هغه ډېر روان، پاخه او عامې محاورې ته نږدې دي، ما پر دې نثرونو په ځینو برخو کې د نورو ژبو او یا ترجمو اغېزات ډېر لیدل کیږي.

۳- دا نثرونه ادبي ارزښت نه لري، یوازې د پښتنو د فرهنګ په تاریخ او د نثر د پرمختیا په مطالعاتو کې د مطالعې وړ دی.

## احمد شاهي عصر او د پښتو نثر د پرمختیا مساله:

د احمد شاه بابا د سلطنت په دوران کې که سرې د پښتنو د فرهنګ حاج اخلي، نو دا وره ته معلومیږي، چې دا وخت پښتانه له ښځواني افغانستان او د هند له نیمې وچې سربېره حتی د مرکزي آسیا ځینو سیمو، ایران او ماوراء النهر ته هم رسیدلي وو او هلته میشت وو او په دغو له.

افغانستان نه بهر میشتو پښتنو کې هم ځینې هنرمندان، لیکوال او شاعران موجود و و، چې په پښتو یې آثار لیکل او شعرونه یې ویل، یعنې دا وخت له ماوراء النهره ان تر بحرهنده پورې سیمه کې د خورو ورو پښتنو پر ژبه آثار لیکل کیدل او دیوانونه جوړیدل.

که چیری موږ د نثر د تاریخ دخیرې په تړخ کې په عام ډول د احمد- شاهي عصر نثر لیکونکي په پام کې ونیسو، نو په دې دوران کې ډېرو نثر لیکونکیو او لیکوالو ژوند کړی دی او خپل آثار یې دغه وخت لیکلي دي. د دغه زمان له نثرلیکونکو څخه ځینو د داسې سبکونو په پیروي لیکل کړي دي، چې بشتونه یې له احمد شاهي عصره د مخه ایښودل شوي دي، د دې زمانې د نورو نثر لیکونکیو د نثر سبکونه څه داسې خاصې ځانګړې نه لري چې متبارز حیثیت دې یې خپل کړی وي او نورو نثر لیکونکیو دې دهغه پیروي کړې وي. په دې دوران کې د نثر لیکنې یو سبک، چې خاص- دی او موږ دیو ځانګړي سبک په حیث یې خبره کولای شو، هغه د شیدا له نثرلیکنې سبک دی.

په دې عصر کې چې کوم منثور اثار لیکل شوي که له د مخینو سبکونو سره تړون و نه لري، هغه زه همداسې په ځانګړي ډول پرله پسې د ن پیژنم او خبرې باندې کوم او د دې پړاو په پای کې د شیدا د نثر پر سبک او پیروی خبرې لرم.

(الف) فتاوای احمد شاهي : د فتوو دا کتاب د لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰- ۱۱۸۶ هق) په امر لیکل شوی دی. د کتاب مؤلف د فتاوای احمدشاهي په منظومه مقدمه کې ویلي دي:

داېې و فرمایل ما ته   چې یو امر کوم تا ته

ماوی وایه ای بادشاه زما شاه دین پناه
ته بادشاه در دران یې عالي رایه عالي شان یې
هر هغه چې ستا خطاب دی. هغه وا ړه په صواب دی
وې زه میین په دین یم دافغان په کار غمگین یم
داکتاب ورته پښتو کړه په تا حکم کوم هو کړه
ماوې هرچې ستامامول دی په لیمو زما قبول دی

ددې فتاوی یوه خطي نسخه چې ۳۵۶ پاڼې ۷۱۳ مخه لري اوپه ۱۱۹۹ هق کال کې لیکل شوې ده داافغانستان دملي آرشیف په خطي مجموعه کې وه. (فهرست نسخ خطي پشتوی ارشیف ملی افغانستان، ۸۴ – ۸۵ مخونه)

دا فتاوی په ۱۳۲۱ هق کال ۴۴۸ مخه د دهلي په فاروقي مطبعه کې د مولوی عبدالرحیم خلیل په پرماینت چاپ شوې ده.

دا فتاوی په بابونو او فصلونو ویشل شوې ده، د زکوة، روژې، حج، نکاح، د راکړې ورکړې، خرڅولو رانیولو، غلا، جهاد، شرکت، مضاربت، او معاملاتو بابونه اوفصلونه لري.

فتاوای احمدشاهي مولوی عبدالله کندهاري پښتو کړې ده، د پښتو نثر هنداره په ۱۵۲ مخ کې دغه عبدالله کندهاری، میرعبدالله او دمیراحمدشاه غوږ نیکه بلل شوی دی. دا خبرې د فتاوای احمدشاهي دچاپي نسخې اختتامیه لیکنو سره سمون نه لري، دفتاوای په پای کې راغلي: «... فتاوای احمدشاهي که حسب فرمان واجب الاذعان ملك ناموس وجاهد دین پرور، دادگستر اعنی سلطان احمدشاه دراني الغازي علامهٔ زمان وفقیه دوران مولوی عبدالله خان قندهاري تصنیف فرمود».

د همدې ليکنې په اساس موږ عبدالله دکندهار بولوند میر احمد شاه رضوانی نیکه. له دې سربیره دفتاوای احمدشاهي خاوند، خپل نوم عبدالله ښودلی دی. نه میرعبدالله. ده ویلي دي:

مسمی په عبدالله یم دعاګوی دخپل بادشاه یم

له دې سربیره په ځینو ځایونو کې دغه فتاوای احمدشاهي د وکیل الدوله عبدالله خان ښوول شوې ده، پوهاند رښتین په خپل یوااثر اد بي او تاریخي سموني کې د دې تېروتنې ته اشاره کړې ده.(۱۱۰) وکیل الدوله هم د پښتو شاعر دی. د احمدشاه بابا مرثیه یې ویلې ده، خو نثر ونه یې نه دي لیدل شوي او د احمدشاهي فتاوای مؤلف نه دی.

دفتاوای احمدشاهي د نثر لیکنې روش دا دی: که روژه دار سړی درستي دا نې د انګورو ونغری کفارت پرشته که نشته؟ مشایخو ویلي دي چې ویه ګورو چې که له ډنډو سره نغردي وي کفاره نه اوړي، په سبب د دې چې له ډنډو سره په ګیلوه کې نه هضمیږي یعنې سلامتې پرتې وي نه تار په تار کیږي، هرکله چې نه تار په تار کیږي قوت پرې نه شي اخیستی، پس دا په منزله د سنګرېزې شو او سنګرېزه کې کفاره نه اوړي، پس په دوی سره هم کفاره نه اوړي او که یې له ډنډو یې ونغري کفارت پرې لازمیږي. ولې چې هضمیږي شیره یې له پوسته ګیلوې ته راوني پس قوت پرې اخیست شي کفاره پرې لازمیږي.» (۱۱۱)

دځینو پوهانو عقیده دا ده چې په دې فتاوي کې د عربي عباراتو په ترجمه کې یې پښتو جملې د عربي جملو له جوړښت سره سمې جوړې کړې دي. په ځینو برخو کې د دې خبرې ترڅنګه باید دا خبره هم هېره نه کړو چې د پښتو په څوانیو منثورو فقهي او دیني کتابونو کې دفتاوای احمدشاهي نثر

روان نثر دی، جملې یې پیچلې نه دي او ګنډې یې ډېرې لنډې لیدل کیږي.

د احمدشاه بابا په امر دغې کتاب له ترجمې دا ښکاري، چې بابا به دا - آرزو درلوده چې په افغاني محاکمو کې قاضیان له دې کتابه استفاده وکړي، د فتاوای احمدشاهي او د پیرمحمد کاکړ معرفة الافغاني - دوه داسې کتابونه دي، چې د استفادې موارد او د لیکلو او ترجمې - اهداف یې سړی په دې باوري کوي، چې په احمدشاهي عصر کې د پښتو د رسمي کیدو او په دیوان او دفتر کې د دې ژبې د داخلیدو لپاره هم له زمامدارانو سره څه فکرونه وو.

(ب) د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرح :

د احمدشاه بابا د دوهمې الفنامې د پای له خوا دیوې نیمګړې منثورې شرحې متن د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرح (۶۴ مخه) په نامه په ۱۳۵۶ هـ ش کال د افغانستان د کندهار مجلې له خوا د پوهاند عبدالشکور رشاد له سریزې (۴۴ مخه) سره چاپ شوې ده او خطي نسخه یې ۵۷ پاڼې ده چې د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده (د مشترې فهرست ۷۹ - ۸۰ مخونه) د دې شرحې مقدمه د استاد رشاد په عقیده منظومه ده. له مقدمې چې ورتیر شو د شرحې په موجوده متن په پښتو نثر دی، چې د بابا د الفنامې د هربیت شرح یې پکې کښلې ده لکه دا بیت :

«زړه زما یې موږ وپلاړ دی فاني و
په لقا د ذات ژوندی هم تسلي و»

زړه په نزد د علماوو د ظاهر عبادت له لحم صنوبری وجایب اسیر نه دوه تجویفه لري یو له تجویفونو چې وجاب ایمن نه دی . . . د شرایینو مقام دکون یې په مقام د عین کې وجاب ایمن نه دی . . . د -

دشراینو دی او معدې بخار دی چې علما یې روح حیواني بولي او ساري دی له لارې د شریانانو په جمیع بدن کې» (۱۱۳).

دا نثر ډېر ګران دی، کرکیچونه هم پکې شته، دګرانۍ یو علت یې بنايي داوی چې ډېر ګران وحدت الوجودي تصوفي مسایل یې پکې بیان کړي او له بلې خوا تر ډېره حده د نورو ژبو تر اغېزې لاندې دی، او هغه دااستاد رشاد خبره: «... په دغه شرح الشرحه کې د وحدت الوجود غوندې غامضې موضوع دخورا پر له نغښتو او ژورو نکتو څېړنه کړې ده. د درنو عربي لغتونو زیات استعمال او د جملو تضعي تر کیبونو نور هم د دغې شرح الشرحې فهمول ګران کړي دي...» (۱۱۴).

د دغې شرحې په تألیف کې شارح د خپلو قولونو د پیاوړتیا لپاره له قرآني آیتونه، نبوي احادیث، دعاګانې، مقولې، دري او عربي بیتونه هم د استشهاد لپاره راوړي دي او هغه آثار چې د موجود متن د ماخذو حکم لرلای شي دادي: تفسیرالکبیر، فتوحات المکیة، الانسان الکامل جواهرالاسرار، شرح قیصری، د نظامي مخزن الاسرار، د مولاناجلال الدین محمدمثنوي معنوي او نور....

داحمدشاه بابا د شرحې په دې نیمګړې نسخه کې داحمدشاه بابادوهم الفنامې د ۵۴ بیتونو شرح راغلې ده.

د دې شرحې شارح استاد رشاد خانعلوم قاضي محمدغوث سنوولی دی، چې داحمدشاه بابا له خوا په پېښور کې قاضي و او داشرح یې داحمدشاه بابا پر ژوند بشپړه کړې ده.

که څه هم الفنستون د کابل سلطنت بیان کې د احمدشاه بابا پر اشعارو د خانعلوم د شرحې یادونه کړې وه، خو تر ۱۳۵۶ هوش کاله پورې چا-

دغه شرحه نه وه لیدلې، خوپه ځه کالنړکابل چاپ او خوره شوه. د پښتو نثر کومې څیړنې چې لیدل شوي پر دې کتاب یې څه نه دي ویلي.

(ج) پښتو عروض: پښتو عروض د میا شرف ننګرهاري دی. دی د احمدشاهي عصر شاعر او لیکوال دی. ده د زېږون ځای ننګرهار دی او په ننګرهار کې د ګرد ي و. د عمر یوه برخه یې په هندوستان کې تېره کړې ده او د پاني پت په جګړه کې (۱۱۷۴ هق) له احمد شا هي لښکر و سره حاضر و (په هند کې د پښتو نثر او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، ۲۶۳ مخ) په دهلي کې اوسېدنې یې له اشعار و زیاتې (دري) له منظومو آثار سربېره ده په پښتو نثر کې په یوه داسې موضوع کتاب لیکلی دی چې تر ده د مخه چا نه و کښلی او د پښتو په زاړه فرهنګ کې د عروض د علم د ښوونې په سلسله کې لومړنی کتاب دی او د استاد رښتین له رایې سره سم ده دا کتاب په هند کې کښلی دی (۱۱۴)

د پښتو عروض د رسالې خطي نسخه اوس او سباد مولوي ابوالوفا کندهاري مونډلې وه چې بیا یې پښتو ټولنې ته ورکړه او تر وروستیو وختونو پورې هم د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په کتابخانه کې وه. د میا شرف د پښتو عروض رساله د استاد رښتین له څېړنو سره په ۱۳۴۴ هـ ش کال کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده. متن یې ۳۸ مخه او د استاد رښتین څېړنې ۳۴ مخه دي.

د میا شرف پښتو عروض یوه سریزه او لس فصلونه لري. لومړی فصل ته یې دا عنوان ورکړی دی: «د اوس بیان د قاعدې کړم چې دا خاصه په پښتو ژبه کې راغلې، په بل ځای نه جاري کېږي. دوهم فصل د مصرع وجه تسمیه او اجزاء، دریم فصل د بیت اجزاء، څلورم فصل د بیت وجه تسمیه،

پنځم فصل د ارکانو بیان ، شپږم فصل دسالم اوغیرسالم رکن بیان ، اووم فصل دزحّاف اقسام ، اتم فصل دایجازو بیان ، نهم فصل درمل بحر بیان ، لسم فصل د دیوو بحرونو تفکیک .»

داستاد رښتین له بیان سره سم میاشرف په پښتو عروض کې ټول ۱۴ بحره تطبیق کړي دي چې له نحافو سره بیا داشمېره ۴۳ بحرونو ته رسېږي . (دپښتو عروض تعلیق ۱۳-۱۴ مخونه)

میاشرف چې دپښتو عروض په لیکنه کې له کوم روش نه استفاده کړې ده هغه په ځینو وړو محدود ځایونو کې سجع هم لري، لکه : « دې کلام ته به څوک شعر نه وا یینه » یادا : « هربیت به وي مدام له دوو مصراع جوړولی . او په اصطلاح کې ورته نیم بیت شي ویلی »

خو یو ډول خاص آهنگ یې سره درسالې په ځینو برخو کې حس کولای شي .

دپښتو عروض د لیکنې بېلګه داسې ده : « اشتر : شتر په لغت کې نقصان عیب دی او په اصطلاح کې اخیسته دي له جامه د مفاعلین چې فاعلن شي ورته یا نې دغه رکن اشتر سره یاد بږي » (۱۱۵)

د پښتو عروض نثر ځینې ژبنې کړکېچونه لري ، خو په کومه موضوع چې دانثر لیکل شوی ، هغه موضوع هم د دې اثر دنثر په کمانه کې بې اغېزې نه برېښي . خوله دې سره هم موضوعات یکې مروړلي نه دي بیان شوي، بلکه وضاحت لري . لوېشتونکی نېږ مطلب اخیستلی شي په ځینو ځایونو کې دپښتو عروض دخیرالبیان له نثر سره نژدی بللول شوی دی ( دپښتو عروض تعلیق ۱۴ مخ )و دپښتو نثر هنداره ، ۱۵۲ مخ ) ماته خپله دغسې نه ایسي . زما په فکر دپښتو عروض د نثر بېلګه په عام ډول

ټول هغه کړه وړه لري، لکه د دولسمي پېړۍ ځينې نورنثرونه چې په ځينو علمي موضوعاتو ليکل شوي دي او د دې نثر خپلې ځانگړنې، هغه خاص آهنگ او په ځينو ځايونو کې د سجع مراعات دی، چې پردغو هم دا نثر سړی د مسجع او نيم منظوم نثرپه ډلونډ نشي بللی، بلکه داسې ويلای شي چې د پښتو عروض نثر باندې د مسجع نگارۍ او نيم منظوم سبک ځينې اثرات ښکاره دي.

(د) د قانون القرائت منثوري برخې: قانون القرائت د رکن الدين ابن منير يوه رساله ده چې د تجويد قاعدې او قوانين پې ښوولي دي. دا اثر ټول په نظم دی، خو وروستی قانون يې چې (قانون دربيان ختم القرآن) نوميږي په پښتو نثر کښل شوی دی. رکن الدين ابن منير قانون القرائت په ۱۱۷۳ هـ ق کال نظم کړی دی. دقانون القرائت د منثورې برخې يوه نمونه داده:

« شماره دسورتونو چې خو په مکه کې راغلي دي او خو په مدينه کې او خو په شپه کې او خو په ورځ کې او خو په سفر کې او خو په کورکې، او خو په ژمي او خو په اوړي کې نزول د سورتونو په مرتبه مرتبه سره شوی دی»

(د تفسيرافضليه ضميمه، ۱۱۵۴مخ)

دقانون منثورې برخې د احمدشاهي عصر تر زياتو ديني نثرونو ښې دي او رواني يې ښې ليدل کېږي او موږ يې د پښتو ديداکتيک نثرونو په لړکې ديادونې جوگه بولو.

دياد ونې وړده چې «قانون القرائت» کابو سل شپږ شلې کاله د مخه د دهلي په فاروقي مطبعه کې چاپ شوی هم دی. دقانون د همدې فاروقي مطبعې دچاپي نسخې په ۹ مخ کې هم يوه ټوټه نثر شته. خو د قانون هغه خطي نسخه چې له تفسير افضليه سره مله ده او دتفسيرا فضليه

دچاپي نسخې په پای کې دضمیمې په دول هم چاپ شوې ده. په هغې کې
منثوره برخه یوازې په پای کې راغلې ده، چې دمخه یې تاسو بیان ولیست.
په نورو برخو کې یې نثر نشته او حتی د چاپي نسخې هغه بحث یکې
نه دې راغلی چې دانش پورې اړه لري. دلته سړی ته داخبره نهه ته
لوېږي چې په تفسیر افضلیه کې د قانون راغلی متن سنایي د دې تجوید
لومړنی شکل وی او وروسته دې ناظم نورې زیاتونې هم پکې کړې وي.

(هـ) خـزانة العجایب نجیب خاني: د دې کتاب یوه معلومه ناقص الاول نسخه په پېښور آرشیف کې په ۲۵۳ نومره قید ده.

دکتاب لومړۍ برخه له منځه تللې، نو سړی نه پوهېږي چې مقدمه به ورسره وه او که نه؟ اما دکتاب په پای کې خاتمه لري. دکتاب موجود متن په نثر دی، خو خاتمه یې په نظم ویلې ده. په خاتمه کې دکتاب او مؤلف په باب څه دکار خبرې شته.

په خاتمه کې د مؤلف نوم نیازمحمـد ښوول شوی دی، پلار یې آخوند ملا عبدالکریم نوماند. دی په اصل کې د باجوړ د باندېږي و، خو وخت یې په هندوستان کې تېر کړی او د پښتانه نواب نجیب الدوله نجیب خان (۱۱۱۵ یا ۱۱۱۹ - ۱۱۸۴ هـ ق) له دربار سره تړلی دیني عالم و. نو په همدې نیامت یې خپل کتاب د همدغه پښتانه نواب نامه ته منسوب کړی دی.

دکتاب د تکمیل تاریخ چې په کومه بڼه په خطي نسخه کې راغلی دی، هغه سم نه بریښي، ده ویلي دی:

سن هجري زر سل درې کلونه ووتېرشوي
چې تمام خزانة العجایب د نجیب خان سشه

زما په خیال په لوړ مسرعه کې راغلې سنه کې له درې وروسته یوعدد پاتې دی، کېدای شي دا عدد ۷ یا ۸ وي چې په حساب باید موږ دا کتاب د ۱۱۷۳ هق یا ۱۱۸۳ هق کال تالیف وبولو.

په خاتمه کې راغلي دي چې کتاب شپږ څلوېښت بابه لري، چې د څو بابونو نوموونه یې دادي: استنجا، اودس، غسل، تیمم اوکتاب الصلوة چې په څو بابونو ویشل شوی دی.

ددې کتاب په تالیف کې مؤلف دشپېتو شاوخوا فقهي اودیني کتابونه کتلي دی اوله هر کتابه چې یې استفاده کړې ده نوم یې هم ورته یادکړی دی. دمآخذونو له جملې څخه دڅو نوموونه دادي:

فتاوای کبیری، خلاصه، جواهر الفتاوی، کنز العباد، شرح وقایه شرح قدوری، هدایه، مفتاح الصلوة، احیاء العلوم، دستور القضاة، نصاب الاحتساب، شرح جامع کبیر، شرح مجمع البحرین، شرح عقاید، خلاصة الاحکام، مناقب امام حنیفه، شرعة الاسلام، تحفة الفقها، حاشیه هدایه، جامع الاصغر اونور.

دا کتاب، لکه چې تاسې یې دڅو فصلونو عنا وین ولوستل ټول شرعي او فقهي مسایل بیانوي او په پښتو نثر پرېوې داسې موضوع کښل شوی کتاب دی، چې د مؤلف په زمانه کې او تردې مخه په دې موضوع په نظم اونثر او مسجعاتو په لسګونو مستقل آثار او رسایل کښل شوي وو. دنثرکښنې شېوه یې داده:

« په ظهرې کې دي ویلي چې که داخله کاندي څوک ګوته په پوزه کې نورهغه ګوته سره شي په وینو اویا نازل شي وینې له شپېلې د پوزې اودس مات شه اوکه وي داخله پرپوزه کې او بروت

ورځني نشي هغه اودس نه ماتېږي » (۱۱٦)

(و) تفسیر افضلیه: د قرآن کریم یو پښتو تفسیر دی چې یو بشپړه او یوه نیمګړې (څو محدودې ورسته پاڼې)یې د پېښور په پښتو اکیډیمه کې او اوه پاڼې (له نهمې نه د پنځلسمې تر پا یه) د رامپور په رضا لایبریري کې خوندي دي.

د قرآن کریم د دې تفسیر د خطي نسخو د موندلو پر پس منظر او نورو خصوصیاتو ما په خپلو دوو نورو کتابونو: د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې (۱۹۸ - ۲۰۵ مخونه) او په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو دا ایجاد او ودې پر اوونه (۴۲۸ - ٤۳٦ مخونه) کې مفصلې خبرې کړې دي. د دغه او سني کتاب له شرايطو سره سم هم اړیم چې د دغه مبارک اثر په باب څو خبرې وکړم:

د دې تفسیر مبارک کومه بشپړه نسخه چې په پښتو اکیډیمه کې شته هغه د همدغې اکیډیمه له خوا په ۱۹۹۲ع کال کې چاپ شوې هم ده.

د دې مبارک کتاب چاپ یو بختور اقدام او ګټور کار دی، خو د یا دولو دونو ده چې دوی دا تفسیر د رکن الدین بللی دی او په دې نسبت کې یې پاملرنه د قانون القرائت هغې نسخې ته ور اوښتې چې د دغه تفسیر شریف په بشپړې خطي نسخې کې د تفسیر شریف تر نسخې د مخه خطاطي شوې ده. دا چې قانون القرائت د رکن الدین ابن منیر دی، نو دوی دا ګڼلې چې دا تفسیر به هم ده ترجمه کړی وي. حال دا چې د تفسیر شریف په متن کې دا سې کوم وضاحت نشته چې سړی دی دا تفسیر ده ته منسوب کړي او له تفسیر شریف سره منبتې قانون القرائت د خطي نسخې موجودیت په دې دلالت نه کوي چې دا تفسیر دې هم د رکن الدین وي، ځکه سړی په هېڅ چې خطاط له تفسیر سره قانون د دې له پاره یو ځای کړی دی چې لوستونکي د قرآن شریف د سم لوست

اصول څنې زده کړي .

په همدې نسخه کې چې چاپ شوې ده ، د رکن الدین تر قانون د مخه یوه مقدمه هم شته چې د مثنوي په کالب کې ویل شوې او ټول بیتونه يې په چاپي نسخه کې ۱۷ دي . دا مقدمه چې سرې ولولي ، نو دا ورته ښکاري چې دا تفسیر به د افضل الدوله افضل خان عمرخېل په غوښتنه د عالمانو یوې ډلې پښتو کړی وی ، لکه دا بیتونه :

پښتو کې پیدا شوی یوامیر و — چې په عقل په تدبیر کې بې نظیر و
عالمان یې سره ټول کړه په تدبیر — چې پښتو کاندي پارسي د دې تفسیر

یا دا بیتونه :

د تفسیر پښتو کول باندې لغبشه — بیا د دین په چار دې په دې طالبشه
چې پارسي یې پښتو کړي عالمان — چې اسان شي پوهېده پرې د افغان

خو د همدې منظومې مقدمې په پای کې بیا راغلي دي : « نوم کېښو شه د دې کتاب په تفسیر افضلیه سره ، ولې چې جوړ کړی دی نواب افضل الدوله بهادر سردار جنګ د دې له پاره چې غرض مې له خدای دی ... »

له دې دوستې یا ښېښه خو ماته دا ښکاري چې د یا د ښت کښو ونکی مقصد دا دی چې دا تفسیر افضل الدوله جوړ کړی دی او پښتو کوونکي یې هغه دی .

ما له ښاغلي رفیع سره هم د دې یادښت په باب مباحثه وکړه ، ده وویل : چې ( جوړ کړی دی ) د دې معنا نه ښندي چې مفسر دې افضل خان وي .

په دې برخه کې د دوی د لیل دا و چې ، خلک دا خبره هم کوي چې فلاني کور جوړ کړ ، حال دا چې کور دده په غوښتنه معمارانو جوړ کړی وي .

په هر صورت درامپور په رضا لایبریري کې چې د دې تفسیر د کومو اوو پارو خطي نسخې په دوو ټوکونو کې موجودې دي په هغو کې دیوه جلد

په پیل کې ځینې منظومات راغلي چې په د غو منظوماتو کې د ناظم متوم افضل راغلی دی او له دې بر سېره د منظوماتو له ځینو بیتونو نه د ابتکاري چې د تفسیر مترجم افضل خان دی ، لکه :

چهار یار افضل په ستر گو دی منلي چې په هر یار هر گوره گران دی د

—

چې له ځان سره مې وکړه مطالعه | داسې رنګ مې دخاطر وشوه صلا
پښتانه وته پارسي ژبه ده گرانه | داپښتو به لولي هر امیر ملا
نورپښتو مې داتفسیر په پراخلاق کړه | که کرم را باندې وکه خدایتعالا
پښتانه دې افضل خان ته دعا کاندي | چې يې وبخښي کریم غفار مولا
افضل خان دې له کرمه امیدوار یم | هرگوره د بې لوم په محکې گناهونه
تر و افضل به شي افضل په مخلوقاتو کې | که د خدای ور باندې وشي کرمونه

—

پښتانه ته چې وسخت پارسي زبان | هم په داتفسیر پښتو که افضل خان
چې په هره زمانه کې لوست یاکوت شي | په دعا سره دې یادکا افضل خان
که مې وقر وقار ډېر و په دنیا کې | چې بالهشم لوی امیر په هندوستان
افضل خان بنده د رب رحمان رحیم دی | امتي د محمد یم دامې شان

همدا راز په دې منظومه مقدمه کې تر یوې پنځه بیتیزې منظومې وروسته اتلس الحاقي بیتونه هم شته چې د افضل په توصیفونو ، دده او دده د کورنۍ په مدح کې ویل شوي دي او شجره یې پکې راغلې ده . ددغو بیتونو اشارې هم په دې گواهي لري چې داتفسیر دافضل خان دی لکه دا بیتونه :

. چې امیر امرا د هندوستان دی | بهادر افضل الدوله میر افغان دی
......
چې تفسیر یې په پښتو کړې له پارسي نه | محبت د افضل خان په قام افغان دی

د لوړو داخلي او خارجي شهادتونو په بنیا د سړی اویلای شي، چې دا تفسیر افضل خان جوړ کړی دی او پښتو مترجم يې افضل الدوله افضل خان دی او د پېښور پښتو اکیډیمۍ په کتابخانه کې د تفسیر افضلیه د محفوظې بشپړې نسخې د منظومې مقدمې په پای کې راغلي یاد ښت هم پرې رښتیا کېږي چې دا تفسیر دغه پښتانه نواب افضل خان افضل الدوله پښتو کړی دی.

خو دا چې د پېښور د نسخې پیل په منظوماتو کې د دې تفسیر ترجمه د افضل خان په غوښتنه د عالمانو کار بلل شوی دی، د پوښتنې وړ موضوع ده. د رامپور د نسخې د متن شهادتونه او د پېښور د نسخې ځینې یادونې سړي په دې باور کوي چې دا تفسیر افضل خان پښتانه پښتو کړی دی او د بل قوي داخلي یا خارجي سند تر پیدا کېدو پورې باید دا تفسیر د افضل خان ترجمه وبولو. د دغه منښت تر څنګه د پېښور د بشپړې نسخې د منظومې مقدمې یادونو ته هم باید توجیه پیدا کړو.

زما په فکر تفسیر شریف به افضل خان پښتو کړی وي، خو به ترجمه کې به ورسره د عالمانو مشوره وه او په بیا کتنه کې به علماوو مرسته ورسره کړې وي او د نسخې کاتب چې غالباً به د صحنې ناظر و، په خپله و یلي منظومه کې دا تفسیر د افضل خان په غوښتنه د عالمانو کار بللی وي؟

که به دا سې وي، نو زما بل حدس دا دی چې: د تفسیر دغه نسخه چې چاپ شوې ده، رکن الدین کتابت کړې وی. په دې برخه کې زه څو دلیله لرم:

(۱) د قرآن عظیم د صحیح لوست لپاره یې خپل جوړ کړی قانون القرائت هم ورسره مل کړی دی.

(۲) د دې تفسیر خط ته ورته خط ما د پېښور په آرشیف کې د یو تجوید

په حاشیه کې هم لیدلی دی.

(۳) دریم دلیل چې زما داحدس صحت ته نږدې کوي، هغه داد ی چې رکن الدین په احمد شاهي عصر کې په کتهیر کې هم اوسېدلی دی.

د رکن الدین د مناقب غوث الاعظم کومه خطي نسخه چې د سنا غلي حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې خوندي ده دهغې په پای کې د رکن الدین ځینې مناجاتونه هم راغلي دي، دیو مناجات په پای کې په کتهیر کې خپلې استوګنې ته داسې اشاره کوي:

که په خیر له کتهیره ورسم تر خیله کوره
بیا به نه سبورم چا پېره داوینا وایم په د بره
موجود نشته بې له ذاته

باید ووایم چې پخوا برېلي د شمالي هندوستان د مراد آباد سنبهل او بدایون اقطاعو ته کتهیر وایه او داسیمې ګرده وروسته بیا په روهیلکنډ کې شاملې وې او دا هغه سیمې دي چې عمرخیل پښتانه نوابان یې په توابعو کې آباد وو.

د تفسیر افضلیه پښتو مترجم، لکه چې سمدلاسه ښکاره ده، افضل الدوله افضل خان عمرخیل دی، چې پلار یې فاضل خان نومانده. د تفسیر افضلیه د رامپور د نسخې په پیل کې چې د افضل خان د پېژندنې په لړ کې کومه شجره راغلې دهغې له مخې افضل خان د نجیب الدوله زي تره زوی کېږي، خو په تواریخ خورشید جهان کې چې د دې کورنۍ کومه شجره ضبط ده، د هغې له مخې دا سړی د نجیب الدوله نږدې د تره زوی نه ورېدل شوی دی.

افضل خان د افضل الدوله بهادر سردار جنګ القاب او مناصب درلودل.

د افضل خان په آثارو کې موږ ته خو منظومې او د دې تفسیر شریف پښتو ترجمه معلوم دي، چې تفسیر یې په پښتو نثر دی او د نثر شیوه یې داده :

«صاحب د لباب او مفسران په دا دي چې میزان عبارت له عدل دی، یعني د تلې مثال دی د پاره د محافظت د حساب او جزا د اعمال په راستیه سره او جمهور په دې دي چې تله ده چې هغې لره ژبه او دوه پلو..نه دي، لکه تله چې په هغې سره په دنیا کې وزن کوي او تیسیر کې راوړي دي چې ایراد د میزان په لفظ د جمعې سره د پاره د تعظیم د شان د هغه دی» (۱۱۴)

دا نثر د احمدشاهي عصر د نثري ادبیاتو نثرونو په څېر گنډې او تعقیدونه لري، روانې او شگفتگي یې ډېره نه ده، د ستاینې وړ بنېگڼې نه لري او په ترجمه کې ډېر لاسبری نه ښکاري. خو دا چې یو نوابزاده ځای ځای او داسې عظیم کتاب په پښتو ترجمه کوي، دا ځیله د منني او یادونې وړ خبره ده.

د دې بحث په پای کې یوه بله ضروري یادونه دا کوم چې کله ما د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخو په تعلیق کې پر دې تفسیر شریف څه کښلي د هغو اسنادو او دلایلو له مخې چې ماسره وو ما د دې تفسیر د پېښور او رامپور نسخې د یو کتاب بېلا بېلې نسخې وبللې او په خپل بل کتاب (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه) کې مې هم په دې باب خپلو لومړنیو څېړنو ته انکشاف ورکړی و. خو کله چې زه په ۱۹۹۲ع کال پېښور ته راغلم او د پېښور د پښتو اکیډیمۍ له هغه وختني مشر پروفیسور محمدنوازخان طایر صاحب سره مې ولیدل، نو په اوله وېره یې د تفسیر افضلیه چاپي نسخه راکړه. دا چاپي نسخه چې ما وکتله پر سریې د مفسر نوم رکن الدین چاپ شوی او خپله د تفسیر شریف

متن په داسې ډول لیکل شوی چې له عامو تفسیرونو سره فرق لري.

په دې تفسیر کې کاتب قرآن مجید مسلسل لیکلی او په متن کې یې بین السطور پښتو ترجمه هم ورکړې ده. تفسیر یې حاشیو ته خپرولی دی. ما چې په رامپور کې د تفسیر افضلیه د اوو پارو نسخې لیدلې وې د عامو تفسیرونو په دود لیکل شوې وې. یعنې د قرآن عظیم د مبارکو آیتونو له هرې کلمې سره یې معنی او تفسیر جوخت پکې کښلی و. دغه چې مې د تفسیر افضلیه د دې نسخې د اشپوه قلیدله نومې ذهن ته د قرآن مجید هغه ترجمه هم راغله چې د دیارلسمې پېړۍ د روستیو لسیزو کې د بهوپال پښتو عالمانو تهیه کړې او هم داسې بین السطور ترجمې او په حاشیو کې تفسیري موارد او فوائد راوړي دي

د تفسیر شریف د ظاهري شکل په لیدو دا رابښکاره شوه چې دا به هغه تفسیر افضلیه نه وي چې ما یې اوه پارې په رامپور کې لیدلې وې او دا یې انګېرل چې دا تفسیر نه د رکن الدین دی او نه تفسیر افضلیه بلکه د قرآن عظیم یوه ترجمه ده. یعنې بین السطور پښتو ترجمه او ځینې فواید او تفسیري موادې په حاشیو کې دي. د همدې ذهنیت تر اغېز لاندې مې نور تحقیق پسې ونه کړ او چې کله ما خپل کتاب په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې په اړه ونه چاپاوه، نو مې د تفسیر افضلیه د بحث په پای کې (۴۳۶ مخ) همدا لوړه یادونه وکړه چې د پېښور نسخه نه تفسیر افضلیه او نه د رکن الدین دی. لوم‌هه خبره سمه وه نه خو او دوهمه پر خپل ځای سمه ده.

د خوشبې ځای دی چې په دې ورځو کې سباغلي رفیع د پېښور د پښتو اکیډیمۍ د خطي نسخو فهرست تر له سره ترتیب ورکاوه او چاپ ته یې

برابراوه. د همدې اړې په بنا ده د هند دکتابخانو پښتو خطي نسخي نومي کتاب کې چې د تفسیر افضلیه د را مپور د نسخې کوم اقتباسونه راغلي دي، هغه یې دکشاف القرآن په مرسته د پېښور له نسخې سره وکتل او د هند دکتابخانو پښتو خطي نسخې نومي کتاب په ٤ مخ کې د تفسیر افضلیه راغلي اقتباسونه يې د چاپي تفسیر افضلیه په ۷۳۲ مخ کې وموندل او له رفیع صاحب نه په خاصه منته هغه یادونه ببرته اخلم او که څېړې د دوی یادونه نه وای زما هماغه غلط ذهنیت به دې کتاب ته هم منتقل شوی وای.

(ن) منشور جنت الفردوس: د پېښور په آرشیف کې د دغه منثور کتاب دوې نسخې موجودې دي. یوه نسخه یې سرنه لري او نوره هم کهووده گنډل شوې ده، بله نسخه چې په ۱٤٥ نومره خوندي ده، په نسبي ډول سالمه ده او په زیاته د ډېل برخې یې جوړې دي. د ډېل په برخو کې یوه مقدمه شته. په هغې مقدمې کې را غلی دي: «نصرالدین زوی د نجم الدین دی، نجم الدین زوی د حجاج الدین دی. په زمان د بادشاه کمال الدین خدای دې جنت د ده مقام که، خدای دی و بخښي دی هم مور و پلار د ده هم... ده هسې ویلي دی چې ځینې دوستانو د ... چې غم یې د دین و، اشارت یې وکړ د خوخبره وله هره نوع، چې فایده وي پکې ډېره. د دین له معتبر کتابونو نه ټول کړه چې طالبان وې لولي، هم گوري هم عمل پر کاندي ډېر ښه وي په حکم د خدای... دا کتاب چې یو دېرش فصل او د ده نوم جنت الفردوس دی.

مصنف دا کتاب په رضا د دوستانو محبانو، په حکم د خدای تعالی سره جوړ کړ. هم ودې فقیر ته هم ځینې یارانو چې عربي،

فارسي يې نه زده وه چې جمله ددې کتاب کې موږ وته پښتو کښې نوشته شي موږ لره او زړه به وم ډېر ښه شي او ډېر مسلمانان به وم فايده ځني حاصل که او فقير عبدالکبير چې فرزند د عبدالحکيم دی، دا کتاب پښتو کړ...

د عبد الکبير له دې کښلي مقد مې څخه ښکاري چې د کتاب اصلي ليکوال نجم الدين د خپلو دوستانو په غوښتنه کښلی و، نوم يې ډېر جنت الفردوس ايښی و او فصلونه يې يو دېرش وو. هم دا کتاب ده د خپلو هغو پښتنو يارانو په غوښتنه پښتو کړی دی، چې عربي او دري ژبه يې نه وه زده.

د کتاب يو دېرش فصله په موجود پښتو متن کې شته. په دې يو دېرش فصلونو کې د نفلونو د ثواب، د ځينو آيتونو د ثواب، د ځينو دعاګانو د ثواب او د ځينو خاصو وختونو د ثوابي لمونځونو د فضيلت په باب ډېر فصلونه راغلي دي په اوه لسم فصل کې د مرګ د يادولو ثواب بيان شوی دی، اتلسم فصل د قبرونو د زيارت، نولسم فصل د هغې دعا په باب دی چې د مړي په کفن کې کولو په وخت کې ويل کېږي، له شلم نه تر ۳۰ فصله پورې بيا د ځينو خاصو لمونځونو او دعاوو فضيلتونه او ثوابونه بيان شوي دي. يوويشتم فصل د قيلولې په باب دی، دېرشم فصل د ايام بيض د روژو په باب راغلی دی او يو دېرشم فصل د مسواک فضيلت ښيي.

دا کتاب په عام ډول ځينې ديني لارښوونې لري او په ژوند کې د ځينو چارو ښېګڼې د ديني لارښوونو په رڼا کې ښيي.

د دې کتاب د مقدمې نه ښه ښکاري چې غالباً ترجمه نه ښکاري او مترجم په خپله ليکلې دی. نوره برخه يې د نجم الدين د جوړه کړې

جنت الفردوس پښتو ترجمه ده. د ترجمې روش یې دادی:

اشراق وهغه ته وايي چې نمر یوه نېزه قدر یا دوه نېزې قدر پورته شي، ودغه ته اشراق وايي. په کتاب کې وايي چې د اشراق لمونځ په درې پنځوس پیغمبران فرض و او پر مونږ مستحب دی. پیغمبران (ص) همېشه نه وکړی...» (۱۱۷)

د عبدالکبیر ننګ د احمدشاهي عصر تر نورو دیني نثرونو دېره رواني لري، ترجمه یې هم روانه ده او لیکلې مقدمه یې هم دومره کړکېچ نه لري. دا یو لار ښود دي کتاب دی، چې د خلکو د دیني اړتیاوو د لېرې کولو او هم پر دین د خلکو د..... لپاره ترجمه شوی دی.

د دې کتاب د ښوولو تر څنګه دا مسأله هم د سپیېلو ده چې د دې پښتو منثور جنت الفردوس مترجم عبدالکبیر، خو به هغه د احمدشاهي عصر کثیرالکلام ناظم او شاعر حافظ عبدالکبیر نه وي چې د منظوم جنت الفردوس، دارالمجالس، معجزات، دفع الفقر، قصۀ تمیم انصاری طوطي نامه او نور ډېر آثار یې مونږ ته معلوم دي.

د منثور جنت الفردوس د مقدمې له مطالعې سړی ته داسې کوم سند په لاس نه ورځي چې د منثور جنت الفردوس مترجم او حافظ عبدالکبیر سره یو تن وبلل شي، خو یوه خبره ښته چې حافظ عبدالکبیر د جنت الفردوس په نامه یو منظوم کتاب لري، له منثور جنت الفردوس سره یې دې لاندې توپیرونه:

(۱) د منثور جنت الفردوس په مقدمه کې تاسې ولوستل چې مترجم د کتاب اصلي څښتن هم ښوولی او د خپلې پښتو ترجمې باعث یې

هم په نخبنه کړی دی او داپې ویلي دي چې څينو دوستانو نه دې ته وهڅاوه چې داکتاب پښتو کړي، اما په منظوم جنت الفردوس کې راغلي دي:

هر يو چارچې سرې کاندي — وې يوشی باعث يرې باندې
او ېر ما باندې شتاب شه — خود پخپله داکتاب شه
ماچې وکوت د ېې مرغوب وه — په ضمير کې مې محبوب وه
ماوی دريغه چې پښتو شي — چې په کار د ښتنو شي
په پښتو مې نور آغاز کې — گوښې ـ گوښې باب مې ساز کې(۱۷۸)

له دې لوړو بيتونو دا ښکاري چې پخپله دکتاب مرغوبيت پير حافظ عبدالکبير د دې باعث شوی دی، چې داکتاب پښتو کړي، نه د دوستانو غوښتنه. ماچې ترکومه وخته منظوم او منثور دواړه جنت الفردوسه نه وو سره مقايسه کړي نو مې د اګمان چې ښايي عبدالکبير براوله داکتاب منثور ترجمه کړی وي بيا به يې په پښتو نظم را اړولی وي، خو چې مې سره مقايسه کړل او د نظم او ترجمې انګيزې مې سره وکتلې دواړې يو له بله توپير لري.

(۲) منثور جنت الفردوس ۳۱ فصله دی، حال داچې منظوم جنت الفردوس ۳۸ بابه دی. په منظوم کې د منثور د يو د پرش فصلونو محتويات هم شته او ۷ بابه د کتاب له موضوع سره مربوط نور مطالب هم پکې راغلي دي، نو څکه سړی دا نشي منلای چې دا دواړه جنت الفردوسه دې يو له بل نه اخيستل شوي وبولي، خو دا خبره واضحه ده چې منشاء يې يوه ده. دا سې فکر کيږي چې منظوم جنت الفردوس له دا سې يو متن نه پښتو شوی دی چې چا څه زيا تونې په کې کړي او بابونه يې

ور زیات کړي دي. که دا زیاتونې حافظ عبدالکبیر پخپله کړې وای، نو بویه چې په مقدمه کې یې یا دونه کړې وای، له مقدمې دا خبره نه ښکاري.

(۳) د منثور جنت الفردوس په دوو نسخو کې چې په آرشیف کې شته په یوې کې (ن) په (ښ) کښلې شوی، لکه د موږه چې معمولاً د ختکو لهجه ده او د ختکو کوم آثار چې لیدل شوي پر زیاتوکې یې د موږ، دمونږ پر ځای (دموږ) راغلی دی. خو دویلو وړ دا چې دا خبره سل په سلو کې ددې دلیل نشي کېدای چې د منثور جنت الفردوس مترجم دې خوک ختک وی، کېدای شي کاتب ختک وي، دا لاسوهنې د کاتب وي.

له دې مقایسوی کتنې ور وسته هم زه پرېکړی حکم نشم کولای چې د منثور جنت الفردوس مترجم عبدالکبیر د عبدالحکیم زوی دې سل په سلو کې همدا حافظ عبدالکبیر وي. د حافظ عبدالکبیر څو مره آثار چې ما کتلي دي، په هغو کې یې نه دپلار په نامه نه یم پیښ شوی. که چېری د حافظ عبدالکبیر په آثار و کې دده د پلار نوم پیدا شي چې عبدالحکیم وي، نو بیا سړی ویلای شي چې منثور جنت الفردوس به هم د حافظ عبدالکبیر وي.

(ح) د حافظ عبدالکبیر منثوري ټوټې: که منثور جنت الفردوس د حافظ عبدالکبیر وي او که نه، دی خپلې نورې منثورې ټوټې هم لري او دده دا منثورې ټوټې دی، ددې جوګه کوي چې د احمدشاهي عصر په نثر لیکونکیو کې یاد شي.

د حافظ عبدالکبیر تهکالي په آثار و کې یو غټ منظوم اثر درالمجالس دی چې د دولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې یې پښتو منظوم کړی دی.

د حافظ عبدالکبیر دا منظوم کتاب څو ځله چاپ شوی هم دی او خطي نسخې یې هم بنایسته ډېرې پیدا کېږي.

ددې پښتو منظوم کتاب عناوین هم پښتو نثر دی، خو دلته موږ یوازې د عناوینو په اساس دی. نثر لیکونکی نه بولو داسم کېدای شي، عناوین یې دخطي نسخې کاتبانو او دچاپي نسخې چاپ ته برابرونکي کړي وي. له عناوینو برسېره د دارالمجالس په متن کې د منظوماتو په منځ کې منثورې ټوټې هم شته چې په ماکتلې یوه چاپي نسخه کې تر اویاوو زیاتې منثورې ټوټې راغلې دي.

ما چې په چاپي نسخه کې دا منثورې ټوټې وکتلې سل په سلو کې باوري نه وم چې دا ټوټې به د کتاب جز وي او د منظوم متن د پښتو منثور و عناوینو په باب چې کوم شک راسره و او دا چې انګېرل چې بنایي دا منثورې ټوټې هم وروسته چا ورسره ملې کړې وي. د شک د لرې کولو لپاره مې د دارالمجالس خطي متن ته مراجعه وکړه. دپېښور د پښتو اکېډیمۍ په خطي کتابونو کې پر ۱۱۹۳ نومره د دارالمجالس یوه خطي نسخه شته چې ملاعبدالمجید کښلې ده. په دې نسخه کې هم منثورې ټوټې وې. په خطي متن کې دمنثورو ټوټو موجودیت په دې باوري کړم چې دا منثورې ټوټې دکتاب جز دی او حافظ عبدالکبیر ته یې په نسبت کې د شک مجال لرې کېږي.

د ده له دغو منثورو ټوټو څخه یوه داده: «معجزه دحضرت عیسیٰ علیه السلام چې یوه ورځ په قبرستان ورغی که کاته یې په یو قبر یو ځوان ناست و، حضرت عیسیٰ وې دلته څه کوې چې ناست یې. وې په دا قبر کې زما معشوقه ده ورته ناست یم. عیسیٰ دعا وکړه ژوندۍ شوه... دا ارتینه چې خدای ژوندۍ کړه د غه مرد عاشق دڅو کالو خوب په

سرکې وه، وې ته بادې څه خوا راته کښېنه چې زه لږې ستړکې پټې کړم، ستا له عمه مې خوب نه دی کړی، همې ضحجي وم. مودچې اوده شه یو شهزاده په سنګارکوڅېدو راغی په دې مېن شه نو ویاڅېدو ورسره روانه شوه، داقصه دیمې څښتن یې وده پرځای پر پېبود ». (۱۱۹)

(ط) د آخوندګدا دنافع المسلمین توټې: اخوندګدا هم د احمدشاهي عصر په علماوو، شاعرانو او ناظمانو کې حسابېږي. ده د نافع المسلمین په نامه یو پښتو منظوم کتاب پرېښی دی. په دې کتاب کې هم لکه د آخوند کبیر د دُر المجالس، ځینې منثورې توټې شته. دا منثورې توټې عناوین نه دي، بلکه په متن کې راغلې توټې دي. نافع المسلمین څوځله چاپ شوی دی، خطي نسخې یې هم شته. د نافع المسلمین په یوه چاپي نسخه کې پښتو ځای په ما پښتو نثرونه او یو ځای فارسي نثر وموندل.

د نافع المسلمین د چاپي نسخې پر نثرونو مې ویسا ونه کړه، نو مې د کتاب خطي متن پسې وغوښت. د آخوندګدا د نافع یوه نسخه چې په ۱۲۰۲ نومره د پېښور د پښتو اکیډمۍ په کتابخانه کې ساتل کېږي. دا نسخه په ۱۲۶۶ ورق کال لیکلې شوې ده. په دې نسخه کې هم منثورې توټې وې، نو ځکه مې داخبره زړه ته ولوېده چې په چاپي نافع المسلمین کې راغلې منثورې توټې د اصلي متن جز دي او وروسته چا نه دي ورزیاتې کړې.

د دې کتاب یوه منثوره توټه داده: «عابد عیسی ع ته ووې چې اتیا کاله شوي دي عبادت د حق تعالی کوم په دې ځای او په دې اتیا کالو حاجت له هغه غواړم، خو هغه حاجت زما نه روا کېږي، یعنې زما دعا نه قبلوي او س که چېرې ته زما دعا وغواړې که لږ شان له محبته څه ما کړې مالره ... » (۱۲۰)

د اخوند کبیر د د ارالمجالس او د اخوند گدا د نافع المسلمین نثر ونه منظم رسایل او منثور آثار نه دي ، بلکه د څینو منظو ماتو په ترڅ کې ځیني توضیحي برخې په پښتو نثر کښلې دي . که څه هم د ا منثورې ټوټې سل په سلو کې د همدغو متونو جزوي او د دغو منظومو متونو اصلي خاوندانو کښلې وي ، نو سره د یلای شي چې اخوند گدا او اخوند عبد الکبیر د نظمونو تر څنګه نثرونه هم کښلي او یا داچې نثرې کښلای شوای .

د دغو دوو اپو کتابونو، د ار المجالس او نافع المسلمین منثورې ټوټې د احمد شاهي عصر له ټولو نثرونو نه رواني زیاته لري ، سنه روان کښل شوي دي ، په زیاته د در المجالس منثورې ټوټې خو عامې محاورې ته د بر نزدې دي او د دوو لسمې پیړۍ د دوهمې نیمایي په سبو نثرونو کې سرې حسابولای شي.

د پښتو نثر په څېړنو کې منثور جنت الفردوس او هم د درو ستیو دوو کتابونو : د ر المجالس او نافع المسلمین منثورې ټوټې چا نه دي سنوولي او دا دی اول ځل د دغه کتاب له لیارې له دغو منثورو ټوټو خبریږو.

## شیدا او په پښتو نثر لیکنه کې یو نوی تمایل :

د احمد شاهي عصر په ورو ستیو کلونو کې په هند کې ناست پښتون ختک شاعر کاظم خان شیدا په ۱۱۸۱ هرق کال خپل دیوان مرتب کړ او د دغه دیوان ته یې په پښتو نثر یوه مقدمه وکښله ، چې د دې مقدمې یوه نمونه دا ده : « لیکن زه چې په دکان د شاعرۍ قلیل البضاعت او په ایوان د زبان اوری زرنګار د صناعت نه لرم ، خپل مناسبت فطري له دې شیوې سره په محل د قصور کې موهم او موانست جبلي له دې وتیرې په مراحل د دورېتر . با وجود آن په عنفوان شباب کې مې استراحت د حضر په محنت د سفر مبدل شه » (۱۲۱)

د شیدا د نثر لیکنې دا شیوه د پښتو ادبیاتو کره کتونکیو او ادبي مؤرخینو ګرد ور کړې ده. استاد رښتین په دې ارتباط کښلي دي:

«د دانش سره د دې چې قافیه وال نه دی، مګر د ګرانو عربي لغتونو او سختو اوږدو جملو په واسطه دا خوند دروبږه له مقفي نثر نه هم سخت شوی دی او په اسانه سړی پرې پوهېدای هم نشي. ښایي چې په عادي نثر کې تر دې زیات مشکل او ګران نثر بل نثر نه وي، څومره چې کاظم خان شیدا د شعر په میدان کې نوم ایستلی دی او په پښتو شعر کې یې دا وچت خیال د نکې مالغه درولې دي، په نثر کې په هماغه اندازه پرېوتی دی.

(د پښتو نثر هنداره ۲۶۶، - ۲۶۷ مخونه)

د شیدا د نثر لیکنې په باب د کره کتونکیو پر اراوو ما په تېره یوه لنډه مقاله کې (۱۲۱) ځینې ټکي څرګند کړي دي، د مغو خبر و بیا تکرار ته په ضرورت نه وي، خو د دې خبرې له ګوله چاره نه لرم چې شیدا ځان په پښتو کې خاص ګڼي، لکه چې ویلي یې دي:

ما چې دا کلام ادا کړ نوی طرز مې راپیدا کړ
په پښتو کې ګویا خاص یم سزاوار د اختصاص یم

دغه چې شعر یې په خاص طرز ویلی دی، دغه رنګه یې په نثر لیکنه کې هم یوه داسې شیوه اختیار کړې ده چې نه تر ده پخوانو دغسې نثر لیکلی و او نه یې معاصرانو دغسې نثر کښلی و. د ده ابتکار او نوي والي ته مایلې قریحې او ذهن دې ته پاروّلی دی چې دغسې نثر وکاږي.

ده که څه هم شعر د نورو ژبو د الفاظو په انتخاب څومره ښایسته کړی دی، خو په نثر کې یې چې داېږدي لغات ور داخل کړي دي د ده نثر یې له فهمه لیرې کړی او دی یې د کره کتونکیو تر اعتراضو لاندې ولېږ

کړې دي. دلته دوې خبرې د هېرولو نه دي:

(۱) په نثر لیکنه کې د شیدا اتجربې مونږ ته د ا راښیي چې نثرلیکونکی باید زیات وباسي چې نثر د خپلې ژبې په چوکاټ کې وکاږي او که څوک د نورو ژبو ترکیبونه او لغتونه په کې زیات کاروي مغومره نثر له فهمه لېرې کېږي او پوهېدل پرې گرانېږي.

(۲) بله دا چې مونږ دا حق نه لرو چې چاته دستور ورکړو چې ده ولې خپله لیکنه داسې او یا هغسې نه ده لیکلې. لیکوال خپله آزادي لري او دا آزادي یې باید وساتل شي، چې څنګه یې زړه غواړي هسې یې ولیکي، که کتونکی د خپل مسلک له غوښتنو او صلاحیت سره سم یوازې د یوې معقولې لارښوونې حق لري.

زما د معلوماتو له مخې د شیدا د نثر لیکنې سبک د ده په معاصرانو کې چانه دی تعقیب کړی، د د پارلسمې پېړۍ په دوهمې نیمايي کې او سپېدلي پښتانه لیکوال او شاعر مولوي محمد رفیق اکبرپوري (۱۲۶۲-۱۳۱۹ هـ) په خپل دیوان شمس الفلک ترکومه مقدمه ور برابره کړې ده، زما په خیال چې ددې مقدمې په لیکنه کې به یې د شیدا د دیوان مقدمې ته جدي پاملرنه درلوده. ده لیکلي دي: «نخلبند ددې بستان د معاني او نقشبند ددې گلزار چاودانې پرصفحه رنګین تر ماء معین پر قلم اعجاز رقم چې پرغصن ورق له اغصانو د حیات او د ایت دی د علوییین له ممات، په دا رنګ عرض پرداز شو. که اګرکې پر بساط د نشاط د پښاور شاعران دلکش او سحبان منش دي په اشعار و د ژبې د پښتو پیدا دي...» (۲۳)

د پښتو نثر لیکنې د غه سبک چې شیدا رایستلی دی. له شیدا او

محمد رفیق اکبرپوری پر ته بل چا نه دی تعقیب کړی او یوازی هغه دی دوه کسانو پر دې لاره یونګړی دی، لکه چې ظاهره ده د دې سبک نثرونه د نثر پر تحمیلیا پر جریان کومه اغیزه ونه لرله او د نثر لیکنې له عام دود نه خلاف یې یو ګړی سبک د پښتو نثر تاریخ ته یو میراث پرېښی دی.

## په احمد شاهي عصر کې د پښتو

## نثر لیکنې یوه تریوه کتنه: د دې بحث په پیل کې ما

وویل چې احمد شاهي عصر کې د پښتو نثر لیکنې داسې یو متبارز سبک مینځته را نغی چې پښتو نثر لیکنې ته نوی سر و صورت ورکړی، لکه تر دې عصره د مخه چې خټکو د نثر لیکنې پر شیوه را اېستې وه او بیا د هوتکو د زمامدارۍ په زمانه کې یوه داسې نثر لیکنه رواج شوه چې د خلکو له محاورې او عام وخبرو یې رنګ اخیست، متاسفانه په احمد شاهي دوران کې په پښتني فرهنګي حلقو کې د نثر لیکنې بیو داسې سبک را پیدا نه شو چې هغه دې نور پیروان موندلي وی، بلکه په دې عصر کې او سېدلو بنو نثرلیکونکیو څینو یخوانو غنځي تعقیب کړی او څینو له خپلو مطالعو او له نوروژبو سره د اشنایۍ له امله داسې سبکونه غوره کړل، چې نثر ونه یې د پیروانو نه هو او د خټکو او هوتکو د دوران د نثر لیکنې ښکلې یې ندرلودې.

په دې دوران کې شیدا له یو نوي تمایل سره د پښتو نثر لیکنې میدان ته را وړاندې شو، خو دده د غوره کړی سبک کره وړه او جوله د پښتو ژبې له جوړښت سره نا اشنا وو، نو ځکه د اسبک چا ونه مانه او په پښتنو کې یې طرفداران پیدا نه کړل یوازې مولوی محمد رفیق چې خپل

دېوان ته کومه مقدمه و لیکله هغه د شیدا سبک ته نژدې وه.

ــ په دې دوران کې چې کوم پښتو منثور آثار مینځ ته راغلي دي ترجمې یکې له تألیفه ډېرې دي.

ــ د دې پېر آثار زیاتره تصوفي، دیني او فقهي دي، دا ډول موضوعات په پښتو کې هغه وخت نوي نه وو، بلکه تر دې پېر دمخه ډېر و لیکوالو په دې موضوعاتو کې آثار کښلي او ترجمه کړي وو. د دې دوران په آثار و کې په موضوعي لحاظ ابتکاري اثر د میا شرف پښتو عروض دی، چې په دې موضوع تر دې وخته د مخه موږ بل اثر نه درلود.

ــ د دې دوران ځینې لیکل شوي یا ترجمه شوي آثار موږ ته د دې افاده راکوي چې دربار له پښتو سره مینه درلوده او دا یې هیله وه چې ورو ورو پښتو رسمیاتو ته لار پیدا کړي، لکه د پیر محمد کاکړ معرفة الافغاني (دلیکنې سبک یې د هوتکو د دورې د نثر لیکنې له سبک سره ښنتون لري)، د عبد الله فتاوای احمد شاهي، چې د احمد شاه بابا په امر پښتو شوې ده. د غه راز د قاضي محمد غوث له خوا د احمد شاه بابا د الفنامې شرح هم راښیي چې په دربار کې د پښتو خواته څه رجحان موجود و.

ــ په دې دوران کې چې کوم آثار په پښتو نثر کښل شوي او یا ترجمه شوي دي، زیاتره یې علمي نثرونو کې حسابېږي. د نثرونو نورو ډولو ود نه ده موندلې، د انشرونو زیاتره د روزنیزو او دیداکتیک اهدافو په منظور رامینځ ته شوي دي.

# مأخذونه


(۱) حبيبي ، پوهاند عبدالحی : دخوشحال خان خټک دجهاندارۍ نظریه ،

تګیالي پښتون ، دسرمحقق محمداکبر معتمد پرزیار ، پښتو ټولنه ، کابل

دولتي مطبعه ، ۱۳٤٥ هـ ش ، ۳ مخ .

(۲) دخیرالبیان مقدمه ، ۸۲ مخ .

(۳) دپښتو دنثر تاریخي اوتنقیدي جایزه ، ۱۰۷ - ۱۰۸ مخونه .

(٤) په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو دایجاد او ودې پړاوونه ، ۱۲٦ مخ .

(۵)(٦) روښاني ، ارزانی ، منثوره رساله ، (خطي) ۲ - ۳ - ۴ مخونه .

(۷) دهند دکتابخانو پښتو خطي نسخې ، ۱۱ مخ .

(۸) مخلص ، علي محمد : منثوره تصوفي رساله ، کابل مجله د ۱۳٦۷ هـ ش کال

۱ - ۲ ګڼه ، ۳۷ مخ .

(۹) په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو دایجاد او ودې پړاوونه ، ۱٦۲ - ۱٦٤ مخونه .

(۱۰) مومند ، قلندر : دخیرالبیان تنقیدي مطالعه ، چاپ ځی ، ۱۹۸۸ ع ، ۹۳ مخ .

(۱۱) بایزید روښان : مقصود المومنین ، دوکتور میرولي خان مسود پرزیار

مجمع البحوث الاسلامیه اسلام آباد ، ۱۹۷٦ ع ، ۱۲۹ - ۱۳۲ مخونه

(۱۲) دهند دکتابخانو پښتو خطي نسخې ، ۵۲ مخ .

(۱۳) اثرعبدالحلیم ، تېرهېر شاعران ، پښتواکیډمي پېښور ، پبلک آرټ پریس ،

۱۹۳۳ ع ، ۳ - ٤ مخونه .

(۱٤) درویزه (آخوند) : دمسایلو رساله (خطي) دپېښور آرشیف

نسخه .

(۱۵) د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې ، ۱۵۹ مخ .

(۱۶) خټک ، عقاب : تواریخ حافظ رحمتخانی ، پښتو (مجله) ، فبروری - مارچ ۱۹۷۷ع گڼه ، ۱۹ مخ .

(۱۷) ترړی ، پوهاند ، دوکتور حبیب الله : د تواریخ حافظ رحمت خانی روایت ته یوه کتنه ، وفا د ۱۳۷٤ هش کال ۵-٦ گڼه .

(۱۸) پیر معظم شاه : تواریخ حافظ رحمتخانی ، د پروفیسور محمد نواز طایر په زیار ، پښتو اکیډیمي پېښور ، دوهم چاپ ، جدون پریس ، پېښور ، ۱۹۸۷ع ، ۲۰ مخ .

(۱۹) د پښتو نثر هنداره ، ۱٦۱ مخ .

(۲۰) د عقاب خټک یادو شوې مقاله ، ۸ مخ .

(۲۱) معدن المسایل (خطي) د حمد الله صحاف د کتابخانې نسخه ، ۱۰۹ مخ .

(۲۲) نورزی ، پوهنوال دوکتور گل محمد ، د خوشحال کلیات مقدمه ، د خوشحال خټک کلیات لومړی ټوک ، دوهم چاپ ، کابل دولتي مطبعه ۱۳۵۹ هش ، شپږ ویشتم مخ .

(۲۳) رفیع ، حبیب الله ، د خوشحال هندکوه نامه ، وفا (جریده) د ۱۳۷۳ هش کال ۷-۸ گڼه .

(۲٤) رفیع حبیب الله ، د خوشحال وصیت نامه ، سپیدې (مجله) ، ۱۳۷۰ هش کال ۳ گڼه ، ٦۳ - ۷٤ مخونه .

(۲۵) تاریخ مرصع ، ۲۱٦ مخ .

(۲٦) عقاب ، سرفراز خان خټک : خوشحالنامه ، د زلمي هیواد مل په زیار ، کابل ، د قبایلو فرهنگي ریاست ، کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳٦۵ هش کال ، ۱ مخ .

(۲۷) عقاب ، سرفراز خان خټک : تاریخ مرصع د چا دی ؟ پښتو مجله ،

پښتو اکیډیمی، پېښور، د ۱۹۶۹ع کال د جون ګڼه، ۲٤ مخ.

(۲۸) تاریخ مرصع د ۲۱۰-۲۱۱ مخونه.

(۲۹) خوشحال خټک: دستارنامه، د پردل خان خټک په زیار، پښتو اکیډیمی، پېښور، حمیدیه پریس، ۱۹۹۱ع، ۲-۳ مخونه.

(۳۰) دستارنامه، ٤ مخ.

(۳۱) حبیبي، پوهاند عبدالحي: د خوشحال خټک د جهانوارۍ نظریه، ننګیالی پښتون، د سرمحقق محمد شینواري په اهتمام، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٤۵ هش، ۱۲ مخ.

(۳۲) روهي، کاندید اکاډمیسین محمد صدیق، ادبي څېړنې، ننګرهار پوهنتون د لوړو مسلکي تحصیلاتو مطبعه، ۱۳۶۰ هش، ۲۱۱ مخ.

(۳۳) خادم، قیام الدین: د دستارنامې تر یوه کتنه، توریالی پښتون، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۰ هش، ۱۰-۲۵ مخونه.

(۳٤) غزنوی، پروفیسور خاطر: دستارنامه، پاکستان (مجله) مرکز مطالعه پاکستان، پشاور یونیورسټی، ۳ ګڼه، ۱۹۸۱ع، ۵-۲۳ مخونه.

(۳۵) مومند، قلندر: پښتو نثر د خوشحال بخښنې، توریالی پښتون، پښتو ټولنه، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۵۰ هش، ۲۷۰ مخ.

(۳۶) روهي، کاندید اکاډمیسین محمد صدیق: د خوشحال خټک د مفکورو پولند جاج، د خوشحال کلیات، دوهم ټوک، پښتو ټولنه، کابل آسیانا مطبعه، ۱۳۶۹ هش، اتم مخ.

(۳۷) کاکاخیل، سید تقویم الحق: بې بې نامه (مقدمه) دویم چاپ، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، منظور عام پریس، ۱۹۶۳ع، ۱۶ مخ.

(۳۸) پښتو نثر د خوشحال بخښنې، ۲۷۱ مخ.

(۳۹) هجري اشرف خان : دېوان اشرف خان هجری (فارسي) په کوشش هيش خليل
ادارهٔ علم وفن پاکستان ، پشاور جدون پرنټنګ پريس ، ۱۹۹٤ع کال
۸٦ ، ۱۱٦ ، ۱۳۵ مخونه .
(٤٠) هېواد مل ، زلمی : فرهنګيالی عبدالقادرخان خټک ، د عبدالقادر ياد
پښتو اکيډيمي ، پېښور، ۱۹۹۳ ع (ناچاپه رساله) خطي ، ۲۲ مخ .
(٤۱) خټک ، عبدالقادر : دعبدالقادرخان خټک دېوان ، د نورالله ولسيال
په زيار، کابل ، پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ، ۱۳٦۸ هـ ش کال
۳-٤ مخونه .
(٤۲) د ګلشن روه مقدمه ، ۵۸ - ۵۹ مخونه .
(٤۳) خټک ، عبدالقادر : ګلدسته ، د خيال بخاري په زيار، پښتو اکيډيمي
پېښور، دوهم چاپ ، جدون پريس ، ۱۹۸۹ع ، ۱٤۷ مخ .
(٤٤) حبيبي، پوهاند عبدالحی : د پښتو د ادب تاريخ (دادبياتو پوهنځی ،
ددريم ټولګی لپاره ، کابل پوهنتون ، ۱۳٤۷ هـ ش ، ۱٦ مخ .
(٤۵) جعفری ، ضياء : پښتو ادب ، کراچه ، ۱۹۵٦ع کال ، ۵۳ مخ .
(٤٦) هېوادمل ، زلمی : د فراقنامې تعليقات ، کابل پوهنتون ، د لوړو
او مسلکي تحصيلاتو وزارت مطبعه ، کابل ، ۱۳٦۲ هـ ش ، اتدبرش
پوخلويښت مخونه .
(٤۷) خټک ، صدرخان : آدم خان درخانۍ ، د پروفيسور محمد نوازطاير
په زيار، پښتو اکيډيمي ، پېښور ، دريم چاپ ، جدون پريس ،
۱۹۸۹ع ، ۲۳۵ مخ .
(٤۸) خټک ، صدرخان ، معجزات ، خطي ، د پښتو آرشيف نسخه .
(٤۹) خټک ، خوشحال خان ، فراقنامه ، د زلمي هېوادمل په زيار، ۳۷ مخ.

(۵۰) د گلشن روه، دریم چاپ مقدمه، ۲۳ مخ.

(۵۱) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د حیات افغاني تعلیقات، دریم ټوک، د سرحدونو چارو وزارت، کابل، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰ هـ ش کال کب مخ.

(۵۲) کامل، دوست محمدخان مومند، د تاریخ مرصع مقدمه، ۵۱ مخ.

(۵۳) فرهنګیالی عبدالقادرخان خټک، نا چاپه رساله.

(۵٤) بختاني، سرمحقق عبدالله: پښتانه شعراء، څلورم جلد، پښتوټولنه کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷ هـ ش کال، ٤۹ مخ.

(۵۵) صدیقي، پوهاند دوکتور جلال الدین: روښ تاریخ نویسی در تاریخ مرصع، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې (د مقالو مجموعه) د ژلمي هېوادمل په زیار، کابل پوهنتون، د پوهنتون مطبعه، ۱۳٦۵ هـ ش، ۱۰۳ مخ.

(۵٦) د تاریخ مرصع مقدمه، ۷ مخ.

(۵۷) پوهاند میرحسین شاه: مآخذ بعضی از اشعار دری در تاریخ مرصع، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې، ۸ - ٦۰ مخونه.

(۵۸) زیور پوهنوال دوکتور زیور الدین: په تاریخ مرصع کې د پښتو اشعارو منابع، کابل مجله، د ۱۳٦۵ هـ ش کال، ۹ - ۱۰ ګڼه، ۱-۱۸ مخونه.

(۵۹) روهي، کاندید اکاډمیسین محمد صدیق: د تاریخ مرصع د لیکنې موضوع، هدف او میتود، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې، ۷٤ مخ.

(٦۰) رفیع، حبیب الله: د د بیر دانش مقدمه، پښتو اکیډیمي، پېښور ندیم یونس پرنټرز، لاهور، ۱۹۹۳ع کال، ۱۱ - ۱۲ مخونه.

(٦۱) شینواری، سرمحقق دوست: پښتو کلیله او دمنه، تاریخ

دښمن تړونه په بهیر کې ۱۴۳ - ۱۴٤ مخونه.

(٦٢) هیواد مل، زلمی: فرزانه مردی از دودمان فضل و دانش خوشحال خان، تاریخ مرصع د ښه پېژندنې په بهیر کې، ۳۹۱ - ۳۹۲ مخونه.

(٦٣) ابوالفضل: عیار دانش (خطي) د افغانستان دملي آرشیف نسخه، ورق ۳۷۰.

(٦٤) خټک، افضل خان: علمخانهٔ دانش، (خطي) د افغانستان دملي آرشیف نسخه، دیارلسم باب اول حکایت.

(٦٥) خټک دوکتور راج ولیشاه: پښتو مجله، خوشحال نمبر، د ۱۹۸۰ع کال د مارچ - مۍ ګڼه، ۳٦٤ مخ.

(٦٦) هیواد مل، زلمی: د فراق نامې مقدمه، ح مخ.

(٦٧) هیواد مل، زلمی: د پښتو باز نامې مقدمه، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦٤ هش، ۸ مخ.

(٦٨) هیواد مل، زلمی: د خوشحال فارسي باز نامې مقدمه، کابل، خراسان (مجله) شماره اول سال ۱۳٦٥ هش، ۱۰٦ - ۱۰۷ مخونه.

(٦٩) خټک، افضل خان: باز نامه، د همیش خلیل په زیار، ادارهٔ علم و فن پاکستان، پېښور جدون پریس، ۱۹۹٤ع کال، ۲۱ مخ.

(۷۰) رفیع، حبیب الله: عرفاني تفسیر، سپیدې (مجله) پېښور، ۱۹٦۹ هش کال، ٤ - ۱۳ مخونه.

(۷۱) خټک، ګوهر خان: قلب السیر (خطي) د پښتو مرکز نسخه، ۹ - ۱۰ مخونه.

(۷۲) حبیبي، پوهاند عبدالحی: د ګوهر خان قلب السیر، ادب (مجله) کابل پوهنتون، ۱۳٤۱ هش کال ٤ ګڼه، ۱۱ - ۲۰ مخونه.

(۷۳) عبدالحلیم: معارج القصص، (خطي) د پېښور آرشیف نسخه، ۳۸۳ پاڼه ب مخ.

(۷۴) نفیسی، سعید : تاریخ نظم ونثر فارسی، لومړی ټوک، تهران، ۱۳٤٤هش کال، ۱۹۲مخ.
(۷۵) عبدالحلیم : اختیارات بدیعي، (خطي) د هند درامپور درضا لایبرري خطي نسخه، ۱۱۹۱هق کال لیک، مقدمه.
(۷٦) محمد مظفر : تاریخ اعثم کوفي، (خطي) د افغانستان د ملي آرشیف نسخه، اوله پاڼه.
(۷۷) صفا، دوکتور ذبیح الله : تاریخ ادبیات ایران، جلددوم، تهران، چاپخانه د کیهانات، ۱۳٦۹هش ص۹۹۳.
(۷۸) هېوادمل، زلمی : فرهنګ ادبیات پښتو، جلددوم، کمیته دولتی طبع ونشر مطبوعه دولتی، ۱۳٦۵هش، ۲۹مخ.
(۷۹) حبیبي، پوهاند عبدالحی : پښتو نثر تذکره کتنې، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳٦۰هش کال، ۹مخ.
(۸۰) طایر، پروفیسور محمد نوازخان : آدم خان درخانی پوځېړنه، پښتو اکیډیمي پېښور، جدون پرس ۱۹۸۹ع کال، ۳۳مخ.
(۸۱) محمدفهیم : نورنامه (خطي) د پېښور آرشیف نسخه.
(۸۲) رفیع، حبیب الله : د حج کتاب، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۹هش کال، ۱۷۸مخ.
(۸۳) هېوادمل، زلمی : قاید الانام الی بیت الحرام، کابل مجله، ۱۳٦٦هش کال ودوستمه ګڼه، ۳٤ - ٤۳ مخونه.
(۸٤) قاید الانام الی بیت الحرام (خطي) د پېښور پوهنتون د مرکزي کتابخانې نسخه.
(۸۵) دوکتور میکنزی : د بریتانیا په ټاپوګانو کې د پښتو خطي نسخو فهرست،

لندن، ۱۹٦٥ع، ۳۲-۳۳ مخونه.

(۸٦) فتح شاه: کلیات فتح شاه، مایکروفلم، د ۱۱۹۸هـق کال لیک.

(۸۷) کیا، دکتر زهرا خانلری: فرهنگ ادبیات فارسي، چاپ سوم،
تهران، ۱۳٦٦هـش، ص ۵۰٦.

(۸۸) آصف: نصیحة الملوک، ۱۱۹۳هـق، (خطي) د پېښور پښتو اکیډمۍ
خطي نسخه.

(۸۹) منیر: صراط المستقیم (خطي) د پېښور آرشیف خطي نسخه.

(۹۰) نامعلوم: طبي فرهنگ، د ۱۳۰٦هـق کال لیک، د پېښور پښتو
اکیډمۍ خطي نسخه.

(۹۱) رفیع، حبیب الله، آواره شیدا، پېښور، ۱۳۷۰هـش، ۷٤مخ.

(۹۲) رفیع، حبیب الله: «جگړه د محمود افغان، نیول د اصفهان» تاریخي
پلټنې، د زلمي هېوادمل په زیار، پښتو ټولنه، کابل، دولتي
مطبعه، ۱۳۵۷هـش کال، ۱۹-۲۰مخونه.

(۹۳) ناصر شیرین خان: د پښتنو سرخلیک، یونایټیډ پرېس، کوټه
۱۹۹۱ع کال، ۱۳۷مخ.

(۹٤) هېوادمل، زلمی: سخني چند پیرامون مأخذ شناسی پټه خزانه، د ناروانا یاد
۵۱مخ.

(۹۵) الهام، پوهاند دوکتور محمدرحیم: د پټې خزانې پرسبک باندې
یو څو لنډ نظر، د امیر کروړ یاد، ۱۳٦٤هـش، ۳۸۳مخ.

(۹٦) هېوادمل، زلمی: د کره کتنې ټولونه، د افغانستان د لیکوالو
ټولنه، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۷۰هـش، ۱۷مخ.

(۹۷) هوتک، محمد: پټه خزانه عکسي متن، د اطلاعاتو او کلتور وزارت،

کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵٤ هـش کال، ٤١ مخ.

(۹۸) هېوادمل، زلمی: د محمد هوتک ژوند او مزار، ننګرهار پوهنتون، دلوړو او مسلکي تحصیلاتو د وزارت مطبعه، ۱۳۶۲ هـش کال، ۹۸-۱۰٤ مخونه.

(۹۹) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د پټې خزانې ارزښتونه، د محمد هوتک یاد، د زلمي هېوادمل په زیار، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲ هـش، ۲۸ مخ.

(۱۰۰) هېوادمل، زلمی: د عبدالحمید مومند د دیوان مقدمه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۳ هـش، ۱۲۱-۱۲۲ مخونه.

(۱۰۱) ش. مرووند: د ادبي آثارو د منثورو شرحو په ارتباط څو ټکي، وفا (جریده)، ۱۳۷۳ هـش کال د عقرب ۱۲ ګڼه.

(۱۰۲) رفیع، حبیب الله: د معرفة الافغاني مقدمه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل، دولتي مبطعه، ۱۳۵۶ هـش کال ۳٤ مخ.

(۱۰۳) روهی، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: ادبي څېړنې، ننګرهار پوهنتون، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو د وزارت مطبعه، ۱۳۶۰ هـش کال، ۲۸۶-۲۸۷ مخونه.

(۱۰٤) کاکړ، پیر محمد: معرفة الافغاني، د حبیب الله رفیع په زیار کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ هـش کال، ۶۰ مخ.

(۱۰۵) رفیع، حبیب الله: لیک لیکنه، ګوتې قلم په ژړا شوې، طاهر آفریدی، جرس ادبي جرګه، احمدیه پرنټنګ پریس، کراچۍ ۱۹۹٤ ع کال، ۱۵ مخ.

(۱۰۶) هېوادمل، زلمی: بیدیالې ګلونه، پښتو ټولنه، کابل،

د سپوږمۍ اوروزنې مطبعه، ۱۳۶۲ هش، ۲۱۰ مخ.

(۱۰۷) رفیع، حبیب الله: یو بې نومه تفسیر، سپېدمکنه، جنوری-فبروری ۱۹۹۱، ۶، ۷ مخونه.

(۱۰۸) پوهاند عبدالشکور رشاد: د فوایـد فقـیرالله مقـدمـه کابل پوهنتون، دلوېو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، کابل، ۱۳۵۹ هش کال.

(۱۰۹) جلال آبادی، میا فقیرالله: کیمیای سعادت، د زرین انځور په زیار، د اسلامي علومو دڅېړنو مرکز، کابل، دلوړو او مسلکي تحصیلاتو دوزارت مطبعه، ۱۳۶۷ هش کال، ۹۱ مخ.

(۱۱۰) رښتین، پوهاند صدیق الله: ادبي او تاریخي سموني، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۱۹۹۲ع کال، ۱۳۹-۱۴۰ مخونه.

(۱۱۱) کندهاری، مولوی عبدالله، فتاوای احمدشاهي، دهلی، فاروقي مطبعه، ۱۳۱۱ هق کال، ۶۲ مخ.

(۱۱۲) خانعلوم: د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرح، دکندهار مجلې له خوا، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ هش کال، ۱۷ مخ.

(۱۱۳) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د احمد شاه بابا د اشعارو د پښتو شرحې سریزه، ۳۳ مخ.

(۱۱۴) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو عروض پلټنه او سپړدنه، پښتو ټولنه، کابل، د پوهنې مطبعه، ۱۳۲۴ هش کال، ۶ مخ.

**یادونه:** زما په بل کتاب: په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو دایجاد اوودې پړاوونه، ۳۶۰ مخ کې د دغې لوېې حوالې د مخ نمبر (۶۰ مخ) رافلی دی، چې ناسم دی او طباعتي تېروتنه یې باید وبولو.

(۱۱۵) میاشرف: د پښتو عروض، ۱۲ مخ.

(۱۱۶) افضل الدوله، افضل خان: تفسیر افضلیه، مسلم پرنټنګ پرېس لاهور

۱۹۹۲ع کال، ۶۹۷ مخ .

(۱۱۷) عبدالکبیر : جنت الفردوس ، پېښور د آرشیف خطي نسخې .

(۱۱۸) حافظ عبدالکبیر : جنت الفر دوس ( منظوم ) هندو پریس ، دهلی ، ۱۲۹۳هـ ق کال ، ۲ مخ .

(۱۱۹) حافظ عبدالکبیر : دار المجالس ، اسلامیه پرنتنګ ورکس ، لاهور ، ۱۳۲۷هـ ق ، ۶۰، ۶۲ مخونه ، دار المجالس (خطي) ۱۷٤ - ۱۸۰ مخونه .

(۱۲۰) آخوند ګدا : نافع المسلمین : مطبع فیض عام دهلی ، ۱۳۰۲ هـ ق کال ۲۱۵ مخ .

(۱۲۱) شیدا ، کاظم خان خټک : دیوان کاظم خان شیدا ، د همېش خلیل په زیار ، پښتو ادبي مرکز ، سرای نورنګ ، ۱۹۹۱ع کال ، ۱ مخ .

(۱۲۲) ش . مېرویند : یو ادبي تمایل او بیوه څرګندونه ، وفا (جریده) د ۱۳۷۳هـ ش کال د زمری د ۱۲ مې ګڼه .

(۱۲۳) محمد رفیق : دیوان شمس الفلک ، د زلمي هېواد مل په زیار ، پښتو اکېډیمي ، پېښور ، ندیم یونس پرنټرز ، لاهور ، ۱۹۹۳ع ، ۱ مخ .

«۵»

# پښتو نثر د خپل پايښت په کرښليچو کې

د پښتو نثر د انکشافي مراحلو کومه مطالعه چې په دغه کتاب کې روانه ده، موږ يې هغه مهال ته رسيدلي يو چې احمد شاهي دوران پای ته رسيدلی و. دا دوران چې موږ يې مطالعه کړو د ده د زوی تيمور شاه (۱۱۸۶–۱۲۰۷ هـ ق) د پاچهۍ له اوايلو او يا د دو لسمې پېړۍ له اواخرو پيل کېږي او د ځوارلسمې هجري قمري پېړۍ تر شلو مړيو لسيزو پورې رسېږي.

د لوی احمد شاه بابا په امپراطورۍ کې چې حدود يې د شمال له خوا د همالیا غر، د آمو سيند، مروه او د مشهد په سيمه کې قادري کلات و، د غرب له خوا خراسان او ټول سيستان، د جنوب له خوا د بلوچستان او سنده په برخه کې بحيرۀ عرب او د بهاولپور په برخه کې د بيکانير سيمې او د سرهند په برخه کې کرنال او د شرق له خوا

د جمنا تر څنډو پورې ځمکې رانغاړلې. دا مهال پولوی تر پایان سره رسېدلې

هسکاوه.

که څه هم تيمورشاه احمد شاهي امپراطوري وساتله، خو له ابتداء د مشرانو مخالفتونه ورسره وو، دا امپراطوري په بېلا بېلو برخو کې شورشونه او بغاوتونه کېدل او تيمورشاه هم هغه پسې کوټل. اما له تيمورشاه وروسته احمدشاهي امپراطوري ددېرو داخلي او خارجي عواملو له امله د بحران ښکار شوه.

کورني مخالفتونه او جنګونه، دسيمه ايزو نارضايتي او بغاوتونه، د سکها نو ظهور، عروج او په منطقه کې د دوی پېش قدمي، په هند کې د انګرېزانو پر مختلفو نکې او پېرندی پرمختګ او څيني نور عوامل د دې سبب شول چې د احمدشاهي امپراطوري خپل حدود ونه ساتلای شي او له بېلا بېلو خواوو يې په امپراطورۍ کې شاملې ځمکې له لاسه ورکړې. هغه معاهده چې د شاه شجاع، رنجيت سنګه او انګرېزانو تر مينځ په ۱۸۳۸ع کال لاسليک شوې ده د امپراطورۍ په شرقي او جنوبي حدودو کې ډېرې پر امپراطورۍ پورې تړلې شوې ځمکې او هم د افغانستان خپلې ځمکې د احمدشاهي امپراطوري له حدودو وغوڅې. د دې معاهدې د لومړۍ مادې پر اساس کشمير، اټک، چچ، هزاره، امب او د اباسين کيڼ لوري ته تړلې سيمې او هم د اباسين ښي اړخ ته پرتې سيمې، پېښور او ورسره تړلې سيمې، يوسفزي، خټک، هشتنغر، ميچنه، کوهاټ، هنګو تر خيبر پورې، بنو، د وزيرو سيمه، د دوړو سيمه، ټانک، تورنګ، کالاباغ، خوشحالګړ، ډېره اسماعيل خان، ډېره غازي خان، سره کوټ، ميتها، عمرکوټ او د هغې ماتحت علاقه، سنګهر، ميرن، داجل، حاجي پور، راجن پور، مانکيره او د ملتان د صوبې ټول توابع له افغاني امپراطورۍ نه بېل شول او د رنجيت سنګه په رياست کې شامل شول. (باچا خان او خدايي خدمتګاري، ۵۶۲ مخ)

د سدوزو د انقراض او د محمدزو د عروج له مسألې را ولاړ شوېو ناکراريو بر سېره په سیمه کې د انګرېزانو وړاندې تګ، د افغان انګلیس دوې جګړې او له دغو جګړو را پیدا شوې پېښې، مرګ او ژوبلې دا ګرده په دې دوران اړه لري. په همدې مهال کې له انګرېزانو سربېره د افغانستان په شمالي سرحداتو کې د روسانو وړاندې تګ هم پیل شو او د انګرېزانو ترڅنګ روس هم په سیمه کې د سیاست لوبې پیل کړې. په دې دوران کې یوازې د امیر شېرعلیخان د وخت لومړی پاچهي (۱۲۸۵-۱۲۹۶ هـ ق)، کې دا زمینه مساعده شوه چې د هېواد ملکي او عسکري تشکیلاتو ته نوی شکل ورکړل شي. د نوي تمدن او فرهنګ ځینو پدیدو زموږ هېواد ته لاره پیدا کړه. فابریکې، مکتبونه، مطبعه باوره شوه او د چاپ چارې پیل شوې، اخبار جاري شو، ملکي او نظامي چارې څه سمبال شوې، خو د امیر ناڅاپي مړینې او د افغان انګلیس د دوهمې جګړې دا هر څه تس نس کړل. تر هغې چې امیر عبدالرحمن خان راغی. په ۱۸۹۳ ع کال له انګرېزانو سره د دیورند معاهده لاسلیک شوه او امیر د اوسني افغانستان دننه د سرکشو قبایلو او قبایلي مشرانو په ټکولو د اوسني افغانستان په جوړښت لګیا شو، خارجي استقلال یې نه درلود. دغو ټولو وقایعو او جریانونو د فرهنګ پر مؤسسه خپل اثر درلودلی دی، چې ځینو ته به یې دلته لاندې اشاره وکړم:

(۱) په همدغه مهال کې تیمورشاه دراني د هېواد پایتخت له کندهاره کابل ته ولېږداوه. دې کار د پښتنو د یو مهم فرهنګي مرکز په ضعیفولو کې ستره برخه درلوده او د افغانانو د دولت پایتخت د دې هېواد یوې داسې سیمې ته ولېږدول شو چې هلته پښتو نه ویل کېده. د پېړیو او وختونو یې وغوښتل تر هغې چې کابل د پښتنو د یو فرهنګي مرکز حیثیت ترلاسه

حده ته لاسرکړه.

کندهار له ډېرې لرغونې زمانې د پښتنو دیو فرهنګي مرکز حیثیت غوره کړی و. دغه ښار هغه وخت دغه حیثیت تر لاسه کړ چې د اویمې هجري پیړۍ په دوران کې پر غور د چنګیز یانو حملې پیل شوې او د همدغو تاړاکونو له امله پښتانه له غوره را وکوچېدل.

(۲) د پښتنو په بل فرهنګي مرکز پېښور کې هم ددې پېر په اوږدو کې پښتني حکومت ختم کړای شو او پر ځای یې د سکهانو او انګرېزانو راج ټینګ شو او هم دیرله پسې ناکرار یو له امله د پښتنو دغه فرهنګي مرکزته ډېر زیانونه واوښتل.

(۳) په همدې دوران کې پښتونخوا او افغانستان ته د غربي تمدن نخښې راورسېدې. طباعت د هند، پښتونخوا او افغانستان په مرکزونو کې پیل او عام شو. پښتو آثار چاپ ته آماده او چاپ شول. په مکاتبو او د شرقي ژبو او علومو په مدارسو او پوهنځیو کې د پښتو تدریس پیل شو چې ورو ستیو دوو عملیو د پښتو په پرمختګ کې په خپل خپل ځای کې سهم درلودلای دی.

(٤) د همدغه پېر په دوران کې امیرشېرعلی خان پښتو ته توجه وکړه، دیوهانه دوکتور محمدحسن کاکړ په قول پښتو لومړی ځل حکومت ته ننوته او د رسمي کېدو لومړي پړاو ته اوچته شوه. (۱)

(۵) دغه وخت د پښتنو د فرهنګي پرمختیا او پراختیا د مسائلو په ارتباط یوه بله دیا دونې وړ خبره دا ده چې دا مهال له پښتنو سربېره د غیرپښتنو یوې ډلې په ځینو اروپایي هېوادونو او د هند په نیمه وچه کې د پښتو په باب څېړنې او په پښتو لیکنې پیل کړې. دې کار د پښتنو د فرهنګ په معرفه کې دیادونې وړ مؤثریت و درلود.

دې تو لو لویو ځورونو ته په پاملرنه او له دغو ستونزو، کړاوو دنو

او ناوړه سیاسي، اجتماعي اوضاعو را پیدا شوي شرایطو کې د فرهنګ مؤسسې څه حوځونګ درلود او په څو بېلا بېلو ساحو کې د پښتو نثر دایجاد زمینې ودرلودې . پښتو نثرچې په دې دوران کې په کومو مضامینو کې لیکل شوی اویا کوم آثار چې په دې دوران کې په پښتو نثر ترجمه شوي دي دهغو جاج په لاندې توګه اخیستل کېږي :

## (۱) دقرآن عظیم پښتو ترجمې او تفسیرونه :

د معلومو اسنادو له مخې په پښتو کې د قرآن عظیم د ځینو برخو د تفسیرلو کار غالباً له یوولسمې سدۍ نه پیل شوی ښکاري او د پښتو د مسجع نګارۍ له دوران سره اړه لري . د پښتو ځینو مسجع نګارانو د قرآن عظیم د ځینو سورتونو او آیتونو تفسیرونه وکړل . بیا د دولسمې پېړۍ په جریان کې پښتنو عالمانو د تفسیرونو جوړولو او یا ترجمې ته توجه وکړه چې د دغو تفسیرونو په باب بحثونه په دمخني څپرکي کې راغلي دي .

په پښتو کې د تفسیرونو لیکل او ترجمه په وروستیو دوو (دیارلسمه څورلسمه) پېړیو کې خورا باب شوه ، دې تفسیرونو ترجمه او یا و لیکل شول او دا لړۍ لا تر پنځلسمې هجري پېړۍ هم روانه ده . د پښتو کوم تفسیرونه چې زموږ تر بحث لاندې دوران سره اړه لري ، هغه په لاندې ډول دي :

(الف) د قرآن مجید پښتو ترجمه له فوایدو سره : د قرآن مجید دا ترجمه د هندوستان په بهوپال کې شوې ده . په دې ترجمه کې د قرآن شریف تر متن لاندې لومړې پښتو ترجمه او بیا اردو ترجمه کښل شوې ده . حاشیې یې په فارسي او فوایدیې په حاشیو کې په پښتو دي . د قرآن شریف دا ترجمه د افغانستان (ولایت) او هندوستان علماوو په ګډه کړې ده . د مترجم یا مترجمانو او د فوایدو د کښونکي او یا کښونکیو نومونه یې نه دي ښودلي .

د قرآن پاک دا پښتو ترجمه له پښتو فوایدو سره په ۱۲۷۸ هـ ق کال ۸۵۷ مخه په بهوپال کې چاپ شوې ده. د فوایدو نثر یې داسې دی:

«د سورت فاتحه د نازل سبب مولانا یعقوب چرخي د حضرت امیرالمومنین علي کرم الله وجهه او د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی چې دا سورت په مکې کې نازل شوی او حقیقت د دغه دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دي فرمایلي چې چیرې به زه په میدان کې تلم یو آواز به مې اورېده چې یا محمد او یو نوراني به مې لیده چې د سرو زرو په تخت د آسمان او زمکې په میانځ کې اوېزاند ولاړ دی ....»

ماچې د قرآن عظیم د دغه مبارکه ترجمه او فواید کتلي دی، ماته داسې ښکاري چې د فواید پښتو یې روانه ده اما د قرآن شریف ترجمه یې د پرو خنده وره نه ده، بلکه تحت اللفظ ده (په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو دا یجاد لو وړي پړاونه، ۵۰مخ)

(ب) تفسیر یسیر: په پښتو چې د قرآن عظیم څومره تفسیرونه لیکل شوي دي، د تفسیر یسیر غوندې شهرت او مقبولیت یې نه دی کتلی، تفسیر یسیر د چاپ له وخته له سواته تر هراته پورې په ټولو پښتنو کې مشهور او مقبول و.

دا تفسیر د ننګرهار د کامې مشهور عالم مراد علي صاحبزاده (۱۲۲۲-۱۲۹۷هـ ق) جوړ کړی دی او د تفسیر په تألیف کې یې له دغو تفسیرونو څخه فایده اخیستې ده:

«بیضاوي، مدارک، احمدي، وجیز، جلالین، حسیني، خازن او عیني نور.

تفسیر په دوو ټوکونو کې ترتیب شوی دی. د بناغلي لیکوال حبیب الله رفیع د څېړنو له مخې د دې تفسیر د لومړي ټوک پر کښلو مؤلف د ۱۲۸۲ هـ ق کال د شوال المکرم په پنځمه نېټه پیل وکړ او د ۱۲۹۱ هـ ق کال د روژې په پنځمه یې پای ته رساوه.

د دوهم ټوک په باب دوی بیا کښلي دي: «د دوهم ټوک په لیکلو یې د ۱۲۹۶ هـ ق کال د محرم په پنځم یعنې د خپل وفات تر یو کال دوه میاشتې او یوه هفته د مخه پیل کړی،

د ده زوی محمد صاحبزاده لیکلی دی، چې د څلورو ورو ستیو پاروکانې لا یاتي
چې دی وفات شو، مګر داېې نه دی لیکلی چې پاتې برخه چا ولیکله » (۲)

تفسیر یسیر د پښتو بشپړ تفسیردی چې د لوېښان مطابق یې د ۲٦ پاروتفسیر مرادعلی صاحبزاده لیکلی دی او پاتې نور یې معلوم نه دی. په ځینو ځایو نو کې د تفسیر د لیکلو کال ۱۲۸۲ هـ ق ښودل شوی دی، چې لوړ سندونه د انظر ماتوي.

دا تفسیر له ۱۳۰٤ هـ ق نه را پدې خوا تر اوسه په دهلي، لاهور او پېښور کې چاپ شوی دی او لا یې هم شایقین شته. د ډېرو نورو تفسیرونو له چاپېدو سره خلک دا تفسیر شریف لولي او د چاپ زمینې یې موجودې دي.

د تفسیر یسیر د نثر یوه نمونه داده: « روایت دی چې یو بادشاه د تمام روی زمین چې نوم یې نمرود بن کنعان و او پایتخت یې ښهر د بابل و. یوه شپه یې په خوب کې و لیدچې د بابل له ځنګه یو ستوری راوخوت او رڼا د شغلې د هغه تینا د لمر او سپوږمۍ ښیخې وړکه کړه، نو له ډېر هیبت راویښ شه او د خپل ملک کاهنان یې راجمع کړل د پاره د تعبیر او دوی ورته وویل چې په دې کال به یو هلک پیدا شي په بابل کې چې ستا بادشاهي به برهمه کا ... »

د تفسیر نثر روان دی، جملې یې که څه هم لنډې او اوږدې دي، خو اساني دی او د ویار لسمې پېړۍ د دیني نثرونو ځینې خصوصیات لري.

(ج) مخزن التفاسیر: په پښتو ژبه د قرآن عظیم د بشپړو تفسیرونو په لړکې بل تفسیر مخزن التفاسیر دی چې پښتو مفسر یې مولانا محمد الیاس کوچانی (۱۹٤٥ع مړ) دی. د دې تفسیر د لیکلو کال نه دی ښودل شوی، خو کومه چاپي نسخه چې لیدل شوې هغه په ۱۳۱۳ هـ ق کال چاپ شوې ده. دا نسخه ۵٦۱ مخونه لري او دهلي په خادم الاسلام نومي مطبعه کې چاپ شوې ده.

ښاغلي حبیب الله رفیع د دې مبارک تفسیر یوه چاپي نسخه پیدا کړې وه، په

۱۳۵۶ هـ ش کال یې د کابل مجلې په دریمه ګڼه کې او بیا یې په سپیدې مجله کې پرې مقالې کښلې دي (۳)

دوی ددې تفسیر دخصوصیاتو په باب کښلي دي: «مخزن التفاسیر د هغه تفسیر نوم دی چې په پښتو ژبه دترجمه شوي قرآن کریم په حاشیو کې راغلی دی.»

له دغه بیانه معلومیږي چې ددې تفسیر شریف تفسیري موارد هم په حاشیو کې راغلي دي او متن یې پښتو ترجمه لري او دغه تفسیري مواردو او حاشیوته د مخزن التفاسیر نوم ورکړل شوی دی.

ددې تفسیر په کښلو کې یې له تفسیر قاضي، جلالین، دجلالین دحاشیو او موضح القرآن نه استفاده کړې ده. ددې تفسیر دنثر لیکنې نمونه دادی:

«الله تعالیٰ چې خالق دکل مخلوقاتو دی او کل عالم وده ته په هر وقت او په هر حال محتاج دی او حاجت له ده په سوال روا کیږي، نو خدای تعالیٰ په کمال مهرخپله دې سورت کې طریقه دسوال معلومه که یعنې خپلو بنده ګانو ته وایه چې څه وخت له ماند سوال کوئ، نو اول زما ثنا صفت ووایئ.»

(د) تفسیرحسیني: دهرات دنامتو عالم مولانا کمال الدین بن حسین واعظ کاشفي (۹۱۰ هـ ق مړ) تفسیر حسیني پښتانه عالم میاعبدالله کاکاخیل (۱۲۵۲-۱۳۳۵ هـ ق) په پښتو ترجمه کړی دی. داکار میاعبدالله کاکاخیل د قاضي محمدحسین جان پېښوري په غوښتنه او تشویق سرته رسولی دی، نو ځکه یې دا تفسیر دده په نامه تفسیر حسیني نومولی دی.

دتفسیر حسیني دغه بشپړه پښتو ترجمه زما د معلوماتو له مخې یوځل په دوو ټوکونو کې چاپ شوې ده. ددې دوو ټوکیزچاپ کومه نسخه چې ما لیدلې ده اول مخ کې یې د تفسیر نوم داهسې چاپ کړی ګی: «تفسیرحسیني افغاني ترجمه

تفسیر حسیني فارسي » . د دغه چاپ لومړي مخ د قاضي محمد حسن جان بن قاضي محمد یوسف جان بن قاضي محمد امین خان نوموړه هم لیدل کیږي.

اما د تفسیر دا ترجمه یو ځای هم چاپ شوې ده . د دې چاپ د مخونو شمېر ۲۴۴۶ او په ۱۳۳۰ هـ ق کال د لاهور په اسلامیه مطبعه کې چاپ شوې ده.

د تفسیر پر دغه دوهمه چاپي نسخه زموږ استاد پوهاند عبد الشکور رشاد یوه ډېره عالمانه مقاله کښلې او په کابل مجله کې چاپ شوې ده (۴) د دې مقالې یو ځای استاد کښلي دي : « د تفسیر حسیني له مطالعې څخه څرګند بېږي چې د ځینو آیتونو په باب له روح البیان، موضح القرآن ، نجوم القرآن ، مدارک التنزیل ابن کثیر، کمالین ، بیضاوی ، تفسیر خازن او معالم التنزیل څخه مطالب پښتو سوي دي او د تفسیر حسیني پر ترجمه ورزیات کړه سوي دي ، دغه زیات کړه سوي مطالب یې په تفسیر حسیني کې ځای ځای د ( فایده ) تر عنوان لاندې کښلي دي . »

دغه اضافې زیاتره د مولوي عبد الحق دي . د تفسیر حسیني د ترجمې روش داسې دی : « راوړي دي چې یو ټولي له لښکریانو د حضرت رسالت یوه شپه په سبب دور بېځې او د تاریکه په طرف د قبلې کې اختلاف یې کاوه او هر یوه فکر وکه د پاره د ځان هر یو محراب جوړ کړ چې ورځ شوه ګوښې د محرابونو د دوی له طرفه د قبلې چاروتلې وې ... » .

استاد رشاد چې د تفسیر حسیني پښتو ترجمه له دري تفسیر حسیني سره کتلې ده ، دوی وایي چې دا ترجمه ټکي په ټکي ده .

(ه) قرآن مجید مترجم پښتو : د قرآن عظیم د دې ترجمې په باب د قرآن عظیم د همدې ترجمې د چاپي نسخې په پای کې لولو : « ثنا ده خدای لوه او لوی احسان د ده دی چې هغه مترجم قرآن شریف د پښتو چې والد بزرګوارم مولانا

مولوي حافظ جي عبدالحق صاحب مرحوم د داربنگو په تحت اللفظ عام فهم ترجمه سره تصنیف کړې وه او به حاشیه کې یې له تفاسیرو مختلفونه چې روح البیان او فتح البیان او موضح القرآن او ابن کثیر او فتح الرحمن او تفسیر یسیر او خازن وغیره دي شان نزول او فواید مختلفه خپرولي دی ...» (۹۶۰مخ)

دا خبرې د قرآن عظیم ددې ترجمې مترجم او دتفسیري موارد او فوایدو کښونکي د داربنگو مولوي عبدالحق (۱۹۱۳ع مړ) زوی عبیدالحق کښلي دي.

دقرآن عظیم دا پښتو ترجمه چې په حاشیو کې تفسیري برخې هم لري د داربنگو دمولوي عبدالحق ده. دقرآن عظیم دا ترجمه تر پنځوسو کلو زیاته ترچاپ شوې ده.

کومه چاپي نسخه چې ما لیدلې ده ۹۶۰ مخه لري او په مقبول عام پریس لاهور کې چاپ ده. د دې تفسیر او ترجمې دحاشیو دمتن یوه نمونه داده:

«له ابن عباس نه روایت دی چې په پخوانیو زمانو کې به شیطانان آسمانونو ته ختل او له هغه ځایه به یې خبرونه دغیبو راوړل، هرکله چې عیسی (ع) پیدا شو، نو دوی له دریو آسمانونو منع شول. بیا هرکله چې محمد (ص) پیدا شو، نو دوی له ټولو آسمانونو بند شول او که خبره یې نو په لمبو داور به وویشتلی شي...» (۴۱۸مخ)

د یادونې وړ ده چې دقران عظیم ددغې ترجمې پښتو مترجم او دفوایدو لیکونکي د داربنگو مولوي عبدالحق له دې ترجمې پرته دقرآن عظیم دنورو تفسیرونو په تصحیح کې هم برخه اخیستې او خپلې حاشیې یې پرې کښلې دي، ده د مرادعلي صاحبزاده تفسیر یسیر هم چاپ ته برابر کړی او ورپسې حاشیې یې پرې کښلې وې چې ددغه تحشیه کړی تفسیر یسیر د فوق یسیر په نامه د پېښور دکتابونو د تاجرانو له خوا چاپ شوی دی. بنا غلي پروفیسور عارف نسیم چې له تفسیر یسیر برسېره تفسیر فوق یسیر ځانله جلا تفسیر گڼلی دی، زما په خیال یوه تېروتنه ده. دا همغه تفسیر یسیر دی چې مرادعلی صاحبزاده لیکلی او

او حاشیې پرې ابوا ښاد مولوي عبد الحق کښلې دي. موږ چې پر پښتو تفسیرونو خپرې کوو هغه د مخالله جلا تفسیر په حیث نشو معرفي کولای.

(و) تفسیر تیسیر: د پښتو تفسیرونو په لړ کې د تفسیر تیسیر یادونه هم ضروري ده. د دې تفسیر بشپړ متن ما نه دی لیدلی، یوه برخه یې ماته کابل کې درلوده، خو دلته مې له ډېر تلاش سره ونشوای موندلای. ما د دې تفسیر په باب اول ځل د اوراښاد استاد پوهاند حبیبي د افغانستان پیښلیک نومي کتاب کې یو یادښت ولوست او د هغه دې یادښت له مخې مې په فرهنګ کې ځای ورکړ او ملته مې وکښل چې قاضي عبد الطیف د څوارلسمې هجري پېړۍ په اوایلو کې ژوندی ګاڼه، دی د سوات د ګالوج و. په ۱۳۲۹ هق کال کې یې د تفسیر تیسیر په نامه یو تفسیر وکښی (فرهنګ ۱/۳۱۱) اوس چې دا کتاب کاږم او تفسیر تیسیر یکې یا دوم له لوړ یا د ښته سربېره د پروفیسور عارف نسیم یو یادښت هم راسره دی چې دلته یې راوړم. ده کښلي دي: «تفسیر التیسیر، قاضي عبد الطیف ګالوج سوات (۱۹٤۷ع مړ) د دې تفسیر لیکونکی دی، دا د تفسیر یسیر ژباړه شکل دی او په دې کې د عربۍ او فارسۍ د ثقیلو الفاظو د کمولو کوښښ شوی، په ۱۹۲۵ع کال په پېښور کې چاپ شو.» (۵)

د دې تفسیر په باب له دې نه زیات معلومات نه لرم او نه یې متن راسره شته چې یې له تفسیر یسیر سره مقایسه کړم چې دا د تفسیر یسیر پر بنسټ له نوي سره یو نوی تفسیر جوړ کړی دی او که یې نور آثار هم پسې کښلي دي. په هر صورت د تفسیرونو د مطالعې په لړ کې د دې تفسیر له یادونې هم چاره نه وه او دلته دا یادونه راوړل شوه.

له لوړ و منظومو او بشپړو تفسیرونو بر سېره موږ له دې پېړۍ سره مربوط ځینې نور تفسیرونه هم لرو چې یا یې بشپړ متنونه تر اوسه نه دي تر لاسه شوي

او یا هم د څو پارو او ځینو سورتونو تفسیرونه دي . د تفسیر شریفو نو په
لړ کې دا لاندې تفسیرونه هم یادولای شو :

(۱) د ادو ابناد عبدالقدیر مشتري نجرابي (۱۳۷۰ هش مې) دافغانستان دملي آرشیف د پښتو خطي نسخو په فهرست کې د قرآن عظیم د یو تفسیر نیمګړې نسخه معرفي کړې ده چې له ۱٦ پارې نه د ۲۳ پارې تر پایه دقرآن عظیم ترجمه او ورسره تفسیر لري. د دې تفسیر مترجم ، کاتب او کتابت وخت په نسخه کې نه دی ښکاره نو څکه سړی نه شي ویلای چې دا برخې به د یو بل ځانګړي تفسیر برخې وي او که د مشهورو او معلومو تفسیرونو برخې چې په دې موجوده نسخه کې یې مفسر نه ښکاري . ( فهرست نسخ خطي پښتوی آرشیف ملی ، ۳٤ مخ ) ما د لته د دې تفسیر یادونه لازمه وبلله ، خو ورسره دا وایم چې دا نسخه کټل او له نورو معلومو تفسیرونو سره مقایسه غواړي .

(۲) د پېښور د پښتو اکېډمي په خطي کتابونو کې د قرآن عظیم یوه پښتو ترجمه شته چې په ۱۱۲٤ نومره په دې کتابخانه کې ساتل کېږي . دا نسخه د قرآن عظیم د وروستیو پارو تحت اللفظ ترجمه ده او تفسیر نه لري . مترجم کاتب او د کتابت کال یې نه معلومېږي . د خط ، کاغذ او رنګ نه ښکاري چې نسخه زړه ده . د دې ترجمې نمونه :

« وایه پناه غواړم په رب خلق یا د شاه خلق الله د خلق له سره د وسوسې د شیطان هغه چې وسوسه کوی ... » ( د ښاغلي رفیع فهرست )

(۳) د پښتو بل ډېر مشهور تفسیر چې تر اوسه نه دی چاپ شوی ، خو شهرت یې ډېر دی او د پښتو نثر په ټولو مروجو کتابونو کې یې یادونه شوې ده ، هغه تفسیر بدر منیر دی .

د دې تفسیر په باب درې خبرې ډېرې هامې راغلې دي :

(الف) تفسیر بدرمنیر د تفسیر حسیني ترجمه ده (ب) داسې انګیرل

کېږي چې داتفسیر به بشپړوي (ج) په څینو مأخذونوکې تفسیر بدرمنیر

د ۱۲۷۵ هـ ق کال ترجمه بلل شوې ده. د پښتو ادب تاریخ (۱۰۸مخ) کې

تفسیر بدرمنیر له تفسیر حسیني نه ترجمه شوی تفسیر بلل شوی دی. دپښتو نثر

تاریخ (۲۳۱مخ) او د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه (۳۰٤مخ) کې هم دا

خبره راخیستل شوې دی. په فرهنګ ادبیات پښتو (۲/۳۷) کې هم تفسیر بدرمنیر،

د تفسیر حسیني ترجمه بلل شوې او داهم ورسره راغلي دي چې داتفسیر یې په ۱۲۷۵ هـق

کال ترجمه کړی دی. کابل کالنۍ (۱۳۲۰ هـش)، د پښتو دنثر هنداره (۱۸٦مخ) کې

هم داتفسیر د تفسیر حسیني ترجمه بلل شوې او د ترجمې کال یې ورته ۱۲۷۵ هـق

ښودلی دی.

اما ښاغلی حبیب الله رفیع په خپله هغه مقاله کې چې پر دې تفسیر یې کښلې او

سپیدې مجلې نشر کړې ده، دا خبره نه مني. دوی وایي چې په خطي نسخه

کې په وضاحت دا خبره راغلې چې داتفسیر په ۱۳۰٦ هـق کال لیکل شوی دی.

دانظریه ښاغلي رفیع ته د تفسیر منیر له دې اختتامیه لیکنې را

پیدا شوې ده: تمام شو په وقت دنما ر پښین په وقت دجمې ... سنه ند

دوې سوه شپېږ کاله له هجرت دحضرت صلی الله علیه وسلم ه. ما یخپله نسخه

نه ده لیدلې، خو په اختتامیه لیکنه سړی دا شک کولای شي چې امکان لري

دا یې دنقلولو تاریخ وي، ځکه دا ډول اختتامیه لیکنې د خطي نسخو په پای

کې راغلې وي، خو هغه اختتامیه لیکنې اکثر دتالیف دوخت لیکنې نه وي،

په هر صورت که داتفسیر د ۱۲۷۵ هـق وي هم متحمله خبره ده، ځکه که

ده دزېږېدو تاریخ ۱۲۳۰ هـق صحیح وي، نو د اوخت به د پېنځوشلو پښتو

کالو و او د تألیف او ترجمې ښه قوت به یې درلود او که د ۱۳۰٦ هـق کال لیکلی

یا ترجمه کړی وي ، دا هم له عقله بعیده خبره نه ده ، ځکه کېدای شي یو ۷۶ کلن سړی هم تألیف او ترجمه وکړي .

دغه راز ښاغلی رفیع وایي چې دا تفسیر دحسیني تفسیر ترجمه نه ده ، ځکه مفسر لیکلی دي : «پس له دې آرزو ددې بنده ضعیف دا ده چې دا تفسیر شریف چې مسمی په بدرمنیر دی په نیت سره دحق تعالیٰ سعي وشوه له ما بې بضاعت کم قوت په افغاني سره ماخوذ له تفسیر حسیني له تفسیر معالم التنزیل ، له معارج النبوت له مولانا یعقوب چرخي ...»

دریمه خبره چې ښاغلي رفیع کړې ده هغه دا ده چې د تفسیر بدرمنیر موجود متن د (ق) له سورت نه پیل شوی دی او تر والناس پورې رسېدلی دی . څنګه چې د(ق) سورت د قرآن عظیم په ۲٦مه پاره کې راغلی دی ، نو ځکه دغه کم ینځو پارو تفسیر دی او معلومه نه ده چې دا به د قرآن عظیم بشپړ تفسیر و او که به یې یوه برخه یکې تفسیر شوې وي .

د تفسیر بدرمنیر مفسر دوست محمد ختک دی ، چې د نسب شجره یې د عبدالقادر خان له لارې خوشحال ته رسېږي . دوی په کندهار کې آباد وو او دا تفسیر یې هم هورې کښلی دی .

ددې تفسیر د نثر یوه نمونه دا ده : « په تفسیر کشاف کې راوړي دي چې یو بادشاه وزیر ته وویل چې ددې آیت شریف ترجمه را ته وکړه : «رحق تعالیٰ وایي هره ورځ زه په یوشان کې یم » نو دا نوی شان له حق تعالیٰ سره نشان د مخلوقیت تیلوي او خالقیت او مخلوقیت هیڅ مناسبت نه لري او په دې سره اعتقاد کفر راولي وزیر ورته عرض وکړ چې درې ورځې موده راله راکړه ، پس وزیر په دا درې ورځې موده هیڅ فایده وصول نه وزرسوله نور دریمه ورځ خپه او پرېشانه او ناتوانه او سوکرد انه ګرځېده ...»

ددې تفسير مبارک کومې نمونې چې مناغلي رفيع په خپله مقاله کې راوړي دي

په هغو کې ځينې نمونې څه کړکيچ لري، حتی سجع پکې ليدل کېږي، مګر نورې

ډېرې برخې روانې دي او د پښتو د ناېه، خو ديني نثر خصوصيات ساتي.

(٤) تفسير بې نظير هم د پښتو تفسيرونو په لړ کې د ياد ونې وړ تفسير دی.

دا تفسير د مولانا يعقوب چرخي د تفسير پښتو ترجمه ده او پښتانه مترجم ورته

د تفسير بې نظير نوم ايښی دی. دا تفسير يو داسې چاپ په پښتو ژباړلی دی

چې خپل نوم يې نه دی ښودلی.

تفسير يعقوب چرخي کې د فاتحې د سورت او د قرآن مجيد د ددو ستتې

دوو پارو (تبارک الذی) او (عم) تفسير راغلی دی(٧) پښتانه مترجم ټول

تفسير په پښتو نثر ژباړلی دی، مګر مقدمه يې ورته په نظم کښلې ده.

دا تفسير په دهلي او لاهور کې چاپ شوی دی، پخوانۍ مانه معلومه

چاپي نسخه يې د ١٣٠٢هـق کال ده. دا چاپي نسخه ١٨٠ مخونه لري، نثر يې د

ديارلسمې پېړۍ د ديني نثرونو په کچه برابر دی. دا يې هم يوه

نمونه: « په لباب کې يې راوړي دي چې په دې سورت کې پنځه ځايه لفظ د

ناس واقع شوي دی او معنی د هغه مکرر نه دی، يعنې جدا جدا دی،

مراد په اول سره اطفال دی او د ربوبيت دلالت کوي په هغو باندې او په ثاني

سره مراد ځوانان دی او لفظ د ملک چې عبارت دی له قهر او سياست څخه

دلالت کوي په هغه باندې او مراد په ثالث سره زاړه دی اسم د الله چې

مبني دی په طاعت او په عبادت باندې مناسب دی له هغو سره او مراد د په

اربع سره صالحان دی، چې حرص مسلط دی په اغوا د دوی باندې او مراد په

پنځم سره مفسدان دي او عطف د هغو په معو د سره باندې دلالت

کوي » (٨).

(۵) تفسیر محمدی ، د قرآن عظیم د یوسف د سورت تفسیر دی چې د پښتو د نومیالي شاعر او عالم او د ډېرو مؤلفاتو څښتن محمد رفیق اکبرپوري په پښتو ترجمه کړی دی. دا تفسیر مبارک ۷۲ مخه په ۱۳۲۲ هـ ق کال د دهلي په تحفهٔ هند قومي مطبعه کې چاپ شوی دی.

دا تفسیر شریف په پیل او منځ کې د ډېرې منظومې برخې هم لري، خو په عام ډول د قرآن شریف د یوسف د سورت متن یې په پښتو نثر ترجمه او تفسیر کړی دی.

په دې تفسیر شریف کې پښتو نثر داسې لیکل شوی دی : « الغرض مصر ښخه یو ځای وه د یوسف او یو مکان عالیشان پکې آراسته وه سکته شولو یوسف له کل خاندان خپل سره په هغه ځای کې او یعقوب علیه السلام په شپه نفوځ د تهجد له پورته شه او پس له تهجده مخ یې قبلې ته کړ او ودرېدلو او یوسف یې د خپلې ... د ورورستو و درولو یعقوب (ع) په حق د بخښش د زامنو کې دعا وکړه او فرزندانو یې امین وکړ او خدای تعالی قبوله کړله » (۹).

د مولوي محمد رفیق اکبرپوري په نظم کې چې څومره صلابت او قوت پروت دی، نثر یې هومره پوخ او قوي نه ښکاري. د خپل دیوان مقدمه یې په یو داسې نثر لیکلې ده، چې د شیدا نثر ته نږدې ښکاري او د تفسیر شریف په ترجمه کې چې یې کوم نثر لیکلی دی که څه هم د دیوان شمس الفلک د مقدمې له نثر ۱۰ ساله اوتر یوه حده روان دی، خو د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو او د څوارلسمې د اوایلو له ځینو د بیني نثرونو سره سیالي نه شي کولی.

(٦) محمدامین د دیارلسمې پېړۍ په اواخرو کې د پېښور په تاکال کې اوسیده. د ده ډېر منظوم آثار لیکلي او ترجمه کړي دي. د ده په آثارو کې

يو اثر د يٰسين د سورت تفسير دی ، چې منظومې او منثورې برخې دوا رې

لري . تفسير يې د برخايه په پښتو نثر دی ، خو مقدما تي منلجاتونه او په منځ منځ

کې تفسيري خبرې او فوايد يې په نظم راوړي دي او يا د بناغلي رښتيا په وينا قول

يې په نظم او نثر اوډلی دی .(۱۰)

کله چې موږ د پښتو نثر د پر مختيا په برخه کې په پښتو تفسيرونو خبرې کوو ،

نو اړکيږو چې د محمد امين تاکالی د تفسير سورهٔ يٰسين منثورو برخو ته متوجه شو .

د ده نثر په دې تفسير کې دا وړ دی : « په شان نزول د دې آيت کې چې روايت دی

په مخکې د ارتکه راغلي دي چې کفارو د مکې په حق د محمد عليه الصلوٰة والسلام

کې به مدامًا ويل چې دا محمد(ص) شاعر دی ، له ځانه ويل جوړوي ، خبرې

د ده له طرفه د خدای ځنې نه دي ، نو پاک الله جل جلاله په رد کولو د جواب د دوی

کې دا آيات نازل کړو ... » (۱۱)

دا نثر د خپلو همهالو نثرونو سره په يوصف کې نه شي ودرېدای ،

د ترجمې ناوړه اثرات پرې مشهود دی او دی نه دی قادر شوی چې مفاهيم

د خپلې ژبې په طبيعي چوکاټ کې واچوي .

د محمد امين تفسير سورهٔ يٰسين خوځله چاپ شوی او لوستونکي يې

اوس هم شته .

(۷) په پښتو آرشيف کې د قرآن عظيم د ځينو سورتونو د تفسير يوه نسخه شته

چې مفسر ، خطاط او د خطاطی کال يې نه معلوميږي . په دې آرشيف کې يې نومره

۱۸۱ ده . د منزري پوښ ورته ورکړل شوی دی ، کاغذ يې خوقندي ښکاري

نسخه دوې برخې لري .

په لومړۍ برخه کې د يٰسين شريف تفسير دی او په دوهمه برخه کې د قرآن

عظيم د وروستۍ پارې د لومړيو څو برخو تفسير او ترجمه راغلې ده .

د نسخې لومړنۍ برخې چې د یٰسین شریف ترجمه او تفسیر پکې راغلی دی ۱۵ پاڼې لري . ما چې دا برخه وکتله نو ذهن ته مې راغلل چې دا به د تاکال د محمدامین د یٰسین شریف د سورت تفسیر وي ځکه چې نسخه مې سر ته پایه وکتله د نامه درک مې یې پیدا نه کړ . حال دا چې محمدامین په خپل ترجمه کړي یا جوړکړي تفسیر کې منظومات هم راوړي او په دغو کې یې خپل نوم هم راوړی دی .

دا شتباه د لیرې کولو لپاره مې خپل یا د ښتونه پسې وکتل ، ځکه ما د پېښور د اسلامیه کالج په کتابخانه کې د محمدامین د یٰسین د تفسیر خطي نسخه کتلې وه او ځینې یادښتونه مې ترې اخیستي وو ، متاسفانه زما په یادښتونو کې د تفسیر د پیل او پای برخې نه وې . خو د ښاغلي رفیع په مقاله کې چې ما یې د محسنه یادونه وکړه ، د تفسیر د پیل او پای برخې وې چې د آرشیف د نسخې د پیل او پای د مقابلې لپاره یې دلته راوړو .

د محمدامین د تفسیر سورة یٰسین پیل داسې شوی دی :

« یٰسین والقرآن الحکیم . قسم دی په قرآن محکم سره یا چې حکم کوونکی دی په حقه سره یا چې خداوند د حکمت دی . »

د آرشیف د نسخې پیل :

« یٰسین . په ینابع کې یې راوړي دي چې هرحرف له حروف مطلقه سره دی له خو انوا غیب چې حضرت عزت تعالیٰ خپل حبیب ته صلی الله علیه وسلم په هغه خبر ورکړی پس له جبرائیل علیه السلام په هغه نازل شوی دی . غیر له خدای او غیر له رسول د ده بل کس په هغه خبر نه لري او بعض له عالمانو په یٰسین کې ویلي دي چې اسم د قرآن دی او په حقایق سلمیٰ کې یې فرمایلي دي چې نوم دی له نومونو د الهی او وایي اسم د دې سورت دی ... » .

د محمدامین د تفسیر سورة یٰسین پای : « فسبحان الذی بیده پس پاکی

او بې عيبي ده هغه ذات لره چې بې شبهې په لاس د قدرت دده کې ده.....»

دآرشيف د نسخې پای : «فسبحان الذی پس پاکي او بې عيبي هغه خدای

ته ده چې بې شبه بيده په لاس د قدرت د ده ده.....»

ما چې د دواړو تفسيرونو د پيل برخې وکتلې او نمونې يې مابره راوړې

په دواړو کې راته تفاوتونه ښکاري او ماته داسې نه معلومېږي چې د آرشيف

نسخه دې د محمدامين د تفسير سورهٔ يٰسين خطي نسخه وي . له دې پرسېره

د آرشيف د نسخې املا د محمدامين له زمانې قديمه ښکاري.

ځکه چې مې د مخه يادونه وکړه دا نسخه دوې برخې لري ؛ په لومړنۍ

برخه کې يې د يٰسين د سورت تفسير و ، چې د مخه يې خبرې وشوې .

په دوهمه برخه کې دعم د پارې د دېرو برخو ترجمه او تفسير راغلی دی.

په دې تفسير کې دعم د پارې دعلق د سورت تفسير او ترجمه هم شته.پاتې

سورتونه يې نه دي راغلي .

د دې برخې هم مفسر ، سنه او کاتب نا معلوم دی. دا برخه ٤٣ پاڼې ده.

د دې برخې د نثر نمونه داده : «... او فصول کې راوړي دي چې دا آيت

په شان د هغه کس دی چې نيت د ګناه وکاندي په خلوت او په هغه ګناه

قادر وي او خلاف د نفس ظاهر کاندي ، له خدای تعالیٰ ووېرېږي او

له ګناه نا شايسته لاس ځان بيارته کاندی .»

د دې تفسير مبارک ژبه او املاء هم د اولې برخې په شان زړه

ښکاري ، په ژبه کې يې د ګړوهېدل او په املاء کې يې نمونې د نوموړنو

برخای زما با ور پيا وړی کوي چې دا تفسير پخوانی دی. خو د احتياط

دا قيد به هم ورسره شامل کړو چې د دې تفسير مبارک دا برخې د کوم بل معلوم

تفسير جز دی او که يو بل داسې تفسير دی چې تراوسه مونږ ته نو معلوم

(۸) جواهرالقرآن یو بل اثر دی چې په ۱۳۳۲هـق کال په لاهور کې چاپ شوی دی. ښاغلی رفیع دجواهرالقرآن په معرفه کې کښلي دي: «جواهرالقرآن دهغې دورڅو په ویش دقرآن کریم دبیلا بیلو آیتو نو منتخب دی چې دهرې برخې آیت اوسورت په حاشیه کې ښودل شوی، دهرې ورځې له پاره سره مرتبط آیات یو په بل پسې راوړل شوی اوځای په ځای ځینې غیر قرآنی دعاوې چې موضوعي ربط ورسره لري، هم ورسره راوړل شوې دي. ټول متن تحت اللفظ پښتو ژباړه هم لري...» (۱۲).

د آیاتو نوددې منتخب ژباړن شاه افضل دی، چې د پېښور دچوکۍ دربړو او دا اثر یې غالباً دخولسمې پېړۍ په لومړیولسیزو کې جوړ کړی دی. مترجم پردې اثر یوه دوه مخیز سریزه هم لیکلې ده، چې دنثر لیکنې روش یې ترې څرګند بدای شي. ده هلته ویلي دي: «داو ظیفه حضرت رسالت پناه سید نا محمد رسول الله، محمد زوکه د اسامه ته په خوب کې ښودلې وه او ټول صفت اوخاصیت یې ورته بیان کړی و. تاثیرات او برکات ددې وظیفې نهایت ډېر دی...»

(۹) تفسیر سورهٔ یوسف: دمخه مو د محمد رفیق اکبرپوري دتفسیر سورهٔ یوسف معرفي وکړه. خو دا تفسیر سورهٔ یوسف چې دلته ښوول کېږي له هغه تفسیره بېل تفسیر سورهٔ یوسف دی. دا تفسیر د تهکالی محمدامین د تفسیر سورهٔ یسین سره یوځای په یوه وقایه کې د پېښور آرشیف په خطي مجموعو کې خوندي دی او نومره یې ۲۷ ده.

ماچې کله ددې تفسیر نسخه وکتله، نو په ذهن کې مې راوګرځېدل چې دا به هماغه د محمد رفیق تفسیر سورهٔ یوسف وي، خوکله چې مې له دې نسخې څخه پېل ا خیستې یا دښتونه دمحمدرفیق له تفسیر سورهٔ یوسف سره وکتل،

نو را معلومه شوه چې دا تفسير هغه نه دی ، بنایي د کوم بل چا وي او دا
امکان هم شته چې چا دې له یا د و شویو تفسیرونو نه یولانې د سورهٔ یوسف
برخه ځانګړې کېنلي وي . په هرصورت دا برخې له ټولو موجودو زړو
تفسیرونو سره ګډل پکار دي ، چې متأسفانه هغه تفسیرونه اوس له ما سره
نشته . او دا هم کېدون لري چې دا تفسیر مبارک دی لکه د محمد رفیق اکبرپوري
ځانګړی تفسیر سورهٔ یوسف وي . له بده مرغه په دې نسخه کې د مفسر
نوم نه دی کېنلی .

نه چې اوس د پښتو نثر په تاریخ کې پر پښتو تفسیرونو دا بحث پای
ته رسوم ، نو اړیم چې پر پوره تيي شک د ټاکید ترڅنګه دا تفسیر هم وښیم .
د دې تفسیر کومه نسخه چې ما لیدلې ده پاڼې يې ٤٩ دی ، د سرله خوا
بشپړه ده ، خو د پای له خوا نیمګړتیا وې لري . لن برخې يې ضایع شوې دی
او د نثر کبنې شبوه يې دا ده : « په معارج کې دي راوړي چې په ابتدا
د بعثت کې حضرت دعوت په حدیبه کاوه ، نو هر کله چې په سبب د
دعوت د حضرت سره ازدحام د خلقو جوړ شه پس قریشو د مکې په سبب د
ازدحام ... »

دا و هغه ماته معلوم بشپړ او یا د قرآن د ځینو برخو تفسیرونه ، چې ما
په دې بحث کې و بنوول ، البته تفسیر لیکنې او د تفسیرونو د ترجمې جریان
په ډدو ستیو پېړیو یا معاصره دوره کې روان وه خو کوم تفسیرونه چې ما
له دې پېر سره مربوط وګڼل او په دې ځای کې مې یا د کړل ، هغه دا روا بناد
مولانا عبدالقدوس قاسمي خبره چې د مضمون او معنا د واړو له جهته زوړ
سبک لري (۱۳) د دې خبرې یا دونه د لته ځکه وشوه چې په دې بحث کې
ځینې دا سې تفسیرونه هم راغلي چې مفسرینو يې معاصره دوره هم لیدلې ده ،

خو واچې د لاره سبک تابع وو، نو ځکه په دې ځای کې د سبک شرل

دلته د دې خبرې یا دونه ضرور دکوم چې په دې بحث کې را غلیو

تفسیر و نو کې د پښتو نثر د مخنیو څېړونکیو، یوازې د تفسیر یسیر او

تفسیر بدر منیر یادونه کړې ده او د انور تفسیرونه او ل ځل د پښتو نثر

په تاریخ کې ځای نیسي .

## په تفسیرونو کې د پښتو نثر خوندي ذخیرې ته یو کتنه :

که چیرې موږ د پښتو په دغو پخوانیو تفسیرونو کې د پښتو نثر ذخیرو

له نظره تېره کړو، نو را ته ښکاري چې په کمي لحاظ د پښتو نثر یوه ډېر

ستره ذخیره په دې تفسیرونو کې خوندي ده او په زرګونو پاڼې د دغه

مبارک کتاب په ترجمه او تفسیر کې په پښتو ډکې شوې دي .

د کمي اړخ د دې یادون ترڅنګه اوس باید دا هم وګورو چې له

دغو نثرونو د فرهنګ په رشد او د نثر لیکنې په پر مختیا کې څه په لاس

راځي او که یه ؟

(الف) دا نثرونه له استثنائي موارد و پرته زیاتره د ژبې طبیعي جوښت

ته پاملرنه لري ، د ځینو جملې ډېرې اوږدې او مفاهیم د ډېر ژوولي پکې

بیان شوي دي ، د ترجمو رنګ پرې غالب ښکاري. اکثرو دغو نثرو نو

کې مضاف تر مضاف الیه د مخه راځي او ترکیبونه یې زیاتره د نورو ژبو

دی. حتی په ځینو کې یو نیم ځای سجع هم لیدل کېږي .

(ب) په دې نثرونو کې کوم مشخص سبک تیارن و نشو کړای، چې

نورو مفسرینو او نثر لیکونکیو دې د هغه پیروي کړې وي ، یوازې

د مولا د علی صاحبزاده تفسیر شهرت پیدا کړ او د اشهرت یې هم د چاپ له برکته

د تفسیر له جوړېدو سره په نړدي کلونو کې چاپ شو او د پښتو په لوستې ټولنه کې خپور شو او لوستونکي یې پیدا کړل، ورو ستیو مفسرینو، لکه مولوي عبدالحق د دارنګو او قاضي عبداللطیف د کالوج هم زیاته استفاده ترې وکړه.

نثر لیکني نثر یې څه داسې نښکلې نه درلوده چې د پښتو نثر د پخوانیو سبکو په څېر مقبولیت پیدا کړي او د پر نورو پښتنو لیکونکیو پېروعه تر راوبولي.

# سیرة النبي (ص) او د احادیثو ترجمې:

د اسلام نازولی پیغمبر حضرت محمد (ص) پر سیرت تر دې پېر دمخه په نظم و نثر آثار لیکل شوي او د احادیثو ترجمې هم شته. دې لړۍ په دې پېر کې دوام کړی دی او دغه پېر کې چې موږ پرې خبرې کوو هم د سیرو او احادیثو ترجمې ته هم توجه شوې ده، د پښتو هغه منثور آثار چې په دې موضوعاتو کې د اوخت لیکل شوي دي، دا دی:

(۱) درمکنون: د حضرت رسالت پناه د سیرت مبارک یوه کوچنۍ رساله ده، چې مولوي عبدالرحیم خلیل په پښتو ترجمه کړې ده. د دې رسالې په خاتمه کې د ترجمې په باب د مترجم خپلې خبرې دادي:

«الحمدلله چې ترجمه د سرور المحزون چې شاولي الله صاحب په التجا د مرزا مظهر ... قدس الله سره العزیز کتاب نور العیون فی تلخیص سیرالأمین الامامون تصنیف د علامهٔ زمان شیخ ابوالفتح محمد بن محمد چې په عربي کې وه او له کتابونو د احادیث نړې جمع کړې وه په فارسي کې ترجمه کړه او س په قلم د عاصي عبدالرحیم په ورځ د چهارشنبې په اول تاریخ د رمضان سنه ۱۳۰۹ په اېوزو د کاکړستان کې په پښتو ژبه

ترجمه شو ، زه له خدای پاک غواړم چې خدای دی پښتانه له دې کتا به نفعمند کړي .»

له دې لوړه بیانه ښکاره شوه چې دا رساله په عربي ژبه د نورالعیون په نامه شیخ ابوالفتح محمد بن محمد لیکلې وه او بیا شاه ولی‌الله دهلوی د سرور المحزون په نامه په دري ترجمه کړه او له دري ترجمې نه مولوي عبدالرحیم خلیل په پښتو اړولې ده، نوم‌یې درمکنون ایښی دی . په دې باب د همدې رسالې متعلق یو بل یادښت کې راغلي دي : « ... نسخهٔ درمکنون ترجمه سرورالمحـزون درسیر حضرت رسالت پناهی .... ترجمه کرده عاصی پر معاصي عبدالرحیم ولد مولوي تسیم گل مرحوم ساکن قریه شاهی تپهٔ خلیل ازتوابع شهر پشاور ... » .

د درمکنون په نامه د سیرو دغه رساله دفتاوای احمد شاهی پر حواشیو په ۱۳۲۱هـ ق د دهلي په فاروقي مطبعه کې چاپ شوې ده .
د احمد شاهي فتاوی دمتن تر۱۷۹ مخ پورې حاشیو کې د دې رسالې متن خوندي شوی دی . د ترجمې د نثر یوه نمونه یې داده :

«ازواج مطهرات حضرت محمد(ص) : حضرت اول بي بي خدیجه د خو یلد لور په نکاح کړه، لکه‌چې پخوا یې احوال تېر شه ،پس له هغې نه یې ام المومنین سوده د زمعه لور په نکاح واخیستنه . هغه حضرت ته زړه شوه . حضرت اراده وکړه طلاقه یې کړي ، هغې وویل زما مردانو ته حاجت نشته ، زما مقصود دادی چې په قیامت کې د حضرت په ازواجو کې وشمارلی شم ، ځکه خپل وار یې عایشې صدیقې ته و بلخښه او طلاق یې وانخیست ...» (۱٤)

که چېرې موږ د سیرو د دې رسالې ترجمه په دقت مطالعه کړو

د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو او د څورلسمې پېړۍ د اوایلو د اکثرو دیني رسالو ترجمو بهترې لرې، رواني پکې شته، حشو او زوايد نه پکې لیدل کېږي، د جملو جوړښت یې سم دی. اما د رسالې خاتمه چې مایې د مخه نمونه راوړه خپله مولوي لیکلې او ترجمه کړې نه ده ـ ګنګې لرې او رواني پکې نشته.

د پښتو نثر پېژندنې په لیکل شویو کتابونو کې یوازې «د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جايزه» نومې کتاب کې د سیرو د دغې رسالې بیا دوند شوې او پر مترجم مولوي عبد الرحیم یې هم څه خبرې کړې دي. خو دا خبرې ځینې نیمګړتیاوې لرې چې دلې باید یادې شي:

(۱) په دې کتاب کې راغلي چې درمکنون، د شاه ولی الله د نور العیون ترجمه ده.

(۲) کتاب یې په ۱۳۲۱ ه ق کې ترجمه کړی دی او بیا یې ۱۳۲۲ ه ق کال په مطبعه فاروقي دهلی کې چاپ شوی دی.

(۳) ددې رسالې موضوعات یې فقهي ښودلي دي (د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه، ۳۴۱ - ۳۴۲ مخونه)

که د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاين ه نومي کتاب لیکوالې د درمکنون دمقدمې هغه ټوټه چې دې پخپله په ۳۴۱ مخ کې اقتباس کړې ده، ځېرلې وای، نو به یې ددې رسالې په باب د اورې خبرې نه وای کښلې. په هغه اقتباسي ټوټه کې راغلي دغه عبارات: «سرور المحزون ترجمه د نورالعیون .. چې یو صحیح تاریخ د حضرت صلی الله علیه واله وسلم په سیر کې دی ....» پخپله د ښاغلي لیکوالې هغه دمخنۍ خبرې ماتوي.

څنګه چې ما د مخه ویلي دي: درمکنون د سرور المحزون پښتو

ترجمه ده او سرور المحزون شاه ولی الله د شیخ ابوالفتح د قرة العیون نه ترجمه کړی دی. دا رساله په ۱۳۰۹ هـ ق کال پښتو ترجمه شوې ده نه په ۱۳۲۱ هـ ق کال او همدا راز د چاپ کال یې هم ۱۳۲۲ هـ ق نه بلکه ۱۳۲۱ هـ ق دی. در مکنون د حضرت محمد (ص) د سیرو یوه رساله ده، نه داچې فقهي مسایل بیانوي.

زما په گومان ښاغلي لیکوالي فتاوای احمدشاهي - چې در مکنون یې په حاشیو کې چاپ شوی دی او د سیرو دا رساله یې اشتباهاً دی او دا حکم یې کړی دی چې دا کتاب فقهي مسایل چاپېږي وي. دا خبره سمه ده چې په فتاوای احمدشاهي کې فقهي مسایل بیانوی، خو در مکنون او فتاوی سره بیل کتابونه دي او د دوی بېلا بېلو کسانو دي، د تألیف وختونه یې سره بېل دي.

(۲) خاتم النبیین: د حضرت پیغمبر د سیرو یوه بله وړه رساله ده چې د داربکو د مولوی عبدالحق زوی مولوی عبیدالحق لیکلې ده او په ۱۹ الویومخونو کې د مولوي عبدالحق له خوا ترجمه شوي قرآن شریف په وروستي برخه کې چاپ شوې ده.

د دې رسالې په پیل کې نوموړي عبیدالحق لیکلي دي: « اما بعد دا یوه مختصره رساله د سردار زمونږ ه حضرت پیغمبر (ص) خوبیه او صفتونه هم دا قدرې ښوولې شي څو مره چې یوه ذره د نور درینا سره، لیکن هر کله چې ما ولیدل چې خلق د معتبرو فاضلانو لوی لوی کتابونه لوي او د بې خبرۍ او بې علمۍ له جهته نه په تیاره کې پراته وي، امید دی چې دا یوه وړه رساله ولولي نو د مسلمانانو په زړونو کې به د حضرت محمد (ص) د محبت او تابعدارۍ شوق او محبت او مینه ښه ترقي وکړي ۰۰۰۰ » (۱۵).

مولوي عبيدالحق دڅوارلسمې پیړۍ د لومړۍ نیمایي لیکوال ښکاري، دنثر لیکنې شیوه یې دپښتنو دیني عالمانو دنثر لیکنې دروشونو تابع ده.

(۳) تحفة الاخيار ترجمهٔ لباب الاخيار: دحضرت پیغمبر دڅلورسوو حدیثونو پښتو ترجمه ده. داترجمه محمدحسن کړې ده. دامحمدحسن دپېښور او سېدونکی و، ښه خط یې درلود. دیارلسمې پیړۍ (نولسمې میلادي پیړۍ) کې یې دانګریزانو لپاره پښتو نسخې کښلې. دده په قلم د یوې نسخې دنړۍ په کتابخانو کې شته.

ده دکتابت ترڅنګه دترجمې او لیکلو توان هم درلود، دتحفة الاخيار ترجمهٔ لباب الاخبار په مقدمه کې یې کښلي دي: «پس له حمده له صلوة دارساله مشتمل په څلورسوه حدیثونه چې اخیستلی شوي دي له کتابونو داحادیثو چې په عربي ژبه دي، ځکه محمدحسن کاتب دپاره داسانتیا دافغانانو په پښتو ژبه ترجمه کړه اونوم یې تحفة الاخيار ترجمه دلباب الاخبار کېښوده بنا ددې په څلوېښت بابونو دی اوپه هرباب کې لس حدیث دی، امید له درګاه دپرور دګار دادی چې مسلمانانو لره توفیق دعلم او دعمل نصیب کړي...»(۱۶)

داکتاب ټول ۹۶ مخه دی او دلاهور دنولکشور په مطبعه کې دوه پخوا چاپ شوی دی. ددې کتاب دمقدمې په دمخنیو اقتباسونو کې تاسې دمحمدحسن خپله لیکنه وکته اوس یې دترجمې یوه نمونه هم وګورئ:

«فرمایلي دي پیغمبر دخدای صلی الله علیه وسلم هرڅوک چې درود وایي په ما په ورځ دجمعې څلوېښت کرت ورک به کاندي خدای تعالی له ده نه ګناهونه دڅلوېښت کالو» (۱۵مخ)

(٤) تصفية المرأة لترجمه المشكوة: ددې کتاب پښتو ترجمه مولوي عبدالحق ددار بنګو کړې ده، او اصلي مؤلف یې شیخ عبدالحق دهلوي

ښودلی دی .

ددې کتاب پښتو ترجمه په دوو ټوکونو کې تهیه شوې ده . دلومړی ټوک په پای کې یې د ترجمې د بشپړ بدو کال ۱۳۲۲هرق ښوولی دی . ددې کتاب لومړی جلد په ۱۳۲۵هرق کال ددهلي په انصاري مطبعه کې چاپ شوی دی . ټول مخونه یې له څلورمخیز فهرست پرته ۴۷۳ دي او دوهم جلد یې ۴۰۴ مخه دی . دا جلد په ۱۳۲۷هرق کال چاپ شوی دی .

داحادیثو دا کتاب په لاندې کتابونو ویشل شوی دی:

کتاب الایمان ، کتاب العلم ، کتاب الطهارة ، کتاب الصلوة ، کتاب الزکوة کتاب الصوم ، کتاب الدعوات ، کتاب البیوع .

داحادیثو په دې پنځو کتاب کې لوړو یادو شویو موضوعاتو پورې د پیغمبر (ص) احادیث په پښتو ترجمه شوي دي .

داترجمه په حاشیو کې تشریحات هم لري ، دالې هم داحادیثو دترجمې یوه بېلګه :

« او روایت دی له انس نه چې بېشکه ویلي دي ، فرمایلي دی پیغمبر دخدای (ص) هغه چاچې وکړلو نمونځ زمونږه مخ یې کړو قبلې زمونږ او وې خوړله ذبیح زمونږ ، پس دا کس هغه مسلمان دی چې ده لره وعده د رسول د خدای ده ، پس مه کوئ تاسې له خدای سره په وعده ده کې دا روایت مسلم کړی دی .» (۱۷) .

د حاشیو دنثر یوه نمونه یې داده : « یعنې دنفلي شیې له عبادت کولو نه او نمونځ ګزارلو نه لږ ساعت لوستل یا لولول دعلم دین بهتر دي ، داخل دی په دې کې لیکل دعلم دین یا مطالعه کول یې د پاره د حصول د مقصود . »

**ددې پېر منثور تجویدونه**؛ دلاس ته راغليو اسنادو له مخې تجويد ليکنه په پښتو کې څه دپاسه څلورسوه کلنه سابقه لري.

دقرآن عظيم د سم لوست او د عربي ژبې د ګفتاري غونو د سم او صحيح تلفظ د لارو چارو دلټون (۸۱) په سلسله کې پښتنو پوهانو هم ددې علم څېړلو ته توجه کړې ده. داخوند درويزه ننګرهاري (رح) له زمانې راپه دې خوا دېرو عالمانو ددغه علم لارښوونې او اساسات په پښتو نظم او نثر راوړی دي.

زموږ تر بحث لاندې پېر سره تړلي ما ته معلوم منثور تجويدونه دا دي:

(الف) **معرفة القرآن**: د پښتو تجويدونو دارساله له دوو نورو تجويدي رسالوسره يوځای چاپ شوې ده. کوم چاپ چې ماليدلی دی هغه د ۱۹٦۸ع کال دی. د متن ترتيبوونکی يې اروا ښاد نصرالله خان نصر دی.

ددې تجويدي منثورې رسالې مؤلف اسماعيل ښوول شوی دی، خو په منثور متن کې دا نوم نه ترسترګو کېږي، خوله دې رسالې سره جوخته چې د تجويد کومه بله منظومه رساله شته هغې کې د ناظم نوم اسماعيل راغلی دی، نو د متن ترتيبوونکي به داسې انګېرلې وي چې دا منثوره رساله به هم د همدغه اسماعيل وي.

معرفة القرآن رساله پر يوولسو بابونو ويشل شوې ده او له دغو بابونو وروسته يې د الف لام د احکامو بيان او د قرائت داوو امامانو رموز هم راوړي دي.

ددې تجويد د نثر ليکنې روش دا دی:

«که څوک سوال وکا چې فرق په ميان د نون ساکن او د نون تنوين کې

څه دی؟ ته ورته وروایه چې نون تنوین هم نون ساکن دی ولیکن فرق دادی
چې نون ساکن هم مکتوبه وي.» (۱۹) .
«میم ساکن هم په دري حکم دی، یو ادغام، دویم اظهار او دریم اخفا
دی، میم ساکن نه مابعد چې میم راشي نور به ادغام کړې شي.»
په دې تجوید کې مسایل زیاتره دسوال وجواب په بڼه تهیه شوي دي
او مؤلف غوښتي دی چې د دې علم دشاګردانو پوښتنې او ګرانې مسألې دځوابونو
په بڼه ورحل کړي.
مقدمهٔ جزري: دتجوید دعلم څېړونکی، پلټونکی او زده کوونکي
زیاتره د دې رسالې له نامه سره اشنا دی او دا یوه منظومه رساله ده چې
شمس الدین ابوالخیر محمد بن علي بن یوسف جزري (۷۵۱ - ۸۳۳ هق)
لیکلې ده (د پښتو تجویدونو تاریخچه، څلور د یرشم مخ) استاد رشاد پخپله
رساله د پښتو تجویدونو تاریخچه کې د دې رسالې درې ترجمې ښوولې
دي چې دوې یې نظم او یوه یې نثر ده. له منظومو ترجمو سره یې زموږ
دلې څه کار نشته او منثور هغه یې هم د معاصر لیکوال ده، چې په دې ځای
کې د مطالعې ځای نه لري. خو دا چې ما د دې رسالې څینې نورې منثورې
ترجمې هم موندلې دی، نو بویه چې پر دې معاصرې ترجمې هم د
هغو نورو ترجمو په پای کې بحث وکړم.
د پېښور آرشیف په خطي پښتو نسخو کې په ۱۸مه نومره د مقدمهٔ
جزري یوه منثوره ترجمه شته چې پاڼې یې ۱۸ دی او په سرکې یې
لیکلي دی: «هذا کتاب المسمی بالجزری فی علم القرأة تحریر قدر الدین»
په متن کې اول عربي بیت راغلی دی، بیا یې منثوره پښتو ترجمه راغلې ده.
او پیل یې داسې شوی: «وایي امید د بخښنه د رب خپل چې اوریدونکی

دی او په اوربدو د قبلولو سره دعا د بندګانو حپلو لره هفه امید وارڅوک دی چې محمد روی د محمد نمسی د محمد او زیږېدلی دی په جزیره دابن عمرکې او په مذهب شافعي مذهب دی ۰۰۰ »

ددې رسالې په ۱۱ مخ لومړی دا لاندې عربې بیت راغلی دی :

لانه به الاله انزلا     و هکذا منه الینا وصلا

له دې سبب نه داسې ګنه کار دی چې دا قرآن شریف چې دی سره د علم تجوید خداوند تعالی نازل کړی دی، په پیغمبرصلی الله علیه وسلم باندې هم د هغه رګکی دا قرآن شریف سره دعلم تجوید ۰ له پیغمبر نه مونږ ه وته رسېدلی دی په واسطې د استادانو سره ۰

همدارنګه په همدې پښتو آرشیف کې د مقدمۀ جزري یوه بـله خطي نسخه هم شته چې نومره یې ٥٤ ده او پاڼې یې ١٦ دی او کتبونکی یې معرفت شاه نومېږي ۰

په دې ترجمه کې یې هم تر هر عربي بیت دالاندې پښتو ترجمــه راوړې ده، لکه :

یقول راجی عفورب سامعی     محمد ابن الجزری شافعی

وایي امید وار د بخښنه د خدای هسې خدای چې اورېدونکی دی، هیا قبلوونکی دی د دعا د بندی ګانو لره هغه امیدوارڅوک دی چې محمدصاحب دی چې زېږېدلی دی په جزیره دابن عمرکې دا محمد دقوم د شافعینو نه دی او د مذهب ا حتال دی ۰

دا دواړې ترجمې چې ماوکتی ماته خو دیوه سرې نه ښکاري او دوه بېلې ترجمې ایسي ۰ د ١٨ می نومرې نسخې ترجمه که څه هم خوندوره نه ده ، خولږ څه واضح ده او دوروستۍ یې تحت اللفظ اوڅه بندش نه

پکې شته.

دمقدمه جزری دریمه ترجمه معاصره ترجمه ده، چې مولوی محمد اسرائیل په ۱۳۸۵ هـ ق کال په پښتو روان نثر بشپړه کړې ده. د استاد رشاد دڅېړنو له مخې مقدمه جزری نوموړی مولوي محمد اسرائیل د مولوی فتح محمد پاني پتي له اردو ترجمې څخه پښتو ترجمه کړې ده. د مولوی محمد اسرائیل ترجمه ۱۸ فصله او په پای کې دوی ضمیمې لري. د مولوی محمد اسرائیل داترجمه معرفة القران پیل کې چاپ شوې ده او پیل یې داسې شوی دی: « دخیل رب اوربډ ونکی تر د معاني امیدوار محمد بن محمد چې دجزیری اوسېدونکی او په مذهب شافعي دی.

موصول القراء: د پښتو تجوید و نو دا رساله په نظم ونثر کړه ده کښل شوې ده. استاد رشاد چې ددې تجوید کومه نسخه کتلې ده، د مؤلف نوم یې نه دی پکې موندلی. استاد رشاد چې ددې رسالې د نثر کومه نمونه راوړې هغه داده: « مخارج پر دوه قسمه ده یو مجمل دی بل مفصل دی. مجمل مخرجونه دري... مفصل اتفاقي او لس مخرجونه دی ».

ما د بناغلي حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې د موصول القراء یوه نسخه لیدلې ده چې ۳۱ مخه ده. ما ترې ځینې منثورې ټوټې اخیستې دي لکه دا نمونه: « علامه د وقف مطلق ده، مقید نه ده په لازم او په جایز او په رخصت او غیر له دی او که وصل وکی محروم دی له ثوابه. ج علامه د وقف جایز ده ... » (۲۱ مخ).

خو زه سملاسي دا نشم ویلای چې دا دواړه موصول القراء به یو اثر وي او که به بیل؟ خو کله چې موږ د نثر پرسیر خبرې کوو، نو اړ یو چې ددې د ... رسالې منثورې برخې هم باید یادې کړو.

رساله قرائت : د پېښور آرشيف په خطي مجموعه کې د قرائت ديوې رسالې يوه نسخه شته چې پاڼې يې شپږ دي . د پيل او پای له خوا يې نيمګړې او په دې آرشيف کې يې نومره (٥٤) ده . د دې رسالې مؤلف نه دی معلوم ، خو مطالب يې د مخزن الاسلام د قرائت له رسالې ، مقصود الحافظين او ځينو نورو رسالو څخه اخيستل شوي دي او په دې ډول شروع شوې ده :
« پس زده کړه د اخيره چې د قران اته (و) يشتا حروف دی او دري مخرجه دي : يو حلق دی ، يوه خوله ده يو شونډې دی ... » .

تعليم المبتدی : د تجويد دا رساله د کابل د پغمان او سېدونکی قاري نصيرالدين په ۱۲۹۳ هرق کال په پښتو نثر ليکلې ده . دا رساله يوه مقدمه او خاتمه لري ، بابونه يې شپاړس دي . دا رساله چاپ شوې نه ده يوه خطي نسخه يې زما په شخصي خطي مجموعه کې وه . د دې رسالې په مقدمه کې مؤلف ويلي دي : « ... حافظ نصيرالدين سه ګنبدي چې جمع مې کړې يو څو قاعدې له کتابونو معتبرو د علم قرائت څخه په تکليف د بعض طالبانو سره له اهله د اخلاص او د محبت ځينې له بعض کتابونو ، ځينې په طريقه د نقل او له بعضو ځينې په طريقه د حاصل سره له پاره د دې چې ظاهري شي دا قاعدې مبتديانو لره په سهولت کامل سره او مسمی مې کړه دا رساله په تحليم المبتدي سره ... » .

رمزه : دا يوه بله رساله ده چې د تجويد اصول يې په نظم او نثر بيان شوی دی . مؤلف د رسالې نوم په يوه بيت کې داسې ښودلی دی :

ضابطه خلاصه کوتاه شوه مسمی په رمزه دا شـــوه

د دې رسالې يوه خطي نسخه په ۱٦۲ نومره په پېښور آرشيف کې خوندي ده ، پاڼې يې ۲۷ دی او د نثر ليکلو شيوه يې داسې ده : « مسمی کبر ي

دا حروف په اظها سره له دې وجې چې کرځي دوی سبب ليار ه داظهار دنون ساکن او تنوين ... »

د دې رسالې مؤلف په ماليدلې نسخه کې نشته .

**ضابطه علم القرآة** : دا رساله ملاعبدالرؤف کښلې ده او په ۱۳۲۷ هق کال د لاهور په نولکشور مطبعه کې چاپ شوې ده ، مخونه يې ۲۲ دی. په پيل کې يې د رې بيتونه راغلی دي. د نثرشيوه ډېره ښه پاتې ده او د دې طالبانو تر منځ د مروجو ضابطو نثرته پاتې ږېږي ، لکه : زده کړه دا چې هرڅوک چې شي وغ وکړي په يو علم نو لابدي ده ، هغه لره دا مور ثلاثه دونه ... »

**دليل القران** : د تجويد دا رساله په دکن کې اوسېدلې او هلته مړ پښتانه عالم اروا ښا د مولوي ابو الوفا کندهاري (۱۳۰۸ - ۱۳۹۵ هرق) په ۱۳۳۹ هرق کال ليکلې ده ، دا رساله يوه مقدمه او نولس بابه لري. رساله څوځله چاپ شوې ده او نثر يې خورا روان دی او په دې عبارت پيل شوې ده : « د صفتو نو سزاوار هغه ذات دی دی چې حکمې ورته په سجده سرلګولی او آسمان ورته په رکوع او درختې په قيام ورته ولاړې او غرونه په قعده ورته ... »

د پښتو کوم تجويدونه چې په دې پېر کې مطالعه شول په هغو کې د مولوی ابو لوفا او مولوی محمد اسرائيل د تجويدونو د تأليف او ترجمې ژبې خوږې دي . روانې او سلاست لري ، نورو زيا تر و خوند نشته خو دغو تجويدونو د دې علم ښه لاڼبلې خواوې او څانګې يې په پښتو بيان کړې او پښتنو ته يې د دې علم رموز او څانګې ور وښوولې او پښتو يې له دې اړخه غني کړه .

**ديني او فقهي نثرونه** : د پښتو آثارو مطالعه راڅرګندوي چې

پښتنو عالمانو له ډېرې پخوا زمانې څخه د خپلو خلکو د دیني روزنې او د دین له اصولو او فروعو سره د اشنایي په منظور په پښتو نظم، مسجع او روان نثر په پښتو ژبه کتابونه او رسالې لیکلې او ځینې آثارې له نورو ژبو څخه په پښتو ترجمه کړي دي.

د دیني احکامو او فقهي مسایلو د بیان او تشریح خبرې مونږ د بایزید روښان په آثارو خیرالبیان او تذکره د علم کې ګورو وروسته اخوند درویزه او د ده پیروانو او دیوولسمې او دوولسمې پېړۍ د نورو لیکوالو او ناظمانو په دې موضوعاتو کې آثار لیکل شوي دي. د دې موضوعاتو په دې پېر پورې مربوط ماته معلوم آثار دا دي:

د دې سلسلې ماته معلومو کتابونو کې یو منثور کتاب حجة الاسلام نومېږي. دا کتاب ولی الله نومي له هندکو ژبې څخه په پښتو ترجمه کړی دی.

مترجم وایي دي: « دا کتاب چې په جبه (ژبه) د هندکو سره جوړه شوې وه، نو پختانه (پښتانه) چې دوستان زما عاجز دی... نو ځکه ما عاجز له هندکو نه په ژبه د پښتو سره ترجمه کړ.»

د دې کتاب مطالب د عقاید و له معتبرو کتابونو څخه اخیستل شوي دي او مسایل په کې د سوال او ځواب په دود بیان شوي دي، لکه: « سوال که څوک تا نه وایي چې ستا وجود کې څو امامان دي. جواب وایه چې پنځه دي. اول امام تن دی، دویم امام روح دی دریم امام زړه دی، څلورم امام عقل دی، پنځم امام فهم دی...»

زما د معلوماتو له مخې دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی، خطي نسخه یې ۱۶ پاڼې په پښتو آرشیف کې خوندي ده.

د دې لړ بل کتاب نورالاسلام دی، چې دا کتاب احمد نومي له دري

نه په پښتو ترجمه کړی دی او د مقدمې په مقدماتي بیتونو کې یې ویلي دي:

رساله ده د فارسیانو گرانه وه پرا فغانانو

ځکه ما کړه په پښتو هم په نثر په بیتو

پوره شعر ما نه وو نه بعضې ځکه نثر شنه

نوم یې شه نورالاسلام خبردار شه له کلام

د دې کتاب کومه خطي نسخه چې ما په پښتو آرشیف کې لیدلې ده ۲۹ پاڼې لري، ځینې برخې یې په نظم او څه یې په نثر دی. په دې کتاب کې هم د د مختني یا د شوي حجة الاسلام په څېر مطالب سوال ځواب په بڼه بیان شوي دی.

په دې کتاب کې د ایمان بحث راغلی او د اسلام پنځه بناوې یې بیان شوي دی، د فرایضو، سنتونو، د سجده سهو، د لمانځه د فضیلت او د لمانځه د ترک بیان او بابونه یې راغلي دي.

په منثورو برخو کې یې د مسایلو د بیان شېوه داسې ده: «که څوک وایي چې ایمان راوړل فرض دی که سنت دی، جواب ورته و وایه چې اول راوړل فرض دی او تکرار سنت دی...»

عقاید المومنین د ایمان او عقیدې په بیان کې یو بل دیني کتاب دی، چې منظومه او منثور مقدمه هم لري او دا مقدمه محمدعمر نومي کښلې ده چې د نثر نمونه یې داده: «الهی په حرمت د بحر زخار شیخ الابرار حضرت شیخ عبدالحق صاحب ماڼکي رحمة الله... الهی په حرمت د راز و نیاز بحر زخار شیخ الابرار حضرت شیخ عبدالوهاب صاحب ماڼکي صاحب (رح)...»

دا کتاب ۲٤ مخه لاهور کې چاپ شوی دی، د چاپي نسخې پر سرورق

یې کښلي دي : «تصنیف حضرت مولینا ثاني صاحب مانکي شریف ...» دا
مولانا مانکي ثاني شیخ عبد الحق دی چې د شیخ عبد الوهاب (۱۳۲۲ هـ ق مړ) زوی و او د پلار تر مرګه وروسته ۲۴ کاله د خپل پلار د پیرۍ پر مسند ناست و او په ۱۹۲۸ ع کال د اتیا کالو په عمر مړ دی .

د عقاید المومنین پر سر ورق چې څه کښل شوي دي، د هغې لیکنې له مخې باید دا کتاب د شیخ عبدالحق ثاني مانکي تألیف وي، د همدې سند له مخې ماړه فرهنګ ۱۰۹/۱ مخ کې دا ثاني مانکي د همدې کتاب مؤلف بللی دی .

اما د پښتو نثر په باب کښل شوي کتابونو کې : د پښتو نثر تاریخ ۳۷۰ مخ، د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه ۳۳۱ مخ کې او د پښتو نثر هنداره ۲۵۸ مخ کې دا کتاب د عبد الوهاب مانکي بلل شوی دی. څنګه چې ما د مخه وویل د عقاید المومنین مقدمه محمد عمر په نظم و نثر لیکلې ده، د نثر برخې یې وکتلې، خو په نظم کې یې ځینې داسې بیتونه شته چې د هغو له مخې سړی باید دا ومني چې عقاید المومنین شیخ عبدالوهاب لیکلی دی، لکه دا بیتونه :

په مخلوق د خدای یې دغه شفقت کړه — دا احکام یې وربیان په وضاحت کړه
دا احکام چې د پر بیحده ضروري وه — دا ګردان د هغې شمعې کافوري وه
شپه او ورځ به یې بیان دې کې کولو — په بوستان کې د تقوی لکه بلبلو
عقاید المومنین د دې احکامو شول نوم — چې مؤمن ته عقاید شي کل معلوم
دی لازم چې هر مؤمن دې کړي دا یاد — چې خبر شي دایمان په بیخ بنیاد
دا یې کان د خزانې حلقوته پر ښښود — ده قدم د خپل عقبی په طرف کښښود
دیارلس سوه دوه ویشتم سن هجري وه — چې یې کړې له دنیا خوش رفتاري وه (۲)

د دې سند په وړاندې هغه لیکنه چې د کتاب پر سرورق چاپ شوې او دا اثر یې د ثاني مانکي بللی دی، خپل ارزښت له لاسه ورکوي او عقاید المومنین

بايد سړی د مولانا عبدالوهاب تأليف وبولي . دا چې دکتاب پرسرورق يې کښلي: « تصنيف حضرت مولانا ثاني صاحب مانکي شريف » . بنايي محمدعمر منظومه او منثورمقدمه دعقايد المومنين متن او ورسره په خاتمه کې دنورو ضميمه منظومات په ده سره راغونډ کړي وي او دا مجموعه يې ترې جوړه کړې وي او چاپ ته يې سپارلي وي او چاپوونکيو به بيا دده نوم وراچولي وي .

په دې کتاب کې هم مسايل په ځينو برخو کې دسوال او ځواب په بڼه تهيه شوي دي. لکه: « که څوک درنه پوښتنه وکړي چې بنده دچا يې، ورته وايه چې بنده دالله تعالى يم چې يو دی شريک نه لري . ځمکې ،آسمانونه يې پيدا کړي دي، ټول مخلوق يې پيدا کړي دي، زه يې هم پيدا کړی يم . »

دعقايد المومنين نثر ترجمة الاسلام او نور الاسلام دواړو سره دی، وضاحت او رواني پکې ډېره ده.

شمس الهدى يو بل دوه ټوکيز کتاب دی، چې ددواړو ټوکونو خطي نسخې يې ما د پښتو آرشيف په خطي مجموعه کې ليدلې دي. په دې مجموعه کې يې نومره ١٦٦ ده. لومړی ټوک يې ٢٦٨ مخه او دوهم ټوک يې ٣٦٧ مخه دی. دوهم ټوک يې ناقص الاخر دی.

ددې کتاب په دواړو جلدونو کې ديني او عقيده يي مسايل تشريح شوي دي. څو عمده عناوين يې دا دي: معرفت دالله تعالى، نبي دې څوک دی، دين دې کوم دی، امام دې کوم دی، بيان مذهب، بيان فرقه سنيهٔ ناجيه، بيان ايمان، دايمان شرطونه، صدوسي مسأله، امر ونهی، مکروهات، فرايض، سنت، مستحبات، کتاب اوقات الصلوة، شروط الصلوة او ددين په ارکانو پورې مربوط نور موضوعات يې په دواړو جلدونو کې بيان کړي دي.

ددې کتاب په تألیف او نظمولو کې مؤلف له ډېرو کتابونو څخه استفاده کړې ده، چې ځینې یې دېښتو دي. هغه پښتو کتابونه چې د شمس الهدیٰ په تألیف کې ترې استفاده شوې ده دادي:

فوایدالشریعت، رشید البیان، اسرار العارفین، حقیقة الاسلام، مخزن، ربقة الاسلام، فتاوای احمد شاهي، دخوګکوډمیاعمر خلاصه او دنورو ژبو دا استفادې وړ کتابونه دادي: شرح قصیده اماليٰ، عقاید سنیه، ریاض الناصحین، مجموعه فتاوی، تذکرة الغوثیه، بحرالعلوم، تحفة المومنین، رد مختار، فتاوای عالمګیری، شرح وقایه، غایت الاوطار، هدایت الابرار، شامي، نادر المعراج، قاضیخان، حاشیهٔ کنز وهدایه، تفسیر عزیزی، انیس الواعظین او نور...

ددې کتاب په منځ کې یوځای ۱۳۲۵ هـ ق سنه نبو دل شوې ده. لهٔ تاریخه ښکاري چې ددې کتاب په لیکلو به مؤلف په همدې کال یا ترددې د مخه پیل کړی وي.

ددې کتاب مؤلف دجلو زو صوفي صاحب دی، چې د مړګ تاریخ یې دده دهمدغو کتابونو په خطي نسخو کې چا ۱۳۵۷ هـ ق کال ښوولی دی.

د شمس الهدیٰ په دوارو ټوکونو کې راغلي مطالب په نظم او نثر اوډل شوي دي.

د لومړي جلد د نثر نمونه یې داده: «اول شرط دایمان دادی چې ایمان په غیبه راوړل دی چې خدای، ملایک، جنت، دوزخ څوک په دنیا کې نه وینې، خو ایمان پرې راوړل فرض دی...»

ددویم جلد دنثر نمونه یې داده: «چې هر کله قبلې دوه یا درې یا

زيا تې بولې ، نو قبله هغه وي چې مخ ور ته کېږي ...» (شمس الهدیٰ ج ۲، ص ۸) .

د دې کتاب نثر ونږ که څه هم دخپو لسمې پېړۍ د لومړيو لسيزو دی، خو خوند رنګ يې د دیارلسمې پېړۍ د دیني نثرونو دی او د یا دولې ورکومه ښکنه نه لري .

په پښتو کې د لمانځه يوه پخوانۍ منظومه ترجمه د رحمیداد یا عبدالرحیم ده، چې د اخوند درویزه ننګرهاري د کورنۍ يو فرد و . دغسې د لمانځه نوري ترجمې هم شته مګر ما ته یې يوه منثوره پخوانۍ ترجمه هم معلومه ده، چې له دې بحث سره د ارتباط له مخې يې په یا دولو اړ یم .

په يو خطي جونګ کې چې په ۱۲۷۳ هـ ق کال کښل شوی او زما په یادښتونو کې د فضل احمد لغماني جونګ په نامه ضبط دی . په دې جونګ کې د لمانځه يوه منثوره ترجمه شته ، چې کېدای شي هم دغه فضل احمد لغماني کړې وي او یا هم بل چا . د دې منثورې ترجمې پیل داسې دی : « پاکي تا لره ده ای خدایه او ثنا تا لره ده او لوی دی نوم ستا . »

دغه راز د کامې مراد علي صاحبزاده د لمانځه د عبارا تو پر ترکیب اشتقاق او لغوي څېړنه هم يوه رساله کښلې ده چې رسالهٔ صلوتیه نومېږي. دا رساله (۳۲) مخه په د هلي کې چاپ ده . رساله په دري، عربي او پښتو ژبه کښل شوې ده.

د دیارلسمې پېړۍ له لیکوالو او نثر لیکونکو څخه بل ماته معلوم سړی محمدعادل دی، چې د تحفة الاسلام په نامه يې په پښتو نثر يو کتاب لیکلی دی . ده دا کتاب په نظم او نثر لیکلی دی، لکه چې يې ويلي دی :

نثر نظم ای دلدار ه ! دلته دواړه شته دیندار

تحفة الاسلام په څلورو کتابونو ویشل شوی دی، د کلام ، فقـه ،

تصوف او آخرت بحثو نه لري.

د نثر ليکنې روش يې دا دی: «رکعتونه فرض دصباح دوه دي او څلور دنماز پشين دي او څلور دنماز ديګر دی، درې دنماز شام ځ څلور دنماز خفتن...»

تحفة الاسلام تر اوسه نه دی چاپ شوی. يوه خطي نسخه يې دحمدالله صاف کندهاري په کتابخانه کې خوندي ده.

ګل احمد خليل، چې په پښتو شېرنو کې په احمد تيراهی، احمداخونخيل، احمد دپچکي او احمد دسيد ورېره يا د شوی دی، دديرو مؤلفاتو او ترجمو خاوند دی. دښاغلي حبيب الله رفيع دڅېړنو له مخې دده د زوکړې کال ۱۲۶۷ هـق نه وزي او تر ۱۳۰۵ هـق کال پورې ژوندی و (کابل مجله، د ۱۳۶۰ هـش کال، ۱۲ مه ګڼه).

د نوموړي په ډيرو تاليفاتو او ترجمو کې يو اثر هدايت المؤمنين نوميږي، چې په ۱۲۹۵ هـق کال ترجمه او بشپړ کړی دی او په ۱۲۹۶ هـق کال ۷۶ مخه په دهلي کې چاپ شوی دی.

د دې کتاب پر سرورق کښل شوي دي: «د کل مطلب دخلاصهٔ کيدانی او نور مطلب دفقهي معتبر وکتابونوځني...»

دا کتاب لکه چې تاسې ولوستل له خلاصهٔ کيداني او نورو معتبرو فقهي کتابونو څخه اخيستل شوی او په نظم را وړل شوی دی. په دې منظوم اثر کې څه برخه منثوره هم ده، چې په دې اساس مونږ دی په پښتو نثر نګارانو کې دروڼ شو.

دده د نثر ليکنې يوه نمونه: «کوته له او سينې او له کاڼي روانده بادشاه او قاضي لره کوته ساتل سنت دی او نورو ولره ترک بهتر دی...»

د ملاعبد الله لغماني زوی عین الله هم د دیارلسمي پیړۍ په نثر لیکونکیو کې د یاد وړ سړی دی. د حافظ محمد شرح ابیات مستخلص (پښتو) تصحیح دغه عین الله کړې ده. دا کتاب په ۱۲۸۸ هق کال ۵۲ مخه د پېښور په مصطفایي مطبعه کې چاپ شوی دی. د دې کتاب اختتامیه هم عین الله په پښتو نثر کښلې ده، چې څو جملې یې دا دي: «... پس وایي دا امیدوار د خدای د رحمت عین الله زوی د عبدالله لغماني. هر کله چې اشعار د مستخلص الحقایق ګران وو او د هغې د پښتو ځایو نو حلکولو او پر انیستلو ته طالبان حاجتمند وو او د دې اشعارو کښې شرح موجوده نه وه چې یو ه په هغې کې شرح د فاضل کامل حافظ محمد د عموزی...»

(د پښتو نثر تاریخ، ۹۲ مخ)

د بناغلي رفیع له خوا د پېښور د پښتو اکیډیمۍ د پښتو خطي نسخو په جوړ شوي فهرست کې په ۳۵۸ نومره یوه خطي نسخه معرفي شوې ده، چې شراوپای نه لري، موجودې پاڼې یې پنځه دي چې په دې پنځو پاڼو کې درې پاڼې پښتو او دوې فارسي دي. د نسخې په موجودو پاڼو کې دوه اویا مذهبي فرقې لنډې تشریح شوې دي.

ما چې د بناغلي رفیع په جوړ کړي فهرست کې د دې کوچنوټي نسخې تشریح او د سره نمونې وکتلې، نو زړه ته راغلل چې دا به د محمد امین تهکالي په مجموع البرکات کې د راغلیو فرقو د تشریح پاڼې وي. خو چې نمونې مې د سره وکتلې فرق پکې وو. دوا ره یو اشتر نشي بلل کېدای، نو په همدې اساس ما دا رساله کوم چې بناغلي رفیع د تشریح الفرق په نامه معرفي کړې او لیکوال یې نه دی معلوم، دلې یا د ه کړه. د دې رسالې د پښتو لیکنې طریقه دا ده: « زده کړه چې شپږ فرقې به دوه اویا شي، په دې شان چې هره

يوه له شپږو نه دوولس فرقې شوې او دوه اويا ...»

د دې خبرې د تفسيرونو په بحث کې تاسې د محمد امين تهکالي نوم هم ولوست چې د يسين شريف د سورة د تفسير ځينې برخې يې په نثر کښلې وې. د غه سړي يو بل کتاب د مجموع البرکات په نامه هم کښلی دی، چې په ۱۳۲۳ هق کال د راولپنډۍ په لکشمي ارټ سټيم پريس کې چاپ شوی دی.

دا کتاب هم د ه په نظم و نثر کښلی دی. د دې کتاب په پای کې مؤلف او ناظم د ځان په باب ځينې يا د پښتو نه چاپ کړي دي چې د شاعر د سوانحو په بشپړتابه کې له ادبي مؤرخينو سره مرسته کوي. د مجموع البرکات په ۲۶۶ مخ کې يې کښلي دي: «محمد امين ولد حافظ عبد الرحيم و لد حافظ عبد الطيف ابن حافظ مريد.»

مجموع البرکات ټول ۲۵ بابه دی، د لمانځه، او داسې مسايل پکې بيان شوي دي، د عقايدو او اسلامي فرقو بحثونه يې کړي دي، فقهي او شرعي مسايل يې پکې تشريح کړي دي او څليريشتم باب يې د حضرت پيغمبر معجزات دي.

د نثر يوه نمونه يې داده: «نو ده کړه اى مومنه مسلمانه چې داد او يا فرقې شپږ ټولې دي، په دې شان سره رافضيه، خارجيه، جبريه، قدريه، جهميه، مرجيه هره فرقه له دوى دوولس فرقې شوي دي.»

بل ديني نثر ليکونکی محمد غوث دی، چې د څورلسمې پېړۍ په لومړيو لسيزو کې يې د لاهور په شاوخوا سيمو کې ژوند کاوه، د امامت پېشه يې درلوده. ده د ديني او شرعي احکامو په رڼا کې د ښځو مسايل او د حغو د حيض او نفاس نښې څېرلې او په پښتو نثر يې د نجات النساء په نامه کتاب په ۱۳۳۶ هق کال کښلی دی. د ده دا کتاب ۲۴ مخه په لاهور کې

چاپ دی . د نثر شپوه یې د یارلسمې پېړۍ د نثرلیکونکیو شپوه ته پاتېږي.

قاضي گل احمد د پښتو نومیالی لیکوال، د صحافت په کارونو کې مشغول، خطاط، شاعر او مترجم و. دی په کابل کې هم اوسېدلی و او په کابل کې یې فرهنګي فعالیتونه هم کړي وو.

د ده په منثورو آثارو کې یو یې اثر فتاوای نجم الهدی ده، چې له مجموعهٔ خاني نه یې په پښتو نثر ترجمه کړی دی.

مجموعهٔ خاني په فتاواو کې ډېر مشهور کتاب دی او د ډېرو فقهي او شرعي احکامو بیانونکیو آثارو د مأخذ په حیث د استفا دې وړ کتاب دی.

فتاوای نجم الهدای په دوو ټوکونو کې تهیه شوی، لومړی ټوک یې ۳۰٤ مخه او دویم ټوک یې ۲۲٤ مخه دی. دا دواړه ټوکه کتابونه په یو ه جلد کې په ۱۳۳۱ هـق کال په لاهور کې چاپ شوي دي. دافتاوې پرڅو کتابونو او هر کتاب یې پر بابونو او فصلونو ویشل شوی دی. په دې فتاوی کې د ژوند د بیلا بیلو چارو په اړه فقهي او شرعي مسایل بیان شوي دي.

د دنګرام قاضي مختار هم موږ ددې پېړۍ په نثرلیکونکیو کې له یا مه نه شو غورځولی. ده د نافع المسلمین په نامه یو وړوکی کتابګوټی لیکلی دی او ځینې مسایل یې په نظم و نثر کې بیان کړي دي. دا کتاب په ۳۲ مخه په پېښور کې چاپ شوی دی.

د چارسدې په توابعو کې اوسېدلی محمد عبد الغفور هم په دیني نثر لیکوالو کې ولاړ سړی دی. ده هم په پښتو نثر یوه رساله کښلې ده چې صلوة الاصفیا عن کتب الاتقیا نومېږي. دا کتاب د لمانځه په باب صوفیانه ځینې لارښوونې لري. دا رساله کوچنۍ ده ټول ۱٦ مخونه لري او لاهور کې چاپ شوې هم ده.

سید عبدالغني بل ناظم او پښتو لیکوال دی چې د تذکرې په نامه يې يو منظوم او منثور کتاب په ۱۳۲۸ هـق کال لیکلی دی. په دې دینې کتاب کې د دیني ارشاداتو په رڼا کې ځینې مسایل بیان شوي دي او ځینې قصص هم پکې شته.

د سید عبدالغني تذکره تر اوسه نه ده چاپ شوې، بلکه یوه خطي نسخه يې ښاغلي رفیع په خپل ناچاپ اثر پښتو نسخې کې معرفي کړې ده او هلته يې ویلي دي چې دا نسخه د پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ په کتابخانه کې خوندي ده.

ملا نعمت الله د پښتو کثیر الکلام شاعر دی او په پښتو نظم ترې په لسګونو کتابونه پاتې دي چې د بیتونو شمېره يې تر پنځو سو شپېتو زرو اوړي، د ده د ځینو منظومو آثارو په ترڅ کې پښتو نثرونه هم راغلي دي، چې له موضوع سره په ارتباط به د دې ځېړ کې په بېلا بېلو برخو کې خبرې باندې وشي، خو له دې بحث سره مربوط د ده دیو اثر منثورې ټوټې یادوم.

دا اثر تذکرة الغوثیه و تذکرة البخاري نومېږي، چې بېلا بېلې دیني او اخلاقي موضوعګانې يې په نظم و نثر پکې راوړې دي او ځینې ځایونه د سعدي (رح) حکایات هم په نظم و نثر ترجمه کوي او همدا راز ځینې احادیث او دیني روایات هم راوړي، لکه دا روایت:

«اول له حسن روایت دی، چې قرآن نازل شوی دی دیاره د عمل، نه دیاره د لوستو» (۲۱)

ملا نعمت الله په قمري حساب په ۱۲۷۵ هـق کال زوکړی دی او په میلادي حساب په ۱۹۲۹ع کال مړ دی. د ده منثور آثار د دیارلسمې پېړۍ د نثر نګارانو ځانګړې لړۍ.

دمردان دکري کېږي او سېدونکی محمد عمر د دوست محمد زوی

هم د نثر نګارید د شپوو له پلوه د دې پېر پهنثر نګارانو کې دمطالعې

ځای لري . دغه محمد عمر نومي د اعتقاد ، اجتهاد او نورو دیني

مسألو په باب ۱۹ رسالې په پښتو نثر کښلې دي چې دخطي پانو شمېره

یې ۲۴۴ ته رسېږي او له کتابتهېې یې ۱۳۵ هرق کال فارغ شوی دی .
(دپروفیسور رسیال لاکیر نسخه)

قدرت علي هزاروي یو قصه پرداز او چاربیتي شاعر دی ،

چې د خزینة السلطان و مشکل کشای طالبان په نامه کتابونه لري .

ده په خپلو چاربیتو کې ځینې مسایل د معماوو په بڼه راوړي دي او بیا

یې دا مسایل په پښتو نثر تشریح کړي دي .

دا منثوره برخه زیاتره فقهي مسایلو تشریح ته وقف شوې ده ،

دايې هم د نثر نمونه : « یو سړی پر دی شی واخلي په غصب یا په

غلاسره اوله چا سره یې امانت کړي او له دې امانت دار نه ضایع شي پس

هغه خاوند د مال چې له چا نه غصب شوی یا غلا شوی وه خبرشه ، چې هغه

مال چې له ما نه په غلا یا په غصب تلی وه له فلاني سړي سره امانت کړی

شوی وه او له دې نه ضایع شوی دی ، پس که طلب د خپل مال وکي

له دې سړي نه چې له چا نه ضایع شوی دی ، نو کوم شي دا مال به د

امانت دار ضرور دې خاوند له ورکوي . ...» (۲۲)

تر دې ځایه ما هغه منثور دیني اوفقهي کتابونه او رسایل درو بښوول

چې د دین او فقهې په بېلا بېلو موضوعاتو کې کښل شوي وو ، له دې بحث

سره په ارتباط کې نه اوس اړېم هغه منثور آثار هم درو بښیم چې یوازې

د میراث پر موضوع کښل شوي او یا له نورو ژبو په پښتو ترجمه

شوي دي .

په پښتو ژبه د میراث د منثورو رسالو د پېژندنې په لړ کې به دابحث له جواهرالمیراث نه پیل کړو.

جواهرالمیراث یوه پښتو منثور رساله ده چې د ملا پیرمحمد زوی فیض الله خان له دري نه پښتو ته اړولې ده. د ترجمې وخت یې غالباً د یارلسمه پېړۍ اټکل کېږي. دا رساله چاپ نه ده او خطي نسخه یې د سناغلي نجیب کندهاري په کتابخانه کې وه چې د برش پاڼې یې درلودې.

چارسده یو بل کتاب دی چې د میراث اصول او مسایل تشریح کوي. د چارسدې په نامه د میراث دا منثور کتاب د لغمان ملا له تقاریرو څخه جوړ شوی دی. دا کتاب ۱۱۰ مخه په ۱۳۲۴ هق کال په دهلي کې چاپ دی.

په دې اړه د یادونې وړ بله خبره داده چې د همدغه ملای لغمان له تقاریرو د ضابطهٔ میراث په نامه یو بل اثر هم شته چې ۹۶ مخه په ۱۳٤۲ هق کال په لاهور کې چاپ شوی دی. کېدای شي دا دواړه یو کتاب وي او یا هم بېلابېل کتابونه. دا دواړه کتابونه ما په کابل کې لیدلي وو. اوس په واک کې نشته، چې له مقایسې یې دیو والي یا بېلوالي پته ولګي.

د فرایض میراث، اصول فرایض او مجموع فرایض په نامه درې منثورې پښتو رسالې ما د ځینو کتابخانو په خطي مجموعو کې لیدلي دي. د ځینو مؤلفین یا مترجمین نه دي معلوم او نسخې یې هم بشپړې نه دي. په دغو رسالو کې مجموع فرایض نومې رساله اخوند حاجي موسی ولي زي هوتک لیکلې ده، چې خطي نسخه یې ۳۸ پاڼې

مایه کوټه کې د ښاغلی سعید ګوهر په خطي مجموعه کې لیدلې ده . په دې رساله کې یو ازې د میراث بحث نه دی راغلی ، بلکه د عباداتو او معاملاتو فرایض یې پکې بیان کړي دی . د دې رسالې په یوځای کې راغلي دي : « که چېرې سړی مړ شي او میراث خواره یې پر میراث باندې نه جوړ یږي ، دا کتاب دې هرڅوک زده کا او هم دې په یاد کا ، چې د دوی دعوه په ده پرې کېږي . »

مؤلف خپل نوم په دې رساله کې یوځای داسې ښوولی دی :
« او دا فقیر حاجي موسیٰ په نیک دعایا دکړی . »

د فرایض میراث په نامه یوه بله رساله په ۱۹۷ نومره د پېښور په آرشیف کې خوندي ده ، چې څلور پاڼې لري او مؤلف یې صوفي صاحب ښوول شوی دی ، خو دا نه ده ښکاره چې دغه صوفي صاحب نوم څه و . اما د رسالې یو برخه د شېرمحمد کندهاري په خط ده . په دې رسالې کې د میراث بتولې خبرې نه دي راغلي ، بلکه یوازې د ترکې بحثونه یې شته او پر سر یې هم کښلي دي : « باب الترکه باب الفرایض څه چې سړی مړ شي متعلق شي په ترکه یوړې د ده حقوق اربعه » .

بله رساله اصول الفرایض نومېږي ، چې دا هم په پېښور آرشیف په ۲۰۹ نومره خوندي ده . دا رساله په حقیقت کې د میراثو دوې رسالې دي ، چې مؤلف یا مترجم او کاتب یې نه دی معلوم . دواړې د میراث اصول بیانوي . لومړنۍ رساله پنځه مخه ده او په پای کې یې کښلي دی : « تمام شد اصول فرایض » . بله یې چې اووه مخه ده په پای کې یې کښلي دي : « دیگر اصول تمام شد » . د دواړو رسالو نثر رواني او سلاست نه لري او د ضابطو نثر ونو ته نږدې والی ښیي .

ما به چون کې د دنیا غلي عبدالرؤف خان رفیقي ا څکزي په کتابخانه کې د میراث پر موضوع د دری نورو رسالو نسخې هم کتلي دي. دا دری واړه رسالې خطي وې.

یوه یې د علم کې اصول سراجي نومېږي. دا رساله د ملا بازمحمد املي ده او نسخه یې شاه محمد نومي په ۱۳۵۶ هرق کال کښلې ده.

دا رساله د اسې شروع کېږي: «چې سړی مړ سي متعلق سي په ترکه پوري دده حقوق اربعه. دا رساله چې ما وکتله د پښتو ر آرشیف د فرایض میراث رسالې سره یوشان ده، یوازې لهجه یې ځینې توپیرونه پکې شته. دا دواړه رسالې ماته یوه ښکاري چې یو ځای یې نوم فرایض میراث او بل ځای اصول سراجي راغلی دی، خو دا هم کېدای شي چې دواړې د بېلا بېلو کسانو املي وي؟

په دوو نورو رسالو کې یې یوه رساله په بالاکرز کې او سېدلي محسن کاکړ کښلې ده، او پیل یې داسې دی: «په فرایض المال کې لاه بدي ده، پېژندګلوي د خلورو اشیاوو یو مماثلت ده. یو متداخلت دی. یو موافقت د...»

بله رساله هم همدې ملا محسن کاکړ په بالاکرز کې کښلې ده او داسې پای ته رسي: «د هر جانب چې وي یوه وي که دوې که درې که څلور وي چې دوی برابروي په درجه او ددوی ساقطېږي...»

د دې دوو وروستیو رسالو مطالب ماته د پښتو ر د آرشیف د اصول فرایض د رسالو له محتویاتو سره یوشان ایسدل، خو چې که ما د دې رسالو او د اصول فرایض د رسالو پیل او پای برخې وکتلې، مشابهتونه یې په ځینو برخو کې شته، خو توپیرونه یې هم ډېر دي. کېدای شي له یوې منبع ترجمه شوې وي.

د پښتو د نوميالي ليکوال پروفيسر صاحبزاده حميدالله په خطي مجموعه کې هم ما د اصول سراجي په نامه د ميراث يوه رساله وکتله چې د عبدالصمد دراني په خط ده او په ۱۳۲۵ هـ ق کال کښلې شوې ده. دا رساله هم د ميراث له نورو رسالو سره موضوعي او لفظي مشترکې خواوې لري، خو کټ مټ بې يوشان سې نشي بللای، نو ځکه ما دلې د يوې ځانته رسالې په توګه درېښووله

ددې رسالې پيل داسې دی: «قسمت لره دتل کې لابدي ده له معرفت ځنې دځلو اشيا بيا مربوط په دوه قسمه دی په اوه اصول بيا نبئ يې...»

د پېښور د پښتو اکېډيمۍ په خطي مجموعه کې د ميراث د درسې ضابطې تر ځکه دې علم درېو نورې داسې رسالې هشته چې ددې بحث د بشپړتيا له پاره په يادولو ارزي.

د پښتو اکېډيمۍ په خطي مجموعه کې د پروفيسر پرېشان د ليکوال له ميراث په شمس الدين دلازلک د ميراث د علم منظوم کتاب شمس الناصرين په خطي نسخې پورې د ميراث يوه منثوره رساله نښتې ده. دا رساله سراجي نومېږي او د سفيدې د پېرې احمد گل پې کاتب دی، خو اصلي ليکوال يې نه دی معلوم.

په دې رساله کې د ميراث مسُله په پښتو نثر څېړل شوې دي، يوه مسئله يې دا دول څېړلې ده:

«مسأله: که د ميت يوه عورته درې زويه يوه لور دوه رويه پاتې وي ميراث اته حصه کړه يوه حصه د عورت کړه يوه دلور کړه دوه دوه د زامنو کړه ورور به محروم دي.»

دا رساله پر ميراث کښل شوې منثورو رسالو کې نوره رساله نبکاري. همدارنګه په اکېډيمۍ کې د ميراث دوې نورې رسالې هم شته، له

شرح ابيات مستخلص سره په يوه وقايه کې راغلي دي . يوه رساله يې ۷۹ مخونو لري او په بحثونو ويشل شوې ده ، شل بحثه لري ، خوپيل يې دګل محمد له ضابطه ميراث سره يو شی دی . خو دګل محمد دميراث رساله يعوالس بابه لري ( دپښتو نثر هنداره ، ۲۱٤ مخ ) اما دا رساله ۲۰ بحثه لري نو ځکه يې په يو والي شک سړي ته پيدا کېږي .

يه ورپسې رساله چې ۵۸ مخونه لري . دا رساله پر مسائلو ويشل شوې او قواعد يې هم نبوولي دي . کېدای شي دا رساله هم لکه اولو رساله د ميراث په معلومو رسالو کې دګومې رسالې بله نسخه وي او يا هم په دعې دوار وخطي نسخو کې دمؤلف يا مترجم نوم نه وی ښوول شوی .

په پښتو کې دميراث مشهوره منظومه رساله دګل محمد ده چې ګرجيپها نومېږي . دا ګل محمد دامير عبدالرحمان خان ( ۱۲۹٦ ـ ۱۳۱۸ هق ) معاصر او دخپلې دغې رسالې دپيل په منظوم مقدماتي برخو کې يې د امير عبدالرحمان خان مدح هم کړې .

په ځينو آثارو کې دميراث درسالې خاوند ناظم او نثر ليکونکی ګل محمد او دخوګيانيو دسرما ګل محمد دواړه يو تن ښوول شوي دي . دا غلطي ما په فرهنګ ادبيات پښتو ( ۱/ ٤۱۲ ـ ٤۱۳ مخونه ) کې کړې ده . دميراث د رسالې خاوند ګل محمد او د سرما ګل محمد سره يو بللې دي . دا چې ما دا خبره له کومه ځايه اخيستې دي ، اوس دمنابعو دکمبود په وجه څه نشم ويلای .

د دُر بې بها په نامه د ميراث دپښتو منثورې رسالې خاوند دافغانستان دنګاو دلنډ اخېلو دکلي اوسېدونکی و . دی دڅورلسمې پېړۍ د دوهمې لسيزې په وروستيو کلونو کې په دهلي کې و او ددهلي دلال چاه

بان ار د ننه د ارادت خان په مدرسه کې یې استوګنه درلوده او د خپل کتاب دُر بي بها داول چاپ په پای کې یې اشتهار واجب الاظهار تر سرلیک لاندې د خان په باب خبرې کړي دي (۲۳) د ده دا کتاب په دهلي، لاهور او پېښور کې څو ځله چاپ دی او د دې رسالې منثوره برخه دا سې شروع کېږي:

«هر شخص چې نقل کاندې له دار فنا نه و دار بقا ته، دی به خالي مړوي، یا بې مال پاتې شوی وي یا به نه وي پاتې شوی. که نه وو پاتې شوی به ده د دې ولکېږي له بیت المال نه»،

دُر بي بها یو ولس بابونه او څو فصلونه لري. په متن کې ځینې راغلي اصطلاحات یې په حاشیو کې په پښتو نثر شرح کړي دي، لکه:

د ۱۰۳ مخ په حاشیه کې راغلي دي: «مرتد هغه ته وایي چې دین اسلام پرېږدي او کافر شي او دار د کفار و تر داخل شي، میراث یې دور لوڼي».

کوم دیني او فقهي آثار چې په دې حاضر بحث کې و بنوول شول، د دین بېلابېل ابعاد او همدارنګه فروع او اصول بیانوي. د فقهي ځینې مسایل تشریح کوي. خو تر کومه چې زما مطالعه ده، دا آثار د پر ساده دي او زیا تره له نورو ژبو څخه حتی له هندي ژبو هم ترجمه شوي دي. مترجمینو او یا مؤلفینو غوښتي دي چې د دین مسایل په اسانه او بسیطه طریقه خلکو ته وښیي. د دې پېر د دیني او فقهي آثارو علمي او تحقیقي وزن د مسجع لیکنې د پېر او تړې را وروسته آثارو پر تله لږ دی. بوازې نثر یې د مسجع نګارانو په نسبت څه رواني لري. په دې آثارو کې له ځینو استثنا یې برخو پرته کومه ابتکاري خوا او موضوعي نوښت نه لیدل کېږي. د زیاتره و اهداف تعلیمي دي او د دین د بنوونې او د فقهي مسایلو د حل موضوعات یې پکې ښوولي دي.

# دیداکتیک، اخلاقي او روزنیز آثار:

د پښتو نثر په تاریخ کې د دیداکتیک داهدافو لرونکو آثارو د پید ایښت تاریخ هم زوړ دی، چې له څوسوو کالو راپه دېخوا دوام کړی دی او په ځینو پیړیو کې څه داسې آثار هم ددې ډول آثارو په لړ کې پیدا شوي دي، چې په دمخنیو پیړیو کې نه وو.

په دې پېرکې هم موږ ځینې دیداکتیک آثار لرو، چې په دې برخه کې یې موږ درپېژنو:

د دې پېر په دیداکتیک آثارو کې د پښتو انشاء له پاره د لارښوونې آثارو لیکل یوه نوې موضوع ده، چې ماته خپله هم تر دې پېر دمخه پردې موضوع آثار نه دي معلوم.

په دې پېر کې د دې لړۍ له لیکل شویو آثارو څخه یوه رساله (انشاء پښتو) نومېږي چې یادري هیوز یې نمونې په کلید افغاني کې راوړي دي، څنګه چې کلید افغاني لومړی ځل په ۱۸۷۲ع کال چاپ شوی دی، نو بویه چې دا کتاب به تر دې زمانې دمخه کښل شوي وي. انشاء پښتو د کلید افغاني په ۴۰۳-۴۱۸ مخونو کې چاپ شوې ده او ټول ۱۹ خطونه پکې راغلي دي. په کلید افغاني کې خوندي انشاء پښتو کېدای شي د یو بشپړ اثر یوه برخه وي او یا هم ټوله رساله همدومره وي، د دې انشاء اصلي لیکوال نه دی ښکاره. دا رساله په بېلابېلو موضوعاتو کې د لیکل شویو خطونو نمونې وړاندې کوي او په اول نظر ترې ښکاري چې هغه وخت یو داسې فکر د پښتنو په فرهنګي حلقو کې راپیدا شوی و، چې پښتانه باید د شخصي لیکونو د لیکلو چم زده کا، څو په خپلو کې کتبي مراوده په خپله ژبه کې ټینګه کړي. خو کله چې سړی خطونه وګوري، نو دا ورته ښکاري چې دا خطونه د انګریزي افسرانو او ملکي مامورینو له پاره لیکل شوي دي

چې دوی په پښتو د لیکونو په لیکلو وپوهېږي او تر خپلې ولکې لاندې پېښتي سیمو کې یې خانانو، ملکانو، تاجر دارانو او کوچنیو الاتو ته ولیکي (دولسم څوارلسم او شپاړسم خطونه) دا رنګه د عریضو د لیکلو یو نمونه هم پکښې شته (یوولسم خط) او شخصي لیکونه هم لري.

د دې رسالې یو خط دا دی: «عالیجاه فیض الله خان سلامت دې وي پس له سلامه مطلب دا دی چې زمونږ اراده ده چې څو ورځې د یاره د سیل د غه ځای ته در شو، نو خېمې او اسباب وړاندې در روان شول د ځو که او سنبالوه فکر به کوې مونږ به په مړه ورځې پس درو رسیږو انشاء الله تعالی فقط والسلام» (کلید افغاني ۴۱۶ مخ)

د پښتو انشائیه لیکنو د دې روش بیا د پښتو غوښتو په پښتو کې دوام پیدا کړ. د ریسی نقیب احمد د (انشاء د پښتو) په نامه یو بل کتاب ولیکه چې ۹۳ مخه د لاهور په دین محمدی مطبعه کې چاپ شوی دی، نور چاپونه یې هم شته. د کتاب پنځه برخې لري. د خطونو، د ولونو، د عریضو د ولونو، د مبارکۍ او نورو ضروري کارونو او تلګرامونو نمونې یې په پښتو ژبه لیکلي خوندي کړي دي او د کتاب په مقدمه کې یې کښلي دي: «زما د پخوانه دا ارمان او خواهش ده چې افسوس دی که مونږ د وطن سوال و جواب تحریر مراسلات په خپله ژبه وی، نو څه به ښه وی، ځکه چې په خپله ژبه کې چې کوم خوند، لذت، مزه، بلاغت، فصاحت سړي ته معلومیږي، د بلې ژبې نه نه معلومیږي...» (۲۴)

خو تر کومه ځایه چې ښکاره ده د ارواښاد نقیب دا هیله د ده په سیمه کې عملي نه شوه او د زیاترو پښتنو تر منځ خط کتابت په پښتو نه شو، د پښتو عریضو او تلګرامونو خو هېڅ سوال نه پیدا کېږي.

دنقیب احمد له انشاء پښتو سره همزمانه په هغه سیمه کې یو دبل ډول نوی کتاب هم لیکل شوی چې مکتوبات افغاني نومېږي. ددې کتاب مؤلف ارواښاد قاضي رحیم الله خلیل (۱۸۸۷–۱۹۴۲ع) دی. دا مکتوبات افغاني په څلورو بابونو کې بشپړ شوی دی، په لومړي باب کې یې هغه خطوط راوړي دي چې د غټانو لپاره دي، په دوهمه برخه کې یې د وړو لپاره خطونه، په دریم باب کې یې د مساوي العمر کسانو له پاره خطونه راغلي دي او په څلورم باب کې یې د دنیا د معاملاتو په باب خطونه یو ځای کړي دي. دا کتاب ۱۶۰ مخه په ۱۹۳۸ع کال په پېښور کې چاپ دی.

ترکومه ځایه چې ماته معلومه ده، د ارواښاد قاضي رحیم الله خلیل مصنف ددې کتاب له لیکلو نه یوازې د پښتو نحوا پښتانه وو، بلکه د افغانستان پښتانه یې هم په نظر کې وو او دده آرزو وه چې دده د انشاء نمونې په ټولو پښتنو کې خورې شي.

د پښتو انشاء دا دواړه کتابونه (که څه هم د دوی سبک یې د شلمې پېړۍ د اوایلو دی) په زړه پوری روش کښل شوي، نو ځکه یې ما د دوی مطالعه او یادونه هم په دې برخه کې لازمه وبلله. په دغو دوه ډوله انشائي تعلیمي کتابونو کې د نقیب احمد د لیکنې سبک نسبت د کلید افغاني انشاء د پښتو نثر روان دی او د ارواښاد قاضي خو بېخي مختلف دی. ځکه د ی د پښتو د نوي نثر په هڅوونکو کې ولاړ سړی دی، چې په راتلونکي څېرکي کې به یې پر آثارو او هڅو خبرې وکړم. خو دا کتاب مې یې پښتونیت له مخې په دې ځای کې یاد کړ.

ددې پېر د دیدا کتیک منثورو آثارو په لړ کې د ځینې زده کړې بڼې منثور کتابونو له یاده هم چاره د لرغو. خو ځکه چې دې چې اصلي خبره ته

راشو باید ووایو چې دژبې د ندهکړې حق د پښتو د زدهکړې کتابونو لیکل په پښتو کې له دې پېره ډېر دمخه رواج شوي وو او په دې پېر کې هم ځینو عالمانو ځینې داسې آثار په پښتو کښلي دي، چې دژبې د زدهکړې اهداف تعقیبوي، له دې جملې څخه ماته معلوم کتابونو کې د مفیدالمبتدین نوم د مخه مخې ته راځي. دا کتاب دعربي صرف ضروري اصطلاحات په پښتو نثر بیانوي. مؤلف یې احمدجي رحیمي نومېږي چې په لاله کاله کې اوسېده او دا کتاب یې په ۱۳۲۵ هـ ق کال کښلی دی. مفیدالمبتدین چاپ دی، چاپي نسخه یې مالیدلې، ۳٦ مخونه لري په ۱۳٤٤ هـ ش کال په لاهور کې چاپ شوې ده.

دژبې د زدهکړې د آثارو په لړ کې څو نور کتابونه هم مالیدلي دي چې دلته یې درښیم:

د پروفیسور صاحب ارکحمیدالله دپښتو په خطي مجموعه کې ما یوه خطي نسخه لیدلې وه، چې دژبې د ندهکړې قوانین پکې بیان شوي دي او یوه نمونه یې داده:
« ندهکړه دا خبره چې عرب په اصطلاح خپله کښې زورته فتحه زېر ته کسره، پېښ ته ضمه وایي ... »

دغه راز په چمن کې د بناغلي رفیقي په کتابخانه کې د مراح پښتو ترجمه شته، چې خطي نسخه یې د ملا بازمحمد اڅکزي په خط ده. دېباچه په یوه برخه کې یې راغلي دي: « ... هغه بنده محتاج څوک دی، چې نوم یې احمد دی، احمد زوی د ملي زوی د مسعود بخش دی وکړې الله تعالی ده وته او مور وپلار ... »

همدا ډول د کلات په غونډان کې د اوسېدلی صالح محمد کشاني مراة النحو هم د دې لړکه په منثورو آثارو کې حسابېدای شي.

د صالح محمد کشافي مرآت النحو چاپ شوې ده او د نثر لیکنې خصوصیات یې په عام ډول مکاتیبو د نثر نگارۍ ځانگړې لري.

په دې پیړ کښې د ځینو لیکوالو له خوا د خلکو د اخلاقي روزنې په نیامت هم ځینې آثار په پښتو کښل شوي او یا ترجمه شوي دي. چې مانه ښکاره آثار یې دا دي:

(۱) پند نامه علی: د حضرت میا فقیرالله جلال ابادي (۱۱۹۵ هق مړ) په نامه چاپ شوې کیمیای سعادت کې هم د وصیت نامهٔ حضرت علی (ک) په نامه په پښتو نثر یو بحث راغلی دی. (د میا صاحب بحث د غه تېر شوی دی) د غه راز عبدالکبیر د منثور جنت الفردوس د یوې ناقصې خطي نسخې په پای کې هم یو وصیت نامه راغلې ده، چې ښايي دا هماغه د میا فقیر الله جلال آبادي پښتو کړې وصیت نامه وي او یا هم بله. په بکړی حکم نشم کولای، چې د میا صاحب کیمیا له ماسره نشته. خو کوم اثر چې زه د لې تاسې ته ښیم. دا احمد نومي په پښتو ترجمه کړې ده، خو نوم یې ورته پند نامه ایښې دی، لکه چې ویلي یې دی:

پند نامه د علی یاره ما احمد پښتو کړه یاره

د احمد پښتو کړې پند نامهٔ علی د پیل او پای برخې ما د عبدالکبیر د جنت الفردوس په پای کې د راغلې وصیت نامې له پیل او پای سره وکتلې توپیرونه او یو شانوالی یې لیدل کېږي اما متنونه د پر د اخت د شیوو له پلوه ښکاره توپیرونه لري.

د عبدالکبیر جنت الفردوس په پای کښې د راغلې وصیت نامې پښتو ترجمه قدیمه ښکاري او د دولسمې پیړۍ معلومېږي، مگر د احمد هغې د یارلسمې

پېړکه د اواخر وده.

ددې پندنامې مترجم احمد د نورالاسلام په نامه یوه رساله هم لري، چې د همدې څېړکې په دمخني بحث کې یې یادونه شوې ده، دایې بل اثر دی چې له دري یې پښتو کړې دی. ده ویلي دي:
«فارسي وه احمد پښتو کړه»

احمد ددې ترجمې پیل داسې کړی دی: «یا علی سه‌ ده غلو کس مجلس مه کوه. اول بې نماز، دویم شراب خور، دریم زناکار، څلورم دروغ گوی چې تا له د دین دنیا زیان دی»

د احمد پښتو کړې پندنامه علی په پښتو کې ددې پندنامې دوهمه یا دریمه ترجمه ده چې تر ده دمخه هم پښتنو عالمانو دخپلو خلکو د روزنې په منظور پښتو ترجمه کړې ده.

(۲) نصیحت نامهٔ لقمان حکیم: دایوه وړوکې منثوره پښتو رساله ده چې جوړ و ونکی څه پندونه خپل بچې لیکلی دي او څه یې د لقمان حکیم هغې په پښتو کړي دی. لکه چې یې ددې رسالې په پیل کې لیکلی دي:
«اکثر نږادو سنځې بعضې بعضې خبره نالایقه او بې ادبه دخولې نه ظاهروي، له دې سببه دې بنده عاصي نصیحتونه دلقمان حکیم صاحب او بعضې خبرې له ځانه په طور دنصیحت په پښتو ژبه ولیکلې چې لوستونکو ته فایده ډېره حاصله شي.» (۲۵)

ددې پندنامې نثر د دیارلسمې پېړۍ د نورو دینې او اخلاقي نثرونو په پرتله روان دی. ورانه یکې لږ یا حتی نه لیدل کېږي. پرېکړې اولنډې جملې راوړې، چې لوستونکي ترې زړاو سنه فایده اخیستلی شي.

ددې نصیحت نامې چوړونکی دنوښار د تابعو د خوېشکو د
کلي او سید وتکی محمد سعید دی ، چې دا نصیحت نامه دده دوو
نورو منظومو رسالو په پای کې ورسره یوځای په بمبئي کې چاپ
شوې ده .

په منظومو رسالو کې د محمد سعید نوم سړکاره راغلی دی ، خو
په منثوره کې یې نوم سکاره نه دی ، اما د دغو درېو رسالو
په پای کې چې کوم یادښت چاپ شوی دی ، هلته راغلی دی : « قصهٔ
پیرزالې ونصیحت النساء وقصهٔ لقمان حکیم صاحب ... بفرمایش
جناب محمد سعید صاحب مصنف کتاب هـذا ... » (۲۴ مخ)

له دې یادښته سړی معلومولای شي چې دا نصیحت نامه هم د
همدغه محمد سعید ده .

(۳) جلیل البرهان : داکتاب په درې ژبه د تألیف شوی دلیل الاحسان
پښتو ترجمه ده . دلیل الاحسان د مولوی عبد الله تألیف دی ، چې پښتانه
قاضي گل احمد هغه په پښتو نثر اړولی دی او د جلیل البرهان نوم
یې پر ایښی دی . دا اثر په ۱۳۳۳ هـ ق کال ۸۰ مخ په لاهور کې چاپ
شوی دی . جلیل البرهان د دیني ارشاداتو په رڼا کې ځینې اخلاقي
وصایا او خبرې بیانوي او د پښتو د اخلاقي آثارو په مطالعه کې
د هېرېدو نه دی .

(٤) وعظنامه : د پېښور په آرشیف کې په ۱۳۱ نومره یوه ۴۲
مخیزه رساله شته چې لیکوال او کاتب یې نه معلومېږی ، خو په
نسخه کې درې وعظونه لیکل شوي دي ، لومړنی وعظ یې په
عام ډول اخلاقي خبرې او پند ونصیحت راندې کوي او د اسلام له

تاریخ نه څني روایتونه او حکایتونه هم راځلي . دویم د تبلیغ کتي بیانوي او درېیم دکسب اوکار او دحلال رزق دګټو فواید بیانوي .

له اخلاقي آثارو برسېره څینو پښتنوعلماوو دخپلو خلکو د زړونو د روښانولو او ددوی ذهنونو ته دعرفان درناوو د رسولو او عرفان ته د متمایلو خلکو د روزنې له پاره څینې آثار په پښتو لیکلی او یا له نورو ژبو په خپله ژبه ترجمه کړي دی .

له دې پېر سره مربوطې څو دغسې رسالې هم ماته معلومې دي، چې په لاندې کرښو کې یې تاسو ته معرفي کوم :

کومې رسالې چې مالیدلې دي په هغو کې درې د ښاغلي حمدالله صحاف کندهاري په غنیمت خطي مجموعه کې خوندي دي .

په دې رسالو کې یوه رساله شواهد السلوک نومېږي . دارساله غلام حسین سرهندي په دري ژبه لیکلې ده او یوه دسلوک په رموزو پوه پښتانه په پښتو اړولې ده ، خو له بده مرغه په مالیدلې نسخه کې یې د مترجم نوم نه ښکاري . د دې رسالې پښتو ترجمه ۱۳ مخه لري او مترجم یې په مقدمه کې لیکلي دي : « له اوله په ثنا دحق نه وایم چې ممکنات یې کړځولی آئینې دخپل جمال دي . بیا درود په محمد رسول به وایم چې پیدا شول کائینات دده له نوره . بیا پر آل پر اصحابو به درود وایم چې پاسوان دده ددین دي . پس له حمده له صلوة یو بیان به کړم وتاته رساله وه په سلوک کې په زبان د پارسیانو تصنیف کړې غلام حسین سرهندي وه سنه بیان یې یکې کړی یا دول یې په هرچا باندې واجب دی رساله

مشواهدالسلوک دی.»

د دې رسالې ترجمه آهنگینه ده او لوستونکي ځانته راکاږي، د رابښکون اثرات یې پیاوړي ایسي.

دوې نورې رسالې چې په دې خطي مجموعه کې خوندي دي، دواړې په یوځای په یوه وقایه کې راغلي دي. لومړۍ یې ترېسم‌الله وروسته یوشپږ بیتیزه منظومه مقدمه کوټې لري بیا د رسالې بحثونه راغلي دي چې اول بحث یې د قادریه طریقې په باب دی. بل بحث یې د مرشد کامل او د مرشد کامل د علامو په باب دی؛ وروستي بحث د مقامونو دی؛ بل بحث: «هغه اداب چې واجب دي په مرید باندې ...» وروستي بحث: «... هرچې آداب ذکر دي هغه شل دي ...» د دې بحث په پای کې یې سنه کښلې ۱۲۹۸ هق او دا ترې ښکاري چې رساله دغه وخت لیکل شوې، خو د کاتب نوم ورسره نشته. د دې رسالې د پیل په برخه کې راغلي دي: «پس له دی که اراده وکړه شیخ چې واخلي عهد او بیعت له مرید څخه نو د دې امر کې مرید خپل، مرید ته دې ووایي چې ښي لاس راوغځوه نو مرید او مرشد دې دواړه ښی لاسونه وغځوي نو رچنبه دې ورله ورکي، نو ردې مرید خپر په ښي لاس ټینګ ونیسي ...»

بله رساله چې په لومړۍ رسالې پسې ترېسم‌الله وروسته شروع شوې ده، د پیل په برخه کې یې راغلي دي: «دا رساله مشتمله ده پر بیان باندې د هغه چې تعلق لري په طریقه پورې ترمون د بیان، څخه د اسماء چې دي اصل دي او اسماء چې دی فرع دي او بیان د نومود او وانفس ...»

دا دواړې رسالې ترجمه ښکاري، دلومړۍ رسالې په لومړۍ بحث کې یې دا هم ویلي دي چې نقل شوې ده له فتوت نامه. اما د لومړۍ رسالې نثر روان دی، خو ددوهمې څنې کرکیچن ښکاري رواني یې نشته او مترجم په ترجمه کې عنبتلی نه ښکاري. ددې دواړو رسالو ترجمې او پښتو لیکلو سبک سره تر دا ویښيي، چې دا رسالې به دیو سري ته وي. په خطي نسخه کې د دواړو مترجمین او یا کاتب نومونه نه دي معلوم.

ددې نه پس ماته معلومو تصوفي رسالو کې یوه رساله، رسالهٔ درویش نومیږي چې حمدالله نومې په پښتو نثر کښلې او چې مخه په ۱۳۶۶ هق کال په کراچۍ کې چاپ شوې ده. په دې رساله کې د درویشانو لپاره ځینې ضروري لارښوونې ولیکلي دي.

زارهٔ علوم او حکمتونه : په پښتو کې دمواد دعامیانو او لوړو فرهنګونو منځ ددوی دآمیزش په نتیجه کې ددیني او فقهي علومو ترڅنګه ځینې پښتنو دحکمتونو او تجاربو ته هم مخه وکړه دغه پوه آثار یې په نورو ژبو کې مطالعه کړل او بیا په دې فکر شول چې دا دوی آثار په دوی ونه چاروه په چلولو کې دپښتو په ښه ورشي، نو یې دا دوی آثار ترجمه کړل او یا یې خپله ولیکل.

هغه آثار چې نه یې تر دې عنوان لاندې مطالعه کوم په هغې کې تر ټولو د مخه دزاره طب او حکمت آثار زما مخې ته درېږي. پښتو علماوو په دې برخه کې هم خپل استعداد آزمویلی په نظم او نثر یې ځینې آثار له نورو ژبو په پښتو ترجمه کړي او یا یې د نورو او خپلو تجربو په استفاده په خپله په زاره طب او حکمت کې ځینې

آثار کښېلي دي د زاړه طب صفه آثار چې په پښتو نثر کښل شوي او يا ترجمه شوي دي اوله دې تر مطالعې لاندې پېر سو اره لرېدادي:

په پېښور آرشيف کې د خوشحال بابا د منظومې طب نامې له خطي نسخې سره يو منثوره پښتو طبي رساله هم شته، چې ټولې پاڼې يې ۹۰ دي د پيل له خوا بشپړه او د پای له خوا ناقصه ده. د دې طبي رسالې پيل د ستړګو دارو ګانو څخه شوی دی بيا يې د باب تر سرليک لاندې نور رنځونه او د دغو رنځونو د علاج نسخې راوړې دي، لکه:

باب در بيان دوای رنجير، باب در بيان دوای پټوخی؛ باب در بيان دوايي د دمی کوتاه ساهی د پټوخي، باب در بيان ضعف الابصار؛ باب در بيان درد نيم سر، باب در بيان درد تمام سر، باب در بيان داروی ... باب در بيان ګرمی شکم، باب در بيان کرنګ، باب در بيان قلنج هو. رساله تر پوې عربي خطبې وروسته داسې شروع ده:

دارو ی آزار چشم: سپيلني، مرچ سفيد، زعفران، التخوان فيلا طوطا...

ددې رسالې مؤلف يا مترجم نه دی معلوم. د نسخې د خاتګړو او د پښتو متن له سبک څخه دا ښکاري چې دا رساله به زړه وي، يوه نمونه يې دا ده: «شبکوري: رګوسفند اينه ته واخله مرچ مغز پنداله مصری مچانا ورسره ميده کړه. دغه ميده دارو په اينه واچوه په اور باندې ورته يې کړه هغه او به چې وځاڅي په څه لوښي کې ونسه څو څو سلايی په سترګو باندې پورې کا شفا به بيا مومي».

د لاهور په مجتبايي مطبعه کې په ۱۳۰۷ هـ ق کال د پښتو طبي آثارو يوه مجموعه چاپ شوې، چې څو منظومې او منثورې

طبی رسالې يکې خوندي دي. چاپوونکو يې نوم: طب شهاب ـ افغاني، طب يوسفي افغاني ايښی و . لعل بيګ خراساني تصنيف يې بللی دی. ما چې دا مجموعه وکتله. په هغو کې يوه رساله ماته د لعل بيګ خراساني ښکاره شوه، چې زما په عقيده په نيم منظوم سبک يې کښلې او ما دغه رساله د مسجع ليکنې په څېر کې دروښووله.

په مجموعه کې د منظومو طبي رسالو سربېره چې په متن کې ـ راغلې دي په حاشيو کې يې دوی نورې منثورې رسالې هم شته چې د ليکنې سبک يې بېل دی.

لومړی رساله يې د ۲ مخ په حاشيه کې پيل شوې ده د ۴۵ مخ په حاشيه کې پای ته رسيدلې ده. د ۸ مخ په حاشيه کې ددې ـ رسالې راغلې يوه طبي نسخه دا ده:

«علاج نزله: کايفل ښه ميده کړه او چاڼ کړه په غوړود غواکې ګډ کړه هر کاره کې ښه و ايشوه او خيره لرې کوه صاف کړه په وقت د خاښت محتاج نمر ته کښينه اوپه پوزه کې راکاږه مجرب»

بله رساله چې په لومړۍ رسالې پسې جوخت د ۴۵ مخ په حاشيه پيل شوې ده. او د مجموعې ترپايه يې دوام کړی دی د ۴۶ مخ په حاشيه کې راغلې يوه نسخه‌يې دا ده: «علاج دکل دسترګو: سونډ اوسنګ نمک ـ او پټکری سپين سوخته دا درې واړه ښه ميده کړه او چاڼ کړه، دوه درې ځله په سترګو کې واچوه. روغ به شي مجرب او آزموده دي».

محمدصديق د حاجي عبدالله زوی په ديارلسمه پيړۍ کې تير شوی بل حکيم او طبيب دی. صديق د طب صديق په نامه يو منظوم کتاب

او یوه بله طبي منظومه رساله هم لري. ده دطبي نوموړ یو فرهنګ په پښتو نثر کښلی دی، چې طب صدیق په پای کې وروسته دضمیمې په دول چاپ شوی هم دیخطي نسخې یې هم پیداکیږي. ده په دې فرهنګ کې د طبي نومونو تشریح داډول کړې ده: «ابنوس تور لرګي دي د هندوستان له لوریه راځي، چې په سترګو پورې کاګل دسترګو ورک کاو شکورې دفع کا او په پرهار چې وتړې وچ یې کا».

ددې فرهنګ یوه خطي نسخه یې ما په کابل کې د ښاغلي رفیع په کتابخانه کې لیدلې وه، او بله یې د پښتو پوهنتون په مرکزي کتابخانه کې ۶۷۷ نومره محفوظه ده چې ټولې پاڼې یې ۱۵ دي.

رضوان الله د بادشاه ګل زوی پښتون عالم دی، چې د یارلسمې پیړۍ په اواخرو کې یې ژوند کړی او د ښاغلي اشر د روایت له مخې تر ۱۳۰۳ هـ ق پورې یې ژوندیقیني دی (تیرهیرشاعران ۲۳۰ مخ) دهمدغه روایت مطابق ده اردو طب بشیر په پښتو نظم ونثر د مجربات اکسیر په نامه ترجمه کړی دی.

ددی نثر چې نمونه به یې وروسته وګورئ د دیارلسمې پیړۍ د نثرونو ځانګړنې لري: «واضحه دې وي چې مراد له علاج نه دفع کول د سبب دبیمارۍ دي او دا امر موقف دی په تشخیص پورې یعني اول طلب د سبب دمرض دی، پس له هغې موافق له هغې مرض سره علاج کول دي».

د طب بشیر ددې پښتو ترجمې په ارتباط یوه یادونه بله نه داکوم، چې ددې طب د پښتو ترجمې یوه خطي نسخه ما پیخوا چیرې لیدلې وه او په هغه نسخه کې د رضوان نوم نه ؤ، نوځکه زه په

متن کې راغلي دې بیت :

« د محمد بشیر په حق کړه دعا روپره خپل سبق کړه »

خطا ایستی وم او دا مې کتلي وو، چې دا طبي رساله به محمد بشیر نومي پښتو کړې وي، نو په همدې بناء ما په فرهنګ (۴۳۵/۱) کې د محمد بشیر په نامه یو پښتو ناظم معرفي کړی ؤ، خو کله چې ماد نباغلي حمدالله صحاف په خطي مجموعه کې د رضوان دغه رساله وکتله چې منظومې او منثورې برخې دواړې لري او دغه لوړ بیت هم پکې موجود ؤ د دې خطي نسخې له کتلو وروسته نه وپوهیدم چې هغه ما کتلې طبي نسخه هم د طب بشیر ترجمه وه، چې مترجم د محمد بشیر نوم د اصلي ناظم او مؤلف په توګه په خپله ترجمه کې راوړی دی، نو اوس نه وایم چې په فرهنګ کې راغلی محمد بشیر ځانګړی پښتو ناظم نه دی.

د حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې د طب یو بل منثور کتاب هم شته چې اول او آخر یې دواړه ناقص دي، نو ځکه یې مؤلف یا مترجم او د کتاب نوم نه ښکاري، موجود متن یې له ۱۳ مخ نه شروع شوی دی او په ۲۱۲ مخ کې ناقص پای ته رسیدلی دی.

داکتاب غالباً په دوو مقالو ویشل شوی، په اوله مقاله کې مطالب په بابونو کې راغلي دي، په موجودو لومړنیو پاڼوکې تر دریم باب د مخه راغلي مضامین د سن مراحل او د مزاج پړولونه ښیي، دریم باب د هوا، غذا او موسمونو په باب دي، څلورم باب د نبض په بیان کې دی، پنځم باب «په بیان د قاروروی کې» شپږم باب د بران بیان، « باب اووم تدبیر د مسهلو» اتم باب فصد، لسم باب غلبه د اخلاط، یوولسم باب حفظ الصحه.

دوهمه مقاله چې په فصلونو ویشل شوې ده، امراض اوعلاجونه یې پکې منوولي دي، لکه فصل صرع، فصل سکتة، فصل مالخولیا، فصل در باب خارش، فصل دغوږ په مرضونو، فصل علاج دندان فصل امراض طحال، فصل علاج قلنج، فصل امراض اتشک، فصل عقیمه، فصل علاج دگنجی سر، فصل برص او نور ډیر فصلونه، دفصلونو او بابونو عناوین یې ټول پښتو او ټول دري ژبو دي.

په دې کتاب کې د طب په زړو آثارو حوالې ورکړې دي، لکه: «په طب یوسفي کې وینم» یا «یو کتاب کې مې لیدلي دي، یوفرنګي ډاکټر د جنون بیان کړی دی» یا «شیخ الرئیس فرمایلي دي» یا «خیر التجارب کې ملاحظه شو» یا «په مجربات اکبري کې وینم» له دې ډول مأخذ ښوونې ښکاري چې داکتاب کوم پښتانه د پښتواني طب له کتابونو نه په استفا دې لیکلی دی، او یا هم کیدای شي ترجمه وي او اصلي مؤلف له هغو مأخذو استفاده کړې وي او پښتانه مترجم ترجمه کړې وي. خو ماته دا خبره زړه ته لویږي چې داکتاب تالیف شوی او غالباً د پښتواني هندوستان په سیمو کې کوم میشت پښتانه لیکلی دی، ځکه ځینې اشارې پکې داسې دي چې سړی په دې باور کوي چې داکتاب په هند کې په پښتو تألیف شوی دی.

د مثال په ډول، «په هندوستان کې درې فصله دي یعنې درې فصلونه دګرمی، برسات، یخنې».

دلیکنې روش یې داسې دی: «ډیر وینښ او سیدل یعنې خوب نه راتلل علامات د خشکی دي چې په دماغ کې وي» یا «روغن - خشخاش په تلواو په تالو منبل ډیر ښه دي او روغن خشخاش په -

شان د روغن بادامو وباسه». د ده نثر روان لري او پټولې هغه- ځانګړې رانغاړي چې د پښتو د یار لسمې پیړۍ په نثر لیکنه کې په عام ډول لیدل کیږي. خو د دې پیر د دیني نثرونو په پرتله پکې وضاحت او رواني دواړه ډېر ښکاري.

د دې پیر په طبي کتابونو یل منثور طبي کتاب چې ماته معلوم دی د هغه پر وقایه یې کښلي دي:

«طب بوعلي سینا، تحفة العاشقین به معهٔ طب حیدري» لیکوال یې د کتاب پر وقایه د ټچکي عجب خان ښوولی شوی دی.

دا طبي منثور کتاب ۳۴۴ مخ په کریمي پریس لاهور کې چاپ شویدی. د کتاب لومړۍ برخه چې د طب بوعلی سینا په نامه یاده شوې ده په ۱۹۷ مخ کې پای ته رسیدلې ده او هلته یې کښلي دي: «تمت طب بوعلي سینا په ورځ د خالي په تاریخ د څلیریشتم د رمضان المبارک ۱۳۴۶-هجري مقدس د لاسه د عجب خان چې نوی د ملك زعفران دی ...»

د دې کتاب لومړۍ برخه د جنسي مسایلو څېړلو او د قوت باه- نسخو ته وقف شوې ده.

سره د دې چې د کتاب دا برخه طب بوعلی سینا نومول شوې ده خو په دې برخو کې ځینې داسې اشارې هم شته چې سړی دا کتاب د طب بوعلي سینا ترجمه و نه بولي، د کتاب په ۳ مخ کې یې لیکلي دي: «پوه شه په کتابونو د شاستر کې راوړي دي چې څلور قسمه- زنانې دي» په ٦١ مخ کې راغلي دي: «حکیم حیدرعلي صاحب فرمایلي دي» په ۱۲٦ مخ کې وایي: «نسخه د محبت آزموده له عجب خان مؤلف د دې کتاب». د غسې یې د نورو حکیمانو نسخې هم اخیستي دي.

دکتاب دوهمه برخه په لومړۍ برخې پسې جوخته په ۱۹۷ مخ کې پیل شوې ده او هلته یې بیا کښلي دي: « چند نسخه له طب حیدري دا یو څو نسخې چې مجربې آزموده د پاره دقوت باه و درد سر او درد دستګو دغوږ ونو دتب وغیره تصنیف د ملا ملک زعفران مرحوم صاحب چې قبله ګاه دمصنف دی، الله جل جلال دې جزا دخیر ورکړي » دطب حیدري نسخې پر ۲۱۶ مخ کې پای ته رسیدلي دي او. بیا یې په همدې مخ کې لیکلي دي: « نسخه جات مجربات جالینوس امتحان شده آزموده شده مجربې دي » پر ۲۳۵ مخ کې راغلي دي: « تمت تمام شد. تمام شو کتاب طب بوعلي سینا سره د طب حیدري په فضل د خداوند کریم پر لاس د ملک عجب خان ساکن موضع پجګۍ ته په داؤدزی » پر ۲۳۶ مخ کې یې د پجګۍ د مولانا مولوی حکیم محمد شریف تجربه کړې نسخې راوړې دي دا نسخې پر ۲۵۶ مخ کې پای ته رسیدلي دي. بیا د نقرس، د مفاصلو د درد او نورو امراضو نسخې دي. دا نسخې هم د ملک زعفران، حکیم غلام حیدر، حکیم محمد شریف او خپله عجب خان دی، چې همدغه عجب خان سره راټولې کړې دي او په دی مجموعه کې یې خوندي کړي.

دا کتاب د زاړه طب یو مفصل کتاب دی، چې نه یوازې د عجب خان، بلکه د ډېرو نورو حکیمانو نسخې هم پکې راغلې دي.

د طب حیدري برخه خو یې په خاص ډول دملک زعفران ده.

د دې کتاب د نثر نمونه داده: « حکیمانو ویلي دي، چې تندرستي دبدن، طاقت، حفاظت موقوف دي په اعتدال پورې، یعنې د هر بنیادم مزاج جدا جدا دی، بیل بیل حالونه لري علاجونه ټول پر مزاج پورې

منحصر دي. داسې بنيادم به نه وي چې مزاج د ده د بل په شان وي چې بنيادم څومره ډېر دي مزاجونه هومره ډېر دي ...»(۲۲).

له دغه طبي کتابونو سربېره د د يارلسمې پېړۍ په اواخرو او د څوارلسمې په اوايلو کې د تعويذونو، فالونو او انګېرنو په تړخ کې، ځينې طبي نسخې هم په پښتو نثر کښل شوې دي، چې دا ډول نسخې متفرقې دي، د ملا نعمت الله په مجموعه اعجاز محمدي معه طب نومې مجموعه، چې په نظم و نثر کښل شوې او ترتيب شوې ده، دغه ډول متفرقې طبي نسخې شته او د نورو طبي پښتو آثارو د مطالعې په وخت کې نه شي هېرېدای.

په دې پېر پورې مربوط نور هغه پښتو آثار چې په نورو علومو حکمتونو او تجاربو پورې اړه لري او پښتو له نورو په استفاده د خپلو خلکو د اړتياوو دلېرې کولو او يا له خلکو سره د مرستې په نيامت ليکلي يا ترجمه کړي دي، په هغو آثارو کې مونږ نن تولو د مخه دکسب نامو يادونه کوو: په دغه کسب نامو کې يوه هم کسب نامهٔ کلالان نومېږي، چې خطي نسخه يې ما د اسلاميه کالج پېښور دانګرېزي ژبې له استاد پروفيسور پير مسرت حسين شاه سره ليدلې وه داکسب نامه دوی له کوم کتاب پلورونکي نه امانت راوړې وه څو ماله يې د استفادې لپاره وسپارله. داکسب نامه د کلالي دکسب په آره اوسته او اړتيا ځينې نکات د سوال او ځواب په بڼه وړاندې کوي: خطي متن يې ۷ پاڼې دی او په ۱۲۸۰ هـ ق کال کښل شوی دی.

مؤلف يا مترجم او د نسخې کاتب يې نه دی ليکلی دومره يې ويلي چې د ۱۲۸۰ هـ ق کال دشوال دمياشتې په ۸ د پنجشنبې ورځ د جلال خيل.

په جومات کې وکښل شوه.

ددې کتاب د مطالبو دارائې روښ دا دی: «که چا پوښتنه وکړه چې اصل د خاورې دکومه ځایه راغی؟ ځواب ورکړه چې حضرت بابا آدم له جنبه راوړې له کوه طور. که چا پوښتنه وکړه چې کاڼی له کومه ځایه راغی. ځواب ورکړه چې یحییٰ علیه السلام له ژمکې نه راوړی وه. که چا پوښتنه وکړه چې دستگاه چا راوړې وه. ځواب ورکړه چې اسحٰق راوړی دی.»

دغه راز د ملا نعمت الله نوښاري (چې یادېې دمخه هم راغلی دی) د مجموعهٔ کسب نامه په نامه یوه منظومه رساله کښلې، چې ۲۴ مخه په لاهور کې چاپ ده، په دې مجموعه کې دناپانو، پېښانو، دوبیانو او ترکاڼانو د کسبونو په باب ځینې خبرې په نظم و نثر راغلي دي او ددې کسب نامې له ۲۴ مخ نه د نثر یوه بېلګه دلته را اخلم: «بایده دي چې هر دوبي دا رساله نده کړي یادځان سره وساتي، دپاره ددې چې کسب یې حلال شي اوپه کسب کې یې برکت شي او له کل غمونو او دردونو بر سلامت شي او له هرآفت نه بریې الله تعالیٰ وساتي او بایده دی چې تکبر نه لري ځکه چې تکبر شیطان په لعنت کړی دی».

دغه راز ددې پېر په آثارو کې موږ د فالونو، دخوبو تعبیر کودو، جادو، انګیرنو او تعویذونو په باب هم ځینې متفرق او- مستقل آثار لرو، چې ورېره برخه یې منابعي ترجمه وې، او ځینې هم لیکنې.

د دې لړۍ په آثارو کې تر ټولو د مخه د مرزاحنان بارکزي (۱۲۹۲ هرق ژوندی) څینې منثورې ټوټې د هېرولو نه دي دا ټوټې د ده د فالنامې توضیح لپاره کښلي دي د مرزاحنان دا پښتو منثورې ټوټې استاد رښتین د ده د دیوان په یوه خطي نسخه کې لیدلې دي (د پښتو نثر هنداره، ۱۹۲ مخ).

د ده نثر دا ډول دی: «فالنامه د دې کتاب که څوک یې ګوري اول دې فاتحه او قل هوالله ولولي پس دې د دایرې په یوه خانه کې ګوته ونیسي له هغه مخ په کښته دې حسابوي او لسم لسم حرف دې پر کاغذ کاږي چې د دایرې تر پایه ورسیږي».

دا نثر څنګه چې استاد رښتین ستایلی دی واقعاً ډېر څرګند او اسان نثر دی. زما په عقیده په دیارلسمه پیړۍ کې بنایي ډېر لږ نثرونه دا ډول پخوالي ولري، د ده د نثر قوت موږ ته راښیي چې په کندهار کې به نثر لیکنې، د مرزاحنان تر دورې د مخه کافي مرحلې او تجربې تر شا پرېښې وي.

ملانعمت الله نوښاري په ۱۳۱۵ هـ ق کال د خوابنامه کلان په نامه د خوبونو د تعبیرونو په باب یو کتاب منظوم او منثور کښلی دی، چې د منثورو برخو یوه نمونه یې داده: «روایت دی چې یو ورځ پیغمبر و فرمایل چې ما په خوب کې ولیدل چې ډېرو سړو جامې اغوستې دي د چا لستوڼي تر ګنګو پورې دي، د چا تر لاسونو پورې، د چا له دې نه هم نه کم دي. اصحابو ووې چې حضرته تعبیر یې څه دی، حضرت و فرمایل چې جامه ایمان دی او لستوڼی کم ونیات د سړي عمل دی».

دغه راز قاضي عصمت الله، چې د ن یارت کاکا صاحب اوسیدونکی و، دی هم د خوابنامه کلان په نامه یو پند کتاب لري، چې کرده پر پښتو نثر دی. قاضي عصمت الله د څوارلسمي پیړۍ د اوایلو عالم او سخنور ښکاري، د نثر ځانګړني یې د دیارلسمي پیړۍ د اواخرو او څوارلسمي د اوایلو نثرونو خصوصیاتو ته پاتې کیږي.

د ښکلی عجب خان چې په همدې بحث کې مو یې د طبي کتاب بیان ولوست د ده منظوم او منثور نور کتابونه هم لیکلي دي، یو یې د ده درسایلو مجموعه ده، چې ۱۱۲ مخه په ۱۳۳۶ هـ ق کال په پېښور کې چاپ شوې ده. دا مجموعه منثوره او منظومه برخې لري، فالنامه زلزله نامه او سفرنامه یې پکې راغلی دی.

د جادو او طلسم په باره کې د شیخ داؤد سبزپوش رساله مطلوب الطالبین په نوم کې اوسیدلی معراج الاسلام په پښتو نثر ترجمه کړې ده دا ترجمه ۱۹۱۴ کال په لاهور کې چاپ شوې ده. کتاب د طلسم او جادو په باب بیانونه پښتو ته ورانده کوي.

د کوډو او تعویذونو او دې ته ورته حکمتونو په باب د نقش سلیماني په نامه هم ځینې پښتو آثار موږ ته معلوم دي چې په هغو کې یو منثور نقش سلیماني دی، چې ۴۸ مخونه لاهور کې چاپ شوی دی. په دې نقش کې دوی منظومې هم شته، کتاب قاضي گل احمد له مفید الخلایق کنزالحسین گنجینهٔ عملیات او دری نقش سلیماني او ځینې نورو کتابونو انتخاب او ترجمه کړی دی.

همدا راز د نقش سلیماني په نامه یو بل کتاب هم شته چې غالباً به د شاه افضل وي. دا کتاب زیاتره نظم دی او څه برخې یې منثورې،

دي، دنقش سلماني کتابونو کې دا لاندې دوه مطالب راغلي دي لکه:

«که تعویذ دپاره د خواب بندی یا د زبان بندی وي، نو قلم - دې په بادشاهت دعطارد کې جوړ وي، چې دپاره د تیغ بندی وي. قلم دې په حکومت دمریخ کې جوړ وي او چې دپاره د دښمن او د جدایي وي، قلم دې په ساعت د زحل کې جوړ وي، چې د محبت دپاره وي قلم دې په ساعت د قمر کې جوړ وي، چې دپاره د ترقی د رزق وي، قلم دې په ساعت د زهرې کې جوړ وي» (۴۲ ځ)

دا او هغه ماته معلوم آثار چې په حکمتونو، تجاربو او نورو استفادې لیکل شوي او یا ترجمه شوي دي. بنایي د دې سلسلې نور آثار هم وي. چې سملاسي ماته نه دي معلوم.

## تاریخي او حکایتي آثار:

په پښتو نثر د تاریخي او حکایتي آثارو کښل اوږده سابقه لري، زموږ پوهانو په دې برخو کې هم د ترجمو او تألیف له لارې د خپلو فرهنګي زېرمو د بډاینې هڅې کړي دي. په دې پړاو کې هم موږ څو اثره لرو، چې له دې موضوعاتو سره اړه لري لکه:

(۱) ارواښاد استاد عبدالحی حبیبي په خپل کتاب «تومور کي - هور ښېن» (۲۷) کې د «ایمة الافاغنه» په نامه یو کتاب معرفي کوي او وایي چې ما د دې کتاب پښتو ترجمه له سید عبدالجبار شاه سره لیدلې وه. ترجمه متأخره وه. که څه هم د دې کتاب په لیکلو زما پرنسیپ دادی، چې نه په ورکو کتابو خبرې نه کوم یوازې هغه کتابونه یادوم، چې د نړۍ په کتابخانو کې موجود وي یا ما خپله لیدلي وي او یا یې نورو اقتباسونه نشر کړي وي، خو ایمة الافاغنه نومې کتاب مې ځکه یاد-

کرچې ارواښاد استاد یې پښتو متن خپله لیدلیؤ. نوځکه زه وایم چې له دې پېړۍ سږ په ترلیو تاریخي آثارو کې موږ د ایمة الافاغنه نوم، هم نشو هیرولای.

(۲) د نواب حافظ رحمت خان زوی نواب مستجاب خان (۱۱۷۵ - ۱۲۴۸ هق) یو تاریخي کتاب کښلی دی چې گلستان رحمت نومیږي. ددې کتاب پښتو ترجمه د مفخر افغان په نامه د رځرو عبدالرشید نومې کړیده. دا ترجمه منظومې او منثورې برخې دواړې لري. اقتباسونه یې په پښتو کې خپاره شوي دي. ټول متن یې مانه دی لیدلی، کومې منثورې ټوټې چې، یې خپرې دي، له هغو یو ټوکر دادی: « له دې ځای نه قلم او بیان رښتیا او حقیقتونه. لیکونکی او بیانوونکی په بیان د حالات د جنگ مشغولیږي. پوه شو چې لوبره موده په دې حال تیره شوه نو شکل او صورت د مقصود داړولې په آئینه د ظاهریدو او ښکاره کیدلوکړو بنا نر - شو نو بحا بدبخت طالع دخپل لاسه بند د مشکل د تقدیر گرځیدلی لار د تیښتې خپله بنده کره... » (۲۸)

ددې ترجمې نثر ډیر خوږ نه دی. مطلب ترې ژر نشي اخیستل - کیدای شي، بندشونه او گنډې پکې شته، خو ځینې برخې یې بیا نسبي - خوږ تیا لري او په مطلب یې پوهیدل اسانه ایسي.

(۳) د پښتو هشت بهشت د ۲-۷ مخونو په حاشیو کې د سوات د - اخوندلنو شرح حال هم چاپ شوی دی او داسې ښکاري چې د خوږ لسمې پیړۍ په اوایلو کې به چا کښلی وي. دا شرح حال داسې - شروع شوی دی: « ظاهره دې وي چې نوم د سوات صاحب عبدالغفور دی. په سنه دولس سوه یوولس هجري کې په علاقه د بر سوات کې پیدا شوی،

وه او پلار دصاحب یو عاجز سړی ؤ، چې میښې به یې خپلې ساتلې ...»

دا کوچنۍ رساله هم سړی په تاریخي آثارو کې ذیولای شي ددې رسالې نثر رواني لري او ددیارلسمې پیړۍ د اواخرو له نثرونو څینې برترې پکې نه ستر کو کیږي.

ددې پراوو ذدغو دریو ماته معلومو تاریخي آثارو نه څنګه دوه حکایتي اثره هم ماته معلوم دي چې لاندې دربیږول کیږي.

**الف**: د میرمحمد زوی امیرمحمد انصاري ددیارلسمې هجري پیړۍ په دریمه لسیزه کې په کلکته کې اوسیده او هغه یې دسعدي(رح) ګلستان په پښتو واړاوه. که څه هم د ګلستان ګلچین نه ده کابو سل کاله دمخه عبدالقادرخان خټک هم پښتو کړی ؤ. خو دده دکار ښیګڼه دا ده چې ده دا نقول کتاب پښتو ترجمه کړی دی او د شرقي فرهنګ یو ډیر مثلی اخلاقي او روزنیز اثر چې دحکایاتو په بڼه بیان شوی دی پښتونو ته په پښتو واړاوه او په پښتو کې د اجتماعي، اخلاقي او روزنیزو آثارو په زیاتوب کې یې برخه واخیسته.

دکلکتې په بنګال ایشاټک سوسایټي (د هند دکتابخانو پښتوخطي نسخې، ۱۴۳ مخ) او یا برټش میوزیم (دمیکنزي فهرست، ۱۲۶ مخ) کې ددې ترجمې دوې نسخې شته، دا دواړې نسخې په ۱۲۲۷هـ ق کال په کلکته کې خطاطي شوې دي.

امیرمحمد انصاري د ګلستان نظم په نظم او نثر یې په نثر ترجمه کړی او پیل یې داسې دی: «همه واړه ثنا وصفت او کل احسان ومنت هغه لوی قادر خښتن تعالی لره چې طاعت یې سبب د قربت دی او دده په شکر کې زیاتی د نعمت. هریو ساه چې په ښکته درومي اوبدوونی دحیات

او هرکله چې پوره تر راشي خوشحالوونې د ذات یعنې د خان دی...».

ب :- بناغلی رفیع د پښتو د پښتو اکیډمۍ د خطي نسخو د فهرست په ترڅ کې یو جونګ معرفي کړی دی ، په ۲۸۶ نومره د دې اکیډمۍ په خطي مجموعه کې خوندي دی په دې جونګ کې د نورو نورو آثارو ترڅنګ یو حکایتي اثر په دې ډول معرفي شوی دی : «قصه د عشق قمرالزمان یا د شهزاده او د بدرو باد شهزادګۍ» دا قصه په پښتو نثر ده او داسې پیل شوې ده : «د فارس په ملک کې یوه ډېره لویه جزیره وه او په هغې جزیرې کې ډېر کلي ډېر ښارونه آباد وو او د هغې جزیرې یو بادشاه وه ، چې نوم یې شاه زمان وه».

په لوړو راوړل شویو دواړو حکایتي نثرونو کې د شهزاده قمرالزمان د قصې نثر د ګلستان د ترجمې په پرتله ډېر روان او د ګلستان هغې هم د دیارلسمې پېړۍ د نورو دیني نثرونو په نسبت څه ښکلې خو لري ، اما د عبدالقادر خان خټک د ګلستان له ترجمې سره د امیر محمد ګلستان ترجمه په پرتلیزه توګه وګورو نو د عبدالقادر پرې ډېرې ښکلې او برترې لري.

## د ادبي آثارو منثورې مقدمې او پردې آثارو تبصرې د ادبي او ځینو نورو منظومو او منثورو آثارو شرحې :

که څه هم په دیوانونو د منثورو مقدمو لیکل ز موږ په فرهنګي کړیو کې د دولسمې پېړۍ په جریان کې پیل شوی ښکاري ، لکه عبدالقادر خان خټک او کاظم خان شیدا چې په خپلو دیوانونو یې منثورې مقدمې کښلې دي دغه راز پر ادبي آثارو او ځینو منظومو شرحو کښل هم په دولسمه پېړۍ کې پیل شوې دي ، لکه حمید دیوان شرح چې مو د مخه دروښوو له ، دغو-

ادبي روایاتو وروسته هم دوام کړی دی او ځینو پښاغلیو لیکوالو
د فرهنګ په دې سا حوکې هم کار کړی دی ، چې له دی پیر سره مربوط
کارونه به په لاندی ډول وڅېړو :

(۱) د ښاغلي حمدالله صحاف کندهاري په غنیمت خطي مجموعه کی د تحفة-
الطالبین په نامه یو منظوم کتاب شته چې د ری څلویښت فصله پکې موجود
دي او دا نه ښکاري چې دی کتاب به نور فصلونه هم درلودل که یه ؟
د تحفة الطالبین ناظم نوم هم ما په مجموعه کې پیدا نه کړای شو . ناظم د
دې کتاب مقدمه په پښتو نثر کښلې ده او په نسخه کې د مقدمې څلور
مخه موجود دي او نوره برخه یې لویدلې ده . په دې مقدمه کې
راغلي دي : « او دا کتاب رباعیات مسمی دی په تحفة الطالبین ولې
په معنی کې تحفه دی د طالب علمان چې دغه اسم له مسمی سره موافقت کوي
طالب علمان دې په مجلس خپل قبول که ، اګر چې لایقت نه لري ولې چې
طالب علمان اکابر خلق دي څه خبریم چې دا مکتوب رباعیات الیهم
خاطر پسند د هغو طالب علمانو بزرګانو شي یا نه شي ... » .

د تحفة الطالبین د مقدمې نثر ما ته د دولسمې پیړی د اواخرو ښکاري
او د دې پیړی له هغو نثرونو سره ورته والی لري چې دیني او فقهي
مسایل پکې بیان شوی دی .

(۲) په مردان کې او سیدلی عمر دین ، چې د دیارلسمې پیړی د اواخرو
او د څوارلسمې د اوایلو شاعرو او خپل دیوان یې د شلمې پیړی په اوایلو
کې بشپړ کړی دی ، نو پر دې دیوان چې یې کومه مقدمه لیکلې ده ، هغه
د ۱۹۱۰ ع کال ده . ده د خپل دیوان مقدمه داسې پیل کړې ده :

« زمانشي یاد چې ما چې د خپلو بزرګانو د خولې اوریدلی وې

چې زموږ په خاندان کې چېرې یو شاعر پیدا شوی وي، هغه وخت سوټېر شوی دی. صرف له دې خاندانه خدای تعالی یو نه کړم چې د شعر خزانې یې راعطا کړې او لکه ښامار یې د دې ګنج د پاسه پیچ و تاب کړم ...» (تېر هېر شاعران ۲۱۶ مخ)

د ادبي آثارو له مقدمو چې وړاندې شو له دې پیره سره مربوط ځینې داسې منثورې ټوټې او ځینې داسې منثورې لیکنې زموږ مخې ته راځي چې د ځینو شاعرانو شرح حال پکې بیان شوی وي او د ځینو شاعرانو د حالاتو په باب لنډې اوږدې یادونې پکې راغلې دي، په دې ساحه کې ما تر د دوو تنو کارونه معلوم دي:

الف :- د صوابۍ د ټوپۍ او سیدونکی سید عمر چې یو ذوقي سړی معلومېږي، خپلې او د نورو شاعرانو ولسي سندرې او غزلې یې په یوه مجموعه کې راټولې کړې دي او د ګلشن اشعار افغاني نوم یې پرې ایښی دی.

د دې ګلشن یوه خطي نسخه د پېښور د اسلامیه کالج د کتابخانې په خطي مجموعه کې په ۱۹۹۲ نومره خوندي ده. ده چې په دې مجموعه کې د چا شعرونه راوړي دي، نو یې په پیل کې د هغه شاعر لنډ کی حال هم ورسره خوندي کړی دی. د ده د دا ډول معرفیو روش دا دی:

«چاربیته د اکبرشاه ملا د کهوندي په لیک نه پوهېږي د شپیتو کالو دی موجود دی» یا لکه: «چاربیته د سلطان زرګر د مرغز دا نیا کالو وه خلوېښت کاله شوي چې مړ دی ...».

د ګلشن اشعار افغاني د ټولوونکي نوم د سید عمر دی، لکه چې ما وویل د ټوپۍ او سیدونکی و، ځکه د خپله په خپل کتاب کې د ځان په باب کښلي دي:

«کتبه حقیر سید عمر د ټوپۍ» (۲۹).

اما ارواښاد مولوي عبدالرحیم د اسلامیه کالج د کتابخانې پر فهرست کې

دده نوم سید محمد عمر او د کوټې او سیدونکی بللی دی (۳۰) دې تیروتنی ویروآثار ونثر سرایت کړی دی زما په عقیده د ټولو منوول بډددې لیکې کار نه وي ، خو دپښتو نثر په باب لیکل شویو کتابونو : د پښتو دنثر تاریخ ۲۳۸ مخ ، د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه ۳۱۷ مخ دپښتو نثرهنداره ۲۶۰ کې د سیدعمر نوم سید محمد عمر او ځای ځلیګی یې د صوابۍ کوټه ښوول شوی دی . په دې کتابونو کې یوازې د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه نومې کتاب یې د نثر نمونې راوړې دي په دوو نورو کې یې نمونې هم نشته .

د سیدعمر ګلشن اشعار افغاني یوه مختصره تذکره ده چې دپښتو د ځینو ولسي شاعرانو په باب یې ډیر لنډ اما د کار خبرې خوندي کړې چې دده د همدغو لنډو یادونو په بنا موږ د دغو شاعرانو په باب ډیر څه تر لاسه کولای شو ،

د سیدعمر کار د ستاینې وړ دی او ما دده دکار ارزښتمنیو په باب خوشحال د مخه په کابل مجله کې یوه اوږده مقاله کښلې وه . (۳۱)

ب :- له سیدعمر نه وروسته بل سړي چې یې په دې سلسله کې کار کړی او کاروونه یې سیدعمر تر ورتر دي ، هغه صاحبزاده عبدالحی دی ، دا صاحبزاده عبدالحی د سید احمد صاحبزاده زوی او دکوټې د حضرت جي لمسی و . د ذوق خاوند سړی و ، د حضرت جي د ماذونانو او مادحانو آثار یې ټول کړي دي ، خپله یې مقدمې او شرحې هم لیکلې دي ، کوم آثار چې ده ټول کړی په هغو کې ماته معلوم دادي :

(۱) مخزن الاسرار ، دا کتاب صفي الله ختک لیکلي دي ( په دې کتاب د مسجع نګارانو په بحث کې خبرې شوې دي ) . دا کتاب نوموړي صاحبزاده

عبدالحی را ټول کړي دی او مقدمه یې هم په پښتو نثر پر لیکلې ده
او ۱۶۷ مخ کې یې ویلي دي: « داکتاب زما پلار حافظ سید احمد
صاحبزاده چې د حضرت جي صاحب دکوټې شریفې د دریم فرزند وه
له اصل نسخې قلمي د ملا صاحب صفي الله مصنف ددې کتاب نه په خلوېشتم
د ذی القعده سنه ۱۳۰۶ هـ په کوټې کې په قلم د حاجي صاحب دکوټلری
عنبرخانی نقل کړی وه، نن په دیارلسم د رجب ۱۳۳۸ مطابق د دریم
د اپریل ۱۹۲۰ په ورځ د خالی پر وقت د نماز پښینی په مقام د تیری زیارت
د ختک، ما صاحبزاده عبدالحی تا نه دان د تیری په خپل قلم سره نقل کړ... »
(۲) احمد نامه، داکتاب اکبرخان نظم کړی دی او یوه اتره مخیزه
مقدمه دغه صاحبزاده عبدالحي پرې لیکلې ده. داکتاب د حضرت جي
د دریم زوی سید احمد (۱۲۵۶ - ۱۳۱۹ هـ ق) چې په لاله کل مشهور وه،
په وفات اکبرخان نظم کړی دی. دې کتاب سره صاحبزاده عبدالحي
ځینې نورې هغه چاربیتې هم ملې کړې دي چې ځینو شاعرانو د لاله کل
په مړینه ویلي دي، او د هرې چاربیتې په سر صاحبزاده عبدالحي
خپل یادښتونه په دې ډول کښلي دي: « ماتمي چاربیته زبانی د
حبیب الله شاعر دکوټې چې دکونډ یا نه خیلو په کندي کې ملک (ټبردار)
دی په وفات د حافظ صاحبزاده صاحب مشهور په لاله کل » (۱۳۲۲)
د صاحبزاده عبدالحی چې د چاربیتو پر سر کوم یادښتونه کښلي دي
د پرداخت د شیوه له پلوه د سید عمر له سبک سره نږدې والی لري.
(۳) ملوح الابرار، داکتاب هم نوموړي صاحبزاده ټول کړی
دی او په دې کتاب کې یې لومړی هغه مدحې راوړې دي چې ځینو
شاعرانو د کوټې د حضرت جي په مدح کې ویلي دي. ده چې کوم

بنه کار کړی دی هغه دا دی چې، د مدح الابرار په پای کې یې د شاعرانو شرح هم کښلی دی او دا په حقیقت کې د پښتنو شاعرانو یوه کرانبه تذکره هم ده چې زموږ په فرهنګي حلقو کې له مرحوم اثر پرته بل چا تر ې استفاده نه ده کړې.

(۴) د مطیع الله پیره خیل دیوان یې هم د دوو نسخو له مخې ترتیب کړی دی، چې د دې دیوان سره یې هم نوشتې ملې دي. ښاغلي رفیع د پښتو د پښتو اکیډمۍ د خطي نسخو په فهرست کې د مطیع الله د دیوان هغه نسخه هم معرفي کړې، چې صاحبزاده عبدالحي برابره کړې ده.

صاحبزاده هلته کښلي دي: „ هزار بار شکر د پروردګار عالم دی، چې په ډېر صحت سره دا یوه نسخه له یوه دوه نسخونه په قلم زما صاحبزاده عبدالحي نقل شوه".

له ادبي تذکره د وله آثارو سربیره موږ د غرمهال ځینې داسي نثرونه هم پیدا کولای شو، چې د ادبي اثارو او شاعرانو معرفي او حتی نقد تر وقف شوی دی، لکه:

الف: د قصیده برده له پښتو ترجمو څخه دری یې (د عبدالقادر، میا شرف او محب الدین) ډېر پخوا په زاړه هندوستان کې چاپ شوې دي. کوم زوړ چاپ چې یې ما لیدلی دی هغه د ۱۳۰۵ هـ ق چاپ دی چې د پیارې لال په اهتمام د دهلي په هندو پریس کې چاپ شوی دی. په دې چاپ کې یې لیکلي دي: „ په بنه تصحیح او تحشیې سره په فرمایش د محمد حسن کاتب چاپ شوه" او کاتب یې هم محمد حسن دی، نو کیدای شي چې حاشیې او نورې لیکنې یې ټولې د همدې محمد حسن وي، ځکه د مترجم او نثر لیکونکي و... د قصیدهٔ برده دا ترجمه څو ځله نوره هم چاپ شوې ده.

دري قصيدې پر منثور شرحو په نه لين. وروسته خبرې وکړم خو څه چې له دې بحث سره اړه لري هغه دا دي چې د دې قصيدې په پای کې د «اسناد قصيدهٔ بردی» تر سرليک لاندې د دې قصيدې يو ه اوږده دري مخيزه معرفي ليکلې او چاپ کړې ده. د دې ليکنې پيل داسې شوی دی: «واضح دې وي چې قصيده په لغت کې نوم ديو قسم شعر له اقسام دشعر څخه چې شاعر دخپل ممدوح صفت او مدح پکې بيانوي او وجه دتسميه د دې قصيدې چې په قصيدهٔ برده مشهور دی، دا رنګ نقل کاندي چې شيخ شرف الدين بوصيري ...». (۲۳)

همدا رول د څورلسمې پېړۍ په اوايلو کې موږ ګورو چې يو نيم ځای دځينو شاعرانو پر کلام نقد وله خبرې هم چاپيږي، لکه چې يو ځای د مولوی محمد رفيق اکبرپوري له يو غزل سره د تبصرې په دول کښلي دي: «دا غزل محمد رفيق استاد ويلی دی، په خپله زمانه کې يو قابل قدر شاعر وه، دده په شعر کې لفاظي زياتره ده، عالمان او شاعران يې ډېر خوښيږي، مګر اميان يې نه پوهيږي له دې وجهې نه دده ډېر کتابونه چاپ نه شو، دا صاحب داکبرپورې دی او په مقبره داکبرپورې کې دفن دی ...». (۲۴)

همدا رول موږ په دې پېړۍ کې د ځينو ادبي آثارو او منظوماتو منثورې شرحې هم موږو. دغه راز د الله تعالی د مبارکو او مقدسو نومو يوه پښتو منثوره شرح هم ماته معلومه ده چې له دې پېر سره اړه لري او زه د دې بحث بيل تمنناً او تبرکاً له دې شرحې کوم.

(۱) د مياعمر چمکنی مريد دخپو منظومو آثارو خاوند نور محمد، چې د اروابناد اش په قول د تاني په کلي کې او سيدلی و (تيرهير شاعران ۱۰۵مخ)

په ۱۱۷۰ هـ ق کال د لوی خدای (ج) د مبارکو نومونو شرح په پښتو نثر لیکلې ده، چې د شرح نمونې یې دا دي:

یا حکیم: ای ښښتن د حکمت چې هیڅ کار ستا او هیڅ څیز له نفع د بنده گانو خالي نه دی.

یا ستار: ای پټوونکیه د عیبونو د نور محمد عیبونه پټ کړه ته د خپل اسماء حسنی له برکته »

ددې منثورې رسالې په پای کې یې درې پښتو بیته هم راوړي دي چې یو بیت یې دا دی:

« نور سل او یا سن هجري و * چې بیان و شو په دا کې »

د نور محمد د اسماء حسنی دا شرح په ۱۷۵ نومره د پیښور آرشیف په خطي مجموعه کې خوندي ده.

ددې شرحې د لیکلو وخت د احمد شاهي عصر سره مصادف دی او ما باید د احمد شاهي پېر د نثر نگارۍ په جریان کې مطالعه کړې وای، خو دا چې لیکوال یې تر ۱۲۰۰ هـ ق پورې ژوندی و او دی ددې وخت شاعر او لیکوال بلل شوی دی، نو ځکه ما هم ددې پېر د شروحو د پېژندنې په برخه کې ده ته ځای ورکړ.

(۳) د کریمداد بن اخوند درویزه (رح) القیامه په درې، اردو او حتی عربي شرحې لري، خو پښتو شرح یې یوازې یوه پښتنه شوې ده. دا پښتون سید تظیف نومیږي. ما په فرهنگ (۱/۲۴۳) کې کښلي دي چې ده د اخوند درویزه مخزن شرح کړی دی. خو ددې شرحې کوهنه نسخه چې د پیښور د پښتو اکیډیمۍ په کتابخانه کې خوندي ده او بناغلي رفیع په خپل جوړ کړي فهرست کې معرفي کړې ده.

له دې معرفي څخه ښکاري چې دایواني دکریمداد د الفنامې شرح ده. ښاغلي رفیع ددې شرحې د تألیف کال ۱۲۰۰ هق شاه‌خوا ښوولی دی.

دکریمداد الفنامه له فکري متن سربیره هنري ارزښتونه هم لري او کریمداد د عرفان ډېر پیچلي موضوعات په داسې ډول بیان کړي دي چې خپل کلام یې دشعریت پوړي ته رسولی دی او د ډېرو پښتو عالمانو په بیلا بیلو وختونو کې توجه ور ته کړې ده او په بېلو بېلو ډولو کې یې شرحې ورکښلې دي، او سید نظیف بیا دخپلو پښتو دپوهېدونکو یاره دا الفنامه ددوی په ژبه ور شرح کړې ده چې دشرحې روش یې دادی:

الف یو کوره له میمه

ددې دوار و معنی هیمه

مراد له الف ذات دالله تعالیٰ دی او مراد له میم ذات د محمد صلی الله علیه وسلم دی او یو والی ددې دواړو په اعتبار د طاعت او فرمان بردارۍ سره دی، چې فرمانبرداري د هریو فرمانبردارۍ دبل ... »

(۳) د عبدالقادرخټک د دیوان یوه خطي نسخه چې په ۵٤٤ نومره د پېښور د پښتو اکیډیمۍ په خطي مجموعه کې خوندي ده. په دې نسخه کې ځینو بیتونو ته منثورې شرحې او ځینو لغاتو ته تشریحي معناوې کښل شوې دي.

دا نسخه محمدجمیل نومي کښلې او د محمدآصف ختک ملکیت کې وه. په دې نسخه کې یوځای دآصف له نامه سره د ۱۱۹۰ هق کال سنه هم کښل شوې ده او ددې سنې موجودیت دا ښيي چې دا شرح به تر دې نېټې دمخه کښل شوې وي. شارح یې په څرګنده نه ښکاري. په کاتب محمدجمیل هم دا

حکم کېدای شي او له دې سربېره دا هم کېدون لري چې دا شرح دې محمد آصف خټک کښلې وي او دا آصف خټک ماته هماغه آصف خټک ښکاري چې نصیحت الملوک یې په پښتو ترجمه کړی دی (د خټکو په پیر کې پر ده بحث شوی دی)

د دې شرحې یوه نمونه دا ده:

ستا قلم عبدالقادره مشک افشان شه

چې د ېږ دېر صفت د زلفو د کاکل کا

«یعنې مشک افشان شو قلم ستا، قلم سیاهي لري او مشکم تور وی ګویا دا قلم چې صفت د تورو زلفو ... لپاره کاندې د تورو زلفو توروالی په قلم اثر کړی چې د هغه سیاهی توره شوه، بیا په خوشبویي د زلفو د کاکلو هغه سیاهي توره شوې ده، دا دواړه تلازم شعري دی.»

(خطي دیوان ۱۲۰ مخ)

(٤) د شروحو د بحث په لومړۍ نومره تاسې د نور محمد خان بیان ولوست، چې د الله تعالی مبارک نومونه یې په پښتو نثر تشریح کړي وو، هغه نور محمد په ۱۱۸۰ هرق کال د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) شمایل شریف د مربعونو په کالب کې په پښتو نظم ویلي دي او د دې شمایل یوه نسخه د ده د زوی هدا محمد په خط په پښور آرشیف کې خوندي ده. د دې منظوم شمایل ځینو بیتونو ته پښتو او دري شرحې هم کښل شوې دی او ډېر امکان شته چې دا شرحې هدا محمد لیکلې وي. د نمونې لپاره یې د دې لاندې بیت شرح وګورئ:

هسې لې د وخښله اړې        درته هیڅ وي ملغلرې

«یعنې مراد دا دی چې غاښ مبارک چې وو بېرته بېرته وو او نه ډېر

نژدې وو، بلکه میانه حال وو. یعنې ملغلرې په قیمت کې ادنا وې او غاښ مبارک بېش قیمت وو.»

(۵) د محقق العلماء عبد الحق خروټي (۱۲۱۵ - ۱۲۹۰ هـ ق) د یاقوت السیر دوې خطي نسخې ما لیدلي دي. یوه د دوکتور عبد الاحد جاوید نسخه وه چې وروسته یې بیا د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته ورکړه. او بله هم د افغانستان د ملي آرشیف نسخه. په دې دواړو نسخو کې ځینو تومونو او کلمو ته په پښتو منثورې شرحې کښلې شوې دي. کله چې ما د یاقوت السیر متن چاپ ته اماده کاوه نو مې د دواړو نسخو منثورې شرحې په لمن لیکونو کې وکښلې.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په خطي مجموعه کې چې د یاقوت کومه نسخه شته، هلته یې د (اوس او خزرج) د قبیلو شرح داسې کښلې ده: «دوې طائفې دي د اهل مدینې». د افغانستان د ملي آرشیف په نسخه کې یې «اقدم حیزوم» ته په حاشیه کې لیکلي دي: «یعنې وړاندې سه اې حیزوم نوم د آس د جبرائیل (ع) دی.»

دا دواړې شرحې په کندهار کې لیکل شوي دي.

(۶) خانزاده شېرعلي‌خان د نورو ډېرو آثارو تر څنګ د شیخ صنعان قصه هم په پښتو نظم کښلې ده. دا قصه یې د پېښور پښتو اکېډمۍ په پښتو مجله کې کرده چاپ کړې ده. خو خطي نسخه یې چې د ۱۳۰۰ هـ ق په ربیع الاول کې لیکل شوې ده. هغې کې د دې قصې ځینو بیتونو ته چا شرحې کښلې دي، اما د شرحې د کښونکي نه معلومېږي. د نمونې لپاره یې زه دیوه بیت شرح رااخلم:

دا به دا اسرار د حق څوک بیان کړي شي مطلق

«پټ راز د رشتینولیه مینې د خداوند تعالیٰ چې و لیانو ته حاصلېږي»

(۷) د رکن الدین د قانون القرائت پر یوه چاپي نسخه څینې پښتو او دري حاشیې هالیدلې دی چې د ۵ مخ یوه پښتو حاشیه یې داده:

« رمز صغیر وکبیر واکبر ، هغه وي چې حرف یو وي او دلالت کیی (کوي) په یوې ... باندې او کبیر هغه دی چې حرف یو وی او د لالت کیی (کوي) په جمع باندې او اکبر هغه دی چې رمز جمع وي او دلالت کیی (کوي) په جمع باندې . »

(۸) تجوید محمدی یا تجوید احمدي یوه بله رساله ده چې په ۱۳۲۵ هـ ق کال کې چاپ شوې ده. دا چاپي نسخه عربي، پښتو او دري شرحې او حاشیې لري چې د حاشیو لیکونکی یې حاجي شیخ فتح محمدخان دی . یوه پښتو شرح یې داده:

« چابه وی چې حکم د میم ساکن مقابله د واو کې داسې ده، لکه نور حروف نو مناسب مصنف لره داوچې هرکله فارغ شوی دی له حکم د میم ساکن په مقابله د باء ساکن کې نو داسې ویلی وي ... (حاجي شیخ فتح محمدخان رحمة الله ) . (۳۵)

(۹) حاجي زبر دست بټنی د ذخیرة القری یوه چاپي نسخه چې په غلطه د احمد تیراهي په نامه چاپ شوې ده ، د دې چاپي نسخې څینې شرحې په حاشیو کې په پښتو نثر راغلې دي ، لکه دا شرح : « معنی داده حرکت د حرف یو دی او دویم حرکت علامه د تنوین ده او په وقف سره لیرې کېږي ، حرکت ثاني او حرکت اصلي نه لرې کېږي ... » (۳٦)

(۱۰) د قصیدهٔ برده د اسناد و خبرې په همدې بحث کې راغلې ،

دې قصیدې ته پښتو منثوره شرح هم ددې قصیدې د پښتو ترجمې په حاشیو کې شوې ده ، چې د یو بیت شرح یې داسې ده :

سریت من حرم لیلاً الی حرم

کما سری البدر فی داج من الظلم

« سریت لاړې ته من حرم له مکې نه په شپه کې الی حرم په طرف د مسجد اقصی سری البدر لکه تلل کا سپوږمۍ فی داج من الظلم په تیاره شپه کې ....

حاصل : یعنې په شپې لاړې له مکې معظمې نه په طرف د مسجد اقصی ، لکه چې لاړ شي سپوږمۍ په تیاره د شپې کې او په شپه پاس وختې آسمانونو ته ترهغې حده چې ورسیدې مرتبې د قاب وقوسین پورې چې نه یې په فکر څوک معلومولی شي او نه قصد کېدی شي .... » (۵٦ مخ)

ددې قصیدې دا منثورې پښتو شرحې هم سړی په یقین چا ته نشي منسوب کولای .

(۱۱) پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ په خپله رساله مزارات کې کښلي دي چې ملا سرور کاکړ د رحمان بابا داشعارو منتخبات په پښتو نثر تفسیر او شرح کړي دي (۳۷) . ما پخپله دا شرح نه ده لیدلې ، څنګه چې پروفیسور سیال کاکړ کتلې ده ، نو زه ددې پر لیکنه اعتماد کوم او په دې اثر یې شاملوم .

(۱۲) په پېښور آرشیف کې په ۱٤۷ نومره د مشهور ملاچې اصلي نوم یې آدم خان دی ، د تجوید یوه ضابطه شته . دا ضابطه منظومه ده . په حاشیو کې یې پښتو شرحې په نثر راغلې دي ، لکه : « تقدیم د معرفت ددې حروفو دی ، له دې وجه چې دوی دي سبب لپاره د احکامو د نون ساکن ... »

داوې هغه شوې چې ماته معلومې وې ، ښايي نورې شرحې هم وي چې نه يې تر اوسه په موندلو نه يم بريالی شوی .

## دعاوي ، خطبې ، د دعاوو اسناد او د قرآن د سورتونو خــواص :

په دې بهاو پورې مربوط

کوم آثار چې ماکتلي دي په هغو کې پرځينو داسې آثارو هم پېښ شوی يم چې دځينو دعاوو اسناد يې پکې تشريح کړي دی ، د نکاح خطبې دي او يا هم د قرآن عظيم دځينو سورتونو خواص ، ددې پير د منثورو آثارو دببلابېلو بحثونو ديشپړتابه لپاره نه اړيم چې پر دې آثارو هم لږ خبرې وکړم .

الف : په پښتو آرشيف کې په ۱۲۳ نومره د اسناد دعای عکاشه په نامه يوه رساله شته چې په لومړيو ۱۳ مخونو کې يې په پښتو ژبه د دعا اسنادراوړي دي او بيايې عربي دعاوې خوندي کړې دي .

ددې اسنادو پيل په دې ډول نثر شوی دی : « يوه ورځ حضرت عليه السلام په مسجد د مدينې کې ناست و ، مهترجبرائيل راغی وې وحضرت(ع) ته چې خدای تعالی سلام راستولی دی پر تا باندې او بس له سلامه يې تحفه راکړې ده ويلي دي چې دا محض د پاره د امت ستا مادرلېږلې ده ... »

ب : ښاغلي رفيع د پښتو د پښتو اکيډيمۍ د خطي مجموعې په فهرست کې د دعاوو يوه مخطوطه معرفي کړې ده او ويلي يې دي چې دا نسخه په ۸۰۰ نومره په دې کتابخانه کې ضبط ده . دري پاڼې لري او له ببلا ببلو ناروغيو دښه کېدو او د مطلبونو د ترسره کېدو د دعاوې پکې راغلې دي . پيل يې داسې شوی دی :

« که څوک نا جوړه وي دا دعا او وه ځله ولولي ، په رنځور دي
ځنګه روغ به شي .»

ج - د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو لیکوال او مترجم د تاکال محمدامین
چې په دې بحث کې یې څو ځایه نوم راغی دځینو دعاوو اسناد په پښتو نثر
کښلي دي ،

د دغه محمد امین یو کتاب دی چې فقرنامه معهٔ دعای قریبه، شش قل؛
شش کلمه ، هفت هیکل نومېږي . په دې مجموعه کې اسناد دعای قریبه
په پښتو نثر دی، چې یوه برخه یې داده: « په حدیث کې دي راغلي چې
حضرت (ص) په جماعت کې ناست و ، چې جبرائیل علیه السلام وحی راوړه چې
ای پاکه حضرته خدای تعالیٰ سلام په تا رالېږلی دی او پیشکشی ستا دپاره
او ستا د امت دپاره رالېږ ی » (۳۸)

همدارنګه د همدغه محمد امین له یو بل چاپي اثر سره چې مجموعهٔ شفاعت
نامه ، قیامت نامه نومېږي ، د تاجنامې د دعا اسناد په پښتو نثر راغلي
دي، چې غالبًا به د همده وي . د دې دعا په اسنادو کې راغلي دي:
« یوه ورځ پاک رسول (ص) په جماعت د مدینه منوره کې ناست وه چې
جبرائیل (ع) ، دالله له طرفه راغی ویل چې یارسول صلعم خدای تعالیٰ دپاره
د امت ستا دا پېشکشي را ستولی دی ، چې دا پیشکشي پخوا له تا نه هیچا ته
نه وه راستولې .»

د : د پېښور آرشیف په خطي مجموعه کې د یوې مسجع معراجنامې
په پای کې د قریبه دعا اسناد شته چې نسخه یې د تهکالي محمد امین له زمانې
د مخنه ښکاري ، نو ځکه نه اټکل کوم چې د دعای قریبه دامنثور اسناد به
د تهکالي محمد امین د دعای قریبه له لیکلو اسنادو بېل لیکل شوی اسناد

وي ، چې كوم بل پښتانه ليكوال به د خپلو خلكو د خير ښېگڼې لپاره ليكلى

وي، د دې اسناد و پاڼې څلوردې او په يوه برخه كې يې راغلي دي:

« ... دا هغه بنده دى چې تمام عمر خپل يو گوزار د دعاى قريبه

لوستې ده . بيا به حكم وشي چې دى جنت لره بوزئ .»

هـ: مجوعه وظايف يوه منظومه او منثوره پښتو رساله ده چې ۱۷۲ مخه په لاهور كې چاپ شوې ده . په دې مجوعه كې د راغليو پښتو نظمونو په مقطع كې د ناظم نوم شېرمحمد راغلى دى ، نوكېداى شي چې دا گرده مجوعه ده جوړه كړې وي . په دې مجوعه كې د دعاوو عربي متن ته پښتو ترجمه كښل شوې ده او په پاى كې يې يوه منثوره پښتو دعا هم ځاى كړې ده.

و : گلشن وظايف يوه بله مجوعه ده ، چې په دې مجوعه كې هم د ځينو دعاوو اسناد په پښتو نثر كښلى دى ، د نثر يوه نمونه يې داده :

« خاصيت اول دادى چې دا څوك ولولى په شپه كې يو ويشت گوزاره به شريني باندې چُف كړى ، هرچا له چې دا شريني وركړى نو هغه به ير عاشق شي ... »

ز : د ښاغلى حمدالله صاف كندهاري په خطي مجوعه كې د قرآن عظيم د سورتونو د خواص يوه منظومه رساله شته چې كاتب يې طالب شېرمحمد دى . په دې رساله كې چې د هر سورت خواص په پښتو نظم تشريح كېږي او بيا د منظومې تشريح په پاى كې په پښتو نثر ځينې ليكنې راځي، لكه:

« رسول الله صلى الله عليه السلام فرمايلي دي چې سورة الحاق ولولى په وخت د قيامت حساب وربانديې اسان شى ختم د دې سورة او يا خلك دى د پاره د اسانه د عذاب د گور » .

ح : د نمه راز په دې پېر كې مونږ په ځينو آثارو كې د نكاح د تړلو

او مجاب و قبول خبري هم په ځينو آثارو کې ګورو چې ځينو پښتونو خلکو د لاربښوونې لپاره کښنلي دي ، لکه :

ماتاته درکړه تاقبوله کړه . تاکح دې ووايې ما قبوله کړه .

(۲) ملا دې ورسول ته ووايي چې له کومه راغلی هغه رسول دې ووايي له شهر ولايت . هغه ملا دې ورته ووايي چې څه دې راوړي دی. هغه رسول دې ووايي چې حکم وکالت مې راوړی دی . هغه ملا دی ووايي ذ چا له طرفه هغه رسول دې ووايي له خولې د فلاني بي بي عاقله ، بالغه ، صالحه . . . »

# د پښتو نثر ليکنې د ريو ځانګړې جريانونه

د پښتو نثر د پاينت په ډې کې ليڅن پيږ کې ځينې خاص جريانونه هم راميڅ ته شوي دي چې را زيږولي آثار يې د دې پر او له نورو آثارو سره د شکلي جوړښت او د بيان د طرزونو له پلوه توپيرونه لري او زيا تره د ترجمې په رنګ کې رنګيدلي جريانونه دي ، چې د دې بحث د بشپړتا به لپاره پرې خبري ضروري ايسي .

(۱) لومړنی جريان چې دلته پرې خبرې کوو ، هغه د پښتونخوا په کليوالي ديني تعليمي حلقو کې د درسي آثارو نثرونه دي ، چې زيا تره له عربي او کله کله له پارسي او نورو ژبو ټکي په ټکي ترجمې په بڼه ايجاد شوي دي . د دې نثرونو د جملو جوړښت او ترکيبونه د پښتو خپل رنګ نه لري او په داسې شېوه برابر شوي دي چې له يو خاص قشرنه پرته عام لوستونکي ترې نه استفاده کولای شي او نه يې هم لوستلای شي . لوست يې عادي لوستونکي ته ډېر تنګي کوي او که يې څوک د ضرورت له مخې

مسلسل په زحمت ولولي، امکان لري چې ښه ډېر ګټه ترې هېره کړي.

دا متنونه د ضابطو، ترکیبونو، حاشیو، تحریرونو، تقریرونو په بېلا بېلو رسالو کې دیني طالبانو سره ټول کړي دي. ما چې څومره دا دول درسي ضابطې او درسي آثار لیدلي دي، ګر ده د دیار لسمې پېړۍ د اواخرو او د څورلسمې پېړۍ د اوایلو دي. ما ښه د دمخنیو زما نو داډول آثار نه دي لیدلي. د لرغونو دغه ډول آثارو د نه موجودیت دوه دلیله کېدای شي:

الف: شاید زموږ پخوانو دیني طالبانو دغه علوم په عربي او دري ژبو کې لوستل.

ب: کېدای شي د پښتو لرغوني منظوم او منثور آثار، لکه مخزن، فواید الشریعت، رشیدالبیان او په لسګونو نور دغسې آثار به طالبانو لوستل.

شاید پښتانه دیني عالمان او مدرسین په وروستیو دوو پېړیو کې دې خبرې ته متوجه شوي وي چې د کلیوالي دیني مدرسو او درسګاهو په تعلیمي نصاب کې شامل کتابونه او رسایل خپلو پښتنو طالبانو ته د دوی په ژبه ووایي او د مختلفو علومو د مبادیو، اصولو او فروعو تقریرونه په پښتو وکړي، چې طالبانو به بیا پسې لیکلي او ضبط کړي وي. د دې درسي ضابطو او حاشیو موجودیت هم دا وروستۍ نظریه تاییدوي.

دا درسي آثار د صرف، نحو، د عربي ژبې د ګرامر په لاره چارو د قرائت او تجوید د منطق، ریاضي، فقهي او دیني مسایلو په زیاته د میراث او لنډه دا چې په کلیوالي نصاب کې د شاملو زیاتر و -

مضامینو دي .

د دې درسي ضابطو ، شرحو حاشیو او ترکیبونو مؤلفین زیاتره ښکاره نه دي او اکثرا امالي او له تقریرونو نه تهیه شوي دي . د زیاترو دغو ضابطو په پای کې لیکل شوي دي . تقریر لغمان ملاصاحب امالي سکندرپور ملاصاحب ، تقریر مروت ملاصاحب ، تقریر اکوړي ملاصاحب ، تقریر دبرې بانډې ملاصاحب .

ما چې څو مره ضابطې او د دیني مدارسو د غه ډول درسي آثار لیدلي دي . په هغو کې د څو محدودو کسانو نومونه د مؤلف په حیث درج دي ، لکه :

کله چې ښاغلي رفیع او ما په ۱۳۵۵ هـ ش ۱۹۷٦ ع کال د کابل پوهنتون په کتابخانه کې د هغې کتابخانې پښتو خطي نسخې کتلې ، د میراث یوه ضابطه هلته وه چې مؤلف یې ښکاره او ملا غلام جان یې بیر کنبلی و . زما پخپله خطي مجموعه کې چې د ضابطو کومې نسخې وې ، په هغو کې هم یوه د میراث ضابطه وه چې مؤلف یې حضرت شاه لغماني ښوول شوی و . دا حضرت شاه د لغمان د هرمل اوسېدونکی و ، عالم او شاعر سړی و د شعر دېوان یې هم درلود چې خطي نسخه یې زما په خطي مجموعه کې وه .

د پېښور د پښتو اکیډیمۍ د خطي نسخو په فهرست کې ښاغلي رفیع د نحو یوه ضابطه معرفي کړې ده او مؤلف یې ورته عبدالله جان صاحب ښوولی دی .

د پېښور د شاوخوا سیمې د بلې نه د علاقې دوو قاضیانو قاضي مبارک او قاضي صفی الله ( ۱۲۷۰ - ۱۳٤۰ هـ ق ) چې د منطق کومې ضابطې

کښلی دی، پر هغو یې خپل نوموړنه کښلي دي . د قاضي مبارک دمنطق ضابطه تر اوسه نه ده چاپ شوې او خطي نسخه یې د میاطارق شاه په کتابونو کې وه چې بیا دا کتابونه د ښاغلي دوکتور راج ولیشاه خټک په همت پېښور پښتو اکیډیمۍ رانیولی دي . دقاضي مبارک دضا بطې په پای کې کښل شوي دي : « ضابطهٔ منطق من تصنیف قاضي صاحب مبارک ساکن بدنی باشندهٔ شهر پشاور از دست فدوی محمدعمران تحریر یافت » .

دا محمد عمران د پېښور و، دپښتو دیوان لرونکی شاعر دی او خپل دیوان یې په ۱۹۰۲ع کال کې بشپړ کړی دی .

د قاضي مبارک دمنطق دضابطې د اختتامیه لیکنې له نقلولو زما مقصد دا دی چې یو پېښوری لوستی سړی د دې ځای نوم بډنۍ نه، بلکه بدنی لیکلی دی . په دولسمه پېړۍ کې په کندهار کې ناست محمدهوتک په پټه خزانه کې هم دا مکاني نوم د غښي راوړی دی . خو په پټه خزانه فی المیزان کې یو اعتراض دا هم پر محمدهوتک خوارکي وارد وي چې ده ولې بدنی لیکلی دی؟ او ددی کتاب دجعلي(!) ثابتولو په دلایلو کې یو دلیل دا هم دی، حال دا چې موږ ولیدل چې درواني میلا دي پېړۍ په سر کې په پېښور کې او سبدلي عمران دا نوم بدنی لیکلی دی، نه بډنۍ .

همدا دول د مردان دشهبازګړهی مولوي محمد غفران (۱۲۷۰-۱۳۴۲هق) چې پر ایسا غوجي کومه پښتو شرح کښلې ده، پر هغې یې خپل نوم کښلی دی . په یوه نیمه بله ضابطه هم بناني د مؤلف نوم راغلی وي .

له دې جريانه سرى داسې نتيجه اخلي چې د ديني مدارسو د غه درسي آثارو يوه برخه د تأليف او ترجمې د منظمې عملې له لارې رامينځ ته شوې ده او يوه زياته برخه يې د لويو ديني عالمانو د اماليو او تقريرونو زيږنده ده ، چې زيار کښو طالبانو د کاغذ پر مخ کښلې ده .

د غه ديني درسي آثار که په هر علم پورې اړه لري زياتره د ضابطو په نومونو مشهور دي ، خو ځينې بيا د محررينو او مدرسينو د سيمو نومونو ته هم منسوب دي ، لکه لاجبوکى ( د دې درسي اثر يوه پښتو خطي نسخه ۸۲ پاڼې په ۲۰۳ نومره پېښور آرشيف کې خوندي ده . دکتاب الطهارت ، کتاب الصوم ، کتاب النکاح ، کتاب الايمان ترلويو عناوينو لاندې يې په بېلا بېلو او فصلونو کې يې ديني او شرعي مسايل تشريح کړي دي ) يا لکه تحرير بوسته ، چې د منطق پر تصديقاتو او تصوراتو په دوو پنډو ټوکونو کې بشپړ شوى دى ، يا تحرير سنبټ .

د تور ورسک حاشيه چې د منطق پر تصوراتو او تصديقاتو مولانا بحر العلوم کښلې ده ، يا لکه ترکيب شوه چې د شوې ملا صاحب ليکلى دى . ځينې دا ډول درسي آثار د ترکيب په نامه نومول شوي دي لکه : ترکيب نظم مائة عامل ، ترکيب فضيله ، حاشيه برمزار قطبي او نور ... ، ځينې بيا ځانګړي نومونه هم لري ، لکه : فضل الفهوم ، فوايد فضيله ، حاشيه برمزا قطبي . هدا ډول په دې ډول درسي آثارو کې ځينې عربي ، درسي کتابونه ديني عالمانو راسا پښتو ته اړولي دي او د درسونو او تقريرونو په ترڅ کې يې خپلو شاګردانو ته اړولي دي ، لکه کافيه چې پښتو ترجمه شوې ده ، يا لکه

کنز الدقایق چې مطالب یې ټول په پښتو شاګردانو ته ویل شوی، دکنزالدقایق د ترجمو دوی خطي نسخې مالیدلي دی، چې یو یې د برې باندې دمولانا تقریر دی.

دا دول درسي آثار د ټولو پښتنو په کلیوالي دیني مدارسو کې تراوسه معمول دي او طالبان د بېلا بېلو علوموموبادي، اصول او فروع له دغو ضابطو ترکیبونو، حاشیو او شرحو نه زده کوي. له سواته تر هراته او همدا دول د افغانستان په شمال او جنوب کې ټول پښتانه طالبان د ا درسي آثار لولي او فایده ترې اخلي، حتی د هندوستان په ځینو دیني مدرسو کې هم پښتنو طالبانو له دې درسي ضابطو څخه استفاده کړې ده.

دا ضابطې ډېرې لږ چاپ شوې دي. زیاتره خطي دي، ما ته ځینې د دې ضابطو ډېرې خطي نسخې معلومې دي او ډېرې مې کتلې دي. د نمونې له پاره به زه په درېو کتابخانو کې د دې ضابطو، ترکیبو، حاشیو او نورو نومونو موجودو دغو دیني آثارو شمېره دروښیم:

(۱) ما چې د پښتو کومه خطي مجموعه په سلو پنځه ویشتو ټوکونو کې را ټوله کړې وه، په هغو کې د دې ضابطو او درسي آثارو پنځه دېرش خطي متنونه موجود وو.

(۲) ښاغلي رفیع چې د پېښور د پښتو اکېډمۍ د خطي نسخو کوم فهرست برابر کړی دی په دغه فهرست کې د پنځه ویشتو په شا وخوا کې دغه دول ضابطې او درسي آثار معرفي شوي دي.

(۳) ما چې د پېښور آرشیف پښتو خطي مجموعه وکتله، نو په دې مجموعه کې مې تر پنځه ویشتو زیات دغه دول درسي آثار وکتل.

په نورو کتابخانو کې هم د دې ضابطو او درسي آثارو خطي نسخې

دپښې دي ، خو حيثيي يې مشابه او مکرري هم دي، که مکررات ترې لرې هم کړو بیاهم دپښتو نثر دیو څانګړي جریان زېږنده دیو مخصوص سبک نثر کافي ذخيره پکې شته ، چې اوز سبتمني يې عامه نده، بلکه د پښتنو ديني علما او د ديني علومو زده کوونکي ترې استفاده کوي .

ددې دول درسي آثارو دبیان دشپوې د سبووالو لپاره ایریم چې څونمونې دلته راوړم :

(۱)

«زده کړه داخبره چې استعاره په لغت کې سوال ته وایي او په اصطلاح کې يو لفظ دی په معنی مجازي کې په اعتبار د قرينې او د علاقې سره . قرينه عبارت دی له تعذر د معنی د حقيقي نه او علاقه عبارت دی له مناسبت په مابين د معنی حقيقي او مجازي کې .»

(۲)

«جوابه شبه کوله چې مضاف اليه مجرور دی او دا مرفوع دی ... دلته حذف د مضاف کړی شوی دی او اقامت د مضاف اليه کړی شوی دی ، په ځای د مضاف باندې نو د مجرور دی اصالته او مرفوع دی نیابته او قرائت د وقف په دې اعتبار سره چې په دې شان دمقطعات قرآن دی راوړي شوي دي د پاره دفصل په مابين دبحث سابق اولاحق»

(۳)

«هسی رساله چې مشتمل په تحقيق د معنی دتصور او تصديق باندې ده و تعریفهما او مشتمله وه په تعريف د هر واحد ده تصور او د تصديق باندې ده .»

(٤)

« اعلم هغه څوک شروع کوي په علم منطق کې هغه لره لا بدي ده له معرفة د امورو ثلاثه وو نه تعریف عرض موضوع.»

(٥)

« اول داخل شوی دی په ضمان د مرتهن کې او په قبضه سره نو نه خارجیږي له زمان د مرتهن څخو چې باقي وي دواړه هرکله چې خارج نشته اول ضمان د مرتهن، نو داخل نشته ثاني په ضمان د مرتهن کې ... »

ددې درسي آثار و نثرونه اکثر په دغه شیوه روان نه لري، البته دېر لږ ې ضابطې او درسي آثار داسې هم شته چې له دینې علماوو او طالبانو پرته څینو نورو ذوقمنو او حاجتمندو ته د فهم او استفادې وړ وی.

(٢) د پښتو نثر لیکنې دویم جریان چې له دې پراوه سره اړه لري هغه په کابل کې درباري منشیانو یا د هغه وخت په اصطلاح افغاني نویسانو را پیدا کړی دی.

که پښتو ته په درباري سطح امیر شېرعلیخان په خپله دوهمه پاچاهۍ کې توجه وکړه، محمد ابراهیم او قاضي عبد القادر پېښوري اوبیا وروسته نورو هڅکري اصطلاحات پښتو ته راواړول، خو څنګه چې زه دا ډول آثار په منثورو آثارو کې نه شمېرم، نو څکه یې له یادونې تېرېږم او خبره د امیر عبدالرحمان خان (١٢٩٦ - ١٣١٨ هـ ق) د افغاني نویس مرزا غلام جان له نثرونو شروع کوم. دغه مرزا غلام جان د امیر د دربار افغاني نویس و. د فرهنګ ادبیات پښتو (١ / ٣٥٦ مخ) د لیکنې له مخې یې

څلور رسالې په پښتو ترجمه کړې دي. خو د کابل مجلې د ۱۳۵۵ هش کال د پنځمې ګڼې په ۶۴ مخ کې يې د مرزا غلام جان ساپي د ترجمو شمېره درې ښوولې ده: موعظه، نصیحت نامه او سررشته اسلامیه روم. اما د سوال وجواب دولتي په نامه رساله هم دده ښوول شوې ده، چې په دې حساب يې د ترجمو شمېره څلورو ته رسي.

اروابناد استاد حبيبي پخپله رساله پښتو نثر ته کره کتنې کې کښلي دي: «د امیرعبدالرحمن خان په عصر کې څو پښتو کتابونه په کابل کې چاپ سول چې له هغو څخه یو د هغه امیرخبرې دي چې د هند له ویسرا او نایب السلطنه سره... دا کتاب سوال وجواب دولتي نومېږي او د هغه مجلس روئیداد دی چې امیر په راولپنډۍ کې په پنجشنبې ۱۶ د څلورمې خور ۱۳۰۲ هق د نايب السلطنه سره کړي دي. دا کتاب همدې مرزا غلام جان یا ملا غلام جان په پښتو اړولی دي او په ۱۳۰۳ هق کال په کابل کې چاپ دی. د دې کتاب د پښتو نثر یوه نمونه دا ده:

«فقره دويمه: له دار السلطنه د کابل څو کسه کاریګر د هر فن لره لپاره د یادونو د هنرونو مقرروم چې و لندن وته تلی، هنرونه چې په کار د دولت خدای ورکړي افغانستان دی او ترقي وجوهنت د دولت له هغوځنې حاصلېږي زده يې کاندي...»

د پښتو نثر دا روش چې له ښکي په ښکي ناوړې ترجمې څخه را ليږيدلی د نوموړي غلام جان په ټولو آثارو کې تعقیب شوی دی او ناوړه اغېزې يې په افغانستان کې د پښتو نثر لیکنې پر جریان تر ډېره پورې لیدلې کېدې.

د مثال په ډول:

په سراجي عصر (۱۸ ۱۳ – ۱۳۳۷ هرق) کې چې د اطاعت اولی الامر کومه پښتو ترجمه ۹۲ مخه په ۱۳۳٤ هرق کال په کابل کې چاپ شوې ده، په دې ترجمه هم دغه سبک خپلې وزرې خورولې دي.

په اماني عصر کې چې کوم قوانین او نظامنامې په پښتو خپاره شوي، ګرده د دغه سبک تابع دي. په دې عصر کې د اساسي قانون په شمول په لسګونو قوانین په پښتو نثر نشر شول، خو پښتو یې داسې پښتو ده، چې نه خوند لري او نه د پښتو رنګ.

اروا ښاد استاد حبیبي د دغو قوانینو د پښتو په باب لیکلي دي:

«د اپښتو ترجمې متأسفانه نه هنري پلو لري او نه د ژبې له اساسي قواعدو سره سمې دي. دوی د فارسي تر اثر لاندې ترجمه ده، چې د امیر عبدالرحمن د وخت پښتو یې شرمولې ده. هغه پښتو نه ده چې خلکو ویله، بلکه د فارسي تحت اللفظ ټکي په ټکي ناوړه او بېخونده ترجمه ده...» (د پښتو چاپي آثار، ۶۰ مخ)

د پښتو نثر لیکنې د ناوړه او بېخونده روش حتی د روان هجري شمسي پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې هم زموږ د ځینو نثر لیکوونکو په لیکنو او حتی د طلوع افغان، اتحاد مشرقي او پښتو مجلې په ځینو لیکنو کې هم لیدل کېږي.

د طلوع افغان د لسم کال په ۸ ګڼه (۱۳۱۱ حمل) کې یو ځای لولو:

«هر مملکت د پاره دغه اولس داسې دی، لکه کور د پاره د یوې عایلې نو ځکه چې هر څوک د پاره د سوالي د ژوندون په یو کور کې و پېژاندګلیه ته د در دېوال او مبنې خلق او ساختمان د کور ا ړ دی، دغسې هم هر ملت

و پوهني د جغرافيا د خپل مملکت احتياج لري ....»

په طلوع افغان کې د دغسې نثرونو او ليکنو پر خپرولو هماغه وخت په پښبور کې خپرېدونکې پښتون مجلې يو جوړوونکی نقد خپور کړی او ژبې ته يې د دې ډول ليکنو پر رسېدونکو ويانوونو خبرتيا ورکړې وې.

دغه راز په کندهار کې خپرېدونکې پښتو مجله هم کله ناکله د دې ناوړه سبک تابع نثرونه خپاره شوي دي، لکه دا يو بېلګه:

«اخيراً له حضوره څخه د اعليحضرت همايوني فرمان وصدارت عظمی ته صادر شوی دی چې د پاره د دې چې په افغانستان کې پښتو او فارسي دواړې ژبې مستعمله دی، ځکه نو له مامورين دکران وطن د دواړو ژبو په زده کړو مکلف دي او په دې تقريب مناسب ليدل کېږي چې د پاره د پښتو ژبې د زده کړې په مکتبو کې هم لازمه تجاويز وکړه شي چې فارغ التحصيله د معارف د خپل وطن په دواړو ژبو وپوهېږي.

سم د امره سره د شاهانه حضور وزارت معارف مکلف دی چې ابتداء څخه د ۱۳۱۴ هق د شاهانه ذات د انظريه په ښه صورت سره په مکتبو کې اجراء او عملي وګرځوي ...» (۳۹)

په افغانستان کې د پښتو د ځينو مشرانو ليکوالو چې د ژوند او فرهنګي فعليت زمانه يې حتی معاصره دوره چاپېروي، خو د نثري ليکنو سبکونه يې هماغه د امير عبدالرحمن خان له وخته راښکېلدلي د پښتو نثر ليکني ترجمه يي سبک ته ورته دي، لکه:

د هرات د ادبي مجلې د اووم کال په ۷-۸ ګڼه (۳۶-۳۷ مخونه) کې

د فراهي په نامه د يوه ليکوال يوه پښتو ليکنه چاپ شوې ده، چې کره وړ يې د همانغه ناوړه سبک دي. دا يو ټوکړى يې ولولئ:

« د مخه مو ويلي وه چې وضعيت د دېرو خلقو تصنع آميز دی چې ظاهر يې په باطن نسو قياس کولای، نو په انتخاب کې د صديق او رفيق بايد خورا احتياط وسي څو په مودت کې د چم بازانو ونه لوېږو د نجات لار د خطر څخه د مودت او لار د انتخاب د دوست څرنګه چې نظريه د سقراطيس ده .... »

په مجله کې يې د دې ليکنې د ليکوال فراهي اصلي نوم نه دی ليکلی خو موږ ته دوه نثر نګار فراهيان ښکاره دي. يو محمد يعقوب فراهي (۱۲۸٤ - ۱۳۵٤ هـ ق) او بل عبد الرزاق فراهي (۱۲۹۲ - ۱۳۳۹ هـ ش) دا نه ده ښکاره چې دا ليکنه به د کوم فراهي وي؟

لنډه دا چې له ترجمې زوکړې دا سبک په کابل کې راپيدا شو او تر معاصرې دورې پورې يې د ځينو ليکوالو او د ځينو خپرونو پر ليکنو خپل اثرات ودرلودل.

(۳) د دې پېر وروستى جريان چې زه د لته څېړم هغه د تحت اللفظ ترجمو يو جريان دی، چې د پښتو نثر ليکنې په تاريخ کې د مېږد و نه دی او تم کېدل ورته ضروري ايسي.

دا جريان هغه وخت رامينځ ته شو چې د هند په نيمه وچه او بيا په پښتونخوا کې طباعت عام شو. د پښتونخوا په ديني مدارسو کې معمولو نصابي عربي او دري کتابونو ته د چاپ زمينې برابرې شوې او د پښتونخوا د سيمې د کتابونو تاجرانو د دغه نصابي آثار چاپ کړل. کله چې تاجرانو دغه آثار چاپول، نو يې د خپلو ګټې او د کتابونو

د ژباړې څرګندوي چې په پښتو ژبه کې د نورو ژبو تر منځ متن تاریخ کې دا چې ژباړه نښوونه ځانګړي جريان لري دا هم په پښتو ژبه کوونکو سره د مرستې په خاطر دغو آثارو ته تحت اللفظ پښتو ترجمې هم وکښلې او دغو ترجمو د پښتو نثر په تاریخ کې یو ځانګړی جریان را مېنځ ته کړ.

دا جریان د دیارلسمې پېړۍ په اواخرو کې را پیدا شو. د دې دول تحت اللفظ ترجمو پخواني کتابونه چې ماته معلوم دي په هغو کې یو هم خلاصهٔ کېداني یوه چاپي نسخه ده، چې له تحت اللفظ پښتو ترجمې سره په ۱۲۹۵ هـ ق کال د ډهلي په فاروقي مطبعه کې چاپ شوې ده او بله هم د منیة المصلی چاپي نسخه ده چې له تحت اللفظ پښتو ترجمې سره په ۱۲۹۷ هـ ق کال د ډهلي په فیض عام مطبعه کې چاپ شوې ده.

له هغه وخته وروسته د څوارلسمې پېړۍ په جریان کې د بېردرسي او دیداکتیک آثار له دغسې تحت اللفظ پښتو ترجمو سره چاپ شوي دي.

دا ډول تحت اللفظ ترجمې د درې ډوله آثارو دي:

(۱) د دیني او فقهي کتابونو،

(۲) د طب، حکمت او نورو موضوعاتو،

(۳) په کلیوالي دیني درسي نصاب کې شاملو ځینو دري منظومو او منثورو آثارو.

د دغو لاندې دیني، فقهي، طب او حکمت د کتابونو تحت اللفظ پښتو ترجمې ماليدلې دي:

کنز الدقایق، خلاصهٔ کیداني، منیة المصلی، مستخلص الحقایق، قدوري، فقه اکبر، شروط الصلوة، منهاجات ابن حجر عسقلاني، مجربات اکسیر او ځینو نورو آثارو...

او په دري منظومو او منثورو آثارو کې ماته د ګلستان، بوستان، تحفة النصایح

پنج گنج، سکندرنامه او نور... ترجمې معلومې دي. داخبره هم باید هېره نه شي چې دا د ول ترجمې چې د دې کتابونو په بېلا بېلو چاپونو کې راغلي دي، ټولې د یو سړي نه دی، بلکه د ډېرو اشخاصو دي، حتی د یوه کتاب څو تحت اللفظ ترجمې موندلې کېږي. د مثال په ډول د منية المصلى څو ترجمې، د خلاصې څو ترجمې، د صرف میر څو ترجمې او داسې نورو کتابونو څو ترجمې سړی موندلی شي.

د دې تحت اللفظ ترجمو مترجمين زیاتره نه دي ښکاره. د کتابونو تاجرانو په ځينو دينې عالمانو ترجمه کړې دي چې د هغوی نومونه یې هم نه دي ورسره لیکلي.

د دې ډول ترجمو نمونې دا دي:

د منية المصلى د یوې ترجمه لرونکی نسخې نمونه: «په تحقیق اقسام د علوم ډېر دي او زیات اقسام په حاصلولو د نمانځه دي. پس هر کله چې ولید طالبانو په حاصلولو د مسایل کې جمع کړو هغه مسالې چې ډېرې ضروري دي.»

د خلاصې د ترجمه لرونکی نسخې یوه نمونه: «پوه شه په تحقیق سره بنده مکلف ازمایلی شوی دی په منع د حکم قبلولو....»

د پنج گنج د پند نامې د یوې ترجمې یوه برخه:

«په دینداری کې ثابت قدم اوسه ای زویه که همدا رنګه غواړې چې معتبر شې کوردین له دینداری نه آباد یږي...»

د تحفة نصایح د دې لاندې بیت پښتو ترجمه:

حمدی بگویم بیعدد بر خالق جن و بشر
کرده معلق آسمان هم اختر هم شمس و قمر

«ښاو ایمه د ښېره خاص پیدا کړو نکی دېښېریا نو او ښځه آدم موږه چې کړی یې دي او ښنا نده آسمان هم ستوری او هم نمر سپوږمی ده».

دسعدي (رح) گلستان په پښتو کې دړېو تنو تحت اللفظ ترجمه کړی دی، یو محمد خطاب، بل نقیب احمد اچوی او درېیم اروا ښاد راحت زاخیلي.

د اروا ښاد اچوي نقیب احمد له تحت اللفظ ترجمې نه دیو حکایت ترجمه داده:

«سحبان زوی د وایل په خوش گویه کې بې مثاله مقرر کړی دی خلقو په سبب ددې خبرې چې یو کال به یې په سر دیو ټولي خبره ویلې، چې یو لفظ به یې ویلو او له ټولو قواعدو د همنشینانو د دربارو د بادشاهانو یوه داخبره ده.....»

د اروا ښاد راحت زاخیلي له ترجمې یو حکایت:

«له مجلس د یارانو د دمشق نه خفگان راغلی وه، سرمې په بیابان د بیت المقدس کېښوده (کېښوده) او حیوانانو سره مې الفت ونیوه، ترڅو وقته چې بندي د قید د فرنگی شوم او په خندق د طرابلس کې دیهودو سره په کار د خټو مقرر که. یو له معتبرانو د حلب نه چې پخوا - پخوا یې واقعیت په مینځ زمونږ کې تېر شوی وو، یې پیژاندم (پیژاندم) وی وکړ چې داڅه چل دی، چې سبب د خفگان دی» (۴۰)

راحت زاخیلي چې د پښتو د معاصر نثر په پرمختیا یې بهیر ونړ کې د حق خاوند او د نظم او نثر په ترجمه کې د لوی لاس خاوند دی، خو که په چېرې موږ په گلستان کې دده ټکي په ټکی تحت اللفظ پښتو ترجمه وکورو نو راته ښکاري چې داترجمې یې د کار نه دي.

د پښتو نثر د دغو دریو جریانونو په کالب کې چې څو مره آثار په پښتو لیکل شوي او یا ترجمه شوي دي د پښتو نثر په انکشافي سیر کې هیڅ دول بدل نه لري ، بلکه ژبانونه یې د ناوړې او له محاورې لرې پښتو په عامېدلوکې څرګند دي .

که په موضوعي لحاظ په پښتو کې د بېلابېلو علومو د آثارو د موجودیت څرک څوک باسي کېدای شي په ضابطو او دغو تحت اللفظ ترجمو کې ځینې داسې ضابطې او ترجمې ومومي چې تر دې پېړ د مخه په پښتو کې په دې موضوعاتو آثار نه وي لیکل شوي او یا ترجمه شوي، لکه د منطق او ریاضي ځینې آثار او نور....

# ختیځ پوهان او پښتو نثر

د معلومو اسنادو له مخې د اتلسمې پېړۍ په اوا خرو کې د اروپا په علمي کړیو کې د پښتو ژبې په باب څېړنو او بلېنو په لاره کې لومړني کامونه واخیستل شول او دې لړۍ بیا پېښې ترننه دوام وموند .

د نولسمې پېړۍ په جریان کې د پښتونخوا او افغانستان سیمو ته د انګرېزانو ننوتې کېدل او د افغانستان شمال خواوو ته په ګاونډي ترکستان او بخارا کې د روسانو پېشقدمي او د افغانستان د حساس او ستراتېژیک موقعیت په روسیه او انګلستان او بیا په نورو غربي هېوادو کې د پښتو او پښتنو ادبیاتو په باب څېړنو ته توجه زیاته کړه .

د شرقي هند د کمپنۍ هغو ملکي او فوجي افسرانو چې له افغانستان او افغانستان د بېلو کړیو سیمو کې کارونه کول ، د پښتو زده کړې ته ځانګړې پاملرنه کوله

د پښتو د نده کېږي لپاره کتابونه تهیه کېدل ، آزمویني اخیستل کېدې او چا به چې د پښتو په امتحان کې سنه درجه تر لاسه کړه هغه ته به امتیاز هم ورکول کېده .

د هو انګرېزانو افسرانو که د خپلو سیاسي او پراختیا غوښتو شکو اهدافو په بنا پښتو زده کړې وه ، خو د خپلو ماموریتونو په دوران کې یې پر پښتو ژبه ، ادبیاتو او فرهنګ کارونه وکړل او په عام پوول یې د پښتو فرهنګ په معرفي کې یې کارونه دستاینې ور دي.

د هند پر نیمه وچه د انګرېزانو داون دې واکمنه په ترڅ کې د پښتنو پراخې ځمکې یې هم له خپله پیکره بیلې کړې - سیاسي پراختیاغوښتونکو اهدافو ترڅنګ یې مذهبي تبلیغ هم کاوه . په نیمه وچه کې یې ځای ځای د عیسوي مذهب تبلیغي مراکز جوړ کړل د هند نیمې وچې د خلکو په ژبو یې د انجیل او نورو زړو آسماني کتابونو ترجمې وکړې او په زیات تعداد یې چاپ او خپرې کړې.

د هند نیمې وچې د ژبو په څنګ کې یې د افغانستان عمده ژبې پښتو او دري هم هېرې نه وې. په دې دواړو ژبو یې هم آسماني کتابونه ترجمه کړل .

کله چې یې د پښتنو ځمکې و نیولې د لته یې هم ځای ځای کلیسا وې او دارالتبلیغونه جوړ کړل ، لکه په پېښور ، مردان ، نوښار، کوهاټ بنو او ډېرو کې یې کلیساوې جوړې او تبلیغي مرکزونه یې فعال کړل ، چې ځینې یې تر اوسه فعال دي او په پښتنو کې یې په نظم ونثر د عیسوي مذهب د ښکلو د منودلو او د دې مذهب د بېلا بېلو څلکونو د څرګندولو په منظور په لسګونو لوی او واړه کتابونه چاپ کړل .

په دې بحث کې زما له پټولو ختيځپوهانو او د دوی له کارونو سره

څه اړه نشته، زه يوازې هغه کارونه يادوم چې د ختيځپوهانو له خوا

د پښتو نثر په برخه کې شوي دي او يا په بله وينا هغه منثور آثار او

ترجمې شيم چې د دغو ختيځپوهانو له خوا ليکل شوي او ترجمه شوي

دي او يا د دوی په سپارښت منور و کړي دي.

کله چې موږ د ختيځپوهانو يا خارجي پښتو پوهانو د نثر په حلقه کې

د پښتو نثر پر مسأله بحث کوو، نو موږ ټولو د مخه د آسماني کتابو تر

هغه ترجمې مخې ته د دريږي، چې د غو ختيځپوهانو او يا عربي پښتو

پوهانو کړي دي او يا د دوی له يا ره نورو کړي دي. د غه راز د

عيسوي مذهب ځينې تبليغي آثار او له دې مذهب سره تړلي منثور کتابونه

هم د ياد ونې وړ دي. خو لومړی به د آسماني کتابونو پر ترجمو خبرې وکړو.

دا ترجمې د زبور، تورات، انجيل او صحيفو دي. زه به دلته دغو

آثارو قـــدامت ته په پاملرنه د پښتو منثورې ترجمې درو بنيم:

(۱) که د ارو اښاد قاضي خيرالله پېښوري د اخبرې ۱۷ د تورات پښتو ترجمه

تر ټولو د مخه وليم کيري صاحب او د ده ملګرو په کلکته کې د ۱۷۹۰ ع کال په

شا وخوا کې کړې ده (۴۱) و منو، نو د معلومو خارجي اسنادو پر اساس

له دغو اسماني کتابونو څخه تر ټولو د مخه تورات پښتو ته اوښتی دی. دلته

د ارو اښا د قاضي خيرالله د يا دې کړې سنې په ارتباط فقيد کيورک

فيو دو رورېچ کيرس (۴۲) ويلي دي چې وليم کيري په ۱۷۹۳ ع کال له

لندنه کلکتې ته راغی او په ۱۸۰۰ ع کال د هغه وليم کيري په ابتکار د

د کلکتې په شمال سيرامپور (سيرامپور) کې د عيسوي مذهب د تبليغ ټولنه

جوړه شوه.

نوکه چېرې دکېرس خبره سمه وي ، نو بيا په ۱۷۹۰ع کال په کلکته کې د تورات د ترجمې څه سوال نه پيداکېږي . خو داچې اروا ښاد قاضي خيرالله د ۱۷۹۰ع له عددسره د شا و خوا قيد هم ورايښی دی ، نو شايي دا ترجمه تر ۱۷۹۰ع کال درې ، څلور ، حتی پنځه کاله وروسته شوې وي .

د وليم کيري او دده د ملګرو ددغه پښتو کړې تورات په باب له ماسوه څانګړي معلومات نشته ، خو د وليم کيري له خوا په ښوې رامپور کې دجوړې شوې تبليغي ټولنې سره د تورات ديوې پښتو ترجمې چاپ ترېښت لري .

پروفيسور محمد نوازخان طاير د تورات ددې ترجمې دچاپ په باب ليکي : « په ۱۸۲٤ع کې عهد نامهٔ قديم چې نوم يې و مقدس کتاب دهغه وړومبۍ حصه له هغه څخه (ځلور بخرې) دموسی توريت الخ داکتاب هم دسيرام-پور پادريانو چاپ کړی دی . » ( روهي ادب ، ٤۳۷ مخ )

نو دا کېدونه لري چې په ښرې رامپور کې دغه چاپ شوی تورات دی د وليم کيري او ملګرو پښتو کړی تورات وي .

دغه راز استاد رشاد دجان ليډن په احوالو کې راوړي چې ده ۵ تورات هم په پښتو کړی دی ، څنګه چې ددغه جان ليډن پښتو کړی انجيل هغه د ښوې رامپور د مسيحي تبليغ ټولنې چاپ کړی دی ، نو دا هم له امکانه لېرې نه ده چې د ۱۸۲٤ع کال چاپ شوی تورات ترجمه دې جان ليډن کړې وي اوداهم کېدونه لري چې دا ترجمه دی وليم کيري او جان ليډن په ګډه کړې وي . څکه اروا ښاد قاضي خيرالله ويلي دي چې وليم کيري له ملګرو سره تورات ترجمه کړی دی . په هرصورت

له موږ سره د تورات دیوې نسخې څرک شته چې د ۱۷۹۰ع شاوخوا ترجمه شوې ده او هم د تورات د پښتو ترجمې د یوې چاپې نسخې، چې په ۱۸۲٤ع کال چاپ ده. متاسفانه چې د دې زړې ترجمې او هم د دې چاپې نسخې متن زما په واک کې نشته. خو د تورات دیوې زړې پښتو ترجمې ځینې برخې پروفیسور برنهارډ دورن په خپل جوړ کړي (پښتو منتخبات) کې چاپ کړې دي.

له دې ترجمې څخه داڅرګند ایستل کېږي چې د تورات یوه زړه پښتو ترجمه وه. داچې دا ترجمه به همامغه دشې ي رامپور چاپ شوې ترجمه وي اوکه یه؟ په دې باب له ما سره یو دلیل دا شته چې نوموړي پروفیسور دورن چې په منتخباتو کې دانجیل کومې نمونې اخیستې هغه هم په شري رامپور کې دچاپ شوي انجیل دي. نو دا هم له امکانه لرې نه ده چې د تورات دا منتخبات دې هم دهمامغه شري رامپورکې چاپ شوې تورات وي او ترجمه دې یې هم دهمامغه ۱۷۹۰ع کال شاوخواوي.

د تورات یوه بله داسې ترجمه ماته معلومه ده چې په ۱۸۹۰ع کال په لندن کې چاپ ده. دا ترجمه په پېښور کې شوې ده او مترجم یې دا دول ښوول شوی دی:

Translated By the REV worthengto jaKEE

ما د دورن په منتخباتو کې د تورات د منتخباتو ځینې برخې له دې ترجمې سره وکتلې، ښکاره توپیرونه یکې وو، نوځکه سرې ویلی شي چې دا دواړې ترجمې به بېلې وي. لکه: «او موسی و ویل چې زه اوس ځم او دغه لوی دیدار بدګورم. دغه ولې د ځه دپاره نه سوځي او بهوه ولیدل چې لیدلولو لاړ شه، خدای د ونو په منځ یهوه هغه لره راوباله او وې ویل ای موسی هغه وویل ګوره زه دغه یم...»

(پښتو منتخبات، ۱٤۵-۱٤۸ مخونه)

دا برخه د ۱۸۹۰ع کال په چاپ شوي تورات کې وګورئ :

« نو موسیٰ ورته وویل چې اوس به ورشم چې دا لویه ننداره وګورم چې بوټي ولې نه سوزي. توجه خداوند ولیده چې دی د نندارې د لیدلو دپاره ور وړاندې شو نو د هغې بوټي له مینځ نه ورته الله آواز وکړ وې ویل موسیٰ موسیٰ هغه وویل چې دا یم ....» (تورات ۱۱۲ مخ)

د تورات دوهمه ترجمه چې ما د مخه وښووله ټول ٤٥٦ مخه ده او دغه مطالب پکې راغلي دي :

ـ پیدا ایښت (یعنې اول کتاب د حضرت موسیٰ) دا کتاب پنځوس بابه لري.

ـ خروج (یعنې دوم کتاب د حضرت موسیٰ) دا کتاب څلوېښت بابونه لري.

ـ احبار (یعنې دریم کتاب د حضرت موسیٰ) دا کتاب اووه ویشت بابه دی.

ـ شمار (یعنې څلورم کتاب د حضرت موسیٰ) دا کتاب شپږ دېرش بابه لري.

ـ استثناء (یعنې پنځم کتاب د حضرت موسیٰ) دا کتاب څلور دېرش بابه لري.

د تورات د دې ترجمې پیل داسې شوی دی : « په ابتداء کې الله آسمانونه او ځمکه پیدا اکړل او ځمکه ورانه او خالي وه او په مخ د ژورې تیاره وه ...»

د تورات د ترجمو د پېژندنې په لړ کې، بله ترجمه د دې آسماني کتاب د یوې برخې ده. دا ترجمه د تورات د دوهم کتاب خروج ده. د دې ترجمې خطي نسخه چې ١٥٤ مخه لري، د پېښور اېډورډز کالج په خطي نسخو کې ساتل کېږي.

دا ترجمه داسې پیل شوې ده : « او دا دي نومونه د هغو بنی- اسرائیلو چې له یعقوب سره مصرته راغلي وو. راغی هر سړی او د هغه کور. روبین او شمعون او لاوی او یهودا ....»

ماچې داسخه وکتله، نو مې داګومان وکړچې دابه همغه چاپي تورات دخروج د کتاب خطي نسخه وي ، خو کله چې مې مقایسه وکړه ، نو دوا پره راته یوه ترجمه ښکاره نه شوه ، دخطي نسخې همدا برخه له چاپي نسخې سره وکوره: «نو دادی نومونه دبنی اسرائیلو حضرته راغلي وو، سره د یعقوب راغلی هر سړی او د هغه کورنی روبین او شمعون او لاوی او یهودا ... »

په دواړو متنونو کې څه تفاوتونه لیدل کېږي .

د تورات له ترجمو وروسته ددغو آسماني کتابونو نورې ترجمې دانجیل شریف دی .

داستاد رشاد د خبرو له مخې عیسویان خپل مقدس کتاب انجیل ددغو څلورو کتابونو (انجیلونو) مجموعه کڼي :

(۱) متی : تر ټولو پخوانی انجیل دی چې د ۶۳ع کال شاوخوا په اورشلیم کې په عبري ژبه کښل شوی دی .

(۲) مرقس : دوېم انجیل دی چې په ۶۶ع کال په روما کې په یوناني ژبه لیکل شوی دی .

(۳) لوقا : چې تر ۶۶ ع کال وروسته لیکل شوی دی .

(٤) یوحنا : چې په ۹۳ ع کال یوحنا کښلی دی .

په دغو څلورو واړو انجیلونو کې د عیسی (ع) د ژوند حالونه ، وینا وې ، معجزې او کړه وړه بیان شوی دي . عیسویان عقیده لري چې دا څلور سره انجیلونه د

جبرائیل په وسیله د الله (ج) له لورې د وحې په ډول پر عیسی (ع) راغلی دی. (کابل مجله، ۱۳۵۹ هش، ۹ گڼه)

استاد رشاد د خپلو څېړنو په ترڅ کې زیاتوي چې ځینې عیسویان د مرسیونن، نیکودیم نوما اسرائیلي او کوچنې ټاک رسالې هم د مقدس انجیل اجزاء گڼي او د استازیو چارې د پولیوس یعقوب، پطرس، یهودا او یوحنا لیکونه او د یوحنا مکاشفې هم د انجیلونو ضمیمه بولي.

په پښتو کې ددې آسماني کتاب تر ټولو پخوانۍ ترجمه هماغه د ډاکټر جان لیډن (۱۷۸۵- ۱۸۲۱ع) ترجمه ده، چې په ۱۸۱۸ع کال د کلکتې په شري رامپور کې چاپ شوې ده.

ددې ترجمې یوه نسخه ما د سنټ پیټرزبورگ د ختیځ پوهنې د انستیتوت په کتابخانه کې لیدلې وه، دهغې ترجمې پر لومړۍ پاڼه لیکلي دي: د خدای تمامې خبرې

«هرڅه چې د سرو د نجات د پاره او د کار د حاصلولو د پاره یې ظاهر کړې هغه کتاب مقدس. دهغه آخره حصه»، یعنې زموږ د نجات راکوونکی د خاوند یسوع مسیح د حق زېری له عبري ژبې نه په پښتو ژبه کې ترجمه کړې شه په سیرامپور کې چاپ کړې سنه ۱۸۱۸ع» د کتاب ټول مخونه ۷۸۲ دی.

ددې ترجمې یوه نمونه دا ده: «زه د مسیح په نوم وسره رښتیا وایم، زه دروغ خبره نه وایم، زما زړه په روح القدس کې په گواه کېدلو سره هم زه بیم چې زما په زړه کې لوی بار او همېشه غم دی...» (۴۳)

د ډاکټر جان لیډن له خوا دانجیل د پښتو ترجمې پرګړوه یو
هانرۍ جارج راورټي ، ګ ، ف ګیرس او نورو هم نیوکې کړې دي،
خو زموږ استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د ترجمې پر نیمګړتیاوو اوږد پیو
ګډ ډیو مفصل مقاله کښلي ده. (٤۴)

له دې ترجمې وروسته دانجیل بله ژبه ترجمه هغه ده چې خطي
نسخې یې دوه ټوکونو کې په برټش موزیم کې خوندي ده. په
لومړي ټوک کې یې چې ۲۹۳ پاڼې لري. د متی، مرقس، لوقا او یوحنا
دانجیلونو ترجمې راغلي دي او په دوهم ټوک کې یې چې ۳۶۱ پاڼې
لري د انجیل ضمیمې ترجمه شوې دي. دا ترجمه د هانري جارج
راورټي تر نظارت لاندې شوې ده. د انجیل دا ترجمه په ۱۸٦۰ع
کال کې بشپړه شوې ده.

استاد رشاد د ځینو مأخذونو په حواله ویلي دي چې دا ترجمه
په ۱۸٦٤ع کال په لندن کې چاپ ده. ما خپله دانجیل دا چاپ نه دی
لیدلی.

دانجیل بله ترجمه چې په ۱۸٦۳ع کال دانګلستان په هرتفرډ کې چاپ شوې
ده، ټول مخونه یې ۷۷۹ دي. ما د دې چاپ یوه داسې نسخه لیدلې چې مشهور
پادري او پښتو پوه پادري هیوز په خپل قلم د چترال مهتر ته استولې ده او پر
سر یې یې دري ژبه یې کښلي دي : « ازجانب عبده قیس هیوز به خدمت جناب
مهتر امان الملک حاکم و امیر ملک چترال مرسول است. تاریخ چهارم ماه دسمبر ۱۸۸۳ع »
دا نسخه د پېښور د اسلامیه کالج په نایابو کتابونو کې په ۸۱ نومره
خوندي ده.

په دې نسخه کې له ۱-۳۵٦ مخونو پورې د متی، مرقیس، لوقا او یوحنا

انجیلونه راغلی دي او دا انجیل ضمایم هم ورسره مله دی. په ۷۳۲ مخ کې د یوحنا مکاشفه شروع شوې او په ۷۷۹ مخ کې پای ته رسیدلې ده.

دمتی انجیل له یوولسم باب نه د دې ترجمې یو ټوټه: «هغه وخت چې عیسی حکم و دولسو شاګردو خپلوته پوره که له هغه ځای نه د پاره دښوونې او ندا ورکولو په ... » (۳۲ مخ)

ما چې له دې ترجمې کوم یادښتونه اخیستي په هغو یادښتو کې هم د مترجم نوم نه دی ښکاره، او استاد رشاد چې دا انجیل کومې ترجمې ښوولی دی، هغوی هم د دې ترجمې د مترجم نوم نه دی ښوولی. اما ښاغلی دوکتور هدایت الله نعیم چې په خپله مقاله (پښتو مېن عسایي ادب) (۴۹) کې د انجیل شریف کومې ترجمې معرفي کړې دي یو ځای یې د ۱۸۸۹ع کال چاپ انجیل په شرح کې کښلي دي (ترجمه): دا انجیل دا ترجمه په اول نمبر د یا د شوي انجیل بله نسخه ده. یوازې په چاپونو کې یې فرق دی»، په اوله نمبر کې ده د ۱۸۶۳ع کال چاپ پښتو انجیل معرفي کړی دی.

ښاغلي هدایت الله نعیم د ۱۸۸۹ع کال د چاپ شوي انجیل مترجم غلام جیلاني ښوولی، نو د ښاغلي نعیم د اټکل مطابق باید دا دواړې ترجمې د یو سړي وي؟

: استاد رشاد د ښاغلي رفیع د پښتو پانګې د دوهم ټوک د ۷۱۱ مخ په حواله د انجیل بله ترجمه هغه ښوولې ده چې مترجم یې غلام جیلاني پېښوری یادشوی دی او په ۱۸۸۹ع کال په لندن کې چاپ شوې، د مخونو شمېر یې ۵۶۵ دی. څنګه چې یې تاسې د مخه بیان ولوست د انجیل دا چاپي نسخه دوکتور هدایت الله نعیم هم غلام جیلاني پېښوري ترجمه کړې بللې ده»

خو ښاغلي لیکوال قلندر مومند په خپله یوه مقاله کې کښلي دي: «ماسره

چې د نوي عهد دکتاب کومه نسخه ده، هغه په ۱۸۸۹ع کال کې چاپ شوې ده او دهغې په باره کې معلومات شته چې د ریوورتهنگټن جیوکس او ټي، جي. ل مهر لیکلي ده ».

د انجیل د ۱۸۸۹ع کال دچاپ شوې پښتو ترجمې په باب له لوړ یادونو سره داسې نتیجه اخلو، چې یا به دا دواړه ترجمې بېلې وي او په یوه کال کې به چاپ وي او یا دا چې د جیوکس او مهر په ترجمه کې به غلام جیلاني لاس وهلی وي او ده به برابره کړې وي او یا به یې هم خطاط غلام جیلاني وي.

پروفیسور محمد نوازخان طایر د روهي ادب دلومړي چاپ ددوهم ټوک په ۱۶۲ مخ کې دانجیل دیوې ترجمې یادونه کړې او کښلي یې دي: « کلام الله : دا دانجیل دهغې ترجمې عنوان دی چې ټي. جي. ایل مایر او ډیلیوجوکس ترجمه کړی دی او په ۱۸۹۰ع کال چاپ شوی ».
زما په گومان دا به هماغه ترجمه وي چې مناغلي لیکوال قلندرمومند یې یادونه کړې ده او یو کال وروسته به بیا چاپ شوې وي؟

د انجیل شریف بله ترجمه چې مترجم یې نه دی ښکاره او په ۱۹٤۵ع کال د لاهور په انارکلي پریس کې چاپ شوې ده، ټول ۱۳٤۷ مخونه لري دا ترجمه نور چاپي نه هم لري.

دانجیل بله ترجمه چې د پاکستان بایبل سوسایټي له خوا اول ځل په ۱۹۹۱ع کال او دویم ځل په ۱۹۹۳ع کال په لاهور کې چاپ شوې ده، ټول ٦۱۷ مخه لري. توضیحات او تشریحات ورسره مله دي. د دې نوې ترجمې څه برخې چې لوقا انجیل او رومیانو ته دپولس خطونه پکې راغلي دي په ۱۹۸۹ع کال ۳۲۷ مخه هم چاپ شوې ده.

ددې وروستۍ ترجمې ژبه هم د انجیل شریف د نورو ترجمو په پرتله څرګنده او روښانه ده ، یو پاراګراف د متی انجیل له شپاړسم باب نه:

« چې بلې غاړې ته پورې وتل ، نو د مریدانو نه یې ډوډۍ راوړل هېر شوي وو ... »

د انجیل څو مره ترجمې چې ماکتلي دي د ښې رواني او سادګي نه لري . مترجمینو او بیا کتونکیو زیات ایستلی چې ژبه یې له اوسنۍ مروجې پښتو سره سمه عیاره کړي .

د انجیل تر ترجمو وروسته د زړو آسماني کتابونو پښتو زړې ترجمې د زبور شریف دي . په زبور کې ګرده (۱۵۰) زبوره راغلي دي .
استاد رشاد پخپله یوه مقاله کې د زبور پښتو ترجمې (٤٩) کې د ځینو اسنادو په حواله کښلي دي چې مشهوره خبره دا ده چې په زبور کې راغلي دغه ۱۵۰ سروده د داؤد(ع) دي ، خو موږ وینو چې ځینې سرودونه د سلیمان په عنوان شوي او په ځینو نورو سرودونو کې هم ځینې داسې تفاوتونه شته چې راښيي دا سرودونه د یوې زمانې نه دي .
ما د داود(ع) د زبور د وې زړې ترجمې لیدلي چې لاندې یې درښیم:
(۱) د زبور یوه ترجمه چې په وړه قطع چاپ شوې ده ، ګرده ۱۷٤ مخه ده او د چاپ کال یې ۱۸۸۰ع او ۱۵۰ سروده یا زبوره پکې راغلي دي ، ټول په پنځو کتابونو ویشل شوي دي . په اول کتاب کې یې ٤۱ دعاوې یا سروده په دوهم کتاب کې یې له ٤۲ - ۷۲ پورې ، په دریم کتاب کې له ۷۳ - ۸۱ پورې ، په څلورم کتاب کې ۹۰ - ۱۰٦ پورې او په پنځم کتاب کې له ۱۰۷ - ۱۵۰ پورې دوعاوې یا سرودونه یا زبوره راغلي دي :

ددې ترجمې د سر ورق په دوهم مخ کې یې لیکلي دي :

Translated By the Rew worthington Jukes M.A and T.J.L Mayer.

پیل یې داسې دی : «(۱) مبارک هغه سړی دی چې دشریرانو په صلاح نه ځي او دخطاکارانو په لار نه ودرېږي او دملنډغارانو په مجلس کې نه کښېني . (۲) مگر دیهوه په توریت کې دهغه ښادي ده او ورځ اوشپه دهغه په توریت کې هغه فکر کوي .....»

(۲) دزبور بله ترجمه چې په لویه قطع په ۱۸۸۲ع کال په لندن کې چاپ شوې کړده ، (۲۷۵) مخه لري ، دسرورق په دوهم مخ یې لیکلي دي :

Rew J.J.L Mayer pashtu version of the Book.

د دې ترجمې پیل داسې شوی دی : « مبارک هغه سړی دی چې د بدانو په صلاح نه ځي او دخطاکارانو په لار نه درېږي او دلوچکانو په مجلس کې نه کښېني ، مگر هغه دخداوند په توریت کې خوشحاله اوسي او ورځ شپه دده په توریت فکر کوي .

دزبور له دې دواړو چاپي نسخو څخه ماته ښکاري چې دوهم ځل چاپ کې یې په اوله ترجمه کې ځینې لاسوهنې کړي دي او څه کلمات او الفاظ یې وربدل کړي دي ، بیا کتنه ورباندې شوې . که څه هم دا شي دواړې بېلې ترجمې هم و نه بولو، او یا یې وروستۍ دلومړۍ دبشپړ اصلاح شوی بڼه وبولو .

ښاغلي دوکتور هدایت الله نعیم دزبور دپښتو ترجمو څلور نور چاپونه ښودلي دي چې له دغو ما معرفي کړیو چاپونو نه په خصوصیاتو کې بېل دي .

لکه، د ۱۸۸۲ع کال د لندن چاپ ۱۴۲ مخ، د ۱۸۸۲ع کال د لندن چاپ ۲۸۴ مخ، د ۱۸۹۰ع کال د لندن چاپ ۱۵۰ مخ، د ۱۸۹۱ع کال د لندن چاپ ۱۷۰ مخه (پښاور یورسټي جرنل، ۱۹۹۴ع ، ۶۲- ۶۳ مخونه).

څنګه چې ښاغلي نعیم د خپلو لیدلو چاپي نسخو نمونې نه دي ورکړې نوسړی ښکاره حکم نشي کولای چې د ښاغلي نعیم معرفي کړي چاپونه د زبور د لوړو یا دوو شویو ترجمو نور چاپونه دي او که نوې ترجمې؟

دا سې ښکاري چې ښاغلي نعیم د زبور د دغو چاپونو په ښوولو کې د اکا د میین پوهاند دوکتور جاوید له هغې مقالې هم استفاده کړې وي چې (قدیمترین آثار چاپ شده پښتو) نومېږي. نوموړی استاد په خپله مقاله کې د زبور دوه چاپونه معرفي کړي دي. یو یې په ۱۸۸۲ع کال ۲۷۰ مخه په لندن کې چاپ شوی دی او بل یې چې ۱۷۰ مخلري په ۱۸۹۱ع کال کې په لندن کې چاپ شوې ده، خو د دې ترجمو مترجمین جیوکس او مهر ښوول شوی دی، چې ملاحمدالله هم ورسره همکارې کړې ده.

د استاد جاوید د لیکنې دا برخه له انګرېزانو سره د دغو آثار و په ترجموکې د پښتنو همکارانو په ډله کې د ملا حمدالله نوم هم ورزیاتوي.

د زبور کومه پښتو منثوره ترجمه چې استاد رښتین د کتلې ده او ما د زبور د ترجمو د دوهمې ترجمې په توګه معرفي کړه. د هغې د ترجمې په باب استاد کښلي دي: «د زبور دغه ترجمه چې (زبور داؤد) نومېږي، پر سلاست سربېره دا ښېګڼه هم لري چې ژباړونکي ځینې نادر لغتونه په خورا مهارت پر خپل ځای کارکړي دي، او له دې معلومېږي چې ژباړونکی په پښتو ژبه کې د ښه استعداد څښتن و ...» (کابل مجله، ۵-۸ ګڼه، ۱۳۶۹، ۱۱/۱۲ مخونه).

هغه نادر لغات چې په دې ترجمه کې راغلي دي، دادي :

اوښار، اورږی، ځړه ګان، ځپیاکه، څنګرن، خوره، شپول، ښتیلل، نغرل او داسې نور. د دې ښې پښتو ترجمې نه دا ترجمه څېنې تېروتنې او ګډوډه هم لري. چې زبور استاد په خپله یاده شوې مقاله کې پر خپل ځای ښوولي دي.

د تورات، زبور او انجیل له ترجمو سربېره د نولسمې پېړۍ په دوران کې د انګرېز انو مسیحي تبلیغي ټولنو د ځینو نبیانو صحیفې هم په پښتو ترجمه کړي دي چې ځینې ماته معلومې یې دا دي :

(۱) د حزقیل نبي کتاب : د دې کتاب پرپښتې کلام الله لیکل شوی تری لاندې نبوت او بيې پسې يحزقيل. داکتاب له ۲۵۹ - ۳۸۹ پورې راغلي چې کړده (۱۳۰) مخه کېږي، قطع یې ورېره ده، په ۱۸۹۵ع کال په لندن کې چاپ شوی دی. پټول انه څلوېښت بابه لري او مترجم یې نه ښکاری.

د حزقيل نبي کتاب داسې شروع شوی دی :

« او د دېرشم کال د څلورمې میاشتې په پنځم داسې وشول، چې زه د کبار د سیند په غاړې په قیدیانو کې وم. آسمانونه پرانستل شول او ما رويي دالله ولیدل ... »

(۲) د دانیل نبي کتاب : د دې کتاب پر پوښ هم کلام الله کښل شوی، په ورېره قطع په ۱۸۹۵ع کال په لندن کې چاپ دی، مخونه یې له ۳۹۱ - ۴۲۸ پورې دي چې ټول ۳۷ مخه کېږي، بابونه یې دولس دی او مترجم یې نه دی معلوم. د دانیل نبي کتاب داسې شروع کېږي : « د یهوداه د باد شاه یهویقیم د بادشاهۍ په دریم کال د بابل بادشاه بنوکد نصر اورشلیم ته راغی او هغه یې کېر کړ... »

(۳) سمؤیل نبي : پس دې کتاب هم کلام الله لیکل شوي دی . دا کتاب بیا په دوو کتابونو ویشل شوی دی . په اول کتاب کې یې لیکلي دي : د سموایل ورنبي کتاب ، چې ټول ۳۱ بابه لري او دویم سموایل چې ۲٤ بابه لري . ذ سموایل نبي دا دواړه کتابه له ٥٨٨ - ۷۳٤ مخونو پورې راغلی دی چې ټول ۱٤٦ مخه کېږي ، قطع یې وړه ده ، اما پر دی کتاب یې کښلي دي : « له اصلي عبراني ژبې نه په پښتو کې ترجمه کړی شه په مدد دقاضي عبدالرحمان او غلام جیلاني کاتب » .

دا ترجمه هم په ۱۸۹۵ ع کال په لندن کې چاپ شوې ده او بیل یې دا ډول شوی دی : « او یو سړی وه له راماتیم صوفیم دافرائیم له کوهستانه او دهغه نوم القانا وه ځوی دیروحام ځوی دالیهو ځوی د توهو ، ځوی دصوف هغه افرائیمی وه ... » .

(٤) د ارمیاه نبي کتاب : دا کتاب هم د کلام الله په نامه په ۱۸۹۵ ع کال په لندن کې چاپ شوی دی . د دې ترجمې پر سر یې لیکلي دي : « پښتو شوی له اصلي عبراني ژبې نه په قلم دغلام جیلاني لیکلی ... » له دې لیکنې سړی پوهېږي چې مترجم یې بل څوک دی او کاتب یې غلام جیلاني دی . دا کتاب ټول ٥۱ بابه دی او په آخر کې یې یو بل عنوان راغلی دی (ویره د ارمیاه نبي) دا برخه پنځه بابه ده .

د دې کتاب وروستۍ برخې دا دي : « ای خداونده موږ پخپل لوري وګرځوه او موږ به در وګرځو ، د موږ ورځې نوې کړه ، لکه چې په قدیمي کې وشول ... » . دا کتاب د ۱۱٤ - ۲٥۸ مخونو پورې چاپ شوی دی ، چې ټول مخونه یې ۱٤٤ کېږي .

د پخوانیو پیغمبرانو دصحیفو کومې پښتو ترجمې چې ما در وسپولې

توليې مسلسلې نومرې لري، خو د هرنبي کتاب په جلا وقايه کې چاپ شوی دی، اما نومرې يې مسلسلې دی. دا مسلسلې نومرې ښيي چې دا سلسله به نورې کړۍ هم ولري، چې متاسفانه زه يې تراوسه په موندلو نه يم بريالی شوی.

دپخوا انيو پيغمبرانو د کتابونو او صحيفو د ترجموکوم ښست چې د اتلسمې پيړۍ په اواخوو کې د عيسوي دين د مبلغينو او د شرقي هند د کمپنۍ د انګريزانو کارکوونکيو له خوا ايښوول شوی و، اثرات يې تراوسه په پاکستان کې شته. په لاهور او د پښتونخوا په سيمو کې د مسيحي تبليغ ځينې مراکز اوس هم ددې زړو آسماني کتابونو ترجمې چاپوي، لکه چې تاسې دانجيل د ترجمو په بحث کې ولوستل، چې دانجيل يوه بشپړه،خو ښه ترجمه دنويمو کلونو په جريان کې دوه ځله په لاهور کې چاپ شوه. ددې ترڅنګه د کوهاټ اوسيدونکی يا دري عاشق شاه د پخوانيو پيغمبرانو د دغو کتابونو خلاصې په نظم او نثر په پښتو ترجمه کړي دي. ددې ترجمې عنوان دی : «دتورات خلاصه سره دزبور او دصحيفو» دا ترجمې ٤١٤ مخ په ١٩٧٣ع کال په منظور عام برقي پريس کې چاپ شوې ده، دژبې په سمون کې يې پروفيسور طاير هم مرسته ورسره کړې ده.

ددې ترجمې يوه نمونه د تورات له خلاصې نه : «اول خدای زمکه او آسمان پيدا کړل، زمکه ورانه ويجاړه وه. دکنډو د پاسه تيارۀ وه ... اوخدای وويل چې رڼا دې شي، نو رڼا شوه ...»

دا ترجمه هم په زيار تهيه شوې ده او د کلاسيک سبک نه او ښتې او معاصر پښتو سبک ته يې ځان نږدې کړی دی.

دآسماني کتابونو او صحیفو د منثورو ترجمو ترڅنګه له عیسوي دین سره مربوط ځیني نور منثور کتابونه هم موږ ته معلوم دي چي دوي دین د بېلابېلو ارخونو دځرګندولو له پاره ترجمه شوي او که یې اهداف سره ارزیابي کړو، نو په نهایت کي دعیسوي دین د تبلیغ، ترویج او دوي خوا ته د پښتنو د ترغیب له پاره لیکل شوي یا ترجمه شوي دي. په دې ډول آثارو کي ما ته معلوم آثار او ترجمې دادي:

(الف) سیرالسالکین: د یوه مسیحي د خوب قصه ده چي پادري T. J. L. Mayer دقاضي عبدالرحمان په مرسته په ۱۸۷۷ع کال په پښتو ترجمه کړې ده او ۲۹٤ مخه په همدې کال د امرتسر په سفیر هند نومي مطبعه کي چاپ شوې ده. ددې کتاب په پیل کي یې لیکلي دي:

سیرالسالکین

یعنې له دنیا نه وعقبیٰ ته په لباس دخوب کي

حصهٔ اول

«تصنیف کړی د یوحنابنین په ۱٦۷۲ عیسوی کي چي یو نیک او دیندار عالم وه او پادری تهومایو هنالی مهرصاحب له انګریزي نه په پښتو په مدد د قاضي عبدالرحمٰن په سن ۱۸۷۷ کي ترجمه کړ.»

ددې ترجمې په دیباچه کي راغلي دي: «د هغه قادر مطلق او واحد خدای په نامه چي هیڅ ستر ګو لیدلی نه دی او نه یې لیدلی شي او هغه ذوالجلال چي په هسې نور کي اوسي چي دنیا وي نمر دده په مقابل کي راشي نو به د تود کاښي په څېر یې نوره یاتې شي ...»

(ب) استاذ جاوید په خپله ټېره یا ده شوې مقاله (قدیمترین آثار چاپ شده پشتو)(٤٧) کي یو بل اثر هم موږ ته راښوولی چي روزنامه نومېږي. دا کتاب د قاضي

عبد الرحمن او غلام جیلاني کاتب په مرسته له عبراني ژبې نه پښتو ته ترجمه شوی دی او ۱٦۲ مخه په ۱۸۹۵ع کال په لندن کې چاپ شوی دی.

(ج) له دغو یا دو شویو کتابونو سربېره د عیسوي مبلغانو او تبلیغي ټولنو له خوا * خت په وخت نور ډېر رسایل په پښتو نثر ترجمه شوي او لیکل شوي دي، چې په تفصیل راوړل یې خبره اوږدوي. د مثال لپاره یې د ځو نمونه راوړم: د جنایستر خان دقرض حال ۲٤ مخه، د ژوند ترخه چینه، ٥٤ مخه، دا کتاب نذیر مسیح ترجمه کړی دی.

د زړو آسماني کتابونو او صحیفو د پښتو ترجمو کار د اتلسمې پېړۍ په پای کې پیل شوی او په نولسمه پېړۍ کې یې پر مختیا موندلې ده او په همدې پېړۍ کې د مسیحیت د تبلیغ لپاره په پښتو د آثارو د ترجمې کار هم پیل شوی دی. دا ترجمې او دې تبلیغي آثارو لیکل او ترجمه تر اوسه جریان لري.

دا ترجمه په اول کې ډېر کمزورې وې، تېروتنې او کمزورې ډېرې پکې زیاتې وې، مګر ورو ورو د زمان شرایطو سره سم صیقلیدې. د زړو آسماني کتابونو کومې او سنۍ ترجمې چې موږ لرو د پښتو لیک له روان جریان سره اړخ لګوي.

اسناد او شواهد په دې ګواهي لي چې انګرېزانو په پښتو ژبه د زړو آسماني کتابونو او صحیفو د ترجمو کار د دې لپاره پیل کړی وچې په پښتنو کې عیسویت خپور کړي، خو دې کار لکه څنګه چې بنایې هغو مره فایده ونه کړه، ډېر لږ پښتانه یې د غه دین ته وا ړول، خو پښتو ته یې ګټه دا شوه چې د زړو آسماني کتابونو او صحیفو ترجمې یکې زیاتې شوې. او هغه پښتانه پوهان چې ځان په زړو آسماني کتابونو پوهول او له متنه یې

خبربدل غواړي ، له دغو ترجمو څرګنده ا خیستلی شي .

لوړو یا دو شویو ترجمو اوتبلیغي منثورو آثارو سربېره څېنو نوختیځپوهانو د نثر لیکني په برخه کې څېنې نور کارونه هم کړي چې په وروستیو کرښو کې به پې جاج واخلو:

د دې ډلې په سرکې موږ ته د راورټي نوم مخې ته راځي . ده چې پښتو ته څومره کار کړی دی ، له هغو څخه دا څرګندېږي چې ده د لیکني ترڅې اوثبت له لیارې پښتو نثر ته څه کړي دي .

(الف) راورټي د خپل پښتو ګرامر د لومړي چاپ (۱۸۵۵ع کال کلکته) په پای کې څلور ولسي نکلونه ثبت کړي ، لکه : «نقل دنحوي اوخر ، نقل دافریدي او ملا ، نقل دناره او طبیب او نقل دهلک دامسر» .

په وروستیو چاپونو کې یې بیا لومړی نکل ترې ایستلی دی . راورټي دا پښتو نکلونه له انګرېزي ترجمو سره خوندي کړي دي . برسېره پردې یې په دې ګرامر دلښکرۍ عدالت څېنې مواد هم په پښتو نثر ترجمه کړي دي .

راورټي دخپل پښتو منول په بېلابېلو برخوکې څېنې داسې منثورې ټوټې خوندي کړې دي چې د ده دپښتو نثر په کارونو کې سری باندې پرعنبدی شي .

د ګلشن روه د رې مخیزه پښتو مقدمه هم دغه راورټي لیکلې ده او په دې مقدمه کې یې د نثر لیکلو روش داسې دی :

« په دې کتاب کې مې حصې له لسو کتابونو د نظم او شپږو کتابونو د نثر درجې کړې دي ... » (ګلشن روه ٤ مخ)

د راورټي د نثر بشپړ کتاب د ایسپ حکیم د قصو ترجمه ده . پردې ترجمو یې د کتاب نوم په انګرېزي داسې کښلی دی :

The Fables of Aesop in Pukhtu

داکتاب ۲۴۳ مخه په ۱۸۷۱ع کال په لندن کې چاپ شوی دی. د کتاب پروقاپې یې په پښتو لیکل شوي دی: « قصې د ایسپ الحکیم په ژبې د پښتو ترجمه شوی د راورټي صاحب بهادر میجر د بمبی حا طي له فوجه د ملکهٔ زمان »

د ایسپ حکیم قصې د یونان له ډېرو قصو څخه دی او د نړۍ په ډېرو ژبو ترجمه شوی، پښتو هم په دغو ژبو کې شامله ژبه ده، چې دا قصې ورته د یو انګرېز په مرسته وراوښتې دي.

اروا ښاد خیال بخاري، چې د راورټي په دغو ترجمه کړیو قصو کومه مقاله لیکلې ده (۴۸) هلته یې ویلي دي چې دا د پښتو نثر اولنی چاپ کتاب دی، دا خبره سمه نه ده، ځکه تر دې کتابه د مخه مونږ د پښتو د مسجع او عادي نثر او منثورو ترجمو ډېر کتا بونه لرو، په زیاته د زړو آسماني کتابونو پښتو ترجمې، خو کره ده په نثر دي او تر دې کتابه پخوا چاپ شوي دي.

اروا ښاد بخاري، چې له دې کتابه کومې نمونې اخیستي دي، یوه یې داده: « یو لومبړ په وقت د انګور چینه په پټه یو باغ د انګورو هلته چې یا خه انګور له نمره رنګ کړے شوی، دل فریبه جلوه کوله، پېچ در پېچ خوړېنه وونوت. خو ځله یې په وروستیو د هغه خوا ته نعمت جست وخیز وواهه، مګر هر څه یې په پیل پیل د مټ وکړ ضایع شه، نور په وقت د جار وتلو له ځانه سره یې کونکوسی ووې: « څه شو انګور خو تروه دی »

له راورټي وروسته بل سړی چې مونږ یې په کارونو کې د پښتو

نثر بولګې کوږو ، هغه بېلېو دی ، د ده په پښتو ګرامر کې ځينې وړې جملې او منثورې ټوټې په لاتين خط راغلي دي ، نو کله چې مونږ د استشراق په حلقو کې په پښتو نثر خبرې کوو ، نو ایکبرن وچې دی هم په دې ډله کې حساب کړو .

د ده له ګرامره دا جملې دیادونې وړ دی : « یاره صاحب ډېر عقلمند سړی یې ، شاباش ستا په هوښيارتيا باندې » یا دابله جمله : « رښتیا وایې ستا خبره ، رښتیانه د ه صاحب مونږ حال معلوم دی » (٤٩)

د فرانسوی پښتو پوه جيمز ډار مستشرق (١٨٤٩ - ١٨٩٤ ع) په مشهور کتاب د پښتونخوا دشعر هار وبهار کې په دغو لاندې مخونوکې پښتو نثرونه راغلي دی : په ٩٩ - ١٠٢ مخونه . ددې نثر عنوان دی : د سلطان سکندر چاربيته چې په دریاب په یوګړ د اب کې یې جهاز غرق شوی وه ، دا منثوره ټوټه د سلطان سکندر چاربيته چې برهان شاعر ویلې ده په نثر تشريح کوي . په ١٠٦ مخ کې د برهان له خوا ویلې شوي منظومې په پیل کې یوه ټوټه نثر راغلی دی . په ١٨٩ مخ کې هم یو ټوټه نثر راغلی دی ، چې داسې شروع دی : « په یوسفزو کې یو کلی دی چې مردان ته نږدی او نوم یې کوجړ ګړهه دی او هلته ټول د کوجړو قوم اوسي په هغه کلي کې یوه ښځه وه ....»

په ٢٠٤ - ٢٠٥ مخونو کې یوه بله ټوټه نثر دی ، چې یو فوکلوري سندرې د ایجاد پس منظر پکې بیان شوی دی . ددې ټوټې پیل داسې شوی دی : « نقل دی چې د سکهانو په بادشاهت کې یو سیکهه له یوسفزو نه یو پېغله جینۍ ....»

په ٢٠٨ مخ کې د ساندو په تشريح کې یوه ټوټه نثر راغلی دی

چې د سرخه برخې یې دا دی : «چې د چا ښځې پلار یا مور یا خور یا ورور یا خښتن یا زوی یا لور یا بل څوک خپښی مړشی ....»

له دې سربېره د ځینو پارکو عناوین هم داسې تشریح لیکل شوی دی چې د لیکنې سبک یې د ګلشن اشعار افغاني او د صاحبزاده عبدالحی د احمد نامې د ځینو نظمونو تشریحاتو سره یو شانوالی ښیي، لکه د پښتونخوا د شعرهاروبهار په ۱۴۰ مخ کې راغلي دي : «چاربیته د حمید ګل شاعر د پلوسو اوسېدونکی چې خوری د عبدالرحمن وه »

دا چې د پښتونخوا د شعرهاروبهار کې راغلي نثرونه د چا دي؟ د دار مستتر او که د نورو په دې باب د هاروبهار په توضیحاتو کې ځینې اشارې شته، لکه د توضیحاتو په ۴۳ مخ کې راغلي دي : «د اصلي شعر اشاروکنایو د پوهېدو د پاره مې داکیسه د خپل منشي محمد اسماعیل خان په وسیله په نثر ترتیب کړه ....»

په لوړه توضیح کې یاد شوی نثر هغه دی چې د کتاب په ۹۹-۱۰۲ مخونو کې راغلي دي .

د نورو منثورو ټوټو په باب ما څه ځانګړې اشاره پکې ونه موندله، داسې برېښي چې په دې کتاب کې ځینې نورې ټوټې هم بنای محمد اسماعیل لیکلې وي او دا امکان هم شته چې ځینې دې دار مستتر لیکلې وي او محمد اسماعیل دې سمې کړې وي . دا خبره په ځکه صحت ته نږدې وي چې د منثورو ټوټو په سبک کې یې یو شانوالی زما نظر ته نه راځي. په زیاته ځینو سندرو ته چې تشریحي عناوین ورکړل شوي دي هغه مسأله د محمد اسماعیل نه سیکاري.

لنډه دا چې د پښتونخوا د شعرهاروبهار هم ځینې داسې منثورې

توجه خوندي کړي دي چې د نولسمې میلادي پېړۍ په وروستیو لسیزو کې کېنل شوي دي او زموږ د کلیوالي فرهنګ او ولسي ادبیاتو له تشریح او معرفۍ سره مرسته کوي.

له دې ډار سېستړ وروسته بل اروپایي پښتو پوه، چې موږ یې په آثارو کې د پښتو نثر بېلګې وینو هغه بېډلف دی. ده د خوشحال بابا نظمونه له انګرېزي ترجمې او ګرامري تحلیلونو سره وړاندې کړي دي. دده د کتاب نوم دی:

(Afghan poetry of the Seventeenth Century)

د دې کتاب په ګرامري تحلیلونو کې ځینې پښتو جملې، اصطلاحات او خبرې هم راغلي دي، لکه د ۴۰ مخ دا جمله: «له څو ورځو نه باران ورېږي ګمان مې دی چې په سیندکې به ډېرې اوبه راغلې وي او بېړۍ به نشته ده...»

د بېډلف دا کتاب په ۱۸۹۰ع کال په لندن کې چاپ شوی دی.

دغه راز د ترومپ په ګرامر کې، چې ۴۱۲ مخه په لیپزیک کې چاپ شوی دی او مقدمه یې پرې د ۱۸۸۳ع کال د جنورۍ په ۱۳ د جرمني په تیوبنګن کې لیکلې ده. Syntax او ځینو نورو برخو کې د نرو منثورو متونو له انتخابولو سربېره د هغه وخت د مروجې پښتو ځینې نمونې شته چې سړی یې له نثر سره د ده د آشنایۍ د یو لاسوند په توګه وړاندې کولای شي.

دغه راز د نولسمې پېړۍ د ځینو نورو اروپایي پښتو پوهانو لکه پروفیسور ډورن، لیچ او واګهن په ګرامرونو کې د غسې جملې او توټې شته چې له نثر لیکنې سره د دغو ختیځپوهانو د بلدیت ښکارندویي کوي.

اما په ختیځپوهانو کې چې چا د منثې ور پښتو نثر لیکلی هغه لوېرګ

لوریمر، چې په لېم پیرنګي مشهور و له ۱۸۹۷ع نه تر ۱۹۰۲ع کال پورې یې د وزیرستان په بېلابېلو سیمو کې وظایف درلودل. ده په انګرېزي ژبه پښتو نحو هم لیکلې ده او بل کتاب یې د پښتو د وزیري لهجې فرهنګ دی، چې په ۱۹۰۲ع کال په کلکته کې چاپ شوی دی.

د دې کتاب په پای کې یې دوې حکایې هم په پښتو نثر راوړې دي. په دې دوو حکایو کې یوه د فضول خرڅ هلک قصه ده چې د لوقا انجیل د ورک شوي زوی مثال یې ترجمه کړې دی او بله یې هم طنزیه حکایه ده، چې د سر برخې یې دا دي: «زه صاحبه تالې وم، جانې خپلواو بکه خپلو منصفو ته بوتلی وم. د دوی مقدمه وه په نورو باندې. بیا یو سړی ماته ورغېدو چې سړي په دلې باندې وهلی وم. په تنده یې وهلی وم. بیا دده نه پوښتنه وکړه چې چا وهلی یې؟ ده ووې چې خپلې ښځې وهلی یم...»

دده نثر وته نسبت نورو انګرېزانو تر څه پر مختللی اوروان دی او دی مونږ په خارجي پښتو پوهانو نثر لیکونکیو کې حسابولی شو.

د پښتو د وزیري لهجې د ګرامر په پای کې د لوریمر دغو دوو حکایو په باب ځینې نورې حکایې هم شته چې دلته یې باید یادې کړو.

ښاغلی مشر قلندر مومند(۵۰) په خپله یوه مقاله کې د لوریمر دغې لوړې حکایې ته، چې ما یې لوړې ځینې برخې راوړې، د پښتو د لومړنۍ طنزیه افسانې په سترګه کوري او دا ادعا لري چې په پښتو کې لومړۍ افسانه، لوریمر یا لېم پیرنګي لیکلې ده.

خو څه ښاغلي چې د پښتو په معاصر ادب کې د لنډې کیسې د پیدا ایښت په باب خېړنې او تحقیقات لري، هغوی دا خبرې نه مني او د لوریمر دا دواړې راوړې منثورې ټوټې حکایې ګڼي چې له لنډې کیسې سره اړه نه لري او د

لنډۍ کیسې خصوصیات پکې نشته.

سناغلی زرین انځور (۵۱) پخپله یوه اوږده مقاله کې د سناغلی قلندر مومند دا نظریه په تفصیلی ډول څېړلې او یوځای یې کښلي دی:

«... دلیم پیرنګی دمېړه اوښځې راغلی حکایت دلنډۍ معاصرې کیسې (افسانې) په تله نشي تلل کېدای اوحتی دلنډۍ کیسې اوافسانې مقدماتي او ابتدایي بېلګه یې هم نشو ګڼلای.»

دوکتور محمداعظم اعظم (۵۲) هم د سناغلي قلندر مومند له دې نظریې سره اختلاف څرګند کړی دی او وایي یې دی چې دغه طرز لیکونه د اولسي کیسو او نکلونو یو شکل دی.

له لیم پیرنګی وروسته بل انګریز چې معرفي یې په آثارو کې دپښتونثر بولګي وینو هغه میجر روس کیپل دی.

ده یو کتاب کې لیکلی دي چې نوم یې Manual of Pashto دی. دا کتاب په ۱۹۲۲ع کال په لندن کې چاپ شوی دی او په لیکلو کې یې منشي عبدالغني هم مرسته ورسره کړې ده.

د دې کتاب په بېلا بېلو برخو کې منثورې ټوټې شته. په ۱۶۹-۳۰۴ مخونو کې یې ورې نثري ټوټې راغلې دی، چې د دبرشو درسونو په بڼه اوډل شوی دی.

له ۱۰۴ مخ نه یې یوه منثوره ټوټه: «زه داپرید و یوسپین ږیری یم او دپښنور په تپه کې مې یو کلی دی، ټوله زمکه مې اوبي ده اونه دووسو روپۍ مالیه دکال سرکارله ورکوم. د بندوبست صاحب زما دېره درنه مالیه لګولې ده، په دې چې د ملازو ملک سره مې بدي ده اوصاحب رانه خفه دی.»

په دې کتاب کې چې کوم نثرونه راغلي دي، دپښنور دهغه رخت د

خلکو محاورې ته ډېر نږدې ښکاري .

دغه راز په لاهور کې د خیبر د ونکي افغانستان نومي اخبار د ۱۹۳۰ع کال په ۱۱ مه ګڼه کې د پښتنو خپله ژبه ترسرلیک لاندې یوه مقاله خپره شوې چې میجر روز انګریز لیکلې ده .

په هغه مقاله کې یوځای راغلي دي: « نه په حیثیت دیو واقف کار انګلیس زما دا فغانانو په ملک یعنې صوبه سرحد کې چې زموږ دتنظیم یوه عنبه برخه لرا فغانستان ده آباد دي ټوله افغان لرې پا تې شوی یم ، عمر مې تېرکړی دی . له افغاني طبعې خبر دار او پوه یم ما ته سنه معلوم دی ، چې افغان قام ډېر متقدم طبعه دی ، هیڅ جدت نه خوښوي ، بلکه دموجود تهذیب سخت دښمنان دی ... »

ماسره د اسې سند نشته چې د پښتو منول مؤلف میجرروس کیپل او میجر روز دواړه یو سړی وبولم که بېل بېل کسان . اما کوم نثرونه چې په پښتو منول کې راغلي دي ، هغه ډېر ساده او روان دي . مګر دپښتنو خپله ژبه نومې مقالې نثر کرکېچن دی او رواني ډېره نلري . خو دلته سړی یو دلیل داوړاندې کولای شي چې په پښتو منول کې منشي عبدالغني مرسته کړې ده او دا نثر روز خپله لیکلی دی .

دپښتو نثر لیکنې دېرمختیا یې پړاو . د مطالعې په ترڅ کې دختیځپوهانو بحث دلې پای ته رسوو او ددې بحث په پای کې وایم چې :

- دپښتو نثر د پرمختیا یې بهیر ونو په جریان کې دختیځپوهانو هم خه مقام شته او ځینې داسې موضوعات یې په پښتو نثر کې را داخل کړل چې د مخه یې ساری په پښتو کې نه لیدل کېده .

- دپښتو منشیانو یوه ډله همدا وخت موجوده شوه چې دپښتو

نثر دا یجا د او ودې په پراوونو کې یې مون له بدل سترګې نشو
پېښولای .
- دغه راز انګریزانو ځینو لیکوالو، پوهانو او کورنیو سره هم روابط
درلودل . ځینې آثار د همدغو انګریزانو په غوښتنه دغو خلکو په
پښتو ولیکل او یا یې ترجمه کړل .
- پښتو درسي آثارو او دژبې د نده کړې ته هم آثار دا وخت -
مینځته راغلل .
- له ځینو استثنایي مواردو پرته دا نګریزانو خپل لیکلي او ترجمه
کړي نثرونه چندان صفتي نه دي ، خو د وی په هڅو او ترغیب چې
پښتو کوم آثار لیکلي او ترجمه کړي دي ، هغه د پښتو نثر په پرمختیایي
سیر کې د یادونې وړ ځای لري چې په راتلونکې فصل کې به خبر ې
پرې وکړم .

## د پښتو نثر د پاینت کړکیچن پړ تریوه سرسري کتنه

د دولسمې پېړۍ له اواخرو ان د څورلسمې پېړۍ تر څو لومړیو
لسیزو پورې پښتو ادبیات او په پښتني فرهنګ پورې تړلي کارونه له ځینو
ځانګړو استثنایي مواردو پرته خپله پخوانۍ ځلا او ښکلا نه ساتي . په نظم
کې هم هغه پخوانۍ شور او مستي نه لیدل کېږي او د د یوانونو ځای حکایتي
او ځینې نور منظومات نیسي او په نثر کې هم هغه پخوانی صلابت او
قوت نه پا تېږي . دا پېر د نظم او نثر دواړو لپاره یوه فتوري مرحله
ده، خو نظم او نثر دواړه خپل پاینت ساتي او په کښ لیچنولاړو یون
کوي .

په دې پېر کې که څه هم د نثر لیکنې یو خاص منلی سبک نه دی

با مینځ ته شوی ، خو نثر لیکنې په کمي لحاظ ووده موندلې ده او زیاتره

د ترجمو په محور چورلي . د دې پېر د ترجمو یوه څانګړتیا دا ده چې

دا وخت د هندوستان له ژبو هم څه آثار پښتو ته واوښتل . زمونږ

پخوانۍ ترجمې زیاتره له عربي او دري ژبو څخه وې .

- د دې پېر د آثارو له مطالعې دا سې ښکاري چې د سواد پروسه د

پښتو په بېلابېلو اقشارو کې څه عام شوی غوندې وه ، یوازې د خانانو ،

نوابانو په کورنیو او د یني حلقو پورې محدوده نه وه ، د نورو اجتماعي

اقشارو خلکو کې هم سواد خپور شوی و او په دغو خلکو کې هم ځینې داسې

کسان پیدا شوي وو ، چې د تالیف او ترجمې شوق یې درلود او خپلو خلکو

ته یې څه آثار په پښتو وړاندې کړل .

- د دې پېر اکثر لیکونکیو د پخوا په څېر سواد له کلیوالي دینې مدرسو

او په جوماتونو کې له امامانو زده کړی دی او له پښتو سره علاقه او په

دې ژبه کې د تالیف ذوق او شوق ورسره له همدغو مدارسو پیدا شوی او

په دې مدرسو کې د مروجو تدریسي پښتو کتابونو په دوی کې رول لوبولی

دی .

- په موضوعي لحاظ په دې پېر کې په پښتو نثر کې ډېر داسې موضوعات

ونغښتل شول ، چې تر دې پېر د مخه مونږ په پښتو کې په هسې موضوعاتو

کې آثار نه درلودل او یا دا چې ماته نه دي معلوم او یا نه دي کشف شوي .

- د دې پېر نثرونه زیاتره علمي او عادي نثرونه دي ، ځینې حکایتي

نثرونه هم پکې شته ، چې ځینې لږ ادبي مزایا وې لري . د دې پېر

نثرونه په عام ډول روان خو دي ، اما کمکېچن او د پښتو له مزاج او طبیعي

جوړ سبت سره نا اشنا وله نثر و نه پکې ډېردي .

## مـأخـذونه :

(۱) کاکړ ، پوهاند دوکتور محمدحسن : پښتو اودفتر په دوو ورستيو پېړيوکې ، پښتو چاپي آثار ، ۴۳ مخ .

(۲) رفيع ، حبيب الله : تفسير يسير ، سپېدې (مجله) د ۱۳۷۰ هش کال پنځمه گڼه ، ٤ - ١٠ مخونه .

(۳) رفيع ، حبيب الله : مخزن التفاسير ، سپېدې مجله ، د ۱۳۷۱ هش کال ، دويمه گڼه ، ١ - ٤ مخونه .

(٤) رشاد پوهاند عبدالشکور : تفسير حسني ، کابل (مجله) د ۱۳٦۸ هش کال ، ۳ - ٤ گڼه ، ١ - ۲۸ مخونه .

(۵) نسيم ، پروفيسور عارف : په پښتو ژبه کې ديني ادب ، په سرحدي صوبه کې ورمبي لساني اوثقافتي کانفرنس ، پښتو اکېډيمي ، پېښور ، جدون پريس ، ١٩٨٦ ع کال ، ۲٤۹ مخ .

(٦) رفيع ، حبيب الله : تفسير بدرمنير ، سپېدې (مجله) د ۱۳۷۰ هش کال شپږمه گڼه ، ۸ - ١٤ مخونه .

(۷) رفيع حبيب الله : تفسير بې نظير ، سپېدې (مجله) د ۱۳۷۰ هش کال دويمه گڼه ، ٤ - ۹ مخونه .

(۸) تفسير بې نظير ، داحمد حسن خان احمدی مطبعه ، ۱۳۰۲ هق کال ۱۷۹ - ۱۸۰ مخونه

(۹) اکبر پوری ، مولوی محمد رفيق : تفسير محمدی ، مطبعهٔ تحفهٔ هند ، دهلی ، ۱۳۲۲ هق کال ، ٦٦ مخ .

(۱۰) رفيع حبيب الله ، د سورهٔ يسٓ دوه تفسيرونه ، سپېدې (مجله) ،

د ۱۳۲۰ هـ ش کال غلورمه گڼه ، ۷ مخ .

(۱۱) محمد امین : تفسیر سورۀ یٰسین ، د مولوي عبدالرشید په اهتمام، ستهیم پریس ، لاهور ، ۱۳٤۱ هـ ق کال ، ۸۱ مخ .

(۱۲) رفیع ، حبیب الله : جواهر القرآن ، سپیدې ، د ۱۳۷۰ هـ ش کال دریمه گڼه ، ۳ مخ .

(۱۳) قاسمي ، مولانا عبدالقدوس : د پښتور پښتو دیني ادب تربوه کتنه ، پښتو چاپي آثار ، ۳۳٤ مخ .

(۱٤) عبدالرحیم : درمکنون ، دهلی ، فاروقی مطبعه ، ۱۳۲۱ هـ ق کال ، ۷۵ - ۷٦ مخونه (د فتاوای احمد شاهي حاشیې )

(۱۵) عبیدالحق : خاتم النبیین ، د قرآن شریف له ترجمې سره مله رساله مقبول عام پریس ، لاهور ۱ مخ .

(۱٦) محمد حسن : تحفة الاخبار ترجمه ، لباب الاخبار ، مطبعه نولکشور لاهور ، ۲ مخ .

(۱۷) عبدالحق : تصفیة المرأة لترجمه المشکوة ، مطبع انصاری ، دهلی ، ۱۳۲۵ هـ ق ، ۱۰ - ۱۱ مخونه .

(۱۸) رشا د پوهاند عبد الشکور : د پښتو تجویدونو تاریخچه ، د افغانستان د علوموا کاډیمی ، کابل ، د دولتي مطبعه ، ۱۳۵۹ هـ ش ۲ مخ .

(۱۹) معرفة القرآن : د نصرالله خان نصر په زیار ، شاهین برقي پریس ، پېښور ، ۱۹٦۸ ع ، ۹ مخ .

(۲۰) عقاید المؤمنین ، د محمد عمر مقدمه ، د لاهور چاپ ، ٦ مخ .

(۲۱) نعمت الله (ملا) : تذکرة الغوثیه و تذکرة البخاری ، نولکشور

لاهـور ، ۲۱ مخ .

(۲۲) قـدرت علی : خزینة السلطان (خطي) د پښتو د پښتو اکېډیمه خطي نسخه ، ۱۳٤٦ هـ ق ، ۲۰۹ مخ .

(۲۳) گل محمد : در بی بها (ضابطهٔ میراث) ، دهلی ، هندو پریس ، ۱۳۱۹ هـ ق ، ١٤ مخ .

(۲٤) نقیب احمد : انشاء د پښتو ، لاهور ، دین محمدی پریس (د چاپ-کال نه لري) ، ۲ مخ .

(۲۵) محمد سعید : نصیحت نامهٔ لقمان حکیم ، مطبع علوی بمبئی ، ۱۳۰۹ هـ ق کال ، ۲۲ مخ .

(۲٦) عجب خان : طب بو علی سینا ... کریمی پریس ، لاهور (د چاپ-کال نه لري) ، ۱۹٤ مخ .

(۲۷) حبیبي ، پوهاند عبدالحی ، نو مورکي مؤرخین ، کابل پوهنتون ، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه ، ۱۳۵۹ هـ ش کال ، ۵۹ مخ .

(۲۸) عبد الرشید : مفخر افغان ، پښتو حصهٔ نثر ، پېښور ، ۱۹۷٤ ع کال ، ۹٦ مخ .

(۲۹) سید عمر : گلشن اشعار افغاني (خطي) د اسلامیه کالج نسخه ، ۱۹۰۰ ع ، ۱۱۵ مخ .

(۳۰) مولوي عبدالرحیم : لباب المعارف العلمیه ، آگره ، ۱۳۳٦ هـ ق ، ۳۸٤ مخ .

(۳۱) هیواد مل ، زلمی : گلشن اشعار افغاني ، کابل (مجله) د ۱۳٦۵ هـ ش کال ، ۲ گڼه ، ۱۱ - ۳۰ مخ .

(۳۲) صاحبزاده عبدالحی (تولوونکی) : احمد نامه ، گوا پریتم ستیم پریس لاهور ، ۱۳٤۲ هـ ق کال ، ۲۹ مخ .

(٣٣) محمد حسن (کاتب) شرح قصیدهٔ برده ، هند پریس ، دهلي ،
١٣٠٥ هـ ق ، ٨٦ مخ .
(٣٤) ګلزار مدینه ، مطبعه کارونیشن ، لاهور ، ١٣٢٥ هـ ق کال ،
٤٦ مخ :
(٣٥) حاجي محمد : تجوید محمدی یا تجوید احمدی ، مطبع نولکشور ،
١٣٢٥ هـ ق کال ، ٦ مخ .
(٣٦) زبردست : ذخیرة القراء ، تحفهٔ هند پریس ، دهلي ،
١٣٢٢ هـ ق ، ٩ مخ .
(٣٧) کاکړ ، پروفیسور محمد ولي سیال : مزارات ، کوټه ،
١٩٧٣ ع کال ، ٤٢ مخ .
(٣٨) محمد امین : فقرنامه معه دعای قریبه ... مطبع کریمی
لاهور ، ١٣٤٢ هـ ق کال ، ٨ مخ .
(٣٩) رفیع ، حبیب الله : پښتو خپروني ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت
کابل ، دولتي مطبعه ، ١٣٥٦ هـ ش کال ، ٢٤ مخ .
(٤٠) زاخیلی ، راحت : د ګلستان ترجمه ، مقبول عام پریس ، لاهور
(د چاپ کال نه لري ) ، ١٦٨ - ١٦٩ مخونه .
(٤١) خیرالله ( قاضي ) : خیراللغات ( مقدمه ) نولکشور ګیس پریس ،
لاهور ، ١٩٠٦ ع کال ، ٥ مخ .
(٤٢) ک . ف . ګیرس : د مېړني اولس ادبیات ، د سرمحقق
محمد شینواري ترجمه ، د قبایلو وزارت ، کابل ، دولتي
مطبعه ، ١٣٦٤ هـ ش کال ، ٣٦ مخ .
(٤٣) لیدن ، دوکتور جان ( مترجم ) د خدای تمامي خبری ،

کلکته، سیرا مپور، ۱۸۱۸ع کال، ۴۷۳ مخ.

(۴۴) رشاد پوهاند عبد الشکور: د ډاکتر جان لیډن په پښتو کړې انجیل کې ګډ وډې، کابل مجله، د ۱۳۵۹ هـ ش کال، ۹ ګڼه، ۷-۲۳ مخونه.

(۴۵) نعیم، د وکتور هدایت الله: پښتو مېن عیسایي ادب، پښاور یونیورسټي جرنل، ۱۹۹۴ع، ۵۰-۸۱ مخونه.

(۴۶) رشاد، پوهاند عبد الشکور: د زبور پښتو ترجمې، کابل مجله، د ۱۳۶۹ع کال ۵-۸ ګڼه، ۱-۲۴ مخونه.

(۴۷) جاوید، پوهاند دوکتور عبد الاحمد: قدیمترین آثار چاپ شدهٔ پشتو، د پښتو چاپي آثار (دسیمینار د مقالو مجموعه) ۱۳۵۷ هـ ش کال، ۲۳۳ مخ.

(۴۸) بخاري، خیال: قصې د ایسپ الحکیم، پښتو مجله، ۱۹۶۹ع کال د سپتمبر ګڼه، ۲۴ مخ.

(۴۹) ببیلیو، پښتو ګرامر، ځلورم چاپ، لاهور، ۱۹۸۳ع کال ۱۳۶-۱۳۷ مخونه.

(۵۰) مومند، قلندر: د پښتو ورومبی افسانه نګار، انقلاب، د ۱۹۸۷ع کال میاشتنی پښتو ایډیشن، مارچ، ۱۸-۲۰ مخونه.

(۵۱) انګور، زرین: د پښتو کیسه لیکنې دیوې نوې باب خبره، کابل (مجله) د ۱۳۶۶ هـ ش کال ۶-۷ ګڼه، ۴۲-۵۴ مخونه.

(۵۲) اعظم دوکتور محمد اعظم: لنډ کیسه، شمشاد (مجله) د ۱۳۷۲ هـ ش کال، ۲ ګڼه، ۱۱ مخ.

«٦»

# د پښتو نثر د سمون پر مختیایي پړاو

## او

# د معاصر نثر د پیدا کېدو زمینې

د پښتو نثر لا د خپل تاریخ په کږلېچن پړاوکې د خپل پایښت لپاره مبارزه کوله او د پښتو له طبیعي جوړښت سره د نابرابر نثر د ديمروج جریان او په نسبي ډول ناموزون سبک د لیکوالو په څنګ کې د هغه وخت ځینې نور لیکوالان هم پیدا شول ، چې پښتو نثر يې په داسې شېوه ولیکه چې د هغه وخت د نثر لیکنې له رواجي انداز سره يې توپیر درلود ، رواني یې ډېره وه ، د پښتو طبیعي جوړښت ته نږدې و او ولنډه داچې د پښتو نثر لیکل يې ، که هغه تالیف و یا ترجمه ، په یوه داسې لاره روان کړل چې ژبه یې پربوله ، کلمات يې ښکلې او د نورو ژبو له اغېزڅخه تر ډېره حده ژغورلی و .

په پښتو کې د نثر لیکنې د ګروش د دیارلسمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې خپل ځان ځرګند کړ او دا هغه وخت و چې کښلیچنې پېر لا په زور او شور کې روان و او په مختلفو ساحو کې د پښتو نثر د هغه وخت معمول روش خپلې غزونې کولې.

د هغه مهال د عنعنې او په نسبي ډول غیر طبیعي او د نورو ثبو تراغېز لاندې د نثر لیکنې د معمول روش ترڅنګه د نثر لیکنې د یو نوي ډول او نوې طرز سره هسکول د پر عوامل لري چې نمایه عقیده څو عمده یې داسې شمېرل شي :

(۱) دا مهال د هند په ټوله نیمه وچه او ورسره د پښتونخوا پرسیمه د انګریز استعمار منګولې ښخې وې. پر افغانستان یې هم سیاسي اثرونه موجود وو. دې استعماري هلو ځلو پښتونخوا ته د نوي عصري ثوند ځینې نخښې هم له ځانه سره راوړې. مطابع او د چاپ وسایل د پخوا په نسبت زیات باب شوي وو. ښوونځي جوړ شول او ورسره د فرهنګ ځینې نورې پدیدې لکه د مهالنیو خپرونو هم یو ځای پل ځای په خپرونو پیل کړی و. په دې خپرونو کې به عام ډول د نظم په پرتله د نثر ونډه درنه وه او نثر یې هم د غربي مطبوعاتو تراغېز لاندې د پر کتابي شکل نه درلود. دا مطبوعات په پښتنو کې هم خپرېدل او د دې ثبې لیکوال یې هم دې ته هڅول چې د لیک او وینا ترمینځه فاصله لږې کړي.

(۲) په پښتونخوا کې میشتو انګریزانو د پښتو د زده کړې له پاره ضرورت درلود او هم یې د خپلو ملکي او فوجي افسرانو د پښتو امتحانونو له پاره پښتو درسي آثارو لیکلو ته اړتیا محسوسوله. د زده کړې د دې جریان

لپاره لازمي ایسیدله چې د اسې پښتو ژ د ه کوونکو ته و ښیي چې د خلکو ژبې ته لنډه وي، څو ژده کوونکي هغه پښتو زده کړي چې د خلکو ترمینځ مروجه ده. په دې لړکې د پښتو منشیانو او پښتو ښوونکو ونډه هم د هېرېدو نه ده.

(۳) د پنجاب، سرحد او افغانستان د ښوونځیو په نصاب کې د پښتو داخلېدو هم له دې جریان سره مرسته وکړه او په درسي آثاروکې د بو داسې روش تابع نثر وليکل شو چې له پخواني عنعني روښه بېل واو زده کړه یې هم اسانه وه.

دغه پړاو، چې زه یې د پښتو نثر د سمون پرمختیایي پړاو بولم، هسته یې د دیارلسمې پېړۍ په اواخروکې ایښوول شوې او د څوارلسمې تر لومړۍ نیمایي پورې یې دوام کړی دی. که څه هم په دې پړاو پورې مربوط کسان ځینې د معاصرې دورې په سر لاروکې هم راځي، خو زما د تصنیف له مخې د دوی آثار د خپلو خصوصیاتو له پلوه له دغه پرمختیایي پړاوه سره اړه لري او د همدوی مشکورو هلوځلو د نوي معاصر نثر او هم د هنري نثر د پیدا ایښت او پرمختیا لپاره زمینه مساعده کړې ده او ددې داهڅې د پښتو ادبیاتو د معاصرې او یا د رڼې دورې او هم د دوهمې دورې تر مینځ یو نوی پُل جوړ کړی دی.

که څه هم د دې پړاو د پیل په څو لومړیو کلونوکې پښتانه په رسمي ډول له یو بل نه بېل شول، خو دیووالي روحیه لا هسې پیا وړې وه. د سرحد ادیبانو شاعرانو د کابل امیران خپل پاچاهان ګڼل او ددې پرسیمه حاکم انګریزانو ته یې دیوه پردي استعمارګر په سترګه کتل.

د پښتونخوا د سیمې شاعران او لیکوال به کابل ته تلل او راتلل، امیرانو

په نان وول . دامیر عبدالرحمان خان دربار ته دمولوي محمد رفیق اکبرپوري

ورتګ او دهغه امیر په مدح کې د میراحمد شاه رضواني قصیده او

نور ډېر آثار موږ ته دې باوري کوي، چې هغه وخت که څه هم

انګریز د پښتنو تر منځ د بېلتون کرښه ایستلې وه، خو زړونه لا نزدې

وو. میراحمدشاه رضواني دامیرعبدالرحمان خان په مدح کې یوه اوږده

قصیده لري چې دوه بیته یې دادي :

*بسی امیر به کابل گذشته اند افغان ولی نبود کسی همچو عبدالرحمن خان*

دا روحیه ان دېیمې وچې تر ویش پورې په خپل قوت باقي وه، د

مثال په ډول د سرحد مجلې د ۱۹۲۶ع کال په عید نمبر کې فضل اکرم

کاکاخېل د امان الله خان او افغانستان په باب کښلي دي : « امیرصاحب

( امان الله خان ) څوک دی او موږ څوک یو. یو پښتون ، یوه وینه

یو ذات ، یو نسل ، یو مذهب ، یو دین یو وطن ، یو ملک یوه ژبه ،

نو بېلتون څه دی ... او داپله خبره ده چې موږ د خپل افغانستان

د حکومت سوري لاندې نه یو او د غیر قوم ( انګرېزانو ) غلامان

یو که چېرې په څه وجه له موره بچي جلا کړې نو هغوی خوسره

قین نه شي، هغه شان مور او زامن وي . . . . » (۱)

که څه هم دا وخت پر افغانستان او پښتونخوا د حاکمو دوه

بېلا بېلو سیستمو تر اغېز لاندې په سیاسي، اقتصادي نظامونو کې

فرقونه موجود شوي وو، اما په فکرونو او ذهنونو کې لا څه ډېر

بېلتون نه ؤ راغلی . په همدې بنا ئه دا پړاو هم په حوزه یې بېله نه

مطالعه کوم او پښتني فرهنګ د رشد د یو واحد فکري سیستم تر

اغېزو لاندې یې یوځای څېړم .

هغه ليکوال چې آثارو يې ددې پړاو عناصرجوړ کړي او د دې پړاو ته يې په پښتنې فرهنگ کې د پيدا ښت زمينه مساعده کړې ده دا دي :

(۱) نورمحمد نوري افغان : د پښتو او دري ژبو ليکوال او په ديارلسمه پېړۍ کې د هندي سبک نماينده شاعر نورمحمد نوري هوتک افغان د پښتو نثر ليکنې د دې پړاو سرلاری دی . په افغانستان ، پښتونخوا او پنجاب سندھ کې او سېږلی دی او لندن ته هم تللی دی ( هندکې دپښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه ، ۳۲۹ مخ ) له انگرېز پښتو پوهانو سره محشور و . د زاورتي فياره يې په ۱۲۷۲ هق کال په ملتان کې تاريخ مرصع نقل کړی دی او د برېتانيا په کتابخانو کې د گلدستې يوه داسې خطي نسخه هم شته چې دده په خط په ۱۲۸۴ هق په کراچه کې ليکل شوې ده .

نورمحمد نوري افغان ژبپوه ، مورخ ، خطاط ، شاعر او نثر نويس و . ده په ۱۲۸۰ هق کال د غنچۀ دوه يا « تحفة الامير » په نامه يو پښتو گرامر ليکلی دی ، چې تر اوسه نه دی چاپ شوی . يوه نسخه يې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابخانه کې وه او يوه نسخه يې هم د برېتانيا په کتابخانو کې . په دغه کتاب کې دده ځينې پښتو نثرونه هم شته . د دې نثر يوټوکر دا دی :

« په سنه يوزر دوه اتيا هجري کې سردار محمد امين خان حق تعالی دې عفوه د تقصيراتو ورته وکړي . حاکم د قندهار وه . محرر ددې رسالې چې تقريباً يوه شپه په خدمت حاضر و . پس له طول د مکالمې و فرمايله چې په دا هومره سياحت کې که دې څه له عجايبو ليدلي دی په عرض يې ورسوه ... » (۲)

د نور محمد نوري دانثر د د پارلسمې پېړۍ له معمولو نثرونو څخه نه لږ پر مختللی دی. اما دده پرمختللي او د خلکو محاورې ته لنډ نثرونه هغه دي چې يې د غنچه روزه په پای کې ليکلي دی، دا نو وايو چې هغه حکايتونه دي چې د خلکو له فولکلوره اخيستل شوي دی، لکه: « کوم لټ خوار و توانګر ته ووې: که زه دې پر ورځ مړ شم څه به مې کړې؟ توانګر ووې: کفن به دې وکړم. خوار ورته ووې: يو قميص اوس راکړه چې مړ شم بې کفنه مې مېنخ کړه..»

د انثرونه .... زمونږ په خلکو کې د وړو وړو کي قصو په بڼه د ذوقمنو په حافظو کې خوندي وي.

(۲) برهان الدين: ښاغلي رفيع د پېښور د پښتو اکيډمۍ د خطي نسخو په فهرست کې يو جونګ معرفي کړی دی چې کاتب يې برهان الدين دی. او په پای کې د محمدې کاتب په قلم ځينې وړې قصې خوندي دی چې په خپل جوړښت کې د مولوي نور محمد افغان ليکلو وړو وړو کي قصو ته ورته دی، لکه دا قصه: « هسې وايي يو مزری او يو سړی په يوکور کې خپل تصوير وليد. زمري ته سړي وويل: ته د سړي مړانګوره چې مزری يې څرنګه لاندې کړی دی. مزري ځواب ورکه چې مصور انسان وه که مزری و، نو تصوير به داهسې شان نه وه..»

د هغه وخت په نثر ليکنو کې د دغسې قصو د ليکلو رواج سړي ته ورښيي چې زمونږ ليکوال دغه ډول حکايتي ژانرونو ته، چې د اولس له فرهنګه سره اړه لري، متوجه شوی وو.

د لته بايد يوه بله يادونه ضرور وکړو چې د مولوي نور محمد وړې قصې او هم د برهان الدين قصې شايد په ريښتو کې زمونږ له اولسي فرهنګ سره

ايه ولري، خو دا قصې او ټوکې داسې نه دي، چې لکه د نن ورځې فوکلور چې له ولسه ښتېږي او ټولونکي او يا ثبتونکي د دغسې ټوټو لوښويو آثارو ليکوال نه بلل کېږي، بلکه هغه د ولس فرهنګ دهغوی په ژبه راټول کړي او ثبت کړي دی، مګر ماته د مولوي نور محمد افغان هوتک او برهان الدين وړې قصې هسې نه ښکاري چې دوی دې راټولې کړې وي، بلکه دوی دا اوريدلې قصې پخپله ليکلي دي او ددوی انشاء ګڼلې کېږي، خو زيارېې ايستلی چې هسې ولیکي، لکه څنګه چې يې اورېدلي دي.

د دغو وړو ټوکي قصو په څنګ کې موږ ځينې نورې وړې قصې هم لرو چې په اکبر باچا، بيربل او د وپيازه پورې جوړې شوې دي. داقصې په منطقو کې له پخوانه ډېرې مشهورې دي، او د پښتنو په سيموکې يې هم دخلکو له خولو نه اوريدل کيدې. دغه کيسې پښتانه شاعر اوليکوال ملا نعمت الله (په دمخني بحث کې يې ډېر ځايه په نثرونو خبرې شوې دي) په پښتو نظم ونثر ليکلې دي. دوی وړو قصو پخواني ليدل شوی چاپ د ۱۳۱۳ هق کال دی. چې په دې حساب يې له چاپه په قمري حساب سږ کال (۱۴۱۶ هق) يو سلو درې کاله تېرېږي.

لنډه دا چې دغسې لنډو ټوکي قصو ته، چې زياتره په اصلاحي او انتقادي نتايجو بنا دی، د ديارلسمې پېړۍ په اواخرو او د څوارلسمې په اوايلو کې د ځينو ليکوالو نظر ور اوښتی دی.

(۳) مولوي احمد د تنګي: د پښتو له تکړه ليکوالو، ناظمانو او ذوقمنو اديبانو څخه يو هم مولوي احمد (۱۲۶۱ - ۱۳۰۰ هق) د تنګي د ی، چې ډېر منظوم او منثور آثار يې ليکلي دي او د پښتو نثر د غېرا او

له نو میا لیو نماینده ګانو څخه کمل کیږي .

په څینو منابعو کې راغلي دي چې دی له څینو انګریز پښتو پوهانو سره هم محشور سوی هم و . وایي چې څینو انګریزانو ته یې پښتو ښووله ( تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند ، ج ۱۳/۱۴۹ ) .

دده د پښتو نثر په آثارو کې لاندې دري کتابونه موږ ته معلوم دي:

- تاریخ سلطان محمود ، چې یې د ۱۲۸۹ هـ ق کال د دروستي خور په ۱۵ اړمه له ژباړې فارغ شوی دی (۳) دا تاریخ یې د محمد قاسم فرشته له تاریخ فرشته یا ګلشن ابراهیمي نه په پښتو ژباړلی دی .

- ګنج پښتو ، د ۴۹ حکایتونو مجموعه ده چې زیاتره حکایات یې له نورو حکایتي آثارو په پښتو ترجمه کړي دي . زیات حکایتونه یې د مولانا جلال الدین محمد بلخی ( ۶۰۴ - ۶۷۲ هـ ق ) له مثنوي معنوي څخه په پښتو ترجمه شوي دي .

دا دواړه کتابونه غالبًا اول ځل په ۱۸۷۲ ع کال په کلیدافغانی کې چاپ شوي . نور مستقل زاړه او نوي چاپونه هم لري .

آدم درخانی : د مولوی احمد آدم درخانۍ قصه لومړی ځل په ۱۸۷۲ ع کال هیوز په لاهور کې چاپ کړې ده او بیا په ۱۹۹۱ ع کال کې د ډکتور خالدخان خټک له مقدمې سره له پېښوره خپره کړه.

ما یې دواړه چاپونه لیدلي دی . زوړ چاپ یې ما د هندوستان د راجستهان د ایالت د ټونک د سیمې د عربي او پارسي څېړنو انستیتوت په کتابخانه کې لیدلی و . ګرده ۴۳ لوی مخونه لري یو مخ انګریزي مقدمه هم ورسره شته .

دده له نثرونو څخه به موږ د دوو کتابونو نمونې تاسې ته

وړاندې کړو.

له آدم درخانئ نه: «نقل دی له میرو نه چې د آدم خان ډېر آشنا او خاص ملګری و، چې په کوزه باړه کې د یوسفزیو سردار و، چې ډېر دولت یې لاره او نوم یې طاؤس خان و. او د هغه سردار یوه لور وه چې د هغې نامه درخانئ یا د ېدله.»

په تاریخ سلطان محمود کې د ده پښتو ترجمه داسې ده:

«جمع کوونکو د تاریخونو په مبارکو قلمونو سره چې په پایو د تصنیفونو خپلو هسې لیکلي دي چې سلطان محمود غزنوی یو بادشاه وه، چې شکبختي د دین او دنیا یې په نصیب شوې وه.»

موږ که د ده د نثر د وارې نمونې پخپلو کې سره وکورو، نو لیکنه یې تر ترجمې ډېره بهتره ده او ترجمه یې بیا هم د حیاتي پېړۍ د نورو نثر لیکونکیو د ترجمو په پرتله رواني ډېره لري.

## د پښتو نثر د دې پړاو په بهیر کې د ترجمې دیوې مختللي بهیر ونډه

---

د پښتو نثر د پرمختیایي یون په دې اصلاحي پړاو کې موږ ځینې ترجمې ګورو چې ژبه یې، د نثر کره وړه یې او د ترجمې رواني یې د دیار لسمې پېړۍ له نثرونو نه ډېرې ښکلي او ځانته ځانګړني لري.

هغه پښتو شوي آثار او د دې آثارو مترجمان چې له دې پړاو سره یې زما په عقیده تر سنت مسلم دی، دا دي:

الف - میا حسیب ګل کاکاخېل: دی د زیارت کاکا صاحب

او سپېد ونکی و . دتېرېږي د خټکو له نوابانو سره يې هم اړېکې درلودل . سياح سړی و . کله به په پښتونخوا کې و ، کله به په پنجاب کې او کله هم مهاراشټرا، ګجرات او دهند په نورو برخو کې .
ده دوفات کال ۱۳۰۵ هق ښودل شوی دی .

ده څو ژبې زده وې ، پښتو يې مورنۍ ژبه وه او دې ژبې ته يې دنظم ونثر له لارې دقدر وړ خدمتونه کړي دي .

نوموړي په دريو ژبو هم آثار پاته کړي دی . تذکره ليکونکيو يې په آثاروکې د ډېروکتابونو يادونې کړې دي ، خو ماته يې خپله دوه کتابونه ليدلي دی : يو بياض ، چې د پښتو او دريو دلرغونو آثارو ډېر ګرانبيه منتخبات ، خپل منظوم او منثور پښتو اودري آثار يې پکې هم خوندي کړی دی . او بل يې هم دده يوه منثوره ترجمه شته چې نقش نګين نومېږي .

ښاغلي رفيع دپېښور پښتو اکيډمۍ دخطي نسخو په فهرست کې يوه خطي مجموعه معرفي کړې ، چې د ميا سناء الدين کاکاخېل په خط ده دی مجموعه کې يې يوه قصه ښودلې چې د ابو القاسم سخي قصه نومېږی او داې ويلي دي چې داقصه ميا حسيب ګل په پښتو نثر ترجمه کړې ده .

ښاغلي طارق شاه ميا ماته وويلي چې له ده سره دميا حسيب ګل يوه ناچاپه منثوره ترجمه شته . خو دده په منثوروآثاروکې د ياد ونې وړ اثر د ډپټی نذير احمد د مشهور اردو ناول «مراة العروس» پښتو ترجمه ده چې په پښتو کې يې ورته دنقش نګين نوم ايښی دی او په همدې نامه په ۱۹۵۷ ع کال په پېښور کې داروابناد

مولانا عبدالقدوس قاسمي په همت چاپ شوې ده.

د ناول په ۱۸۱۸ع کال د ډپټي نذیراحمد په اردو لیکلی دی.
د ارواښاد مولانا عبدالقدوس قاسمي په وینا د ډپټي نذیر احمد د سرسید احمدخان د تحریک ملګری و او د خپل قوم خدمت یې دقلم له لارې کاوه. او لکه چې ارواښاد مولانا قاسمي ویلي دي: «د ناول نګار په حیثیت د ډپټي صاحب نذیراحمد دا خصوصیت دی چې ده هر ناول د یو داسې عیب او نقصان د راسملو په غرض لیکلی دی چې هغه قوم کې د ډېر خور او څرګند ښکاریدو.»

د ارواښاد مولانا د خبرو تعبیر سړی داسې کولای شي چې دا ناول یو اصلاحي او تربیتي ناول دی. ویل کېږي چې د ډپټي نذیر احمد دا ناول د خپلو لوڼو د تربیت لپاره لیکلی و. د اردو ادب نقادان د مراة العروس فني نیمګړتیاوو ته هم ګوته نیسي، خو د لته دې خبرې ته پاملرنه بکاره چې مراة العروس د اردو لومړنی ناول دی او هر نوی کار څه ناڅه نیمګړتیاوې او خامې ضرور لري. اما څه چې د دې ناول په باب په ویلو ارزي هغه دا دي چې دا ناول د ترجمې له کال وروسته چاپ او نشر شو او د هند په نیمه وچه کې خپور شو او لوستونکي یې پیدا کړل او د پښتانه میاحسیب ګل کاکاخیل توجه یې هم ځانته جلب کړه، چې خپلو خلکو ته یې په پښتو ترجمه کړي.

میاحسیب ګل کاکاخیل دا ترجمه په ۱۲۹۳ هـق کال د ګجرات په احمد آباد کې سرته رسولې ده چې تر ترجمې کلونه کلونه وروسته د پښتنو دې ترجمې ته پام شو او هغه یې چاپ کړه. د چاپي نسخې په باب یې داهم ویل کېږي چې په دې متن کې لاس وهل شوی دی او ځینې

برخي مصلحتاً یکې نه دي راوړل شوي (د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه، ۳۱٤ مخ)

د میا حسیب ګل د پښتو ترجمې یوه بېلګه دا دی: «چې لږ ساعت تېر شو محمد عاقل راغی، په نږه کې موتی موتی غټېدو، چې نن مې شنځې ډول جوړ کړې دی، دا ختر ورځ ده، اختر به وشی، په دروازه را ننوتلو دلته ځایه یې آواز وکړو چې راشه تنبل ګی دوېړه دې سبال کړه وېو وهه چې موږ دې هم تماشه وکړو ...»

د ا ترجمه خوږه، پخه، معیاري او له هر ډول قیده آزاده ده چې سړي یې د تالیف ګمان کوي، د ترجمې رنګ او اغېز پرې نه ښکاري.

ب- میا محمد یوسف کاکاخېل: د سرود پرو له کاکاخېلو میاګانو څخه و. د پښتو له ښو نثر لیکونکیو څخه ګڼل کېږي. د ده د ژوند زمانه د دیارلسمې پېړۍ اواخر او د څورلسمې اوایل اټکل کېږي.

میا محمد یوسف کاکاخېل هم لکه میا حسیب ګل کاکاخېل د ډیپټی نذیر احمد یوه اردو ناول «توبة النصوح» په پښتو ترجمه کړې دی.

دا ناول ډیپټی نذیر احمد په ۱۸۷۸ ع کال لیکلی و. او میا محمد یوسف کاکاخېل په ۱۳۲۳ هـ ق کال ترجمه کړې دی. دا پښتو ترجمه په زاړه هندوستان کې چاپ شوې ده او د چاپي نسخې د پاڼو شمېر یې ٤۳۸ دی. غالباً د ترجمې بیا کال به چاپ شوې هم وی. د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه، نوموړی کتاب ۳۳٦ مخ، د پښتو نثر تاریخ ۳٦٤ مخ، د پښتو نثر هنداره ۲٤۹ مخ کې د دې ترجمې کال ۱۳۲۲ هـ ق ښوولی دی چې مانه سم نه ښکاري، ځکه کومه چاپي نسخه چې ما لیدلې ده په هغې کې

خاتمة الطبع هم راغلې ده او له هغې څخه ښکاري چې دا کتاب په ۱۳۲۳ هـ ق کال ترجمه او چاپ شوی دی .

توبة النصوح هم لکه مرآة العروس يو اصلاحي ناول دی او کابو هغه اهداف تعقيبوي چې د مرآة العروس په ليکلو ليکوال ورته پام درلود.

د پښتنو په فرهنګي حلقو کې توبة النصوح د نقش نګين په پرتله ډېر مشهور و او د دې شهرت وجه به داوي چې دا ناول د مخه چاپ شوی و او نقش نګين تر يې کابو پنځوس کاله وروسته چاپ او په پښتنو کې خپور شو. د توبة النصوح د همدې شهرت وجه به وه چې زموږ په ادبي څېړنو کې توبة النصوح د پښتو لومړنی ترجمه شوی ناول ګڼل کېده ، خو کله چې نقش نګين چاپ شو، نو ښکاره شوه چې مياحسيب ګل تر ميا محمد يوسف ۳۰ کاله د مخه د همدې ډپټي نذيراحمد ناول په پښتو ژباړلی دی.

ښاغلي ليکوال نذير انځور د دې ډول اشتباهاتو د مخنيوي لپاره يوه اوږده مقاله کښلې ده، چې کابل مجلې خپره کړې ده.(٤)

توبة النصوح په پښتو نثر ژباړل شوی دی خو ځينو برخو په مېنځ مېنځ کې يې ځينې پښتو بيتونه هم شته. د ناول ځينو ټکو ته مترجم شرحې او حاشيې هم څېله ليکلې دي، لکه د ۳٤۲ مخ حاشيه :

« ناشکري نعمت کموي او شکرګذاري يې برکت ډېروي په دی کې درناوی او آزا دی .»

توبة النصوح په ښوږه او روانه پښتو ژباړل شوی دی. لاندې ډيالوګ ته يې پام وکړئ :

« سليم: تاسو نا حقه هغو غريبانو ته بد وايئ، د سر خړ ښيلو اجازه

خو کاکاجي هم کړې ده .

کلیم : کاکاجي اوس ته چي ناجوړتیا نه یا څنګه نو کړې یې ده که پخوا یې کړې ده .

سلیم : نه اول خو یې هیڅېرې څه نه دي ویلي . »(٥)

دې دواړو ناولونو نقش نګین او توبة النصوح پښتنو ته د پښتو دخوانده او سبکي نثر نمونې وړاندې کړي او هغه د پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل خبره : « دواړو ( میا محمد یوسف او حسیب ګل ) آزاده ترجمه کړې ده ، دواړو کتابونه صرف پښتو کړي نه دي ، پښتانه کړي یې هم دي او دواړه په ژبه ډېر قابو دي او په الفاظو یې ګرفت ډېر مضبوط دی ... »( دبي بي نوره مقدمه، ٢٧ مخ )

دې دواړو ناولونو سربېره پردې چې د پښتو نثر لیکنې په پختیا کې یې بهیرونو کې خپل بدل پرېښود ، بلکه پښتو لیکوالو ترې ډېر څه زده کړل او د سومشق په توګه یې نمونې په ناول نګارۍ باندې دا اثر تو خبرې هم کېږي ، لکه دوکتور محمد اعظم اعظم چې کښلي دي : « د مولوي نذیر احمد دا قسمه مثالي کردارونه د پښتو ناول نویسی د فن دپاره هغه رده ده چې په هغې باندې د موږ ناول لیکونکیو د خپلو تحقیقاتو بنا کړې ده ... » (٦)

د میا محمد یوسف کاکاخېل په آثارو کې د فرایض الحج او قصص یوسفي په نامه د دوو نورو کتابونو یادونه هم شوې ده .(د پښتو نثر هنداره، ٢٤٩ مخ ) ما خپله دا کتابونه نه دي لیدلي اما د عنوان النصایح په وروستیو برخو کې مې د قصص یوسفي په باب خبرتیا لوستې ده .

ج - مولوي عبدالرحمان : د دیارلسمې پېړۍ د اواخرو او څورلسمې

پېرې داوايلو له نثر نگارانو څخه دی . ده د ميرامن د دهلوي باغ وبهار نومي حکايتي اثر د چهارچمن نوبهار په نامه په پښتو ترجمه کړې دی. دا ترجمه په ۱۳۰۹ هرق کال د دهلي په خادم الاسلام نومي مطبعه کې چاپ شوې ده.

د پښتو نثر د تاريخ په يو کتاب کې باغ وبهار دامير خسرو تاليف بلل شوی دی (د پښتو نثر هنداره، ۲۱۳ مخ) دا خبره سمه نه ده. دا کتاب د ميرامن د هلوي (۱۸۰۳ع) تاليف دی (۷) باغ وبهار اصلاً د چهار درويش مشهوره قصه ده چې په شرقي فرهنگ کې ډېر شهرت لري، په نظم ونثر کښل شوې ده. په پښتو کې يې هم منظوم ورپانتونه شته او په پښتو نثر مولوي عبدالرحمان ايازي ترجمه کړې ده. د مولوي عبدالرحمان په چهارچمن نوبهار کې يوازې د لومړي درويش د سير قصه راغلې ده. د نورو درويشانو سير د قصو د ترجمې وعده يې هم کړې ده. خو ما ته څېله د نورو برخو ترجمه نه ده معلومه.

مولوي عبدالرحمان د دې قصې دا ترجمه داسې پيل کړې ده:

«اوس شروع د قصې کومه لوکيتي غوښتې کېږي ده، واورې منصفي وکړه په سير د چار درويش کې يې داسې ليکلي دي او ويونکي ويلي دي چې پخوا د روم په ملک کې يو بادشاه وه چې د نوشېروان په شان يې عدالت او د حاتم په شان يې سخاوت د هغه په ذات کې وه، نوم يې آزاد بخت وه او په قسطنطنيه کې چې استنبول ورته ويلي شي پايتخت وه. د ده په زمانه کې رعيت آباد، خزانه ډکه، مسافران او غريبان آرام او بې غمه وو. په خوشحاله او په معاش سره يې گذران کاوه....» (۸)

د ـ عنوان الدين کاکاخیل : د پښتو له ښو نثر لیکونکیو مترجمانو او ناظمانو څخه دی. د سوات د ملک حال یې په یوه مثنوي کې په ۱۸۸۲ ع کال د مارچ په ۸ مه نظم کړی دی (د پښتو نخوا د شعر هاراو بهار ۳۱ ـ ۳۳ مخونه)

دده له آثارو څخه غنیمت اثر چې دلته موږ باندې خبرې کوو، هغه عنوان النصایح نومیږي. دا کتاب د مولانا حسین واعظ کاشفي هروي (۹۱۰ هـ ق مړ) د اخلاق محسني پښتو ترجمه ده، دا ترجمه د عنوان النصایح په نامه په ۱۳۲٤ هـ ق کال ۳٦٤ مخه په سیالکوټ کې چاپ شوې ده. په تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند (ج ۱۳ ص ۱٤۷) کې یې د عنوان الدین نوم غفران الدین او د عنوان النصایح د چاپ کال ۱۳۲٦ هـ ق ښودلی چې سم نه دی.

د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جایزه نومي کتاب د ۳۸ مخ په حاشیه کې یې کښلي دي چې عنوان النصایح د اخلاق محسني نه، بلکه اخلاق جلالي ترجمه ده. دا خبره ځکه سمه نه ده چې اول پخپله مرحوم میا صاحب د کتاب پر سر ورق کښلي چې دا کتاب له اخلاق محسني ترجمه شوی دی. له دې پرسېره ما چې د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه نومي کتاب دا حاشیه ولوسته نو اشتباه راته پیدا شوه. د اخلاق محسني دري متن مې له پښتو عنوان النصایح سره وکوت، دا خبره راته زیاته شوه چې عنوان النصایح د اخلاق محسني پښتو ترجمه ده.

خو دیادولو وړ خبره دا ده چې عنوان الدین کاکاخیل هم ځای پرځای پخپله د دغې ځینې زیاتونې پکې کړي دي، لکه په ۷۲ مخ کې چې راغلي دي:

«له خوشحال خانصاحب نه نقل دی »

د دې اخلاق محسني نولسم باب د شفقت او مرحمت په باره کې دی. په دې باب کې یې د سبکتګین یو حکایت داسې نقل کړی دی : «آورده اند که سبکتگین پدر سلطان محمود غازی در اوایل حال صیاد بود که یک سر اسپ بیش نداشت و اوقات او به غایت عسرت میگذشت . هر روز به عزم صید به صحوا رفتی ، اگر صیدی بدست آمدی بدان گذرا نیدی . روزی آهوی دید که با بچهٔ خود در صحرا میچرید ، سبکتگین اسپ برانگیخت آهو بگریخت ، چون بچهٔ او خورد بود با مادر نتوانست گریختن او را بگرفت دست و پای ....» ( اخلاق محسنی ، ۹۳ مخ )

همدا حکایت د عنوان النصایح د نولسم باب په پای کې د «قصه د سبکتګین بادشاه» تر عنوان لاندې داسې پښتو شوی ده : «سبکتګین پلار د محمود بادشاه غزنوی و . اول اول سمجور یعنې صرف د یو آس مالک نوکر د بادشاه و . هره ورځ به ښکار ته ، تهٔ ، چې څه به یې بیا مونده هغه به یې خوراک شه . یوه ورځ یې هوسۍ ولیده چې خپل بچي سره څرېده . سبکتګین اس وځغلو ، هوسۍ وتښتېده او بچی یې لټ ونیو او کورته را روان شه . څه ساعت پس یې شاته نظر شهٔ نو هوسۍ یې ځان پسې حیرانه ګریانه را روانه ولیده ، اخر یې رحم راغی بچی یې ور آزاد کړ . هوسۍ چې بچی ولید ه ، نو خوشاله په تګ پونو شو او ساعت په ساعت یې سر اسمان ته نیوه ، لکه چې څوک دعا غواړي ګویا د حال په ژبان یې سبکتګین ته دعاګانې کولې .

سبکتګین هغه ورځ کورته خالي لاس ولاړ . د شپې یې په خوب کې حضرت رسول (ص) ولید چې ورته وایي : ای سبکتګین په داسې بې زبانه رحم کولو باندې خدای تعالی په تا ډیر مهربان شه او ته یې بادشاه کړې .....» (۹)

دا ترجمه د دې پېر د نورو ترجمو په څېر نه ده آیا ده ترجمه ده او ټولې هغه نښګڼې سرې پکې لیدی شي چې دیوې په نسبي ډول ښې ترجمې ځانګړې دي .

هـ - زینت جهان بېګم ؛ د نعمان الدین احمد کور و دانه ده . له خپلې ژبې سره یې بې کچه مینه درلوده . خپلې ژبې ته د خدمت په منظور یې د اردو ژبې رفیق عروس نومي کتاب د زینت النساء په نامه په پښتو ترجمه کړ . دا کتاب په ۱۳۲۳ هق کال چاپ شوی دی او د دې پېر په منثورو آثارو کې یې یادونه شوې ده او دا یې ویلي دي چې نوموړې دا کتاب د پښتنو ښځو لپاره ترجمه کړی و . ژبه یې ډېره ساده او عامې محاورې ته نژدې ده . زینت جهان بېګم پکې د پښتنو ښځو د ضروریاتو مطابق د ډېرې کمونې زیاتونې او سمونې او ترمیمونه کړي دي ( تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند ۱۴۷/۱۳ )

و - نظیر احمد کاکاخېل : دی د نعمان الدین احمد کاکاخېل زوی و . پلار او مور یې دواړه د پښتو ژبې د پرمختګ لېوالان وو . دواړه په پښتو د آثارو خاوندان دي . زوی یې هم د خپلو والدینو پر پله پل ایښی دی او د نظیر الاخلاق په نامه یې یو اخلاقي کتاب ترجمه کړی او لیکلي دي . د دې کتاب پېژندګلوي مؤلف خپله داسې کړې ده : « . . . والد فرمایل چې څه خدمت د قوم باید وه دی . په دې خیال چې اول د بېکارۍ نه څه کول ښه دي . دویم شاید چې داشان شغل د لیاقت د تالیف یا تصنیف پیدا شي . د نېکو هدایتونو جمع کولو په طفیل اول اثر په راقم وشي او په نېکې لارې په خپله مستقیم شي . څلورم دا چې د قوم د خدمت په برکت د راقم آینده دیني او دنیوي مشکلات الله تعالی

په ځيل فضل سره اسان کړي حسب فرمايش مې دا اقوال د شيخ سعدي رحمة الله عليه او شيخ عطار عليه الرحمة او د نورو بزرګانو هدايات راجمع کړل او ځيني ګفتار د والد مې ورسره کړل او په پښتو ژبه مې وليکل او حسب ذيل مې ترتيب ورکړ:...»

کتاب ۲۵ بابه لري، د معرفت، ايمان، عبادت، حقيقي محبت، علم عقل، نيک تربيت، نيک محبت، دوستي، ديانتداري، محنت، سخاوت فضول خرڅي، تواضع، صبر، قناعت او نورو عناوينو لاندې اخلاقي او تربيتي مسايل پکې بيان شوي دي.

د نظيرالاخلاق له ليکلو او ترجمې نظير احمد کاکاخيل د ۱۳۲۵ هـ ق کال د رجب المرجب په لومړۍ نېټه فارغ شوی دی او دا کتاب بيا د ۱۳۲۶ هـ ق کال په ربيع الاول کې په لاهور کې ۶۸ مخه چاپ شوی دی.

کوم پند ونصيحت چې په دې کتاب کې راغلي دي، څو نمونې يې دادي:

«د خدای تعالیٰ مينه بنده له ټولو غمونو خلاصوي».. «رښتونې آزادي د حقيقي عشق په طفيل حاصلېږي»، «حقيقي عشق د بنده ټول بې فايدې وهمونه او وسوسې لرې کوي..» (۱)

ز- منشي پير محمد: دی هم يو مترجم دی. ده چې په ترجمه کې له کومې شېوې کار اخيستی دی هغې ته په پاملرنه سرې د ده ترجمه هم د دې پرا و په ترجموکې مطالعه کولی شي. منشي پير محمد د دوکتور جيمز کنتلی اثر «زخميانو ته هدايتونه» په پښتو ژبا له کړی دی. دا کتاب ۲۹۶ مخه په ۱۹۱۰ ع کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

د منشي پير محمد د ترجمې رنګ دادی: «د زنګانه کوپړۍ يا خوپه زنګانه باندې لويدلونه ماتېږي او په دې سره اکثر ماتېږي

چې پښته و ښو یېږي او سړی له پر یو تلو نه ځان بچ کوي ...»
(پښتو نثر هنداره، ۲۶۱ مخ)

د منشي پیر محمد ترجمه هم اسانه، بې کړکېچه او ساده ده او د دې پړاو په ترجمو کې د ویلو وړ ځای لري.

ح- میا مشیرالدین کاکاخېل: دی د کاکاخېلو د کورنۍ یو ذوقمن سړی دی. پښتون قوم ته د قلم له لارې د خدمت کوم مهم چې نعمان الدین احمد شروع کړی و، میا مشیرالدین هم په هغې کې برخه درلوده. ده د دې ژبې خجسته بهار نومې اخلاقي کتاب د مشیر الاخلاق په نامه پښتو ترجمه کړی دی او په ۱۳۳۲ هق کال چاپ شوی دی. په تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان و هند ج ۱۳ ص ۱۴۷ کې یې د مشیرالدین نوم بشیر الدین راوړی دی، چې سم نه دی.

## د دې پړاو د نثر په وده کې د ژبې د زده کړې او د عصري او تعلیمي کتابونو برخه

د پښتو نثر د پرمختیا او سمون د دې پړاو د تکامل په جریان کې په افغانستان او د انګریزانو تر ولکې لاندې نیمه وچه کې څه داسې شرایط راپیدا شول چې د پښتو د زده کړې لپاره ځینې کتابونه ولیکل شي. او هم په عصري مکاتبو کې پښتو ته ځای ورکړل شو. کوم درسي او تعلیمي آثار چې په دې پړاو کې ولیکل شول نثرونه یې د خپل جوړښت له پلوه د دې پړاو له نورو نثرونو سره برابري او په ځینو برخو کې حتی زیاتې ښېګڼې لري، نو په همدې بنا موږ دا آثار د دې

پیاوړی کېږي او هغوی غواړي چې دې پوهنې آثار و ته یې د لیکلو زمینه مساعده کړي، هغوته په پاملرنه مونږ دا د پوهنې پښتو آثار هم دلته راوړو:

(۱) داسې ښکاري چې د دیارلسمې پېړۍ په اواخرو کې په هند کې موجود د پښتنو نوابانو زیاتره ژبه هېره کړې وه، خو د اهیله ورسره وه چې مونږ باید دخپلو پلرونو، نیکونو، میندو او انا وو په ژبه پوهېږو او یا کوم قوم ته چې مونږ نسبت کېږي د هغه قوم ژبه خورا ته معلومه وي. معلوم آثار داسې ښيي چې په همدې دیارلسمه پېړۍ کې د رامپور او ټونک په ښتني نوابیو کې نوابانو د پښتو د زده کړې اراده درلوده او څه آثار په همدې بنا مت کښل شوي دي، د دغو آثارو له جملې څخه چې د پښتو نثر لیکنې له جریان سره هم اړه لري یو هم د مولوي دوست محمد ټونکي ضابطهٔ افغاني ده. دا ضابطه د پښتو د زده کړې یو کتاب دی او تر ۱۲۹۹ ق کال د مخه کښل شوی دی او مؤلف دا کتاب د ټونک د ریاست د هغه وختني نایب نواب عبیدالله خان په غوښتنه کښلی دی. دا کتاب په اردو ژبه کښل شوی دی، مقدمه هم لري او په متن کې یې گرامري ضوابط او په پای کې یې قاموسي برخې ور اچولي دي، او له کتاب سره ضمیمه یې د زده کوونکیو د اشنایي لپاره څه پښتو منظوم او منثور متونه هم ورسره راوړي دي. کومې منثورې ټوټې چې په دې ضابطه کې راغلي دي، لیکوال زیاتره دا اندړو په لهجه په روانه او خوږه پښتو د خبرو اترو په بڼه خوندي کړي دي.

د مولوي دوست محمد د پښتو نثر نمونې دا دي: «څوان ستړی مه شې، مه خوارېږې، هرکله راشې، درشه نیکی، برېر راشی، بریاوسی له کومه راغلې؟ له پېښاوره، چېرته ځې؟ د کوم ته. څه کار دې ده؟

نوکری پسې ځم. بلکه د پښتنو وشو چې راغلي زما نوکر ته حاجت دی، نو زما نوکر شه ... »

مولوي دوست محمد اصلاً د غزني اندړو کورنۍ یې خورد کابل ته راغلي وه او په خورد کابل کې اوسېدله. په ۱۲۷۱ هـ ق کال له خیل نه سره د هلي ته لاړ. زده کړې یې هوري وکړې، په دهلي، اګره، رامپور او ټونک کې ګرځېدلی او هستېدلی دی، د پوهنې او تالیفاتو خښتن و. د ټونک د ریاست د شریعت او عدالت ناظم و. ټول عمر یې په تدریس، قضاء او تالیف تېر کړی دی. دی په ۱۳۲۸ هـ ق کال په ټونک کې ومړ او د سوتي باغ په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

(۲) انګرېزانو هم د خپلو ځینو فوځي افسرانو او ملکي مامورینو لپاره چې یې په پښتونخوا کې وظایف درلودل د پښتو له زده کړې سره علاقه ښوولې. دا مامورین به که انګرېزان وو او که هندوستانیان و، چې له خلکو سره د رابطې په خاطر پښتو زده کړي.

انګرېزانو خپله هم په دې لړ کې څه کارونه وکړل چې ما یې مخکې بحث کې لږ خبرې پروکړې. اما د دوی په خوښه او هڅونه ځینو نورو له دوی سره مشهورو کسانو هم د پښتو د زده کړې کتابونه وکښل. هغه کسان چې د انګرېز له تشویق سره یې په ارتباط کې څه داسې کارونه هم کړي دي او پښتانه لیکني سره اهم لوی شاني د ... کسان وو، خو په هغوی کې دا لاندې کسان د هبرې نه دي:

الف ـ مولوي محمد اسمعیل: د پښتونخوا د هزارې د دود یال اوسېدونکی و. پلار یې بهرام خان بن مکاف خان بن حسام الدین خان بن رحیم الدین بن محمد ګل نجابت خېل. د وی اصلاً سواتي

وه او په سوات کې اوسېدل. دی په مولوي محمد اسمعیل مشهور و.
پروفیسور محمد نواز طایر کښلي دي: « مولوي محمد اسمٰعیل خان د پنجاب یونیورسټي فیلو آنریری مجسټریټ او د وایسرای دربار ی دی د پښتو ژبې ادیب، شاعر او مؤلف و. (روهي ادب ۴۹۳-۴۹۴ مخونه)
جیمز دارمستټر چې دکوم محمد اسمعیل یادونه کړې هغه به غالباً همدغه مولوي محمد اسماعیل وي، ځکه ده ویلي دي چې: « محمد اسمعیل خان په ایبټ آباد کې له ماسره مرسته وکړه ... ددې مجموعې اتیا په سلوکې دده د مرستې مېوه ده ... » (د پښتونخوا د شعر هار و بهار مقدمه، ۳۲ مخ)
دې سړي د پښتو حوزه کې لیاره د بر کتابونه کښلي دي چې د څو نومونه یې دا دي: آئینه الفاظ افغانی چې په ۱۳۰۰ هـ ق کال تالیف شوې ده. یوه خطي نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې ده (فهرست مشترک ۱ مخ) په روهي ادب کې (۴۹۳ مخ کې) د دې کتاب نوم آئینه الفاظ و معاني راغلی دی. دی وایي دا کتاب اول ځل په ۱۸۸۴ع کال ۱۴۴ مخه په ایبټ آباد کې چاپ شوی دی.
اتالیق پښتو دده بل کتاب دی چې په ۱۸۹۶ع کال په ایبټ آباد کې چاپ شوی دی. خزینهٔ افغانی، سوال و جواب افغانی، پښتو خبرې اترې چې په ۱۸۹۰ع کال په لاهور کې چاپ دی. گفتگوی افغانی با ترجمه هندوستانی چې په ۱۸۸۳ع کال په ایبټ آباد کې چاپ شوی دی. قصهٔ هرني به زبان افغاني چې دا کتاب په ۱۸۸۳ع کال په ایبټ آباد کې چاپ شوی دی. ده دوه نور کتابونه هم لیکلي چې افغانی کی پهلی کتاب او دوسری کتاب چې دا دواړه

دده تر مرینې ورو ستنه چاپ دی. لټ مورېی د ١٨٩٥ع کال
د جون په ١١ نېټه وفات شوی دی.

دده په کارونو کې دنثر برخه شته. ددار مستېټر په عوښتنه يې
هم څه نثرونه ليکلي دي چې په هار وبهار کې چاپ دي.

د پښتو نخوا د شعر هار و بهار کې چې د محمد اسماعيل کوم نثرونه
راغلي دی او دار مستېټر يې تصديق کړی چې دا محمد اسمعيل ليکلي
دي، يوه برخه يې دا ده: «اصلاً قصه دا رنګه ده چې د سلطان
سکندر بادشاه لوی وزير لقمان حکيم وه. د ملک ټول تدبير به ده
کوه او هر څه چې به يې ويل نو بادشاه به منل. له دې کبله نورو
وزيرانو ورسره دښمني کوله....»

دده نثرونه د دې پېر د نورو نثرونو غوندې روان او
بې ګنډو او بې سکتو دي، خوږلت هم پکې شته.

ب - مرزا محمّد اسمٰعيل: ما په فرهنګ ادبيات پښتو
٤٢٩ م کې يو بل د دغسې صفاتو خاوند محمد اسمٰعيل هم معرفي
کړی دی چې له نامه سره يې د مولوي پر ځای د مرزا صفت مبتی
دی.

دا سړی کندهاری دی. دی هم لکه مولوی محمد اسمعيل له
انګريزانو سره محشور شوی و. زما په يا د پښتو نو کې راغلي وو چې
دی په ١٨٣٨ع کال سندهـ ته لاړ. درا ورټي له استادانو څخه وو او
دژوند تر پايه د انګريزانو د پښتو معلم و. د هيوز او پادري ليونتال
لياره يې                د عيسوی مذهب ځينې کتابونه د هم
په پښتو کړل او په ١٩١٣ع کال وسو.

خو کله چې د تحقیق په جریان کې د دوړیال د مولوي محمد اسمعیل کتابونه مخې ته راتلل، نو شک پیدا شو چې کوم ندي دا مرزا اسمعیل به هم همدا مولوي اسمعیل وي، ځکه دواړه له انگریزانو سره مخشور خلک دي، خو د پروفیسور نوازطایر صاحب روهي ادب زما دا اشتباه رفع کړه او په دې مې یقین حاصل شو چې ما څه لیکلي دي، هغه سم دي او دا دواړه اسمعیل نو مې یو سړی نه دی.

پروفیسور طایر د مولوي نسبي مفصل شرح حال راوړی، چې په لوستو یې د دواړو بېلتون له ورایه ښکاري. د مولوي محمد اسمعیل شرح حال، خو د روهي ادب په حواله تاسې ولوست او دا معلومه شو چې مولوي محمد اسمعیل د دوړیال و او اصلاً سواتي تاجک و، اما دا بل اسمعیل کندهاری او غالباً د کلات د سیمو غلجی و، چې راوړي یې پخپلو آثار وکې د کوکوي او په مرزا محمد اسمعیل کندهاری مشهور و.

د کندهاري محمد اسمعیل په باب چې ما په فرهنگ کې کومه اشتباه کړې ده هغه دا ده چې ما د دارمستېتر په هاروبهار کې ځینې راغلي پښتو نثرونه د دغه کندهاري مرزا محمد اسمعیل بللي دي (۱/ ۴۳۰)

دا نظر په سمه نه ده او د دارمستېتر چې په ایبټ آباد کې له کوم محمد اسمعیل سره مخ شوی دی او له هغه سره یې مرسته کړې ده، هغه به د دوړیال مولوي محمد اسمعیل وي چې ډیا تره په ایبټ آباد کې له انگریزانو سره یو ځای اوسېده او اکثر کتابونه یې په ایبټ آباد کې چاپ شوي دي.

د مرزا محمد اسمعیل کندهاري په کارونوکې هم د پښتو نثر ځینې بېلگې شته، خو کوم کتاب چې زه اوس تاسې ته ښایم، زما

په کمان شاني دهمدغه مرزا محمد اسمعيل کندهاري له نامه سره تېرون پيدا کېږي .

دا کتاب سعادتنامه افغاني نومېږي ، چې زمونږ په پښتو څېړنو کې يې اول ځل دارواښاد خان روشن خان په همت يا دونه وشوه(۱۹) خو دې يادونې ځينې غلطۍ داوزېږولې چې ځينو نورو کتابونوته يې هم لاره وکړه .

ارواښاد روشن خان ديو ليک په ترڅ کې سعادتنامهٔ افغاني د پېښور د پښتو اکيډيمۍ په پښتو مجله کې معرفي کړه او هلته يې وويل چې د دې سعادتنامې مؤلف سعادت خان دابراهيم کاموي زوی دی او دا يې هم وکښل چې داکتاب د تواريخ حافظ رحمت خاني له زمانې لرغونی معلومېږي .

داغلطي دهمدې منبع نه دارواښاد استاد حبيبي دوروکي مؤرخين نومي کتاب ته هم ورسيدله او زما د فرهنګ ادبيات پښتو دوهم ټوک په (۱۲۱) او (۲۵۹) مخونو کې تکرار شوه .

کله چې ما سعادتنامه ولیدله ، نو راته ښکاره شو چې نه د سعادت خان تاليف دی او نه هم سل په سلو کې دغه څه چې خان روشن خان ښودلی دی .

سعادتنامهٔ افغاني په ۱۸۶۶ع کال په پېښور کې چاپ شوې ده او پرسرېې ورته ليکلي دي : "حسب الحکم معلی الالقاب مستر هنری بکت صاحب بهادر قايم مقام انسپکټر مدرس حلقهٔ سرحدی . در مطبع جیلی پشاور به اهتمام میراکبرشاه داروغهٔ محبس طبع شد"

داکتاب يو درسي کتاب دی چې د مؤلف په قول داوو ورځو

سبقونه یې یکې راټول کړي دي .

دا کتاب په پیل کې یوه مقدمه لري چې پیل یې د رحمان بابا په ښځه بېتونو شوی دی او بیا وروسته راغلي دي : « نقل دی چې هدایت خان نوم یو لوی خان و ، یو زوی یې و ، چې نامه یې سعادت خان وه . یوه ورځ د هدایت خان په زړه کې دا خبره وګرځېده چې زما یو خوږ زوی دی ، تر اوسه چې وړوکی و او وخت د لوستو یې نه و ، اوس چې هر کله لایق د لوستو دی بنایي چې سبق ته یې کښېنوم چې علم زده کړي ....»

له کوچنۍ مقدمه وروسته د اوو ورځو سبقونه راغلي دي . د څلورمې ورځې سبق یې داسې شروع شوی دی : «د پېښور پېښانه ټول دې کوره دی ....» د شپږمې ورځې : «او اوره حال د غوریه خېلو چې د وی ځرنګ له قندهاره پېښور ته راغلي دي .....» د اوومې ورځې سبق : «اوس واوره ټول د خټکو پېښور ته ...»

د سعادت نامې د پای برخه دا ده : « نو بیا استاد سعادت خان ته مخ ماهاوه چې خان دادی تاریخ د پښتنو چې د وی دکوم ځایه او په څه دود سره پېښور ته راغلي دي . سعادت خان ورته وویل : هو چې ښه پوه شوم .... خو زه یو عرض لرم که قبول شي . استاد ورته وویل وایه خان !

ده وویل که دا د هفتې سبقونه راته د یو کتاب په شکل ولیکلی شي ، چې دا ما څخه وي او کله کله یې زه ګورم ، چې هېر مې نه شي نو غوره به وي . ځکه ما به هم دا تاریخ یو ژوندی او وینې پښتون

ساتي . نو استاد په دغه وخت کې خپل مرزا محمد اسمعيل ته مخ واړاوه چې محمد اسمعيل! ښه وايي دا خبرې به سعادت خان له ديو کتاب په شکل کې وليکې ، خو نوم به ورله سعادتنامه کيږدې او ورله به يې ورکړې . نو ما محمد اسمعيل دا د هغې سبقونه او تاريخونه سره دنصيحتونو په څو پاڼو کې وليکل او د خپل استاد محترم په وينا مې ورله نوم سعادتنامه کېښود او سعادت له مې ورکه چې زړه يې خوشحاله شي .... »

ماته دا سې ايسي چې د پښتو دغه درسي کتاب چې تاريخي مسايل اونصايح پکې راغلي دي ، دا به هماغه مرزا محمد اسمعيل ليکلی وي . البته دا هم له کېد ونه لېرې نه ده چې ليکوال دې کندهاری مرزا محمد اسمعيل نه وي ؟

ج- رتن چند : دی دکندهار له هندوانو څخه و ، دنولسمې پېړۍ په اوا خروکې په کوټه کې اوسېده او دکوټې اسستنټ کمشنر و . ده د پښتو د زده کړې څېنې کتابونه ليکلي دي ، لکه رهنمای پښتو اولنجي پښتو . د ده په آثارو کې دجنګ عظيم په نامه يو کتاب هم يا دشوی دی . ده چې د پښتو دزده کړې کوم کتابونه ليکلي دي په هغو کې څېنې دا سې منثورې جملې اوټوټې شته چې سړی يې په نثر ليکونکيو کې حسابولای شي .

د ده رهنمای پښتو چې په ۱۸۹۲ع کال په البرټ پريس کوټه کې چاپ شوې ده دا دول جملې لري، لکه :

اوس څه ، تاله خوب درځي ، هغه له دې ځايه څو ميله ده . ( دوفا جريده ، ۱۳۷۳هش کال دميزان ۳ ګڼه )

(٤) د نولسمې پېړۍ په اواخر وکې په نيمه وچه دحاکموانګرېزانو په پاليسۍ کې دې بدلون هم ځان را ځرګند کړ چې د پښتو د زده کړې د منفردو منشيانو او استادانو د يالنې ترڅنګه يې د پنجاب دحکومت په تعليمي سيستم کې د نورو ژبو ترڅنګه د پښتو تدريس ته هم ځای ورکړ او دې کار بيا پسې ادامه پيدا کړه او ريښې يې د پښتنو خپلو سيموته هم ورسيدې.

د پروفيسور تقويم الحق کاکاخېل وينا ده: «د پنجاب يونيورسټي په پښتوکې د پرا فيشنسی، های پرا فيشنسی او آنرز امتحانونه اخيستل شروع کړل او د هندوستان د نورو ژبو په صف کې يې پښتو ته هم ځای ورکړ و. عبد المجيد سعدی افغاني او شمس العلماء ميراحمد شاه رضواني، د رهبر اخلاق، بهارستان افغاني، شکرستان افغاني په نومونو کتابونه و ليکل او د انګرېزي مدرسو د مختلفو درجو دپاره يې په انګرېزانو منظور کړل ...» (١٢)

د پښتو دا دوه سووونکی، چې نومونه يې د پروفيسور کاکا خېل د مضمون په لوړه اقتباسي ټوټه کې راغلي دي، په عصري مدارسو کې د پښتو له لومړنيو ښوونکو څخه ګڼل کېږي او له دې برسېره د پښتو نثر ليکونکی هم دي، چې زه به يې پرآثارو لاندې خبرې وکړم:

(الف) ميراحمد شاه رضواني: شمس العلماء ميرا حمد شاه رضواني (١٢٧٦ - ١٣٥٣ هـ ق) له کثير التصنيف پښتنو ليکوالو او شاعرانو څخه دی. په پښتو، دري، عربي او اردو ژبو يې ډېر منظوم او منثور آثار ليکلي دي. ما اورېدلي چې په انګرېزي هم آثار ترې پاتې دي.

د مير احمد شاه رضواني په پښتو آثار وکې: بهارستان افغاني

د ۱۸۹۸ع کال چاپ او شکرستان افغاني د ۱۹۰۵ع کال چاپ موږ ته معلوم دي . دا دواړه کتابونه د درسي مقاصدو په منظور لیکل شوي او پر سر ورق یې ورته کښلي دي : « د سلسلهٔ تعلیم پنجاب »

په دې کتابونو کې د پښتو د زړو متونو (نظم ونثر) منتخبات هم راغلي دي او د ده خپل لیکلي واړه منثور مضامین او حکایتونه هم پکې راغلي دي .

د ده د نثر لیکلو شېوه داسې ده : « د کابل او هندوستان په مینځ کې د پېښور ملک د باغ ارم نمونه خدای پیدا کړی دی . سرسبز ملک شنه غرونه ، خوږې اوبه ، لذیذې مېوې ، خوشرنګ ګلونه ، ښایسته خلق یې د ننداروړې . پنځه سیندونه پکې جاري دی ، ځای په ځای کې ولې بهېږي د باغاتو حساب یې نشته .

دا ایران د ترکستان د هندوستان عجایباتو کور دی . دده آب وهوا په هر طبیعت موافقه ده ځکه په ده د هر وطن خلق آباد دي ، خونیات پکې پښتانه دي ، چې په ننګ او غیرت او مېلمستیا او دینداری کې په جهان کې مشهور دی ... » (۱۳)

د رضواني نثرونه د دې پړاو د مشرانو په پرتله ډېر خوانده شوي او کلیوالي اصطلاحات او محاورې یې په حکایتونو کې راوړې دي او ځینې ټوکې قصې هم ده په منثور و آثار و کې سره موندل شي .

(ب) پروفیسور عبدالمجید افغاني : د پښتو له پخوانیو استادانو د ردمنو پښتنو ، سولیکوالو او د فکر خاوند وشاعرانو څخه دی .

دی د باجوړ اتمانخېلو . تحصیل یې د هندوستان په اګره کې

کړی و.

پروفیسورعبد المجید افغاني خپله دخپل ځان په باب دجمال افغاني په ۹۹ مخ کې دعرض حال ترسرلیک لاندې ویلي دي:

«دا به ډېره نامناسبه نه وي که چېرته د دې بې مایه مؤلف لن حقیقت ناظرینو ته معلوم شي. زه په افغانستان کې دهغې خطې باشنده یم چې په جهالت کې دهېوادونو زیاته ده او هغه داتمانخېلو علاقه ده. دسرحد تمام قبایل دعلم او تهذیب نه بې بهره دي مګر په هېوادونو کې داتمانخېلو نمبر اول دی.... زه په وړوکوالي کې هندوستان ته تلی وم او لکه چې نور افغاني طلباء په هندوستان کې اوقات په سرکړي. هم په هغه شان ماهم خپله تکلیف ده طالب علمۍ زمانه تېره کړې ده. زما د زندګۍ تمام روېداد دا دی...»

دپښتو په ډېرو ښوونځیو کې یې دعربۍ او فارسۍ ژبو استاذي کړې ده. داستاذۍ په سلسله کې یې دپښتو نصابي کتابونه هم لیکلي دي. دپښتو نصابي کتابونو کومه سلسله چې مولوی عبد المجید افغاني لیکلې ده، نوم یې پر رهبر اخلاق ایښی. بناغلي همیش خلیل په پښتانه لیکوال کې له پنځم صنف نه تراتم صنف پورې بولي.(١٤) چې په دې حساب یې باید ټول څلور وي، اما استاد ښتين داسلسله د «شک کے اس پاره» په حواله دری جلده ښوولې ده. (پښتو نثر هنداره، ۲۷۹ مخ).. اما ما خپله د دې سلسلې یوازې یوه برخه لیدلې ده، چې پرې لیکل شوي دي: «رهبراخلاق (پښتوکورس) حصهٔ دویم برای جماعت ششم» دا جلد ۲۷۰ مخه لري. ۲۵۱ مخه یې د نثر برخه ده پاتې یې د نظم. د نثر د برخې

عمده عناوین یې دادي : خدای ، دخدای قدرت ، مذهب ، پیغمبران ... ، اتفاق ، باد شاه ، درسول الله (ص) عادت ، علم او اخلاق پښتون اصل څوک دی ، دخدای صفت ... . دا کتاب په ۱۹۳۶ م کال په پېښور کې چاپ دی .

پروفیسور عبدالمجید افغاني له دې تعلیمي سلسلې پرته پښتو نثرته نور کارونه هم کړي دي ، لکه دده د سید جمال الدین افغاني دژوند په باب یو کتاب په پښتو ترجمه کړی دی . لیاسه یې لیکل شوي دي : « جمال افغاني ترجمه حیات جمالي ، جناب مولوي عبدالمجید صاحب ابوالعلائی باجوړی عربي پروفیسر مشن کالج پېشاور مصنف سلسله مشاهیر افاغنه .

دا کتاب اول ده په اردو لیکلی و او بیا یې د ثمین جان خان په غوښتنه پښتو کړ . پر دې ترجمه چې دیوضروري عرضداشت ترسرلیک لاندې کوم یادښت کښلی دی ، هلته یې لیکلي دي : « په دې کې هیڅ شک نشته چې دځو پورې کوم قوم ته هم د هغه قوم په ژبه کې تعلیم ورنکړی شي ، هغه قوم ترقي نشي کولی . د پردۍ ژبې اثر ډېر کم وي او خپله ژبه هله خپل قوم ته نفع رسولی شي چې په هغې کې قومي خیالات او جذبات موجود وي ... » (۱۵)

جمال افغاني ۱۰۰ مخه په اگره کې چاپ شوی دی .

پروفیسور عبدالمجید افغاني د رحمان بابا پر دیوان یوه مقدمه هم کښلې ده . دغه راز د خوشحال بابا د کلیات کومه چاپي نسخه چې په ۱۹۲۹ ع کال دهوتي مردان د تاجرانو له خوا چاپ شوې ده پر هغه هم مقدمه همدغه پروفیسور عبد المجید افغاني کښلې ده . د رحمان بابا

اوخوشحال بابا دیوان او کلیات ته اول ځل د ه پښتو مقدمې لیکلې دي،
د ده ترمقدمه لرونکیو (چاپونو) مخه چاپونه یې بې مقدمو چاپ شوي دي.

پروفیسور عبد المجید افغاني په هغو لومړنیو لیکوالو کې هم حسابیږي
چې د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې یې په پېښور کې پیل شویو پښتو خپرونو
ته مقالې لیکلې دي .

د مثال په توګه د سرحد مجلې د ۱۹۲۶ع کال له فبروري ګڼې څخه د
احکام اسلام تر سرلیک لاندې د ده ځینې پښتو مقالې نشر شوي دي. دا مقالې
په څو ګڼو کې پرله پسې راغلي دي . د لمانځه او اوداسه احکام یې په
پښتو ژبه خپل قوم ته ډېر ساده بیان کړي دي .

دغه راز په پښتون مجله کې هم د ده سیاسي مقالې چاپ دي. د دې مجلې
د ۱۹۲۸ع کال د جولای په ګڼه کې د پروفیسور عبدالمجید یوه مقاله ده :
« په شاه غازي امان الله باندې د بزرګانو نظر» .

لنډه دا چې پروفیسور عبد المجید افغاني د تعلیمي کتابونو تر څنګه
په نورو برخو کې هم پښتو نثر لیکلی دی، که څه هم د پروفیسور عبدالمجید
تعلیمي کتابونه په لوړه کې د هند دینیې وچې د هغه وخت د نصابي کتابونو
تر اغېز لاندې، د رضواني د تعلیمي کتابونو، لکه: شکرستان او بهارستان عوندې
د نظم و نثر په حصو ویشل شوي دي . خو کوم مواد چې ده دواړو
د خپلو تعلیمي کتابونو لپاره انتخاب کړي دي هغه سره توپیرونه لري .
رضواني زیاتره د زړو نثرونو په انتخاب اکتفاء کړې ده او خپل لیکلي
نثرونه یې هم ځینې کوچنۍ مضامین او واړه حکایات دي، مګر د پروفیسور
عبد المجید په تعلیمي کتابونو کې اسلامي جذبه او قومي روحیه ډېره
زیاته ځلیږي او په همدې روحیه ده خپل کتابونه ترتیب کړي دي .

د پروفیسور عبدالمجید افغاني دزوکړې کال سباغلي همېش خلیل په پښتانه لیکوال کې ۱۸۸۲ع ښودلی دی، خودمرینې کال یې ده نه دی راوړی. استاد رښتین د پښتونثر هنداره ۲۸۰ مخ کې کښلي دي چې پروفیسور به ۱۹۴۷ع کال کې (۱۳۶۶هـ ق) وفات شوی دی. اما ماچې د ښاغلي رفیع په ملګرتیا د پېښور دنوتیې په هدیره کې د پروفیسور عبدالمجید افغاني د مزار زیارت وکړ، د ده د مزار پر لوحه یې د ده د مرګ کال ۱۳۶۷هـ ق کښلی دی. په دې حساب ۱۳۶۶هـ ق کال سم نه ایسي. خودلته یوه خبره شته چې د تقویم تاریخي (۳۴۲مخ) له مخې د ۱۳۶۷هـ ق کال دوې لومړنۍ میاشتې د ۱۹۴۷ع کال له وروستیو میاشتو سره برابرېږي، نو داچې استاد رښتین د ده د مرګ کال اول په میلادي سنه ۱۹۴۷ع کښلی، د ا څرګندوي چې دی به د دې کال په وروستیو میاشتو کې مړ وي، الله دې وبخښي.

(۵) که څه هم په افغانستان کې عصري ښوونځي د امیرشیرعلي خان په د وهمه پلا پاچهۍ کې جوړ شوي دي، مګر د هغه وخت په ښوونځیو کې ما سره څېله د پښتو د تدریس سند په لاس کې نشته. تر امیرشیرعلي خان وروسته چې کله امیرعبدالرحمن خان راغی، نو هغه د ملک د رغون او د خلکو د ایلولو په کار داسې بوخت و چې د عصري مکاتبو او اخبار خوا ته یې هیڅ توجه نه کوله او یا داچې ورته نه وزګارېده. اما مطابع په کابل کې موجود وو او پښتو کتابونه یې چاپېدل له دې سربېره د همدې امیرعبدالرحمن خان په زمانه کې کندهاري سید محسن د شهزاده حبیب الله په غوښتنه د پښتو د زده کړې کتاب د «ګلدستهٔ افغاني» په نامه وکښی. د اکتاب د دریځ بو

ندهکړو لیاره لیکل شوی و او داثري ښکاري چې هغه وخت له پښتو سره په دربارکې یوه علاقمندي موجوده وه.

دکتاب مؤلف په مقدمه کې لیکلي دی: «جناب بندهٔ تعالی حضرت ظل سبحان را شوق تعلیم افغاني دامنگیر و متقبل خاطر عاطر منظهر خورشید نظاير ش گردیده بود، لذا حسب المدعای شهزاده بلند اقبال تحریر و تسوید و تسطیر این اوراق را به لغط افغاني قندهاری که اسهل ترین و فصاحت ترین الفاظ افغانستان است، املاء نمودم ...» (گلدستهٔ معاني، خطی، ٤ مخ)

اما هغه عصري مکتب چې د امیر حبیب الله (۱۳۱۸-۱۳۳۷ هـ ق) په دوران کې په ۱۹۰۳ ع کال د حبیبیه په نامه جوړ شو، په دې ښوونځي کې د پښتو تدریس په هماغه سواچې عصرکې پیل شو. دغه وخت ځینې نور ښوونځي او مدارس هم په کابل کې موجود وو. دهغه زمان له مکاتبو او معارف سره په منسلکو کسانو کې هم ځینې نثر لیکونکی وو، چې ددې دوران د اصلاحي پړاو له وخت او غوښتنو سره یې نثر لیکنې ترسره کړې، نو ځکه زه ځان اړ بولم چې دغه ښاغلي ددوی له نثرونو سره ددې پړاو د بشپړتیا لپاره تاسې ته دروښیم:

(الف) مولوي عبدالرؤف کاکړ: دکندهار د کاکړو د یوې علمي کورنۍ عالم او دانشمند غړی مولوي عبدالرؤف کاکړ، چې خاکي یې تخلص وه، دامیر عبدالرحمن خان او امیرحبیب الله خان په زمانو کې په کابل کې اوسېدٌ او له دربار سره محشور سړی و. دی دشاهي مدرسې مدرس، د باچاهي حضور ملا امام او دسراج الاخبار افغانستان- چې یوازې یوه گڼه یې په ۱۳۲۳ هـ ق کال خپره شوه، مدیر و. دی د مولوي عبدالرحیم زوی و، په ۱۲۶۷ هـ ق کال زوکړی دی او د مړینې کال یې ۱۳۳۳ هـ ق کال

ښودل شوی دی. په یوه کتاب کې یې دده د مړینې کال ۱۳۴۳ هـ ق لیکلی دی. (د پښتو نثر هنداره، ۲۵۹ مخ) دا نېټه سمه نه ایسي، ځکه په دغه کال مولوي عبدالرؤف سراج الاخبار افغانستان چاپ کړی دی. او بله دا چې دده د مړینې خبر په سراج الاخبار افغانیه کې اعلا بناد محمود طرزي په خوا تاثر چاپ کړی دی، چې وروستي شواهد له هغې سنې سره سمون نه خوري.

مولوي عبدالرؤف خان فاکر د پښتو، دري او عربي ژبو لیکوال و. ده د کچکول په نامه یو کتاب په دوو جلدونو کې لیکلی دی، چې پښتو برخه هم پکې وه. د سورهٔ فاتحه او د قرآن عظیم د وروستي پارې تفسیرونه یې هم په پښتو کښلي دي. دده د پښتو، دري او عربي تالیفاتو شمېره ۱۱ ښودل شوې ده. دده په باب د اخبرې په ځینو منابعو کې راغلې دي، مګر نه یې ما پښتو منثور آثار لیدلي دي، نه یې دې خبر یم چې له چا سره او یا په کومه کتابخانه دی. زما د معلوماتو له مخې چاپې د نثر و یو نمونه یې تر اوسه په مطبوعاتو کې نه ده خپره کړې، خو د دغه عصر د لیکوال او پښتو نثر لیکونکي په توګه یې ما هم یاد وونه یې ځایه و نه بلله.

(ب) مولوي غلام محی الدین افغان: د افغانستان د معارف له لومړنو کارکوونکیو، روښانفکرانو او په افغانستان کې د پښتو ادبیاتو د روښانتیا د پړاو سرلاري غلام محی الدین افغان (۱۲۴۹-۱۳۳۹ هـ ق) په پښتو نظم او نثر لیکلي دي. دده دوې پښتو منثورې لیکنې موږ ته معلومې دي چې یو یې یوه مقاله ده چې عنوان یې داسې ورته ټاکلی دی: (د افغانستان د سعد زرو مرغه دی) او بل یې سبه

پښتو ټولنه يې اعلان دی (٣٦) . دده خپله مقاله د ارواښاد ميراحمدشاه رضواني د بهارستان افغاني څينو مضامينو، لکه دسرو زرو مرغه او د پېښور ملک، ته خاصه پاملرنه کړې او ددغو مضامينو تر اغېز لاندې يې خپله مقاله په داسې سبک ليکلې ده چې مجموعې کې د رضواني سبک پلوی ښکاري . د ده له پښتو مقالې څخه يوه برخه :
« او سلطان سکندر چې د جهان په نيولو له خپل ملکه راوتلی وه ...
او په حدود د قندهار کې يې په خپل نامه باندې يو ښهر آباد کړ او هغه ته يې سکندر آباد وايه او نادر چې راغی پر هغه جای باندې يې نادر آباد ښهر تيار کړ او احمدشاه بابا خو په خپل نوم باندې احمد آباد ښهر جوړ کړ او اوس (لکنه کې) هغه قندهار دی چې په سبب د خوږو ميوو د بادشاهانو نومونه تر ېېرته سوله او خپل ملکي نوم يې پاتې سنه ...»
ده چې کوم پښتو اعلان په سراج الاخبار کې خپور کړی دی په هغه کې يې ليکوال هڅولي چې د پښتو د ترقۍ لپاره په پښتو مضامين وليکي او دا يې هم ويلي دي چې که څوک زما يا د بل په مضامينو څه خبره لري خپل نظر دې په پښتو وليکي او سراج الاخبار ته دې واستوي، که يې زه له ځواب عاجز شوم نو پښتوس روپۍ به انعام ورته ورکړم . که سړی ددې اعلان مطالعه وکړي ، نو دا ورته ښکاري چې ليکونکي له خپلې ژبې سره تر کومه حده علاقه درلوده او دا يې هيله وه چې خلک پښتو ليکلو ته وهڅېږي .

(ج) مولوي صالح محمد هوتک : مولوي صالح محمد هوتک (١٣٠٧-١٣٨٠ ق) هم د امير حبيب الله خان د عصر له ښوونکو څخه و . ده په سراجي عصر کې په حبيبيه ښوونځي کې پښتو ښووله او په دې منظور يې د دري پښتو

درسي کتابونه لیکلي دي چې : لومړی کتاب دپښتو، دویم کتاب دپښتو او دریم کتاب دپښتو په نومونو له ۱۳۳۳ هق نه تر ۱۳۳۷ هق کال پورې چاپ شوي دي. داسې ښکاري چې لومړی ټوک یې دوه ځله چاپ شوی وی. ځکه استاد رښتین په کابل کې ددې کتاب دچاپ کال ۱۳۳۳ هق ښودلی دی (پښتو نثر هنداره، ۳۱ مخ)
او په پښتو کتابښودکې یې د لومړي کتاب دچاپ کال ۱۳۳۵ هق ښودل شوی دی او دچاپ ځای یې د لاهور دین محمدي مطبعه[(۱۷)]
دده د فرهنګي فعالیت دوره په سراجي عصر کې پیل شوې او بیا یې په مداوم ډول ترمړګه پورې دوام کړی دی. ده دوه نور پښتو درسي کتابونه هم لیکلي دي چې "پښتو ژبه" نومېږي. دا دواړه کتابونه په ۱۳۱۶ هش کال په کابل کې چاپ دي. ده یو هم ډېر کال د زېرې جریده چلوله. د اوخت د زېرې جریدې هم دپښتو دزده کړې په منظور تعلیمي اهداف تعقیبول.
دده په درسي آثارو کې حکایتي ټوټې ډېرې دي او دده درسي کتابونه له دې اړخه ډېر غني دي. مولوي صالح محمد له دې درسي کتابونو سربېره ځینې نورې منثورې ټوټې، حکایتي ژانر پورې مربوط خطي نور منثور آثار هم لري چې څه برخه یې ښاغلي لیکوال محمد معصوم هوتک راټوله کړې ده او دده د آثارو په مجموعه کې یې خوندي کړې ده، چې د "پاڅلي وینا وې" ترسرلیک لاندې په ۱۳۶۹ هش کال د نوموړي محمد معصوم هوتک په همت چاپ شوې ده.
د اروا ښاد صالح محمد هوتک په نثرونو کې حکایتي ژانر ته د سر اړښت ورکول کېږي او له حکایتي انداز نه اغېزمن ښکاري. او کله یې

دی د زیري جریدې لومړنی چلوونکی هم و، ده په دې اخبار کې ډیری حکایتونه او لنډې لنډې نکلونه چاپول او هغه د فقید کبرس خبره چې د غو نکلونو او قصو د لوستونکو توجه ځانته جلبوله (پښتو هنري نثر ۴۹ مخ)

دده د نثر ونو د هغه د غو خصوصیاتو د لوړوله امله ما په دغه برخه کې راوړل او د هغه پړاو دی چې د غه ډول حکایتي ژانرونو ته یې خاصه توجه لیدل کېږي.

دده د نثر ونو یوه بېلګه داده: «یو نوی ځوان و، نظر یې پرمېږي ولوېده، چې د ختو دانه یې په خولې اخیستي وه، پرده پوال یې خېژوله، ځني ولوېده، راښکته شو واپې خیسته، پورته یې کره، بیا ځني ولوېده، بیا راښکته شو واپې خیسته. الحاصل چې پنځلس شپاړس واره ځني ولوېده، آخر یې په خپل همت د مطلب ځای ته ورسوله. ځوان په ډېر تعجب ورته کتل، فکرو اخیست، چې مېږی هم په خپل عزم او همت ومطلب ته ورسیده ...» (پښتو نثر هنداره، ۳۰۳ مخ)

## ددې پړاو له نثر لیکني اغېز من نور لیکوال

د پښتو نثر د اصلاح او بره تګ په دې پرمختیایي پړاو کې پر پښتو نثر لیکنه چې کوم بهیرونه مؤثر وو، هغه مو په دې پړاو په خپل خپل ځای مطالعه کړل. خو له دې پړاو سره مربوط ځیني نور لیکوال هم شته چې په نثر لیکنه کې یې ددې جریان اغېزې مشهورې دي:

(۱) غلام محمد پوپلزی: د اسری د مولانا الطاف حسین حالی پاني پتي (۱۸۳۷ - ۱۹۱۴ ع) د آثار و مترجم دی. ده د حالي دوره

کتابونه یو مسدس حالی او بل هم حقوق اولاد په پښتو ژباړلي دي. که څه هم ددې دواړو کتابونو ترجمې په نظم دی، خو له نثر سره هم اړه لري او اروا ښاد پوپلزي پر دواړو ترجمو منثوري مقدمې کښلي دي.

دده مقدمې په ترجموکې نه راځي، بلکه دده خپلې کښنې دي اصلي کتابونو چې دا مقدمې پر کښلې شوې، ترجمې کوي، نو ځکه دده د نثر کاروونه ددې پړاو له دې بهير سره يو ځای راوړل.

دغلام محمد پوپلزي د مسدس حالي ترجمه درې ځله چاپ شوې ده. تر ټولو پخوانی چاپ يې ۱۳۱۰ هـ ق کال دی. ده دې ترجمې ته يوه ۳۲ مخيزه منثوره مقدمه هم ليکلې ده او له خپل طرز فکر سره سم يې ځينې اجتماعي او اصلاحي نکات هم پکې بيان کړي دی. دغه راز ده د منظومې ترجمې د متن ځينې تشريح غوښتونکي ټکي په حاشيو کې په پښتو نثر تشريح کړي دي.

غلام محمد پوپلزي دا مقدمه داسې پيل کړې ده: «د ټولو مسلمانانو په خدمت کې عرض دی چې دا کتاب مد و جزر اسلام چې الطاف حسين صاحب انصاري پانی پتي مقيم ددلی چې تخلص يې حالي دی په اردو ژبه د مسلمانانو د ترقۍ او د تنزل دپاره ليکلی دی. په دې ورقو کې محض په خيال د خير خواهۍ د اسلام او د مسلمانانو خصوصاً د پښتنو له اردو نه په پښتو ژبه ترجمه کړی شه. دا هغه کتاب دی چې په لیدو يې په تمام هندوستان يوه زلزله پربوتې ده ...» (۱۸)

د همدې ترجمې د منظوم متن د ۷٤ مخ يوه حاشيه داده:

«فصاحت- بلاغت دعربو ذاتي جوهرو. په جنګ کې به د هغوی د تقریرنو په صوب (سبب) دځوانانو زړونه مضبوطېدل او د مخالفانو زړونه به ماتېدل. د هغوی ژبو به په جنګ کې د نېزو او غشو کار کاوه»

د حقوق اولاد مقدمه هم په پښتو نثر ده، ټول مخونه یې ۹ دي.

د دې کتاب اصلي متن چې په اردو حالې لیکلی دی همدغه پوپلزی غلام‌محمد خان ترجمه کړی دی. زما په یوه مقاله کې چې په مستعار نامه په خپلواکه مجله کې چاپ ده(۱۹) هلته راغلي چې دا کتاب په پښتو نثر ترجمه شوی دی، داخبره ماسمه نه ده کړی. د متن ترجمه په نظم ده یوازې مقدمه یې په نثر ده.

په دې مقدمه کې یې هم ځینې اخلاقي او تربیتي خبرې کړي دي او د نثر لیکلو شیوه یې داسې ده: «که دقوم دهمت خاوندان محض د ثواب په امید او هم د قوم د فایدې په لحاظ د دې کتاب په رواج کې کوشش وکړي او خپل قوم او خپلو زامنو وروڼو او وریرونو عزیزانو ته که لوستونکي وي که نالوستونکي د دې کتاب مضمون واوروي نو امید دی چې د پښتنو په زړه علم ته شوق پیدا شي» (۲۰)

د حقوق اولاد ترجمه په ۱۳۱۵ هق کال په دهلي کې چاپ شوې ده. دغه راز نوموړي پوپلزی د پښتو یوه قاعده هم لیکلې ده او د دې کتاب د لیکلو زېری یې د حقوق اولاد د ترجمې د مقدمې په ۶-۷ مخونو کې ورکړی دی. ده ویلي دي چې ما د قاعدهٔ محمدي په نامه یو کتاب لیکلی دی، چې د ریې حرفي لرې او یو بې سواده به ترې په یوه یا دوه میاشتو کې سواد زده کړي.

(۲) نعمان الدین احمد کاکاخېل: د دې پېر یو فرهنګي او په پښتو مین لیکوال و. ده له پوازې خپله پښتو ته کار کړی دی، بلکې نورو ېې هم دې کار ته هڅولي دی. د دې پراو د ترجمو په بهیرکې څه کارونیارشول په اکثرو کې د ده هڅو نې ستا ملې دي.

د خپل یو کتاب ظفرالنساء په پای کې یې یو اعلان خپور کړی چې له متنه یې د یاملرنې ور نکات تر لاسه کېږي، ده هلته کښلي دی: «دهرچا چې علم په خپله ژبه کې وي هغه علم زر حاصلولی شي، ځکه دا ضروردی چې علمونه او فنونه په پښتو ژبه بیان شي. نو که چا دکوم علم یا کوم فن کتاب په پښتوژبه تصنیف یا تالیف کړ، زه به په قدر دکوښښ د هغه او په اندازه دضرورت او مناسبت د مضمون دحسب حیثیت خپل انعام ورکړم او دکتاب په اشاعت کې به یې مدد وکړم»

د دې اعلان لوست سړی په دې باوري کوي چې عنوان الدین احمد کاکاخېل دخپلې ژبې د پرمختیا لپاره او د دې ژبې د علمي کېدو لپاره له ځانې هڅو برسېره پرمالي زیان هم اېښه و او لیکوال یې دې ته هڅول چې پښتو ته څه وکړي.

د ده مېرمن او زوی هم د پښتو لیکوالان وو، پردې لارې دهغوی یون هم د ده له هڅو سره یې اړیکي نه دی.

ځکه چې مویې یا دونه وکړه دی هم د پښتو لیکوال و. د ده په آثارو کې د ابن بطوطه سفرنامه او ظفر النساء یاد بڼوی دي.

ما خپله د ابن بطوطه سفرنامه نه ده لیدلې، خو ظفرالنساء مې لیدلې ده. د دې رسالې د نامه او محتوی په باب عنوان الدین احمد کاکاخېل لیکلي دي: «چون که دا رساله خاص د ښځو د تعلیم د پاره لیکل

مشـــوې دہ ، قصه کې یوې ښځې برې موندلې دی ، ځکه د دې
نوم ظفرالنساء کېښودی شه اوهم ددې نه یې سنه ۱۳۲۲هرق کال
دتصنیف جوړېږي ››

دظفرالنساء کومه چاپي نسخه چې ما ليدلې ده په لومړیو څوارلسو
مخونو کې یې مقدمات راغلي دي او په ۱۵ مخ کې یې قصه پیل شوې
ده . د دې مقدمې یوه برخه داده : ‹‹ اسلام په اوله زمانه کې
او پس له هغې هم د پېرې مسلمانې بیبیانې ښې ښې عالمانې تېرشوي
دي . دنظیر په طور دیوې بي بي قصه چې په اصل کې وینزه وه
لیکن علم یې کامل لره ، په دې مطالب نقل کوم چې خلق عبرت واخلي
او پوه شي چې مستوراتو ته تعلیم ورکول عیب نه دی ، بلکه سراسر
فایده ده ... ›› (۲۷)

د ده دظفر النساء د لیکلو په هدف به تاسې پوه شوي یاست
ده غوښتل چې د ده رسالې له لارې په پښتنو ښځو کې دتعلیم شوق پیدا
کړي . له دې څرگندونې ښکاري چې ده دا خبره درک کړې وه ، ترهغې
چې خلک سواد ونه لري او تعلیم ونه لري ، نو په ټولنه کې د علم دعامولو
خبرې هم هسې بابیزې دي . نو په دې اساس د لیکوالو د تشویق
ترڅنگه یې په خلکو کې د تعلیم د جذبې دپیدا کولو لپاره هم کار کاوه .
ده تعلیم د ښځو او نرو دواړو لپاره غوښت . دی پوهېده چې دده
قام د ښځو له تعلیم سره چندان مینه نه لري ، نو ځکه ده ورته ظفرالنساء
ولیکه او د دوی له مزاج او روان سره برابره یوه داسې قصه یې پکې
بیان کړه ، چې پښتانه موضوع ته متوجه کړي .

(۳) مرزا دوست محمد : د مرزا دین محمد زوی او دپیر محمد

علی جبل لمبحی و. دی په نوښار کې اوسېده . عریضې به یې لیکلې.
د لیکلو ذوق یې هم درلود . کله چې په ۱۳۲۵ هـ ق کال حج ته لاړ
له بېرته راستنېدو سره سم یې د حج د سفر گزارش او د حج د مناسکو
لارښوونې په یو کتاب کې وکښلې او نوم یې ورته «سراج الحج»
کېښود . د ده سراج الحج په ۱۳۲۹ هـ ق کال په لاهور کې چاپ شوی.
په دې کتاب کې د نثر لیکنې دا روش تعقیب شوی دی «... حج یو مشهور
عبادت دی او له پنځو بنا وو نه یو یې بناء د اسلام ده ، چې شوق یې
هر مسلمان لري ، خو په غنیانو باندې فرض ...» (۲۲)

(٤) قاضي رحیم الله : دی د پېښور د آبدرې اوسېدونکی و. د
زوکړې نېټه یې ۱۸۸۷ع بېنول شوې ده. په ۱۹٤۱ع کال مړ دی . دی هم
له انگرېزانو سره مخشور سړی و. د پښتو ښووونکی پاتې شوی دی خو
ژبې یې زده وې . له پښتو او افغانستان سره مینه یې درلوده کتاب
د مقدمې له دې ټکو هم ښکاري : «د دې رشو کلونو نه زما داخیال و
چې زه په دا خپله استدعا د افغانستان فرمانروا ته په څه شان عرض
کړم ، چې تا سو څانونو ته افغانان وایئ مگر کار وبار د حکومت او
عدالتونو په فارسي ژبه کوئ ... چېنین اتفاق یوه ورځ په یو دعوت
کې د سردار محمد یوسف خان مامور وېزه متعین د پېښور سره مې
خبرې اترې وشوې ، ما لا د دې خبرې ذکر کړی نه و ، چې سردار
صاحب وفرمایل چې حکومت د دې خبرې د پر خواهش لري چې پښتو
په تمام افغانستان کې رایجه شي ....»

له افغانستان سره مینه یې له دې هم څرگندېږي چې د ده د خپل
مکتوبات افغاني نومې کتاب (په دمځني څېړنې کې یې خبرې شوې دي)

د افغانستان د پخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په نامه لیکلی دی.

استاد رښتین د ده د تالیفاتو شمېر ۸ ښوولی دی (د پښتو نثر هنداره ۲۳۲-۲۱۴ مخونه) چې ځینې یې گرامري، مکتوبات، د ژبې درده کېدې کتابونه او دوی هم دراموي دي.

ده د گنجینه افغاني په نامه پښتو گرامر لیکلی دی. دده پښتو قاعده هم په دې ردیف کې حساببدلای شي. او (The Modren pushto) یې په دوو جلدونو کې کښلی دی، دواړه جلده یې په پېښور کې چاپ دي. د اول ټوک په ۲۸۸ مخ کې دا وړه قصه: «یوه ورځ یوې ښځې خپل خښتن ته وویل چې له نن تاریخ نه پس بیا مې نشې وهلی او نه راته کنځل کولی شي. خښتن ورته وویل دا خبره دې پرېښه خیال وکړه، زه درته کمزوری ښکاره شوم او که خپل ځان درته مضبوط ښکاره شو او که د خپل پلار په قوت مغروره شوې چې بیا دې نشم وهلی. ده ورته وویل چې بس بیا مې نشې وهلی.»

دده په آثارو کې دوی دراموي هم یادې شوې دي.

یوه «همت» او بله هم نوی روښني. نوې روښني یوه اصلاحي درامه ده چې د کتاب د مقدمې په ج مخ کې یې هدف او موضوع داسې تشریح شوې ده: «د یکې د وطن روا جونه، د هلکانو او جینکو د تعلیم نتیجې او د مور و پلار د حکم نه بغاوت او د هغې نتیجې او په خوارو بې کسو ظلم کولو نتیجې او د پرېښه بنه مذهبي لکېږونه لیکل شوي دي.» (۲۳)

دا ډرامه قاضي رحیم الله په ۱۹۳۲ع کال لیکلې ده . مایه فرهنګ ادبیات پښتو (۱/۱۹۱) کې لیکلي دي چې دا ډرامه له اردو نه ترجمه شوې ده. دا خبره ما سمه نه ده کړې . دغه راډیه یو بل کتاب کې راغلي دي :

«د نوې روښنۍ د مقبولیت غټ ثبوت دا دی چې د کابل والي امیر امان الله خان دا تصنیف په ډیر تعداد کې وغوښتو» (ډرامه ۵ مخ)

دا خبره ځکه سمه نه ده چې دا ډرامه د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت له لومړنیو کلونو سره مصادف لیکل شوې ده .

د ډرامې د بیان روش دا دی :

«نه چې د آزاد د کوره وشړل شوم ، نو د تیلیانو په محله کې اوسېدم له دغه ځایه راجه بازار ته یو تروېتی له راغلی وم ، چې د دې مبو د عه مکارې په دام کې ونښتم ...»

قاضي رحیم الله خان د فتح خان کندهارې نکل هم په روانه پښتو لیکلی دی . دا نکل د «قصهٔ فتح خان قندهاری» په نامه د پېښور د مکاتیبو له پاره د نثر پېړیو منتخبه مجموعه کې چاپ دی (۸۱-۸۶ مخونه)

(۵) منشي احمدجان : د پښتو نثر د میدان یو غښتلی پهلوان دی . منشي احمد جان (۱۳۰۰ - ۱۳۷۰ هق) په پېښور کې اوسېده . ویل کېږي چې په اصل کې د افغانستان د مقر وه . ده په پښتو درې اثر لیکلي او ترجمه کړي دي ، چې په هغو کې تاریخ افغانستان ، هغه دغه او د قصه خوانۍ ګپ شامل دي .

منشي احمد جان په پېښور کې د انګرېزانو پښتو ښوونکی و . د ده د قصه خوانۍ ګپ او هغه دغه هم د انګرېزانو له پاره د پښتو زده کړې په درسي نصاب کې شامل وو . دغه درې سره

کتابونه لومړی ځلي په ۱۹۳۰ع کال چاپ شوي دي . دقصه خوانئ
ګپ اوهغه دغه دوهم ځل په ۱۹۸۵ع کال په پېښور کې دښاغلی قلندر
مومند په همت چاپ شوي دي .

منشي احمد جان تردغو درې کتابونو دمخه دپښتو دزده کړې يو
کتاب هم ليکلی و چې نوم يې و : How to speak pustu . ددې
کتاب مقدمه د ۱۹۲۷ع کال دمارچ په ۲۰ نېټه په پېښور کې ليکل شوې
ده . دکتاب پرسرورق دمؤلف نوم قاضي احمد کښل شوی دی ، اما
دمقدمې په پای کې AHMAD JAN راغلی دی .

ما اول ځل دا کتاب په ۱۹۸٤ع کال ددهلي په ساېروهاوس لايبريرۍ
کې وکوت . دکتاب پر سرورق دقاضي احمد نامه زه شکی کړم او
داسې مې وانګېرل چې دا به دبل چا اثر وي ، ځکه چې د منشي احمدجان
کوم يا دښوي درې کتابونه چې ما ليدلي وو، پرهغو خو دمؤلف
او مترجم نوم منشي احمد جان راغلی و . خو کله چې مې دقصه خوانئ ګپ
کې دکرنيل سی ، ايل ، پرته مقدمه ولوسته، هلته يې هم کښلي وو
چې دا کتاب دپېښور قاضي احمد جان کښلی دی . بيا په دې پوه شوم
چې How to speak pushtu هم همدغه منشي احمدجان ليکلی
دی .

د منشي احمد جان دا کتاب How to speak pushtu په
بېل کې يې ګرامري بحثونه کړي دي ، دا بحثونه ٥١ مخونه يې
وربيسي برخه يې په درسونو ويشل شوي ټول ٤٠ درسونه
پکې راغلي دي . ټول کتاب ۱٥۹ مخه دی .

منشي احمد جان يو بل فرهنګ هم ليکلی دی چې نوم يې دی :

« Glossary of the Ganj-i-Pakhtu »

ددې کتاب پر پوهنې یې هم دده نوم قاضي احمدجان چاپ کړې دی او دایې ورسره لیکلی دی چې دپښور د پښتو منشي . خو په دې کتاب کې یې دده پلار نوم هم لیکلی او ویلي یې دي چې د قاضي عبدالرحمان خان زوی دی.

ددې فرهنګ یوه چاپي نسخه ماته ښاغلي ورو صمیم صاحب راوړه کومه مقدمه ورسره نشته، نو یې دچاپ کال ښکاره دی. دګنج پښتو په نهه څلو پښتو حکایتونو کې راغلیو لغاتو ته یې انګریزي معناوې کښلي دي. په پای کې یې دوی ګرامري ضمیمې هم خوندي دي. (په ما لیدلې نسخه کې متن یې ۷۰ مخه دی.

د منشي احمد جان له دغو دوو یا دوشویو کتابونو برسېره دوه دریم نور پښتو کتابونو کې تاریخ افغانستان دملسون نومي انګریز دکتاب پښتو ترجمه ده . استاد رښتین یې د ترجمې ستاینه کړې ده او دایې ویلي دي چې د ترجمې رنګ ډېر لږ یکي لید ل کېږي . پښتو محاورې او سوچه لغات پکې راغلي دي . د ترجمې له مطالعې څخه یې ښکاري چې منشي په دواړو ژبو کې دپوره صلاحیت خاوند و (دپښتو نثر هنداره ۲۲۵ - ۲۲۶ مخونه) . دده له دوو نورو کتابونو څخه یو «دقصه خوانۍ ګپ» کې : آدم خان درخانۍ، جلات محبوبا، فرهادشیرینه، لیلی مجنون له فوکلورنه اخیستل شوې قصې په روانه پښتو یکې لیکل شوې دي. رښتینې مینه او دپښتون بدل د ښاغلي قلندر مومند دوینا مطابق دوې افسانې دي. په کتاب کې راغلې پښتو نومې بله افسانه په اردو کې حفیظ جالندهري لیکلې او منشي احمدجان پښتو ترجمه کړې ده.

د ملیا دمو او ختنا ورو مقدمه ندې کتاب بل مضمون دی، یوټوپیا د دې کتاب بل مضمون دی، چې د سرټامس مور له انګریزي کتاب نه یې په پښتو ترجمه کړې دی. د یوټوپیا د ترجمې د ارزښت په باب ښاغلي قلندر مومند کښلي دي: «یوټوپیا د براهم تحریر دی. د ریاساش نه پس ته، یو سیاسی دستاوېز هم عالمي سیاست او عالمي معاشیات دواړه هومره متاثره کړي نه دی، لکه چې د سرټامس مور دې دلچسپ او دلکش تحریر په ټوله عجیبه دوول کړې دی او زه دا د پښتو ژبې خوش قسمتي ګڼم چې ... د دا قیمتی تحریر د منشي احمدجان له برکته زموږ ژبې ته راواوړېدو...» (د قصه خوانۍ ګپ، ح، ط مخونه)

د قصه خوانۍ ګپ کې دا لوړې یادې شوې قصې، افسانې (لنډې کیسې) او مضامین منشي احمدجان یا پخپله لیکلي دی او یا یې ترجمه کړي دي مګر په قصه خوانۍ ګپ کې د ځکولو تر سرلیک لاندې په سرحد کې د هغه وخت نشرېدونکو خپرونو، لکه سرحد، افغان او پښتون نه ځینې اقتباسونه هم شته، چې اصلاحي او اخلاقي مضامین یې دي او په پای کې څه منتخب نظمونه هم راغلي دي.

په (هغه دغه) نومي کتاب کې اول پنځه او یا واړه حکایتونه راغلي دي، داوړې قصې اکثر د ټوکو بڼه لري. په دې کتاب کې راغلی د ټوپه د زړاو توزه بلا هم ښاغلي قلندر مومند (طویل مختصر افسانې) بللي دي: د سکانو بادشاهي، مسلماني او د دهلي غدر په دې مجموعه کې د دې نور راغلي مضامین دی چې غالبًا په منشي احمدجان ترجمه کړي وي. همدا راز په دې کتاب کې «طبیب هغه چې په ځان یې تېر وي» تر سرلیک لاندې ځینې اخلاقي نصیحتونه راغلي او

د مصر د یو مصنف خیالاتو یې یو بل سره لیک دی. د سعید قصه د دې کتاب وروستی مطلب دی. بناغلي قلندر مومند د دې قصې په باب وایي دي:
« د سعید قصه یوه زړه راښکونکی قصه ده، خوله بده مرغه منشي احمد جان دا نه ده سنګاره کړې چې د وی دا له چا څخه ترجمه کړې ده »
دده نثرونه، که څه هم ده خپله لیکلي دي او یا یې ترجمه کړي دي روان، خواږه، په اصطلاحاتو، متلونو او دکلیوالو ترمنځ مستعملو محاورو پسولي لیکلي دي.
دده د پښتون بدل نومې لنډې کیسې یوه برخه داسې شوې دی:
« د مردان د علاقې یو کلي میر نومې سړي وه، چې د خپلو یو کلیوالو تللې و. هلته دغه یو نیم کال نژدې شوی و. وروسته یې خپه خوارې مزدورۍ کوله، بیا یې یوه ورځ غونډې هنتې واچوله...» (۲۴)
د منشي احمد جان او نورو د مخکیناو د شوې قاضي رحیم الله په نثرونو کې ځینې نمونې داسې شته چې هغه په هنري نثر کې د وړ ډیر حق لري او یا لږ تر لږه د ژانري تصنیف له مخې یې باید سړی په دې ډول نثرونو کې مطالعه کړي. خو دا چې د دوی د لیکنو سبک او یا نور زیاتره آثار د خپلو موضوعي او شکلي ځانګړنو له امله د دې پړاو نثرونو سره اړه لري، نو ځکه ما د غه خلک له خپلو آثارو سره هم له دې پړاو سره ونښلول.
* * *

# په آزادۍ بخښونکو غورځنګونو

# پورې تړلي لیکوال

څیني نور لیکوال او نثرلیکونکي هم موږ لرو چې نثرونه یې ... د خپلو خصوصیاتو او ... دتبارز د بخت له مخې سره له دې پړاو سره په ارتباط کې مطالعه کولای شي .

دا کسان که له یوې خوا لیکوال وو، نو له بلې خوا یې له څینو نهضتونو سره هم اړیکې درلودې او له انګریزانو سره دمبارزې په لاره کې یې نه ستړې کیدونکې خدمتونه کړي دي .

له دې پړاو سره همزمانه چې د انګریزانو پرضد کوم نهضت سر راوچت کړی دی، هغه د ترنګزو حاجي صاحب تحریک دی .

د ترنګزو حاجي صاحب (١٨٨٥-١٩٣٧ع) په باب ښاغلی محمد شفیع صابر په شخصیات سرحد کې لیکلي دي :

« په سرحد کې چې چاتر ټولو دمخه د انګریزانو خلاف جهاد پیل کړ هغه د ترنګزو حاجي صاحب و ... » (٢٥) په ١٩١٦ع کال یې د بونیر په غزا کې د ډېرو غازیانو قیادت وکړ . دی د آزادو قبایلو د غازي آباد په سیمه کې اوسیده . له ١٩١٦ع کال وروسته یې له ١٩١٩ نه تر ١٩٣٦ع کال پورې له انګریزانو سره مسلسلې غزاګانې وکړې .

د ده په ملګرو کې لیکوال اوشاعران ډیر وو، خو دوه تنه چې آثار یې له دې پړاو سره مرتبط دی، موږ ددې پړاو په دې برخه کې ښیو:

(الف) مولوي تاج محمد: مولوي تاج محمد (۱۲۸۷-۱۳٤٤ هـ ق) د میر احمد زوی و. دی په قام سلیمان خیل و. نیکه یې د امیر دوست محمد خان په زمانه کې له افغانستان نه سرحدي سیمو ته راغلی و. مولوی تاج محمد په دې سیمو کې زوکړی او دلته لوی شوی و. درس یې په لاهور کې ویلی و. تر درس وروسته یې د تدریس وظیفه درلوده، بیا د ترنګزو د حاجي صاحب ملګری شو او دغه په اصلاحي کارونو کې یې برخه واخیسته. وروسته آزاد سرحد ته په مهاجرت مجبور شو او د حاجي صاحب سره یې د مدرسو په جوړولو، د خلکو په روزلو او غزاوو کې برخه واخیسته. له غازي امان الله خان سره یې هم روابط وو. د منګلو د بغاوت په وخت کې پکتیا ته ولاړ، هلته ورته ناروغتیا وررپیښه شوه، په خوست کې وفات شو او هلته خاورو ته وسپارل شو.

مولوی تاج محمد چې په مهتمم صاحب مشهور و په پښتو یې نظم او نثر لیکه. دري یوکه قلمي یا د ښتونه تري پاتې دي چې په پښتو او دري ژبو د نظم و نثر نمونې یې پکې شته. استاد رښتین په خپل کتاب د «مهتمم ژوند» کې د ده څینې منثور پښتو آثار څرګند کړي دي، چې یو پکې د څلویښت حدیثونو پښتو ترجمه ده او د بل عنوان دی د حکمت خبرې (۳٦).

د ده د نثر یوه نمونه داده: «هرکار هر سکون و حرکت د خدای.

تعالی په اذن سره کیږي هر وخت هغه ته خیال پکار دی او دمخلوق له طرف نه که څه وشي له جورو جفا نه دهغې زغمل پکار دي »

(ب) مولانا فضل ربي: دی د سید محمود زوی اصلاً د هزاره د یکلی د سیموؤ او د تنګرو د حاجي صاحب د ولې ملګری و. د مهاجرتونو په سلسله کې افغانستان ته راغی، په لوګر کې یې ځمکې او جایداد ونه درلودل.

مولانا فضل ر (۱۲۵۰ - ۱۳۳۵ هش) د افغانستان له علمي او فرهنګي محافلو سره محشور و. په پښتو او دري یې لیکل کولای شول. پښتو نظمونه یې هم شته، په ځینو منابعو کې راغلي دي چې د ده پښتو او دري تالیفات اوه توکو ته رسیدل. ما په خپله د ده څو نظمونه لیدلي دي او یو هم د اسلامي احکامو په باب د ده یو منثور کتاب. دا کتاب د اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید (۱۳۰۸ - ۱۳۱۲ هش) په زمانه کې په کابل کې چاپ شوی دی. څنګه چې مولانا فضل ربي د یوې خوا د حاجي صاحب د تحریک ملګری و او له بلې خوا د پښتو نثر لیکونکی و، نو ځکه مې یې په دې پیر کې یادونه وکړه.

د پښتو نثر د غه پرمختیایي پړاو پورې د مربوطو آثارو - پیژندنه ما په همدې ځای پای ته ورسوله، خو د دې پړاو له اثارو سره په ارتباط کې د پښتو په ادبي څیړنو کې ځینې نورې خبرې هم راغلي دي، چې موږ یې دلې له یاده نه شو لرولکه:

(۱) فقیده ګیورګ فیو دوروویچ ګیرس (۱۹۲۸ - ۱۹۹۴ ع) په خپل کتاب پښتو هنري نثر کې موږ ته دا راښوولي دي، چې په پښتو کې د هنري نثر لیکلو ابتدا د تنګي مولوی احمد، میر احمد شاه -

رضواني او منشي احمدجان کړې ده (۲۷).

کله چې د شلوېښتمو کلونو په جریان کې دگیرس دا نظر په پښتو ترجمه شو او په افغاني مطبوعاتو کې خپور شو نو هرچا چې د پښتو هنري نثر په پیلامه خبرې کولې، نو د همدغه نظر پر بنسټ به یې په پښتو کې د هنري نثر بانیان همدغه درې تنه بلل. حینو بیا وروسته ترمیمونه هم پکې وکړل او له دغو درېیو پرته یې حینې نور کسان هم په دې ډله کې شامل بلل (هشتصدسال نثر پښتو - سپیدې. (۱۳۷۱ هـ ش کال، اوله گنه، ۲۴ - ۲۶ مخونه).

(۲) ددې تر څنگه د سرحد په پښتونو کې حینو بیا دغه درې کسه د پښتو جدید نثر بانیان بللي دي. ارواښاد خیال بخاري یو ځای لیکلي دي: (ترجمه) « د پښتو جدید نثر متعلق په لنډه توگه ویلای شو، چې مولوی احمد پښتو نثر له قافیې، سجعې او تکلفاتو څخه آزاد کړ او د فارسي او عربي د مشکلو الفاظو له استعماله یې وژغوره او په یو نوي ډگر یې روان کړ. په طبیعي ډول یې د روزمره محاورې مطابق په اسانه او ساده ژبه ولیکه. رضواني پرې د مزاح رنگ ورزیات کړ او منشي احمد جان د کمال تر حده ورساوه ... » (۲۸).

د خیال بخاري دا نظر د سرحد دسیمو حینو نورو منا غلیو هم اخیستی دی.

تر هغه وخته چې ما د کاندید اکادمیسین محمدصدیق روهي مقاله له عادي نثره تر هنري نثره (۲۹) کې د هنري نثر خصوصیات نه وو لوستي زه هم په همدې عقیده وم، چې همدا درې تنه

دفقیدګیرس په اصطلاح د هنري نثر او دارواښاد بخاري په اصطلاح د جدید نثر بانیان دي.

خو د لوړې یادې شوې مقالې تر لوست وروسته د دغو دریو تنو د منثورو آثارو خصوصیاتو ته په پاملرنه زه د دغو دریو تنو د نثرونو په باب د یادو شویو دوو ښاغلیو په نظریه شکمن شوم او په دې باب مې ترڅه نورې پلټنې وروسته یو مقاله ولیکله، چې عنوان یې و: د هنري نثر د پیلامې‌پر بابخو ټکي. دا مقاله چې له عنوان سره یې بایه د پښتو ټکي هم زیات وای، لکه: «د پښتو هنري نثر د پیلامې په باب څو ټکي» په ۱۳۷۲ هـ ش کال په خپلواکې مجله کې په مستعار نامه خپره شوه (۲-۴ ګڼه، ۱۶۰ - ۱۷۶ مخونه).

اوس چې د پښتو نثر دغه پر مختیایي پړاو څیړنې په وروستیو برخو کې یم بیا هم ځان ار بولم چې د دغې نظریو په باب څینې خبرې وکړم:

**الف**: د مولوی احمد، قاضي رضواني او منشي احمد د نثرونو غټه برخه څینې لنډ او اوږده وازه حکایتونه دي. چې ځه یې د ترجمو له لارې او څه یې له پښتني فوکلور نه په استفاده په پښتو لیکلي او یا پښتو کړي دي.

دغې او په دې شرایطو حکایات تر دغو دریو تنو د پر دمخه په پښتو کې نشته، یا د ترجمو او یا هم د همدې فوکلوري منبع نه په استفاده لیکل شوي. د مثال په ډول د پښتو په یوه زاړه منثور اثر کې یو حکایت داسې راغلی دی: «له یو مردم آزاره حکایت شوی دی چې دیو صالح سړي سر یې په کاڼي ویشتلی و. هغه درویش عاجز و-توان یې د

دانتقام نه و. هغه کانی یې ځان څخه ساتلی درله تر هغه چې بادشاه

په هغه برگشته بخت په غضب شه، په کوهي کې یې واچاوه بندي یې

کې، درویش راغی په هغه کاڼي یې په سر وویشت، وی چې ته څوک

یې او ولې دې په کاڼي وویشتم. وې زه فلانی یم او کاڼی هم هغه کاڼی

دی چې په فلانه تاریخ دې زویرې ویشتلی وم...» (گلدسته ۱۱۰ مخ)

اوس د گنج پښتو یو حکایت هم ولولئ: «له یو حکیم نه نقل دی

چې ویلي یې دي چې له هر ځنا ورنه مې یو خوی غوره کړی دی. چاورته

وویل چې په سپي کې درته کوم خوی سنه ښکاره شوی. هغه ووې چې ډېره

مینه په خاوند باندې. بیا یې ورته وویل چې په خنزیر کې دې کوم خوی

خوښ دی. هغه ووې چې وختي په خپل کار پسې روانېدل. بیا یې

ورته وویل چې په قارغه کې درته کوم خوی غوره معلومېږي. هغه ووې

چې له هرچا وېرېدل. بیا یې ورته وویل چې د پیشو درته کوم خوی

ښایسته ظاهر ېږي. هغه ووې چې ډېره زاري کول په وقت دسوال کی...» (۳۰)

دمیراحمدشاه رضواني د لیکلو یا ترجمه کړی حکایاتو نمونې: «یو قارغه

یو قطره غوسبه په خولې کې نیولې وه او په ونه کې په څانگه ناست وه،

یو وږي لومبړ ولید، چې غوسبه یې ورځنه ولیدله، نو په اندېښنه کې

شوله او د ځان سره یې وویل چې څنگه به ترې داغوسبه واخلم. نو ور

روانه شوله او د ونې خواکې ورته ودرېدله او قارغه ترې وویل: څه

ښایسته اطلسي رنگ دې دی چې داسې شکل به تو لو مرغانو کې نشته،

مگر آرمان چې سندرې درله نه درځي. که چېرې دغه صفت هم درکې

وای نو هر څه دې پوره وو. قارغه چې دا واورېدل، جوړ خوله یې

پرانستله، قان قان یې نغوې کړې. خو چې آواز یې وکړ قطره یې له خولې ولوېده

لومبړي په تلوار وردوکړ، زړيې وا خیستله او وې خوړله او ورته

يې وويل چې منت دې را باندې او س بېغمه نغرې وهه او په دې پوه

شه که څوک تا غوندې بدصورت او بد شکل ته بنايسته وايي، نو دا

پروړيا نه وايي. حاصل دادی چې د خوشامدګرو په خولې دې څوک نه

غولېږي ... » (۳۱)

دا درې واړه حکایتونه چې یو د دولسمې پېړۍ په دریمه لسیزه کې

پښتو شوی. دویم د دیارلسمې په اواخرو کې او دریم د څوارلسمې په

اوایلو کې، د ساخت او بافت له پلوه یو شی دي. او دا هغه پر اخلاق

او اجتماعي نتایجو بنا، قصص او حکایات دی چې اکثر د دیداکتیک

مقاصدو په منظور او د خلکو د اخلاقي روزنې لپاره ۲ لیکل شوی

او په شرقي فرهنګ کې یې نمونې زیاتې دي.

یوازینی شی چې یکې د یا دونې وړ دی هغه دادی چې د

عبدالقادرخان خټک په نسبت د مولوی احمد او د هغه په نسبت د

رضواني ژبه څه اسانه شوې او زیار ایستل شوی چې د غه حکایات په

روښانه او بېرېولې ژبه ولیکل شي. زما په پوهه یوازې دژبې اسانې

او څرګندوالی د یو اثر د هنري توب نماینده ګي نشي کولای.

(ب) بل مثال: د آدم درخانۍ نکل چې په پښتو نثر تر ټولو د مخه مسعود

بن عبدالله لیکلی دی. په دې قصه کې یې یوځای راوړي دي: «نقل دی

له میرو چې یار غار د آدم خان و، په هر درد کې د ده درمان وا و د

دارنګه شوی دي چې یو سردار و، یوسفزی په دولت تیمورس وېږ اسم

تاوس خان نوماند ده لور بي بي درخانه نوماندہ، د حسن سیال

يې نه و... » (د پښتو نثر هنداره، ۱۳۳ مخ)

ددې نکل دا برخه دمولوی احمد په آدم درخانۍ کې ... ه راغلې ده : « نقل دی له میرو نه چې د آدم خان ډېر آشنا او ملګری و، چې په کوزه بازدره کې دیوسفزو یو سردار و، چې ډېر دولت یې لاره او نوم یې طاوس خان و او دهغه سردار یوه لور وه، چې دهغې نامه درخانۍ یادېدله . ولې په ښایست کې په هسې شان وه چې بله سیاله یې په هغه زمانه کې چرته نه وه ... »

متأخر منشي احمدجان هم دا قصه په پښتو نثر لیکلې ده، هغه دې نکل ته خاص ژبنۍ آرایش ورکړی دی او دا قصه په ځانګړې سپېڅلتیا سره داسې پیل کوي : « درخانۍ په سوات کې د برې باز درې دیوطاؤس خان پښتون لور وه چې خدای ډېر لوی ښایست ورکړی و ... » (دقصه خوانۍ ګپ، ۱ مخ )

دلته هم یوازې دوخت په تېرېدلو دژبې او لیکلو په سبک کې د تحول په رانګ سره هاغه یو حکایت د بېلابېلو لیکوالو له خوا په بېلابېلو شپو لیکل شوی دی، خو دا خبره باید هېره نه کړو چې دآدم درخانۍ نکل دپښتنو په حماسوکې شمېرل کېږي ، خو په نثر کې یې موږ هغه ځانګړنې نشو لیدلی چې یو هانو په شلمې پېړۍ کې رواج شوي هنري نثر لپاره مشخصې کړې دي .

که چېرې د مولوي احمد، رضواني او منشي احمدجان حکایتونه او ورې قصې دهنري نثر ونو د نمونو په توګه قبلو، نو بیا باید دې چې تر دغو دریو تنو د پخوانیو پښتنو لیکوالو دغه راز حکایتونه او په حکایتي بڼسته لیکل شوي داستاني آثار ټول هنري نثرونه وبولو. زما په فکر پښتو هنري نثرونه په پښتو کې دنویو ادبي ژانرونو له نوتو سره سم را پیدا

شوي دي او په شلمې پېړۍ کې د پښتو له فرهنګي برياوو سره سنځه اړه لري.

(ج) د دغو دريو تنو نثرونو ته دهغري نثرونو د نمونو د کاروله ترڅنګه اروا ښاد خيال بخاري دا درې واړه دجديد نثر بانيان بللي او ما يې د نظر خلاصه دمخه بيان کړه. د دوی نظريه هم ځينې خبرې لري چې يې بايد هېرې نه کړو. ده ويلي چې «مولوي احمد پښتو نثر د سجعې او قافيې له تکلفاتو آزاد کړ او دفارسي او عربي کلمو له استعمال يې وژغوره»

دا دواړه خبرې د بياکتنې وړ دي. که چېرې موږ مولوي احمد د سجعې او قافيې ماتوونکی بولو، نو بيا چې د روښانيانو او اخوند درويزه له زمانې را په دې خوا چې په پښتو روان او بې سجعې نثر څومره آثار او کتابونه ليکل شوي دي، هغه ټول بايد وڼمنو او که يې منو نو بيا بايد د مسجع او مقفي نثرونو په کتار کې ودروو.

بله خبره چې يې د مولوي احمد د نثر نګارۍ په باب کړې ده، هغه هم سل په سلو کې د منلو نه ده. د مولوي احمد په دريو منثورو آثارو کې د فارسي او عربي ژبو ټکي په کافي اندازه استعمال شوي او حتی تر ده ډېر دمخه موږ ځينې داسې نثرونه لرو چې دعربي او فارسي ژبو ټکي يې تر مولوي احمد لږ ده.

درضواني د نثرونو په باب چې ده کومه نظريه قايمه کړې ده، هغه هم سمه نه ايسي، ځکه تر رضواني دمخه دغسې مليح او دطنز په مالګه برابر حکايتونه مولوي نور محمد کندهاري په منثورو آثارو کې هم شته. منشي احمد جان په رښتيا د پښتو نثر په پرمختيا کې څه برخه لري او په نثرونو کې يې ځينې داسې نمونې هم شته چې د هغري نثر تنده

پرې ماتېږي او يا د ژانري ځانګړنو اوبو رو خصوصياتو له امله هغه نري دی، خو دی د نثر ددې ډول مؤسس ځکه نه دی چې :

(۱) دده تر دغه ډول نثرونو مخه په پښتو کې هغه نثرونه نورو ليکلي دی، چې د هغو نثر په مؤسسينو کې هغوی دو دريد و حق لري. (دا برخه به په وروستي فصل کې ولولئ)

(۲) بله خبره دا ده چې دده د ليکنو سبک د مولوي احمد د سبک تابع دی. په دې باب د بناغلي مشر قلندر مومند خبرې، چې يې د منشي احمد جان د هغه په مقدمه کې ليکلي، د لوستو دي: « د کتاب وړومبۍ حصه په هغو قصو او نوقو تقالو مشتمله ده چې منشي احمدجان مرحوم د فارسي نه ترجمه کړې او يا يې د مولوی احمد صاحب د تنکی د ګنج پښتو نه اخذ کړې دی. د مولينا احمد صاحب د تنکی له کتابه دا استفاده ددې تنقيدي د غوټ ثبوت دی، چې د منشي احمد ليک د تنکي د مولوي احمد صاحب د ليک تسلسل او د هغه د ستايل نه متاثر دی ... د ستايل له اعتباره دې مجموعې ټول مندرجات د منشي صاحب په هغه اندازه کې دي چې د مولينا احمد په تتبع کې خپل کړي دي ... » (۳۲)

د آثارو دغه ډول شکلي او موضوعي خصوصياتو ته په پاملرنه ما منشي احمد جان، چې کار يې له معاصرې دورې سره اړه لري د مولوي احمد د يو پيرو په توګه په دې پړاو کې مطالعه کړ، خو له دې زياتوب سره چې د مولوي احمد د نثرونو په پرتله د منشي احمدجان نثرونه ډېر صفا، څرګند، روان او بر مختللي دي. د پښتو وروستيو نثر ليکونکيو ډېرخه ترې زده کړي او اثرونه يې پر نورو ليکوالو مشهود دي.

لنډه دا چې دغه درې تنه او ځيني نور ليکوال د پښتو نثر ددې

پرمختیایي پیر استازي دي او د دوی نثرونه په مجموعي ډول د پښتو نثر اصلاح شوي نموني دي، چې د پښتو نثر پر معاصره دوره یې اغېز مېنې ثابته ده او د پښتو نثر پرمختیا ته یې د ډېرې زمینې مساعدې کړې دي.

## د دې پړاو د نثرونو خصوصیات:

زما د مطالعې له مخې

د پښتو نثر د اصلاح او سمون د دغه پرمختیایي پړاو زړې د دیارلسمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې زرغون شوې دي او د ځینو اغېزو له امله حتی د معاصرې دورې د ځینو لیکوالو د نثر لیکنې کارونه هم رانغاړي.

د دې پړاو نثرونو ته مونږ دغه ځانګړنې ټاکلی شو:

- په دې پړاو کې په عام ډول حکایتي ژانر په یو نوي پرمختللي اصلاح شوي سبک دود پېدا کړی. د دې پړاو حکایتي آثار د پښتو د حکایتي ژانر لرغونې عنعنه یالې او په نوې بڼه یې روزي.

- د دې پېر په آثارو کې د ترجمو له لارې ځینې نور ژانرونه پښتو کې باب شول. د مثال په ډول د دیارلسمې پېړۍ د وروستۍ لسیزې په لومړیو کلونو کې «مراة العروس» او د څوارلسمې پېړۍ د دویمې لسیزې په لومړیو کلونو کې «توبة النصوح» نومي اردو ناولونه پښتو شول او دغو ناولونو پښتو ناول لیکونکیو ته د ناول لیکنې تجربې ور معرفي کړې.

- زما په عقیده له اردو ادبیاتو نه د پښتو ترجمې بهیر له همدې پېر سره شروع لري. د دې پېر د آثارو مطالعه مونږ ته دا هم راښیي چې ځینو پښتو لیکوالو د غه مهال انګرېزي ژبه هم زده کړې وه. په انګرېزي یې د پښتو درسي کتابونه لیکل او هم یې له دې ژبې نه ترجمې کولې.

داوخت اخباري عادي نثرونه هم وليدل شول او ځيني داسې ليکنې
باب شوي چې د عادي اخباري مضامينو په بڼه يې په ځينو اخبارونو
او درسي کتابونو کې ځای ونيو او مضمون ليکل په پښتو کې دغه وخت
پيل شول.
- د دې پېر او منثور آثار که څه هم حکايتي - داستاني ژانرونه دي
او يا نور زيا تره د يډاکتيک او دخلکو د اجتماعي او اخلاقي روزنې او
هم اصلاحي اهداف تعقيبوي . ليکنې او ترجمې يې دواړه دا ډول
ځانګړنې لري.
- له وطن امخېل تا پښتو بې سره مينه هم د دې پېر په منثورو آثارو
کې سر راوچتوي.
- په پښتو کې د سواد تعميم او تعليم د عامولو او د فرهنګ دغوړولو
لپاره د ځينو هڅو او هڅو بولکې مونږ په دې وخت کې هم ليدای
شو چې د خپل عصر او زمان له غوښتنو سره سم د ځينو پښتو ليکوالو
په آثارو کې يې موندلای شو. د ښځو تعليم ته هڅونه د دې پېر
له ابتکاري موضوعاتو څخه ګڼل کېږي.
- د دې پېر نثرونه که مونږ د نثر د ډولونو له پلوه ارزيابي
او ډلبندي کړو، نو ښکاري چې اکثر نثرونه عادي نثرونه دي
ځيني يې ښکلي ادبي او هنري مزيتونه هم لري او زمونږ د ملي
حماسو په نوي رنګ کې د وړاندې کولو کوشش هم شوی دی
لږ و ډېر علمي نثرونه هم پکې شته.

## مأخذونه :

(۱) کاکا خېل، فضل اکرم : د پښتو الف، بې، تې تهجي، سرحد،

عید نمبر ، ۱۹۲۶ ع ، ۲۳ مخ ـ
(۲) پښتو ټولنه : پښتانه شعراء ، دریم ټوک ، دوهم چاپ ، کابل ، دولتی مطبعه ، ۱۳٤۲ هـ ش ، ۸۷۳ مخ .
(۳) احمد (مولوی) : تاریخ سلطان محمود ، کلید افغاني ، لاهور ، ۱۹۸۲ ع ۲۰٤ مخ .
(٤) انځورګر زرین : پر پښتو ژبه لومړنی ژباړل شوی ناول کوم یو دی ؟ کابل مجله ، د ۱۳٦٦ هـ ش کال ۱۰ - ۱۲ ګڼه ، ۱ - ۲۰ مخونه .
(۵) کاکاخیل ، میا محمد یوسف : توبة النصوح ، لاهور ، ۱۳۲۳ هـ ق کال ۱۷٦ مخ .
(٦) اعظم ، دوکتور محمد اعظم : پښتو ادب کې کردار نګاری ، پښتو اکیډمي ، پېښور ، ملت پرنټرز ، لاهور ، ۱۹۹۳ ع کال ، ۳۱٦ مخ .
(۷) تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان وهند ، ج ۸ ، پنجاب یونیورسټي ، لاهور حبیب پریس ، ۱۹۷۱ ع ، ۱٤۳ مخ .
(۸) ابازی ، مولوی عبدالرحمن : چهار چمن نو بهار ، دهلی ، مطبع حادم الاسلام ۱۳۰۹ هـ ق ، ٤ مخ .
(۹) کاکاخیل ، عنوان الدین : عنوان الصنایع ، سیال کوټ ، ۱۳۲٤ هـ ق کال ۵۰ مخ .
(۱۰) کاکاخیل ، نظیر احمد : نظیر الاخلاق ، لاهور ، رفاه عام سټیم پریس ۱۳۲٦ هـ ق ، ۸ مخ .
(۱۱) خان روشن خان : راغلی لیک ، پښتو ، پښتو اکیډیمی ، پېښور ، د ۱۹۷۹ ع کال د اکتوبر ګڼه ، ۵۹ ۲ مخ .
(۱۲) کاکاخیل ، پروفیسور تقویم الحق : په پښتو ژبه کې د تعلیم او تدریس کار ،

په سرحدي صوبه کې وروستۍ لساني او ثقافتي کانفرنس ، پښتو اکيډمي،
پېښور، جدون پريس ، ۱۹۸۶ع ۱۶۹مخ .

(۱۳) رضواني، ميرا حمدشاه : بهارستان افغاني ، لاهور، ۱۸۹۸ع، ۴۲مخ .

(۱٤) خليل، همېش ، پښتانه ليکوال ، لومړی ټوک، دويم چاپ ، پبلک ارټ پريس ، پېښور، ۱۹۹۱ع ، ٦مخ .

(۱۵) افغاني ، پروفيسور عبدالمجيد ، جمال افغاني ، سيتم پريس، اګره ، ۱۹۱۱ع کال ، ٤ مخ .

(۱٦) هېوادمل ، زلمی : دغلام محي الدين افغان افکار او آثار، کابل پوهنتون د لوړو او مسلکي تحصيلاتو مطبعه ، ۱۳٦۰هرش ، ۸٤ - ۸۹ مخونه .

(۱۷) رفيع حبيب الله : پښتو کتابښود ، دبيهقي کتاب خپرولو مؤسسه ، کابل، دولتي مطبعه ، ۱۳۵٦هرش ، ۱۵۷ مخ .

(۱۸) پوپلزی ، غلام محمد : مدوجزر اسلام (مقدمه) دهلی، مطبوعه خادم الاسلام ، ۱۳۱۰هق ، ۲ - ۳ مخونه.

(۱۹) ش ، مهروند : دهنزي نثرډيلامي په باب څوټکی ، خيلواکی مجله ، ۱۳۲۳هرش کال ، ۲-٤ګڼه ، ۱٦۸ مخ .

(۲۰) پوپلزی ، غلام محمد : حقوق اولاد (دپلار اوزوی قصه) مقدمه ، مطبعه فاروقی ، دهلی ، ۱۳۱۵هق ، ٦مخ .

(۲۱) کاکاخېل ، نعمان الدين : ظفر النساء ، راولپنډۍ ، ۱۳۲۲ هق کال ۱٤ مخ .

(۲۲) دوست محمد (مرزا) : سراج الحج ، اسلامی پريس ، لاهور، ۱۳۲۹هق کال ، ۵ - ٦ مخونه .

(۲۳) رحيم الله (قاضي) : نوې روښني ، يونيورسټي بک ايجنسی ، پېښور،

۱۹۵۸ع ، الف ـ ب مخونه .
(۲۴) احمدجان منشي، د قصه خوانی گپ ، چاپځی ، پېښور، ۱۹۸۵ع ، ۵۸ مخ .
(۲۵) صابر، محمد شفيع : شخصيات سرحد ، يونيورستي بک ايجنسي، پېښور
۱۹۸۵ع ، ۵۸ مخ .
(۲۶) رښتين، پوهاند صديق الله : د مهتمم ژوند ، يو نيورستي بک ايجنسي
پېښور (د چاپ کال نه لري) ، ۱۰۳ مخ .
(۲۷) ک . ف ، گيرس ، پښتو هنري نثر ، د سرمحقق محمد شينواري پښتو
ترجمه ، د چاپ او خپرولو دولتي کمېټه ، کابل دولتي مطبعه ، ۱۳۶۵ش
۱۹ - ۲۹ مخونه .
(۲۸) بخاري عظيم شاه خيال : پښتو ادب (تيسرا دور) تاريخ ادبيات مسلمانان
پاکستان وهند ، ج ۱۳ ، پنجاب يونيورسټي ، علمي پرنټنگ پريس ،
لاهور، ۱۹۷۱ع ، ۱٤۷ مخ .
(۲۹) روښي ، کانديد اکاډميسين محمد صديق : له عادي نثره ترهنري نثره
پورې ، د وفا جريده ، کال گڼه ، ۱۹۹۳ع کال .
(۳۰) احمد (مولوي) : گنج پښتو ، کليد افغاني ، لاهور ، ۱۸۷۲ع کال ، ۳۰مخ .
(۳۱) رضواني ، ميراحمد شاه ؛ شکرستان افغاني ، لاهور ، ۱۹۰۵ع کال
۲۰ مخ .
(۳۲) مومند ، قلندر : د هغه دغه مقدمه ، پېښور ، چاپ ځی ،
۱۹۸۵ع ، ۵ مخ .

«۷»

# دریمه یا معاصره دوره

## د هنري نثر پیدا ایښت، د علمي او عادي نثرونو بشپړتیا لي بیون

په پښتو ادبیاتو کې د نویو ادبي پدیدو د راپیدا کېدو او په ادب کې د معاصریت د نه پېیدونه رغونېدو او د نویو نخښو د راڅرګندېدو موضوع په سیمه کې د شلمې پېړۍ له نویو علمي او هنري پرمختیاوو سره نېغه اړیکه لري او د شلمې پېړۍ سیاسي - اجتماعي عوامل هم د دې نویو الي په راڅرګندېدنه کې ځېل موثریت لري.

د شلمې پېړۍ له پیله لا د مخه د پښتنو سیمې یو له بله بېلې شوې او پښتانه تر بېلابېلو سیاسي، اجتماعي نظامونو لاندې واقع شول. دې سیاسي - اجتماعي نظامونو بېلوالي د فرهنګ موُ سسه هم په جدي توګه متاثره کړه.

د مسلطو سیاسي، اجتماعي او فرهنګي روابطو تراغېز لاندې

وده موندونکي پښتني فرهنګ هم دپښتنو په ټولو فرهنګي مراکزوکي دیون ښلابېلې لاري خپلي کړې ، پښتو ادب اوپه نهایت کې د فرهنګ ددې مسائلو په ټولو فرهنګی حوزوکې پوښتنوالی له لاسه ورکړی اودبېلتون همدغوعوا ملوځینې ادبپوهان په دې معتقد کړي دي چې پښتوادب په معاصره دوره کې پوښتان رشد نه کړي .

ن موږ نومیالی ادبپوه کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي پخپله یوه څېړ نه کې ویلي دي : « د ادبي تاریخ اوسنۍ دوره په وروستیو وختونوکې په لوه اوبر پښتونخواکې پوښتانه انکشاف نه کوي ، خو پیلامه یې پوښتانه ده ..... » (۱)

د استاد روهي نظریه له عیني واقعیتونو سره اړولري اوموږ نشوکولای چې په دې معاصره دوره کې دپښتوادبیاتوتاریخ یا د پښتو دنظم اونثر تاریخونه او یاهم فرهنګی تاریخ سره په مشترک دول مطالعه کړو .

زه د همدغې پوعلمي پرنسیپ په خوښتنه دې ته ځان اړ بولم چې دادوره دحوزه یي ویش په کالب کې سره جلا وڅېړم .

که څه هم دپښتو فرهنګی حوزې (۲) په افغانستان، پښتونخوا پاکستان اوهند کې ډېرې دی ، خوزه دلته دلنډیز اصل ته په پاملرنه څو محدودې عمده حوزې انتخابوم او نورې وړې حوزې دهماغې سیمې په واحده لویه حوزه کې ترڅېړنې او بحث لاندې نیسم .

دمثال په توګه داوسني افغانستان دننه څو فرهنګی حوزې شته او ځینې لا دتشکل په حالت کې دي ، څنګه چې دفرهنګ

د مؤسسې د رشد مسأله په دغوحوزوکې د یوه واحد مسلط اجتماعي سیاسي او اقتصادي سیستم تر اداري لاندې پر مخ درومي، نو ځکه زه په مجموعي ډول افغانستان د یوې عمده فرهنګي حوزې په توګه د لته معرفي کوم. بالمقابل د پښتونخوا سیمه که څه هم تر وا خــد سیاسي نظام لاندې اداره کېد له، خو د فرهنګ د ودې پر کار مسلط او اغېزمن اجتماعي، اقتصادي روابط ئې دې سیمې په شمالي او جنوبي برخو کې یو ډول نه وو، نو ځکه زه پښتونخوا پر دوو حوزو ویشم: سرحد او بلوچستان. د دغې په څېنو نورو حوزو او مؤسسو ته هم پاملرنه وکړم، چې د دې دورې د نثرلیکنې پرمختیائي مسألې سره پیوستون او بنتون لري.

## افغانستان:

ادبپوهان په دې عقیده دي، چې په افغانستان کې معاصره ادبي دوره له ۱۹۱۰ع کال نه راپیل کېږي او د ثور تر کودتا پورې په دریو پړاوونو کې انکشاف کوي (پښتو دادبي تاریخ دورې څنګه ټاکل کېږي؟ ۲۵ مخ) دا ویش او ټاکنه د ۱۳۶۶ هـ ش کال په دلو کې یو علمي سیمینار ته وړاندې شوه چې پخپل ځای کې سمه او هم د منلو او اعتبار وړ بلل کېږي، خو یوه تیاتونه چې زه یې کوم، دا ده چې د ۱۳۷۱ هـ ش کال په ثور کې د کابل د پخواني رژیم له سقوط وروسته چې په افغانستان کې څه پېښې شول، دې پېښو د افغانستان د فرهنګ او ادبیاتو لوری بالکل بدل کړ او د فرهنګي پښتونو د تباهۍ تر څنګه چې کوم آثار په بېلابېلو ساحو کې ولیکل شول، موضوعي ځانګړتیاوې او تګ لوری

یې له د مخنیو پړاوو نو سره نږ پېروند ښنيي ، نو بنا پر دې زه معاصره دوره کې د استاد روهي د ښوولو درېوو پړاوو ترڅنګه يو څلورم پړاو هم اضافه کول غواړم . معنا دا چې په افغانستان کې د معاصر پښتو ادب د رشد جریان په مجموع کې او د نظم و نثر دودې مسأله په ځانګړې توګه په څلورو پړاوونو کې پرمختیا مومي.

په افغانستان کې د پښتو د معاصر ادب بیا نو د پړاوونو د ویش له موضوع سره په ارتباط کې یو ضروري یادونه دا ده چې د دغې دورې مربوط آثار او اشخاص د یو یې ځانګړې مشخصې له مخې په یو پړاو کې ځای نیسي . که په دغسې یوه مشخصه په یام کې نه وي، نو به منظم ، نثر او په مجموع کې د ادبیاتو تاریخ لیکل له ځینو مشکلاتو سره مخامخ شي .

د مثال په توګه د یو لیکوال د کار ابتداء له یو پړا و سره اړه لري ، خو تبارزیې په وروستي پړاو کې وی او په نورو پړاوو کې یې هم کار دوام مومي . زما په عقیده دغسې لیکوال په همغه پړاو کې ځای مومي چې ده او آثارو یې تبارز پکې کړی و . ځینې لیکوال داسې هم شته چې د خپل کار په ابتداء کې تبارز وکړي دا ډله لیکوال په همغه پړاو کې یادېږي او په نورو پړاوونو کې یې یادونه نه کېږي.
د مثال په توګه مولوی صالح محمد د روښا نتیا د پړاو په پیل کې په کار پیل کړی ، منظوم او منثور آثاریې ددې پړاو په پیلامه کې تبارز کوي. پرده بحث ددې پړاو په همغو لومړیو شپږو کې کېږي .
سره له دې چې دی د ویښتیا د پړاو په لومړیو لسو پنځلسو کلونو کې نور هم ژوندی و او ادبي فعالیت یې درلود .

دغښې اروا ښاد داوي د روښانتیا پړاو له لومړنیو شاعرانو څخه دی، خو نثرونه یې ددې پړاو په بله برخه کې په اماني عصر کې متبارز شوي، نو ځکه موږ اړیو چې دی په اماني عصر کې وښیو، سره له دې چې دی له اماني عصره وروسته په درې واړو پړاوونو کې ژوندی و.

شهید پوهاند بهاوالدین مجروح او اروا ښاد میوندوال د روښانتیا د پړاو په وروستیو کلونو کې مطبوعاتو ته راوزي، خو تبارز یې د ویښتیا له پړاو سره اړه لري. موږ اړیو چې د دوی آثار او د وی د ویښتیا په پړاو کې مطالعه کړو.

دغه راز ځینې ځوان لیکوال، لکه: ښاغلیو: زرین انځور، اکبر کرگر، بریالی باجوړی او نور د پنځوسمو کلونو په اوایلو کې په لیکلو پیل کړی، خو تبارز یې د دریم پړاو په کلونو کې دی، اوپه تاریخ لیکونکی مجبوریږي چې دوی د دریم پړاو د استازیو په حیث ومني.

دا یادونه ماځکه وکړه چې کله د ۱۳۶۵ هـ ش کال په قوس کې د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز له خوا ددې مرکز د تأسیس د لسم کال په مناسبت سیمینار جوړ شو، نو په دې سیمینار کې کاندید اکادمیسین روهي د پښتو پر معاصرو ادبیاتو یوه مقاله ولوستله چې هغې کې یې په افغانستان کې د پښتو د معاصرو ادبیاتو دوره په دې درې پړاوونو کې له خپلو خصوصیاتو او د هر پړاو له استازیو سره وښووله. کله چې دا مقاله چاپ شوه، نو زموږ ځینو ملگرو دا گیله کوله چې ماخو مخکې لیکل پیل کړي دي، زه یې ولې د دغه

يا هغه پړاو استازی شوولی یم .

ادبي مؤرخ کله کله له دغسې ستونزو سره مخامخېږي اوشي کولای چې دغسې پرابلمونه تشریح کړي ، نوځکه ما دا یا دونه لازمه وبلله . نه هم ددې دورې لیکوال په پړاوونو کې د دوی د تبارني اصل او زمینو ته په پاملرنه بښم .

ځنکه چې په دې کتاب کې یوازې د نثر د پرمختیا مسأله څېړل کېږي نو بایده دي ووایم چې د نثر لیکنې سره مربوط دلومړي پړاو آثار ما دځینو خصوصیاتو له مخې په دمختې څېړکې کې وڅېړل .

په افغانستان کې دمعاصرې دورې د لومړي پړاو د سراجي عصر (۱۳۱۸-۱۳۳۷ هق) معلوم منثور آثار ځینې درسي کتابونه ، دیني آثار اوځو محدودې منثورې ټوټې اومضامین دي ، چې په سراج الاخبار کې نشر دی . د اثرونه ددې پړاو (دروښانتیا پړاو) له عمومي خصوصیاتو سره سم د وطن دوستۍ او په پښتنوکې د سواد د پروسې د پرمختیا او له ژبې او فرهنګ سره د مینې د عامولو اهداف پرمخ بیایي . نه ددې پړاو ددې برخې پر آثارو څه نه وایم ، ځو دا پړاو لاروان دی او پر فرهنګ د مسلط فکري نظام تر اغېزی لاندې د ویښ ځلمیانو تر تأسیسه پرمخ درومي .

په اماني عصرکې د پښتو نثر د پرمختیا لپاره نوې زمینې پیدا شوې ، له کابل سره یو ځای په کندهار ، ننګرهار ، هرات ، د افغانستان په شمالي ولایاتو او دهېواد په نورو برخو کې اخبارونه جاري کړای شول . د افغانستان په تاریخ کې دالومړی ځل وچې له مرکز سربېره په ولایتونوکې هم اخبارونه جاري کړی شول . دا اخبارونو او

موقوتو خپرونو پیلامې دنثر درشد او پراختیا لپاره خورا ښې زمینې برابرې کړې او که لن په څرګنده خبره وکړو د فرهنګ پر قلمرو یې دنظم د هیښتې تسلط بشپړ نسست شانته کړ.

په افغانستان کې چې دغه مهال کومې موقوتې خپرونې جارې وې، زیاتره په دري ژبه خپرېدې، خو په ځینو مرکزي او ولایتي اخبارونو لکه: طلوع افغان، غازي او اتحاد مشرقي کې دنظم ترڅنګه پښتو نثرونه هم خپرېدل او د اخباري عادي نثرونو کومه لړه چې په سراج الاخبار کې پیل شوه په اماني عصر کې یې په کمي لحاظ پراختیا ومونده او طلوع افغان دخپرېدو له پیله پښتو نثر ځیله هیڅ کې ځای ورکړ. (۳)

داماني عصر له کارنا موځخه یوه کارنامه چې د پښتو نثر په پرمختګ او زیاتېدو کې یې برخه درلوده، داوه چې د اوخت د افغانستان اساسي قانون او نور فرعي او متمم قوانین (نظامنامې) ګرده پښتو شوې.

دغو دوو عواملو که څه هم د پښتو نثر په پراختیا او د پرمختګ کې برخه درلوده، خو کیفي حوا یې ډېره ضعیفه وه. دا نثرونه زیاتره د پښتو له ځیل چوکاټ سره برابر نه وو او دهغه ناوړه سبک ادامه وه چې د ارواښاد امیرعبدالرحمان خان په دربار کې پښتو منشیانو ایجاد کړی و. دکرغېړنې ترجمې رنګ پرې غالب و او پښتو یې له ځیل طبیعي جوړښته ایستلې وه. (پردې جریان ما په بشپړ ډیر کې خبرې کړې دي)

داماني عصر قوانین (نظامنامې) چې په کومه پښتو لیکل شوي

دي يوه نمونه يې داساسي تشکیلاتو د نظامنامې له ۳۱ مخ نه داده:

« لپاره دضبطو جوړول اواینبودل دقاعدو دژبې د پښتو اولپاره دنقل او ترجمه کول د د روسیه کتابونو په ژبه دپښتو سره يوه مرکه د پښتو جوړېږي او دامرکه دپښتو به په مرکه د معارف پورې تړلې وي .... » (ژبپالنه، ۸٤ مخ)

د دې ډېر نثر لیکونکیو په زیاته دا خباري لیکوالو مخې ته په افغانستان او پښتونخواکې د نثر ښې نمونې موجودې وې، خو دوی پرته له دې چې هغه روانې نمونې خپل سرمشق کړي، پښتو يې په داسې ډول لیکله چې په هغه وخت کې به زموږ د پښتونخوا پښتنو لیکوالو ګلابې پښتو بلله، لکه غلام سرور هیڅ ماستر چې په ۱۳۰۵ ش ۱۹۲٦ع کال په سرحد مجله کې د اتحاد مشرقي د پښتو لیکنې د سبک په باب لیکلي دي: « راشه د اتحاد مشرقي ګلابې پښتو وګوره » (۴)

لنډه داچې د اماني عصر زیاتره اخباري نثرونه او د قوانینو نثرونه نه یوازې داچې روان نه دي، بلکه د یو ډېر ناوړه سبک ادامه ده، چې که یې دوام کړی وای زموږ د ژبې لیکنې جوړښت به به یې خورا زیان رسولی وای.

د اماني دوران له ډېرو مهمو کارونو څخه یو هم د پښتو مرکې جوړول دي. دا مرکه د پښتو د علمي ښستونو د پیاوړي کولو او د پښتو د لغاتو او قواعدو د ضبط او جوړولو او همدارنګه د پښتو د درسي کتابونو د جوړولو او ترجمې لپاره جوړه شوې وه.

د دې مرکې د تأسیس کال په یقیني ډول نه دی ښکاره. ارواښاد استاد بېنوا (۱۲۹۲ - ۱۳٦۳ ش) پخپله یوه مقاله (۵) کې

ویلي دي چې دا مرکه په ۱۳۰۱ هـ ش کال جوړه شوه ، خوځکه چې په همدې کال د دې علمي مؤسسې آثار خپاره شوي دي ، نوځکه سمې سل په سلوکې دا حکم نشي کولای چې دا مؤسسه دې په همدې کال جوړه شوې وي .

ښاغلي رفیع په دې برخه کې له احتیاطه کار اخیستی دی اودګې مؤسسې د جوړېدو په باب یې کښلي دي : « که څه هم د پښتو مرکې د تأسیس او تپاکلي نېټه راته معلومه نه شوه ، خو د هغې وخت د اساسي تشکیلاتو له نظامنامې څخه څرګندېږي چې دا مرکه د اماني دولت په لومړنیو تشکیلاتو کې شامله او دیوهنې وزارت له درېګونو ریاستونو نه دیو ځانګړي پلست په توګه رامینځ ته شوې وه او هم یوازینۍ پښتو او پښتو ښودونې کتابونه چې یو یې په ۱۳۰۱ هـ ش کال او بل یې په ۱۳۰۲ هـ ش کال خپاره شوي څرګندوي چې پښتو مرکې په دې کلونو کې په خپلو اساسي کارونو پیل کړی و ... » (۶)

د دې مرکې کارکوونکی او غړي دغه کسان ښودل شوي دي : « مولوي عبد الواسع کندهاري ، عبد الرحمان خان لودین ، عبد الوهاب کامیی ، لالا محمد زمان خان طرزی ، ملا محمد خان صافی ، عبدالواحد لنګرخیل غلجی ، عبدالکریم دولتشاهي ، احمدګل سلیمان خیل ، غلام قادر اڅکزی ، الله ویر دي وردګ ، میرعالم خان مروت او ملا بادشاه ګل خوګیاڼی » .

د دې ټولنې چې کوم کارونه کړي دي په هغوکې پښتو ښودونه ( ګرامر ) او یوازینۍ پښتو ( د پښتو درنده کړې کتاب ) شامل دي .

له دې سربېره ویل کېږي چې عبدالرحمن لودین د پښتو مرکې لپاره دوه

قاموسونه جوړ کړي وو. يو دري پښتو ( يو سل شپاړس زره لغتونه)
بل پښتو- دري ( يو ولس زره لغتونه) . ( ژبپالنه، ۵۸ مخ )
د منابعو معلومات دادي چې دا قاموسونه له مېنځه تللي دي. اما
استاد رښتين دخپل اثر ( پښتو نثر هنداره ) د ۲۷۳ مخ په حاشيه کې
يو جالب انکشاف دا کړی دی چې د مرکې لپاره ليکل شوي قاموسونه
په کابل کې د اروا ښاد مير قاسم خان لغماني په کتابخانه کې موندل شوي دي.
بوی دا هم ويلي دي چې د دې قاموسونو په پای کې د مرکې له ياد
شويو غړيو سربېره د دې لاندې نورو ښاغليو لاسليکونه هم شته :
مير اعظم وزير، کاظم مسود، رمک خان ځدران او عبد القادر ميداني.
د دې ټولنې له نورو کارونو سره زموږ څه کار نشته، يوازې
هغه کارونه يې يادوو چې له نثر سره اړه لري .
له منثورو آثارو څخه يې پښتو ښووونه او يوازينه پښتو کې د پښتو نثر نو
نمونې شته او د مرکې هغه غړي چې د مرکې په آثارو کې يې پښتو نثر ونه
پيدا کولې شو دادي : مولوي عبد الواسع (۱۲۹۰ - ۱۳۴۸ هـ ق)، لالا
محمد زمان خان طرزي (۱۲۷۰ - ۱۳۴۸ هـ ق) او عبد الوهاب کامدېنی (۱۳۰۳ مړ).
پښتو مرکې چې د پښتو نثر ليکنې کومه شېوه خپله کړې وه، يوه نمونه
يې داده : » دا خبره وهر يوه ته ښکاره چې د هر تبر ژبه ځو خپلنه
نسي او ليک ليکې يې په خپله ژبه کې نشي، لوړتوب او پوره والی
نسي درلودلای او د پر دې له اړې نسي وتلای په ټوله تبرو کې
د نړۍ دا خبره منله سوې ده اړې د تپنګولو نه لرې.... «
(يوازينه پښتو، د ژبپالنې د ۸۷ مخ په حواله) د پښتو نثر ليکنې کوم روش چې
د مرکې په کتابو پښتو کې غوره شوی دی د پښتو سوچه تابه يې ته
پکې ډېره هڅه شوې او د پښتو ليک يو زين سبک يې را منځ ته

کړې چې ژړ د خلکو له ژبې سره یو شانوالی لري او نه هم د پښتو نثر لیکني د ژبې عنعني متابعت کوي ، د اپښتو له بده مرغه کله کله دغه ناوړه سبک اغېزې هم مني چې د امیرعبد الرحمن خان له عصره پیل او تر همدغه عصره یې هم دوام درلود .

د پښتو مرکې په څېړ کې د رالویو شویو نثرونو دغو دمخه ما یادو کړیو خصوصیاتو ته سناغلي عبد الجلیل وجدي هم متوجه شوی دی او پښتو مرکې ته مربوط ځینې نثرونه یې په احمد شاهي عصرکې د لیکل شوې معرفة الافغاني سره مقایسه کړي دی او د مقایسې په نتیجه کې یې ویلي دي : (( د مرحوم پیر محمد کاکړ نثر د مرکه د پښتو له نثر څخه روښانه او څرګند او طبیعي دی ، مرکه د پښتو څخه کړې ده چې پښتو سوچه کړې او پردي لغات ورڅخه وباسي ، خود جلو جوړښت یې زیات تقلیدي دی . . . . )) (۷)

په اماني عصرکې له مها لنیو خپرونو او یادې شوې مرکې سربېره د ښوونې او روزنې د تعمیم له لارې هم دې ته زمینه مساعده شوه چې په مختلفو علوموکې درسي کتابونه ولیکل شي . دې چار هم د پښتو نثر د پراختیا له جریان سره مرسته کوله . په دې درسي کتابونوکې پښتو هم شامله وه ، لکه چې استاد بېنوا یوځای لیکلي دي : (( الله (امان الله خان) په ارشاد په معارف کې د ښوونځیو د درسي کتابونو په پښتو اړونه پیل شوه . )) ( پښتو چاپي آثار ، ۱ مخ )

خو د ا درسي کتابونه هم په داسې نثر ترجمه شوي وو چې له ځینو استثنایي موارد و پرته زیاتره د قواعینو د پښتو په خپر وو .

ترکومه ځایه چې څرګنده ده د دې پښتو نثر د پراختیا د پړاو په دغه مهال

کې څېنو نورو نثر لیکوونکیو هم سې راپورته کړ، دغو خلکو هم له فرهنګي ادارو او موقوتو خپرونو سره تړون درلود. داکسان ډېر دي، خو دځوتنو نوموونې دلته راوړم:

ارواښاد استاد عبدالهادي داوي (۱۳۷۲ - ۱۳۶۱ هـ ش): د معاصر دوران له روښانفکرو او په سیاست کې مشهورو فرهنګیالانو څخه و. که څه هم ده د شاعر په توګه په سراجي عصر کې تبارز وکړ، وپښتو نکي شعرونه یې وویل، مګر د نثر ګوښې بېلګې چې یې موږ ته رسیدلې دي، هغه په اماني عصر پورې اړه لري، نو ځکه موږ دی عصر په نثر لیکوونکیو کې یاد کړ. د ده منثور مضامین د ده د کلتورخانې په ظرایفو کې ثبت دي. دغه راز ارواښاد داوي (زمار رسول پاک) نومې اثر هم پښتو ژباړلی دی، چې په ۱۳۴۸ هـ ق کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

ارواښاد استاد بېنوا چې په اوسني لیکوال کې د ده د نثر ګوښه بېلګه خوندي کړې ده، دغې له مطالعې ښکاري چې د اماني عصر له نثر نګارانو په زیاته د مرکې له نثر نګارانو د ده نثر خوږ، پوخ، ډېر روان او طبیعي دی، د اشکال د پیدا کولو هڅه یې نه لیدل کېږي، لکه دا بوټه: «د ګوسپودین (ښاغلی) څوکرمان دلته پردې چوکه ناست دي، د سقف سره نږدې ډېرې ورقې هم پر مېز ورته پرتې دي، ده څه لیکل او س زما د روغېږ د پاره یې قلم کېښود او په تبسم سره یې وویل: ...»

د روښانتیا د پېر په مبارزو لیکوالو او فرهنګیالو کې د میر قاسم خان لغماني (۱۳۵۷ هـ ش مړ) نوم هم د هېرېدو نه دی او د

د پښتو له نهضت سره د ده هڅې په ارتباط کې دي.

داماني عصر په نثر لیکونکیو کې بل دیادوني وړ سړی ارواښاد برهان الدین کشککی (۱۲۷۱-۱۳۳۲هش) د پښتو او دری ژبو زیارکښ لیکوال، په اماني عصر کې کارته شامل شوی، په مطبوعاتو او معارف کې یې کاروننه وکړل، د پښتو درسي کتابونو په لیکلو او ترجمه کې یې کاروکړ، موضح القرآن یې په پښتو واړاوه، چې په دریو ټوکونو کې په کابل کې چاپ شو. د علامه شبلي نعماني د سیرة النبی د وه لومړني ټوکونه یې هم پښتو کړل. د ده هنري آثارو د ترجمې او ادبیت خواته یې هم توجه وکړه. پښه مینه نومې ژمان یې په ۱۳۱۷هش کال د اصلاح اداري خپور کړ. ددې ژمان موضوع له خارجي آثارو اخیستل شوې او د غه راز یې د شارل روبرې وما ژمان «په پښه دیتوپلتنې» په نامه پښتو وژباړه، چې دا هم په ۱۳۱۸هش کال د اصلاح له اداري خپور شو. اما نثرې د دې پړاو زماني له نثرونو سره برابري نشي کولای. نوموړي ډیرې اخباري مقالې هم لیکلې دي. د لومړنیو وختونو مقالې او لیکنې یې زیاتره هم هاغه د امیرعبدالرحمن د عصر د پښتو د سبک تابع دی.

ارواښاد محمد امین خوګیاڼی (۱۳۱۷هق زوکړی) داماني عصر په مطبوعاتو کې د کار سوابق لري او د پښتو له محققو لیکوالو څخه وه. ډیرې اخباري او علمي مقالې یې، له اماني عصره راپه دې خوا تر روستیو وختونو پورې، د هیواد په مطبوعاتو کې خپرې کړې دي. (استاد رښتین لیکلی دی (د پښتو نثر هنداره، ۳۷۲ مخ) د پښتو نولی څلی او څرګند د ده د پښتو اثر نوم دی چې د خوشحال په شعر او ادب یې سندرنا اچولې وه

ددې کتاب ځینې مقالې ورځې مجلې هم خپرې کړې دي .

په امان افغان کې چې دکوموکسانو پښتو آثار چاپ شوي یو هم یې محمد یعقوب دراني دی ، چې په هغه وخت کې به کابل کې اوسېده او پښتو منظومات به یې خپرېدل . دا سړی بیا د پاکستان تر جوړېدو وروسته پاکستان ته لاړ اوډوند تر پایه په پاکستان کې پاتې شو . د امام حسین (رض) پر سیرت اوډوند یې د پښتو نثر یو کتاب لیکلی چې په پاکستان کې چاپ شوی دی .

دغه مهال په کندهار کې یو نعت سرا شاعر ژوندکاوه ، چې فاروق یې باله او یوځای هم د فاروق کندهاري په نامه یاد شوی دی . زه تر دې وروستیو کلونو هم نه وم خبر چې دا سلام دستر پیغمبر حضرت محمد (ص) په مینه کې دغه لولیه شاعر به پښتو نثر هم لیکلي وي . کله چې مې د حمدالله صحاف کندهاري خطي مجموعه وکتله ، نو دا سنکاره شوه چې فاروق کندهاري له خپل مشرب او ذهني غوښتنو سره سم د اسلام دستر پیغمبر پر سیرت یو کتاب کښلی ؤ چې مولود آنحضرت نومېږي . نثر یې نسبی روان او د اماني عصر د ناوړه اخباري پښتو اغېزو څخه بري نشته .

که څه هم په اماني عصر کې افغانستان په اجتماعي ، اقتصادي او فرهنګي برخو کې پرمختیا او پرلاره یون پیل کړی و ، په هره برخه کې د پراختیا او پرمختیا بهیر لرلو ته ځانګړې ګامونه اخیستل کېدل ، خو که دغه مسأله یوازې دادبیاتو په ساحه کې مطرح کړو نو په دې پېر کې را مینځ ته شوي منظوم او منثور آثار چندان ادبي متن نه لري او ځینې داسې آثار دي چې تېغ په تېغه خپل مقصد

بربنه درته بیا نوي او زیاتره د اجتماعي تحول خواته دخلکو دهڅولو زیار باسي . پښتو نثر په دې پېرکې د هنر تومنه ترلاوي او پوازې دا دولسبا د داوي په څېنو بو بوکې دې خواته تمایل سرک لیدلای شی . د دې ځاتکړې پېر د لیکوالو نثرونه زیاتره علمي او عادي نثرونه دي او عادي نثرونه دا وخت یو څه د براختیا جوګه شول ، د یني مسایل او د سیرت موضوعات د لیکوالو د توجه ور وو .

داماني عصر پسې ځنیاوی دافغانستان د دښمنانو لپاره دښتر دګوزارونو حکم درلود ، هماغه وو چې د دغه ملي او اصلاح غوښتوکې یا چا پرضد توطئې وشوې او دده له ملک سره سم د افغانستان په بولوزسلمو کې د افغانستان د خلکو ژوند له رکود سره مخامخ شو .

دحبیب الله کلکاني په دوره کې سره له دې چې جګړو او د فرهنګ له مظاهرو سره مقابله کېده ، خو هماغه عقب ګرا سیستم هم په ځینو ځایونوکې اخبارونه پریښي وو ، په ځینو نو اخبارونو کې به لږ پښتو هم وه . اما دا وخت چې د وطن د نجات لپاره د صالحو افغانانو کوښښ هڅې روانې وې ، دوی هم خپرونې درلودې ، چې د سپه سالار غازي محمد نادرخان او غازي شاه محمود ــ ن د مبارزو په جریان کې د اصلاح او اتحاد افغان خپرونې د یادونې ور دي . سورسات ، د کورغم او غیرت اسلام هم په ننګرهار کې خپرېدې جریدې (۹) چې د وطن د نجات او د خلکو د یروالي ، له بحران نه د هېواد او خلکو د خلاصون په لاره کې یې مبارزه کوله . د « کورغم » نومي اخبار د پښتو نقاد شاعر او لیکوال ارواښاد سید حسن خان (۱۲۵۷ - ۱۳۲۹ لمرش )

چلاوه .

په هغه وخت کې دوطنپالو او سالمو افغاني ځواکونو په همت لوی خدای افغانستان ډېر ژر له یو تباه کوونکي کورني جنګ نه وژغوره او له افغاني عنعنو او دخلکو اجتماعي - رواني جوړښت سره سم دهېواد دچارو واګې د افغانانو عنعني مؤسسې ته انتقال شوې او بېوزلو دارام ساه واخیسته .

د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید (۱۳۰۸ - ۱۳۱۲هش) دپاچهی له لومړیو کلونو نه دامانې عصر . اصلاحات ورو ورو بېرته پیل شول له فرهنګ سره ددغه پاچاهیپې حتی ځینو مخرضو مؤرخینو انکار نه دی کړی .

دغه وخت په مجموعي ډول دافغاني فرهنګ له ودې سره، چې مظاهرې په دوو عمده هېوادنیو ژبو کې څرګند بدل، مینه بنوول کېده . دهمدې مینې اغېزې وې چې حکومت او دولتي مشرانو له ۱۳۰۹هش کال په هېواد کې دادبي انجمنونو د جوړولو مفکوره رامنځ ته کړه (۱۰) په ۱۳۱۰هش کال کې د کابل ادبي انجمن، په ۱۳۱۱هش کال کې د هرات او کندهار ادبي انجمنونه فعال شول . دغو دریواړو انجمنونو مهالنۍ خپرونې درلودې . په اماني دوران کې شروع شوی مرکزي او ولایتي خپرونې ورو ورو بېرته پیل شوې، ځینو نورو مهالنیو هم په خپرونو پیل وکړ . ددغو ټولو فعالیتونو تفصیلي بیان ددې لیکنې کار نه دی . د دوښانتیا دیړاو د دې برخې هغه کارونه چې د پښتو نثر له پرمختیا سره مرسته کوي، باید چې دلته یاد شي .

(۱) د کندهار طلوع افغان اخبار په خپل لسم کال کې له اتمې ګڼې (د ۱۳۱۱ هـ ش کال د ربیع‌الاول دوشنبه) ګرد وپښتو شو(۱۱) او د پښتو نثر ډېر مختیا لپاره یې نوې زمینې برابرې کړې. د طلوع افغان ادارې دا وخت یوازې د اخبار په چاپولو اکتفا نکوله بلکې د پښتو شپږلس نوي پښتونه یې هم کېنول او ځانګړی آثار، فوق العاده کال ګڼې یې هم خپرولې.

(۲) د ۱۳۱۱ هـ ش کال د جدي په ۹ مه په کندهار کې پښتو ادبي انجمن افتتاح شو، چې پښتو مجله یې خپروله.

طلوع افغان او پښتو دواړه د پښتو ډېر نثر لیکونکي پرمخ راوپېژندل.

(۳) اعلیحضرت محمد نادرشاه غازي د ۱۳۱۱ هـ ش کال حمل په لمړۍ نېټه فرمان صادر کړ چې د ۱۳۱۲ هـ ش کال له اوایلو څخه د افغانستان په معارفو کې ببرته پښتو پیل کاندي. (د افغانستان پښتلیک) په دې فرمان سره د پښتو تدرسي آثارو لړۍ چې په سراجي عصر کې پیل شوې وه، په اماني عصر کې یې څه وده موندلې وه، نوره هم پرمخ ولاړه.

(۴) په ۱۳۱۵ هـ ش کال کې د پښتو د ژوندي کړې لپاره پاچاهي فرمان صادر شو. په دې فرمان کې حکم شوی و چې د افغانستان دولتي مامورین دې پښتو زده کړي. د دې فرمان په اساس په فوج او ملکي ادارو کې پښتو کورسونه جوړ شول او د دې کورسونو د ممتابعت لپاره نوې اداره جوړه شوه او د پښتو کورسونو د شاګردانو لپاره د پښتو د زده کړې په خاطر د پښتو کلي په نامه

دد درسي کتابونو نوي سلسله و لیکل شوه .

(۵) د ۱۳۱٦ هـ ش کال په ثور کې د کابل د ادبي انجمن او د کندهار د ادبي انجمن له یوځای کېدو پښتو ټولنه جوړه شوه او د پښتو د علمي ودې او پرمختیا لپاره یې نوې لارې چارې وپلټلې او پښتو یې د انکشاف په نوي مسیر کې داخله کړه . د دې ټولنې جوړېدو د هنري او علمي نثرونو له پرمختیا سره ډېره مرسته وکړه .

(٦) د پښتو د زده کړې د تدریسي چارو د اسانه او له پښتو زده کوونکیو په ښېره مامورینو سره د مرستې په خاطر په ۱۳۱٦ هـ ش کال د زیرې جرید ه تأسیس شو .

(۷) د پښتو ټولنې له تأسیس او د کورسونو له پیل سره سم په ټول افغانستان کې د سراسري ښوونځي او روزنې د پښتو کولو منکوره هم را د مخه شوه . د اینس ورځپاڼې د ۱۳۱۷ هـ ش کال د اوایلو په یوه ګڼه کې د وخت د پوهنې وزیر مرکه خپره شوه او په مرکه کې یې ویلي وو چې په دې کال کې دده د وزارت عمده کار دا دی چې ټول معارف پښتو کړي . د دې کار لپاره د درسي آثارو د ترجمې بهیر شروع شو او کابو ټول نصابي درسي کتابونه پښتو شول .

(۸) تر ازمېښتي خپرونو وروسته په ۱۳۲۰ هـ ش کال کې په کابل کې د راډیو یې خپرونې په رسمي ډول افتتاح اریل شوي (۱۲) . دې کار هم ډېر ښه اغېز وار سره د پښتو نثر بلا بلو ډولونو ایجاد ته زمینې پیدا کړې .

(۹) په ۱۳۲۰ هـ ش کال کې کابل مجله ټوله پښتو شوه . په همدې کال اتحاد مشرقي - چې یې په ۱۳۱۵ هـ ش کال د وې بشپړې صفحې پښتو شوې وې اوس ټوله پښتو شوه او آئینه عرفان نومې مجله هم ټوله پښتو شوه

(۱۰) په ۱۳۲۱ هش کال د کردیز په ښار کې د وړانګه په نامه اخبار په خپرولو پیل وکړ، چې لومړی اوونیزه بیا ورځپاڼه شوه.

(۱۱) په ۱۳۲۳ هش کال د ادبیاتو پوهنځی جوړ شو، د دې پوهنځي له لیارې پښتو په هېواد کې د لوړو او عالي تحصیلاتو ژبه شوه او د پښتو ژبې او ادبیاتو په باب د هغه وخت له غوښتنو سره سم پرمختللي کتابونه په پښتو نثر کې اضافه شول.

د اوو هغه ماته معلوم عوامل چې له ۱۳۰۸ هش نه تر ۱۳۲۵ هش کال پورې د پښتو ژبې او ادبیاتو او په زیاته د دې اثر له روحیې سره سم د نثر په پرمختیا کې برخه درلوده او د هر پښتانه لیکوال یې ځا ځې ته ورانده کړل. هغو کسانو چې دغه مهال تبارز کړی دی، څو عمده کسان یې دا دي:

اروا ښاد محمد ګل خان مومند (۱۳۴۳ هش مړ)، اروا ښاد لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي (۱۳۲۸-۱۴۰۴ هق)، اروا ښاد امین الله زمریالی (۱۲۷۳-۱۳۶۱ هش)، اروا ښاد محمد ګل نوري (۱۳۰۲-۱۳۹۳ هق)، اروا ښاد عبدالخالق اخلاص (۱۳۱۹ هق زوکړی)، اروا ښاد محمد اعظم ایازي (۱۲۵۷-۱۳۳۵ هش)، اروا ښاد ګل پاچا الفت (۱۲۸۸-۱۳۵۶ هش)، اروا ښاد قیام الدین خادم (۱۳۲۵-۱۳۹۹ هق)، اروا ښاد شمس الدین قلعتکی (۱۳۳۰ هش کال مړ)، اروا ښاد غلام جیلاني جلالي (۱۳۱۴-۱۴۰۰ هق)، اروا ښاد محمد عثمان خان پښتون (۱۳۶۵-۱۳۴۰ هش)، اروا ښاد محمد رسول خان پښتون (۱۳۱۸ هق-۱۴۰۱ هق)، اروا ښاد عبدالرؤف بېنوا (۱۲۶۳-۱۳۶۳ هش)، پوهاند صدیق الله رښتین، اروا ښاد پاینده محمد زهیر (۱۳۳۶ هش مړ)، اروا ښاد سراج الدین سعید (۱۳۴۲ هش مړ)، اروا ښاد محمد ویس خان کاکړ (۱۳۴۸ هش مړ)، سید شمس الدین مجروح، اروا ښاد پژواک (۱۳۳۴-۱۴۱۶ هق)، اروا ښاد

محمد رفیق قانع (۱۳۳۶ هـ ش مړ) ارواښاد محمد شریف حبیبي (۱۲۶۵ - ۱۳۴۹ هـ ش)، ارواښاد محمد رفیق حبیبي (۱۳۵۰ هـ ش مړ)، ارواښاد عزیز الرحمن سیفي (۱۲۸۰ - ۱۳۶۲ هـ ش)، ارواښاد عبد المنان دردمند (۱۲۹۶ - ۱۳۶۹ هـ ش)، ارواښاد عبد الخالق واسعي (۱۳۶۰ هـ ش مړ) ارواښاد مولوي شېرګل، ارواښاد عطامحمد اخوند (۱۳۴۶ هـ ش مړ) ارواښاد عبد الغفور خروټی (۱۲۸۴ - ۱۳۵۲ هـ ش)، ارواښاد محمد ارسلان سلیمي - (۱۲۹۳ - ۱۳۵۷ هـ ش)، پوهاند عبد الشکور رشاد، عبد القدوس نجیب، عبد الحمید نحیف (۱۲۸۴ هـ ش زوکړی)، محمد یوسف آیازي، ارواښاد فضل محمد وکیل (۱۲۸۸ - ۱۳۴۸ هـ ش)، مولوي محمد یونس خالص، محمد رسول مسلم، محمد شریف جانان، ارواښاد حبیب الله کشاف تره کی (۱۳۳۲ هـ ش مړ) ارواښاد میا اورا د الدین، ارواښاد غلام حسن خان ساپی، ارواښاد عبد العزیز خاوري، بهاء الحق هاشمي، عبد الهادی خوږمن، محمد ابراهیم ثابت، ارواښاد حبیب الله ځلاند (۱۳۶۳ هـ ش مړ) امین الله سرتېر، عبد الله عیشی (۱۳۰۰ - ۱۳۵۵ هـ ق)، عبد الله شبجی، یار محمد نظامي، سید محمود زلمی، محمد اکبر پامیر (۱۲۸۹ - ۱۳۵۱ هـ ش)، محمد دین ژواک، عبد القدوس پرهیز، صالح محمد صالح، رحمت الله لیوال، غلام رحمن حبرار، محمود حبیبي پروفیسور محمد علي میوندی او نور ....

د روښانتیا دېراو په وروستیو ننګ لیکوالو کي ځینی د افغانستان برجسته سیاسي، اجتماعي او فرهنګي شخصیتونه دی. اوځیني یوازې د فرهنګ په ساحه کي دومره ځلېدلی دی، چې که د دوی تعلیمي او ودي شرایطو ته سری وګوري او په مقایسي ډول یې د خپلو کاونډیو عیوا دوټو له لیکوالو او فرهنګیانو سره پرتله کړي، نو دا به ور ښکاره

شي، چې دوی په دغسې یو چاپېریال کې د پرېخه پښتو ته ورکړي دي.

په دغو یادو شویو کسانو کې اروا ښاد لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، اروا ښاد استاد خادم، اروا ښاد استاد بېنوا، اروا ښاد استاد الفت، پوهاند صدیق الله رښتین، پوهاند عبدالشکور رشاد، اروا ښاد محمدګل نوري کارونه د کمیت او د وخت شرایطو ته په پاملرنه د کیفیت له نظره هم د ېرې ښېګڼې لري. دغو کسانو کې له اروا ښاد نوري نه پرته نور شپږ وسره د نثرلیکنې ځانته پیاوړي سبکونه ایجاد کړل، چې د هریو سبک خپلې ځانګړنې لري او پر آینده کانو یې د ېر اثرات دي.

د اروا ښاد وزیر محمدګل خان مومند شخصیت او کارونه د پښتو د معاصر نهضت د یو ټینګ حامي په توګه د ډېرې ستاینې او منڼې وړ دي او اروا ښاد زموږ یالي چې په کومو شرایطو او کوم محیط کې د پښتو لپاره کار شروع کړي دی، هغه خپله د شاباسې وړ عمل دی.

د روښنا ئتیا د ېراو زیاتره لیکوال خو بعدي شخصیتونه لري او د نثر ترڅنګه یې نظمونه هم لیکلي او نور اداري، فرهنګي، سیاسي او اجتماعي کارونه یې هم کړي دي.

د دې ېراو په نوو نثرلیکونکیو کې یوازې اروا ښاد محمدامین خوګیاني، اروا ښاد سراج الدین سعید، اروا ښاد غلام حسن خان ساپي او یو نیم بل یوازې نثر لیکونکی وو، نورګرده نظمونه هم لري. همدا د ول په دې ډله کې ځینې داسې کسان هم شته چې له نثر لیکونکیو څخه د شاعرانو په حیث د دوی حیثیت ډېر متبارز دی نثرونه یې هم د و مره ډېر نه دي، خو داچې دا نثرونه د ډېرو مهمو فرهنګي او د معاصرې دورې د لومړي پړاو د سرلاروي دي، نو

ځکه په دې پړاو کې دوی هم د نثر لیکونکیو په توګه یاد شول،
لکه غلام محی الدین خان افغان ، عبد الهادي خان داوی ، سید
شمس الدین مجروح او عبدالرحمن پژواک .

د پښتو نثر همدا ره کې د اروا ښاد پژواک کلمه داره روڼه منثور
اثر ښودل شوی دی ، خو موږ باید دا خبره یاده کړو چې نقادان
او ادبپوهان کلمه داره روڼه نثر نه بولي ، بلکه سپین شعر یې کښي.

له دغو لیکوالو سربېره د همدې پړاو په وروستیو کلونو کې زموږ
ځینې غیر پښتانه او په کابل کې مېشت پښتانه دې ته وهڅېدل چې په
پښتو لیک و کړي ، لکه اروا ښاد استاد احمدعلي کهزاد
دوکتور عبد الحکیم طبیبي ، سید قاسم رښتیا ، پوهاند دوکتور عبدالاحد
جاوید او ځینو نورو ښاغلیو هم په پښتو لیکل پیل کړل . دافغانستان د
هغه وخت په مطبوعاتو کې د دوی لیکنې او ترجمې چاپ دي ،خو له
بده مرغه چې دغو خلکو خپل کار ته دوام ورنه کړ او وروسته بیا د دوی
پښتو آثار ونه لیدل شول .

زما خپله رایه دا ده چې د هغه وخت پښتو فرهنګیانو دوی ښه نه
دي پاللي او له سرد مهرۍ سره یې کار اخیستی دی . حتی ما اورېدلي
دي چې که به زموږ دري ژبو ورونو په پښتو څه ولیکل ، نو به د ځینو
له خوا دا هم ویل کېدل چې دوی پښتو دربار ته د تقرب وسیله
ګڼي نو ... سربېره وضعیت د دوی له پښتو لیکنې لاس په سر کړي وي.

له لوړې ضمني یا دونې وروسته ، مخکې تر دې چې پښتو ژبې
او ادب ته په دې پړاو کې متبارزې یادې شوې فرهنګي ډلې دیخښنو
یو جاج واخلم د دې پړاو د پښتو د فرهنګي نهضت په ارتباط ځینې

یا دوني هم شته چې د لته يې باید یا دونه وشي .

د پښتو د پر مختیا او ترقۍ لپاره چې له اماني عصره کوم کار پیل شوی و د اعلیحضرت شهید په څلور کلنه دوره کې او بیا د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د سلطنت په لومړنیو کلونو کې د پراختیا او پیوون په یو بېړه ندي مسیر کې وارد شول .

دا حرکتونه په دا سې یو محیط کې پیل شول چې په فرهنګي لحاظ زموږ دري ژبې هوري تسلط درلود او زموږ د هغه وخت پر اداره او فرهنګ مسلطو دري ژبو افغانانو له دري ژبې پرته حتی د بلې ژبې بیا بېرزیاتر د پښتو په باب یوه لحظه فکر هم نشو کولای او پښتو ورته دغرو او بیا بانو د پوونده و او غرنیو وګړو ژبه بریښېده ٠ او حتی دا خبره یې زړه ته نه لوېده چې په پښتو دې لیک لوست کېدای شي دوی پښتو یوازې دغیرو ژبه بلله .

ما ددې کتاب په مقدمه کې د هغه وخت په کابل کې د پښتو په باب د مسلطو غیر و پښتنو فرهنګیانو د نظر یوا نعکاس په هغه وخت کې د کابل د ادبي انجمن د یو پښتانه غړي له خولې راوړی دی .

په دغسې اوضاع او احوالو کې د پښتو د عامولو او سراسري کولو لپاره د یو داسې پروګرام جوړول او وړاندې کول طبیعي د ه ، چې ځینې حساسیتونه هم پیدا کوي ٠ د کار شکنیو زمینې هم مساعدې او چې خارجي لاسونه ور سره مله شي ، نو د وسیعو تبلیغاتو لپاره هلې ځلې کوی او له واقعیتونو لیرې آوازې هم خپروي .

زموږ د هېواد ځینو فرهنګیانو د پښتو خواته مخه او د پښتو د تعلیمي کولو او رو زلو هڅې د دري ژبې پر ضد یو اقدام باله ٠ دا

نظر يې نه يوازې داچې له پوهاګکرې قشر سره وې ، بلکه ځينوکسانو لکه اروا ښاد فرهنګ ، پوهاند سلطان شاه ام او ځينو نورو ښاغليو ليکلې هم دي .

که څېړې مونږ د پښتو د ترويج لپاره دهغه وخت فرهنګي هڅې بېطرفانه وڅېړو ، نو زما په اند خبره د ې تر نه رسېږي چې مونږ دې په دې جانبه ډول مسايل داسې مطرح کړو چې د افغانستان د خلکو ترمينځ د بد بينۍ او نفاق تخم وکري او افغانان د ې د يو سالم افغاني فرهنګ د جوړېدو په لاره کې له هڅو وژغوري او په خپلوکې دې سره په د ښمنيو او ترېګنيو اخته کاندي .

زما په فکر دا په يو ملک کې داوسېدونکو خلکو طبيعي او منل شوی حق دی ، چې د دوی د نفوسو په تناسب دې د دوی ژبې او فرهنګ ته د هېواد په ټولو فرهنګي تشبثاتو کې حق ورکړل شي او دهغه قوم د ژبې او فرهنګ د روزلو لپاره د ې کار وشي ، نو که په هغه وخت کې د پښتو د ترقۍ او پرمختګ لپاره کار وشو او په تعليمي سيستم او مطبوعاتو کې ورته ځای ورکړل شو ، دا عمل نه يوازې د ملي او بين المللي نورمونو سره مخالف نه و .

په افغانستان کې د پښتو ودې لپاره کار په هيڅ صورت د نورو ژبو د مخنيوي معنا نه لري ، دغسې چې پښتو ته کار د نورو د پرمختګ د مخنيوي معنا نه ښندي . دغه راز نورو ژبو ته کار هم د پښتو د پرمختګ د لارې خنډ نشي تلقي کېدای ، خو په دې شرط چې نيتونه صفا وي او په عملي توګه د نورو په مقابل کې صف آرايي محسوسه نه شي .

زموږ دري ژبې وروسته دهغه وخت په کارونو دری عمده

نیوکې لري :

(۱) دکابل دادبي انجمن پرځای د پښتوټولنې تأسیس دد ري ژبې پرضد یو څرګند عمل و؟

موږ به دا اعتراض په سړه سینه وڅېړو، چې زموږ وروله په دې ارتباط څومره حق به جانب دی؟

لوستونکیو ته معلومه ده چې داعلیحضرت محمد نادرشاه شهید په زمانه کې دري ادبي انجمنونه جوړ شول. یو په کابل، بل په هرات او دریم په کندهار کې. دکندهار پښتو انجمن کابل ته انتقال شو او د دولت په ۱۳۱۶ هـ ش کال دکندهار او کابل ادبي انجمنونه یوځای کړل او د پښتوټولنې په نامه یې یوه علمي اکاډمي په کابل کې جوړه کړه، چې یوازې نوم یې پښتو و اما کارونه یې په دواړو ژبو پښتو او دري سرته رسېدل. نشراتي ارګانونه یې (کابل مجله او کابل کالنۍ) په دواړو ژبو خپرېدل. دپښتو ټولنې په څانګو کې په دواړو ژبو پښتو او دري کارونه کېدل. له ۱۳۱۶ هـ ش نه تر ۱۳۲۰ هـ ش پورې که موږ د پښتو ټولنې د خپرو کړیو آثارو جاج واخلو، نو د پښتو کتابونو شمېر یې تر پنځو زیات نه دی، حال دا چې په همدې موده کې د پښتو ټولنې په څانګو کې په لسګونو دري رسالې او کتابونه د تالیف او ترجمې له لارې تهیه شوي دي، چې ځینې یې په کابل کالنۍ او کابل مجله کې (په اقساطو) او ځینې مستقل چاپ شوي دي.

کله چې د ۱۳۲۰ هـ ش شاوخوا تاریخ ټولنه جوړه شوه او بیا آریانا مجلې په خپرونو پیل وکړ، نو ورو ورو دکابل مجلې پانې

او د ځانګو کاروند په پښتو واوښتل او دا یه دې دلیل چې زموږ ددري ژبې دروزنې او یالنې لپاره یوه ځانګړې تولنه جوړه شوه او د کابل کالنۍ تر ۱۳۳۰ هش کال پورې چې پښتو ټولنې څېړوله - د همدې ټولنې له خوا په دواړو ژبو څېړېدله او زموږ دري ژبه ترې ځانګړې ایستلې.

که زموږ ځینې ورونه په دې باب څه شکوک لري د کابل مجلې او کابل کالنۍ کلکسیونونو او د پښتو ټولنې خپرونې دې په واکې دې کولای شي هغه وګوري، د نقاق او ید بینۍ عینکې دې له سترګو لیرې کړي او د یو سالم وجدان په رڼا کې دې پر مسأله فکر وکړي، نو دا به ورته ښکاره شي چې د پښتو ټولنې جوړېدل په هیڅ ډول د دري ژبې په ضرر نه وو.

دلته سړی تر دا ګیله دربېږي چې زموږ چېر لوی شخصیتونه فرهنګ ته منسوب کسان او یا د پوهنتون استادان داسې سطحي بې اړخیز او غیر علمي او ضد ملي بیانونه او تفسیرونه وړاندې کوي. که چیرې د یو هیواد یو د پر لوی قوم ته د هغوی ملي او فرهنګي حقونه ورکول کېږي زموږ نور ورونه ولې په دې خفه کېږي او دې چار ته داسې رنګونه ورکوي چې افغاني ورورې پرې خرابېږي.

(۲) ... ځینې ورونه په ادارو کې د پښتو کورسونو شروع کېدل د پښتو لپاره یو امتیاز بولي.

ددې اعتراض ځواب دادی چې:

په افغانستان غوندې یو هیواد کې پکار دی چې پوځي او ملکي مامورین په دواړو ژبو پوه شي، ځکه که دولتي مامورین په دواړو ژبو پوه

نه شي ، هو مملکتي چارې به له رکود او ستونزو سره مخامخ شي .

د افغانستان د هغه وخت دولت چې د هیواد له انکشاف في صورت حال سره همزمان د امعضله محسوسه کړه ، نو یې له دولتي مامورینو سره د مرستې په خاطر په دفاتروکې پښتو کورسونه جوړ کړل .

داخلي مخالفتونو او تعصبونو او د ځینو مغرضو خارجیانو لاسوهنې له یوې خوا ، د لاپیتو او پوهو ښوونکو نشتوالی له بلې خوا کورسونو په افغانستان کې بیه نتیجه ورنکړه او له ناکامۍ سره مخ شول . پښتو ترې له کتې زیان د پېرشو او د پېرځله دا کورسونه د پښتو د سپکاوي او تو هین سبب شوي د تقلوکورسونو لپاره مجرب او پوه ښوونکي نه وو ، دکورسونو د تدریس چارې د سیاوه د مسلجانو امامانو او علمایو مرزایانو ته سپارل شوې وې ، چې نه د تدریس په اصولو پوهېدل ، نه یې له پښتو سره آشنایي درلوده او پښتو یې « فښتو » تلفظ کوله . نه یې دا احساس درلود چې دا کورسونه دکوم هدف لپاره جوړشوي دي او څه ډول کار باید وشي . دغه ډول ښوونکو خپلې ورځې تېرولې او حتی کورسونه د عاید د یوې وسیلې په توګه استعمال شول او پروګرام د فساد ښکار شو .

که څه هم دې کورسونو وروسته تعلیمیافته ښوونکی هم پیدا کړل او د سردار محمد داؤد د جمهوریت په دوران کې چې په پښتو ټولنه کې کوم جهش او بدلون راغی ، د پښتو ټولنې هغه وختي رئیس کاندید اکادمیسین محمدصدیق روهي دکورسونو د اصلاح د لوایحو د بدلون لپاره ډېرې مثبتې هڅې وکړې . د یخوایه نسبت څه ښکېنې او اسانتیاوې پکې راغلې ، خو څنګه چې یې اساس غلط ایښودل شوی و ، نو په دې هڅو کومه مثبته نتیجه مرتب نشوه .

دولت کولای شو چې له کورسونو پرته د نورو معقولو قانوني مجاورلو له لیارې پښتو ته په دفترا و دیوان کې خپل حق ورکړي او دفتري کاروبار په پښتو کړي .

(۳) درنیمه نیوکه داده چې د ټول معارف پښتو کول د پښتو د بالادستۍ نخښه وه .

په دې ارتباط زما عرض دادی چې د افغانستان په شرایطو کې هیوادوالو کې د تعلیمي ټبو د تاکنې لپاره موازین شته او د یونسکو مثلي معیاردونه . په مورنۍ ژبه د ابتدایي تعلیم حق ټولو افرادو ته حاصل دی. په افغانستان کې بایدې پرنسیب تر پا ملرنه شوې وای . بله خبره داده چې دا اقدام هم داسې وخت وشو چې په پښتو کې باسواده سړونکی او د درسي آثارو لیکوال په کافي اندازه نه وو موجود . په همدې بنا یې د درسي آثارو ترجمې ته شروع وکړه او په داسې پښتو یې آثار ترجمه کړل چې نه شاګردانو ته د فهم ور وو او نه ښوونکو ته ، او نتیجه دا شوه چې دا هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې او له پښتو سره یې د غیر پښتنو بدبیني نیاته کړه .

څنګه چې په افغانستان کې دوی ژبې ، پښتو او دري عمده ژبې دي ، د دواړو ژبو باید د تعلیم لپاره رسمي وای او د نورو اقلیتونو لپاره هم د ابتدایي تعلیم شرایط په خپلو ژبو کې برابر شوي وای او له ابتدایي تعلیم نه وروسته تعلیم باید بیا هم د بین المللي نورمونو سره سم په هغه ژبه وای چې د هیواد اکثریت او سیدونکي پرهغې خبرې کوي . د دېرې بدمرغۍ ځای دی چې پښتو ته د هغه غلطې او نا معقولې هڅې په بدله کې وروسته هم

چا خپل حق ورنکړ او پښتانه په خپل وطن کې له خپل قانوني حقه محروم کړای شول.

زما دلوړې توضیح په ارتباط بنایي څېني مغرضین او دافغانستان دملي یووالي دښمنان داوداي چې موږ دپښتو اکثریتی حیثیت نه منو. دا دول مفکورې یا له تعصبونو زېږي او یا هم بې خپل هېواد او خپلو خلکو له نه پوهېدو ولاړېږي.

دبدبختۍ ځای دادی چې زموږ څېني ورونه ټول هېواد ته دخپل کلي له چوکاټه ګوري؛ که کلی یې تاجیکان وي، نو داسې انګېري چې ټول افغانستان تاجیک دی. دغسې پښتانه، هزاره ګان، ازبک او نورهم درواخله. شیرینه یې لا داده چې دډوکتور نجیب الله د دوران په پارلیمان کې یوه ورځ یو ازبک وکیل وویل چې په افغانستان کې اووه ملیونه ازبک دي. پښتنه یې وویل چې موږ شپږ ملیونه یو. په دې حساب یوانې دیارلس ملیونه خودغه دوه قومه شول او د افغانستان نور ټول قومونه باید درې ملیونه وي.

که موږ له شماله ترجنوبه اوله شرقه ترغربه خپل هېواد وګورو اوخلک یې ځانته معلوم کړو، نو ښکاره به شي چې په دې هېوا د کې څوک څوک دی؟ که شپه تیاره ده مېنې په شمار دي. خدای تعالیٰ دې په افغانستان کې دسرشمېرنې شرایط اماده کړي چې دیونسکو او نړیوالو مؤسسو ترڅارنې لاندې سرشمېرنه وشي. مغرضینو او بدبینو خوروونکو ته به دا ښکاره شي چې په دې دومره کلونو کې دچا فرهنګي حق خوړل شوی دی او چا دنورو په حقوقو دخپل فرهنګ ماڼۍ ودانې کړې دي.

* * *

دپښتو د ادبي تاریخ د معاصرې دورې د روښانتیا د پړاو

د نثر د پر مختیا د ځینو زمینو په باب مې د خلکو خبرې یوڅه توضیح

کړې او س راځم دې مسالې ته چې په دې پړاوکې د پښتو نثر څه

دول پر مختیاوې وکړې .

## د روښانتیا پړاو پښتو ته څه ورکړل؟

د روښانتیا پړاو د ۱۲۹۰ هـ ش

له حدودو پیل کېږي او د ۱۳۲۵ هـ ش کال د جوزا ترمیاشتې دوام کوي

دا پړاو څلور یا پنځه وینې : د امیر حبیب الله خان اواخر ، داعلیحضرت

امان الله خان ټوله دوران ، د کلکاني دوران ، داعلیحضرت محمد نادرشاه

شهید دوران ، داعلیحضرت محمد ظاهرشاه په سلطنت کې د سردار

محمد هاشم خان د صدارت دوران گرده را چاپېروي او د یوکړلیچ

پېر په توگه له لوړو ژوړو سره مخامخېږي . دوه جهاني جنگونه هم

له دې پېر سره مصادف دي . له دې جنگونو را ولاړې شوې ستونزې

او د فرهنگ پر مؤسسه یې اغېزمني د دې پېر له فرهنگي رشد سره

بې رابطې نه پاتېږي . د مثال په دول کله چې له ۱۳۰۸ هـ ش کال نه وروسته

د اماني عصر فرهنگي پروگرامونه له څه اصلاحاتوا و زیا تونو سره بیا پیل

او سبه پر مخ روان شول ، چې په دې کې دویم جهاني جنگ شروع شو

او د کاغذ او موادو د نشتوالي له امله ځینې خپرونې ودرېدې ، د ځینو

مخونه لږ شول او د ځینو قطع ورشوه چې دغه ټولې لړونې او قلعغونه

د پښتو ادب پر مختیايي یون منفي اثرونه درلودل .

د دې پړاو په جریان کې چې څه پښتو آثار د تالیف او ترجمې

له لارې موجود شوي دي دهغو ارزيابي سړي د ليکوالو او ترجمانانو عمومي مشخصې ته په پاملرنه داسې کولای شي:

(۱) د دې پېر او ليکوال هم زياتره د پښتو د پخوانيو ليکوالو په څېر په جوماتونو کې د زده کړې سوابق لري. له خيلې مودې نه بې سربېره په دري او عربي ژبو هم پوهېږي. ځينو يې د هند شيمې وچې ته د زده کړې، ليا د سفرونه کړي؛ اردو يا هندي ژبې يې هم زده وې. ځينو پکې ابتدايي تعليمونه کړي وو او څو تنه پکې داسې هم وو چې له دولسم صنف نه فارغ شوي وو، ځينو دخپل ذاتي ذوق له امله اروپايي ژبې هم زده کړې وې.

دليکوالو دغه دلې زياتره يې منظم تعليم نه لري، ځينې داسې کسان پيدا شول چې د پوهې اکاډمي هومره کارونه يې په يوازې ځانونو وکړل، لکه ارواښاد استاد حبيبي، ارواښاد استاد بېنوا، ارواښاد ...ناد خادم، ارواښاد استاد الفت، پوهاند صديق الله رښتين، ميسين پوهاند رشاد او ارواښاد محمد ګل نوري.

(۲) دهغه وخت دغوښتنو له مخې د دې پېر ژياترو ليکوالو هم څه ليکلي دي. له دين، سياست او د فرهنګ له بېلابېلو اړخونو نه نيولې تر اجتماعي او طبيعي علومو پورې مربوطو موضوعاتو کې يې قلم چلولی او يا يې له نورو ژبو دغه دول آثار پښتو ته اړولي دي. هغه وخت د اختصاص خبره په مينځ کې نه وه.

(۳) د دې پېر د آثارو مطالعه څرګندوي چې د ۱۳۱۲ - ۱۹۳۳ ع وخوا په افغانستان کې هنري نثر پښتو ته لاره پيدا کړه (۱۳) د امهال په طلوع افغان کې د استاد حبيبي يوه داستاني طرح نشر

سټي د ه ، چې عنوان یې ( ... ) سره زرو کیند ه . وروسته دې شپږو
پرمختیاوموندله ، ځینو نورو لیکوالو هم په بېلا بېلو ژانرونوکې
څه دا سې منثور آثار وکښل چې هنري نثرکې یې سری حسابولای
شي .

(٤) عادي او علمي نثرونو هم ښه پرمختیا و موندله . عادي نثرونه
د ژورنا لیستیکو لیکنو او سفرنامولیاري څخه را عام شول او علمي نثرونه هم په
بېلا بېلو ساحو کې د تالیف او ترجمې له لارې را مینځ ته کېدل .
په دې ډول دوا ړه ډوله نثرونوکې کال ترکاله د روانځه
خواته هڅه کېده له او هغه دامیرعبدالرحمن خان د زماني دایجاد
شوې پښتو لیکنې سبک پیروي یې چې لا ترهغه وخته په ځینو ساحو
کې باب وه ، ترک کوله .

(٥) د نویو ژانرونو دانکشاف مسأله هم په دې پړاو کې اړه
لري . لنډه کیسه ، ډرامه او رمان هم په همدې پړا وکې دافغانستا
فرهنګي حوزې خپل کړل . لنډه کیسه په ١٣١٥ هش (١٩٣٦ع) ،
ډرامه په ١٣١٧ هش (١٩٣٨ع) او پښتو ناول (رومان) په ١٣١٨ هش
(١٩٣٩ع) کلونو کې دافغانستان پښتو ادبیا تو ته لاره پیدا کړه .
لنډه کیسه لو مړی ځل استاد حبیبي ولیکله ، ډرامه استاد پژواک
او ناول (رومان) کشککی اوقانع ولیکل .

له دې پرسېره طنز او داستاني طرحې او نکل ډوله منثور
آثار (ادبي پارچې - لطیف ادب) هم په همدې پړاو کې پیدا شول
استاد خادم ، استاد الفت ، استاد بېنوا ، استاد رښتین او نورو په دغو
ژانرونو کې خپل استعداد و ازمایه او دافغانستان پښتو ادبیات په

ژانري لحاظ دا وخت بډای شول.

(٦) دهغه وخت له شرایطو سره سم د پښتو ژبې او ادبیاتو په باب څېړنې په منظم ډول دغه وخت پیل شوې. په لومړي سرکي زیات رجحان دژبې د زده کړې، ګرامر او لغت کتابونو ته و، داکار په اماني عصر کې پښتو مرکې پیل کړ او بیا وروسته دکندهار ادبي انجمن، طلوع افغان پښتو ټولنې او نورو څو له لارې مخه پرمخ ولاړ. خودآموز پښتو، سپېڅلی پښتو، د پښتو ژبې لیار، پښتو سیند، پښتو ښوونکی، لیک ښوونکی، پښتو قواعد او نور ولیکل شول. اروا ښاد مولوي صالح محمد هوتک، اروا ښاد استاد حبیبي، اروا ښاد محمد ګل خان مومند اروا ښاد محمد اعظم ایازي، اروا ښاد محمد ګل نوري، اروا ښاد محمد عثمان خان پښتون، اروا ښاد لعل محمد خان کاکړ، اروا ښاد شېر ګل کاموي او نورو په دې برخه کې کارونه وکړل او بیا وروسته د اروا ښاد استاد الفت او استاد رښتین، اروا ښاد خادم او زمریالی الله ددې ساحې کارونو دا عملیه صیقل او لا پسې پیا وړې کړه.

دژبې د څېړنې او ښنني ترڅنګه د پښتو ادبیاتو یا ادبپوهنې د بېلا بېلو برخو د څېړنې او ګروېږنې کارهم دا وخت پیل شو. اروا ښاد استاد حبیبي د طلوع افغان له ادارې تاریخچه شعر پښتو خپور کړ او د تحقیق او له مقدمو سره د متونو د نشر کارهم دا وخت نوي استاد پیل کړ. د خوشحال او عبدالقادر کلیات او دیوان یې هوري چاپ کړل او کلرچي پښتو ټولنې ته راغی دا کارونه یې د لته پسې تعقیب کړل. د نورو ښاغلیو استادانو لکه: رښتین، خادم، الفت، بېنوا، نوري او نورو په دې کار کې مرسته ورسره وکړه له

اود ادبیوهني په بېلابېلو ساحو کې یې آثار ولیکل ، لکه: د پښتو د شعراو د سلسلې د لیک پیل ، د پښتو ادبیاتو تاریخ د لیکلو پیل ، د پښتو سندرو تکمیل او چاپ د ادبي فنون لیکل او چاپېدل ، د دې پېر عمده کارنامې دي ، چې د دې ساحې د ورو ستیو څېړنو لپاره یې لاره اواره کړه .

په افغانستان کې چې دا وخت دادبپوهنې په اساسي او فرعي څانګو کې کوم کارونه شوي دي ، هغه نه یوازې په افغانستان کې د تنه د مثال کار ورکړ ، بلکه د اوسني افغانستان له پولو د باندې هم څېړونکیو او پلټونکیو د ېره استفاده ترې وکړه .

د لته د دې خبرې یادونه هم بې ځایه نه برېښي چې ووایو د دغه مهال د تحقیق روښونه د عرب او هند د تحقیق له روشونو نه اخیستل شوي وو او له دې سره سره د مآخذو ښوولو ته چندان علاقمندي نه ښوول کېده . که څه هم نقد د دې پېر په ورو ستیو کلونو کې د پښتو فرهنګي ډګر ته راغلی و ، خو دومره کمزوری او محافظه کارانه و چې په قدماوو څه لیکل ورته عار ښکارېده او پخوانی یې له نقده بري بلل . په دې برخه کې د پښتو پر لرغوني شعري بهیر د تر ټولو لیکوال نقدا و دغه وخت په کابل کې د میشتو پښتو لیکوالو عکس العملونه ګرده موږ په دې باوري کوي چې نقد په تمامه معنی زموږ مشرانو ته وړ منلی . (١٤)

(٧) په دې پېر کې د پښتو د فرهنګي ځنا لپاره هم کار پیل شو د ژبې ، ادب او ادبپوهنې پورې مربوط آثارونه سربېره دیني آثار هم پښتو ته ترجمه شول ، لکه د موضح القرآن پښتو ترجمه ،

د مولانا ابوالکلام آزاد د سورة فاتحه د تفسیر پښتو ترجمه، د حضرت پیغمبر د ۸۳ احادیثو پښتو ترجمه (لیوال) د دې لړې منثور ترجمې دي.

له دې سربېره د اجتماعي علومو په بېلا بېلو څانګو کې آثار پښتو ترجمه شول، لکه د روح الاعتدال، الصحافت، علم النفس، روح الاجتماع، (د کتابونه ګرده واسې ترجمه کړي دي) د نفس اداره یا څان واکې (اخلاص) او د روغتیا عمومي قوانین (نوري) په پښتو واړول شول.

له دغو آثار د سربېره ادبي آثار هم په پښتو واوښتل، لکه د الکساندر دوما مونټه کرستو (محمود حبیبي) او د شارل رابرټ دوما په پټه دپټو پلټنې (کشککي) روما نونه په پښتو ترجمه شول.

دغه راز د شلمو کلونو په اوایلو کې د رابر بندرنا ټهر ټاګور باغبان هم په پښتو ترجمه شو (مترجم: محمد یوسف ایازي) او طلوع افغان خپور کړ.

له دغو رومانونو سربېره د دې پېر د شلمو کلونو په برخه کې د اروپا دلیکوالو لنډې کیسې په پښتو واوښتې (۱۵) او کابل مجلې یې په نشر کې خیله ونډه ترډېره حده سرته ورسوله. دغو ترجمو زمونږ لیکوالو ته د رومان لیکنې او لنډې کیسې لیکنې په برخه کې نوې تجربې مخې ته کښېنودې.

د بېلا بېلو موضوعاتو د ترجمې د اهمیت سره په دې باوري کوي چې د هغه وخت له پوهانو او فرهنګي مسوولینو سره دا عقیده موجوده وه چې د پښتو ژبې د فرهنګي غنا لپاره باید د بېلا بېلو علومو آثار په پښتو ترجمه شي. د اهمیت چې په کوم قوت پیل شوی و، که یې همې دوام کړی وای او وخت یې په محتوی کې تغییر راغلی وای، نو بویه چې اوس به پښتو د خپلې غنا د اوږده منزل څه زیاته برخه وهلې وه او اوس به په نسبي ښه موقف کې ولاړه وه.

(۸) که څه هم پښتو به سرجي عصر کې د ښوونځیو به نصاب کې شامله وه، خو هغه وخت یوازې د ژبې د یو مضمون په حیث. امادې پړاو په وروستیو کې د معارفو نصاب ګرده په پښتو واوښت او د علومو او فنونو په بېلا بېلو برخو کې آثار په دې ژبه ترجمه شول او همدغه وخت و، چې د ډېرو علومو آثار په پښتو واوښتل او پښتو په موضوعي لحاظ ډېره غني شوه.

(۹) د دې پېر مطبوعات په زیاته له ۱۳۰۸هـ ش نه تر ۱۳۲۵هـ ش پورې د یو حساس زماني موقعیت له امله آزاد نه وو او د دولت له خوا اداره کېدل او څارل کېدل، مګر بیا هم زموږ لیکوالو د خلکو د ذهنونو د تنویر لپاره له بېلابېلو لارو کار وښه وکړل. د دې وخت د عادي او هنري نثرونو عمومي روحیه له خپلواکۍ سره مینه، د استعمار نفرت، د ملي هویت او ملي موجودیت د تثبیت لپاره مبارزه، د فساد او حینو نورو اجتماعي عیبونو پر ضد هاند وهڅه را چاپېروي.

(۱۰) د روښانتیا د پړاو پښتو نثر د پرمختیا پر لار و روان کړ. په نوي ژانرونو او جوړښتونو کې یې ځای کړ او په داسې شرایطو کې د وروستیو نوي پرمختللي پړاو ته تقدیم کړ چې د اصلاح لپاره یې په کافي اندازه کار شوی و او هغه د امیر عبدالرحمن خان د زمانې سبک چې د هجري شمسي پېړۍ د لسمو کلونو په جریان کې له هم په مطبوعاتو کې بابه و، له منځه تللی شوه شو او د پښتو د اصلاح شوي نثر په څو بېلا بېلو عمده سبکونو کې لیکل کېده.

* * *

## دويښتيا پړاو :

دادېږو هاني ددوره بندې له مخې په افغانستان کې د پښتو ادبياتو د رشد او ودې دوهم پړاو ويېداد بې آثارو خصوصياتو ته په پاملرنه د ويښتيا پړاو نومولی او دېيل ترېښت يې وښته د ويښ ځلميانو له ملي او مترقي غورځنګ سره کړی دی .

د پښتو نثر د پر مختيا يې سير په مطالعه کې دا پړاو زه د ارواښاد محمدهاشم خان له استعفی (د ١٣٢٥ هـش کال د جوزا ٢٥مـ) اود ارواښاد سپه سالار شاه محمود خان غازي دصدارت له پيله شروع کوم او لومړی ټول هغه موثر عوامل ښيم چې ددې پړاو له پيله تر پايه يې د پښتو نثر د پرمختيا په پروسه اغېز درلودلی دی :

(١) د هند د نيمې وچې له ويش وروسته دافغانستان دولت د پښتنو او بلوڅو مسأله را دمخه کړه او ددې مهم دچلولو لپاره يې د خپرونو څېنې ځانګړې اداري جوړې کړې . دغو ادارو دخپرونو له لياري دغه مهم لپاره کار کاوه .

په ١٣٢٨هـش کال کې دهېواد ورځپا (نگرده پښتو) دهدې مسألې د معرفې لپاره په کار پيل وکړ . ورسره جوخت د قبايلو په مستقل رياست کې د تبليغاتو په نامه يوه ځانګه جوړه شوه ، چې د نورو نشراتو تر څنګه يې له ١٣٣٠ هـش کاله د «خپلواکه ترون» په نامه کتابي سلسله چاپوله .

(٢) په ١٣٢٩ هـش کال په افغانستان کې د مطبوعاتو دويم قانون نافذ کړل شو او د همدې قانون په رڼا کې څېنې آزادې شخصي جريدې هم را ووتې ، لکه : انګار ، اولس ، ندای خلق ، وطن ، آئينه او نور... په دې خپرونو کې انګار او اولس د ويښ ځلميانو له جريان سره اړه درلوده

او ددې جریان اساس ددې خپرونو تر تأسیس دمخه ایښودل شوی و او ددې نهضت فعالینو دسپه سالار غازي شاه محمود خان دوخت له دموکراسۍ نه په استفاده حتی په دولتي خپرونو کې هم انتقادي مطالب او دغورځنګ له مرام سره برابر مضامین خپرول .

(۳) دآریانا دایرة المعارف ټولنې هسته هم دغه پړاو کې ایجاد شوه او ددېرشمو کلونو په جریان کې یې دپښتو آریانا دایرة المعارف د ترتیب او چاپ په چارو پیل وکړ او په دې توګه په پښتو کې دلویې انسایکلوپیډیا د ترتیب کار پیل شو. دې ټولنې د دایرة المعارف ترڅنګه په پښتو او دري ژبو دافغانستان دجغرافیايي قاموس د ترتیب وظیفه هم په غاړه درلوده . دا قاموس تشریحي دی . دپښتو آریانا دایرة المعارف سلسله په ۱۰ وو ټوکونو کې په ۱۳۵۵ هش کال بشپړه شوه .

(٤) په ۱۳۳۵ هش کال دپښتو ټولنې علمي اعضا وو ته علمي رتبې ورکول شوې او دارتبې دعلمي آثارو دلیکلو له لارې ورکول کېدې ، دکابل پوهنتون د استادانو دعلمي ترفیعاتو دتیسونو دلیکلو کار او ورسره دپوهنتون د فارغانو له پاره دمانوګراف دلیکلو شرط د خپرونو ، بلېتنو او دکلیوالي فرهنګ د ټولونې او ضبط له جریان سره مرسته وکړه ، چې دا ټول عوامل د پښتو نثر دپرمختیا پر جریان اغېز من وو .

(۵) د ۱۳۲۹ هش او دېرشمو کلونو په جریان کې ځینو نورو دولتي پښتو خپرونو په مرکز او ولایاتو کې په خپرونو پیل وکړ ، لکه : په ۱۳۲۹ هش کال په فراه کې سیستان جریده ، په ۱۳۳۱ هش کال کې

د نړۍ جریدې د خپرونو دویمه دوره پیل شوه، په ۱۳۳۶ هـ ش کال په جلال آباد کې ننګرهار مجلې، د کابل پوهنتون په چوکاټ کې دوې مجلې، د پوهنې دون ارت په چوکاټ کې «پوهنه» مجلې، په ۱۳۳۷ هـ ش کال د هلمند جریدې او په ۱۳۳۹ هـ ش کال د کندهار مجلې په خپرونو پیل وکړ.

د دولتي خپرونو په ارتباط باید دا یادونه ضروري وي چې له یوازې پښتو خپرونو سربېره، په نورو افغاني خپرونو کې هم د پښتو خپرونو یوه فیصدي موجوده وه، خو له بده مرغه چې دغه فیصدي د ولایاتو په خپرونو کې زیاتره له مرکزي او نورو خپرونو د اقتباسونو له لارې پوره کېدله او د نویو لیکوالو د روزلو د یوې زمینې په حیث ترې ګټه نه اخیستل کېدله.

(۶) د سردار محمد داؤد له استعفی وروسته چې کوم نوی اساسي قانون په ۱۳۴۳ هـ ش کال کې نافذ شو په دې قانون کې پښتو د افغانستان ملي ژبه ومنل شوه؛ پښتو او دري دواړه رسمي ژبې وبلل شوې او حکومت ته وظیفه ورکړل شوه چې د پښتو د روزنې لپاره کار وکړي. د همدې غوښتنې پر بنیاد د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په چوکاټ کې د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا اداره جوړه شوه. دې ادارې د خپل فعالیت تر پایه ډېر پښتو کتابونه چاپ کړل.

د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت د ښاغلي عبدالجلیل وجدي د تصدۍ په جریان کې په وروستیو دوو پېړیو کې د پښتو چاپي آثارو نړیوال سیمینار هم جوړ کړ. دا سیمینار د پرګتور و. د دې سیمینار

د دې نسبت په خاطر د دې برښو په شا وخوا کې کتابونه نشر شول .

(۷) په ۱۳۴۲ هـ ش کال په جلال آباد کې د طب د پوهنځي په جوړېدو سره د ننګرهار د پوهنتون بنسټ کېښودل شو . په دې پوهنځي کې د درس جریان په پښتو و او د نوي عصري طب ډېر کتابونه په پښتو ترجمه شول او یا پښتو ولیکل شول .

د ننګرهار پوهنتون تر څنګه د څلوېښتمو کلونو په جریان کې په کابل پوهنتون کې هم داسې یو حرکت شروع شو چې پښتو ژبیو محصلینو ته دې درسي مواد په پښتو تهیه شي . په همدې بنا د دې کلونو په جریان کې ځینو پوهنځیو کې درسي کتابونه په پښتو واوښتل او د کسټو له لارې تکثیر شول ، د ترجمې کار نیا تره محصلینو کاوه .

(۸) په ۱۳۴۶ هـ ش کال په کندهار کې د احمدشاه بابا د کتاب خپرولو مؤسسه جوړه شوه . دې مؤسسې هم د ځینو کتابونو د چاپ خوا ته هڅه وکړه . په کندهار کې د طلوع افغان ادارې د پښتو آثارو د چاپ کار له ۱۳۱۵ هـ ش کال را پیلې خوا پیل کړی و ، په دې برخه کې یې ښې ښه وپاله او ورسره په ننګرهار کې موجودې د مطبوعاتو ادارې هم دا کار پسې وپاله .

(۹) د دموکراسۍ په لسیزه کې چې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د سلطنت له وروستیو کلونو سره مصادفه ده د نوي اساسي قانون او د مطبوعاتو د قانون په رڼا کې نوې آزادې جریدې راووتې ، چې ځینې یې د ځینو سیاسي جریانونو له خوا چلېدې او ځینې د اشخاصو له خوا . په دغو جریدو کې د انتقادي او ریالستیکو آثارو او د بیانو نشر ته زمینه مساعده شوه ، که څه هم دا جریدې په دواړو ژبو ( پښتو او دري ) خپرېدې

خو بیا هم د پښتو پر برخه یې سربې د دې پړاو د منظومو او منثورو آثارو په پرمختیا یې یون کې حساب کولای شي. د اجریدې د پړې وې، د ځونومونه دا دي: افغان ملت، خلق، پرچم، شعلهٔ جاوید، مساوات، ملت، ترجمان، کمک، روزگار، کاروان (ورځپاڼه) افکار نوی، افغان او نور ....

(۱۰) د دې پړاو په وروستیو کلونوکې په افغانستان کې یو سیاسي بدلون راغی او سردار محمد داؤد د پاچهي نظام پر ځای او پر ځای یې جمهوري نظام اعلان کړ. په دې دوران کې د فرهنگ مؤسسې ته یو څه توجه وشوه او د هېواد د بېلا بېلو فرهنگي مؤسسو له خوا د ېر سیمینارونه جوړ کړای شول او د هر سیمینار په مناسبت د ېر کتابونه چاپ شول.

د پښتو ټولنې په رهبرۍ کې عمده بدلون ولیدل شو، ځوان تعلیمیافته کسان د دې ټولنې په راس کې مقرر کړای شول او پروگرامونو یې د کورسونو په شمول تغیر وموند. د ېر کتابونه یې چاپ شول. سیمینارونه یې دایر کړل. د پښتو آریانا دایرة المعارف نړیه بشپړه شوه.

په همدې دوران کې په ۱۳۵۵ هرش کال کې د پښتو څېړنو نړیوال مرکز جوړ شو او په ۱۳۵۵ هرش کال د پښتو بیا وړتیا او پرمختیا ځانګړ تر ددوه میاشتني "پلوشه" نومې مجلې د نشراجازه ورکړل شوه او ورسره په همدې کال د پکتیا مجلې هم په خپرونو پیل وکړ.

دا او دې ته ورته عوامل چې زمایه نظر د وېښتیا د پړاو پر فرهنگي فعالیتونو یې اغېز درلود. پښتني فرهنگ یې د پرمختیایي یون پر لاره سم کړ.

د ویښتیا د پړاو فرهنګي فعالیتونه هم زیاتره د روښانتیا د پړاو دوروستیو برخو د لیکوالو له خوا ( د مخه یې د روښانتیا په پړاو کې یادونه شوې ده ) پر مخ ولاړل. دا لیکوال زیاتره په دې پړاو کې هم ډېر فعال وو، د فرهنګي ودې پر جریانونو یې موثره اغېزمني درلوده او د همدغو جریانونو په پېچومو او کړلېچونو کې یې ډېر آثار فرهنګ او خلکو ته وړاندې کړل.

د روښانتیا د پړاو له لیکوالو سربېره د ویښتیا په پړاو کې ځینې داسې لیکوال هم متبارز شول چې ځینو یې د روښانتیاد پړاو په وروستیو برخو کې لیکل پیل کړي او ځینو به همدې پړاو کې په کار پیل وکړ او په همدې پړاو کې متبارز شول، لکه: غلام محمد فرهاد، انوارالحق ګران (۱۹۰۸-۱۹۷۳ع) سعدالله صافی، عبیدالله صافی، شهید سید بهاءالدین مجروح (۱۹۲۸-۱۹۸۸ع) اروابناد محمد هاشم میوندوال (۱۳۵۲ هـ ش وژل شوی)، عبدالوکیل صداقت (۱۳۷۳ هـ ش مړ)، عبدالرؤف قتیل، عبدالله بختانی، نورمحمد تره کی، موسی شفیق، حفیظ الله امین، سلیمان لایق، عبدالله غمخور، اروابناد محمد ګلاب ننګرهاری (۱۳۶۹ هـ ش مړ)، محمد شاه ارشاد، غلام نبی چکنوری، سعدالدین شپون، محمد حسن صافی، محمد حسن کاکړ، محمد رحیم الهام، حبیب الله ترږی، ننګ یوسفزی، لطیف جلالي، نادر جلالی، محمد صدیق روهي، دوست شینواری (۱۳۷۲ هـ ش مړ) محمد عالم اتمان، پوهاند میرحسین شاه، محمد علم بخرکی، عبدالرزاق زهیر، ګل محمد نورزی، محمد ابراهیم عطایی، محمد ولی حلمی، علی احمد جلالي، محمد یونس مراد منهاج الدین ګهیځ، محمد یوسف صافی، عبدالباري اشنا، سلیمي کندهاری

محمد گلاب بشار ، نصر الله حافظ ، سیلاب صافی ، محمد انور نومیالی
محمد نادر ایوبی ، غلام محی الدین ایوبی عبد الصمد ویسا ، عبد الحکیم هلالی
میرا جان سیال مومند ، محمد صدیق پسرلی ، نجیبه نژند ، معصومه
عصمتی ، شریفه عصمتی ، مستوره شال ، محمد جان فنا صافی ، عزیز الرحمن الفت
محمد مومن پتوال ، سید الشاه پولاد (۱۳۰۵-۱۳٦٤ هـ ش) دولت محمد لودین
نیک محمد پکتیانی (۱۳۰۱-۱۳۵۹ هـ ش) محمد ایوب مومند ، محمد طاهر بورگی ،
راز محمد وینس ، سید محمد طاهر بینا (۱۲۹۲-۱۳٦۵ هـ ش) محمد طاهر
افق ، میر سعید بریمن (۱۳۰۵-۱۳٦۹ هـ ش) عبد الجلیل وجدی ، مجاور احمد زیار
کبری مظهری ، عبد الاحد یاری ، حبیب الله پښتون زوی ، محمد حسن وسمل
بسم الله خیرمن ، حمید الله امین ، عبد الرسول امین ، روح الله مراد ،
غلام محمد تره کی (۱۳۵۷ هـ ش مړ) سید احسان الله هیر ، غلام سخی
انتظار ، نصرت کندهاری ، سخیداد فایز ، قیام الدین کشاف ،
عبد الرؤف خپلواک ، محمد دلبر سمسور صافی ، بسم الله کمکی ، سید
اسد الله ستومان ، سید فاروق ، غلام غوث خیبری ، عبد الاحد عارض
روښند ل وردک ، نور محمد پوونده ، پاینده محمد روهیلی ، عیسی خان
جاله وال ، نور محمد کریزی ، خالد روښان ، نور احمد شاکر ، سید یوسف
میرنی ، محمد یوسف ویران ، خواجه محمد زهیر ، عبد الهادی هدایت
غلام محی الدین زرمل وال ، سید حکیم کمال شینواری ، معین الدین برهانی ،
بایزید اشک ، دکتور پالوال ، آغا محمد کرزی ، ثناء الله ثناء ، عبد الرؤف
ویسا ، عبد الصبور ، سعد الله ، غلام دستگیر رشک ، عبد البصیر احمدزی
محمود سوما ، عبد المنان ملکری ، عبد الغفور باهر ، محمد کبیر ،
سعید افغانی ، عزیز الرحمن نیازی ، کلیم الله متین ، میا خان آفریدی

لعل محمد غریب ، غلام حضرت روغمن ، عبدالله مسیزی ، رازق نړیوال

دکترمن فضل ربي ، انوار الدین انوار ، جان محمد یکتا ، عبدالقدوس تندر

عصمت الله روحاني ، عزیزالله واصفي ، سمیع الدین ژوند ، غلام محی الدین

تره کی ، فیض محمد نومیر ، گل الرحمن حکیم ، دوکتور سرزمین کیمور ،

گلزرک ځدراڼ ، مموزی ، فضل محمد فضلي ، صالحی ، محمود فارانی

محمدیوسف کاکړ ، میوندی ، عبدالاحد وحید ، قدرت الله حداد ، سلطان محمد

تره کی ، میرحبیب سهیلی ، غلام صدیق محبی ، عبدالغفور ویاند ،

محمد ولي مندوزی ، محمد اسمعیل سرهین ، محمد هاشم رحیمی ، خیرمحمد

ساد ( ۱۳۱۶ - ۱۳۶۱ هـ ش ) عزیزالله امرخیل ، حبیب الله رفیع ، عبدالرحیم

ځدراڼ ، علي محمد منګل ، شاه دولا پتمن ، عبدالباری غیرت ، نصرالله

منګل ، محمد نعیم سالارزی ، محمد عارف غروال ، محمد صابر خوشکی ، وزیر

تنهوال ، سرفراز مومند ، خانبار تنیوال ، مجاور احمد مومند ، حبیب الله

اپریدی ، محمد امین واکمن ، عبدالعلی ارغنداوي ، بلال احمد بری ،

هنر پښتون ، نورمحمد غمجن ، شاولی ساپی ، جلال الدین کونړی ،

میرزا محمد ذهینیار ، حبیب الرحمن تنګ ، طالب ، شازمان اوریځ ،

محمد شفیق وجدان ، محمد صدیق سیلانی ، محمد سالم حارث ،

محمدالله دوران ، محمد جان ساپی ، سید محمود کارګر ، عبدالمتین متین

معین یاجوری ، محمد اقامتین ، منت بار ، غلام محمد زرملوال ، شاولی

قرار ، غیور ، عبدالرحمن بلوڅ ، باور ، شیرزاد یعقوبي ، اسدالله شینواری

عبدالعزیز عازم ، ناصر شینواری ، سید عبدالقادر بها ، موسی محتاج

متی زی ، عبدالکریم پتنګ ، ډاکتر زیور ، دوکتور زرغونه زیور ،

عبدالشکور صافي ، محب الرحمن هوسا ، عبدالقدیر فهیم ، عبدالجلیل سرتور ، ګل جنان ظریف ،
ظریف تنهوال ، موسی معروفي ، محمدطاهر ستانه ، نورمحمد غمجن او نور به لسګونو لیکوال .

پېژندل شوي دي یا دوه شوي لیکوالو او څېړونکو او لیکوالو چې متفرق مضامین یې په مطبوعاتو کې خپاره دي، موږ په دې برخه کې په لسګونو نور پېښتانه نثرلیکوال هم وینو چې د لیسانس دورې مانوګرافونه یې په پښتو نثر کښلي دي. ددې مانوګرافونو بشپړ فهرست کابل پوهنتون خپور کړی دی، خو څرنګه چې هغه فهرست اوس له موږ سره نشته، نو څرګه دغو ښاغلیو نومونه دلته رانخلل چې په مطبوعاتو کې یې نثرونه نه دي خپاره شوي. یوازې د پښتو ادبیاتو د څېړنو مسایلو په باب چې چا په دې برخه کې مانوګرافونه لیکلي دي او نور آثار یې نشته او یوازې د همدې مانوګراف له مخې یې پېژنو، د څېړنو نمونه دا دي:

نصرالله فاضل (د میدان شعراء نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳۳۷ هـ ش کال) عبدالرشید عزیزي (د لغمان محلي شاعران نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٤۱ هـ ش کال) سید امیر (د ننګرهار د سیمې شاعران نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٤٦ هـ ش کال) عبدالجمیل زاخېل (د شکي پخوانی شاعران نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٤۸ هـ ش کال) محمدعلم خروټی (د کوملی اولسوالي نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٤۹ هـ ش کال) غلام دستګیر (د پښتو یو نوموړی شاعر «عبدالعزیز فراهی» نومي مانوګراف لیکوال) محب الدین (د لغمان ولایت محلي شاعران نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٥۲ هـ ش کال) ګلدار بشیري (د ننګرهار د سیمې نوي اوازه شاعران، ۱۳٥٦ هـ ش کال) نظام الدین (د محمدعثمان د اشعارو مجموعه نومي مانوګراف لیکوال) عبدالاحد سنګاره (دیوه اولسي شاعر پېژندنه نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٥٦ هـ ش کال) شېرزاده (چپلیار د سیمې د اولسي شاعر امیرزاده د اشعارو مجموعه، نومي مانوګراف لیکوال، ۱۳٥٦ هـ ش)

محمد ظاهرهمت، گل آقا کهوال، فضل ولي، عبدالطيف، معروف شاه، نصرالله او نورو دغسې ما نو گرافونه کښلي دي چې لړه يې د ېږ ه اوږده او د ښېښتو نثر په پرمختيا يي سير کې ډېر ې خبرې کېداى شي.

د دې ډېراو نثرليکونکى هم، لکه د تېر ېېراو زيا تره د نثر ترڅنګه نظم ته هم مخه کوي او د ځينو په نثرليکنه کې هم د عادي، هنري او علمي نثرو نو بېلګى موندلى کېږي.

ځيني کسان يې داسې دي چې هغوى ترنثر ليکونکيو زيات د شاعر په حيث متبارز شخصيت لري، لکه: محمد صديق پسرلى، سيلاب صافي، نصرالله حافظ، عبد الرؤف قتيل، عبد الباري جهاني او ځيني نور خو دا چې نثرونه يې هم ليکلي دي، نو ځکه په دې ځاى کې هم يادشول.

د اسې کسان چې پوازې نثرليکلو ته يې ځان وقف کړى وي، هم په دې ډېراو کې شته، لکه، نورمحمد تره کى، عبيدالله صافي، محمد حسن ضمير صافي، پوهاند ميرحسين شاه، غلام غوث خيبري، حبيب الله تږى، محمد صديق روهي (که څه هم دوى دواړه تږى، روهي نظمونه هم لري خو نثرليکنه يې ډېره متبارزه ده)، دوى د نثرليکونکو په حيث پېژندل کېږي نه د شاعرانو په توګه) محمد حسن کاکړ، عزيزالرحمن الفت، گل محمد نور زى، دولت محمد لودين، عبد الحکيم هلالى، سيدالشاه پولاد، نصير هنر، پتنګ او ځيني نور...

د دې ډېراو په ليکوالو کې په هنري نثر کې د شپون او شفيق سبکونه ځيني خاصې ځانګړتياوې لري. په زياته د شپون سبک دومره مليح دى چې حتى له خيلو عادى او علمي نثرونوسره هم د طنز، روايت او حکايت چاشنى مله کوي او خپل سبک ته خاصه ځانګړتيا وربخښي، معنى دا چې په عادي

اوعلمي نثرونو کې هم داستان لیکونکي یاڼې کېږي .

دغه راز په هنري نثر کې نورمحمد تره کی او سلیمان لایق هم دځانگړو سبکونو خاوندان دي . د دوی هنري نثرونه که په ناولونو کې دی، که په لنډو کیسو، لیکنو او یا طرحو کې په کلیوالي کړنو او پولنو پسولل شوي او لوستونکی داسې فکر کوي چې دکلي یو عام سړی و دسره یوه خبروکړي دی . سره له دې چې دتره کي په آثارو کې دیالوګونه فلسفي رنگ اخلي او د یو بزگر او شپون له خولې دمارکسستي ایډیولوژۍ نه راوتلې خبرې اوریدل کېږي ، خو له دې سره سره هم نورمحمد تره کی په نثر کې د خپل خاص سبک خاوند و او دلایق دنثر دسبک ښکلې بیا ترده هم زیاتې دي، ځکه له لایق سره دده شاعره اروا او شاعرانه مشرب دکلماتو په پیېلو او د عبارت په آرایش کې ډېره مرسته کوي .

په عادي او علمي نثرونو کې دحبیب الله تږي ، محمدصدیق روهي او محمد انور نومیالي سبکونه خپلې خاصې ځانگړتیاوې لري . متانت، خودبلت او رواني یې ښته او دمفاهیمو په ارائه کې ډېر بریالی ایسي .

د دې پېراو په لیکوالو کې مجاور احمد زیار هم د ځانته سبک خاوند دی . ده د ځلو پښتو کلونو له پیله د یوې سوچه لیکنۍ پښتو دعامولو هڅه پیل کړه ، چې د بېنځو سمو کلونو له پیله یې نوی خوځښت وموند . ده غوښتل چې د لیکنې داسبک عام شي په اژانس ، راډیو او نورو مهالنیو خپرونو کې ده او نورو په همت جوړ شوي ویېونه وکارول شي . ځینو کسانو ددې چارې ملاتړ هم وکړ ، لکه حبیب الله رفیع او نورو ...

خو ده داهڅې په کابل پوهنتون او پښتو ټولنه کې له مخالفت

سره هم مخامخ شوې او مخالفينو دا استدلال کاوه چې ټبه دافهام اوتفهيم وسيله ده ، څو مره چې دا عمليه روښانه ، ساده اوعام فهمه وي په هماغه اندازه ښه پرمخ دروي ، امابالمقابل که څومره سختوالی پکې راشي هومره دا عمليه له خنډونو سره مخامخېږي.

خو ډاکټر زيار او پلويانو يې دا ويل چې که مونږ ژبه خپل سرته پرېږدو دبېلا بېلو اغيز منيو له امله به يوه ګډوله ژبه ترې جوړه شي چې خپل ټول خصوصيات به يې له لاسه ورکړي وي. بالاخره دوکتور زيار خپل دغه تيسس ته يوه علمي جوله ورکړه اوبه خپل يو اثر پښتو لېکلا رکې يې راوړل: « په دې هڅه مو تردا مېنځ ديوه انډول اوتناسب دټينګولو لپاره سمدلاسه لاس وي- (ښه-بشپړ کړه) ليکنی يا علمي پښتو درا منځ ته کولو لپاره دفيصدۍ آر او معيار وټاکه، په سلوکې ۲۵ له اوسنيو ګډ دودو (لهجو) ۲۵ له زړو ادبي متونو ، ۲۵ له ټاکنو او ۲۵ له نورو ژبو څخه دپور ونو په توګه » (۱٦)

په هر صورت دجاوراحمد زيار اونورو خواخوږ يو په هڅه اوهاند دځينو مدني اوتخنيکي وسايلو اونومونو لپاره وضع کړي نومونه ډېر ګران نه دي ، خو ځينې يې بيا يوڅه ګرانوالی لري اوعام خلک ترې لکه څنګه چې ښايي استفاده نشي کولی . زيار او دده دليکنې سبک هم په دې پېرکې مطرح دی .که څه هم زمونږمشرانو، لکه:استادحبيبي ددغه ډول هڅو په باب ليکلي وو : « ځينې خلک په ښه نيت د پښتو سوچه ليکدود ته اړم سوی دي ، له ځانه کلمات جوړوي اوبه پښتو يې ورننباسي چې نورخلک نه يې پوهېږي. دژبې دغسې-

سوچه کول که په سبه نیت هم وي د کښتې پر ځای تاوان لري او سیوه نا مفهومه دپېریانو ژبه ځینې جوړوي . دا کار د یوسړي نه دی ...»

(د پښتو چاپي آثار، ۶۳مخ)

له دغو ځانګړو وسبکونو بر سیره نور لیکوال هم ځینې د تېر پړاو له مشرانو متابعت کوي او ځینې خپل ځانګړي سبکونه هم لري چې د ټولو تفصیلي بیان د دې لیکنې کار نه دی .

د دې پړاو لیکوال د روښانتیا پړاو په عکس زیاتره د عالي تحصیلاتو خاوندان دی . ځینو یې په خارجي هېوادونو کې زده کړې هم کړې دي . د وی دلومړي پړاو دلیکوالو غوندې هرڅه نه لیکي بلکه یوڅه اختصاصي شوي سکاري ، په تېره ځینې هغه لیکوال چې په خارجي هېوادونو کې یې زده کړې کړې دي .

دلته ددې خبرې یادونه هم ضروري ده چې ددې پړاو زیاتره تعلیمیافته لیکوالو په زیاته خارج ته تللیو فرهنګیانو د تولید اندازه ډېره زیاته نه وه ، بلکه لږه ده . په دې برېر کې هم ځینې هغه لیکوال چې دودیرې زده کړې لري یا لږې زده کړې لري دهغوی دکار حجم زیات او چشمګیر دی ، لکه ، ښاغلیو : حبیب الله رفیع او سړ محقق عبدالله بختاني چې دیوې اکاډیمۍ هومره کارونه یې کړي دي .

ښاغلی ځینې ښاغلي داسې استدلال وکړي چې زمږ د بحث مور د لیکوالو ترکمیت کیفیت ته زیاته توجه کړې ده . زما په عقیده زموږ په شرایطو خلکو لږ پاره د غسې ځوابونه قناعت بخښونکي نه دي . ځه دا د بېړهنې دیولاروې په توګه دایه ټیګکه ویلای

شم چې د معاصر دوران د لیکوالو هر اثر تر یوه حده زموږ د فرهنګ د ماڼۍ د جوړولو په چار کې د یوې خښتې کار ورکړی دی. زه خپله د استاد رشاد د دې خبرې: «پښتو په اوسنیو شرایطو کې تولید ته اړه لري. موږ باید په دې شرایطو کې په دې ژبه کې هر ډول آثار را منځ ته کړو، د چاڼ دوره به بیا وروسته راځي او آینده ګان به بیا دا کار کوي.» طرفدار یم. موږ باید تر زیاته حده زیار وباسو چې د آثار وکیفیت مرهم باید لوړ وي خو دا پلمه باید ونکړو چې د کیفیت د سنه کېدو په سلسله کې کمیت هم د صفر درجې ته را ټیټ کړو.

## پښتو نثر ته د دې پړاو د لیکوالو بخښنې:

داپړاو د ۱۳۲۵ هـ ش

کال د جوزا له پیله پیل شي. وروسته پیل کېږي او د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور تر ۷ مې دوام مومي.

د دوهمې جهاني جګړې له پای ته رسېد وسره سم په نړۍ کې آزادي غوښتونکي غورځنګونه سر راپورته کوي. د هند په نیمه وچه کې هم د هند د آزادۍ لپاره د سیاسي مبارزو د اوج مرحله وه او دې ته خبره رسېدلې وه چې په کال یم کې انګریزان د هند له نیمې وچې ووزي او د دې سیمې خلک د خپل سرنوشت ټاکلو ته پرېږدي.

د افغانستان د ننه هم حالات داسې وو چې نورنو د سردار محمد هاشم د حکومت سره نیولې او سختګیرانه پالیسۍ افغانانو په تېره بیا روښانفکرانو ته د ننې او زغم وړ نه وه. په همدې بنا

سردار محمد هاشم خان د ۱۳۲۵ هش کال د جوزا په ۲۵ مه استعفی ورکړه او پر ځای یې سپه سالار شاه محمود خان غازي صدراعظم شو. ده پېره نرمه پالیسي خپله کړه. د دموکراسۍ زړی همدا وخت زرغون شو. د ویښ ځلمیانو او وطن په نامه سیاسي حزبونه جوړ شول، د بیان د آزادۍ زمینه مساعده شوه. په ۱۳۲۹ هش کال کې د مطبوعاتو قانون وضع او ورسره آزادې جریدې خپرې شوې. د آزاد نشراتو ترجاري کېدو د مخه حتی د دموکراسۍ نه په استفاده په حکومتي مطبوعاتو کې انتقادي، سیاسي مطالب نشرېدل.

د دموکراسۍ دغه دوران ډېر پایښت ونه موند، ورپسې د سردار محمد داؤد دوره پیل شوه چې له آزادیو او دموکراسیو سره د برخورد په مسأله کې یې د سردار محمد هاشم خان د صدارت د دورې یو پر مختللی شکل بللی شو.

په دې دوران کې که څه هم مطبوعاتو او د فرهنګ د ودې ځینو هستو سر راهسک کړ او ځینو نوې غوړونې وکړې، خو له دې سره سره آزاد مطبوعات نه وو او لیکوالو د حکومتي مطبوعاتو له لارې د خپلو زړو خبرې خلکو ته ورساندې کولې.

د سردار محمد داؤد د صدارت دوره د خپلو پښتو کلونو په اوایلو کې پای ته ورسېده او د دموکراسۍ لسیزه پیل شوه. په دې لسیزه کې نوی پرمختللی اساسي قانون په ډېرې آزادۍ افغانانو ته وړاندې کېږي چې یوه هم د ځینو جریانونو، جریانونو او آزادو خپرونو منځ ته راتګ و. دغه نوی سیاسي پیر د پښتو ادب د ودې پر مسیر ونو هم اغېزې درلودې، خو دا دوران بیا هم د سردار داؤد کودتا

له لارې له مینځه ولاړ او د شاهي پرځای د سردار محمد داؤد د چیل وړاندې کړی جمهوري نظام ته واک ورسېد.

په دې دوران کې بیا هم د آزادۍ او دموکراسۍ ټول نهادونه رنګې شول او دیوه ډول اختناق ترسیوري لاندې خلکو خپل فرهنګ ته کار کاوه، خود انتقادي او ریالیستي آثارو د نشر زمینې ډېرې محدودې وې. همدې رښتونو، یکه تازیو او ځینو نورو داخلي او خارجي عواملو د سردار داؤد جمهوریت هم رانسکور کړ او دده د حکومت په نسکورېد و سره دا پړاو هم پای ته ورسېد. معنی دا چې په دې پړاو کې حکومتونو او ټولنیزو رژیمونو بدل شول.

د دې پړاو د میتود په باب کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي لیکلي دي: «د دوېیمتیا دادبي پړاو هنري میتود انتقادي ریالیزم دی، چې په عمده توګه د اداري فساد، بیروکراتیزم، اختناق، ارتجاع ظلم او استثمار... پرضد مبارزه پکې منعکس شوې ده.» (دادبي تاریخ میتودولوژي، ۳۶ - ۳۷ مخونه)

د دې پېر د ادبي هنري آثارو د یادې شوې موضوعي ځانګړتیا ترڅنګه چې له لومړي پړاوه زیاتې پرمختللي نظریې او مفکورې منعکسې په دې پړاو کې هنري، عادي او علمي نثرونه هم ترلومړي پړاوه په یوه پرمختللي مرحله کې واقع شول او پښتو نثر د پرمختیا یوه نوي پړاو ته داخل شو چې عمومي مشخصات یې دا دي:

(۱) پښتو هنري نثر په دې پېر کې د پرمختیا په لور نوي او تازه قدمونه واخیستل. د نثر دغه ډول د لنډې کیسې، ډرامې، ادبي پارچې (تکلونو، طرحو او لطیف ادب) او ناول په ژانرونو کې پرمختیا وموندله

په دې پېر کې دغه نوې ژانر ونه چې یې د لومړي پړاو په وروستیو پنځلسو کالو کې دافغانستان پښتو ادب ته لاره کړې وه ، په دې پړاو کې ورو ورو خپل ځان تثبیت کړ، نوې افقونه یې پرمخ پرانیستل شول او ابعاد یې پراخ شول .

که څه هم لنډه کیسه د روښانتیا د پړاو په وروستیو څو کلونو کې باب شوه ، خو هغه مهال یې د لیکنې شپوه او لاره چاره د حکایې په چاپېریاله ډېر لږ وتله ، فني خواوې یې کمزورې وې ، اما په دې پېر کې شپون ، شفیق ، ترې ، لایق ، محمد یوسف صافي او او نور وځینې داسې لنډې کیسې ولیکلې چې هم د فن له نظره په ټول پوره وې او هم یې نثرونه د لومړي پړاو د دغسې آثارو د نثرونو په پرتله ښکلي ، جذاب او رنګین وو .

د دې پړاو په هنري آثارو کې ناول هم د لومړي پړاو په پرتله په کمي او کیفي لحاظ زیاته وده موندلې ده . د نورمحمد - تره کي (۱۳۵۸ هـ ش مړ) څلور ناولونه : د بنګ مسافري ، څپه ، سپین او سنګسار ، د قتیل دوه یاران ، د غوث خیبري لمبې او ابدالۍ ستوره او همدا رنګه دکبرا مظهري سپوږمۍ او د سلیمان لایق دي ساحې کارونو په افغانستان کې د پښتو ناول لیکنې سیر څه ګړندی او رنګین کړ . تاریخي وقایعو، او طبقاتي مسایلو ټولو د ناول عنصري ته لاره پیدا کړه او د پښتو ناول لیکنه د پښتو په دغه فرهنګي حوزه کې پرمخ ولاړه .

د هنري آثارو ترجمې هم په دې پړاو کې پرمختیا وموندله د روښانتیا د پړاو څېړنو متبارزو لیکوالو هم په دې لاره کې کارونه

وکړل او په دې پړاو کې تبارز موندلیو څینو لیکوالو هم د نور وتړېو

د هسېري آثارو په ترجمه کې خپله هڅه ونه سپموله.

اروا ښاد عزيز الرحمن سيفي، اروا ښاد محمد هاشم ميوندوال او

عیسی خان جاله وان د پېرې کیسي له خارجي مطبوعاتو پښتو کړې او

په کافي اندازه يې دکابل مجلې او نورو خپرونو له لارې خپلو

هېوادوالو ته وړاندې کړې. اروا ښاد د بېنوا د تاګور ګيتانجلی

استاد رشاد د ليو تولستوی د پېړ نکلونه، محمد علم بختړ کي د تاګور

تاج او استاد شپون دارنست همينګوی زاړه سړي او سينه

ترجمه کړل، دوکتور لودين د مارک تواين تمام ساير

محمد عالم اتمان د شيلر وېلهم تل ترجمه کړل او اروا ښاد استاد خادم

د شريف سرګذشت او نصرت کندهاری مرموزه ملکه وژباړله.

دا آثار ګرده په دې پړاو کې په پښتو نثر واوښتل او د پښتو د

هنري نثر ذخيره يې درنه کړه.

(۲) عادي نثر ونه په دې پړاو کې د ژورنالستيکو ژانرونو له

انکشاف او د مهالنيو خپرونو له ډېرښت سره سمه پرمختيا او پراختيا

موندلې. له دې سربېره په دې پېر کې مونږ څينې داسې کسان هم

پيداکولې شو چې حرفه يې ژورنالستان دي، لکه: خالد روښان، برېمن،

عبدالجليل وجدي، وجدان او څينې نور.

د روښانتيا په پېر کې مونږ داسې حرفه يې کسان نه درلودل

په دغو کسانو کې عبدالجليل وجدي د يوځانګه ژورنالستيک سبک

خاوند دی. دی زيار باسي چې د هر ژورنالستيک ژانر له غوښتنو

سره سم مطالب په ساده او روان ډول وليکي. د ده په سبک کې د

ژوند تالستیکو ژانرونو د نورو لیکوالو په پرتله څه خاصې ځانګړتیاوې هم ترسترګو کېږي.

په همدې پړاو کې عادي نثرونه له ژوند تالستیکو ژانرونو سربېره په نورو څانګو کې هم پراختیا او پرمختیا مومي.

(۳) د علمي نثرونو په ارتباط باید دا یادونه وشي چې په دې پړاو کې علمي نثرونو په لاندې ساحو کې وده وموندله او د تېر پړاو په نسبت یې ځینې بریاوې ودرلودې.

د ادبپوهنې کوم کارونه چې د روښانتیا د پېر ځینو لیکوالو پیل کړي وو هغه د همدغو او ځینو نورو لیکوالو له خوا په دې پېر کې هم پرمخ ولاړل، خو دانکشاف کوم څرک چې مونږ د دې پېر د دغې ساحې په کارونو کې ایستلی شو هغه دادی: په دې پېر کې ځینو تعلیم یافته ځوانانو په خارجي هېوادونو کې زده کړې وکړې د څېړنو له نویو میتودونو سره اشنا شول. د دې دغه میتودولوجۍ پخپلو څېړنو کې وکارولې او د نویو پرمختللیو څېړنو د میتود په باره کې ځینې لارښودي آثار وکښل شول، لکه د کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي د څېړنې لارښود، چې یو مخ د څېړنو نوي او علمي میتودونه معرفي کوي. دغه راز د استاد شپون، پوهاند دوکتور ترېي او پوهاند دوکتور محمد رحیم الهام، ځینې لیکنې د نویو او پرمختللیو میتودونو په معرفه کې له څېړونکو سره مرسته کوي.

دا د بپوهنې له څانګو څخه کره کتنې دا وخت ځان په اصلي بڼه څرګند کړ، د تېر پړاو له محافظه کارانه روش نه را ووته، خو عامه نشو-

او زيات انكشاف یې و نه کړ. د نه انکشاف وجوه یې باید پر جامعه دمسلط ذهنيت دننه وپلټل شي.

په دې پېر کې د ادبپوهانو عمده بريادا ده چې کتابپوهنه د ادبپوهنې ديوې فرعي څانګې په څېر دافغانستان په پښتوادبپوهنه کې ځان راڅرګند وي. که څه هم دا کار په اول پړاو کې اروابناد زمريالي پيل کړی و، خو په دې پړاو کې يې هم د بناغليو: رازمحمد وېږ استاد رښتين او حبيب الله رفيع په کارونو کې ځان جوت څرګند کړ. د بناغلي حبيب الله رفيع د دې لړۍ کارونه ترهرچا ډېر او د دې لارې علمي روښونوته نږدې او ورسره برابر دي.

د دې پړاو دعلمي نثرونو دارزيابۍ په لړ کې باید دا خبره هېره نه کړو چې ژبپوهنې څېړنې هم دغه مهال له دو دېرې ښې راوځي او د دودېزو ژبنيو څېړنو ترڅنګه په علمي ميتودونو برابر و ژبنيو څېړنو هم ځان تثبيت کړ. د علمي ژبنيو څېړنو کار دومره چټک او بېړندی و چې دوېښتيا د پړاو ترورروستيو کلونو پورې يې دافغانستان په علمي او فرهنګي کړيو کې دودېزې ژبنۍ څېړنې بالکل حاشيې ته کړې. د ژبپوهنې او ژبنيو څېړنو او ورسره د ژبې د زده کړې دکتابونو دليکلو پر جريان چې کوم نويوالی سری دامهال محسوسوي دانوښت تر ډېره ځايه د پوهاند دوکتور محمد رحيم الهام پوهاند دوکتور ترېي، پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار، پوهندوی تورا حمد شاکر، کانديد اکادميسين محمد صديق روهي، دوکتور بالوال دوکتورسيد الشاه پولاد، دوکتور هلالي، دوکتور لودين او نورو د څېړنواو هڅو محصول دی.

داجتماعي علوموبه ساحه کې هم داوخت په پښتوکې د ترجمو

او تالیف له لارې ځینې علمي منثور آثار و لیکل او یا ترجمه شول .

داوخت نومیالی مفکر لیکوال شهید پوهاند دوکتور مجروح ، ځینې فلسفي، ژور اجتماعي اوروانې مسایل په پښتو کې ولیکل . دجبر او اختیار ډیالکتیک او ددې کتاب په دوهم چاپ کې اضافي مقدمه او ورډېرې زیاتې شوې نښلونې او ددغه نومیالي پوهاند نور فلسفي او اجتماعي آثار په پښتو علمي نثر کې یوابتکاري زیاتوب دی .

ددې پړاو دپیل له مهاله دافغانستان دتاریخ ټولنې کاروونه مخ په بره روان وو او دافغانستان دتاریخ په باب ډېر کتابونه له دري نه پښتو شول ، لکه: دافغانستان پخوانی تاریخ دوه ټوکه ، په افغانستان کې داسلام خپرېدل ، هوتکیان ، افغانستان په نولسمه پېړۍ کې ، دافغانستان لنډ تاریخ ، په افغانستان کې دژورنالېزم تاریخچه اودې ته ورته نور آثار په اجتماعي علوموکې د ترجمو له لارې پښتو ته واوښتل .

همدا مهال دوو تنو پښتنو مؤرخانو پوهاند دوکتور محمدحسن کاکړ او پوهاند ضمیر صافي د تالیف او ترجمو له لارې د تاریخ د علم په باره کې ځینې مغتنم آثار پښتو ته وړاندې کړل .

د کاندید اکادیمیسن محمد ابراهیم عطایي او معاون سرمحقق محمدولي ځلمي ، ددغه وخت ځینې کارونه په تاریخي اوجغرافي مطالعاتو کې د استفادې وړ آثار دي ، لکه : د محمد ولي ځلمي کندهار، پښتنې تاریخ مفردات ، پښتني هڅې او نور او دعطایي هلمند او دپښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کې .

په همدې پېر کې دکندهار دطلوع افغان دادارې له خوا دبنا غلي

محمدنادر ایوبي دري ټوکه اقتصادي نظریات او دوه ټوکه سیاسي نظریات چاپ او خپاره شول، چې د سیاسي نظریاتو دویم ټوک یې په هلمند کې چاپ شوی دی.

همدا دول په دې پېر کې ځینې نور اجتماعي او اخلاقي کتابونه هم په پښتو ترجمه او یا ولیکل شول، لکه: اجتماعي روزنه (مترجم: سیفي) د ژوندانه هدف (مترجم: نور محمد کهزی) د تمدن قهرمانان (مترجم ثابت) او د اخلاقو رڼا د میا اوراد الدین.

د کابل پوهنتون په چوکاټ کې دننه د علمي څېړنو د مرکز جوړېدل او هم د دې پېر په پای کې د پښتو څېړنو د ټولنې مرکز فعالیدلو، ساحې اجتماعي څېړنو ته زمینې مساعدې کړې. د دغو دوو مؤسسو لپاره پروفیسور عبدالرسول امین په افغاني ټولنه کې د ښځو اجتماعي موقف او د پښتنو اقتصاد او ټولنیز جوړښت (د تهیوال په همکارۍ) نومې پروژې بشپړې کړې. دغه راز سنا غلیو افق او زیور جوړو دغو یا دو شوېو مؤسسو لپاره کومې پروژې بشپړې کړې دي، دا او د دې په شان نورې پروژې ټولې په پښتو کې د اجتماعي آثارو له زیاتوب سره مرسته کوي.

د دې پړاو له اجتماعي آثارو سره په ارتباط کې باید دا خبره هم له یاده ونه باسو چې د دې پړاو د شلو پښتمو کلونو په دوران کې په افغانستان کې په سیاسي ایډیالوژیو سمبال بني اوکیڼې ډلې جوړې شوې. په دغو ډلو کې ځینو ډلو په مارکسیستي - لیننستي تیوریو سمبال تیوریک آثار په پښتو وژباړل او ځینو بیا د سید قطب، محمد قطب او مودودي په پښتو ترجمه کړل او ځینو هم د ملي اړانې په چوکاټ کې ځینې تیسونه وړاندې کړل. د دغو آثارو د لوست او نشر سیاسي نتایج چې څه راووتل

دهغو ښېرل ددې اثر کار نه دی، خویوه خبره یې شته چې په پښتو کې یې مختلف النوع سیاسي او نور یک آثار موجود کړل.

د علمي نثرونو په برخه کې او په پښتو کې د نویو طبیعي علومو زیاتوب د ننګرهار پوهنتون سره ښه اړیکه لري ددې پوهنتون استادانو د نوي او پرمختللي طب د پرمختګ آثار په پښتو وژباړل، یا یې تالیف کړل او په زیات شمېر یې چاپ کړل. له دې سربېره درسي متون هم په پښتو تهیه شول. دا مثال د طب د علم ټول اساسات او هغه څه چې نن ورځ یو طبیب ته ضروري ده، ګرده پښتو ته واړول شول.

په دې مهم علمي کار کې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د پېرو غښتلیو استادانو برخه اخیستې ده، خو اساسي کارونه یې: ډیپلوم ډوکتور شیرزاد، ډاکتر یعقوب، پوهاند ناصر شینواري او ځینو نورو استادانو کړي دي.

دغه راز دغې پړاو د دېرشو کلونو جریان او د څلوېښتمو کلونو په پیل کې پښتو ټولنې او د ښوونې او روزنې وزارت د تالیف او ترجمې ریاست د نړۍ سائنس کلاسیکو لارښوونو بعضاً ځینې کتابونه په ساده ژبه په پښتو ترجمه کړل او خلکو ته یې وړاندې کړل، لکه: د اکتشافاتو لنډ تاریخ (مترجم: ترکی)، وسه وال (مترجم: اتمان) دانشمندان (مترجم سیفي)، بربېښنا (مترجم: محمدحسن ضمیر صافی) هغه حیوانات چې پېژنو یې (مترجم: ثابت)، لرغوني ژوی او د جاذبې قوه (ددواړو رسالو مترجم: وینې) ددې سلسلې بل مالیدلی کتاب رڼا (مترجم: صداقت) نومېږي، ماده، مالیکول او اتم یې بله رساله ده چې مترجم یې پوهاند میرحسین شاه دی.

(٤) د دیني او فقهي مسایلو شپړنې او یا د دین له نظره د ټولنې د ځینو اجتماعي مسایلو د تحلیل او ارزیابۍ کار په دې پړاو کې هم ادامه پیدا کړه، ډېر آثار د ترجمې او تالیف له لارې په پښتو کښل شول، لکه: دین او انساني تمدن (د میر سعید برمن) اسلام او غربي بوهان (د عبدالهادي هدایت) او داسې نور ډېر کتابونه په دې ارتباط په دې پړاو کې ولیکل شول. د سیرة النبي سلسله دا مهال بشپړه شوه، باید ووایو چې عبدالهادي هدایت، کمال شینواری، سعیدا دایز قیام الدین کشاف، معین الدین برهاني، محمد ګلاب بشار، سیفي او نورو په دې پړاو کې په پښتو کې د دیني موضوعاتو په ارتباط کارونه وکړل.

لنډه دا چې په دې پړاو کې پښتو هنري، عادي او علمي نثرونو د درې واړو شایسته د یادوني وړ پراختیا وموندله او د پښتو منثورو آثارو تعداد هومره شو چې له نظم سره د مقابلې میدان ته ورودانګي.

د افغانستان په فرهنګي حوزه کې پښتو معاصر نثر لیکنه له د غو لوړو او پرمختیایي سیرونو وروسته یوې بلې مرحلې ته ور-داخلېږي چې ادبپوهان یې د اوښتون پړاو بولي.

## د اوښتون پړاو:

ادبپوهانو د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور له کودتا نه وروسته ادبي جریان د اوښتون پړاو بللی دی. زه هم د ادبپوهانو په تابعیت د ثور له کودتا نه وروسته د نثر د پرمختیا جریان د اوښتون پړاو بولم، خو د اورسره زیاتوم چې دې پړاو هرڅه په بل مخ واړول

دفرهنګ په بنسټونو کې ځینې اوښتنې وشوې او پښتو ادبیات او پښتنې فرهنګ له یو نوي ازمېښت سره مخامخ سو. په دې پړاو کې پښتو نثر له مطالعې سره په ارتباط کې زه دوو نکتو ته اشاره کوم:

(الف) په دې پړاو کې پښتو ادبیات په دوو استقامتونو کې پرمخ درومي:

لومړی په افغانستان کې دننه؛ دویم د افغانستان نه دباندې دمهاجرو افغانانو له خوا چې غالباً یې سرې د مقاومت جبهه بللی شي. دا چې ځینې بناغلي د فرهنګ په ساحه کې دا معال د مقاومت له جبهې منکر دي زما په ګمان لمر په دوه ګوتو پټوي. موږ د فرهنګ په ساحه کې د مقاومت استقامت نشو هېرولی، خو له دې توضیح سره چې د مقاومت ادبیات او آثار یوازې له هېواد نه دباندې د افغان مهاجرینو په فرهنګي کړیو کې نه دي ایجاد شوي، بلکه د افغانستان دننه هم د مقاومت آثار موجود شوي دي.

بناغلی لیکوال زرین انځور په خپله یوه مقاله کې (دافغانستان د معاصرو ادبیاتو لارې او څولارې) (۱۷) یوازې هغه ځایونه منلي دي چې د روسانو او دکابل دهغه وختني رژیم پرضد د مقاومت ادبیات پکې ایجاد شوي دي. بنایي په یوه مقاله کې- لکه څنګه چې بناغلي انځور کښلي- د مقاومت د ادبیاتو ځایونه له جزئیاتو سره ومنول شي، مګر په عامو مباحثو کې د مقاومت ادبیات تر یوه واحد عنوان لاندې راځي بلکې نه لري که هغه مقاومت دننه وي یا دباندې او یا مختلفو هېوادونو کې. څکه هدف مشترک دی او دیو مشترک هدف لپاره لیکوالو او شاعرانو آثار ایجاد کړي دي.

ن دلته د پښتو نثر د پرمختیا د مسئلې د څېړلو په لړ کې د-
اوښتون پړاو په دوو ساحو کې څیړم یو د هیواد دننه او بل
هم د هیواد نه دباندې د مهاجرو لیکوالو په فرهنګي کړیو کې.

د اوښتون په پړاو کې چې سرې د پښتو نثر د پراختیا او پرمختیا
او یا په شاتګ پر مسأله اغیزمن عوامل ارزیابي کوي. نو دا موضوع
باید د دې پړاو دننه په دریو پړاوونو کې مطالعه کړي. ځکه-
موثر عوامل له کودتا نه وروسته د واکمنانو له ادلون بدلون سره
سم نوی رنګ اخلي. نه د رژیم د واکمنانو د تغییر جریانانو
په پاملرنه پر موضوع اغیزمن عوامل داسې بنیم.
۱- د ثور د کودتا رژیم د واکمنۍ په دوهمه میاشت
کې د پښتو کورسونو تقرر لغوه کړای شو. د کورسونو له منځه
وړل ښه کار و، خو په مقابل کې باید د همدې هدف د پرمختیا
لپاره چې دا کورسونه ورته جوړ شوي وو څه کار شوي
وای.

ځینو کسانو همدا وخت ویل چې رژیم د پښتو کورسونو د لغوه په
جبیره کې د «دولت رسمي ارګان» «د ثور انقلاب» ګرده په پښتو
خپروي.

د یادونې وړ خبره دا ده، چې د کودتا عاملینو دا کار وکړ،
«د ثور انقلاب» اخبار یې پښتو راوایست خو پښتو ته یې له یوې
پرته بله ګټه ونه درلوده.

ځکه چې په افغانستان کې دوې ژبې رسمي وې «پښتو او

دري) دا صولو له مخې بايده دي چې د دولت ارګان په دواړو ژبو وي. له دې سربيره پښتو ته يې عملي ګټه هم چندانې نه وه، دا ځکه چې تر دې مهاله د څخه په جمهوري او شاهي رژيمونو کې هم د دولت رسمي ارګان په پښتو او دري وې چې په پرنسيب کې يې بايد ۷۵ فيصده پښتو او ۲۵ فيصده دري ژبه خپرونې کولای، خو موږ ليدل چې په عمل کې لن ترلنه نهايي خو به په پښتو چاپيده. له دې سربيره پښتو يوه ځانګړې ورځپانه درلوده، چې هيواد نوميدله. د کودتايي رژيم - عامليو که د ثور انقلاب ګرده پښتو راو ايست ورسره په څنګه کې يې د هيواد اخبار حيثيت صدمه وليدله. خپل اهداف يې هم له لاسه ورکړل او له بلې خوا ورو ورو په دوه ژبي اخبار واوښت. د دې بحث نتيجه دا چې «د ثور انقلاب» په پښتو چاپيدل پښتو لپاره چندان ګټور تمام نه شو.

۲- په ۱۳۵۷ هـ ش کال کې دافغانستان دعلومو اکاډمی له تأسيس سره سم د پښتو د ودې په مؤسساتو کې د پښتو د پياوړتيا او پراختيا مؤسسه له خپل نشراتي ارګان دوه مياشتنۍ فرهنګي پلوشه نومې مجلې له سره بالکل لغو اعلان کړل شوه، پښتو ټولنې هم خپل مستقل حيثيت له لاسه ورکړ او د ژبو او ادبياتو مرکز د يو انستيتوت په حيث پاتې شوه.

۳- د ۱۳۵۸ هـ ش کال له پيله د کابل پوهنتون د پوهنځيو ټول نشراتي ارګانونه د مرکزي کولو په نامه ټول بند کړل - شول. په دې جمله کې دوړمې علمي تحقيقي پښتو مجله هم بنده

شوه او هغه پښتو خپرونې چې به د پوهنتون په نورو خپرونو کې کېدلې طبیعي ده، چې د مجلو له بندېدو سره هغه هم بندې شوې.

۴- د دې دوه ډوله مؤسسو او خپرونو د له منځه وړلو تر څنګ د ۱۳۵۸ هـ ش کال په اوایلو کې د خلق اخبار جاري کړی شو. د دې اېډیشنه (پښتو- دري- اردو).

۵- په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې د ننګرهار پوهنتون پراخ کړل شو، د انجینري، زراعت، ښوونې او روزنې او اقتصاد پوهنځي پکې نوي جوړ کړای شول. د دې پوهنتون درسونه پښتو وو، نو ځکه یې اغېزمنې د فرهنګ پر رشد ثابته ده.

له لوړې تعریف شوې روحیې سره د څه د پاسه سل زره کسیز خارجي فوج په ملاتړ بله ډله د هېواد په سرنوشت حاکمه شوه.

څنګه چې مې د دغه ډول دې ډلې له ابتدا نه له پښتنو او پښتو سره د ښمنې پیل کړه او د دوی د فرهنګ د له منځه وړلو لپاره یې هلې ځلې کولې.

له لومړي ورځې یې په ملي ترمینالوژي پسې واخیسته هغه ترمینالوژي چې په دولتي ژبو جوړه شوې او د دوی تر وخته رارسېدلې وه، دوی د ښمنې ورسره شروع کړه.

ښه مې په یاد دي، چې د ۱۳۶۰ هـ ش کال د مني ابتدا کې د لیکوالو د اتحادیې له خوا د مقاله لیکنې سیمینار جوړ شوی و، په دې سیمینار کې ځینو نباغلیو داسې مقالې وړاندې کړې چې پښتو کلمې باید له دري لیکنو نه وونې، معنی یې داوه

چې هیوادنۍ ترمینالوژي باید له لیکنو څخه جګه کړل شي.

کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي، چې پر نوموړې مقالې تبصره کوله، نوموړي وویل:

«دلته زما مخې ته د اپنیس اخبار پروت دی، له دې اخباره یو دري خبر د بېلګې په ډول انتخابوم او ګوروبکې چې په دې یو خبر کې څو کلمې دري او څو د نورو ژبو دي. خبر د کشتمند د یو ملاقات خبر و، ټولې پنځلس کلمې درلودې، په دې پنځلسو کلمو کې ۷ کلمې عربي دوه کلمې ترکي او شپږ دري وې. نو که چیرې په یوه دري خبر کې داوو عربي او دوو ترکي کلمو تر څنګ یوه پښتو کلمه پوهنتون یا ښوون یا ښوونځي راشي، نو یې عیب څه دی» استاد روهي زیاته کړه: «پښتانه په هر څه پوهیږي خو...»

۲- د ۱۳۶۰ هش کال له پیله یې د کندهار، ننګرهار او پکتیا پښتو مجلو خپریدل بند کړل.

۳- ځینې کسان یې وهڅول، چې د پښتو پر ضد خپرونې وکړي، پښتو ته د اپنیس په دولتي ورځپاڼه کې د «اکثریت- بې فرهنګه» نوموړنه وکارول شوه او ځینو کسانو د افغانانو په پیسو د کابل پوهنتون له لارې ځینې آثار خپاره کړل چې پښتو ته پکې سپکنځل شوي وو او د دوی د واکمنۍ دوره «قبیله سالاري» ښودل شوې وه. یو رژیم چې د یو قوم په باب دغسې پاروونې او هڅوونې سازماندهي کوي، څنګه کولای شو له هغه د هغه قوم د فرهنګ د ودې هیله څرګنده کړو.

۸- د ۱۳۵۹ هـ ش کال په اوایلو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ رهبرۍ کې یو تغییر راغی د نوموړې رهبرۍ او د خلق دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د تبلیغ او فرهنګ د څانګې- چې ټولې فرهنګي موسسې یې اداره کولې (ترمنځ) په هره ورځ دا لانجه وه، چې په اکاډمۍ کې داسې مؤسسات فعال دي چې مشترک وظایف لري لکه پښتو ټولنه او د پښتو څیړنو بین المللي مرکز؛ کابل مجله او زیرمه ولې په پښتو خپرېږي، د دواړو نشرات مشابه دي.

د تبلیغ او فرهنګ د څانګې دا غوښتنه وه، چې په دې دواړو مراکزو کې باید یو نه وي او په دې خپرونو کې هم باید یوه نه وي.

واقعیت دا و چې نه پښتو ټولنه او د پښتو څیړنو بین المللي مرکز مشابه مؤسسات وو او نه زیرمه او کابل مجله د مشابه اهدافو لرونکې خپرونې وې.

د پښتو څیړنو بین المللي مرکز دیوسکو دیوې پروژې په توګه صرف د دې لپاره افغانستان ته ورکړل شو، چې پښتو یې رسمي ژبه وه، که نه په سیمه کې نور خلک د دې مرکز د عویداران وو او پښتو ټولنه دیوې افغاني مؤسسې په توګه د افغانستان د فرهنګ د څیړلو په منظور جوړه وه.

او بل دا چې د تبلیغ او فرهنګ د څانګې به تل دا اعتراض و، چې اکاډمي ولې پښتو کتابونه چاپوي؟

په اکاډمۍ کې د نورو څانګو د آثارو په نشر هیڅ ډول اعتراض نه و، موجود. خو دا چې دا اکاډمۍ په ټولو مؤسساتو کې زړه مؤسسه

پښتو ټولنه وه، نو ځکه دې مؤسسې د چاپ لپاره مواد ورانده کولای شول او نورې نوې مؤسسې لا د تولید جوګه شوې نه وې.

د تبلیغ څانګې د پښتو ټولنې څو محدود کتابونه نه شول زغملی حال دا چې د افغانستان د چاپ او خپرولو کمیټې په ۱۳۶۰-۱۳۶۲ کلونو کې د لسګونو دري کتابونو په مقابل درې یا څلور پښتو کتابونه چاپ کړي وو.

بناغلي پوهاند سید سلطان شاه همام په خپل کتاب در دجای خراسانیان کې یوځای ویلي دي چې زموږ دري کتابونه به چانه چاپول او پښتو به چاپیدل، موږ بناغلي پوهاند صاحب ته وایو «که شپه تیاره ده منې په شمار دي» دوی کولای شي د امیرشیرعلي خان له وخته تر اوسه پورې په افغانستان کې چاپ شوي کتابونه د ژبو په لحاظ ارزیابي کړي، نو دا به ورته معلومه شي، چې دري کتابونه ډېر چاپ دي او که پښتو؟ لیرې نه ځو د کتاب نامه په نامه خپور شوی اثر به را واخلو. دا اثر د نورالله تالقاني په هدایت د چاپ او خپرولو مؤسسې خپور کړی دی، په دې اثر کې د ۱۳۶۱ هش له دویمې نیمایي نه د ۱۳۶۲ هش کال تر اسد پورې په دولتي مطبعه کې د بېلا بېلو موسسو د چاپ شویو کتابو شمیره ۶۸ ښودلې وه. په دې شمیره کې یوازې ۱۳ کتابونه پښتو دي (۱۸) نور ګرده دري دي، بله احصائیه دا ده. دا ادو په نشراتو کې له ۱۳۵۷ تر ۱۳۶۱ هش پورې ګرده (۷۷) کتابونه چاپ دي په دې ۷۷ کتابو کې یوازې ۷ په پښتو دي (۱۹) سره له دې په پوهنځي کې پښتانه په قاطع اکثریت وو. اوس دې پوهاند صاحب قضاوت

وکړي، چې افغانستان کې د چا فرهنګي حقوق خوندي شوي او څوک دښمن دي ؟؟؟

۵- د ۱۳۵۹ هـ ش کال په میزان کې د لیکوالو، هنرمندانو او- ژورنالستانو اتحادیې جوړې شوې، پرلوی سرکې یې د غــو اتحادیو کې د پښتو او پښتنو هیڅ خبره مطرح نه وه کله چې د ۱۳۶۱ په اواخرو او ۱۳۶۲ په اوایلو کې د لیکوالو اتحادیه کې څه تغیرات پیښ شول نو یې ځینې پښتانه هم په اتحادیه کې پرېښوول، تر دې د مخه په اتحادیه کې نه پښتنو ته ځای ورکیده، نه پښتانه پکې مقرر وو، او نه یې په مطالبو او نه غیر مطالبو خپرونو کې پښتو ته خپل- ځای ورکړل شوی و. له دې وروسته ژوندون مجله هم دوه ایډیشنه شوه، پښتو بیله او دري بیله چاپیدله. له اتحادیې نه د پښتو کتابونو چاپ هم پیل شو که څه هم انډول یې سره برابر نه و، خو بیا هم ښه و. د لته ماسره د لیکوالو اتحادیې د خپرو شویو آثارو کې یو ټوټه فهرست پروت دی، په دې فهرست کې ټول ۱۲۵ عنوانه کتابونه یادشوي دي، په دې کتابونو کې ۴۲ پښتو دي او څو یې داسې هم شته چې پښتو دري ګډ دي. باید ووایو چې د لیکوالو ټولنې د دې پړاو تر پایه د ۱۰۰ شاوخوا نور کتابونه هم چاپ کړیدي. په هغو کې هم ځینې پښتو دي. په دې حساب د لیکوالو انجمن د ۲۲۵ شاوخوا کتابونو کې د اویا اتیاوو په خوا کې پښتو کتابونه چاپ دي، بالمقابل د ژورنالستانو اتحادیې په پښتو هیڅ شی نه دي خپاره کړي. د هنرمندانو- اتحادیې یو نیم اثر خپور کړی دی. خو له دري سره انډول پکې

ګرد سره په پام کې نه دي نیول شوي.

۶- دقبایلو په وزارت کې یې په ۱۳۶۰ هش کال کې د فرهنګي چارو ریاست او د خیرنو یو مرکز جوړ کړ چې فرهنګي مرکز بیا د جرګې - پښتو مجله هم چاپوله. دا مراکز او مجله که څه هم د رژیم د ځانګړیو تبلیغاتي اهدافو په منظور فعال شوي وو، د دغه هدف تر څنګه له دغو مراکزو او مجلې څخه دپښتو د فرهنګ د ودې لپاره هم کار واخیستل شو او ځینې ښه آثار یې نشر کړل او ځو علمي او تحقیقي سیمینارونه یې جوړ کړل. (۲۰)

۷- یو بل شوم کار چې دا وخت وشو، هغه دا و، چې اکثر حزبي او دولتي مطالب خپرونې دوه ایډیشنه شوې ظاهراً خوداکار باید سړی نیکمرغه ګام وبولي ځکه چې د هرې مطالبې مستقل پښتو ایډیشنونه خپریدل خو د ژبې په ګټه دي. مګر موږ ځکه شوم ګام وبالله چې د دې ایډیشنونو پښتو مطالب به له دري نه ترجمه کیدل او دپښتو لیکوالو د روزنې څخه پکې نیول کیدله او ترجمه یې داسې ناوړه اوګډوډه وه چې دپښتو لیکنې سبک یې خراب کړی او څه کم سل کاله وروسته یې کابو د امیر عبدالرحمن خان د زمانې پښتو بیا رواج کړې وه. د هیواد، انیس، حقیقت انقلاب ثور، زنده ګي حزبي، مسایل صلح وسوسیالیزم او ځینې نورې خپرونې په دوو ایډیشنونو کې تهیه کیدلې.

د دې ایډیشنونو متن څنګه چې د مخه وویل شول له دري نه ترجمه کیده، له دې پښتو ایډیشنونو سره د چاپ او ویش په برخه کې هم د شپږمې ګوتې برخورد کیده، معنی دا چې پښتو ایډیشن به له

دري ایډیشن یوه ورځ وروسته چاپیده او هم یې ویش ته چا توجه نه کوله.

۸- که څه هم دکودتا په لومړۍ مرحله کې دشورویانو له خوا د اخبار مجلې پښتو خپرونې په کابل کې پیل شوې، وروسته یې د پیوستون او خلمیان په نامه دوی نورې خپرونې د درې ایډیشن ترڅنګه په پښتو هم چاپولې.

دپښتو په وړاندې دکودتایي رژیم د دوهمې دورې دغه چال چلند د ۱۳۶۵ هـ ش کال تر نوره دوام وکړ، چې په دې کې بله مرحله شروع شوه او په دې مرحله کې دپښتو په وړاندې د سلوک چاج داسې اخیستل کیدای شي:

۱- دپښتو عمومي چلند تر ۱۳۶۷ هـ ش کال پورې هماغسې و، لکه څنګه چې دکودتایي رژیم په دمخنۍ مرحله کې و. د همدغه ـ ذهنیت تراغیزې لاندې د زیری «کابو پنځوس کلنه پښتو جریده په همدې مهال کې وتړل شوه. ایډیشني سیستم دوام درلود او پښتو ایډیشنونه لا د ضلالت خواته روان وو، او ان خبره یې رسوایي ته ورسیده چې دا حال تو، نور د پښتنو فرهنګیانو لپاره د تحمل وړ نه و. په همدې اساس داسې وپیتیل شوه، چې پښتانه فرهنګیان د دې روش پرضد مقاومت وکړي، دپښتو څیړنو بین المللي مرکز په دې اړه د «پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلو کې» تر نامه لاندې دیو سمپوزیم دجوړولو تابیا وکړه. دا نظریه د حاکم ګوند له شدید مخالفت سره مخامخ شوه. سمپوزیم دایر نه شو، خو د مقالو مجموعه یې چاپ شوه.

په مجموعه کې د ۱۷ تنو فرهنګیانو د نظریو ارائې مسؤول مقامات دې ته متوجه کړل چې اید یشني سیستم ته خاتمه ورکړي. یوازې ژوندون مجله په خپل حال پاتې شوه او هغه هم په دې دلیل چې له پخوانه یې د پښتو اید یشن مطالب ځانته تهیه کېدل او له دري نه یې نژ ترجمه کول.

(۲) همدغه مهال د ننګرهار پوهنتون د ننه د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې پوهنځۍ جوړ شو، البته اوس نور د یپارتمنتونه هم لري.

(۳) په دې مرحله کې د اسلامي علومو د څېړنو مرکز په کابل کې جوړ شو، چې د دري آثارو ترڅنګه یې پښتو آثار هم له دري سره په انډول کې خپرول، چې دا آثار و یې د دې مرحلې په کارونو کې حساب کېدای شي.

(۴) داوخت د کابل پوهنتون په ځینو څانګو کې د ماسترۍ کورسونه هم شروع شوي وو چې په دې مرحله کې یې پرمختیا و موندله او شاګردان یې فارغ شول. د دې ماسترۍ فارغان د تیسس په لیکلو مکلف وو، د نورو څانګو فارغانو هم پښتو تیسسونه لیکل او پښتو څانګې هم څو دورې ماستران فارغ کړل او هر فارغ پښتو تیسس ولیکه. دا جریان د نثر پر پرمختیا د یو مؤثر عامل په حیث ارزیابي کېدای شي.

(۵) په دې مرحله کې د اقتصادي وضعې خرابوالي، ګرانۍ او د مواد و نه پیدا کېدو د فرهنګ پر مؤسسه ژور اثر و نه درلودل. فرهنګي کارکوونکي زیاتره د خپلې کورنۍ د ګېډې په

غم کې وو او دېر لږ فرصت پیدا کېده چې فرهنګ ته توجه وکړي او که به چا توجه کوله د چاپ ونشر مؤسسات د موادو په کمبود او فساد اخته وو . د چاپ چارې د پخوا په څېر اسانه او بې وسطې او رشوتونه چلېدې . د غو او نورو دېرو روانې ، سیاسي او اجتماعي عواملو د فرهنګ مؤسسه ورو - ورو د سقوط خواته سوقوله ، چې په دې کې خیله رژیم هم سقوط وکړ او د اوسنېون پړاو هم ورسره پای ته ورسېد .

د دې ټولو ناخوالو او نادودو سره سره ځینو فرهنګیانو د فرهنګ په وړاندې د مسوولیت په احساس په دې پړاو کې هم څه کارونه وکړل او په دې پړاو کې متبارز شول . په دې پړاو کې متبارز شوي لیکوال ځینې داسې دي چې د اوسنېون تر پړاوه د مخه یې هم قلم چلولی دی ، خو د تبارز موقع ورته په دې پړاو کې میسر شوې ده . هغه لیکوال چې له دې پړاو سره تړسنت لري دادي :

امین افغانپور ، پوهنمل محمد طاهر عامي ، دوکتور صالح محمد زېری ، عبدالکریم محب ، محمد زرین انځور ، بریالی باجوړی ، شریفه شریف ، محمد اکبر کرګر ، لطیف بهاند ، محمد آصف بهاند ، محمد ولي مند وزی ، پوهنمل ګلداد ، عبدالرشید آرین ، دوکتور محراب الدین پکتیاوال ، احسان الله آرینزی ، میرزا علم حمیدي ، بلقیس مکین ، غلام سخي انمر ، سید رحیم بابازی ، کاتب پاڅون ، پوهاند عبدالقهار ثمین ، جګړن شینواری ، اروابښا د مصطفی جهاد (۱۳۷۰ هـ ش مړ) داود جنبش ، لطف الرحمن خاموش ، عنایت رشید ، شاه محمود حصین ، جګړن علیمي ، حلیم ظریفی ، عبدالوهاب صافي

سکینه زیار ، بسم الله حقمل ، جلات خان حکمتي ، پوهاند حمزا خېل شینواري ، ستانه میر زهیر ، دکتور محسن هلالي ، سید غني غني ، عبدالمالک کوکوال ساپی ، محمد قاسم هیله من ، لطف الله ساپي ، نور محمد سهیم شېر ینډ له کردیوال ، صهبي ، محمد داؤد شهید ، پوهاند باز محمد شېرزاد ، سید افضل شېرزاد ، زکریا ملاتړ ، محمد عمر ننګیار ، محمد شریف شریف ، محمد شریف بهاند ، محمد نبي صلاحي ، عبدالطیف طالبي ، فرهاد ظریفي ، محمد عیان عیان ، غوټۍ خاورې ، کاوون طوفاني ، واحد نظری ، فضل الهی ګران ، محمد اشرف پاینده ، میرا حمد ګوربز ، کمال الدین مستان ، محمد رفیق ، احد ژوند ، نصرالله ناصر ، دوکتور ګل جان وردوړ ، محمد عثمان تژند ، نظری آریانا ، میرزا محمد لودی ، زمری محقق ، ننګیالی بخرکی ، اسحق ننګیال ، ګل افضل تکور ، شېر محمد کریمی ، فیض محمد فیاض ، مفتاح الدین ساپی ، سرور ماموند ، دوړ ، محمد معصوم هوتک ، پوهاند میرازی ، سمیع الله تازه ، عبدالوکیل شینواری ، ګل جان صابر ، یوسف صابر ، سید محی الدین صادقمل ( هاشمي ) شېر خان رښتین ، محمد اسمعیل یون ، اجمل روهي ، خوشحال روهي ، داؤد مقصودی ، انجنیر محمد نبي ، شهسوار سنګروال ، امین الله محک ، هما ، اروا ښاد شهزاده زیارن ( ۱۳۷۲ هش مړ ) ، اروا ښاد سید جان ملال ( ۱۳۶۸ هوش کال مړ ) حضرت محمد و یار ، میر ولی نهام ، مولاجان تنهوال ، شېر احمد ګردیوال ، محمد یوسف هیواد دوست ، خان محمد سیند ، مسافر رئیس خېل ، احمد شاه وېښ ، تاج محمد یاري ، پوهنمل رحیمه نورمراد ، ممنون مقصودي ، عبدالقیوم کریم او نور ډېر لیکوال چې نوموونه یې سملاسي له ما سره نشته ، خو پوهېږم چې دا مهال

د افغانستان په مرکزي او ولايتي مطبوعاتو کې د ډېرو نورو کسانو نثرونه چاپ دي، خصوصاً د کابل پوهنتون د ډېرو فارغانو او هم د ننګرهار پوهنتون فارغانو ما نوکرافونه کښلي او په پښتو نثر يې څه موجود کړي دي.

د دې پړاو فرهنګي فعاليتونه نه يوازې يا د و شويو ليکوالو پر مخ بيولي دي، بلکې د د مخنيو پړاوونو ځينو ليکوالو هم پکې[1] برخه درلودلې ده.

د دې پېر ليکوال کابو ټول تعليميافته دي، زياتره د افغانستان د پوهنتونونو او د لوړو تحصيلاتو له مؤسسو څخه فارغ دي. ځينې کسان داسې هم پکې شته چې په خارجي هېوادونو کې يې تحصيل کړی وي. له يو نيم نه پرته د تېرو پېړونو د ليکوالو په څېر د زړه له مينې له فرهنګي کار سره بوخت نه دي، په تحقيقي ساحو کې د انکشاف داسې څرک چې د دوو د مخنيو پېړونو څخه دې جوت تو پير ولري - نه ترسترګو کېږي.

په دې پېرکې د دوو د مخنيو پېړونو برعکس داسې ليکوال چې يوازې نثر ليکي، ډېر دي، شاعران نثر ليکونکي پکې لږ دي. ځينې داسې کسان پکې هم شته چې هغوی اساساً د شاعرانو په حيث پېژندل کېږي، نه د نثر ليکونکيو په توګه. خو دا چې په پښتو يې نثرونه کښلي دي، نو ځکه مو په دې پړاو کې ياد کړل، لکه: عارف خزان، کاوون طوفاني، شاه محمود حصين، اسحق ننګيال، ګل افضل ټکور، حبيب الله زړه سواند، سيد افضل شېرزاد، فضل الهی ګران، لطف الرحمن خاموش او نور...

## د پښتو نثر په وده کې د دې پړاو د منثورو آثارو ونډه : د پښتو د ادبیاتو تاریخ

د معاصرې دورې دریم پړاو، چې ادبپوهانو، د اوسنتون پړاو نومولی دی په سیاسی او اجتماعي لحاظ د پرکڼ لیچن پړاو دی؛ دا په دې معنی چې دا پړاو په افغانستان کې د خلق دموکراتیک گوند د حاکمیت له پیله شروع کېږي او تر سقوطه یې دوام مومي.

په دې پړاو کې د حزبي گډوډیو، اختلافونو او د بهرنیانو د صریحې مداخلې او لمسونونو له امله څلورځله حزبي او دولتي رهبري بدله شوه او پخواني شوروي پوځونو زموږ پر هېواد مستقیم تېری وکړ. د کودتا عاملینو له ۱۳۵۷ هـ ش کال را په دې خوا د افغانستان پر ټولو خلکو خپل هیڅ راز مظالم ونه سپمول په زیانه فرهنگیانو د کودتا په لومړیو، دوهمه مرحله کې او دریمه د بېر زیانونه ولیدل، له توهین، تحقیر، شړلو سربېره ځینې فرهنگیان بندیان شول او ځینې ووژل شول.

خو له دې ټولو ناخوالو سره ځینو لیکوالو او فرهنگیانو فرهنگ ته د مسوولیت په احساس د خپلو جذبو او ذوقونو پر اساس په دې پړاو کې څه کارونه هم وکړل، چې تفصیل به یې لاندې بیان شي. د تفصیل تر بیانه د مخه د یادونه هم کوم چې په دې پېر کې ځینو حزبي فرهنگیانو د فرهنگ د روزنې په برخه کې حاکم حزب پالیسۍ ته لږه ترجه کوله او د ځینو غیر حزبي فرهنگیانو په ځغورلو او د فرهنگي کار د زمینو په برابرولو کې یې هڅه د یادونې وړ ده. د دې پېر فرهنگي بریاوې دا دي:

(۱) هنري نثر د معاصرې دورې د بل هر پېر په نسبت مخته ولاړ، دا ایجاد او ودې زمینې ورته ډېرې پیدا شوې. په دې هاند او هڅه کې د افغانستان د لیکوالو انجمن پېل د هېرې نه دی. ځکه تر دې د مخه مور دغسې یوه مؤسسه نه درلوده چې د معاصرو لیکوالو هنري آثارو ته دې توجه وکړي.

د مثال په ډول د معاصرې دورې په دوو لومړیو پړاوونو کې د افغاني لیکوالو د لنډو کیسو درې مجموعې چاپ شوي دي، لکه: د احسان الله هیر «ربخور» چې پښتو ټولنې چاپ کړې ده. د کبرئ مظهري «برښنا»، چې دې خپله په کابل کې چاپ کړه او دریمه مجموعه «پت»، نومېږي چې لیکوال یې سرمحقق عبدالله بختاني دی. دا مجموعه هم د هغه په شخصي مصرف له هېواد نه د باندې چاپ شوې ده. حال دا چې په دې پړاو کې د لنډو کیسو دا لاندې مجموعې چاپ شوي دي:

موسکا، د څپو پر وزرونو، ایلبند (درې واړه د امین افغانپور) شنبېدلی خوب، ګیلې (د بریالي باجوړي) لنډې کیسې د بسم الله حقمل، شلېدلي تارونه، سیل د احسان الله آرینزي، کوچۍ د محمد عیان عیان، شپې، سینده څه سینده بهېږه، د زماني سندره د محمد اکبر کرګر، تاند د غوټه، شاهین د بشیر دودیال، ډولۍ د عبدالخالق رشید، د اسرونه دارسمونه، شاړې کوڅې د زرین انځور، سوځېدلې شمع د عبدالمنان ملګري، لبونی د حبیب الله زره سواند، د نیمو شپو چیغې د عبید الله محک، د ګوګا منده لیوان د غوث خیبري، د اباسین سپېدې د سلیمان لایق،

د خزاغ آرمان د نورمحمد سهیم ناولونو... دغه رنګه همدا مهال د پښتو لنډوکیسو دوې منتخبې مجموعې هم چاپ شو دی، لکه: سرې جامې اوبریالي غنې ونه.

د خارجي لنډو کیسو ترجمې هم دا وخت چاپ شوي دي لکه د دښمن په نامه مجموعه، چې د بېلا بېلو خارجي لیکوالو لنډې کیسې په کې ترجمه شوې دي. دغه راز د منشي پریم چند د لنډو کیسو یوه پښتو ترجمه هم چاپ شوه، چې د مجموعې نوم یې د لیکوال عزت اینې دی او مترجم یې عبدالکریم قیوم دی.

په دغو کلونو کې د کورکي ښایسته زیات آثار د ایراني مطبوعاتو له لارې پښتو شول او ځینو هم له روسي نه دده آثار ترجمه کړل. اروانښاد د دوکتور هلالي د « زړه بوړکه » په نامه دده ځینې کیسې له روسي نه ترجمه کړې. ښاغلي آرپیزی هم دده څه آثار پښتو کړل او ښاغلي مستان یې دوې مجموعې پښتو کړې او چاپ شوې. په همدې پړاوکې ښاغلي یختیاني د چیخوف د لنډو کیسو یوه مجموعه د څورب او خوار په نامه چاپ او خوره کړه.

دغه راز په دې پړاوکې د رومان ډوله آثار او ناولونه هم چاپ شول، لکه: د آسیا په زړه کې طوفان (عطایی) د تخت غمې (مصطفی جهاد) ګل په جبه زارکې (عبیدالله محک) بالحراد... (؟)

له دې سربېره په دې پړاوکې ځینو افغاني لیکوالو د خارجي لیکوالو ځینې دغه ډول آثار پښتو واړول او د افغانستان فرهنګي مؤسسو چاپ کړل، لکه: رنې شپې د داستایفسکی،

د خان ګهيځ د ليو تولستوی ( ديوسف صابر ټباره ) ګيتار به ټهر ترنګبري الکساندر پتروختن (دګل جان صابر) د آزاد عه ګل ګلاب دبوريس کروموف ( دګل جان صابر ) د منشي پريم چند دګوډان نومی رمان پښتو ترجمه په ۱۳۷۰ هش کال دانيس درځپانې مسلسله خپره کړه .

په دې پړاوکې په افغانستان کې راديويي خپرونې هم پراخې شوې او تلويزيوني خپرونې هم شروع شوې . په همدې اساس زموږ په هېواد کې ډراماېي خپرونو يوه نوې اډانه خپله کړه او همدا وخت ځينې فلمنامې هم وکښل شوې (زرين انځور، سپېدې ۳ کال ۲ ګڼه، ۱۸۷ مخ) . هغو ښاغليو چې په دې پړاوکې ډرامې ليکلي دي ، ډېر دي . دافغانستان د راډيو او تلوېزيون په آرشيف کې چې دپښتو ډراموکوم متنونه موجود دي هغه لسګونو ته رسېږي . ښاغلی شهسوارسنګروال چې په دغه آرشيف کې د موجودو ډرامو له متنونو نه د ډرامه ليکونې نمونه استخراج کړي دي (۲۱) زما په عقيده ټول واقعي نمونه نه دي ، بلکه ډېرېې مستعار نومونه دي . په دې پړاوکې چې چا ډرامې کښلي دي په هغوکې د ملګري ، فضلي ، سنګروال ، ژوند ، نظري ، امين افغانپور ، لطيف بهاند ، آصف بهاند ، صمدی ، ننګيار ، پاڅون ، داود مقصودي ، ممنون مقصودي او نورو نومونه ذيادونې وړ دي .

په دې پړاوکې د ګوګوګل مفتش نومې نمايشنامه په پښتو ګل محمد نورزي ترجمه کړه او دليکوالو ټولنې چاپ کړه . له دې

سربېره د استاد بېنوا د درامو مجموعه اروا ښاد سيدجان ملال تهيه کړه او د زوړ ګنهکار په نامه چاپ شوه.

دغه راز په تېرو پړاوونوکې د پښتو منثورو طنزونو مجموعې نه وې چاپ شوې. په تېر پړاوکې د اروا ښاد عبدالاحد وحيد او نورو ليکوالو منثور طنزونه د ورځپاڼو او مجلو په پاڼو کې متفرق چاپ شوي وو، په دې پړاوکې د ښاغلي پاڅون د طنزونو درې مجموعې: د شکايتو صندوق، مديرصاحب په خط خوبه پوهېږې او د کارسيالي چاپ شوې.

سفرنامې او ادبي راپورتاژونه هم د دې پړاو په ځينو ورځپاڼو کې چاپ شول.

(۲) عادي نثرونه د دې پړاو په پيل او پای کې په نسبي عادي جريان کې روان وو، خو د دې پړاو په منځنيو کلونوکې د پښتو عادي نثرونو هغه برخې چې د اخبارې او ژورنالستيکو ژانرونو په کالب کې يې وده ومونده هغه کرده د ترجمو د يو ناوړه جريان ښکار شول. د دې پړاو په دې خاصه مرحله کې د ايدوشني بدمرغه سيستم د بابېدو له امله د ناوړه او له فهمه لېرې ټکي په ټکي ترجمه باب شوه. د دې ډېر د ترجمو په باب ښاغلي ليکوال زرين انځور کښلي دي: « دغه ژباړې دومره کمزورې او له نيمګړتياوو ډکې وې چې په ډېرو ستونزو سره سړی اصل مطلب په اټکل سره درک کولی شي ...» (۲۲)

(۳) علمي نثرونه د ادبپوهنې او اجتماعي علومو په نورو څانګو

کې پر مخ ولاړل . د ادبپوهنې په بېلا بېلو څانګو کې د تالیف او ترجمې له لارې ځینې آثار موجود شول ، لکه د ښاغلي رفیع زرینې څانګې ، ځنځیرې او پښتو درامه نومې رسایل او کتابونه دغه وخت ولیکل شول او چاپ شول . د کبرس د دعو کتابونو : د مېړنې اولس ادبیات او پښتو هنری نثرونه پښتو ترجمې دغه مهال سرمحقق مجتهد چاپ کړې ، ښاغلي سهیم دوه کتابونه : په پښتو لنډوکیسو کې ریالستیک تمایلات او په پښتو شعر کې د نوښت مسأله نومې کتابونه چاپ کړل . دغه راز د کاندید اکاډ میسین روهي کتابونه : ادبي څېړنې ، د ادب او فولکلور په باره کې ، فولکلور پېژندنه او پښتو معاصر ادبیات (دوه جزوې) دغه مهال چاپ شول ، د غوثي خاورې په اولسي ادبیاتو کې شکل او مضمون د زرین انځور شعرونه او نقدونه ، د زنځیروننو شاعر ، د آصف بهاند د کوچنیانو ادبیات ، د پوهاند دوکتور الهام ادبي مسائل ، د پوهاند دوکتور زیار پښتو شعر څنګه جوړېږي ؟ ، د عبدالخالق رشید پښتو کره کتنه او نور ګرده دغه مهال چاپ شول . دغه د ولطیف بهاند د ریالیزم او ضد ریالیزم د وادبیات ترجمه دا مهال وړاندې کړه ، د مفتاح الدین سایي ادبي او هنري څېړنې هم دغه وخت چاپ شوې .

د تاریخ او اجتماعي علومو په څانګو کې ښاغلیو حبیلواک ، پوهمل ګلداد ، دوکتور پکتیاوال ، انځور شاولي ځیرک او کاندید اکاډمسین عطایي ځینې آثار د تالیف او ترجمو له لارې وړاندې کړل .

ارواښاد دوکتور رهلالي د بلوڅ نومې کتاب پښتو ترجمه ، استاد رشاد د قصه خوانۍ خونړۍ پېښه او سوبهاش چندر بوس به

افغانستان کې ، پښتو ترجمې وړاندې کړې ، دوکتور زیار
پښتانه او ورونه ملیتونه ترجمه کړل ، د کاندید اکادمیسین
نومیالی په هندکې د ابتدایي ،... ، د ... ژوند ، اجتماعي
تکامل او نورو آثارو ترجمې چاپ شوې . د غه راز د
قبایلو وزارت د څېړنو او فرهنګي چارو له اداره وځینې ترجمې
او تالیفونه د ګسټتنر او حروفي چاپ له لارې تکثیر شول چې د
یادونې وړ یې له افغانستان نه وروسته ( محمد هاشم رحیمي ترجمه )
د پاکستان تاریخ دوه ټوکه او بي بي سي ( د سوورماموند ترجمه )
د غه راز بناغلي جګړن علمي د کیرو پټهان ، د موهن لال د امیر
دوست محمد ژوند او ځینې نور آثار ترجمه کړل او جنرال
شېر محمد کریمي د تاریخ بنو یا زموږ افغاني سرحد ترجمه کړ . له دې پرسېره
نور یې لسګونو اجتماعي او اقتصادي آثار ...
په دې برخه کې تیوریک او ګوندي آثار او د ا ډول ژباړې
هم چاپ شوې او په پښتو کې یې له مارکسستي ایډیالوژۍ نه اغېز من
آثار زیات کړل ، لکه : انقلابي لار ، د ثور انقلاب تیوري او ...
اقتصاد د حفیظ الله امین د سوسیالستي پلرني وطن د دفاع په
باره کې ، سوسیالېزم له خیال نه ترحقیقت پورې ، د علمي کمونېزم
بنسټونه او نور دې ته ورته آثار ، چې حاکمانو د خپل ایډیولوژیک تبلیغ لپاره
چاپ کړي وو .
د طبیعي علومو په څانګو کې هم په دې برخه کې د ننګرهار پوهنتون
ترڅنګه په کابل پوهنتون کې هم د مزې کار و شو . که څه هم د
کابل پوهنتون درسي نصاب دري و ، خو د کرنې او طبیعي علومو
د پوهنځیو ځینې استادان د کابل د هغه وخت نه ضد پښتو او ضد پښتون

روحيې دومره و بارول چې خپل علمي تيسونه يې په پښتو وليکل.
په دې برخه کې د کرڼې پوهنځي د استادانو، لکه: پوهاند عبدالقهار ثمين، پوهاند دوکتور حمزا خپل، پوهاند شېرزاد او احسان الله، د طبيعي علومو د پوهنځي استادانو، لکه: پوهاند ميرازي، غلام دستگير پړک، شېراحمد گرديوال کارونو په دې مهال کې د پښتو علمي نثرونو له پرمختيا سره ډېره مرسته وکړه.

د دې پېر په وروستيو کلونو کې د افغانستان د علوموا کاډېمي د طبيعي علومو د څېنو مراکزو پښتنو غړيو هم کتابونه په پښتو وليکل لکه محسن هلالي او څېنو نورو....

يو وخت ما د پښتو د علمي کېدلو پر موضوع يوه علمي سمپوزيم ته مقاله کښلې وه او هلته مې د ننگرهار پوهنتون د طبي پښتو کتابونو او د کابل پوهنتون د کرڼې د پوهنځي د پښتو کتابونو د ارزښتمنې او يدل په بابت کښلي وو: « په وروستيو د پرشو کلونو کې زموږ ځينې علمي مؤسسانو، لکه د ننگرهار پوهنتون د طب پوهنځي او د کابل پوهنتون د کرڼې د پوهنځي ځينو خواخوږو استادانو په خپلو بېلابېلو علمي څانگو کې ځينې آثار په پښتو وليکل (او ترجمه کړل) دا آثار د خپل نوښت او علمي ارزښت له پلوه په داسې علمي موقف کې ولاړ وو او دي چې زموږ ټولو افغان محصلينو او د دې څانگې د علمي کارکوونکيو ضرورت پرې رفع کېږي او د دغه خلک د خپلو اړتياوو پر بنا د دغو آثارو ته رجوع کوي ... » (۲۳)

(۴) که چېرې موږ په دې پړاو کې د افغانستان د ننه د

پښتو نثر د ودې مسأله ارزيابي کوو، نو راته ښکاري چې په دې پېر کې ډېر آثار ليکل شوي او ترجمه شوي دي چې د کمي لحاظ تر پخوانيو پړاوونو ډېر دي، اما کيفي اړخ يې - د دمخينو پړاوونو د ليکوالو له منثورو آثارو پرته - د دې پړاو د ليکوالو د زياترو د پوښتنې وړ دی.

د دې پېر په مبتارزو ليکوالو کې د چا سبک زما په نظر ځينې څرګندې ښېګڼې نه لري، چې نورو دې منلې وي. بيا د ځينو سبکونه د پخوانيو څه اغېز مني، نو تر يوه حده ښه او روانه پښتو ليکي، خو د ځينو نورو حتی د جملو په جوړښت کې تېروتنې ليدل کېږي.

ما تر دې ځايه د اوسنيتون د پړاو ځينې خصوصيات يا د کړل، خو د ادبياتو د روحيې او مفکورې په باب مې څه نه دي ويلي. تر کومه ځايه چې ښکاره ده د دې پړاو د ادبياتو کومه برخه چې د هېواد د ننه ايجاد شوې ده په هغوکې د مقاومت روحيه هم پياوړې ښکاري. ځينو ليکوالو د هېواد د ننه د استخباراتو د جهنمي سازمانونو تر ساتور لاندې پټې او ښکاره په کنايو اشارو او سمبولونو کې نغښتې له مسلط رژيم، پردي پولښکرو او حاکمانو له کړو وړو کرکه او نفرت څرګند کړی دی، خو د دې تر څنګه د امهال هلته داسې ادبيات او نور آثار هم ليکل شوي دي چې له «انقلاب» او د هغه له برياوو د فاع پکې منعکس شوې ده، د کارګر، بزګر او طبقاتي مبارزې خبرې پکې راغلې دي او د رژيم له ايډيالوژيکې غوښتنو سره سمې اندېښنې پکې منعکسې شوې دي.

## ب ، له هېواده دباندې :

دتور کمونستي کودتا د عمالو ناتار او بیا ورپسې د سره پوځ یرغل له جنګ او هغه وختنیو بدو ورځو راز راز بدلو د پر وعوا ملو په ملیونو افغانان دې ته اړ کړل چې له هېواد نه دباندې هجرت وکړي. په دغو مها جر و افغانانو کې پښتانه لیکوال او فرهنګیان هم شامل وو. دوی په لومړیو وختونو کې په دېر و خوار بو زاریو فرهنګي فعالیت هم کاوه او خپله فرهنګی تنده یې ماتوله ، خو کله چې سره پوځ د افغانستان پرخاوره تجاوز وکړ او له دې عمل سره د جهاد لیکې نورې هم پیاورې شوې ، د نورو هېوادونو او مؤسسو مرستې جارې شوې او ورسره د تنظیمونو خپرونو او فرهنګی فعالیتونو هم زور وا خیست ، په همدې مهال کې له تنظیمونو سربېره په پېښور او ځینو نورو خارجي هېوادو کې ځینې فرهنګي مؤسسات هم دغو افغان مهاجرینو جوړ کړل او په دې توګه یې د مقاومت فرهنګی بنسټونه پیاوړي کړل چې په عام ډول د افغاني فرهنګ د ځینو اړخونو په مطالعه کې د دغو مؤسسو او شخصیتونو له کارونو سترګی نشي پټېدای .

اوس چې زموږ د پښتو نثر موضوع د اوسنتون په پړاو کې مطالعه کوو، نو اړېو چې د مهاجرت په محیط کې هم دغه موضوع سره وپلټو او هغه عوامل وښیو چې د مهاجرت په محیط او د مقاومت په ساحه کې د پښتو نثر د پرا ختیا او پرمختیا پرمسأله اغېز درلودی دی :

(۱) په تنظیمي او حزبي ساحو کې تنظیمونوا و ځینو کوندونو

چې کوم اخبارونه او مجلې خپرولې (په پاکستان او نورو ځایونو کې) په
هغوکې د دري تر څنګه د پښتو برخه هم وه او دغې پښتو برخې
د پښتو نثر په بره تګ کې موثریت لاره .

(۲) دغه مهال دیو څه وخت له پاره د تنظیمونو تر څنګ آزاد
غیرتنظیمي اخبارونه او مجلې هم خپریدلې چې د پښتو نثر له ودې
سره یې مرسته کوله . دا ډول اخبارونه او مجلې بیا له پاکستان
سربېره په اروپا او دنړۍ په نورو هېوادونو کې هم خپرېدل ،
لکه مجاهد اولس چې له ناروې نه خپرېږي .

(۳) د دغو شخصي منفردو فعالیتونو تر څنګه او د هغو له
محدودېدو او مخنیوي سره سره د منورینو او تعلیمیافته
افغانانو ځینې ګډې هڅې هم شروع شوې ، فرهنګي موسسې
او جرګې یې جوړې کړې چې د دغو مؤسسو او جرګو فرهنګي
فعالیتونه په خپل وار سره د فرهنګ د ودې له پاره څه کارونه
وکړل چې د نثر د رشد موضوع یکې د اولیت ځای درلود .
هغه مؤسسې چې د اوخت جوړې شوي دي دا دي :

په ۱۹۸۱ع کال د شهید پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح
په مشرۍ د افغان اطلاعاتي مرکز بنسټ کېښودل شو او د
۱۹۸۴ع کال د جنوري د میاشتې په لومړۍ نېټه د ازاد افغانستان
د لیکوالو ټولنې اساسنامه مؤسسي جرګې تصویب کړه او د
۱۹۸۵ع کال له جنوري نه یې په فعالیت پیل وکړ. (۲۴)
دا مؤسسه تر اوسه فعاله ده ، د بېر لیکوال یې خوندي کړي
د اویاوو شاوخوا کتابونه یې چاپ کړي دي چې نیمایي یې

پښتو دي او دې پښتو کې ۹۰ په سلو کې په نثر دي. د نظم برخه يې په نشت شمېر د ه . دا مؤسسه د خپلواکۍ په نامه مجله او د وفا په نامه جريده هم خپروي ، چې نيم په نيمه پښتو دي.

د افغانستان د جهادي خپرېو مرکز او د افغانستان کلتوري ټولنه دوې نورې فرهنګي مؤسسې وې چې لومړنۍ د «قلم» په نامه او دويمې د «سپېدې» په نامه مجلې خپرولې. په دواړو مجلو کې د علمي ، عادي او هنري نثرونو بلا مضامين چاپ شوي دي او موږ کولای شو ووايو چې د فرهنګ د ودې په مراتبو کې د دغو دواړو مؤسسو پرېپدل ستر کې نشي پټېدای.

دغه راز د امان کتاب خپرولو مؤسسه چې د ښاغلي رفيع په همت په پېښور کې فعاله شوه په يوازې ځان يې دومره کارونه وکړل چې دېرو مؤسسو د خارجي مرستو سره هم نه دي کړي.

(۴) په پېښور کې د مؤقتي حکومت له جوړېدو سره سم د دې حکومت په چوکاټ کې وزارتونه او فرهنګي مؤسسات هم فعال شول او د لږ موده له پاره يې ځينې خپرونې هم شروع کړې او څه کارونه يې فرهنګ ته وکړل.

(۵) ځينو خارجي مؤسسو چې يې افغانانو ته کار کاوه، هغوی هم د درسي او ځينو لارښودي کتابونو د تاليف، ترجمې او چاپ له لارې د پښتو نثر د پرمختيا له بهير سره مرسته وکړه ، ځکه دا کتابونه زياتره په پښتو وو. دا ډول مؤسسات چې يې پښتو درسي او د ژوند په ځينو ساحو کې مهاجرينو ته

لار بنودي آثار چاپ کړي دي ډېر دي .

دغو او څېنو نورو عواملو د مهاجرت په محیط کې د پښتو فرهنګیانو له کار سره مرسته کوله او پښتو نثر لیکنه یې څه پرمخ بوتله .

د مهاجرت په محیط کې چې چا د پښتو نثر مقالې، رسالې او کتابونه لیکلي او ترجمه کړي دي ډېر دي . په دې کې د تېرو یا د وشویو پړاوونو لیکوال هم شامل دي او نوي د لته د مهاجرت په محیط کې متبارز شوي لیکوال هم .

که څېړې موږ د هجرت په محیط کې د څېړو شویو موقوتو خپرونو پاڼې پرله پسې واړوو نو د لسګونو داسې لیکوالو نومونه مخې ته راځي چې نوي دي او په پښتو یې مقالې لیکلې دي، خو زه د غسې اشخاص په دې اثر کې نه شاملوم او هغه هم په دې دلیل چې دغو کسانو څېړې یوه د وه یا درې مقالې ذوقي لیکلي او ترجمه کړې دي ، اصلي پېښه یې لیکوالي یا نور فرهنګي کار نه دی او یا لږ تر لږه یې دا کار نه دی تعقیب کړی او یا یې کوم مستقل کتاب لیکلی یا ترجمه کړی نه دی . دغسې اشخاص کېدای شي په فرهنګونو کې ځای ونیسي ، خو دیوې ژبې د نظم او نثر په تاریخ کې دداورو جوګه نشي ګڼل کېدای . ما دغسې اشخاص په د مخنیو پړاوونو کې هم نه دي اخیستي .

هغه لیکوال چې د مهاجرت په محیط کې یې د دې پړاو په نثر لیکنه کې برخه درلوده ، دا دي :

محمد جان احمدزی ، دوکتور غلام فاروق اعظم ، محمد نذیر
بشارت ، انجنیر گلبدین حکمتیار ، توریالی ځاځی ، مولوی
محمود درسوال ، مولوی زاهدي احمدزی ، مولوی غلام نبي
زرمتي ، سید گلاب سباوون ، محمد نسیم ستا نیزی ،
جانباز سرفراز ، عبد الجبار ثابت ، عبد رب الرسول سیاف ، سید فضل
اکبر ، ذبیح الله شرر ، محمد زبیر شفیقي ، محمد آصف صمیم ، اسد الله
غضنفر ، فضل غني کاموال ، فدا محمد فایض ، عصمت قانع ، محمد زمان
مزمل ، امان الله نصرت ، ولي محمد ولي ، غلام فاروق چشتی ، وسیع الله
سیار ، حاجي عبد الغفار ، محمد اجان حقپال ، اورنگزیب ارشاد ،
فضل مولا لټون ، عوض الدین صدیقي ، شمس الرحمن شمس ، سید عبد الله
پاچا ، ولی الله سلیم ، مصطفی سالک ، دوکتور ضامن مومند ،
صباح الدین کشککی ، محمد یعقوب شرافت ، خان خادم کوچی ، شیرین خان ناصر ، غني هوتک ،
مالیار ، سیار (ال انډیا راډیو پښتو څانګه) سپوږمۍ میوندي ،
زیبا جان خادم ، روښان خادم ، محمد طارق بزګر ، دوکتور کبیر ستوري ،
دوکتور شیرافضل ګردیوال ، شیرین ګردیوال ، نبی مصداق ، عصمت الله
پسرلی ، امان الله ساهو ، فضل الله رښتین ، طلا محمد خادم ، مولوي
محمد نعیم تایب ، میرزمان جبارخیل ، سید حسین نجیبي ، خلیل
رسولی ، انور احدي ، جمال الرحمن ، ستانه ګل شېرزاد ، سید هاشم
پولاد ، محمد افغان اباسین ، یوسف غیرت ، مولانا دود مل ، شمس الهدی
شمس ، انجنیر عمرخیل ، نجیبه وردګ ، دوکتور محمد اکبر اکبر ،
شهرت ننګیال ، دوکتور رحمت ربي ځیرک یار ، حاجي امان الله هوتک ،
اسد الله حنفي ، زمرک عابد ، محمد ابراهیم تکړخاځی ، زرغون شاه
شینواری ، انجنیر اکرام ، سید نعیم مجروح ، سید مسعود مجروح ،

دوکتور عبدالرحیم پښتونیار، محمد حکیم تنیوال، دوکتور زین العابدین ممتاز، جګرن نصرالله صافي، محمد آصف اکرام، محمد حکیم اریوبی، روحاني رویا، مرزا محمد کوټزی او په لسګونو نور لیکوال . . . .

د اوسنیو دیراو د مهاجرت د برخي په لیکوالو کي داسي کسان چي هم نظم لیکي او هم نثر، شته، خو دیوازي نثرلیکونکیو شمېره یې ډېره ده.

ددې برخې دلیکل شویو آثارو عمومي روحیه د کابل د هغه وختني رژیم سره مقابله، د سره یرغلګر پوځ او یردي حاکمیت غندل د افغانانو له بشري حقوقو نه دفاع، په افغانستان کي د روان ناورین انځورول، د مهاجرو افغانانو دژوند د مختلفو اړخونو څرګندول، د جهاد د روحیې پیاوړتیا او دې ته ورته نوري خبري رانغاړي.

په دې پړاو کي دمهاجرت په محیط کي ډېشتو ټینو ګوندونو او تنظیمونو له خپلو ایډیالوژیو سره سم ځینې تیوریک آثار هم په کافي اندازه ترجمه، تالیف او چاپ کړل.

د مهاجرت په محیط کې د پښتو نثر د ودې مسأله سړی په لاندې ساحو کې ارزیابي کولای شي:

(الف) هنري نثرونه: د لنډو کیسو او طنزونو په کالب کې وده ومونده، دبناغلي شفیق دوې مجموعې خاله او توپان، جونګړه او ما ښام، د بناغلي شاعر او لیکوال محمد صدیق پسرلي دوې مجموعې د اسې هم وو، سره غالۍ، د ښاغلي عابد په وینو سور کمیس او د ښاغلي شهرت ننګیال دوې مجموعې تیارې لارې رڼې کرښې او

داورنځي دا يادونه ، دښاغلي عصمت قانع سبابه بيا کېږي بار ېږي،
دمحمد ابراهيم تکرځائي دسره سکرقصې ، دنور يالي ځا ځي
تلپاتې يادونه ، دمحمد اکبر اکبر سپېږه ، د زرين انځور ترور مي،
دمحمد ولي ولي دسبا غازي ، دعوض الدين صديقي دارمانونوټولګه،
دمحمد زبير شفيقي دتيارو په تل کې ، د اورنګ زېب ارشاد وروستۍ
سلګۍ اوځينې نورې مجموعې اومتفرقې لنډې کيسې ،چې په مطبوعاتو
کې چاپ دي .

که چېرې موږ دې کيسو هنري اوفني اړخ ته پاملرنه وکړو
له ځينوکيسو پرته په نوروکې فني اوهنري اړخونه ډېر پيا وړي
نه دي . ښاغلي ليکوال محمد آصف صميم هم په خپله يوه ليکنه(۲۵)
کې د مهاجرت ددوران دلنډوکيسو د فني اړخ کمبوتيو ته ګوته
نيولې ده .

ما ته خپله د مهاجرت په محيط کې هغه مهال دليکل شوي ناول
(رومان ) په باب معلومات نشته اما طنزونه اوادبي ليکني دامهال
ليکل شوې دي چې دښاغليو بسرلي ، ساهو ، فضل الله رښتين
نومونه يې يادولای شو. دلپونې باد په نامه دښاغلي بسرلي
دطنزونو مجموعه هم دغه وخت چاپ شوې ده .

(ب) عادي نثرونو د مهاجرت په محيط کې ډېره زيا ته
وده موندلې ده . که ووايو چې دافغانستان نه دمهاجرت په
محيط کې عادي نثر زيات ليکل شوی دی ، نو مبالغه به مو
نه وي کړې ، ځکه په دې پړاو کې افغانانو په خارج کې په لسګونو نه
بلکې په سلګونو موقوتي او غيرموقوتي خپرونې نشرکړې دی . دمهاجرت

په محیط کې په عادي نثر کښل شوي کتابونه هم سلګونو ته رسیږي.

د مها جرت په محیط کې علمي نثرونه لیکل شوي، خودمنزي او عادي نثرونو په پرتله لږ دي. مونږ په دې پړاو کې دادبپوهنې ځینو څانګو ته مربوط د بر محدود چاپ شوي کتابونه وینو، که څه هم د تنظیمونو په پوهنتونونو کې ځینې استادانو خپلې علمي رسالې په پښتو کښلي او ځینو څه ترجمې کړې دي، خوځه آثار زیاتره چاپ نه دي او میدان ته نه دي راوتلي.

## یومنځ مهالی پړاو :

د کابل د پخواني رژیم له سقوط

سره سمه تمایلات چې د اوښتونے د پړاو په ادبیاتو کې پید ا شوي وو او دوو استقامتونو کې یې ددې پړاو په څوارلس کلن دوران کې انکشاف کاوه، نور په ادبیاتو کې منعکس نه شول په لومړنیو څو ورځو کې دفتحې سندرې وویل شوې، خو ادبیاتو لا خپل لورې نه وڅرګند کړې چې پر هېواد دماتم او ناورین یوه توره څپه خوره شوه او د افغانستان درانه آسمان فضا د باروتو زهرجنو لوګیو ولړله. د جنګ، ورور وژنې، تالاني چور چپاو، پرپوزرو دتعرض یو نوی دوران پیل شو. د خلکو شخصي او ملي شتمنۍ چور شوې او یوتوله دولتي ادانه ګډه وډه شوه. پوځ، پولیس او امنیتي قوادې له منځه ولاړې، د تنظیمونو ترمینځ د قدرت دساتلو او تر لاسه کولو لپاره یوه داسې جګړه پیل شوه چې ټولو لوریو دخپل بري لپاره له هیڅ دول وسیلې نه سر نه غړاوه. د خارجیا نو مطخلې

له حده زياتي شوې . دې درووونکي حالت د پښتو ادبياتو
لورې بدل کړ . په پښتو نظم اونثر کې له کمونستانو او نورو
اداره چيانو ... نه بېزاري، دهېواد او مظلوم ملت پر
ناوړه حالت ژړا ، دېر ديوگوړه اگيانو او خارجي لاس وهونکو
غندنه ، دسولې اعاده او نور دې ته ورته مطلبونه او مفکورې
بيان شوې . له ۱۳۷۱ هـ ش کال نه تر اوسه چې پښتو آثار
(نظم ونثر) په کومه روحيه روان دی، دا روحيه له دمخنې
پړاوه فرق لري او دا هم نه ده ښکاره چې دا وضع به ترکومه
دوام وکړي او ادبياتې به دا روحيه ترکومه څو ندی وساتي.
په همدې بنا زه دغه دوران د پښتو ادبياتو يو بېل پړاو بولم،
چې بنايي دوضعې په بدلون سره په طبيعي ډول دا ادبياتو
او نورو آثارو په روحيه او مفکوره کې هم بدلون راشي او
نوی لوری ومومي ، خوځکه چې دا بهير ددې روان سوځوونکي
کړکېچ له امله رامينځته شوی دی ، نوځکه مې ديومينځ مهالي
پړاو نوم ورکړ او بل مناسب نوم مې ورته ونکړ پيدا .

ددې پړاو په ابتداء کې دافغانستان دننه اودباندې د
فرهنګ دروزنې مؤسسې له ځينو مشکلاتو سره مخامخ شوی، لکه:

(۱) په هېواد کې دننه دجنګونو، مرکونو او چپاوونو دې نورو
څپو دافغانانو هرڅه په سيند لاهوکړل . مطابع وسوځېدل،
دفرهنګ درشد زمينې له منځه ولاړې ، په مرکز او زياترو
ولايتونو کې اخبارونه او مطابع چور شول او دهېواد په ډېرو
برخو کې نورتم او... خپلې وزرې خپرې کړې .

(۲) د هېواد د باندې په زیاته پېښور کې چې د افغاني فرهنګ دروزنې کومې مؤسسې وې او پخوا تر دې په خارجي مرستو چلېدې، هغه هم بندې شوې، لکه د افغانستان د جهاد دې خپړنو مرکز، د افغانستان کلتوري ټولنه چې د ۱۳۷۱ هش کال په جریان کې وتړل شوې.

اما له دې ټولو ناحوالو او بدبختیو سره د افغانستان پښتنو لیکوالو، که په داخل کې وو، که په خارج کې، د فرهنګ سنګر سور پرې نښود او له موجودو لږو امکاناتو یې هم استفاده وکړه او خپل فرهنګ ته یې یو څه ورکړل.

زما د مطالعې له مخې دا مهال د ادبیاتو او نورو آثارو په عمومي روحیه کې د اوسنتون د پړاو انقطاب ګرایي ورکه شوه ټول فرهنګیان او لیکوال چې که هغه په هېواد کې د ننه دي او که د باندې، ټول د سولې غوښتونکي، د هېواد د ارضي تمامیت او استقلال پلویان او د اوسنۍ وضعې د بدلون طرفداران دي.

په همدې جنګي او ناوړه شرایطو او د افغانانو په مقابل کې د نورې نړۍ د بې غورۍ باوجود د فرهنګ د غوړونې لپاره څه امکانات هم مهیا شول، چې مونږ یې د دغې عملیې د ودې دا غېزمنو عواملو په توګه دلته یادولای شو:

- د ۱۳۷۳ کال په مرغومي کې له لندنه د ډیوې میاشتنۍ پښتو مجلې په خپرونو پیل وکړ او د پښتو د هنري آثارو او عادي نثرونو نشرته یې ملا وتړله، او تر اوسه چا پېږي. دې مجلې په خپله برخه کې د قدر وړ کار کړی دی.

- د ۱۳۷۳ هـ ش کال په اوایلو کې په پېښور کې ځینوافغا ن فرهنګیانو افغان ادبي بهیر جوړ کړ، دې بهیر هره هفته فرهنګي غونډې کولې او د بهیر په نامه یې یوه مجله هم خپره کړه.

- د ۱۳۷۳ هـ ش کال په اواخرو کې د ننګرهار د فرهنګي ټولنې د جوړېدو هنګامه توده شوه او په ۱۳۷۴ هـ ش کال یې په کار پیل وکړ او د ګندهارا په نامه یې یوه فرهنګي مجله هم خپره کړه.

- د افغانانو د ژوند په دې غم لړلي پړاو کې د ننګرهار پوهنتون د پوهې مجله خپره کړه، چې تر او سه لا چاپېږي.

- له دې سربېره په دې پړاو کې ځینو مؤسسو هم اخبارونه او مجلې خپرې کړې دي چې د پښتو آثارو د نشر په برخه کې حساب پرې کېدای شي، لکه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې دوه خپرني ارګانونه: وفا او خپلواکي، مجاهد اولس ګڼه هېواد او نور ....

- په دې پېر کې ځینې تنظیمي اوګوندي اخبارونه هم وتلي او لا لګیا دي راوزي، چې د آثارو د نشر په برخه کې یې له یاده چارن نه لوو.

- په ۱۳۷۳-۱۳۷۴ هـ ش کلونو کې په هېواد کې د ننه هم ځینې ولایتي اخبارونه، لکه: ننګرهار او ورېسې طلوع افغان بېرته فعال شول او په کابل کې هم ځینو اخبارونو او مجلو خپلې خپرونې له سره پیل کړې. د هنداره په نامه یوه نوې جریده

هم په کابل کې راوروته، چې فرهنګي خوا يې درنه ده.

د غو اوځينو نورو وسايلو او اسانتياوو د دې پړاو په کرکېچن ماحول کې د پښتو نثر د ودې له مسألې سره مرسته کړې ده.

د دې پړاو د فرهنګ ارابه په تېرو پړاوونو کې يا د وشيو ليکوالو چلولې ده، خو ځينې داسې ليکوال او فرهنګيان هم لرو چې د نثر کښونکو په توګه په دې پړاو کې برجسته شوي دي او يا ځينې داسې ليکوال چې په تېر پړاو کې يې ليکل کړي دي خو تبارز يې په دې پړاو کې کړی دی، لکه:

د پښتو ځوان نوښتګر او د نازکو خيالونو پالونکی شاعر پيرمحمد کاروان چې د شاعر په توګه يې په تېر پړاو کې تبارز وکړ او په تېر پړاو کې يې هم متفرق نثرونه چاپ شول، خو په دې ورو ستيو کې د کيسو مجموعې له چاپ سره خلکو د شاعر تر څنګه د نثر کښونکي په توګه هم وپېژاند.

د پښتو حساسه او پياوړې شاعره پروين ملال هم د بناغلي کاروان موقعيت لري. په دې پړاو کې يې د کيسو مجموعه چاپ شوې ده. ښاغلی ايمل پسرلی هم په دې موقف کې درواخله. د دې پېر ځينې ځوان او زاړه ليکوال دادي:

شهيد جنرال عبدالحکيم کتوازی (۱۳۷۴هش مړ) ډګروال نوراحمد کامه وال، محمدګل ديانی، سليم قرار، لعل پاچا ازمون، حفيظ الله تراب، محمد داؤد وفا، نورالحبيب نثار، اجمل يوسفزی، صفيه صديقي، ليمه، حضرت ګل زندانی، سيد بديع الزمان هاشمي

محمد ابراهیم همکار، لطف الله مشعل، محمدظاهر با بري،
جنرال رحمت الله صافي، نصیر ستوری او نور.

له دې لیکوالو سربېره د دې پېر او په خېرونو کې د پښتو
نورو نثر لیکونکیو نومونه هم مخې ته راځي، خو دا نه ده
ښکاره چې دا خلک به دې کار ته دوام ورکړی او که یه؟
یا دا چې اوس یې تش د ژړه د بړاس دایستلو په نیامت لیکنې
کړې دي؟ نو ځکه ما د دغه ډول کسانو نومونه له مطبوعاتو
نه رانه وړل، خو دهغو نومونو له راوړو چاره نه لرم چې
د پوهې په مجله کې راغلي دي. دا کسان د ننګرهار پوهنتون
د بېلا بېلو پوهنځیو استادان دي او د علمي ضرورتونو
پر اساس پښتو مقالې او خپلې علمي رسالې په پښتو نثر
لیکي. د دغو کسانو ونډه د پښتو علمي نثرونو په پرمختیا
کې د ستاینې وړ ده، خو دا فسوس خبره داده چې په وروستیو
کلونو کې د دې پوهنتون د استادانو علمي بریاوې د بری
لر خلکو ته ورانډې شوې دې او یوازینۍ مرجع چې اوس
وختونو کې د دوی آثار خپروي د پوهې مجله ده. د دې
پوهنتون هغه استادان چې آثار یې په پوهنتون مجله
کې نشر دی دادي:

پوهنمل محمد نبي، پوهندوی فرمان الله هیله من،
پوهندوی محمد طاهر توره کی، پوهندوی عارف الله مندوزی،
پوهندوی همایون ناظر، پوهنمل عزیز الله میاخیل، پوهندوی
محمد آصف باوري، پوهندوی گل حکیم شاه سیدی، الله داد،

پوهنمل شاولي ، پوهنیار جانس خان زړن ، محسن شاه فلاح، پوهندوی محمد طاهر امیری ، پوهنمله ذاکره ، پوهنمل غلام قادر کمتوازی، پوهنوال محمد هاشم بشریار، پوهندوی محمد نذیر حبیبي، پوهنمل بادشاه خان، دوکتور رضوان الله نادري، پوهنیار حسین اریان ، پوهندوی دوکتور عبدالله رحمتي، پوهنمل محمد نواب امین ، پوهنیار محمد آصف آرزو، پوهندوی دوکتور عبدالهادي نوابي ، پوهندوی محمد اسحق رازقي، پوهنمل نوراحمد همت ، پوهنیار گلاب شاه سبحاني ، پوهنمل محبوب شاه آرزومند ، پوهنمل شیرعلی امن ، پوهنمل کریم الله ستانکزی ، پوهنمل محب الرحمن ، پوهنمل محمد اجمل حبیب، پوهنیار شفیع الله اونور....

په دې پړاو کې هنري آثارو د لنډو کیسو ، طنزونو او ځینو نورو ژانرونو کې پراختیا او پیاوړتیا وموندله . د لنډو کیسو دغه لاندې مجموعې په دې پړاو کې چاپ شوې دي :

د اسدالله غضنفر ساړه بادونه، د ایمل پسرلي څلورمه لار دندین الخور زموږ دکلي پیاغلي ، د پیرمحمد کاروان له نرگسه تر نرگسه ، د پروین ملال سپینې پاڼې ، د عبدالخالق رشید کنګل زړې او کنگل لاسونه او د حفیظ الله تراب ورکه .

د دې پېر کیسې زیاتره د هنري جوړښتونو له پلوه پیاوړې دي . ځینو سبا ځلیو په کیسه لیکنه کې په دې پړاو کې د پښتو کیسې ډېرې ښې نمونې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړې دي. البته په دې مجموعو کې ټولې راغلې کیسې دا ډول خصوصیت نه لري،

متوسطې او لنډې ترې او وروسته ضعیفې کیسې هم یکې شته .

په دې پېرکې د عزیزنسین د طنزونو پرې مجموعې چاپ شوې ، یوانې درې مجموعې یې ښاغلي میرزاعلم حمیدي پښتو کړې او چاپ کړې یې دي . یوه یې د وږي مین په نامه ښاغلي آرینزي چاپ کړه .

عادي نثرونو په دې پړاو کې د موقوتو خپرونو په پاڼو کې د نشر زمینې ودرلودې او ځینې کتابونه هم په دې پړاو کې چاپ شول او علمي نثرونو هم د پېدا ایښت زمینې درلودلې دې ، ځکه د اسې مؤسسات چې د دې ډول نثرونو د پېدا ایښت زمینې مساعدوي لږ فعال وو او یا هم ګرد سره فعال نه وو ، اما له دې سره سره علمي نثر د پېدا ایښت زمینه درلوده ، خو د دې پېر د طنزي او عادي نثرونو په پرتله په ټیټ معیار کې واقع وو .

د دې پېر له دې لنډې ارزیابۍ سره د افغانستان په فرهنګي حوزه کې د پښتو نثر د پراختیا او پرمختیا معاصره دوره پای ته رسي .

# پښتونخوا :

له ۱۸۹۳ع کال وروسته ، د پښتونخوا هغه سیمې چې په برتانوي هند پورې ومنښلول شوې ، دا سیمې سره له دې چې تر واحد سیاسي

اقتصادي نظام لاندې واقع وې، خو د فرهنګي رشد پروسه د پښتونخوا په شمالي او جنوبي برخو کې یو شان پرمخ نه وه روانه، د دوی دغه نه انډول د پاکستان له جوړېدو وروسته تراوسه هم موجود دی. په همدې اساس مونږ پښتونخوا د کوښښ او پښېنور په دوو فرهنګي حوزو سره جلا کوو، خو د دې لپاره چې په دغو مراکزو پورې تړلې تولې سیمې یې چاپېره کړې کې نو د ا دوې سیمې د سرحد او بلوچستان په اوسنیو مروجو نومونو بېلې بېلې سره مطالعه کوو:

## الف- سرحـــد:

### د پښتنو دغې فرهنګي حوزې د هند

له نیمې وچې سره د دن د پوالې او بیا هم دمستقیم ارتباط له امله د غربي تمدن او فرهنګ پدیدې د نورو فرهنګي حوزو په پرتله دېرې او پخوا خپلې کړې. ادبپوهان په دې سیمه کې د معاصرو ادبیاتو پیل له ۱۹۰۸ع کال څخه ګڼي. له همدې مهاله د دې سیمې پښتو ادبیاتو، ځینې معاصرې پدیدې راواخیستې او په ادبي جریان کې د یو بدلون پیلامه له همدې وخته شوې ده.

دا وخت د پښتو لومړنی اخبار ارواښاد راحت زا خیلي را- وایست. دا اخبار افغان نومېده او په ۱۹۰۸ع کال په پښېنور کې جاري کړی شو. ځینو کسانو ددې اخبار د نشردکال بېلابېلې سنې ښودلې دي، خو ما چې ددې اخبار د ۱۹۴۷، ۱۹۴۸ع او ۱۹۴۹ع کلونو ځینې ګڼې لیدلې دي د ۱۹۴۹ع کال په ګڼه کې یې جلد ۴۲ لیکلی دی، چې په دې حساب ددې اخبار د نشر سمه

نېټه ۱۹۰۸ع کال کېدای شي .

د دې اخبار په پاڼو کې هغه وخت ځيني داسې ادبي ژانرونه، لکه:لنډې کيسې، و اړه طنزونه او نور خپاره شول او پښتو ادبيات يې د يوڼ په يوې نوې لارې سم کړل.

دغو نويو ادبياتو او ادبي پديدو د خپلو شکلي اوموضوعي خصوصياتو له امله نوي کړه وړه درلودل، چې تردې پړاو په دمخنيو ادبياتو کې يې ساری نه ليدل کېږي .

د پښتو نخوا په سيمه کې دپښتو ادبياتو معاصره دوره سرې په دوو پړاوونو کې بېلولای شي : يوه له آزادۍ نه دمخني پړاو او بل له آزادۍ نه وروستنی پړاو.

د پښتو نخوا سيمو څېړونکي دغه معاصره دوره په دوو دورو ويشي، لکه: د آزادۍ نه مخکې دور او له آزادۍ نه وروسته دور. دا ډول تصنيف او دپړاو پرځای ددورونو استعمال دقيق نه ايسي، ځکه اد بپوهان وايي چې دوره يوه وې اويوه دوره کې بله دوره نه راځي، ددورې په مينځ کې چې په سبکونو اومفکورو او يا ژانرونو کې د نوښت او بېلوالي کوم څرک ځرګند شي، سرې هغه دعطف ټکی ديو پړاو پيلامه بولي، نه بله دوره .

## له آزادۍ نه دمخنی پړاو :

داپړاو له ۱۹۰۸ع شاوخوا

نه پيل کېږي او د ۱۹٤۷ع کال تراواسطو دوام کوي. په دې پړاو کې د پښتني فرهنګ دپراختيا او ودې له پاره په دې

سیمه کې ځینې عوامل داسې موجود شول چې د نثر پر پرمختیا او پراختیا اغېزمن وو، لکه:

(۱) د پښتو او پښتو اردو موقوتو خپرونو سلسله له ۱۹۰۸ع کال نه جاري شوه. په ۱۹۰۸ع کال افغان پښتو جریده خپره شوه.

د راحت د افغان د ورو ستیو کلونو کومې ګڼې چې ما کتلې دي هغه خو ګرده پښتو دی، مخونه یې ۶ وو، په هفته کې یو ځل د هرې جمعې په ورځ خپرېدله. نو داسې فکر کېږي چې دا اخبار به له ابتداء په پښتو شروع شوی وي. استاد اجمل ختک په خپله رساله پښتو ادب کې افغان د پښتو لومړنی اخبار بللی دی (اټک کے اسپار، ۱۷۷مخ) خو ښاغلی محمد همایون هما په خپله مقاله (زموږ صوبه کې د افغان د نوم مجلې) کې کوم اوو ه ورځنی افغان ښوولی دی، هغه د راحت زاخېلي افغان نه ښکاري. دوی کښلي دي: «په کال ۱۹۰۹ د افغان په نوم د اردو او پښتو یوه اووه ورځنۍ مجله جاري کړه. د پښتو د صحافتي ادب په تاریخ کې د دغې نوم د پړومبۍ مجلې ناشر د باړې هشنغر سید مهدی علي شاه و. ورو ستو سید عبدالله شاه د افغان مالکانه حقوق هم تر لاسه کړه او هغوی دغه پرچه کال ۱۹۱۵ء پورې ورمبۍ د هفت روزې او بیا د ورځپاڼې په صورت کې په باقاعده ګۍ سره جاري وساتله ...» (۲۶)

له دې بیان څخه ښکاري چې دی مجلې ښيي نه اخبارونو ښايي په همدې نیا مت یې دا د وا ښا د راحت د پښتو افغان یا دو نه، نه وي کړي.

په ۱۹۲۴ع کال د سرحد مجلې په خپرونو پیل وکړ، چې ځانګړې پښتو برخه یې درلوده او په ۱۹۲۶ع کال د آزاد کل- کاکا خیل افغان مجلې خپرونې پیل کړې چې پښتو برخه یې درلوده.

په ۱۹۲۸ع کال پښتون مجله خپره شوه، چې خپرونو یې په وقفو د ۱۹۴۷ع کال د اګست تر میاشتې دوام وکړ او د اګست د لومړۍ نېټې ګڼه یې هم خپره شوې ده (پښتو خپرونې)

په ۱۹۳۱ع کال راحت زاخیلي د ستړی مه شې په نامه مجله خپره کړه او په همدغه کال کاکاجي صنوبر حسین او ملګرو یې د سیلاب په نامه اخبار جاري کړ، چې په پښتو او اردو- دواړو ژبو باندې چاپېده. کومې ګڼې یې چې مالیدلې دي په هغو کې ځینې فارسي نظمونه هم چاپ شوي دي.

په ۱۹۳۳ع کال افغان جرګې د آزاد پښتون مجله خپره کړه. په ۱۹۴۱ع کال کې نن پرون، په ۱۹۴۵ع کال کې ژوند او په ۱۹۴۴ع کال کې دنیا نومې درې پښتو مجلې په دهلي کې خپرې شوې. که څه هم دا مجلې په دهلي کې خپرېدې خو د سرحد له خلکو سره یې نسبتون و، د دې له کبله چې دغو مجلو چلوونکي هم د سرحد د سیمې نومیالي لیکوال او ادیبان وو او له دې سربېره لیکنې ورته زیاتره د سرحد د سیمو لیکوالو تهیه کولې.

- د ۱۹۴۶ع کال په اواخرو کې د سرحد مجلې پښتو ایډیشن په خپرېدو پیل وکړ، چې مسوول مدیري یې اروا ښاد

قاضي عبد الحليم اثر و. ددې مجلې د پښتو ایډیشن ۵ گڼه ما لیدلې ده، چې د ۱۹۴۷ع کال د جنورۍ په ۲۰مه نېټه راوتلې ده. له دې نېټې څخه قیاس کېدای شي چې دا مجله به د ۱۹۴۶ع کال په اواخرو کې وتلې وي. له دې سربېره د امهال (۱۹۰۸ع - ۱۹۴۷ع) په سرحد کې ځینې نور اخبارونه او مجلې هم چاپ شوې دي چې پښتو او اردو برخې یې درلودې، لکه: پیغام سرحد، خیبرمیگزین د کاکاجي صنوبرحسین الکاچې د پښتو برخې مدیر یې امیرنواز جلیا و. دغو او داسې نورو خپرونو د پښتو نثر له پرمختیا او په پښتو کې د نویو ادبي ژانرونو له معرفۍ سره ډېر مرسته وکړه.

(۲) په ۱۹۳۵ع کال په پېښور کې د رادیو یې خپرونو پیل (۴۷) هم د پښتو آثارو د ایجاد او ودې جریان ښه ګړندی او ګړندی کړ.

(۳) د پښتنو سیاسي او اصلاحي نهضتونو او له دې نهضتونو سره د ادیبانو او شاعرانو ملګرتیا پښتو ادب (نظم ونثر) ډېر مختیا په یو نوي درشل کې ودراوه. د ترنګزو د حاجي صاحب د آزادۍ تحریک او په ۱۹۲۰ع کال انجمن اصلاح الافاغنه جوړ شو او بیا وروسته د خدایي خدمتګار تحریک او نهضت چې ډېر ادیبان او شاعران ورسره ملګري وو. ددغه انجمن او بیا تحریک اصلاحي پروګرامونه یې د قلم له لارې عملي کول.

(٤) د ۱۹۱۵ع کال شاوخوا په سوات کې د عبدالودود میاګل

پاچهی پیل شو. او په ۱۹۴۹ع کال یې خپل ولیعهد ته وسپارله په تاریخ ریاست سوات کې په دې ارتباط راغلي دي : «څلور دېرش کاله مخکې ۱۹۱۵ع کې د شمالي سوات علاقې کې... هډغسې یو لوی قومي جرګې کې د ریاست سوات د اولس د قافلې مهارچې ما په لاس کې اخیستی و همغه مې د دولسم دسمبر ۱۹۴۹ع په ورځ د خپل ولیعهد په لاس کې ورکړ...» (۲۸)

دې سرېې له پښتو سره یې کچه مینه درلوده، د دربار سرکاري او دفتري ژبه یې پښتو وه. په همدې بنا د سوات د بادشاهۍ په مضافاتو کې د دې ژبې زده کول حتمي وو او زده کړه په پښتو کېده. (۲۹) د دې پاچا په امر ډېر کتابونه له پارسي او عربي نه په پښتو واوښتل، چې په هغوکې مومن د فتاوای ودوديه، تاریخ فرشته او انوارسهیلي پښتو ترجمې یادولی شو. دغه راز تاریخ ریاست سوات عروج افغان، د بادشاه خپل سرګذشت او میزان الصرف اونور هم هدغه مهال د هدغه میاګل عبدالودود له خوا یا دده په امر نورو لیکلي دي.

په دې سیمه کې د باچا کارنامې د پښتو د پرمختیایي سبېر په عمومي جریان کې نشي هېرېدلای.

(۵) ادبي انجمنونو او جرګو هم په دې پړاو کې د پښتو له ودې سره مستقیمه اړیکه درلوده، لکه انجمن ترقي پښتو چې په ۱۹۲۷ع کال کې جوړ شو ، افغان جرګه ۱۹۳۱ع کال ، په ۱۹۳۳ع کال د نوښار ادبي جرګه ( ژبپالنه ، ۱۲۳- ۱۲۷ مخونه ) په ۱۹۲۹ع کال بزم پښتو (اسلامیه کالج )، بزم ادب پښتو په ۱۹۳۹ع کال ،

پښتو ادبي جرگه چارسده په ۱۹۳۹ع کال کې، بزم ادب پښتونخوا په ۱۹٤۰ کال، ادبي ټولې برتا کال ۱۹٤۳ع کال (۳۰) کې جوړ شول له دغو جرگو سره د پښتو لیکوالو ترون درلود او د لیکوالو په روزنه کې یې ونډه د هېرې نه ده. له دې سربېره یې د پښتو نظم او نثر په پاللو کې هم له پېد له سترگې نشو پټولی. ښاغلي سید صابر شاه صابر د پښتو ادبي ټولي خپرونې ۴۶ شمېرې دي، چې لږ یې اردو نور ټول پښتو او په پښتو کې یې لږ نظم نور زیاتره په نثر دي. (د رڼا گانو محفلونه)

دغو او څینو نورو عواملو د پښتو په دغه فرهنگي حوزه پښتو نثر د پرمختیا او پراختیا په لور پرمختللي انکشافي پړاو کې ور داوه.

هغه لیکوال چې په دې پړاو کې راپیدا شول او تیارز یې وکړ، دا دي:

فضل محمود مخفی (۱۸۸۴ - ۱۹٤۷ع)، راحت زاخیلي (۱۸۸۴-۱۹۶۳ع) خان عبدالغفار خان (۱۸۹۰ - ۱۹۸۸ع)، عبدالودود میاگل، خان عبدالغنی خان (۱۹۱٤ - ۱۹۹۶ع)، خان عبدالولی خان، محمد اسلم کمالي، محمد اکبر حادم (۱۸۷۹ - ۱۹۵۲ع)، صنوبر حسین کاکاجي (۱۸۹۹ - ۱۹۶۰ع) مولوی عبدالرحیم (۱۸۸۰ - ۱۹۵۰ع)، عبدالخالق خلیق (۱۸۹۵ - ۱۹۷۸ع) میا احمد شاه (۱۸۹۴ - ۱۹۶۲ع) عبدالاکبرخان اکبر (۱۹۰۰-۱۹۷۷ع) سید جعفر حسین شاه رښتونی (۱۸۹۶ - ۱۹۷۳ع) ملک سیدا خان شبینو اری (۱۸۹۸ع زوکړی)، سمندرخان سمندر، صاحبزاده محمد ادریس، حافظ محمد ادریس (۱۹۱۵ - ۱۹۶۵) سید انوارالحق

کاکاخېل (۱۹۶۸ع مړ) ، د زیارت کاکا صاحب ، مولاناعبدالقادر (۱۹۰۵ - ۱۹۶۹ع)، امیرحمزه خان شینواری (۱۹۰۷ - ۱۹۹۴ع) ډاکټر سیدانوارالحق (۱۹۰۴ع زوکړی) ، د شیدو میا عبدالرزاق، سیده قانته بیګم (۱۹۰۸ع زوکړی) ، ماسټر عبد الکریم (۱۹۰۸-۱۹۶۱ع) سید رسول رسا ، فضل حق شیدا (۱۹۱۰-۱۹۸۴ع)، عبد الله جان اسیر، قاضي عبدالحلیم اثر ، محمدشاه خیال (۱۹۱۲- ۱۹۷۰ع) محمد اسلم خټک ، امیر نواز جلیا ، میاعبدالرزاق ، فضل الرحیم ساقي، ا س ، ای. رحمان ، سعادت خان جلبل (۱۹۱۴ - ۱۹۷۹ع ) نصرالله خان نصر (۱۹۱۹ - ۱۹۶۵ع ) ، عبد الغفور قاسمي (۱۸۹۹-۱۹۴۷ع) مولوی شاد محمد ترلاندوی، محمدابراهیم ، خانمیرهلالی (۱۸۹۷ - ۱۹۷۰ع) ، مولوی صاحب ګل ، مولوی شاکر الله ، محمد زمان خټک (۱۲۸۴- ۱۳۷۹ هـ ق) محمد نواز خټک (۱۹۱۱ - ۱۹۸۳ع ) ، تاج محمد زېب سر (۱۹۸۱ع مړ ) مولوی امین ګل (زوکړه ۱۹۰۹ع )، امیرمحمد ترخوی ، محمدایاز خان ، حاجي محمدامین سلیمانخېل (۱۸۹۵ - ۱۹۵۸ع) ، عبدالکریم مظلوم (۱۹۰۰ - ۱۹۴۶ع) پیربخش ، عبدالسلام زیارتي نسیدبهادرشاه ظفرکاکاخېل او ځینې نور...

له دغو لیکوالو سربېره چې مستقل آثار لري، د دې پړاو په مجلوکې د ځینو نورو کسانو نومونه او لیکنې مخې ته راځي چې له یاده یې چاره نه لرو .

د پښتون د بېلا بېلو نشراتي دورو کو مې ګڼې چې ماکتلې دي ، په هغو کې مې د دغو لاندې نورو کسانو منثورې لیکنې هم ترسترګو شوي دي، چې د لته یې نومونه راوړم :

امیر ممتاز هیډ ماسټر آزاد سکول اتمانزی ، غلام خان د قاسم کلی ، محمد ایوب خان مروت ، مقصر خان ماسټر اسلامیه های سکول نوښار ، ارباب عبدالغفور ، اشرف خان د پښتونکرو، اقبال پروین یوسفزی (هوتی) علی اصغر وکیل (مردان) گل ضمیرخان میا فضل احمد صاحب کوټوی ، عبدالخالق قریشی طوروی ، مولانا فضل منان ، نقیب الله (هنگو) عبد الله جان (گړهي حضرات) ډاکټر بهایی جان (پېښور) سید محمد نا پام) خواجه محمد اشرف خان کمال الدین افغان ، عبدالرحمان غریب (منشی فاضل) صاحبزاده عبد الباری ، صاحبزاده عبداللطیف (عمرزو) علی حیدر شاه (طورو) ، صنوبر شاه کاکاخیل ، مولانا عنایت الله (مردان) میا غلام قادر (اتمانزی) میا عطاء الله کاکاخیل (زیارت کاکا صاحب) عبدالمالک (پیر پایی) ، مولوی محمد اسلام (جولکرام سوات) عبدالجلیل (چارسده) ، عبد الرؤف (زیده) ، فردوس شاه (مانیری)، مولانا عبدالحلیم ، سعدالله خان ، قیمت شاه کاکاخیل ، محمد عارف نسیم، معروف شاه روغانی ، ولي محمدخان خلیل (شاهي بالا) ، میاشیر رحمان (تاروجبه) ، رمضان خان ، سید سخاوت شاه ، خلیل الرحمن، مجید بیگم (سرخ ډهیری)، عبدالحنان شوق (څوکنو) حجاب گل ، شاه رسول (بره گړهی)، قاضي محمد حسین (درشمند) ، میا صاحب الدین کاکاخیل حنان شیرین خان د شبقدر، شیرحسن خان داحمدي بانډي ، بیگم داؤد شاه برق ، حکیم محمد اسمعیل، شرو دانبار ډهیری ، عنایت الله اش ، روشن عبد الغنی خان ، شمس الرحمن افغان ، محمدعمرخان ، نور الحق افغان ، امیرخان، محمد اسلام نوشهروي ، سید حسین (تنکی)

سید عبدالله شاه (مازاره)، میا جعفر شاه کاکاخېل، میاعطاء-
الدین کاکاخېل، سحرګل (د زیارت کاکا صاحب)، عبدالکبیر (اکوړه)
غلام سرور (کلاچي)، میا مشرف شاه بابر (پېښور)، فضل جان اختر
(چارسده)، مولوي محمد اسرائیل، مولوي علي اکبر صاحب دمغلکو
محمد لطف الله مولوي فاضل، محمد غفران (پېښور) حبیب الله وکیل
د بنو، آمنه خاتون (تور ډېره) حبیب الله بدره خېل د ترنګزو،
الطاف د اکبرپورې او داسې نور...

دغسې د سرحد له ما کتلو ګټو د دغو کسانو لیکني او نومونه
ترلاسه کړای: عبدالله خان (خان سربند)، فضل اکرم کاکاخېل
(میاګان ګړه)، خان غلام سرورخان هېډماسټر، شاه جي میا اسمعیله
عبدالرحمٰن (انبار ډېر)، محمد فردوس سابق منیر انجمن تعلیم القرآن
نوښهره، مولانا شاه رسول کاکاخېل. او د افغان مجلي په یوه
ګڼه کې مې د محمد اسلم دبدرشو او په بله ګڼه کې سربلندخان د
بدرشو مضمون او کیسه لیدلي دي. خیله د افغان چلونکی او
پښتو کیسه لیکونکی میا آزادګل (۱۸۹۵ - ۱۹۵۰ع) ما ته معلوم
دی.

دننه پرون کوم کلکسیونونه چې ما کتلي دي هلته هم
د سرحد د سیمو د ځینو لیکوالو مقالې او لیکني راغلي دي، لکه:
شوکت الله اکبر (۱۹۱۸ع زوکړی)، عبدالحمیدخان، ډاکټر احسان الله
خان، محمد اکرم فاروق، عزیزالرحمٰن عزیز، میا داؤد شاه برق
ابوالقاسم بخاري، محمد انورخان او ځیني نور.

په دې لوړو یادو کړ یو دوو ډلو کې داسې کسان چې

ليکل يې خيله پېشه کړځولې او يا لږ تر لږه يې دنورو کارونو ترڅنګه ليکوالي هم پاللې ده ، هغه زيات نه دي دېر لږ نومونه چې مارا ورته ل هغه وخته کې يې دځينو ضرورتونو په بنا ليک کړې دی او بيا يې پسې تعقيب کړې نه دی ، خو دا چې نثر ونه يې نشر دي ما يې يا دونه وکړه . سره له دې چې ما دافغانستان دفرهنګي حوزې دخپرلو په ترڅ هغه ليکونکي ياد نه کړل چې يوازې يې په مطبوعاتو کې متفرقې ليکنې چاپ وې او د ليکوال په نامه په جامعه کې نه وو پېژندل شوی او يا يې مستقل آثار نه وو - چاپ شوي .

په دې ليکوالو کې زيات تعداد دهغو کسانو دی چې په پښتو يې نظم او نثر دواړه ليکلي دي ، داسې کسان چې له نثرنګارنه زيات د شاعر په حيث پېژندل کېږي ، دا ډول کسان هم يکې شته ، لکه : مخفي ، عبد الغنی خان ، ساقي او ځيني نور ... داسې کسان چې يوازې نثر ليکي هم موږ په دې ډله کې وينو ، لکه : باچاخان ، ولي خان ، ماسټر عبدالکريم ، ميا اکبرشاه ديدرښو ، مولانا عبد القادر او ځيني نور ....

په دې ليکوالو کې د هريو دليکنې سبک ځيني خپل خصوصيات لري ، خو هغه سبکونه چې د يا دونې وړ دی او وروستيو هم ملي او يا پسې تعقيب کړي دي ، دا دي :

**الف** : دارواښاد فضل محمود مخفي سبک خپل شاعرانه خصوصيات ساتي ، که څه هم دی په نثر کې علمي مسايل څېړي ، خو ژبه يې شاعرانه او د ادائې طرز يې مطنطن دی .

دا سبک خپلې ځانګړنې لري .

ب : د اروا ښاد باچاخان او اروا ښاد غني خان چې کومه پښتو لیکلې ده، له عامې پښتو او کلیوالې محاورې نه متاثر دی . څه چې وایي هغه یې لیکي . د دوی دواړو سبک ډیر طبیعي او غیر مصنوع دی . د خان عبدالولي خان سبک هم دغسې خصوصیات لري . په عادي نثر لیکنه کې د دغو درېواړو ښاغلیو سبک د ځانګړې یادونې وړ دی .

ج: په هنري لیکنه کې د اروا ښاد راحت زاخېلي سبک دومره ملیح ، خوږ او پوست دی چې د آینده ګانو لپاره سر مشق شو . د ده نثر د هنري نثر د ښو نمونو په توګه وړاندې کېدای شي . د ده سبک دومره غښتلی او رنګین دی چې له زیاترو نثرونو یې سرې د شعر خوند اخیستلی شي .

د : د اروا ښاد ماسټر عبدالکریم سبک هم د پښتو په هنري نثر لیکنه کې خپل ځانګړی مقام لري . د ده د سبک حلاوت او رنګیني هم ځانګړې ده ، چې د نورو په سبکونو کې یې د ښېګڼو څرک نشي ایستل کېدای .

هـ: مولانا عبدالقادر چې په کومه شېوه نثر لیکلي او کوم الفاظ چې دی استعمالوي د جذب او تاثیر قوه یې زیاته ده . پر لوستونکي اغېز کوي او نه یې پرېږدي چې یې څو مضمون تمام نه کړي . د عادي او علمي موضوعاتو په لیک کې ډېره روښانه پښتو لیکي او د ده سبک هم د دغه پړاو په عمده سبکونو کې

حسابېږي.

ددې پړاو دادبیاتو اونورو آثارو انتقادي روش اصلاحي بڼه لري. په پښتوکې د ناوړه عنعنو او دودونو پرضد بغاوت او دهغو غندنه، کار او اجتماعي ژوند سره دخلکو مینه پیدا کول، د تعلیم او زده کړې عامول، د ځوانانو، پېغلو او بالغانو د تعلیم د مفکورې د ترویج له پاره کار، دنیمې وچې د آزادۍ او په زیاته د پښتنو دآزادۍ مساله، د افغانستان مسایل، د ۴۶-۱۹۴۷ع کلونو په جریان کې هند له آزادۍ او نیمې وچې له ویش نه وروسته د دپاکستان د جوړېدو مسأله ددې کلونو په مطبوعاتو کې د بحث اساسي موضوع وه

دهغه وخت د مطبوعاتو له مطالعې سرې په دې ارتباط مختلف النوع خبرې او نظریې تر لاسه کولای شي.

## ددې پړاو د نثرخصوصیات:

د سرحد په سیموکې چې

په دې پړاوکې د پښتو نثر لیکنې کومه شېوه باب وه، دا شېوه په افغانستان کې د نثر لیکنې د همدې پړاو له نثرونو په عام ډول پرمختللې وه، د ترجمو ناوړه اثرات یې نه درلودل، هنري نثرونه یې په خیالونو او ښکلو الفاظو پسوللي وو، عادي نثر یې روان او علمي یې هم بې کړکېچه وو. په نثر لیکنه کې ددې پرمختیا وجهې ډېرې دي: دلته د نثرلیکنې تر دې دمخه پخې تجربې موجودې وې، له خارجي فرهنګ

او د نورو ژبو د نثرلیکنو د رو شونو مطالعه او ځینې نورعوامل د دې پر مختیا په عواملو کې حسابولی شو .

په دې پړاو کې هنري نثرونه له ۱۹۰۸ع کال پښتو ته را داخل شول. په دې کال ارواښاد راحت زاخېلي شلېدلې پڼه ولیکله او د پښتو لومړنۍ لنډه کیسه همدا شلېدلې پڼه ده ، چې په افغانستان کې هم چاپ شوې او په ځانګړې ډول هم چاپ ده .

د پښتو نخوا له لیکوالو څخه استاد اجمل خټک په خپله رساله پښتو ادب کې دا خبره کړې ده چې شلېدلې پڼه د ۱۹۰۸ع قریب په افغان کې او بیا سرحد کې شایع شوه (اټک کے اسپار ،۱۷۸ مخ )

پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل په خپله یوه مقاله (۳۱) کې دا کیسه د یو ځانګړي اثر په توګه د ۱۹۰۸ع چاپ شوولې ده .

په افغانستان کې هم د راحت ددې افسانې د ۱۹۰۸ع کال چاپ ځانګړې متن تبدیل شوی دی . ښاغلی انځور د شلېدلې پڼې متن له خپلو تشریحاتو او خبرېنو سره یوځای په کابل مجله کې خپور کړی دی.(۳۲)

له دې یادونې غرض دا و چې د پښتو لومړنۍ لنډه کیسه شلېدلې پڼه د ه . نه کوټه نجلۍ . کوټه نجلۍ د راحت دویمه افسانه ده چې تر شلېدلې پڼې ۹ کاله وروسته په ۱۹۱۷ع کال لیکل شوې ده . خال دا چې زیاتره او سني څېړونکي کوټه نجلۍ د پښتو لومړنۍ کیسه بولي ؟

په دې پړاو کې په دې سیمه کې را پیدا شوې هنري لنډه کیسه وروزل شوه . راحت زاخېلي د دې لارې داما م په توګه او نورو

لکه: سربلند خان، میا آزادګل کاکاخېل، عبدالکریم مظلوم، عبدالخالق خلیق، ماسټرعبدالکریم، سید بشریٰ بېګم، امیرحمـــزه شینواری، سیدرسول رسا، نصرالله جان ، مشوانی، محمداکرم فاروق شینواری، عزیز الرحمٰن عزیز، صاحبزاده، نادرخان بزمي، په خپلو افسانوکې هنري نثر وپاله.(۳۳) ددې پېر دیادوشویو لیکوالو افسانی(لنډې کیسې) ژباړې متفرقې دي، یوازې دنادرخان بزمي د افسانو مجموعه چاپ شوې ده او داستاد راحت هغې ته بیاوروسته توله کره چې هغه هم دده تولې کیسې نه رانغاړي.

له لنډې کیسې سربېره ناول هم په دې پېر کې په پښتو کې ولیکل شو. دا کار هم راحت زاخېلي وکړ او ناول دماه رخ بي وکیښ. د دې ناول د لیکلو کال ښکاره نه دی معلوم، خوکومې پېښې چې په ناول کې بیان شوي دي، هغه د ۱۹۰۶ نه تر ۱۹۰۹ع کال کې پېښې شوې دي؛ داسې ښکاري چې دا ناول به هغه وخت کښل شوی وي. راحت ددې ناول په تمهید کې کښلي دي: «... څکه چې دحال د زماني سرګذشت دی او زما چشم دید واقعه ده چې په سنه ۱۹۰۶ء، سنه ۱۹۰۷ء، سنه ۱۹۰۸، سنه۱۹۰۹ء کې تېره شوې ده...» (۳۴)

طنزونه هم دامهال ولیکل شول او د مهالنیو په پاڼو کې یې ځای وموند. د طنزونو په نثر کې هم دا روا ښاد راحت د افغان ونډه د هېرولو نه ده. استاد اجمل په دې اړه کښلي دي چې د افغان په پاڼو کې ده د یار په نامه طنزونه لیکل.

د دې پړاو ليکوالو سفرنامې هم وليکلې چې په هغه کې د عبدالاکبرخان اکبر د روسي ترکستان او افغانستان سفرنامه او د مياکبرشاه د آزادۍ تلاش د يادولو وړ دي.

په دې پړاو کې پښتو ډرامه ليکل هم پيل شول. د اروښاد سعادت خان جليل د يوې ليکنې له مخې لومړنۍ پښتو ډرامه اروښاد حمزه شينواري کښلې ده، چې زميندار نومېده. دا ډرامه په ۱۹۲۶ع کال ليکل شوې ده. تر دې وروسته اروښاد اکبر دالاور ويالله، خو ډرامې يې چې وليکلې، د دې پېر ډرامه ليکنې ته يې رونق ورکړ. محمد اسلم خټک، امير نواز جليا، مياعبدالرزاق، [illegible] او عبدالکريم مظلوم (دا تو ډرامو مجموعه په نامه چاپ ده) سيد عبدالرحمن کاکاخېل او نورو دا لاړ پسې ويالله.

د دې پړاو ليکوال له زړو شرقي ادبي متونو سره هم علاقمندي نيسي. عبدالغفور قاسمي د سوات د والي په امر د حسين واعظ کاشفي هروي انوار سهيلي په پښتو نثر ترجمه کړه او اروښاد اکبر د مولانا د مثنوي څو دفترونه په نثر راوژباړل. او راحت د سعدي ګلستان تحت اللفظ ترجمه کړ (په دې ترجمه مخه پنځم څپرکي کې خبرې شوي دي.) دا ترجمې ښيي چې د دغو ليکوالو له زاړه شرقي فرهنګ سره د زړه له کومې مينه درلوده او د خپلو خلکو په اخلاقي او اجتماعي روزنه کې يې د دغو زړو آثارو بدل له پامه نه و غورځولی، نو ځکه يې دا آثار په پښتو ترجمه کړل.

په دې پړاو کې عادي نثرونو په ژورنالستيکو ليکنو او اخباري مقالو، ځينو ګزارش ډوله آثارو کې پرمختيا وموندله او ډېرو ليکوالو د نثر په دې ډول کې قلم وچلاوه.

علمي نثرونه هم د درسي علومو په ځينو کتابونو، ځينو اجتماعي متفرقو آثارو او د ادبپوهنې په ځينو مقالو کې ځان ښکاروي.

دا وخت ښاغلی رسا او ځينې نور د ځينو شاعرانو په باب د پښتو په مجلو او اخبارونو کې متفرقې مقالې ليکي، خو په دې باب اساسي کار لا د دلته نه و شروع شوی.

د مختلفو علومو ترجمې دا وخت هم رواج وې. په فقهي مسايلو کې د فتاوای ودوديه (د مولوي محمد ابراهيم)، په اقتصاد، اجتماعي علوم او تاريخ کې د سرحد اقتصاديات (د مولوي شاه محمد ترجمه) په دوو ټوکونو کې، د تاريخ هندوستان په نامه د تاريخ فرشته ترجمه. د غه راز د مولوي صاحب ګل دوه جلده تاريخ اسلام او د مولوي امين ګل او امير محمد ترخوي او پير بخش د سيرو کتابونه د يادونې ور دي. د قرآن عظيم څو تفسيرونه هم د دې پړاو د ليکوالو له خوا جوړ دي، لکه: د حافظ محمد ادريس کشاف القرآن، د مولوي محمد لطف الله پښتو تفسير، د سيد انوارالحق کاکاخېل انوار القرآن او نور.

لنډه دا چې د دې پړاو نثر ليکنه د پخوانيو عنعنو په ساتلو له يوې نوې قيافې او غني تجربې سره خپل ځای يو بل پر مختللي پړاو ته پرېږدي او په نوي پړاو کې بيا له دغو تجربو نه په استفاده پښتو نثر ليکنه غزونې کوي.

## له آزادۍ نه وروستي پړاو :

دا پړاو د ۱۹٤۷ ع کال له اګسته

پیلګېږي او تر ننه ورځې پورې دوام لري . دا پړاو په سیاسي لحاظ د پښتونخوا د خلکو له پاره یو له ستونزو ډک پړاو و.

په دې پړاوکې د هند نیمه وچه په دوو بېلابېلو هېوادونو (هندوستان او پاکستان) وویشل شوه او د برېتانوي هند تر ولکې لاندې د پښتونخوا سیمې په پاکستان کې شاملې شوې.

د دې پړاو په پیل کې له یو هېواد نه بل ته او له بل نه بل ته د هندوانو او مسلمانانو د تګ راتګ ستونزې او له دې ډول مهاجرتونو نه رازېږېدلې کشالې موجودې وې. دا ستونزې لا ټولې خلاصې نه وې او د پاکستان نوی جوړ شوي هېواد لاخپله ادانه ټینګوله او د اقتصاد ، سیاست او فرهنګ په برخه کې یې د پرمختیا په لور ګامونه اخیستل چې د ځینو خاصو عواملو له امله، چې څېړل یې د دې ځای کار نه دی ، دا هېواد د پوځي مارشالاوو ښکار شو او په دې شاوخوا پنځوسو کلونو کې درې نظامي حکومتونه پر دې هېواد راغلل او د غو نظامي حکومتونو پر ټولو هغو مؤسساتو، چې د دموکراسي په لمن کې روزل کېږي، خپل ځانګړې اغېز وه درلود .

اما له دې ټولو سره سره په دې پړاو کې ځینې داسې عوامل هم موجود شول چې د فرهنګ پر مؤسسه یې اغېزمنې مفیده وه.

د مثال په ډول د اوخت د ټېر پړاو برعکس دولت هم د فرهنګ په رشد کې خپله ونډه وا خیسته او ځینې داسې بنسټونه یې کېښول چې پدل یې د فرهنګ په غوړونه کې د هېرېدونه دی .

د مثال په ډول په ۱۹۵۱ع کال کې یې د جمهوري اسلام په نامه پښتو پنځلس ورځنۍ مجله له پېښوره شروع کړه چې تر ۱۹۶۵ع کال پورې پنځلس ورځنۍ وه بیا میاشتنۍ شوه . دا ویا یمو کلو بنو په جریان کې هم خپرېده (پښتو خپرونې، ۱۳۷مخ) خو اوس نه چاپېږي .

دغه راز حکومت په ۱۹۵۲ع کال په کراچه کې د اباسین په نامه میاشتنۍ مجله خپره کړه چې وروسته په راولپنډۍ کې چاپېده بیا پېښور ته نقل شوه او خپرونې یې په وقفه یې ډول تر ۱۹۹۵ع کال پورې هم دوام درلود .

په دولتي سطح د پښتو دروزنې له اقداماتو بل اقدام په ۱۹۵۵ع کال د پېښور پوهنتون په چوکاټ کې د پښتو اکیډیمۍ قیام دی . دې مؤسسې په خپل څلوېښت کلن عمر کې ډېر آثار خپاره کړل او له خپلو امکاناتو سره یې د پښتو په روزنه کې د قدر وړ کار وکړ او له ۱۹۵۷ع کاله یې د پښتو په نامه یوه علمي مجله هم خپروله چې تراوسه خپرېږي . که څه هم ځینې پوهان په دې عقیده دي چې دا اداره اصلاً د علمي کار په منظور نه وه جوړه شوې، بلکې د افغانستان د هغه وختني حکومت د تبلیغ په نتیجه کې جوړه شوه .(۳۵)

دغنې د جمهور اسلام او اباسين پا ڼې هم څينې وختو نه زياتره تبليغي او پروپاګنډي مسايلوته وقف شوې وې . د غه مجلې او پښتو اکيډيمی که په هر مقصد فعالې شوې وې، مګر کمه يې فرهنګ ته داشوه چې د دېرو ليکوالو په روزنه کې يې برخه واخيسته ، ډېرو ليکوالوته دکاراو دآثارو دنشر زمينه برابره شوه .

دغه راز محکمه نشر و اشاعت قبايل يوه بله اداره ده چې دځينو پښتو آثارو په نشرکې يې کار کاوه او له ونډې يې ددې پړاو او دپښتو نثر په پرمختيايي سير کې سترګې نه شوېتولای.
- په دې پړاوکې له دغو سرکاري نشريو او موسسو سربېره له همدغه ۱۹۴۷ع کال نه تر اوسه ځينې شخصي پښتو خپرونې هم راوتې دي چې ټولو په خپل وار دپښتو ادب په زياته د نثر په وده کې خپله ونډه سرته رسولې ده .
د ويښ په مهال اوترې راوروسته دري کلونو کې د راحت افغان چلېده ، په ۱۹۴۸ع کال له ترنګزو نه حاجي محمدامين د الصادقه په نامه پښتو مياشتنۍ خپرونه پيل کړه . په همدې کال په کراچۍ کې د عدل په نامه پښتو مجله خپره شوه. په ۱۹۴۹ع کال کې مرحوم کاکاجي اسلم مجله جاري کړه. تر دې وروسته څه نوري خپرونې پرله پسې راووتې، لکه په ۱۹۵۵ع کال په بنوکې او وه ځنډ هلال راووت . په همدې کال د الفلاح پښتو ايډيشن خپور شو. په ۱۹۵۵ع کال سه روزه آزادي نومې اردو جريدې

د پښتو په نامه میاشتنۍ مجله خپره کړه . په ۱۹۵۷ع کال د پېښور آزادۍ ورځپاڼې پښتو ایډیشن درلود. په ۱۹۵٦ع کال د لار مجله راوتله او په ۱۹۵۷ع کال د برې خپرونې نشر شوې، لکه: اووه ورځنی رهبر، اووه ورځنی جمهوریت، میاشتنۍ ننګیالی، میاشتنی قند (مردان). دغه راز په ۱۹۵۸ع کال کې د دوران او ژوند نومې مجلې چاپ شوې. پنځلس ورځنۍ خپلواکي هم په همدې کال چاپ او خپره شوه. په ۱۹۵۹ع کال د رڼا پښتو مجله خپره شوه. په ۱۹٦۰ع کال غنچه نومې میاشتنۍ او بیا اووه ورځنۍ مجله خپره شوه. په ۱۹۷۱ع کال دامن جریده او په ۱۹۷۵ع کال د رڼا مجله خپره شوه. وریسې په سرحدي سیمو کې نورې پښتو مجلې او اخبارونه هم راوتي دي، چې ځینې یې اوس هم چاپېږي او ځینې نشته. د اتیایمو کلونو د جریان په خپرونو کې قیادت پښتو مجله او د پاکرام پښتو اخبار داسې خپرونې دي چې څه موده نشر شوې دي. په همدې کلونو کې د وحدت پښتو ورځپاڼه وروته چې اوس هم چاپېږي. د هېواد ورځپاڼې هم په وقفې دول خپرونې کړې دي او اوس هم خپرېږي. د نویمو کلونو له خپرونو څخه تلوسه نومې مجله هم د یادونې وړ ده چې یوازې یو کال چاپ شوه. او سملاسي د پښتو نخوا په سیمو کې د وحدت، هېواد او یا میر له پښتو ورځپاڼو سربېره د پښتون، بنګلا، لیکوال، ننګ ناموس، نورنګ، څرخلړه، مرکه او مرام په نامه پښتو مجلې هم ځینې په خپل وخت او ځینې په څو کله کله خپرېږي. په مجلو کې دا روانبا د فهیم سرحدی له ضوابطه نه چاپېده ونکې تنظیم داسې

مجله ده چې داردو ترڅنګه د پښتو برخه هم لري .

له دغو پښتو خپرونو سربېره په دې پوهاوو کې ځينې نورې اخبارونه هم راوتي دي چې داردو ترڅنګه يې پښتو برخه هم درلوده . ښاغلی دوکتور راج وليشاه خټک په دې ډله اخبارونو کې دا لاندې نومونه يادکړي دي :

بانګ حرم ، شهباز ، انجام ، جهاد ، وطن ، انقلاب ، ترجمان افغان حقيقت اوهمارا پاکستان ( د پښتو ادبي تحريکونه ، ٤٨٦مخ ) په دې اخبارونوکې زياتره اوس نشته . اما اوس غازي اوکسوټي دوه داسې اخبارونه دي چې پښتو برخې لري .

دیادونې وړده چې په ځينو قبايلي سيمو کې هم دغه وخت ځينې اخبارونه چاپ شوي دي ، چې زياتره يې د پښتنو له مسائلو سره مربوطې خپرونې کولې او دا خپرونې دافغانستان دحکومت له خوا تموبليدلې . دا چې مونږ دپښتونخوا په سيمو کې ډېر فرهنګي زمينو خبرې کوو ، نواړ يو چې ددغو خپرونو نومونه هم يادکړو ، لکه : لوی پښتون ، آزاد ..... ، ورور زغ ، دپښتون آواز ، پښتون رهنما او ځينې نور ....

همدا ډول په پېښور او د سرحد په نوا بعو کې چې کوم کالجونه دي ، دا کالجونه کالنۍ خپرونې لري ، چې هر کال چاپېږي ، دا کلنۍ خپرونې دانګرېزي اواردو ترڅنګه پښتو برخې هم لري . دا پښتو برخې د ځوانو ليکوالو په روزنه او د نويو استعدادونو په پالنه کې ډېر بدل لري . ښاغلی راج وليشاه خټک دا ډول کالنۍ خپرونې داسې را ښوولې دي : د اسلاميه کالج خيبر ، ګورنمنټ کالج پېښور

کندهار، د نوښار کالج نیلاب، د مردان کالج شفق، دچارسدې کالج هشتنګر، دسوات کالج ایلم، دپاړه چنار کالج چنار، دخیبر میډیکل کالج سینا، د انجنیري پوهنتون هم کلنۍ خپرونه لري دکرښې پوهنتون خرمن او همدارنګه دول غنچه، مېرمن او ځینې نورې دا ډول خپرونې هم شته چې په کال کې یوځل د ځینو علمي مراکزو له خوا چاپېږي.

ترکومه ځایه چې څرګنده ده د سرحد په سیمو کې را وتلي شخصي مطبوعات زیاتره پایښتي نه دي. د نه پایښت علتونه یې که له یوې خوا پر دې سیمه د راغلیو نظامي حکومتونو له برخوردونو سره اړه لري، له بلې خوا د دغو خپرونو د تمویل له منابعو سره هم مستقیمه اړیکه لري. د دې خپرونو د تمویل منابع زیاتره په اشخاصو اړه لري او خپرونې پرځان متکي نه دي، لاسنیوي ته اړ دي، نوځکه دوام نه شي کولای.

په دې سیمو کې بل عمده عامل چې د ژبې او ادب له ودې سره مستقیمه اړه لري هغه په دې سیمه کې موجودې ولسي ادبي جرګې دي چې لومړنۍ تولنې یې د معاصرې دورې په لومړي پړاو کې جوړې شوې او په دې پړاو کې یې خورا زیات انکشاف وکړ. ښاغلي محمد جاوید خلیل په خپل اثر (په صوبه سرحد کې د مختلفو ادبي ټولنو او جرګو تنظیمونه او د هغوی کار) کې د سرحد په سیمو کې د ۱۰٤ ادبي تنظیمونو او جرګو یادونه کړې چې په دې یوسلو څلورو کې صرف دوه ماته داسې معلومېږي چې په لومړي پړاو کې جوړې شوي دي، نورې ګرده د دوهم پړاو

يا له آزادۍ د ورو ستې پراو جوړې جرګې دي، چې ځينې يې اوس نشته، خو اکثره يې فعالې دي او د غير فعالو پر ځای نورې ټولنې جوړې شوي دي او په دې حساب اوس هم دد ې صوبې په ګوټ ګوټ کې د پښتو د سلو شاوخوا لويې - وړې ټولنې شته.

دا ټولنې د نقد او مشاعرو غونډې جوړوي، د ځينو خاصو مناسبتونو له پاره دستورې کوي، ځينې يې آثار هم خپروي. د نظم تر څنګه يې د نثر په برخه کې هم اغېزمني د هېرولو نه دي.

که حقيقت ته تېر نه شو د پښتو نخوا په دې سيمه کې پښتو همدغې جرګو او ادبي ټولنو ژوندۍ ساتلې ده. د پښتو غم دوی خوري، پښتو مطبوعات د دغو جرګو غړي لولي، که نه وي په سرحد کې زياتره لوستي کسان نه پښتو ليکلی او نه لوستلی شي. داخلک په پښتو کې نه دي باسواده شوي، پښتو يې مورنۍ ژبه ده يوازې خبرې پرې کولای شي او بس.

په دې سيمه کې که څه هم په پېښور پوهنتون او کومل پوهنتون کې د پښتو ديپارتمنتونه شته او د پېښور پوهنتون کې M.philon او ph.D نه درجو پورې پښتو کې تعليم شته او په ګومل پوهنتون کې په پښتو M.A ورکول کېږي، په ډېرو کالجونو کې پښتو لوستل کېږي، خو عام تعليم په پښتو کې نه دی. دا ټيا يمو کلونو نه را په دې خوا تر ينځمه پوړې تعليم په پښتو شوی دی، خو هغه پښتانه چې لوړې زده کړې لري او يا يې د ژوند سطح ښه ده، هغوی خپل بچي په هغو ښوونځيو کې نه شاملوي چې زده کړې يې په پښتو کې دي، معنی دا چې دوی نه غواړي اولادونه

يې په پښتو کې باسواده شي ، ځو دلته په پښتو کې د باسوادانو لښکر زياتېږي ترڅو چې پو رې به مطبوعات وده ونه کړي (٣٦) .

نن سبا که په پېښورکې درې پښتو ورځپاڼې چاپېږي لوستونکي يې افغانان دي ، که افغانان ځېل وطن ته ستانه شول ، نو دا درې سره ورځپاڼې به سقوط سره مخامخ شي ، ځکه دلته باسواده خلک له پښتو اخبار نه ، اردو او انګرېزي اخبار ته ډېره ترجيح ورکوي ، ځيني خو پښتو لوستی نه شي ، څوک چې يې لوستی شي څوک يې هم نه لولي او د اردو اخبار لوستل خوند ورکوي

د لوړو يا دو شويو زمينو او ورسره بندېزونو سره سره پښتو نثر په دې پړاو کې د ودې زمينې ودر لودې او ځيني پښتو ليکوال نوي متبارز شول او ددې پړاو فرهنګي کاروانه يې پرمخ بوتلل او ځيني هم د لومړني پړا و ليکوال ددې پړاو په بېلا بېلو کلونو کې فعال وو او د پښتو نثر په وده کې يې برخه واخيسته . د لومړي پړا و له ليکوالو سره بېره کوم ليکوال چې په دې پړاو کې متبارز شوي دي څخه دادي :

اروا ښاد سمندرخان سمندر ، اروا ښاد دوست محمدخان کامل مومند ( ١٩١٥ - ١٩٨١ ع ) شمس الدين مفلس دراني ، رضا همداني ( ١٩١٤ - ١٩٩٤ ع ) حافظ عبدالقدوس قاسمي ، عبدالرزاق حکمت ( ١٩١٧ - ١٩٦١ ع ) خيال بخاري ، پروفيسر تقويم الحق کاکا خېل ، طاهر کلاچوي ، ولي محمد طوفان ( ١٩٢٦ - ١٩٨٣ ع ) احمد کاکا ، عبدالطيف وهمي ، مولانا امين ګل ، اشرف مفتون ، عبدالغفران بېکس ، ايوب صابر ، صاحبزاده فيضي ، رضا مومندي ، حسن خان سوز ، يونس خليل ، مراد شينواري ،

عبدالله جان مغموم ، ایاز داؤد زی ، قمرالزمان راهي ، محمد
یوسف خان ، سیف الرحمٰن سلیم ، قلندر مومند ، تکریم الحق کاکاخېل ،
تسنیم الحق کاکاخېل ، غازي سیال ، ابو تراب کاکاخېل ، مقدارالدین
شاکر ، مولانا راحت ګل ، مولوی فضل الهٰی ، احمد امین ، ارباب
عبدالوکیل خان ، اشفاق ، ، افتخار الدین ، عبدالرحیم مجذوب ،
همېش خلیل ، حسین بخش کوثرغوریاخېل ، اشرف درانی ، زیتون بانو ،
مبارک سلطان شمیم ، عبدالرحمٰن شباب ، غلام قادر ، سرفراز خان
عقاب ختک ، غفران الله ، جاوید کاکاخېل ، پروفیسور عبدالرؤف
نوښهری ( ۱۹۲۳ - ۱۹۹۶ع ) انور دېوانه ، پروفیسور محمد نواز طایر
میررحمان غازی ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، محمد افضل خان ، سامع
مظهری ، سراج الاسلام سراج ، نثار مظلوم ، لطیف اپریدی ،
پروفیسور افضل رضا ، عبدالله جان اسیر ، مولانا فضل ودود ،
مولانا سید کرم شاه ، قاضي مبارک ، مولانا حبیب الله زروبوی ،
سلطان محمود ، محمد امین ذاخېل ، مولانا افضل د سوات
غلام الله خان مرحوم ، مولانا طاهر پنج پیری ، شفیق الرحمٰن ، سید
روح الله د مازاری ، قاضي عبدالرب دزیارت کاکا صاحب ، عبدالفتاح
فقیر د باړوان دیر ، ماسټر ګلبرخان ، مولانا رشید احمد حقاني ،
مفتی محمد فرید ، حافظ فضل مالک ، داور خان داود ، غلام نبي
فاروقي ، مولوي عبدالرب د بغدادی ، مرزا عبدالرحیم ، محمد
قاسم مظهر ، ابوالفیض سواتي ، سید لعل شاه ، جګر کاظمی ،
میا سناء الدین کاکاخېل ، سردار شاه راهي ، محمد صدیق ، قاضي
هدایت الله ، سکندر خان خلیل ،

شېر محمد مینوش ، سید میر بادشاه بخاري ، طاهر بخاري ،
ډاکټر نورالحق ، ندا یوسفزی ، ډاکټر امین الحق ، احسان الله خان
دانش ، فهم دل راهي ، سیده قانته بېگم ، فوزیه انجم ، شېر شاه ترخوی ،
صاحبزاده رازق نور ، اکمل اسد آبادی ، منتظر بېټنی ، لایق شاه
درپه خېل ، رشید علی دهقان ، خیبر اپریدی (۱۹۹۵ع مړ) زینت شاه
ساحر اپریدی ، فضل غني مجاهد ، پروفیسور جهانزېب نیاز ، ډاکټر
خالد خټک ، پروفیسور محمد اعظم اعظم ، اکرام الله گران ، محمد اشرف غمگین ،
سلیم راز ، اخونزاده فرمان مسافر ، سید محمود ظفر ، ارباب رشید-
احمد ، هاشم بابر ، پروفیسور نوشاجهان انور ، هدایت الله نعیم ، مشتاق
احمد مشتاق ، محمود الحسن ، میر شرف الدین وزیر ، فضل الرحمان فیضان
صوفی سلطان روم ، خالقداد امید ، ډاکټر عبدالخالق زیار ،
رحمت شاه سایل ، دوکتور اسرار ، سیف الرحمن سید ، مشتاق الرحمن
شفیق ، غني خټک ، محب الله شوق ، عنایت الله ضیاء ، سید ثروت
جهان ، مشل خان راهي ، میراحمد صوفي ، سید اکبر صابر ، نورالبشر نوید
پرېشان داوړی ، قیصر اپریدی ، افراسیاب خټک ، سعدالله جان
برق ، احمد حسن حسرت ، دوکتور راج ولي شاه خټک ، عرفان خټک ،
لسوڼدی ، حاجي پردل خان خټک ، دوکتور فضل دین خټک ، شاه افضل
(ډرامه لیکونکی) ، رومان ساغر ، اقبال نسیم خټک ، دوکتور یار محمد مغموم
عبدالقیوم مروت ، محمد اقبال حیران ، عبدالکافی ادیب ، سید
ممتاز علی شاه ، عرفان الله عرفان ، عبیدالله مجبور سوړانی ،
مطیع الله قریشي ، دلاور خان حیران خټک ، عرفان خټک ،
میراحمد کمال ، یونس قیاسي ، قمر الزمان قمر ، دوکتور محمد حنیف

وصال محمد قریشي ، ولی الله خان ، ولي محمد خلیل ، مختیار احمد زاهد
محمد زبیر حسرت ، صاحب شاه صابر ، میا وکیل شاه فقیرخیل ،
مشتاق مجروح یوسفزی ، پرویز مهجور خویشکی ، پروفیسور شاه جهان
افتخار حسین ، سلمیٰ شاهین ، محمد جاوید خلیل ، تمنید وقار علی شاه
کاکاخیل ، عبد الجبار خلیل ، ډاکټر محمد ساعد ، سید صابر شاه صابر
اباسین یوسفزی ، محمد همایون هما ، زلمی خټک ، شاه جهان
ډکټر یال ، هدایت الله خټک ، ماتوخان ، پروفیسور خواجه محمد سایل ،
... حسین فرهاد ، عبد الوحید ، کریم الله ، جمال رازي ، یاسمین پرویز ،
احمد خان ، شبر احمد خلیل ، دوکتور سهیل انشاء ، شاه نظو خان ، شرف
الدین مخلص ، شبر محمد کامران ، نور الامین یوسفزی ، محمد بادشاه
کاکاخیل ، فهیم سرحدي ، ګل محمد بیتاب ، بریګیډیر صادق الله ،
سحر یوسفزی ، ګوهر الرحمٰن ګوهر ، فضل الزمان شلمان ، محمد پرویش
شاهین ، رحیم شاه رحیم ، پروفیسور قاسم محمود ، قابل خان اپریدی ،
میناخان اپریدی ، محمد عباس قادریه ، دوکتور چراغ حسین شاه ،
پروفیسور عبد الحی ، صفیه حلیم ، حسینه ګل ، ذکیه حلیم ، زاهده
حلیم قریشي ، انعام یوسفزی ، وزیر بادشاه ، مس شمیم رشید ، فرید
اسیر ، شبر افضل بریکوټی ، اشراف حسین احمد ، مجید الله قاضي
محمد ایوب ، نادم خټک ، دوکتور فضل الرحیم مروت ، اسیر منګل ،
فرمان الدین بخشالي ، مرتضیٰ شاهین ، حنیف خلیل ، قانت خویشکی ،
فردوس شاه فقیرخیل ، ګل افضل خان ، محمد افضل بنګښ ، شبر علي
باچا ، محمد اصغر ، تاج رحیم ، کران شهزاده ، پروفیسور عبد الحق نسیم ،
عبد الغفور خان ، عمر ناصر ، عبد الواحد قلندر ، سیف الاسلام سیف

ساغر اپریدی، صاحبزاده رازق نور، ارباب هدایت الله، جان محمد زلمی، فدا سرحدي، پیر محمد شارق، عالمزیب خټک، عرفان الله عرفان، اقبال فنا خټک، اطهر صحرابي، سیده ناز جاوید، تاج خټکه، سیده یاسمین، دوکتور شاه افضل، دوکتور بخت روان، نثار محمد خان، فهمیده بېګم، محمد شیرخان (په افغانستان کې یې افسانه نشر شوې ده) محمد عمرخان (افغانستان کې یې افسانه نشر شوې ده)، عبد الودود سرحدي، عبد العزیز مظاهري، مولوي ګل باد شاه، مولوي حبیب الرحمن، سید نواز حافظ، عبد الحفیظ خټک، صاحبزاده عبد الرحمان، رومان ساغر، جمیل یوسفزی، ندا محمد، نذیر بهتي، نثار احمد زاهد، نعمت یاسین، فاروق نایاب، طارق نوید، فرمان عمرزی (درامه، ۲۳ مخ) وروستي څو کسان درامه لیکونکي دي، او نور په لسګونو لیکوال....

په دې لیکوالو کې هم د نورو فرهنګي حوزو د دې پېر د لیکوالو په څېر ځیني د شاعر په توګه ډېر متبارز دي، خو د شعر تر څنګه نثر هم لیکي. په هغې بنامې به دې ځای کې یاد کړل. ډېر محدود کسان پکې داسې دي چې نظم دې ونه لیکي او یوازې دې یې نثر ته توجه کړې وي، خو داسې کسان چې په نظم و نثر دواړو کې دې برابر حیثیت ولري دا د له خلک هم پکې شته.

په دې پړاو کې دیاد و شویو لیکوالو سبکونه خپلې ځانګړنې هم لري، اما ځیني سبکونه د تېر پړاو له لیکوالو متاثر هم دي او ځیني داسې دي چې خپلې خاصې نښې او خصوصیتونه لري.

د سمندرخان سمندر، اجمل خټک، مهدي باچا، همیش خلیل،

قلندر مومند، پروفیسور تقویم الحق کاکاخیل، پروفیسور محمد نواز طایر او یو د ډېر نورو داسې سبکونه دي چې سړی ورته په ځانګړو ارزښتونو قایلېدای شي. د نورو سبکونه یا له دوی او یا د لومړي پړاو له نورو لیکوالو متاثر دي.

د پښتونخوا ددې پړاو د لیکوالو زیاتره سبکونه ګډوله شوي دي؛ زیات انګرېزي، اردو اصطلاحات او ترکیبونه پکې استعمالوي. له فارسي او عربي نه داخیستنو کمی هم پکې نشته، خو د یادونې وړ ده چې ددې سیمې اکثر لوستي لیکوال (له دیني علماوو پرته) عربي او فارسي ترکیبونه او کلمې له اردو نه اخلي، چې اکثر سم نه دي. ددې ځای لیکوال دا ډول اعتراضونه دافغانستان پر لیکوالو هم واردوي چې هغوی له عربي او فارسي نه ځینې اخیستنې کړي دي. دا خبره تر یوه حده سمه ده، مګر فرق دادی چې افغاني لیکوال کلمات یا ترکیبونه راسًا له دري یا عربي نه اخلي، نه ددې ځای غوندې چې په ناسم ډول له اردو نه ورته راځي. ددې ځای د زیاترو لیکوالو په لیکنو کې د اردو، عربي، فارسي او انګلیسي دومره کلمات استعمال شوي وي چې د عادي لوستونکي له پاره یو هېڅ پرې ګران وي.

ددې ځای په لیکوالو کې ځینې د خپلې لهجې مطابق د لیکنو طرفداران هم شته، چې ښه مثال یې ارواښاد عقاب خټک دی. هغه به کوښښ کاوه چې پښتو په خپله لهجه ولیکي. د جنوبي اضلاعو ځینې نور لیکوال هم دې خواته میلان لري. ددې خبرې

معنی دا ده چې د لته دیوې منل شوې معیاري پښتو دعامېدلو

جارې هم له ستونزو سره مخ دي ، سره له دې چې د یوسفزو

لهجه د لته دیوې منل شوې لیکنۍ لهجې په دود منل شوې سبکاري

خو بیا هم ټول یې متابعت نه کوي .

د دې پېر په ادبیاتو کې انتقادي روش څو استقامتونه

لري ، یو بعدیې نشنالستي دی ؛ چې د پښتون د ملي هویت

او ملي موقعیت د تثبیت لپاره مبارزه پکې منعکس شوې ده .

د مارشالاېي رژیمونو ، استبداد ، بیروکراسۍ نه راز یږېدلو

نورو مفاسدو پرضد مبارزه ددې پړاو دادبیاتو بل اړخ دی ،

له دې سربېره د دې ځای په اصطلاح ترقي پسنده روح هم ددې

پړاو دځینو ادبي آثارو په کالبدکې چلېږي .

په دې پړاوکې له دغو دربو عمده استقامتونو سربېره په ادبیاتو

کې ځینې نور فرعي او دغرني فرهنګ په پښتنو ځینی نور روانې

موضوعونه هم په ادبیاتو کې بیان شوي دي ، چې تاکونکی پده ل

نه لري .

دا پړاو په سرحد کې د پښتونثر یو ځانګړی پرمختیایي پړاو

دی . په دې پړاوکې چې ځینو ساحوکې کوم منثورآثار ایجاد

شوي دی ، هغه د پښتنو په هیڅ یله فرهنګي حوزه کې ساری نه

لري ، په عام ډول موږ د پښتنو د دغې فرهنګي حوزې (سرحد)

دآزادۍ او د نیمې وړې له ویش نه وروسته پړاوکې د پښتو

نثر د پرمختیا او پراختیا لوری داسې ټاکلی شو:

(۱) څنګه چې موږ ته معلومه ده هنري نثر په دې حوزه کې

په لومړي پړاو کې را پيدا شو او د پرمختيا په لوري يې پراخ گامونه پرمخ اخيستل . په دوهم يا له آزادۍ وروسته پړاو کې د نثر دې ډول ډېره زياته پراختيا او پرمختيا وکړه. په لنډو کيسو ، ناولونو، طنزيه ورو ټوټو، ټکلونو او ډرامو کې يې خوړا انکشاف وموند . له دې سربېره د دې ژانرونو ترجمو هم د پښتو هنري نثر په بډاينه کې ډېره ونډه لوبولې ده. کوم هنري منثور آثار چې دې حوزې په دې پړاو کې پښتو ته وړاندې کړي دي دا په خپله نوع کې بې ساري دي، او د پښتنو بله هيڅ حوزه ورسره سيالي نه شي کولای .

په دې پړاو کې د پښتو لنډې کيسې ډېره پراختيا او پرمختيا موندلې ده ، په لسګونو مجموعې او متفرقې لنډې کيسې د دې سيمې ليکوالو ليکلې او ترتيب کړې او چاپ شوې دي ، لکه: د قلندر مومند ګجرې ، د مفلس دراني د سپرو غاښ ، د مهدي باچا لاله ګلونه ، پټ ، سبا ن ، د بودېمه تپال ، توردا غونه، د همېش خليل چارګل ، د اشرف حسين احمد شندي ګل او مورې ششتې ، د ګل افضل خان کړې لارې او داغونه ، د ارباب رشيد احمد انګازې ، د عبد الغفران بېکس د زړه چاوده، د زيتون بانو : هنداره ، مات بنګړي، ژوندي غمونه او خوبونه، د هدايت الله ختک لمبې او نورې لمبې ، د قمر الزمان قمر بدلون، د عبد الکافي اديب کاږه مخونه، د حسن خان سور لوګي او رڼا ، د صاحب شاه صابر واورې او ګلونه ، د اکمل اسد آبادي تړې او چپې د عبد القيوم مرنګ پټ مخونه ، د شېرزمان طايزي شپېلۍ ، د مبارک

سلطان شمیم نوی سحر، د سعدالله جان برق د کشمیر غازي او نوري مجموعې. له دې سیمې نه لسګونو نورو لیکوالو متفرقې لنډې کیسې لیکلې دي چې تفصیل یې ددې ځای کار نه دی. مایه خپله یوه اوږده مقاله کې چې د پښتونخوا داستاني ادبیات نومې مجموعه کې چاپ ده، په دې سیمه کې د پښتو لنډو کیسو لیکوال او آثار ګرده ښوولي دي.

د لنډو کیسو ځینې ترجمې هم په دې سیمه کې شوې دي دا ترجمې همېش خلیل، قلندر مومند، پروفیسور محمد نواز طایر هم کړې دي. له دې پرسېره پروفیسور محمد اعظم اعظم په خپل کتاب پښتو افسانه کې (۱٦٦ - ۱٦٧ مخونو) د لنډو کیسو په مترجمینو کې د دسباغلیو محمد اصغر، قمر راهي، ګران شهزاده، تاج رحیم او محمد همایون نومونه هم یاد کړي دي.

دا ډول ناول لیکل هم په دې پړاو کې خپل انکشافي سیرونه ترسشا پرېښودل. ددې پېر ناول لیکلو کې زیاتره د لومړي پړاو - لیکوالو پراخه ونډه اخیستې ده، لکه: اروا ښاد حمزه شینواري چې نوي څپې یې لیکلي، صاحبزاده محمد ادریس چې پېغله یې لیکلې، اروا ښاد سید رسول رساچې: مغرور، شمعه، مامونډ، خودکشي او میخانه نومي ناولونه یې لیکلي دي، زړکې سترګې د اشرف دراني، نوی کول د ساغر اپریدي، ښڅې د غازي سیال امانت، رحمان کورونه او ګل خان د شېرزمان طایزي، چاودې ښینبه د ماتوخان، خوابنې نړوړ او اجره د محمد ابراهیم شبنم، مظلوم امام د مهدي شاه باچا، طوری د هما، بي بي مبارکه او

راځګنه د رحیم شاه رحیم ، شوم د محمد نواز اونور ...

دغه راز سباغلي رفیع د پېښور د پښتو اکېډیمۍ دخطي نسخو په فهرست کې د دوو زماني اثارو د ترجمو یاد ونه کړی ده چې یو یې د سپیو جزیره نومېږي او بل یې هم رابنسن کروسو. د ترجمو په لړکې د ښاغلي شاه جهان وکړیال له خوا د فردوس یا بله بنشته ! ناول هم د یاد ونې وړ دی . دا ناول اوس چاپ دی .

د پښتو نخوا په دې حوزه کې ډرامې په دې پړاو کې زیاته وده ومونده . له سټیج ډرامو سربېره په دې پړاو کې راډیویي ډرامې هم ډېرې شوې او تلوېزیوني ډرامې هم باب شوې او وده یې ومونده . د ډرامه لیکنې په کار کې د لومړي پړاو ځینو وتلیو لیکوالو ، لکه : ارواښاد عبد الاکبرخان اکبر ، ارواښاد رخلیق ، ارواښاد حمزه شینواری ، سید بهادرشاه ظفر ، حافظ محمد ادریس ، اشرف مفتون ، سید رسول رسا ، شوکت الله اکبر ، عبد الکریم مظلوم هم برخه ودرلوده . له هغو سربېره ارواښاد عقاب خټک ، رضا مومندي محمد اکرم مشهود ، محمد هایون هما ، داکتر محمد اعظم اعظم ، سید خالق داد امید ، افضل رضا ، شاه افضل ، سعدالله جان برق ، یونس قیاسي ، نذیر بهتی ، نذ محمد (۳۷) فرمان عمرزی ، جان محمد ، نثار احمد ، ناهد ، ارباب عبد الوکیل ، اشراف حسین احمد ، اشرف دراني ، اس ای رحمان کاکاخېل ، ایوب صابر ، جبار الدین ، ساحر اپریدی ، سمندرخان سمندر ، سید سردار بادشاه ، سیف الرحمن سلیم شانظر ، زیتون بانو ، جان محمد زلمی ، رضا مومندي ، حسینه ګل ، خیال بخاري ، ذکیه حلیم ، رحمت شاه سایل ، رشید علي دهقان ،

رياض احمد خالد ، زاهده حليم ، شیرمحمد کامران ، اسیرمنګل ، طاهر بخاري ، عبد الرحمٰن شباب ، سيده نان جاويد ، عاشق حسین ، مبارک سلطان شمیم ، محب الله شوق ، ګل محمد بیتاب ، ګل افضل خان فضل علي فضل ، لايق زاده لايق ، منظورشاه کاکاخېل ، محمد اقبال حیران ، محمد نواز طایر ، وصال محمد قريشي ، ممتاز علي شاه ، نثار مظلوم ، شمیم رشيد ، بیګم داود ، نورالبشرنوید او نور او نور و ليکلي دي . دا ډرامې زياتره اجتماعي اصلاحي رنګ لري ، يه ځينو کې وطني او مزاح مالګه هم شته ، تفريحي اهداف هم پکې په پام کې نيول شوي دي . په دې ډرامه ليکونکيو کې خاص دښځو او کوچنيانو له پاره هم ډرامې ليکلي دي ( ډرامه ۹۰ مخونه ) له دې سربېره له نورو ژبو ، لکه : اردو ، انګرېزي او عربۍ نه هم ترجمه شوې دي . چې د اردو ډرامو ترجمې پکې ډېرې دي . همدغه بناغلي چې ډرامې ترجمه کړي دي دادي : اروا ښاد امیرحمزه شینواری ، رضا مومندي ، جان محمد ذلمی ، یوسف خان ، ولي محمد خليل ، فقیر محمد ، عبدالله جان مغموم ، سعدالله جان برق ، ګل افضل خان ، سمندرخان سمندر ، عمرناصر ، سراج ختک ، سوز ، اجمل ختک ، رشيد علي دهقان ، افتخارالدين منظورشاه کاکاخېل ، مراد شینواری ، عقاب ختک ، قمر راهي ، محمدعباس ، ډاکټر بخت روان ( ډرامه ۹۱ - ۹۳ مخونه )

یادو شويو ډرامه ليکونکيو د متفرقو سټيج ډرامو ، راډيوئي او تلويزيوني ډرامو ترڅنګه د ډرامو مجموعې هم چاپ کړې دي . چې پروفيسور رضا په خپل کتاب ډرامه کې د دغو لاندنيو مجموعو

نوموونه یاد کړي دي.

نیمګړی خوب، اور او به او ترېبو عرف زیبا د ایس، اه زمان کنا و دچادو، د لېـ ارزه کچکول، توري چې تربري د افضل رضا ترېبو د عبدالاکبرخان اکبر، ترېبور د رحیم شاه نسیم، ځېرې د عبدالکریم مظلوم، حیدر د اشرف مفتون، خوب ژوندون دخلیق، درس عبرت د عبدالله جان اسیر، دژوند دوزخ او رنګارنګ ګلونه د سید رسول رسا، د مزدور دنیا د سعادت خان جلبل، دوه بنې د نصرالله خان نصر، راجکماري او ګل نشاء د میا عبد الرزاق، ضدیان د نثار مظلوم، فریدن د فلک ناز نیاز، کچکول دزیتون بانو، کهه په سر د خالقداد امید، کاله ګلونه منتظر فریادی، کوښدن اسیر منګل، محمد اعظم اعظم په لښې، د مبارک سلطانه شمیم په نوي سحراو د زیتون بانو په هنداره کې هم څه برخوکې ډرامې راغلې دي.

له دې سربېره ترجمه شوې ډرامې په کتابې شکل دادي:
اصحاب کهف د توفیق الحکیم د ډاکتر بخت روان ترجمه، د خیرآواز د چارمین ایم ایکس د نصرالله خان نصر او محمد رشید ترجمه، دونیس سوداګر د ولیم شکسپیر د عقاب خټک ترجمه رستم وسهراب د آغا حشر کشمیري د افضل رضا ترجمه، دروستی دیدن د ویلیم شکسپیر او تهلو د سوز ترجمه اونور.

د طنزونو او تکلونو ځینې مجموعې هم په دې دوران کې وتلې دي، لکه: د اجمل خټک کچکول، د عبدالله جان مغموم تراخه خوازه دوه بڅرکه، د سعدالله جان برق ګل زیري،
او د وکتور اسرار مجموعه، متفرق تکلونه او طنزونه (دکوچنیو

ټوټو او حکایتونو په بڼه) په متفرق ډول په مطبوعاتو کې نشر دي.

باید د اخبره یاده کړو چې د پښتنو په دې فرهنګي حوزه کې هنري ادبیات که هغه په لنډو کیسو کې دی که په ناولونو، ډرامو، تمثیلونو او ورو طنزونو په ټوټو او حکایو کې خپل ځانګړی ارزښتونه لري. هنري بافت او فني خصوصیتونه یې د دې حوزې د لومړي پړاو ادبیاتو په پرتله پرمختللي دي او ځینې د اسې ادبي آثار موږ ته په دې ټولو ژانرونو کې پیدا کولای شو چې د منطق له ادبیاتو سره یې مقابلې ته وړاندې کولای شو. ضعیف او متوسط آثار هم پکې شته، خو د هنر د یوې پرمختللې تجربې حکایت کوونکي آثار هم ډېر لرو.

(۳) عادي نثرونو په دې پړاو کې زیات پرمختګ وموند. د انثرونه له ژورنالستیکو ژانرونو سربېره په سفرنامو او راپورتاژونو او د لیکونو او ځان پېښو په مجموعو کې هم پرمخ ولاړل. ډېرو لیکوالو په دې لاره کې خپل قلمونه او استعدادونه وازمایل او ډېرې تجربې یې پکې وکړې.

د اروا ښاد خان عبدالغفارخان زما ژوند او جد وجهد، د باچا خان لیکونه او دغه راز په پښتون کې د ده خپور شوی سلسله وار راپورتاژ (د شلمې صدۍ تهذیب او زموږ جیلخانې) د استاد حمزه نوی پښتون، د حجاز په لور او د طاهر اپریدي په نامه دده لیکونه (کوټی قلم ته په ژړا شوي) د پروفیسور نواز طایر ناليدلی سوات، د اجمل خټک د ازه پاګل وم، د مولانا عبدالقادر خطونه او نورې ډېرې وړې غټې سفرنامې، خصوصاً د حج سفرونه

د بېرو نورو كتابونو ليكلي دي، چې د اكرده د پښتو د عادي نثرونو په غنا کې ښېله برخه لري. د مرحوم احمدكاكا د وه ټوکه خدايي خدمتګار تحريک هم د عادي نثرونو په ګزار شي‌ژاتر کې ځای نيسي.

(۳) علمي نثرونه هم د پښتو نخوا په دې حوزه کې په دې پړاو کې پيدا شوي دي او انکشاف يې موندلی دی. علمي نثرونه په دې فرهنګي حوزه کې په ډېرو استقامتونو کې پر مختللي دي. يو د زېږ د علومو په ساحه کې او بل هم د نويو علومو په برخه کې. د نويو علومو په برخه کې د کيميا، بيولوژي، فزيک، جغرافيا او جيولوجي په برخو کې ځينې منتعظم آثار په دې پړاو کې د ليکل شول او نشر شول، لکه د علم دنيا د پروفيسور عبدالروف نوښهروي، ساينس او معاشره د پروفيسور عبدالرؤف نوښهروي، نامياتي کيميا د عبدالرؤف نوښهروي او ميا محمد يوسف کاکاخېل، د بوټو علم دوې برخې، جغرافيا متوسميات د ډاکټر محمد ساعد او محمود الحسن. همدارنګه د غونډو رو نو د جغرافيا په باب يو بل کتاب هم پښتو ليکلی دی چې پښتواکيډمۍ چاپ کړی دی. د مسلمانانو د جغرافيې علم او د سيلګرۍ شوق د ې لړکه يو بل کتاب دی. د معاصرو اجتماعي علومو په څانګو کې هم ځينې کتابونه د لته چاپ شوي دي، لکه ملنسيم او کرزما د سوات په پښتو کې، بنيادي معاشيات د غفران الله جاويد کاکاخېل. د غه راز قرآن او ساينس بل کتاب دی چې سباغلي ګوهر رحمان ګوهر ليکلی او لوس اوس چاپ شوی دی.

د اجتماعي علومو او فلسفې په باب د اروا ښاد سکندرخان خلیل دوه دری کتابونه او هم د افضل خان بنګښ اوده د ملکرو ځینې رسالې، همدا راز دیښتل عوامي پارټۍ ځینې خپرونې او د ملي مشر خان عبدالولي خان کتابونه: رښتیا رښتیا دي، او باچا خان او خدايي خدمتګار نهضت، د افضل خان لالا پښتونخوا او د ښاغلي لیکوال عبدالرحیم مجذوب د نورمظهرونه په دې ډول آثارو کې د شمېر وړ دي.

ښاغلي پرویش شاهین چې څلور پنځه کتابونه چاپ کړي دي په خپله برخه کې د یادونې وړ دی او د اجتماعي علومو په خپرونو کې حساب او خبرې باندې کېدای شي.

د اروا ښاد پروفیسور عبدالحی افغانستان او سرحد، د غني خټک حضرت باچا خان هم په دې لړ کې حسابېږي.

د ژبپوهنې په برخه کې د خیال بخاري کارونه، لکه د غنیمتونه او صرف ونحو د یادونې وړ کارونه دي، که څه هم د نورو ښاغلیو د صرف ونحو او پښتو قواعدو په باب ځینې آثار لیکلي دي خو صفه د ژبپوهنې د علم له اساساتو سره برابر نه دي، نو ځکه یې زه په دې ډول آثارو کې شاملول یادونه نه کوم.

د ادبپوهنې په برخه کې هم ځینې کارونه شوي دي. دا کارونه دا دبپوهنې د ځینو اصلي او فرعي څانګو په خصوص کې دي، لکه د اروا ښاد کامل مومند رحمان بابا، د پروفیسور داور خان داؤد رحمان بابا او پښتو ته په نومې کتابونه، دیوان د خواجه محمد سائل صد عبدالحمید مومند او د حمید مومند رومانیت

نومي کتابونه ، د پروفیسور فهم دل راهي عارف رحمان، د پروفیسور محمد نواز طائر روهي ادب ، تپه او ژوند، د پروفیسور افضل رضا درامه ، پټ ستوري ، د پښتو نثر تاریخ ، د پروفیسور اقبال نسیم خټک خوشحال او جمالیات، د رنګ او بو قافله او دردانې ، د ډاکټر راج ولي شاه خټک د پښتو ادبي تحریکونه ، پروفیسور محمد اعظم اعظم پښتو افسانه او پښتو ادب کې کردار نګاري ، د ښاغلي همیش خلیل پښتانه لیکوال، دیو تنقید بازگشت ټول پا رسنګ او دوه ټوکه ورګه خزانه، د ابوا ښاد عبد الحلیم اثر نثرهیر شاعران او د پښتو د لرغونې ادب په باب کښلي څو جلده ناچاپ کتابونه او پښتو ادب په نوم کتاب ، د ښاغلي قلندر مومند پته خزانه فی المیزان ، د ښاغلي شیر افضل بریکوټي د پښتو ادب تاریخ ، د اخونزاده فرمان مسافر د پښتو ادب ځلنده ستوري ، د ښاغلي اشرف غمګین د هشتنغر ادب ، دار و ابشاد عقاب خټک خوشحالیات ، د ښاغلي پروفیسور قاسم محمود ادبي ګلونه او ادبي ګلدسته ، د ښاغلي شیر شاه ترخوی ما څوک دی؟ ، د ښاغلي صابر همیشه ژوند ، د ښاغلی محمد جاوید خلیل پښتو ادبي ټولنې او جرګې او د ښاغلي صابر شاه صابر د دنیا ګانو محفلونه ، د ښاغلي رحیم شاه رحیم واوریني څوکې ، د بي بي مریم د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه ، د سحر یوسفزی ادب څه دی؟ ، د سید رسول رسا ادبي تنقید او ځینې نور کتابونه.

د هغه چوک دادبیو هڅې په یوه فرعي څانګه متن پوهنه کې هم ډېر نیات کارونه شوي دي او ځینې متون له مقدمو او شرحو سره چاپ ته برابر شوي دي او چاپ شوي دي . په دې برخه

کې ډېر کارونه پښتو اکیډیمه کړي دي او د پښتو ځینې نایاب متون یې چاپ کړي، مقدمې او تحشیې یې ورسره ملې کړې دي . د متونو د نشر په برخه کې د همدې اکاډیمۍ په اندازه کار په یوازې ځان سباغلي همیش خلیل کړی دی او د پښتو ډېر نایاب متون یې پښتو ته وړاندې کړي دي . د استاد کامل د تاریخ مرصع او د خوشحال کلیات د سکندر خان ختک دیوان چاپ ته برابرول او د رحمان بابا کلیات په تهیه کې برخه اخیستل د هیرولو وړ کارونه نه دي . دغه راز د سباغلي قلندر مومند د خیرالبیان تنقیدي مطالعه د قصه خوانۍ ګپ او دغه دغه، د مجدي صاحبزاده دیوان، د ابوالقاسم دیوان چې د نشر له پرخښتیا سره هم اړه لري .

له دغو سباغلیو سربېره ځینو نورو سباغلیو هم په دې برخه کې متفرق کارونه کړي دي .

دغه راز د ادبپوهنې په ځینو څانګو کې د آثارو ترجمې هم شوې دي، لکه د سباغلي قلندر مومند نظمیات اوتنقید، د مولوي محمد اسرائیل کتاب الشعر (د یونانیو د ارسطو مقدمه شعر وشاعري) او هم په نړیوال ادبي علومو کې ځینې آثار لیکل شوي دي، لکه روح الادب او د سباغلی مشتاق مجروح یوسفزی زدکاني .

په دې فرهنګي حوزه کې د ژبپوهنې او د ادبپوهنې د کارونو په باب څو یادونې هم لازمې دي:

الف : دې فرهنګي حوزې ته نوې ژبپوهنه د خپلو ټولو څانګو او خصوصیاتو سره تر اوسه نه ده راغلې . یوازې ارواښاد خیال بخاري د نوې ژبپوهنې په اساساتو بلد و چې ځینې متفرقې

مقالې په یوه رساله کې او یو کتاب یې کښلی دی، مګر هغه
خپل مسلک تر چندان کارونه نه دي کړي. زیاتره کارونه یې د
ادبپوهنې په یوې فرعي څانګې متن څېړنې پورې اړه لري.
څېړنو نور و ښاغلیو هم که ژبپوهنه لوستې وي، خو دلته یې په
دې ساحوکې کار نه دی کړی. اوکه یې لنډ ووایو ژبپوهنه
دلته په واقعي معنا له خپلو څانګو سره څرګنه پېژندل نه ده.

ب: د ادبپوهنې په باب معلومات هم له ژبپوهنې سره په یو
معیار کې واقع دي، دلته ادبپوهنه هم نه ده راغلې او دد ې
سیمې ادبپوهانو ته نه ده معلومه چې ادبپوهنه څه شی ده اوکوم
څانګې لري؟

که په ادبپوهنه کې دلته څه کارونه شوي دي د هند د
نیمې وچې د فرهنګي حوزو تر اغېز لاندې د تحقیق او تنقید
په دوو مقولو کې خلاصه کېږي او ددې دوو مقولو (تنقید او
تحقیق) پوازې ځینې تخنیکي خواوې ځینو ښاغلیو ته ښکاره دي
هغه هم پوره نه، بلکې ددې مقولو میتودونه دلته نه دي
تشریح شوي او د څېړنو او نقد ونو معمولې میتودونو لوړې
هغه چې په غرب کې مروجې دي، دلته نه دي معرفي شوي.

د څېړنو او کره کتنو موازین یې له پر مختللیو موازینو
سره یو شانوالی نه ښیي. زیاتره د لیمې وچې د معمولو معیارونو
تابع دي. په نقد کې د ادابو مراعات ته چندان توجه نه کېږي
او په تحقیق کې هم قاطع حکمونه پر څېړنو حاکمیت لري. د
مآخذو نقد، د تېر کار با دونې او کمبود یو د ښودلو رواج

نشته. د آثار و په نقد کې د وخت، زمان او مکان معیار و نه په پام کې نه نیول کېږي. د شعر ارزیابي او س هم د زړو علوم بدیع و بیان او معاني د معیارونو او نورمونو په اساس کېږي سره له دې چې اوس حتی زموږ په کاوندیو هېوادونو کې د شعر په ارزونه کې دې زړو معیارونو ته څوک چندان توجه نه کوي.

نه دې سربېره په څېړنو کې د ټولنې پښتو په نوم یوازې د سرحد فرهنګی حوزه، مطرح کېږي.

د لته باید دا خبره هېره نه شي چې زما دا لوړې خبرې مطلقې نه دي، استثنی ته په کې ځای شته، ما د لته د څېړنو عامه روحیه وښوده.

(۴) په دې پړاو کې د هنري عادی او د نورو علومو د علمي نثرونو ترڅنګه په دې فرهنګي حوزه کې د دیني علومو د بېلابېلو څانګو: تفسیر، حدیث، تجوید او قرآني علوم، فقه، صرف او نحو، د اسلام مبادي اصولو او فروعو په باب په کافي اندازه کتابونه په پښتو نثر لیکل شوي دي او ترجمه شوي دي، د غو کتابونو د پښتو نثر ذخیره بډایه کړې ده.

په دې لړ کې زاړه متون هم ترجمه شوي دي، لکه د عروضي سمرقندي چهارمقاله، د امام غزالي احیاء العلوم، همدارنګه حجة البالغه، له دې سربېره له صحاح سته وځینې کتابونه هم په پښتو ترجمه شوي دي. د دې لړکه په لیکوالو او مترجمانو کې د فقیر محمد عباس قادریه نوم

ترهرچا دمخه راځي . دا روا منار تسنيم الحق کاکاخيل نوم
دیادوی ورډی او ددې لړۍ نور ليکوال او مترجمان د
پښتونخوا ددې برخې د ديني عالمانو دي چې دخپلو تدريسي
مصروفياتو په ترڅ کې يې پښتو آثار هم ليکلي او ترجمه کړي
دي . د ديني علومو د دې آثارو له لارې چې کوم پښتو
نثرونه موجود شوي دي په هغوکې ځيني روان او خواږه
نثرونه دي ، مګر ځيني داسې نثرونه هم په کې شته چې رواني
او سلاست نه لري ، جمله بندي يې دعربي تراغيز لاندې ده
او د پښتو ژبې له عمومي جوړښت سره د پورنزد يوالی نه لري.
په دې برخه کې د هنري، عادي د عصري علومو د نثرونو
ترڅنګه په پښتو ژبه د ديني علومو ترجمې او تاليفونه ځيني
مهمې ښکې مونږ ته په لاس راکوي ، لکه:
(۱) په دې حوزه کې مدرسه څورا فعاله ايسي او د مدرسې
فعالين خپلې ژبې ته هم متوجه دي او خپلو خلکو ترددوی
په ژبه آثار ليکي او يا يې ژباړي .
(۲) دا آثار دکميت په لحاظ هم لږ نه دي او شمېر يې
سلګونو عنوانونو کتابونو ته رسي چې دنورو ليکوالو له خوا
د ليکل شويو او ترجمه شويو هنري ، عادي او د عصري
علومو له علمي نثرونو سره برابري کولای شي او حتی تري
زيات ايسي . د اکتابونه دکتابونو د تاجرانو له خوا
چاپېږي او د پښتنو په ټولو فرهنګي حوزو کې
نيستېږي .

## ب- بلوچستان :

کله چې انګریزانو د پښتونخوا سیمې ... سره بېلې کړې ، نو یې د دې سیمو جنوبي برخې له برېتش بلوچستان سره یو ځای کړې ، چې له هغه وخته تر اوسه د پښتونخوا جنوبي برخې له بلوچستان سره شاملې دي او په رسمي حساب سهیلي پښتونخوا له بلوچستان سره تړلې یادېږي . ما هم دې رسمیاتو ته په پاملرنه د پښتنو دغه فرهنګي حوزه د بلوچستان په نامه یاده کړه .

د پښتنو دغه فرهنګي حوزه د خپل اقتصادي اجتماعي رشد سره متناسبه په فرهنګي رشد کې هم له هغې بلې حوزې (سرحد) نه وروسته پاتې ده ، اما د معاصرې دورې ادبي وده یې د سرحد په څېر په دوو پړاوونو کې مطالعه کېدای شي ، چې داهم له آزادۍ نه وروسته پړاو او له آزادۍ نه د مخکې پړاو .

## له آزادۍ نه د مخکې پړاو :

که څه هم د پښتنو په دغه فرهنګي حوزه کې لومړنۍ مطبعه د ۱۸۸۸ع کال په شاوخوا کې جوړه شوې ده او بیا له هغه وخته د هند د نیمې وچې تر وېش او آزادۍ پورې لس نورې مطبعې په دې سیمه پسې تېره په کوټه کې جوړې شوې (۳۸) ، خو لومړنۍ اخبار چې په دې سیمه کې جاري شو هغه استقلال نومېده .

د چاپ کال یې ۱۹۳۸ع ښودل شوی دی په اوو ورځو کې

يوځل چاپ کېده . دا اخبار دانجمن وطن دارکان په حيث په پښتو او اردو ژبو خپرېده ، دا اخبار د پښتنو ملي مشر خان عبدالصمد خان اڅکزي را ايستلی و . دا اخبار تر۱۹۴۷ع کال پورې چاپ شو . د پروفيسور سيال کاکړ د وينا له مخې :
دا استقلال اخبار د پرنګيانو د پاره د يوې چپلاخې حيثيت درلود . همدغه اخبار د پښتنو د ملي ارزو ګانو ښکارندوی او د اولسي غوښتنو ترجمان و . دې اخبار به ښه په زړه پورې خبرونه درلودل ، اداريه يې انقلابي ، مضامين يې خوندور ، بلکې ټولو مطالبو يې د خلکو په ځلا ند سباوون پورې اړه درلوده.»
(پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې ۱۲۸مخ)
بايد وو ايو چې په دې سيمه کې تروېش د مخه استقلال يومي اخبار سربېره په ۱۹٤٦ع کال د خورشيد په نامه اووه ورځنی اخبار هم شروع شو . دا اخبار هم پښتو-اردو و ، او په پښتو برخه کې يې نظم او نثر دواړو ته ځای ورکړی و . پروفيسور سيال کاکړ ويلي دي چې په پښتو برخو کې يې ما د حافظ خان محمد خان کاکړ نظمونه او د مولوي محمد غوث کاکړ مضمونونه ليدلي دي . (پښتو او پښتانه په ..... ، ۱۳۲مخ)
د استقلال اخبار د جاري کېدو کلونو نه لږ څه د مخه او يا هم په دې وخت کې د پښتنو په دې فرهنګي حلقه کې يو نوی فکري حرکت پيل شوی و . ځکه د ۱۹۳۳ع کال شاوخوا د ملا عبدالسلام آشيزي سوسن چمن او په ۱۹۳۴ع کال د عبدالرحمان کاکړ د پښتانه خويونه او په ۱۹٤۰ع کال د

محمدخان کاکړ کتاب الیقین چاپ شوي وو. سوسن چمن او کتاب الیقین د انګریز ضد روحیه درلوده او ځینې ملي مسایل پکې بیان شوي وو، او دغو نویو فکري حرکتونو د دې سیمې ادبیاتو ته یو نوی رنګ ورکړ او موږ د شلمې پیړۍ دریمه لسیزه په دې سیمه کې د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې پیل بولو چې لومړنی پړاو یې د ۱۹۴۷ع کال تر اګست پورې دوام کوي.

هغه لیکوال چې دغه وخت یې تبارزوکړ تر ټولو مشرې ارواښاد عبدالرحمان کاکړ (۱۹۰۰ - ۱۹۶۵ع) و. د ده په پښتو نثر یو کتور کتاب کښلی دی، چې د پښتانه خویونه نومېږي او په دې کتاب کې یې ځینې اصلاحي خبرې او طبي خبرې بیان کړې دي، تعلیم ته یې خلک هڅولي دي او د ولور په بد کړو یې خبرې کړې دی. طبي نسخې یې پکې راوړې دي د حفظ الصحی خبرې، ورزش، خوراک او نورې یې پکې بیان کړې دي. دا کتاب ۹٤ مخه په ۱۹۳۴ع کال په لاهور کې چاپ دی. کوم بیانونه چې په دې کتاب کې راغلي دي ځینې خبرې یې په سیمه کې د هغه وخت شرایطو ته په پاملرنه نوې دي، لکه: د حفظ الصحې خبرې کول، د تعلیم خواته د خلکو هڅول، د ولور نفي کول او داسې نورې خبرې. د اکتاب دعادي او علمي نثر ښې نمونې لري، سبک یې روان او خوږ دی لکه دا جملې: « ولور اخسته او د ولور حرڅول ډېر ناروا دي او د انسان د غوښو تر خوراکه کمه ګناه نه لري... »

پروفیسور ولي محمدخان سیال کاکړ د ده په باب کښلي دي:

« حکیم عبد الرحمن کاکړ یو مبتکر لیکوال و ، چې لومړی وار یې په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو نثر پیل کړی . او څنګه یې موږ د خپلې سیمې په نثري تاریخ کې د مؤسس په صفت پېژنو (۳۹)

د ګران پروفیسور خبرې قاطع دي او سړی داسې فکر کوي چې تر ده د مخه په دې سیمه کې هیڅ نثر نه دی لیکل شوی ، بلکه دا خبره ښکاره ده چې تر عبد الرحمن کاکړ د مخه هم په دې فرهنګي حوزه کې نثرونه لیکل شوي دي ، خو که دا یې ویلي وای چې د بلوچستان په پښتو کې یا د سهیلي پښتونخوا په پښتو کې د معاصر نثر مؤسس عبد الرحمن کاکړ دی ، نو دا به پرځای خبره وه .

په هر صورت سملاسي عبد الرحمن کاکړ په دغه فرهنګي حوزه کې د پښتو د معاصر د مؤسس په حیث پېژنو او تر ده وروسته چې په دې پړاو کې چا نثرونه کښلي دي په هغو کې د ملا محمد غوث کاکړ ، خان شهید عبد الصمد خان اڅکزی ، مولوی عبد الخالق تارن نوم مخې ته راځي ، خو دا وخت دوی په استقلال او خورشید نومو اخبارونو کې پښتو نثرونه کښل ، اما د نثر لیکونکیو په توګه د خان شهید ، عبد الخالق تارن او نورو د تبارز زمانه وروسته پړاو دی چې د نیمې وچې له ویش او آزادۍ نه وروسته پیل کېږي .

دا پړاو په دې فرهنګي حوزه کې د معاصر نثر د پیل پړاو دی چې متبارز شخص یې هماغه عبد الرحمن کاکړ دی ، چې کتاب یې د همدې پړاو په کلونو کې چاپ دی او بل هم ملا محمد غوث کاکړ دی چې د پروفیسور سیال

کاکړ په قول يې مضامين په خورشيد نومي اخبار کې چاپ دي او په وروستي پړاو کې د دې سړي په باب له ماسره څه نشته، نوځکه زه دی هم په همدې پړاو پورې مربوط گڼم او پاته شو نور يا د شوي ليکوال په دوهم راوروسته پړاو کې مطالعه کوم، ځکه چې آثار يې له دې پړاو سره اړه لري. د لومړي پړاو نثرونه زيات تره عادي نثرونه دي او د عبدالرحمن کاکړ په کتاب کې د علمي نثر ځينې بولگې هم شته. د دې پړاو د نثرونو روحيه اصلاحي، انتقادي او د انگريزانو ضد ملي بڼه لري.

د بلوچستان د پښتنو په فرهنگي حوزه کې د معاصرې دورې د لومړي پړاو په نثر نگارانو کې د ملا عبدالشکور اخونزاده نوم هم د هېرېدو نه دی. د ده يو کتاب قامع البدع والشرور في زيارت القبور په ۱۳۵۶ هق/ ۱۹۳۷ع کال چاپ شوی دی او د ا وخت په دې سيمه کې د معاصرې دورې له لومړي پړاو سره مصادف دی، نوځکه موږ ملا عبدالشکور اخوند هم د دې پړاو په نثر ليکونکيو او مترجمينو کې شمېرو. د ده نثر هيڅ ډول ابتکاري خوا نه لري او د پښتنو په ديني حلقو کې د رواج شوي گران او د پښتو له چوکاټه لېرې نثر ادامه ده، لکه دا جمله: «ماوليده د هر کسان له مخلوقه څخه چې دوی گرزولی دی په دې زمانه کې بعضې قبرونه او بعضې ځايونه د پيرانو ...»

(پښتانه ليکوال ۳۲۳/۲)

# له آزادۍ نه وروسته پړاو:

دا پړاو د ۱۹۴۷ع کال

له اګسته پیل کېږي او ورسره څیني داسي عوامل هم مینځ ته راځي چي د پښتو په وده کي په عام ډول او د پښتو نثر په وده کي په خاص ډول د یادوني او منني وړ دي. په دې پړاو کي موجود عوامل چي د دې فرهنګي حوزې پر نثر لیکنه او خپرېدنه موثریت لري دا دي:

(۱) آزاد مطابع په دې سیمه کي زیات شول، چي په خپل وار سره یې د آثارو د نشر په برخه کي د دې فرهنګي حوزې لیکوالو ته سهولتونه وړاندې کړل. د پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ د خبرلي مطابق له ۱۹۴۷ع کال نه تر ۱۹۸۰ع کال پوري یوڅو مطابع په دې فرهنګي حوزه کي فعال شول چي شاید په وروستیو پنځلسو کلونو کي یې نور هم انکشاف کړی وي.

(۲) د پښتو د دې فرهنګي حوزې په ډېرو سیمو کي مکتبونه او کالجونه جوړ شول، که څه هم د دې تعلیمي مراکزو ژبه پښتو نه وه خو بیا ۱۹۵۰ع کال کي بناغلي دین محمد افغاني له اول ټولګي نه ترڅلورم ټولګي پوري نصابي کتابونه وکښل، خو متاسفانه چي ځای یې ونه نیو.

(۳) په دې پړاو کي د فرهنګي ټولنو د جوړولو او ورسره د نشراتي مؤسسو د جوړولو کارونه پیل شول. د دغسې فرهنګي ټولنو د جوړولو کار یوازې په کویټې پوري منحصر پاتې نه شو بلکي د دې فرهنګي حوزې نورو سیمو ته یې هم لاره پیدا کړه، په چمن، پښین، بوري او ژوب کي هم دغه ډول فعالیتونه

پیل شول ، چې د غو تولو حرکتونو د پښتو . نثر پر وده خپل

اغیز درلود.

د ا ټولنې او جرګې یا نشراتي ځانګې زیا تره شخصي وې او

د جوړونکیو په خپلو هڅو چلېدې، لکه: پښتو ټولنه ، پښتو ادبي

ټولنه ، جعفر پبلشنګ هاوس ، پښتو لټریچر سوسایټي ،

پښتو ادبي شول ، پښتو ادبي دنیا ، پښتو سنتر ، قلات پبلشرز ،

سلیم بکډیپو ، بولان کاربوریشن د پښتو دودی ټولنه او نوری

د عنسی ځانګې چې ځینې یې اوس نشته او پر ځای یې نوري نوې

ټولنې په کوټه ، لورلایی ، پښین او نورو ځایونو کې جوړې شوي

دي . سګام ادبي اکاډمي ... ټولنه ده چې په وروستیو

کلونو کې یې په کار پیل کړی دی.

د دغو شخصي ټولنو ، انفرادي او دسته جمعي حرکتونو

ترڅنګه ځینې داسې حرکتونه هم وشول چې حکومتي حمایت یې

ملګرې و او د غو حرکتونو د پښتو له ودې سره مرسته وکړه

لکه :

الف : په ۱۹۵۶ع کال په کوټه کې راډیويي خبرونې پیل شوې

دغو خبرونو کې پښتو هم وه او په خپل وارې د پښتو له پرمختیا

سره مرسته وکړه چې د پښتو په دغه فرهنګي حوزه کې د هنري نثر

پیدا ښت له راډیو سره ډېر نږدې تړون لري. په کوټه کې د راډیو

خبرونو د پیل په باب یوه یا د ونه ضروري ګڼم او هغه دا چې

پروفیسور افضل رضا په خپل اثر ډرامه ۲۸ مخ کې دغه کال ۱۹۵۵ع

ښوولی ، حال دا چې ښاغلیو پروفیسور سیال کاکړ ، عبد الکریم

بریالی او حبیب الله رفیع د دیوا ړو دا کال ۱۹۵۶ع بنوولی دی.

ب : ښاغلي پروفیسور سیال کاکړ په خپل اثر پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې (۹۶مخ) ویلي دي چې په ۱۹۶۱ع کال په کوټه کې د ټرایبل پبلسټي آرګنایزیشن په نامه یوه اداره په دې حوزه کې جوړه شوه چې یو خو یې د اولس په نامه د میاشتنۍ مجلې خپرول شروع کړل او له بلې خوا یې ځیني پښتو کتابونه هم چاپ کړل.

ج : په ۱۹۷۰ع کال د کوېټې پښتو اکیډیمي جوړه شوه (فرهنګ ادبیات پښتو ۵۴/۳) سره له دې چې ټول مصارف یې دولت نه ورکوي، خو یه هفه مرسته چې ورسره کېږي تر اوسه یې د یا دونې وړ کتابونه چاپ کړي دي.

د پروفیسور سیال کاکړ وینا ده چې له دغې یا دې ښوې اداري سربېره محکمه اطلاعات او محکمه صحت سرکاري اداروهم ځیني پښتو خپروني کړې دي. محکمه اطلاعات د خپرونه په نامه یوه مجله هم خپره کړې ده.

د : په ۱۹۷٤ع کال په کوټه کې تلویزیوني خپروني هم پیل شوې چې دی کار هم په خپل نوبت سره د پښتو په وده کې پدل لرلی دی.

هـ : په ۱۹۷٤ع کال د بلوچستان په پوهنتون کې پښتو ته هم ځای ورکړل شو او په دې وسیله د پښتو دا فرهنګي حوزه د دې جوګه شوه چې ځوانان په خپله ژبه کې هم عالي تحصیل وکړي.

(۴) له سرکاري موقوتو خپرونو سربېره په دې حوزه کې

له آزادۍ وروسته ځینې ځانګړې موقوته خپرونې هم پیل شوې لکه په ۱۹۵۳ع کال پښتو مجله ، په ۱۹۵۷ع کال ګلستان مجله ، په ۱۹۵۹ع کال ظفر الاسلام مجله او په همدې ۱۹۵۹ع کال د هیواد جریده له کویټې خپاره شول . له هیواده بهرته چې تراوسه چاپیږي ، نورې ګرده خپرونې دلنډ مهال له پاره نشر شوې او بیا بندې شوې ، اما د پښتو نثر په وده او د لیکوالو په روزنه کې یې ونډه دیاد وړ او ستاینې وړ ده . دغو مجلو د دې فرهنګي حوزې د فرهنګ په وده کې یو جهش راوست .

له دغو پښتو خپرونو سربېره پروفیسور سیال کاکړ په خپلو آثارو دکسي دلمنې پښتو ژورنالیزم او پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې ځینې نورې خپرونې هم ښوولې دي چې په همدې پړاو کې یې په خپرونو پیل کړی دی او دنورو ژبو ترڅنګه یې پښتو برخه هم درلودې ده ، لکه : میزان ، بولان ، د جمهوریت زنغ ، نوای وطن ، کارکن ، ژوب ، سبیل الرشاد ، زرک سنګ ، برېښنا ، زرغون ، الریحان ، سیوی ، اعتماد او هم لوګ . د دغو ګډوله خپرونو پدل هم د پښتو نثر په وده کې د هېرولو نه دی .

(۵) په اوسنیو شرایطو کې سره له دې چې د اولس سرکاري مجله (چې د دولت په پیسو چاپیږي) د ورو ستیو کلونو راپدې خوا نه چاپیږي ، مګر د دې سیمې خوا خوږی بیا هم د پښتو د پاللو او د لیکوالو د روزلو په خاطر مجلې خپروي لکه ګهیځ چې د پښتو سنتر نه خپره شوه او څه موده وچلېده

سکام چې د سکام ادبي اکاډمي له خوا چاپېږي. او س سملاسي
په دې فرهنګي حوزه کې یوازې دوې پښتو مجلې چاپېږي
چې یوه یې تماس نومېږي او د لورلایي ځیني خواخوږي
فرهنګیان یې په ډېر محنت چاپوي او بله هم د لیک مجله ده
چې د سکام ادبي اکاډمۍ له خوا چاپېږي . هفته یې پښتو
هېواد لاهماغسې جارې دی او سبا یې په ځینو نورو اردو
اخبارونو کې هم پښتو پاڼه وي . دژوند پښتو پاڼه هم دغلته ده
دالوړ یادشوي او ځیني نورو لویو وړو عواملو
په دې پړاو کې د پښتو نثر له ودې سره مرسته وکړه او
ځیني لیکوال یې وروزل. ددې پړاو فرهنګي کار زیاتره
دهغو لیکوالو دکار مرهون هم دی چې په لومړي پړاو کې
یې نوموته په مطبوعاتو کې مطرح شوي وو. هغه لیکوال چې
په دې پړاو کې یا په عام ډول په معاصره ادبي دوره کې یې
د پښتونخوا دجنوبي سیمې د پښتو نثر د ایجاد او ودې په
مساله کې برخه اخیستې د الاندې کسان دي:
دلیکوالو تریادونې مخ باید د اخبره وکړم چې ښاغلي کلیم الله صدام په خپل
اثر سهیلي پښتانه نثر لیکونکي کې د دې سیمې د پښتو ۱۳ تنه
نثر لیکونکي راښوولي دي ، ښایي دوی داکسان د نثر لیکونکیو
داستانیو په توګه معرفي کړي وي ، اما که مونږ د پروفیسور
سیال کاکړ دوه توکه دکسي د لمنې پښتانه لیکوال او د ښاغلي
عبد الکریم بریالي د بلوچستان د پښتو ادب زرکلیزه جاج
وګورو د ډېر نور داسې نوموته مومو چې په پښتو یې نثرونه

کښلي دي . د دې سیمې نثرلیکوونکي دا دي :

اروا ښاد خان عبدالصمد خان اڅکزی ، اروا ښاد خان محمد ایوب خان اڅکزی ( ۱۹۰۲ - ۱۹۷٦ع ) اروا ښاد حافظ خان محمد ( ۱۹۱٤ - ۱۹۵۸ع ) ، اروا ښاد سلطان محمد پانی ( ۱۹۳۰ - ۱۹۷۲ع ) مولوي رحمت الله مندوخیل ، ملاعبدالرحیم اخونزاده ، مولوي عبدالخالق تارن ، محمد جعفرخان اڅکزی ، سلطان محمد صابر ، فضل احمد غازي ، عبدالرحیم مندوخیل ، پروفیسور صاحبزاده حمیدالله ، پروفیسور ولي محمد سیال کاکړ ، ابوالخیر ځلاند ، فاروق شاه سمایلزی ، عبدالقدوس درانی ، دین محمد افغاني ، ربنواز مایل ، سعید احمد ګوهر ، محمد ګل شاه خوستي ، میرزاخان پیخی ، خیرمحمد عارف ، ضیاء الدین لاجوري ، حکیم عبدالخالق عزیزالله غمزده ، عبدالله جان رنځور ، کلیم الله صدام ، محمد اکبرخان اڅکزی ، محمد نذیر دراني ، ماسم خان اڅکزی ، عمرګل عسکر ، کمال الدین شیراني ، ظفرالله خان ، عابد شاه عابد ، عبدالطیف شاداني ، محمد یوسف ګل ، محمد نذیر خیال ، غلام سرور سوداېي ، ګل محمد خان کاکړ ، مقدس خان معصوم ، محمد افضل شوق ، حبیب الرحمن پانیزي .

د اوو هغه لیکوال چې ما د ښاغلي پروفیسور سیال کاکړ له فهرسته ( پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې ) او د ښاغلي صدام له سهیلي پښتانه نثر لیکوونکي نه واخیستل . مګر په دې سیمه کې نور نثر لیکوونکي هم شته چې دلته باید یاد شي ، لکه : در محمد کاسي ، درویش دراني ، عبدالکریم بریالی ، محمود

ایاز، عارف تبسم، علی کمیل قزلباش، خلیل باور، سهیل-
جعفر، عبد الرؤف خان رفیقي، دوکتور معصوم کاسي، عصمت الله
زهیر، عبد الصمد درانی، دوکتور خدایداد، عبد النبي، نسیم
اڅکزی (ډرامه، ۱۲۸ مخ) آغا محمد کاسي، عبد الباری اسیر،
محمد حسن انور اڅکزی، سلطان محمد درانی، غلام محمد داوی،
عبد الغني شاکر (۱۹۴۱-۱۹۷۰ع) ملک محمد عثمان خاورین،
محمد یوسف منصور، سید نور الله شاه آغا، وزیر محمد سوالی،
دوکتور نور الحق خان کاکړ (۱۹۱۷-۱۹۶۲ع)، فاروق سرور،
خوشحال کاکړ، شوکت ترین او نور لیکوال.

دغه راز دکو ټې په پښتو مجله کې د ځینو لیکوالـو
مقالې دي چې یو یې بلوڅ ادیب، میر عبد الله جمالدیني،
دی او بل عصمت الله اڅکزی او نور (پښتو خپرونې ۱۴۸ مخ)

همدارنګه شاغلي عبد الکریم بریالی هم څو لیکوال داسي
راښودلي دي چې په نورو منابعو کې مانه کړل پیدا. هغه
لیکوال دا دي:

محمد زمان اڅکزی، عزیزجان، حاجي عبد الرحیم، محمد علي
بازي، عبد المنان زهیر، عبد الرحمن غور، نصر الله خان، محمد
حیات لونی، عزت الله نیازی، ظفر مرزا، امیر محمد یانیزی،
غلام حسین، عبد الرشید عارف، عبد القدوس مندوخیل، یار محمد
کاکړ، نظیر احمد رند، دوکتور جمیل الرحمن، نذر محمد اڅکزی
عبد الخالق کاسي، سجاد، الفت کاکړ، امیر عثمان، عبد العزیز
عاکف، قاری عبد الرحمن نورزی او داسې نور.... (۴۰)

په دې سیمې کې له دغو لیکوالو سربېره ښاغلي بریالــي ځیني ښځمنې نثرلیکوونکې هم یادې کړې دي چې نومونه یې دا دي :

ولي عهد بېګم دخان شهیدلور، عالیه اسما دعبدالعلي اخونزاده لور، خیرالنساء شینواري، کرم النساء، سلمیٰ ګل، سکینه ګل، میرصفیه میرجمال، پاروکه، یاسمین لوېنې، او پروین لوېنې دغې سیمې پښتنې لیکوالې دي، چې ځینې یې شعرونه هم وایي (لیکنځۍ - ۱۴۲- ۱۴۳مخونه)

لوړو یا دو شویو او ځینو نورو لیکوالو د پښتنو په دغه فرهنګي حوزه کې د پښتو نثر دپرمختیایي بهیر په وده کې برخه ورلوده او دا جریان یې پرمخ بوته .

د دې پېرپه نثر لیکوونکیو کې د اروا ښاد خان عبدالصمدخان اڅکزي، اروا ښاد خان محمد ایوب خان اڅکزي، جعفرخان اڅکزي، صاحبزاده حمیدالله، پروفیسور سیال کاکړ د لیکنې سبکونه خپلې خاصې ځانګړنې لري او موږ یې په دې سیمه کې د منفردو سبکونو په حیث یادولی شو. اما ښاغلی پروفیسور سیال کاکړ عبدالرحیم اخونزاده هم د یو ځانته سبک خاوند بللی دی او دایې ویلي دي چې له ورځنیو محاورو سره برابره روانه پښتو لیکي . (۴۱)

د نورو ښاغلیو لیکوالو سبکونه هم د یادونې وړ دي . دهرچا سبک خپل خپل خصوصیات لري، خو داسې انفرادیت یکې زما نه ترسترګو کېږي . ځینې د دې سیمې او ځینې هم د پښتو نثر د نورو لیکوالو اغېزمنې او ځینې داسې کسان هم یکې شته چې

خپل انفرادي سبک جوړ او په لاره کې هلې ځلې کوي.

په دې نثر لیکونکیو کې ځینې داسې کسان هم شته چې د پښتنو په دینې مدرسو کې د مروج پښتو نثر لیکنې د سبک پیروان دي، لکه مولوي رحمت‌الله منده‌خېل چې سباغلي صدا م یې د نثر د خصوصیاتو په باب له کښلي دي: «د ده پښتو نثر نیم عربي دی... پښتو نیم نثر یې د عربۍ ټکوړک دی...»(۴۲)

په عام ډول ددې سیمې د پښتنو لیک د نورو پښتني فرهنګي حوزو په تناسب سپېڅلی، خوږ او عامه محاورې ته ترږدې دی، په زیاته د مشرانو لیکوالو په آثارو کې دا خصوصیات ډېر لیدل کېږي؛ اما د ځوان نسل پر لیکنو د اردو او انګریزي اغېز شوی دی، خو بیا هم د سرحد د فرهنګي حوزې د لیکوالو په پرتله دا اثر منل لږ دي.

په دې لیکوالو کې چې ما یاد کړل داسې کسان چې نظم ونثر په مساوي حد کې لیکي ډېر دي، خو داسې کسان چې اصلاً د شاعرانو په حیث ډېر پېژندل شوي دي. نه د نثر نګارانو هم پکې شته، لکه: سباغلی درویش دراني، عبدالباري اسیر، مګر دوی دواړه نثر هم لیکي او سبه یې لیکي، نوځکه ما نه یې راوړل، که نه وی د بلوچستان د سیمو په پښتنې خبرنوکې دوی یوازې د شاعرانو په توګه یاد شوي دي. له دې دوو دلو سربېره یوه دریمه ډله هم پکې شته چې هغوی نظم نه لیکي یوازې نثر یې لیکلی دی، لکه ارواښاد خان شهید، ارواښاد محمد ایوب خان اڅکزی، جعفرخان اڅکزی، عبدالرحیم منده‌خېل

او ځيني نور....

په دغو ليکوالو کې ځيني دومره پياوړي کسان هم پيدا شوي دي چې له ډېرو ناوړو شرايطو او د ژوند له مصروفيا ستو سره سره يې پر ليکه سر خيلي ژبې ته دومره منثور آثار بريښي دي چې د هغې سيمې اکاډيمه لا دومره کار نه دی کړی. په دغو کسانو کې ما ته د خان شهيد خان عبدالصمد خان اڅکزي نوم تر ټولو د مخه مخې ته راځي. ده د خپلو ملي او وطني کارونو، بندونو او زندانونو په ترڅ کې د تاليف او ترجمې له لارې بلا کتابونه خپلو خلکو ته ډالۍ کړي دي.

مولوی رحمت الله مندوخېل هم له دې کتاره سړی نشي ايستلای، پروفيسور صاحبزاده حميد الله، پروفيسور سيال کاکړ او جعفرخان اڅکزی د دې لړې د دې نورې ځلانده ځېرې دي، چې آثار ويې د پښتو ذخيره درنه کړې او هريو يې په لسگونو کتابونه فرهنگ ته وړاندې کړي دي.

د دغو ښاغليو نثر ليکونکيو چې په دې فرهنگي حوزه کې پښتو نثر ته خه ورکړي دي، د هغو جاج مونږ په لاندې ډول اخيستلای شو:

(۱) په معاصره دوره کې د دغو پښتو نثر ليکنې اول د عادي نثرونو په بېلا بېلو ژانرونو کې انکشاف کړی دی او دا ډول نثرونه يې په ژورنالستيکو ژانرونو، سفري گزارشونو، سفرنامو عادي مقالو، ځان پېښنو، ليکنو او د دې نه ورته نورو موضوعاتو کې ليکلي دي. زما په پوهه په دې فرهنگي حوزه کې عادي نثرونه تر

نورو پښتو زیات لیکل شوي دي. دخان شهید زماڅوند او د جعفرخان اڅکزي ځیني رسایل ددغو نثرونو سبې بولکې موږ ته را معرفي کوي.

(۳) دهنري نثر په دې فرهنګي حوزه کې د پښې وروسته دپېدایښت زمینې پیدا کړي دي. په عام ډول دروانې میلا دي پېړۍ دپنځوسمو کلونو په جریان کې د لته دهنري نثر لیکلو ته زمینې پیدا شوې. ښاغلی عبدالکریم بریالی ددې سیمې دا ډول بېړته والي ته داسې اشاره کړې ده: « د جدید نثر نګارۍ له پلوه زموږ سیمه بېخي پاته معلومېږي. په افسانه، ناول ډرامه باندې یې توجه بېخي نشته.» (لیکنځی، ۱۳۷مخ)

ویل کېږي چې په دې سیمه کې لومړنۍ لنډه کیسه عبدالخالق تارن لیکلې ده چې نوم یې ود میني تور، او بیله هم د محمد علی بازئي ده چې ولورمات سو نومېدله. وایي چې دادواړې افسانې په اوس کې چاپ دي او د ښاغلي فاروق شاه سمایلزی دځینو افسانو یادونه هم کېږي. ددې سیمې په نورو افسانه لیکونکیو کې درمحمد کاسی. نذرمحمد، پانیزی، سهیل جعفر، فاروق سرور او مرزا خان پیشنګ نومونه دیادولو وړدي. ښاغلي بریالي د پانیزي، سرور او کاسي افسانې سمبولیکې بللي دي. د ښاغلي فاروق سرور افسانو دوې مجموعې: دریه او تنده دپښتو په معاصره لنډه کیسه کې له ډېرو سره لنډو کیسو څخه شمېرل کېږي. فني خصوصیات، ادانه او ژبه یې دستاینې وړ دي. درمحمد کاسي دوې مجموعې خدای یو مالګې تروې او درشل هم ښېل ځانګړي خصوصیات لري او ددې فرهنګي حوزې

په لنډه، کیسه لیکنه کې ورته لږ بها نشو ورکولای . د مرزا خان پیغلې مجموعه دغوه لمن هم ددې سیمې په داستاني ادب کې د بحث موارد لري.

ماته ددې سیمې له لیکوالو د لنډو کیسو له ډې ښځو مجموعو پرته بله مجموعه نه ده معلومه، البته متفرقې کیسې لکه چې یې یادونه وشوه د دې سیمې ځینو لیکوالو لیکلي دي، چې د لومړنیو هڅو یې فني خوا څه ضعفونه لري، حکایې اړخ یې ترهغې خوا وو درښنت لري.

له افسانو چې ورتېرشو په دې سیمه کې ما د چا ناول (رومان) نه دی لیدلی. ښاغلي بریالي په ۱۹۸۴ ع کال کې ویلي دي چې محمد عثمان خاورین اوس او س یو سماجي ناول لیکلی دی. غلام محمد داوي هم یو ناول لیکلی دی، کمال شیراني له انګرېزي دوه ناولونه پښتو کړي دي او دوکتور خدایداد هم دا کار کړی دی او دوه ناوله یا د بریالي صاحب په اصطلاح کتابه یې په پښتو اړولي دي.
ښاغلي بریالي د دغو ناولونو نومونه هم نه دي ښوولي او تراوسه چاپ شوي هم نه دي.

هنري نثروند دلته په راډیویي ډراموکې هم ایجاد شوی دی او کله چې بیا د تلویزیون مرکز فعال شو او د پښتو ډرامو ورته لاړ بېنده اکړه، نو بیا په دې سیمه کې د اثارو لوړ هم پرمخ ولاړ. هغو ښاغلیو چې په دې برخه کې قلم چلولی دی دا دي:
فاروق شاه سمایلزی، دوکتور خدایداد، یوسف ګل وردک، عبدالقدوس درانی، سرور سودایي، سعید ګوهر، عابد شاه عابد،

نسیم اڅکزی ، د رمحمد کاسي ، لطیف شادانی ، سهیل جعفر

عبدالکریم بریالی ، ډاکټر جمیل ، خیرالنساء شینواری، سلمی ګل

اونورو له دې لارې د پښتو هنري نثر ډ حیره بډایه کړه .

په طنز لیکونکیو کې د اروا ښاد خان محمد ایوب خان اڅکزي

نوم د دې سیمې په لیکوالو کې ترهرڅه د مخه مخې ته راځي ، دده

اجتماعي سیاسي طنزونه په داسې ډ به لیکل شوي دي چې هم

یې د لیک طرز منفرد دی اوهم یې موضوعي اوفکري اړخ د

بحث لپاره خبرې او مواد لري . د ده د زوی جعفرخان اڅکزي

ځیني آثار، لکه : ته وابنه ، چپلا ځي (څلور ټوکه) د زړه حروښ

شخوند اومشاهدات اد بېوهانو د طنز ونو په نمونو کې شمېرلي

دی (۴۳) چې په دې حساب داروا ښاد محمد ایوب خان اڅکزي او

جعفرخان اڅکزي د دې آثارو نثرونه هم موږ د دې سیمې د

هنري نثرونو د پرمختیا یې سیر په مطالعه کې نشو هېرولای .

په دې ټوګه هنري نثر په دې سیمه کې خپلې وزرې

پرانیستې دي او د خپل توان په چوکاټ کې یې په الوتلو پیل

کړی دی .

(۳) علمي نثرونه هم په دې سیمه کې د ترجمو اوتالیف له لارې

په نسبي ابتدایي بڼه خپل یون پیل کړی دی . په دې سیمه کې

د طبیعي علوموپه برخو کې لیکل شوي معاصر نثرونه ما ته معلوم نه دي،

خو د اجتماعي علومو او ادبیوهنې په برخه کې ځیني منثور آثار

د دې سیمې لیکوالو لیکلي دي چې له هغې جملې څخه د خان شهید

ترجمه کړی دآزادی یای ، د ښاغلي عبدالرحیم مندوخیل تولواکي

د ښاغلي ماسم خان اڅکزي د زړو اقتصاد ، د سلطان محمد پاني کوټه ، د محمد حسن انور اڅکزي د آسیا ، په زړه کې د وینو طوفان د صاحبزاده حمید الله شېرشاه سوري ، د عبد القدوس دراني زموږ ژواک ، د پروفیسور سیال کاکړ پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې لوی لوټک ، محمد اراز د کوټې پښتو اکاډیمۍ خپور کړی د سید جمال الدین افغان د تاریخ الافغان پښتو ترجمه او د پښتونخوا اموامي پارټۍ له خوا ځینې رسایل او مستقل آثار په دې لړکې حسابېدای شي او د رحمت الله مندوخېل آئینه افغان هم ددې لړۍ یوه کړۍ ده .

د ادبپوهنې په ځینو څانګو کې د اروا ښاد حافظ خان محمد دکسي ګلان ، د پروفیسور صاحبزاده حمید الله متفرق رسایل ، د اکاډیمۍ له خوا چاپ شوی د کاظم شیدا او قلندر اڅکزي په باب رسالې ، د ښاغلي رفیقي دکوږک ستوري ، د پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ د کسي د لمنې پښتانه لیکوال دوه ټوکه او ادبي انځور ، د عارف پښتو ژبه او ادب د یووېشتمې پېړۍ په درشل کې ، د ښاغلي عبد الباري اسیر د احساس سترګې ، د جعفر خان اڅکزي وندر ، د فضل احمد غازي پنځه ورونه او نور د ادبپوهنې له ځینو څانګو سره مربوط آثار دي .

د ګلاند د کسي لمر

د ژبپوهنې په برخه کې د لته خاص کار نه دی شوی . د ژبې د څېړنې په برخه کې ځینې دوه درې کاره شوي دي چې د خام موادو په حیث ترې ژبپوهان استفاده کولای شي ، لکه د ښاغلي عمر ګل عسکر وېښتې د سیال کاکړ د کاکړو لهجه ترینو او ځینې نور رسایل .

(۴) په دې فرهنګي حوزه کې د نثر لیکنې په ارتباط یوه بله د یادونې وړ خبره دا ده چې د دې سیمې لیکوالو زیاترو پښتو ولسي ادبیاتو ته ټولولو او سره راټولولو ته ډېره توجه کړې ده .
پروفیسور سیال کاکړ، پروفیسور صاحبزاده حمید الله، سید خیر محمد عارف، عابد شاه عابد[ابو خیر کلاند] او ځینو نورو په دې برخه کې د یادونې وړ کارونه کړي دي، فوکلور یې راټول کړی او خپاره کړي دي او د غوښتنلیو ټولونکیو له خپلو خپرونو او یادونو سره وړاندې کړي دي.
(۵) د نورو متونو ترجمو ته هم زموږ د دې سیمې لیکوالو توجه درلودلې ده، د مثال په ډول ارواښاد خان شهید د امام غزالي (رح) کیمیای سعادت په پښتو ترجمه کړ او هم یې د سعدي (رح) ګلستان په پښتو واړاوه . حافظ خان محمد مرحوم هم په دې برخه کې څه کارونه کړي . د غه راز ارواښاد حافظ خان محمد کاکړ نور ظلم پښتو کړی دی .
(٦) د دې سیمې دیني عالمانو د دین تشریح او توضیح ته هم توجه کړې ده، د ځینو دیني عالمانو په منثورو آثارو کې موږ داسې آثار موموچې د دین توضیح او تشریح ته توجه پکې شوې ده لکه: د رحمت الله مندوخیل رحمت بیان چې په دوو ټوکونو کې تهیه شوی . لومړی برخه یې ۷۰۸ مخه او دوهمه برخه یې ٦۱۶ مخه ده . دا کتاب په حقیقت کې د ملا عبد الرشید د رشید البیان شرح ده . زموږ پیغمبر، رحمت الباقیه، رحمة التجوید او ځیني نور رسایل . دغه ډول د عبد الرحیم اخونزاده رسالې، د مولانا عبد الشکور وروستی رسالې دغه ډول اهداف

تعقیبوي.

د سباغلي سلطان محمد صابر اسلام او څېړلوا کې فلسفه نومی اثرهم د دین په رڼا کې د نویو موضوعاتو د تفسیر په لړکې یو په زړه پوري کوشش دی.

لنډه دا چې د دې سیمې دلیکوالو د منثورو آثارو مطالعه راښیي چې که د دې سیمې لیکوال له یوې خوا د نویو هنري ژانرونو د څېړلو په لټه کې دي او یا هم د نویو علومو د تشریح، توضیح او بیان په ترڅ کې علمي نثرونه لیکي او یا هم د څېلوځان پېښو سرګذشتونو او سفرونو د بیان په ترڅ کې نوي عادي نثرونه وده ورکوي، له یخواني شي قي ادب سره هم خپل روابط ساتي او د شرقي ادب ګرانبیه مرغلرې په پښتو نثر ژباړي او ورسره خپل دین او دیني فروع او اصول هم له یاده نه باسي، هڅه هم څېړي او تشریح کوي.

## سندهـ:

له سندهـ سره د پښتو ادب لرغوني ارتباطونه هم شته، خو دا چې دلته مونږ معاصره دوره څېړو، نوځکه له سوابقو تېرېږو. په دې معاصره دوره کې په سندهـ کې د پښتنو د میشتېدو له امله دې سیمې، د پښتنو دیوې فرهنګي حوزې حیثیت غوره کړی دی او ادبي څېړونکي مجبورېږي چې دا حوزه هېره نه کړي. په دې څېړنه کې د پاکستان له جوړېدو وروسته سندهـ سره زمونږ سروکار دی.

سباغلی لیکوال غني خټک په خپله رساله (کراچۍ کې د پښتنو حالت)

کښې کښلي دي: «... د پاکستان له جوړېدو نه هم اګاهــو پښتون په کراچه کې استوګن وو او په تېرو پنځوسو کلونو کې په کراچه کې د پښتنو په آبادۍ کې ډېره اضافه شوې ده. د یوې اندازې له مخه کراچه کی کم وزیات دېرش لکه پښتون پروت دی ...» (۴۴)

باید ووایو چې له کراچه سربېره په حیدرآباد کې هم پښتانه شته. د دې سیمې ښارونو ته په کتله یي ډول دپښتنو مهاجرت، میشتېدنو او س داسیمه د پښتنو دفرهنګ له څېړنو سره مرتبطه کړې ده. په سندهـ کې آباد پښتون که څه هم زیاتره مزدوران دي، خو د ښه کاروبار خاوندان هم پکې لږ نه دي. دې خلکو او س په دې سیمه کې جاید ادونه اخیستي او پاخه د هغه ځای شوي دي.

دا خلک او س د شمېر په لحاظ په سندهـ کې دومره دي چې په راډیو تلوېزیون کې د خپلې ژبې د خپرونو ادعا کولای شي.

د سندهـ پښتانه که څه هم ټول کاروباري خلک دي خو په دې کاروباري خلکو کې شاعران، لیکوالان او فرهنګي خلک شته چې د نورو مصروفیتونو تر څنګه خپلې ژبې او ادب ته هم توجه کوي.

د اسنادو له مطالعې ښکاري چې له ۱۹۷۰ع کال نه راپه دې خوا په سندهـ کې میشتو ادیبانو د فرهنګ د ودې لپاره دستجمعي کارونه هم پیل کړي دي. لومړنۍ ادبي ټولنه چې په کراچۍ کې

جوړه شوه هغه د پښتو شعراء ادبي ټولنه نومېد له او په ۱۹۷۰ع
کال جوړه شوه ( د رڼاګانو محفلونه، ۱۹۷ مخ ) و ریښي دا د ول
فعالیتونه ډېر شول او بیا له ۱۹۸۷ع کال نه را په دې خوا په دې
سیمه کې نورې ادبي ټولنې هم جوړې شوې : اتفاق پښتو
ادبي ټولنه ۱۹۸۷ع کال ، ادبي محاذ ۱۹۸۸ع ، جرس ادبي جرګه
۱۹۹۰ع ، درنه پښتو ادبي ټولنه ۱۹۹۰ع او ټوریالی پښتو ادبي
جرګه ، ۱۹۹۱ع کال .

د دې جرګو ترڅنګه له ۱۹۹۰ع کال نه را په دې خوا په دې
سیمه کې د پښتو موقوته خپرونو نشر بدل هم باب شول .
د ۱۹۹۰ع کال په سپتمبر کې د جرس په نامه درې میاشتنی
معیاري ادبي مجلې په خپرونو پیل وکړ . دا په سر کې ښاغلیو
طاهر اپریدي او فهیم سرحدي چلوله . ترا وسه هم چاپېږي.
او د پښتو په موجودو خپرونو کې تر ټولو معیاري مجله ده.
دغه رنګه ښاغلی او با احساسه لیکوال عبدالفتح پښتون
پلوشه نومې مجله له کراچې خپروي او ښاغلي اسلام نګار بیا
پکې انګازه هم خپره کړې ده .

ښاغلي سید صابرشاه صابر د خپل اثر د رڼاګانو محفلونه په
٤۱۱ مخ کې ویلي دي چې په کراچۍ کې خپرېدونکی اخبار لوای آسمان
د سندهي او اردو ژبو ترڅنګه په پښتو هم خپرونې کوي او یوه
صفحه پکې پښتو ده .

د دې ټولنو او خپرونو موجودیت سره په دې باورې کوي
چې د سنده مرکز ورو ورو د پښتنو په یوه فرهنګي حوزه بدلېدونکی

دی او که هر ادبي څېړونکی. د پښتو معاصر ادبیات څېړې
نو نشي کولای چې دې حوزې ته له تمېد و پرته هسې تېر شي.
د سباغلي فضل خالق غمګین تالیف کړی او راټول کړی دریاب
هم داراسې چې په دې سیمه کې د شاعرانو او لیکوالانو
یو کو چنوټی لښکر شته. د سباغلي غمګین دریاب په کراچۍ
کې د میشتو پښتنو شاعرانو او لیکوالو شرح حال کښلی دی.
خو داچې موږ دلته د نثر تاریخ لیکو، نسو د هغو
شاعرانو نوم نه نشو یادولای چې سباغلي غمګین په خپله
مختصره تذکره کې معرفي کړي دی. زه دلته هغه نومونه
یادوم چې د دې سیمې په فرهنګي ټولنو کې محشور خلک وو
او یا یې نثرونه مالیدلي دي، لکه: طاهر اثر اپریدی، عبدالفتح
پښتون، مطیع الله ناښاد، فضل حق ممتاز لالا، رضا خان ناآر،
تاج ملوک تاج، عزیز الرحمن عزیز، محمد شعیب عباسی، صابر احمد
صابر، علیم شاه افغاني، رحمیداد شاه ستي، عبد الرزاق دلګیر،
اجمل فګار اپریدی، شاولي خان سید و وال، جمیل داد نا ښاد،
فضل خالق غمګین، دوکتور لطیف جاوید، دلاور خان زخمي، شاکرالله
جلبل، ګل رحمن بابر، زمین ګل زمین، مکرم خان عاجز، ابراهیم
بریکوټی، ذاکرالله امداد، زرجان مداخیل، ریاض تسنیم، حکیم شاه
فقیر، اسلام ګګار، حضرت علي مجبور، عبد الجلال مصنف،
قیوم خنجر، محمد جان عاصي، فیض علي فیض، سعید خنجر،
طاهر خان یوسفزی، سید محمد ابراهیم، قادر خان قادر، حسین
محمد عادل، عاشق افغاني، کوثر نیازی، محمد صدیق باچا، او لطاف ګل الطاف.

داوو هغه کسان چې په ښلا ښېلو وختونو کې دکراچې د ادبي ټولنو د چارو سمبالوونکی وو او دي او يا هم په نشراتي چارو کې برخه اخلي. دغه راز د ښاغلی فضل خالق غمګين پر کتاب چې کوم منثور یا د شتونه کښلي په هغو کې ځينې هغه کسان دي چې نومونه يې په ياده شوي ډله کې راغلی دی، اما طاهر بونيری يو داسې په کراچۍ کې ميشت ليکوال دی چې په لوړه ډله کې يې نوم نه دی راغلی.

په سندهـ کې د ميشتو پښتنو کوم آثار چې ليدل شوي دي زياتره هنري او عادي نثرونه دي. د علمي نثر و نو د پيدايښت زمينې هلته محدودې وې.

د دې سيمې د هنری نثر ليکونکيو سرلاری طاهر اپريدی دی. ده پښتو هنري نثر په ځېلو افسانو کې پاللی دی، تراوسه دده د افسانو درې مجموعې: د محلونو خوا، يا ښې يا ښې او لاره کې ما ښام چاپ شوی دی.

دا افسانې د ځېل هنري بافت له پلوه د پښتو په ډېرو اوچتو افسانو کې د درېدو وجوګه دي. د پښتو افسانو ځينو محققينو دده په افسانو کې ځينې داسې نمونې هم ښودلي دي چې له جهاني افسانو سره يې د سيالۍ لپاره سرې ورانديکولی شي. دده د افسانو نثر به روانه، خوږه او پسته ده، هنري جوړښت يې په ټول پوره دی.

د دې سيمې د ليکوالو د افسانو نورې مجموعې ماته نه دي معلومې. ځينو ښاغليو پر متفرقي افسانې ليکلی وې، چې په عام ډول

د پښتو د هنري نثر او په خاص ډول د سندهو د پښتو هنري نثرونو په بڼه اېسېنه کې یې له ارزښته ستړکې نشو پټولای.

طنزونه هم کله نا کله د دې سیمې د پښتنو لیکوالو په آثار وکې ځان ښکاره کوي. له دې چې ورتېرشو د دې سیمې د لیکوالو په آثار وکې عادي نثرونه خپل ځانګړی مقام لري.

دا نثرونه په بېلابېلو ژورنالستیکو ژانرونو او ځینو تبصرو او یون لیکونو کې پرمختیا مومي. د عادي نثرونو لیکونکیو په سرلار وکې بیا هم د طاهرایریدي نوم ترهرڅه د مخه مخې ته راځي. د ده د دې سفرنامې: سفر په خیر، جانان مې قطرته روان دی او یوشمېر سفرنامه په دې سیمه کې د عادي نثرلیکنې لوری د پرمختیا او پراختیا پرمنزلونو رهي کوي. د سباغلي غمګین دریاب هم د خپل بافت له نظره په عادي نثر کې حسابېدای شي. سره له دې چې دا کتاب باید له ادبي هنې سره اړه ولري، خو د لیکنې روش یې په عادي ګزارشي لیکنو کې شمېرل کېږي.

## هند:

د هند له نیمې وچې سره د پښتنو ارتباطونه لرغوني دي او ورسره په پخواني هند کې د پښتو ادبیاتو د ایجاد اوودې پیلامه له څلرمې پېړۍ څخه پیل کېږي او له هغه مهاله تراوسه په پخواني او اوسني هندوستان کې د پښتو ادبیاتو د پیدا ېښت زمینې شته، نو ځکه هندوستان د پښتو ادبیاتو د پیدا ېښت او ودې د یوې حوزې په توګه د پښتو په فرهنګي مطالعاتو کې مطرح دی. په دې سیمه کې پیدا شوي پښتو نثرونه ما دې

کتاب په ښلا ښلو څپرکوکې وښوول اوس غواړم چې په معاصره دوره کې د پښتو آثارو د ایجاد او ودې په ارتباط د اسیمه د یوې ځانګړې حوزې په توګه معرفي کړم او په دې سیمه کې لیکل شوي نثرونه وښیم.

په دې حوزه کې هم معاصره ادبي دوره په دوو پړاوونو کې مطالعه کېږي: یو له آزادۍ نه مخکې پړاو او بل له آزادۍ نه وروسته پړاو.

له آزادۍ نه دمخه پړاو کې چې موږ کوم نثر لیکونکي موږ دا نثر لیکونکي دهند په بېلا بېلو برخو کې ژوند کوي او خپل آثار د پښتونخوا یا او سني سرحد خپرونو ته رالېږي. ددغو سپاغلیو پښتنو آثار په سرحد، افغان، پښتون او آزاد پښتون نومو مجلو کې چاپېدل. بیا وروسته په ۱۹۳۹ع کال کې په دهلي راډیو سټیشن کې پښتو خپرونو ته زمینه برابره شوه او په ۱۹۴۱ع کال په دهلي کې نن پرون په خپرونو پیل وکړ او په ۱۹۴۵ع کال ژوند او ۱۹۴۴ع کال د نیا. خو دیا دولو ورخبره داده چې د نشرو اشاعت دغه الکتریکي او طباعتي وسایل د سرحد پښتنو حلول او داهغه پښتانه وو چې هغه وخت په هند کې میشت وو، بیا د هند د نیمې وچې له ویش وروسته بېرته سرحد ته راستانه شول، نو ځکه موږ د غسې کسان په هند کې د پښتو ادب له ودې سره په جریان کې نښو مطالعه کولای، خو بیا هم کوم لیکوال چې دا مهال په هند کې راپیدا شول او په پښتو کې یې نثرونه ولیکل دادي:

فضل احمد غر (دیر بهتی دکن اوسېدونکی) سراج الدین (د بهوپال) مولوی غلام محمد (بنګال کې اوسېدلی)، عنایت الله خان مشرقي (د امرتسر زوکړی) مولانا عبد الوهاب (په دهلي کې اوسېدلی)، عبد الرحمن کبانی (په شمله کې اوسېدلی) عبدالستار بارک (د لاهورهیډن روډ کې میشت او اشاعت اسلام کالج پروفیسور) محمد ایاز (د دهلي د اردو کالج استاد)، نوشېرین خان (د احمد آباد اوسېدونکی)

همدارنګه د ژوند د مجلې په ځینو ګڼو کې د لیکوالو یوه توکه ځینې داسې نومونه مخې ته راځي چې په روستیو کې یې په سرحد کې هم پته نه لګي چې د اخلک به د سرحد وو او د ځینو په مورد کې دا شک هم کېدای شي چې ښايي دا نومونه فرضي وي، خو دا چې په دې برخه کې له ماسره کوټلې معلومات نشته او په خپل بل اثر په هند کې د پښتو ژبې د ایجاد او ودې پړاوونه نومي کتاب کې مې راخیستي دي، نو ځکه زه دا نومونه دلته هم یادوم، لکه: عبدالرؤف خان سواتی، غلام محمد خان، بیګم واسی درویشه بانو، رشیده بانو او ګل بیګم...
د دغو یا دو شویو لیکوالو د نثرونو کوم ځانګړی کتاب نه دی چاپ شوی، متفرق نثرونه یې په خپرونو کې راغلي دي. دا نثرونه زیاتره عادي نثرونه دي چې په لیکونو او اخباري مقالو کې ځان ښکاره کوي او هنري نثرونه هم د لیکوالو په آثارو کې په مهتې خپلې ونډې پرانیستي او په ډېر ابتدايي ډول یې خپل پروازپیل کړی دی.

د هند د نیمې وچې له ویش نه وروسته ډېرې کورنۍ له پښتونخوا نه اوسنی هندته او له اوسني هند نه ټول پاکستان ته واوښتې داواوښتې . په دې اوښتلو ژا اوښتلو کې ځینې لیکوال، شاعران په دوا پوخواوو کې میشت شول.

داوخت په هندکې د پښتو نشر و اشاعت یوازینۍ وسیله آل انډیا راډیو ډهلي پښتوځانګه وه او د پښتو ځومره هندوان مسلمانان کاروباریان چې وو هغه ګرده په آل انډیا راډیو ډهلي کې راټول شول او هند هم په منطقه کې د خپلو اهدافو په منظور دا ځانګه څه پیاوړې کړه او څه کسان یې د پښتو دزده کړې لپاره کابل ته واستول او ددغو روابطو په لړکې په ۱۹۷۳ ع کال دډهلي په جواهرلال نهرو پوهنتون کې پښتو ځانګه پرانیستل شوه.

اما په دې سیمه کې ځینې داسې نور لیکوال هم وو چې د هند په راډیو کې له پښتو ځانګې سره تړلي نه وو، خو پښتو لیکل یې کول. داوخت په هندکې له راډیو پرته د نشرواشاعت بله وسیله نه وه. او هندي پښتو لیکوالو به خپلې لیکنې کابل ته استولې او د لومړي پړاو پر خلاف په دې پړاوکې د هند د سیمو لیکوال په نشراتي لحاظ له کابل سره وتړل شول.

په دې پړاوکې چې دکومو لیکوالو منثورې لیکنې لیدل شوې دي هغه دالاندې کسان دي:

آمنه شېرین ، پرت پال سنګه کهوریا ، جي. ډي. ډي خاموش مولانا محمداکبر ، خان غازي کابلی ، تاج محمد خلیل ، جمنا داس ،

تلوار، هر بهګوان ملهوتره، کنور بهان تارنګ، رامسرن کپور، تریبیني لال کپور، چکرورتي کپور، رش رام مګهجهر، کشوري لال تلوار، ارواښاد ولي محمد بابر، بهومیتر سایګل، منوهر سنګه بتره، پر مانند، روښن لال ملهوتره، ثناءالله خان یوسفزی مدن لال ورما، اجرج سنګه هوره، ممتاز ولي یوسفزی کلونت چودهري، لاله کرم چند، مولوی زیارت میر بخشی رام پرکاش مهر بیندر کمار پوري، دکهوناتهه پوري او نور...

دا لیکوال زیاتره له راډیو سره منسلک دي، خو ځیني لکه خان غازی کابلی، مولانا محمد اکبر او تاج محمد خلیل له ځینو سیاسي جرګو سره اړه درلوده. نثرونه یې زیاتره په کابل کې کابل مجله او ځینو کتابونو کې چاپ شوي دي. چې په کابل کې نشرشوي ددغو لیکوالو لیکنې زیاتره سیاسي تبلیغي رنګ لري او ځینې هم ګزارشي بڼه لري، چې موږ یې په عادي نثرونو کې حسابولی شو. اما د ارواښاد خان غازي کابلي ځیني لیکنې یې داسې دي چې څه علمي رنګ لري، له ادبي او تاریخي څېړنو سره اړه پیدا کوي او سړی یې د اجتماعي علومو په څانګو کې د علمي نثر ابتدائي نمونې بللای شي. د دې ډلې ځینې نور لیکوال لکه: امنه شېرین، رش رام مګهجه، مدن لال ورما، پرت پال سنګه، کهوریا هم له راډیو سره منسلک نه دي. د امنې یو لیک په کابل مجله کې خپور شوی دی او د پرت پال سنګه هم ځینې ترجمې د وږمې مجله او د کابل په اخبار کې چاپ دي او یو کتاب یې هم لیکلی دی چې نوم یې دی خارجیان

څنګه پښتو ژده کولای شي ؟ رش رام مکهجهـ او مدن لال ورما
هم ځيني ليکونه او ترجمې د زېرې اخبار ، پلوشه مجله او نورو
آثارو کې چاپ دي او سړی کولای شي دغه ليکنې هم په عادي
نثرونو کې حساب کړي .

اما پالمقابل هغه نثرونه چې دراډيو په پښتو څانګه کې
د تاليف او ترجمو له لارې راپيدا شوي دي په هغو کې د نثر
د درې وارو ډولونو : عادي ، علمي او هنري نثرونو نمونې
په کافي اندازه موندلای شو .

په دغو نمونو کې د هنري نثر نمونې د ليکل شويو لنډو
کيسو ، ډرامو او طنزونو له لارې په دې څانګه کې ايجاد شوي
دي . په دې ډله کې د کشوری لال تلوار ، روشن لال ملهوتره
ثناء الله خان يوسفزي ، ممتاز يوسفزي ، کلونت چودهري
او نورو نومونه د ډېرې يادونې وړ دي .

دغه راز د لنډو کيسو ، ډرامو او طنزونو ترجمې هم
په کافي اندازه په دې څانګه کې موندل کېږي ، چې په دې
ترجمو کې د څانګې ټولو ليکوالو او وسنيو ګډيو برخه اخيستې
ده . هربهګوان ملهوتره ، رامسرن کپور ، ترېبيني لال کپور
پرمانند ، اچرج سنګهـ هوره ، جمنا داس تلوار ، کشوری لال
تلوار ، جګر ورتي کپور ، روشن لال ملهوتره ، ممتاز ولي
يوسفزی او کلونت چودهري د دې لړۍ د آثارو مترجمان
دي .

فيچرونه ، د ماشومانو ادبيات او د هند د بېلا بېلو سيمو فولکلوري

قصې هم په دې څانګه کې په کافي اندازه موجودې دي .

تبلیغاتي او معلوماتي لیکنې او ترجمې هم زیاتره سیاسي، اجتماعي او اطلاعاتي رنګ لري ، ددې څانګې لیکوالو او مترجمانو لکه : پرمانند ، منوهر سنګهه بتره ، روشن لال او نورو لیکلي او ترجمه کړې دي . ددې څانګې آرشیف له دغسې موادو هم ډک دی .

دعادي او هنري نثرونو ترڅنګه د نوي ساینس ، پرمختیا او په تېره بیا په هند کې د نوې تکنالوژۍ د پراختیا او پرمختیا په باب هم ددې څانګې د څېنو عالمانو مقالې په پښتو ترجمه کړې دي ، چې د ترجمو له لارې یې د پښتو د علمي نثرونو یوه کافي ذخیره په ځیله غېږه کې خوندي ساتلې ده .

لنډه دا چې آل انډیا راډیو ډهلي د پښتو څانګې آرشیف د ترجمو او تالیف له لارې دراییدا شویو نثرونو یوه کافي ذخیره لري چې د پښتو نثر په څېړنه کې ورته نه تم کېدل یوه غیر علمي خبره ده .

اما ددې کافي ذخیرې په باب داخبره یادونې هم ضروري ګڼم :

(۱) په دې لیکنو کې د زیاترو دلیکنې او ترجمې سبک ډېر خوندور نه دی ، البته ولي محمد بابر ، منوهر سنګهه بتره روشن لال ملهوتره ، کشوري لال تلوار ، ثناء الله خان یوسفزي او ممتاز ولي ترې که یوې خوا ته کړو د نورو په لیکنو کې حتی جوړښتي او املايي ، انشايي غلطې په کافي اندازه موندل

کېږي ، خو ورسره باید دا هم ومنو چې له یو هند و لیکوال نه چې پښتو یې مورنۍ ژبه نه ده ، تردې څه زیات امید ترې معقول کار نه بریښي .
(۲) د دې لیکوال په سبکونو کې یو داسې مثلی سبک زما تر سترګو شوی نه دی چې سړی دې یې د حساب وکړي او د یو مشخص سبک په توګه دې معرفي کړي . د هر لیکوال او مترجم سبک خپلې ځانګړې ځانګړنې لري . د زیاتروسبکونو د پښتو نخوا په سیمه (سرحد) کې دلیکنې له روښه متاثر دي او د ځینو هم دکابل د لیکوالو د سبکونو په متابعت د خپلو لیکنو سبکونه عیار کړي دي .
(۳) دغه لیکوال له راډیو پرته د نشرو اشاعت بله وسیله نه لري . اکثر په راډیو کې خپلې لیکنې او ترجمې نشروي .
د روانې هجري شمسي پېړۍ د د پرشمو ، څلویښتمو او پنځوسمو کلونو په جریان کې له دغو لیکوالو څخه ځینو خپل آثار د نشر لپاره کابل ته لېږلي او ځینو هم هلته درس ویلي دی ، خپل آثار او ترجمې یې دکابل په ورځپاڼو او مجلو کې نشر کړي دي .
نورنو نه د افغانستان له خوانه او نه دهند له خوا دغو خلکو ته د نشر او اشاعت زمینه مساعده شوې ده . که دغو خلکو ته دا ډول زمینې مساعدې شوې وای د بر امید کېده چې دغو خلکو ډېر زیات او مهم آثار ترجمه کړي وای .
سباغلی ملهوسره د منشي پریم چند دګئودان ناول په پښتو وژباړه ، ثناء الله خان یوسفزی د تیراه اوتیت قصه نومې کتاب پښتو کړ ، خو منا ء سفانر چې هماغسې ورسره یاتې شول .
(۴) د آل انډیا راډیو سپنتو څانګې په آرشیف کې ځینې داسې

داسې آثار هم شته چې ههغه دنیمې وچې له ویش نه د مخنیو زمانو په لیکوالو اړه لري. دا آثار وروستیو لیکوالو په خپلو قلمونو نقل کړي دي. اوس چې سړی دا آثار وګوري نو دا صلي لیکوالو نومونه پرې نشته. سړی مجبوریږي چې دا آثار نقلوونکو ته یې راجع وبولي، ځکه نقلوونکی هم زیاتره لیکوالان دي. ماچې خپل کتاب (په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او دې پړاوونه) کښل ما هم د دغسې آثارو په باب د وروستیو نقلوونکیو نومونو ته ارزښت ورکړ او ځینې داسې آثار چې ددې ځانګې د وروستیو لیکوالو په نامه ضبط کړل، چې وروسته د زیاتې مطالعې نه ما ته ښکاره شوه چې ځینې آثار ما په غلطه وروستیو لیکوالو ته منسوب کړي دي. په کار داوو چې وروستیو نقلوونکیو د امانتدارۍ له مخې د اصلي لیکوال نوم هم پر هغو آثارو کښلی وای او خپل نوم یې د نقلوونکي په صفت؛ خو دا کار دوی نه دی کړی.

ما په خپل کتاب کې د سیدرسول رسا دوی لیکنې یوه ډرامه او بله هم یوه حکایه (دوه حاجیان) کشوري لال تلوار او ولي محمد بابر ته منسوب کړي دي. البته د دغو دووکسانو د نه امانتدارۍ په وجه. وروسته د رسا د رنګارنګ کلونه او دنن پرون مجلې له مطالعې ما ته ښکاره شوه چې دادوه اثره دا روا ښاد رسادي، نه د کشوري لال او ولي محمد بابر.

په دې باب به زه انشاءالله په آینده کې نور زیات تحقیق کوم.

# د ختیځپوهانو حوزه:

په معاصره دوره کې هم د پښتو پوهو ختیځپوهانو حوزه فعاله ده . په دې اړه نږبحث د مخه زه دوې نکتې توضیح کوم :

(۱) زه په دې لیکنه کې پر ټولو معاصرو پښتو پېژندونکیو نه خبرې کوم او نه یې د آثارو معرفي راوړم . صرف د هغو پښتو پوهانو نوموړو اوکارونه ښیم چې پښتو نثر ته یې څه کړي دي، یا هغه پښتو پېژندونکي یادوم چې پښتو نثر یې لیکلای شوای.

(۲) له دې حوزې سره په ارتباط کې د ځینو هغو خارجي هېوادونو یادونه کوم ، چې پښتو نثر ته یې څه کړي دي او یا د پښتو نثر پکې د پېد ایښت څه زمینې درلودې اویا یې لري.

د معاصرو ختیځپوهانو مشر پروفیسورمارګنستیرن(۱۸۹۲-۱۹۸۷ع) پښتو ته د خپلو نورو ډېرو کارونو ترڅنګه پښتو نثرهم لیکلای شوای . ده په پښتو کوم مستقل منثور اثر نه دی لیکلی اونه یې ژباړلی دی ، بلکه ځینو افغانانو ته یې پښتو لیکونه لېږلي دي اوهم یې د خوشحال بابا ځینو سمینارونو ته پښتو پېغامونه لیکلي دي . د ده دا ډول منثورې لیکنې په ننګیالي پښتون (ل) مخ او د توریالي پښتون (۸ـ ۹ مخونه) کې چاپ شوي دي، او همدا راز د ښاغلي کبریٰ مظهري په ټاله کې چاپ شوې دي.

باید ووایو چې د پروفیسور مارګنستیرن د نارویې واود اوسنۍ زمانې سپین ږیرې غربي ختیځپوهان ټول د ده شاګردان دي.

تر مارکنستیرن وروسته زمونږ مخې ته د پښتوانې شوروی اتحاد ختیځپوهان راځي . په دغو ختیځپوهانو کې مشر سړی فقید موتیروس ګرګوروېچ اسلانوف (۱۸۹۷ - ۱۹۷۷ع ) دی . دی په پښتواني شوروي اتحاد کې د سپین ږیري نسل استاد دی . ده هم پښتولیک کولای شوای . ده په پښتو د درسي آثارو یوه مجموعه هم تهیه کړې وه . دا مجموعه په ۱۹٤۷ع کال د مسکو دختیځپوهنې د پوهنځي له خوا د پروفیسور ډورن دخریستوماتي دچاپ دسلمې کالیزې په مناسبت چاپ شوه .

نیکولای دریانکوف ( ۱۹۲۳ - ۱۹۷۹ع ) هم په پښتو ژبه لیکل کولای شول . د پښتو ادبیاتو په باب دده مقالې په کابل مجله کې چاپ دي . دده یوه پښتو مقاله : ( خوشحال خان ختک او دپښتو د کلام دانکشاف په تاریخ کې دهغه مقام ) (٤٥) ننګیالی پښتون کې او یوه بله پښتو مقاله یې چې : ( په شوروي اتحاد کې د فیلالوژۍ په برخه کې دافغان پېژندنې هلې ځلې ) نومېږي په پښتو چاپي آثار نومي مجموعه کې چاپ ده . ( پښتو چاپي آثار ، ۱۶۵ - ۱۷۰ مخونه ) ده په پښتو افغانانو ته لیکونه هم لیکل .

لنډه دا چې ده ته هرچا زیات په پښتو نثر آثار لیکلای شول او لیکلي یې دي چې ځینې چاپي نمونې یې زمونږ په واک کې شته .

پروفیسور لیبیدیف هم دهغو پښتو پوهانو په ډله کې ولاړ سړی دی چې پښتو لیکلای شي او لږ وډېر پښتو نثرونه یې لیدل شوي دي .

فقید گیورګ فیودوروویچ ګیرس (۱۹۲۸-۱۹۹٤ع) هم پښتو نثر لیکلای شوای. ما خپله دده څو پښتو لیکونه لیدلي دي چې ځینو افغانانو ته یې استولي دي او دده د کتاب (د پښتنو تاریخي سندرې) په پای کې یې یوه لنډه تشریح په پښتو راغلې ده. (٤٦)

ز. م. کالینینا، الفتینا. سرګیونا ګیرا سیموا او لودمیلا یاڅوبیخ هم پښتو پوهانې ښځې دي، چې په پښتو د لیکلو او ترجمو توان لري. د دوی لیکنې او ترجمې لیدل شوي دي.

په روسیه کې نور هم پښتو پوهان او پښتو پوهانې شته خو ما یې پښتو نثرونه نه دي لیدلي، نو ځکه د لته یې ځه نشم ویلای. خوله روسي پښتو پوهانو ځنه یو بل سړی چې د سنت پیټرزبورګ د ختیځپوهنې په انستیتوت کې کارکوي هغه ولادیمیر واسیلو ویچ کوشیف دی. دی هم په پښتو نثر لیکلای شي، ما یې ځینې پښتو لیکونه لیدلي دي، خصوصاً چې یې د پښتو ژبې خپل استاد سرمحقق بختاني ته استولي دي.

د روسي پښتو پوهانو د نثرونو په ارتباط د لوړیادونو ترڅنګه ځینې نورې یا دونې هم کوم او هغه دا چې:

(۱) د ۱۹۵۸ع کال شاوخوا په مسکو راډیو کې پښتو خپرونې پیل شوې (رفیع: تماس ۳۰/٦ مخ) په دې راډیو کې له هغه وخته تراوسه پښتو خپرونې شته، چې له دې خپرونو سره د پښتو نثر د پید ایښت مسأله هم جوخته روانه ده. د دې راډیو د پښتو څانګې آرشیف هم له دې پلوه د کتلو دی، د ډېرو افغانانو او

روسانو د پښتو نثرونو بېلګې په يکې محفوظې وي .

(۲) پخواني شوروي اتحاد له افغانستان سره د ګاونډيتوب او د خپلو خاصو سياسي اهدافو لپاره له پخوانه د خپلو نشراتي مؤسسو له لارې د آثارو پښتو ترجمو ته توجه کړې وه او په سلګونو آثارې له روسي نه پښتو ته اړولي دي.

د اآثار زما د مطالعې له مخې د نوعيت په اساس په پنځه ډوله دي :

(۱) د شوروي د پرمختيا او اوجمهوريتونو په باب معلوماتي آثار .

(۲) د مارکسيستي - لېنينستي ايډيالوژيو په رڼاکې ليکل شوي تيوريک آثار او زياتره هم د دې لارې د کلاسيکانو د آثارو ترجمې .

(۳) د ادبي آثارو ترجمې .

(٤) د ماشومانو ادبيات .

(۵) د افغانستان په باب ځيني آثار...

هغه مؤسسې چې دا ډول آثارې پښتو کړي او چاپ کړي دي، په هغوکې د نووستي د مطبوعاتي آژانس او - رادوګا د مؤسسو نومونه مخې ته راځي او په ترجمانانوکې يې زياتره افغانان او لږ روسان شامل دي .

د معلوماتي آثارو په لړکې د ډېرو ترجمو تر څنګه کولای شو د دغو لاندې آثارو يادونه وکړو :

ازبکستان ، بوهنه په شوروي اتحادکې ، په شوروي اتحاد کې د ملي مسائلو حل کول ، ترکمنستان ، د خلکو د عمومي سواد د ترقۍ لاره ،

د سولې پروګرام څنګه عملي کېږي ، د شوروي اتحاد د عسکر ، د فرغاني له لوی کانال څخه د قره قورم تر کانال پورې، د لوږې د شپته د پرېواني سیمه شوه ، ځوانان د اتحاد یو مقام، دشوروي اتحاد اساسي قانون ، شوروي اتحاد څنګه د روند صنعت جوړ کړی دی؟، د شوروي اتحاد لوړ تحصیلات ، د سوسیالستي تحولاتو تاریخي تجربې، د شوروي حکومت نو بتي وظیفې او نور په لسګونو کتابونه .

په دویمه ډله آثارو کې د کلاسیکانو د منتخباتو ترجمې او د متفرقو آثارو ترجمې او د نورو فلسفي او سیاسي کتابونو سلسلې شاملې دي، چې د ځو نمونه دادي : د سیاسي پوهنو د کتابونو سلسله . په دې لړکې تر ۱۶ جلدو پورې سیاسي کتابونه په بېلا بېلو سیاسي اجتماعي مسایلو کې ترجمه شوي او چاپ دي. د اجرتي کار سیستم ، کلیوالو خوارانو ته ، ما ویېزم د جګړې خطو دی ، څوک مقصر دی؟ د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د ګوندي جوړښت تجربه ، اردواو د نړۍ لنې انقلابي تحولات ، د ... د تاریخي ودې د ځینو خصوصیاتو په هکله، د انقلاب ... تیوري ، ... او د ده شوو نه، په پرګنو کې د ګوندي کار په باره کې ، د امپریالیزم او امپریالستانو په باره کې او نور ...

په دغه سلسله کې موږ د روسي او شوروي داستان لیکونکیو د لنډو کیسو او رمانونو ترجمې کورو، لکه :

د لنډو کیسو دوې مجموعې چې په لومړیه کې د روسي د کلاسیکو لیکوالو لنډې کیسې ترجمه شوې دي او په بله کې د شوروي

دوران د لیکوالو لنډې کیسې راغلې دي . د شولوخوف کیسې، دګورکي د مور رومان، د پوشکین دوبروفسکي، د چنګیز ایتماتوف د ژاړو وختې راشک تیک فال دی او جمیله د لرمانتوف زموږ د زماني اتل، یو بل رومان چې د ورېښمو لار نومېده او ځینې نور آثار....

د ماشومانو په ادبیاتو کې تر ټولو د پرشو زیاتو اثرونو پښتو ترجمې مالیدلې دي، چې د څو نومونه راته یاد دي: فیل، مېږی او کیهاني پیلوټ، سور چرخول لرونکی چرګوټی، غیر عادي مسافرت، کوچنیان او نور په لسګونو لوی او واړه داډول آثار.

د افغانستان په باب هم دغو خلکو د ځینو کتابونو پښتو ترجمې چاپ کړي چې سمدستي د دوو درېو نومونه راته په حافظه کې پاتې دي: لااعلان شوې جګړه امپریالیزم د افغانستان پرضد، انګلستان دافغانستان پرضد، ننني افغانستان او داسې نور کتابونه.

د اینځه ډوله آثارچې ماپې د څوو نومونه یاد کړل، که یې واقعي فهرست تهیه شي سلګونو ته رسي او هر آثر په زرګونو نسخې چاپ شوی دی . دا آثار پخواني شوروی اتحاد صرف د خپلې کمونستي ایډیالوژۍ د صدور په منظور تهیه او چاپ کړي دي او غوښتل یې چې له ماشومانو نه نیولې تر لویانو پورې پښتانه په خپل رنګ کې ورنګوي . البته دایادونه باید وکړو چې د ځینو کلاسیکو آثارو ترجمې یې د فرهنګ په

په غنا کې خپله ارزښتمني لري . نورنو دا ټول آثار شوروي‌انو د خپلو خاصو سياسي اهدافو لپاره ترجمه کړي او چاپ کړي وو، چې له ښکه مرغه د افغان مسلمان ملت قهرمانيو او د قربانيو روحيې د وی خپلو شومو اهدافو ته ونه رسول .

د روسيې نه چې ورته‌رشو په ازبکستان او تاجکستان کې هم پښتو پوهان شته، خو هغه کسان چې پښتو نثرونه يې ليکلي او يا ماته معلوم دي، دا دي :

(۱) دوکتور عارف عثمان : ده د خوشحال‌خان ادبي مکتب په نامه ځانګړی کتاب په پښتو ليکلی دی، چې په ۱۳۶۱ هـ ش کال د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له‌خوا چاپ شوی دی . له‌دې سربېره ده د خوشحال خان په باب ځينې مقالې هم کښلي چې د ځينو نومونه يې دا دي : د خوشحال‌خان په رباعياتو کې هيومانيستيک افکار (ننګيالی پښتو، ۱۰۲ - ۱۱۴ مخونه) د خوشحال‌خان په رباعياتو کې اخلاقي افکار (توريالی پښتون، ۲۵۷ - ۲۶۳ مخونه)

بل سړی چې پښتو مقالې يې ليکلي دي او پښتو نثر ليکلی شي هغه عمرناق زاهدوف دی . دی د کاظم خان شيدا متخصص دی او په دې باب يې دوې مقالې کښلي دي، چې يوه يې په ۱۳۴۸ هـ ش کال د کابل مجلې په ۸ ګڼه کې (۲۴ - ۳۱ مخونه) کې چاپ ده او عنوان يې دی : (د شاعري شيدا)، بله مقاله يې د ميا فقيرالله جلال آبادي سيمينار ته وړاندې کړې او عنوان يې و : (تصوف او کاظم‌خان شيدا د نقشبندي طريقې په پلوشو کې) دا مقاله د نوموړي سيمينار د مقالو په مجموعه کې چاپ شوې ده .

دریم سړی چې ددې سیمې په ختیځپوهانو کې په پښتو لیک کولای شي هغه البرز نومېږي . البرز اصلاً استین دی ، خو په تاشکند کې اوسي . دی په روانه پښتو خط لیکلی شي او ما یې په پښتو خط لیږلی دی .

د نویمو کلونو له پیله په تاشکند راډیو کې هم پښتو خپرونه پیل شوې ده او په دې ځانګه کې هم د پښتو نثر د پیدا ښت زمینې مساعدې شوي دي او موږ نشو کولای چې په دې دول خپرونو کې یې له یاده وباسو .

د تاجکستان په پښتو پوهانو کې ما د چا پښتو نثر نه دی لیدلی نو ځکه څه پرې نشم ویلای .

په آلمان کې مانفرید لورنځ پښتو پوه دی چې په پښتو لیک کولای شي . ده یو پښتو لیک د جمهوري پلوشه نومې مجلې دد ویم کال په دویمه ګڼه کې چاپ شوی دی . ده د پښتو د زده کړې یو کتاب هم لیکلی دی . دغه راز په آلمان عنز کې له ښایسته زیاتو کلونو نه پښتو خپرونه شته . ددې ځانګې آرشیف هم ښایي د پښتو نثر کافي ذخیره ولري .

په فرانسه کې سیت فونو د انیال هم له هغو پښتو پوهانو څخه دی چې پښتو لیک کولای شي ، ښاغلي لیکوال حبیب الله رفیع سره یې د لیک مراود ه شته او ښه سمه پښتو لیکي . ده په فرانسوي ژبه د پښتو یو ګرامر هم لیکلی دی چې پښتو متون هم پکې شته .

په بریتانیا کې داوسنې زمانې په پښتو پوهانو کې

يوسي اولف كيرو او بل هم د وكتور ميكنزي دا سې كسان
دي چې پښتو ليكونه يې له موږ سره شته، په (ننګيالي پښتون) (مخ)
كې دغو دواړو ليكونه چاپ شوي دي اوله ليكو نو داسې نه
سكاري چې دا ليكونه دې ترجمه شوي وي.

د لندن په B.B.C راډيوكې د ۱۹۸۱ع كال داګست پر
۱۵ ره نېټه پښتو خپرونه پيل شوه، چې تراوسه په خورا زور
او شور كې چلېږي. د دې ځانګې له آرشيفه هم د پښتونثر د
ذخيرې اميد ونه كېږي.

په امريكايي پښتو پوهانوكې هربرت پنزل پښتو ليكلى شي
د ده يو ليك د كابل مجلې ۱۳۳۲هش/۱۹۵۳ع كال دجوزا په دوهمه
د كابل مجلې په پنځمه ګڼه كې خپورشوى دى. نوموړى دپښتوګرامر
هم په انګرېزي ژبه ليكلى دى.

بل امريكايي چې پښتو يې زده وه او يوه ليكنه يې دزېري
جريدې د ۱۳۳۱/۱۹۵۲ع كال په ۱۴مه ګڼه كې چاپ شوې ده،
او سكارچاوارياكيلار نوميده. دغه راز امريكا غږ راډيو د
۱۹۸۲ع كال د جولاى په څلورمه نېټه پښتو خپرونې پيل كړې چې
تراوسه ښې دمزې رواني دي.

په چين راډيوكې د پښتو خپرونو له پيل سره ځينو چينايانو
دپښتو زده كړې ته هم توجه وكړه. اوس په چين كې دغه
لاندې كسان په پښتو پوهېږي او پښتو ليك كولاى شي:
دونګ چنګ بانګ، فونګ كوتاى، جانګ جي چانګ،
جوچوان جيا، جانګ ځاو، مېرمن ليوباى اينګ، مېرمن

سون مي جو، مېرمن وانګ ين سنه، سيا وبين او وي وي په پښتو پوهېږي، په پښتو ليکونه کولای شي. له دغو کسانو څخه د چينو ليکونه په ورځ مه کې او د چينو په وفا اخبارکې چاپ شوي او د چين دراډيو په پښتو څانګه کې په ترجمو او ليکنو بوخت دي.

په چين کې له موجودو پښتو پوهېدونکيو سره په ارتباط کې بايد ووايم چې د چين د حکومت د چينو خاصو څانګو له خوا د خپلو پرمختيايي او ايډيولوژيکي تبليغاتو په منظور د او ياپمو کلونو په جريان کې څه آثار په پښتو نثر خپاره شول چې په هغوکې د ماؤتسي دونګ د مقولو پښتو ترجمه او همداراز نور ډېر تبليغي او تيوريک آثار د چين د پرمختياوو په باب آثار، د چين اساسي قانون او نور و اړه غټ رسايل او کتابونه پکې شامل وو.

که چېرې د ختيځپوهانو ددې پېر کارونو ته مونږ لنډ نظر واچوو، نو راته ښکاري چې د غو ياد و شويو ختيځ پوهانو او نورو هغو چې نوم يې دلته نه دی يا د شوی د پښتو په باب ټول کارونه په خپلو ژبو کې کړي دي، يوازې څينو کسانو پښتو مقالې هم کښلي چې په هغوکې د دوريانکوف، عارف عثمان، ګيرس، عمرزاق زاهدوف، وانګ ين سنه ليو بای اېنګ، سون مي جو، اوسکار او څينو نورو تومونه راځي چې د نورو تش ليکونه مونږ ته معلوم دي او داليکو نه په ډاګه ګواهي لي چې دوی پښتو ليکلی شي.

دې دوره کې يوانې دعارف عثمان يو پښتو کتاب :
(خوشحال خان اودهغه ادبي مکتب) او د لودميلا ياخيو يښخ
دنوروستي لپاره يوه نيمه ترجمه چاپ دي .
که دا کارونه موږ د نولسمې پېړۍ دپښتو پوهانو له
کارونو سره مقايسه کړو د دوی کارونه پرې زيات دي او
پښتو ته ډېرو هېوادونو ختيځپوهنې ته لاره پيدا کړې ده ،
خو د پښتو شوي کارونه په اوسني پېړۍ کې محدودې مقالې يو
کتاب يو نيمه ترجمه ده ، حال دا چې په نو لسمه پېړۍ کې
يوازې د عيسوي مذهب د تبليغي کتابونو د انجيل ، توريت ، زبور
او صحيفو دومره ترجمې ورانديږ شوې چې د اعتنا او يادونې
وړ دي او د پښتو نثر ذخيره يې پياوړې کړې ده .

# معاصرې دورې ته
# يوه کتنه

د پښتو نثر ليکنې دمعاصرې دورې په شپږ وحوزو کې د
پيدا ښت او ودې زمينې ودرلودې او تراوسه د اشپږ حوزې
فعالې دي او د پښتو نثر لپاره يکې څه کارونه کېږي .
د دې دورې عمده خصوصيات دا دي :
(۱) په دې دوره کې د نورو ټولو دورو په پرتله
پښتو نثر ډېره پرمختيا او پراختيا و موندله او د فرهنګ پر
قلمرو يې د نظم حاکميت ته د خاتمې ترڅنګه ډېر نثر ليکونکي

پیدا کړل چې په لومړیه او دوهمه دوره کې مونږ ددې دورې
څلورمه برخه نثر لیکونکي هم نه لرو.
ما د معاصرې دورې څه نثر لیکونکي چې را معلوم وو
په خپله برخه کې یاد کړل، خوزه باور لرم چې زمونږ نثر
لیکونکي تر دې نور هم زیات دي. که په هره حوزه کې
دچا نوم له ماهېر شوی وي، له هغوی نه بخښنه غواړم، که
خدای (ج) توفیق راکړ او دا کتاب بیا چاپېده دپاتې کسانو
نومونه به هم پکې راسي.
(۲) ددې دورې عمده ارمغان هنري نثر دی. پښتو ژبه
په معاصره دوره کې په واقعي معنا ددې جوګه شوه چې
هنري نثر پیدا کړي. په دې ژبه کې د هنري نثر دپیدایښت
اوس دوه کم نوي کاله تېرېږي، په دې خواوشا نوي کالونو
کې دپښتو هنري نثر دهنري ادبیاتو په بېلابېلو ژانرونو کې
غځونې وکړې او اوس پښتو ددې نثر کافي ذخایر لري.
(۳) عادي نثرونه په دې دوره کې زیاتره په ژورنالستیکو
ژانرونو کې پرمخ ولاړل. دا دول ژانرونه په پښتو کې په
همدې معاصره دوره کې پیدا شول او دېرا ختیا اوپرمختیا په
لور یې ګامونه اوچت کړل. ددې دورې په بېلو حوزو کې جمعي
مفاهمې دالکتریکي او طباعتي وسایلو له لارې پښتو نثرځانونه په
ژورنالستیکو ژانرونو کې دپخوالي مرحلې ته ورساوه او دېر
ژورنالستیک ژانرونه یې تر او چرکه پورې خپل کړل. له دې
سربېره په دې دوره کې عادي نثرونو په سفرنامو، سفري

ګزارشونو ، ځان پېښو او لیکونوکې هم پر مختیا وموندله ،
چې له سفرنامې او لیکونو پرته نور ژانرونه هم پښتو ته
په دې دوره کې راغلي او دغوګردو بیا په دې دوره
کې وده او پراختیا موندلې ده .

(٤) که څه هم موږ په تېرو دوو دوروکې علمي نثرونه لرو
خو دعلوموله پرمختیا سره جوخت د پښتو په ځینو فرهنګي حوزو
کې معاصر علوم هم په پښتو بیان شول او دې خبرې دا ثابته
کړه چې پښتوکې هر ډول علوم بیانېدلی شي او دهغو کسانو
ادعاګانې ردکړې چې دا ژبه یې یوازې د محاورې او خبرو ژبه
بلله . پښتوکې ټول پرمختللي او پېچلي علوم بیانېدلی اوشریح
کېدلی شي . په معاصره دوره کې لږ و ډېر ټبلابل پرمختللي
علوم په پښتوکې بیان شوي دي .

معاصره دوره لا روانه ده ، امید دی چې پښتو نثرونه
د بېلابېلو څانګو او دعلومو په نویو ډګرونوکې خپلې وزرې
پرانیزي او د پښتو نثرونو ذخیره بډایه شي او له خپلو سیالو
منطقه یي ژبوسره په یو ډول خپله سیالي وساتي .

(٥) په معاصره دوره کې یوه بله ستونزه چې پښتني فرهنګ
ته را دمخه شوه هغه داوه چې د پښتنو د فرهنګي حوزو ترمنځ
بېلوالی راغی . دا بېلوالی د نیمې وچې له ویش او آزادۍ نه
وروسته دځینو سیاسي عواملوله امله په شعوري ډول زیات
شو . د فرهنګي حوزو خپرونې یوې بلې ته نه رسېدلې ،
رسم الخط ، املاء او اصطلاحاتوکې توپیرونه ولیدل شول

او خبره دي ته ورسېده چې ځينو کسانو په تبليغ کاوه، چې موږ د دې حوزې او د هغې حوزې په ليکنو نه پوهېږو. په وروستيو دوو لسيزوکې د پښتو دوو فرهنګي حوزو ته د افغانانو کتله‌يي مهاجرت او په فرهنګي مسايلو کې له يو بل سره برخې اخيستو پخوانۍ ستونزې يو څه لږې کړې، خو بياهم په دې برخه کې مشکلات شته، چې د ټولو فرهنګي حوزو د خواخوږو پوهانو په مشوره او لېدنوکتنو د حل لارې ورته پيدا کېداى شي.

## مآخذونه


(۱) روهي، کانديد اکادميسن محمد صديق، د پښتو د ادبي تاريخ دورې څنګه ټاکل کېداى شي؟، د ادبي تاريخ ميتودلوژي، د زلمي هېوادمل په زيار، د افغانستان د علومو اکاډيمی، کابل، حزبي مطبعه، ۱۳۶۷ هـ ش، ۳۵ مخ.

(۲) هېوادمل، زلمی فرهنګي حوزې، شمشاد (مجله)، د خوشحال فرهنګي ټولنه، د ۱۳۷۳ هـ ش کال ۲ ګڼه، ۲۲-۲۷ مخونه.

(۳) رفيع، حبيب الله، پښتو څېړونې، د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا آمريت، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ هـ ش، ۱۶ مخ.

(٤) غلام سرور هيډ ماسټر (مقاله) سرحد (مجله) پېښور، د ۱۹۲۶ ع کال د مارچ ګڼه، ۳ مخ.

(٥) بېنوا، عبد الرؤف، مرکه د پښتو، پښتو چاپي آثار، ۱۳۵۷ هـ ش، ۲ مخ.

(٦) رفيع، حبيب الله، ژبپالنه، د افغانستان د علومو اکاډيمی، کابل،

دولتي مطبعه، ۱۳۶۱ هـ ش، ۸۳ مخ.

(۷) وجدي، عبد الجليل، پښتو ادب اود له پیزی مفاهمې و سیلې، پښتو ژبه او ادب دیوویشتمې پېړۍ په درشل کې، د خیرمحمد عارف پښتو ادبي ملګری لورلاړي، (دچاپ کال نه لري) ۹۸ مخ.

(۸) بېنوا، عبد الرؤف، اودسني لیکوال، لومړی ټوک، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۴۰ هـ ش، ۳۷۴ - ۳۷۶ مخونه.

(۹) رفیع، حبیب الله، افغاني مهاجرو خپرونې په پېرون، نن او سباکې، سیمینار پنجم - شورای ثقافتی جهاد، اسلام آباد، ۱۳۷۱ هـ ش، ۱۷۵ مخ.

(۱۰) شباهنگ: بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، اتحادیهٔ نویسندگان افغانستان آزاد، پېښور، تاپ پرنترز، ۱۹۹۵ ع، ۹۳ مخ.

(۱۱) هېوادمل، زلمی: د پښتو لومړی اخبار طلوع افغان، پښتو چاپي آثار ۱۳۵۷ هـ ش، ۲۰۵ مخ.

(۱۲) انځور، زرین: په افغانستان کې د پښتو هنري نثر...، سپېدې، ۱۳۷۱ هـ ش کال، دویمه ګڼه، ۱۷۴ مخ.

(۱۳) انځور، زرین: په افغانستان کې د راډیوېي خپرونو تاریخي سیرته یوه کتنه، خپلواکي، د ۱۳۷۰ هـ ش کال، ۳ ګڼه، ۶۴ مخ.

(۱۴) هېوادمل، زلمی: دکره کتنې دولونه، دافغانستان دلیکوالو انجمن، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۷۰ هـ ش، ۱۶ - ۱۷ مخونه.

(۱۵) محک، عبید الله: په افغانستان کې د پښتو معاصرې کیسې پیلامه او عمومي جاج، شمشاد، ۱۳۷۰ هـ ش ۱ ګڼه، ۶۳ - ۶۴ مخونه.

(۱۶) زیار، پوهاند دوکتور مجاوراحمد: پښتو لیکلار، ننګرهار پوهنتون، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، کابل، ۱۳۶۰ هـ ش، ۲۹ مخ.

(۱۷) انځور، زرین: د افغانستان د معاصر و ادبیاتو دیوں لاري او څولاري، د افغانستان اوسني ادبیات (د مقالو مجموعه) د افغانستان کلتوري ټولنه، پېښور، ۱۳۶۹ هـ ش، ۱۸۷-۲۰۶ مخونه.
(۱۸) کتابنامه، کمیته دولتي طبع و نشر، کابل، مطبعه دولتي، اسد سال ۱۳۶۲ هـ ش، ۴۹-۵۲ مخونه.
(۱۹) متی زی، موسی محتاج: پښتو ژبه د اردو په څېړونو کې، پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلوکې، د ذلمي هېواد مل په زيار، کابل د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، دلوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، ۱۳۶۷ هـ ش ۱۹ مخ.
(۲۰) شباهنگ: بازسازی نهاد های فرهنگی افغانستان، اتحادیۀ نویسندگان افغانستان آزاد، پشاور، تاپ پرنترز، ۱۳۷۴ هـ ش ص ۷۳.
(۲۱) سنګروال، شهسوار: د ډرامې تاریخ او فن، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۱۹۹۳ ع، ۹۶ مخ.
(۲۲) انځور، زرین: اوسنی پښتو اخباري ژباړې: پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلوکې، ۱۳۶۷ هـ ش، ۲۵ مخ.
(۲۳) هېوادمل، زلمی: د پښتو علمي کېدل ...، پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلوکې، ۱۳۶۷ هـ ش، ۴۰ مخ.
(۲۴) هېوادمل، زلمی: د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه ...، تاپ پرنترز پېښور، ۱۹۹۵ ع، ۳ - ۵ مخونه
(۲۵) صمیم، محمد آصف: د پښتو جهادي کیسې نثر، د افغانستان اوسني ادبیات، د افغانستان کلتوري ټولنه، پېښور، ۱۳۶۹ هـ ش، ۳۰۵ مخ.

(۲٦) هما، محمد همایون : زموږ په صوبه کې د افغان په نوم مجلې ، پښتو (مجله) د ۱۹۹۵ع کال د اکتوبر گڼه ، ٤٨ مخ .
(۲۷) رفیع ، حبیب الله : په شلمه پېړۍ د پښتو ادب دودې لپاره نوې لورې او نوې لارې ، تماس ، ٦ گڼه ، ۱۹۹٦ع کال ، ۲۹ مخ .
(۲۸) محمد آصف خان : تاریخ ریاست سوات ، فیروز سنز لمټډ ، ۱۹۵۹ع کال ، ۲۸۱ مخ .
(۲۹) شاهین ، محمد پرویش : د پښتو او کوهستانې ژبو لسانې روابط ، په سرحدي صوبه کې ورمبی لساني او ثقافتي کانفرنس ، ۱۹۸٦ع کال ۷٦ مخ .
(۳۰) صابر ، سید صابر شاه : د رنا کانو محفلونه ، یونیورسټي بک ایجنسي ، پېښور ، ماسټر پرنټرز ، ۱۹۹٤ع کال ، ۷۲-۸۷ مخونه .
(۳۱) کاکاخېل ، پروفیسور تقویم الحق : شمال مغربي سرحدي صوبه کې د پښتو مطبوعه کتابونو دوه سوه کاله ، پښتو چاپي آثار ، ۱۳۵۷ هـ ش ، ۳۸۰ - ۳۸۱ مخونه .
(۳۲) انځور ، زرین : شلېدلې پنه پیدا شوه ، کابل مجله ، ۱۳٦٤ هـ ش ۱۰ - ۱۱ گڼه ، ٦۰ - ۷٤ مخونه .
(۳۳) اعظم ، دوکتور محمد اعظم ، لنډه کیسه ، شمشاد ، د ۱۳۷۲ هـ ش دویمه گڼه ، ۱۲ - ۱٦ مخونه .
(۳٤) زاخېلی ، راحت : ناول د ماه رخې ، د لطیف بهاند په زیار ، کابل پوهنتون ، د پوهنتون مطبعه ، ۱۳٦۳ هـ ش ، ۱ مخ .
(۳۵) خلیل ، هېښن : مرکه ، وفا جریده ، ۱۳۷٤ هـ ش د جدي د لسمې نېټې گڼه .
(۳٦) نصوادمل ، زلمی : د پښتو د عامیدلو او سراسري کېدلو دلایل ځینې خنډونه ،

پښتو، د ۱۹۹۵ ع د نومبر گڼه، ۱۳-۴۰ مخونه
(۳۷) رضا، پروفیسور محمد افضل : درامه یونیورسټی بک ایجنسی، ۱۹۹۵ ع، ۶۹ مخ.
(۳۸) سیال کاکړ، پروفیسور ولي محمد : پښتو او پښتانه سهیلي پښتونخوا کې، قلات پبلشرز، قلات پرنټنګ پرس، کوټه، ۱۹۸۱ ع، ۱۲۶ مخ.
(۳۹) سیال کاکړ، پروفیسور ولي محمد : دکسي د لمني پښتانه لیکوال، دوهم ټوک، بولان بک کارپوریشن، زمانه پرنټنګ پرس، کوټه، ۱۹۸۳ ع کال ۳۳۲ مخ.
(۴۰) بریالی، عبدالکریم: د بلوچستان پښتو ادب نژ کلیزه جاج، لیکنځی، اول ټوک پښتو اکاډمي، کوټه، ۱۹۸۴ ع، ۱۳۹-۱۴۰ مخونه.
(۴۱) کاکړ، ولي محمد خان (پروفیسر): دکسي د لمني پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، زمانه پرس کوټه، ۱۹۷۴ ع کال، ۱۰۴ مخ.
(۴۲) صدام، دوکتور کلیم الله : سهیلي پښتانه نثر لیکونکي، ایجوکشنل پرس، کوټه، ۱۹۸۵ ع کال، ۶۹ مخ.
(۴۳) رفیع، حبیب الله : د پښتو ننۍ ادب، د افغان یاد، د زلمي هیوادمل په زیار، کابل پوهنتون، دولتي مطبعه، ۱۳۶۰ هـ ش کال، ۱۰۱ مخ.
(۴۴) خټک، عبدالغني خان : کراچۍ کې د پښتنو حالت، پښتون کلچرل سوسایټي اسلام آباد، د چاپ کال نه لري، ۵ مخ.
(۴۵) نیکولای دوریانکوف : خوشحال خټک او د پښتو د کلام د انکشاف په تاریخ کې د هغه مقام، ننګیالی پښتون، د سرمحقق معتمد په زیار، پښتو ټولنه کابل دولتي مطبعه، ۱۳۴۵ هـ ش کال، ۱۷۰-۱۷۷ مخونه.
(۴۶) ګیریس، ګیورګ فیودوروویچ : د پښتو تاریخي سندري، د ختیځپوهنې انستیتوت، مسکو، د علومو مطبعه، ۱۹۸۴ ع کال، ۲۷۹-۲۸۰ مخونه.

# نتیجه او وړاندیزونه

دا کتاب چې په اوو څپرکو کې بشپړ شوی دی، په دریو ادبي دورو او څو بېلابېلو پړاوونو کې یې د پښتو نثر د پیدایښت او پرمختیا سیر څېړلی دی او دا یې راوښوده چې د معلومو اسنادو له مخې پښتو نثر څنګه پیدا شو او څه ډول یې پرمختیا او پراختیا وموندله.

د کتاب له مطالعې څرګنده شوه چې پښتو په خپلو شفاهي ادبیاتو کې هم څه داسې منثور ژانرونه لري چې د پښتو نثر په عمومي مطالعاتو کې یې موږ نښو هېرولی او اړیوچې د نثر مطالعه له همدغو شفاهي منثورو ژانرونو پیل کړو. د تحریري نثرونو د پیدایښت د لومړنۍ دورې یوازې یوه نیمه نمونه زموږ په واک کې ده او دې دورې ته مربوط د یو نیم بل کتاب نوم تر موږ را رسېدلی.

په لرغونو زمانو کې د پښتو نثر د پرمختیا او پراختیا لپاره دویمه دوره ډېره طلایي دوره ده، خو دا دوره هم په ابتداء کې د نثرلیکنې د یوه ناوړه جریان ښکار شوه او مسجع لیکنې دوران را پیل شو. د نثرلیکنې دې شېوې په دیني حلقو کې تر ډېره دوام وموند. دا پړاو لا د تکامل په حال کې و چې ځینو بادوقه پښتنو د مسجع لیکنې پیروي ونه کړه او داسې نثرلیکل یې

پیل کړل چې دژبې طبیعي جوړښت ته ورلنډ و . دې جریان
نور ډېر بیلو یان پیدا کړل او په بېلا بېلو پړاوونو کې یې د
احمد شاهي عصرتر پایه دوام وموند.

ددولسمې په آخرو او دیارلسمې پېړۍ په جریان کې پښتو
نثر لیکنه له ځینو ستونزو سره مخامخ شوه او خپل هغه بخواني
خوند رنګ یې له لاسه ورکړ او له یو ډول انحطاط سره مخامخ
شوه. خو دهمدې دیارلسمې پېړۍ په پای کې بیا پښتو نثرلیکنې
نوې غزونې وکړې او ځینې داسې پښتانه لیکوال راپیدا شول چې
دخپلې ژبې دنثر اصلاح اوسمون ته یې لېچې ونغاړلې. دغو
خلکو په پښتو نثر لیکنه کې ډېر تحولات راوستل او پښتو نثریې
په یوه پرمختللې بڼه دڅوارلسمې هجري پېړۍ یا د شلمی عیسوي
پېړۍ لیکوالو ته راورساوه.

شلمه پېړۍ چې د پښتو معاصرې ادبي دورې (یا دربېمې دورې)
سره مصادفه ده ، په دې پېړۍ کې پښتو نثر نوي نثري ډولونه
او ژانرونه راخپل کړل . د هنري ، عادي او علمي نثر بلا کتابونه،
رسالې ، مجموعې او مقالې ولیکل شوې او پښتو نثرلیکنه یوه داسې
پړاو ته راورسېدله چې د لا زیاتې ودې له پاره یې تازه اونوي
افقونو خپلې غېږې ورته پرانیستې.

په معاصره دوره کې پښتو نثر دخپلې پرمختیا سره له ځینو
ستونزو او مشکلاتو سره هم مخامخ و اولا دی . هغه مشکلات
زما له نظره دا دي :

(۱) د مخه تر دې مې هم یو ځای ورته اشاره وکړه ، لومړنی

ستونزه چې د پښتو نثرونو د لیک او لوست په برخوکې د دې ژبې ویونکي ور سره مخ کړي دي هغه د فرهنګي حوزو ترمنځ د بېلتون او د همکاریو د نه موجودیت خبره ده.

(۲) بله ستونزه د ژبې ده. دا په دې معنیٰ چې هنري نثر ځانته بېله ژبه لري او حتی په هنري نثرونوکې د نمایشنامې، لنډې کیسې، رومان او ورو حکایتي طنزي ټوټو ژبې هم په خپلوکې لږ و ډېر فرقونه سره لري.

د عادي نثرونو ژبه بیا له هنري نثرونو بېله ده. په دې نثرونوکې هم د سفرنامې، سفري ګزارشونو، ژورنالستیکو ژانرونو، عادي اخباري مقالو اولیکونو ژبې یو تر بله لږ و ډېر توپیرونه سبیي، خو عمومي اډانه یې یوه وي. او د علمي نثرونو د ژبې په باب خو څېنې پوهان دا وایي چې د دې ډول نثرونو ژبه هم باید دوه جمع دوه، مساوي څلور غوندې مثالي وي، اضافي حشو زواید پکې نه وي، موضوع باید توضیح او تشریح کړي او راسا په خپل هدف پسې ولاړ شي، له هر ډول کنایو او استعارو پرته روښانه او څرګنده خپله په مخه کړې موضوع تفسیر، تحلیل او وڅېړي.

اما له بده مرغه چې زموږ په ټولو فرهنګي حوزوکې ټول لیکوال نه، خو زیاتره خپلې موضوع او خپل تر لیکنې لاندې ژانر ته په پاملرنه د لیک ژبه نه عیاروي او هر ډول نثر د خپل هغه سبک تابع کرځوي چې ده به خپله لیکوالۍ کې غوره کړی دی.

(۳) سره له دې چې په شلمه پېړۍ يا درېيمه ادبي دوره کې د تېرو دورو په پرتله پښتو نثر زياته پرمختيا ومونده، او د نظم تسلط يې تر اغېز لاندې راوست، خوله دې سره سره زموږ په ژبه کې په دې معاصره دوره کې هم نثر د پرنه دی.

تاسې به په همدې کتاب کې لوستي وي چې په دې دوره کې د هرې فرهنګي حوزې په ليکوالو کې يوازې نثر ليکونکي ډېر محدود کسان دي. اکثر ليکوال داسې دي چې نظم هم ليکي، څينې خو اساسًا څوک د نثرنګار په نامه نه پېژني، خو داچې نثر يې ليکلی دی، نو ځکه مايې يادونه کړې ده.

زموږ مشران فرهنګيان دې نقيصې ته متوجه وو او تل يې دې خبرې ته زور ورکړی چې بايد په پښتو کې نثر زيات شي. اروابناد راحت زاخېلي د خېبل افغان اخبار د ۱۹۴۹ع کال د جون د ۲۴ مې يا هغه کال د ۲۵ ګڼې سرمقاله په پښتو کې د نثر د ډېروالي ضرورت موضوع ته وقف کړې ده او داې ويلي دي چې ژبه هغه وخت د خپلې ترقۍ پړاو ونه وهلی شي چې نثر ليکونکي يې کې زيات شي او نثري ژانرونو ته انکشاف ورکړ شي.

د دې دوران نوميالی ليکوال اياز داؤد زی په ۱۹۵۸ع کال کې د خپلواک مجلې په يوه ګڼه کې د نثر د زياتوالي پر موضوع سودمنې خبرې کړې دي او زموږ مشر استاد بينوا هم رښتين هم خو هم ش د نثر د زياتوالي پر اړه تياوو څينې نکات ويلي او نشر کړي دي.

اوس نو د غو ستونزو ته په پاملرنه د موضوع په ارتباط د غه لاندې پيشنهادونه سره وړاندې کولی شي:

(الف) د پښتو د ریو و اساسي فرهنګي حوزو: افغانستان، سي حد او بلوچستان ترمینځ چې د سیاسي ملاحظو له مخې په فرهنګي ساحو کې کوم بېلتون راغلی دی. د دې بېلتون اناله دوروستیو دوو لسیزو مهاجرتونو یو څه کړې ده، امابیا هم لاستونزې شته. لومړنی ستونزه د رسم الخط او املایي وحدت مسأله ده، چې که څه هم د پېښور پښتو اکیډیمۍ په ۱۹۹۰ع کال کې د لروبر پښتنو ترمینځ د املایي وحدت لپاره یو سیمینار جوړکړی وه. هغه فیصلې چې په هغه سیمینار کې شوي دي په خپله برخه کې ارزښتمنې دي، مګر دغه فیصلې او د املایي وحدت مسأله نورکارته هم اړه لري او د پښتنو د دغو دریو فرهنګي حوزو یا صلاحیته استازي د ژبې او ادب متخصصین باید پردې موضوع نور هم کار وکړي او د فیصلو د تطبیق او ترویج لپاره د جمعي مفاهمې له وسایلو استفاده وکړي او ځینې داسې لارې چارې پکار واچوي چې د املا او رسم الخط د بېلوالي اثرات د برژر زایل کاندي.

د رسم الخط تر څنګه بله موضوع د اصطلاحاتو ده. د اصطلاحاتو د یو والي لپاره هم کېدای شي یو علمي کمیسون کار وکړي او یا هم د اصطلاحاتو د یوهېدو لپاره یو عام فهمه فرهنګ جوړکړي. دا کار هم په نسبي ابتدایي بڼه شوی دی. ښاغلیو جمعه خان صوفي او نصیر هنرپښتون دغسې یو فرهنګ جوړکړی دی. دا فرهنګ باید غني شي او یا د دغه ډول نورو فرهنګونو تابیا وشي.

د دې فرهنګي حوزو ترمینځ د نشراتو د تبادله هم د ستونزې په حل کې موثریت لري او لوستونکي د ټولو فرهنګي حوزو

د لیکنو له طرفه سره اشناکیږي . ټګونه او راټګونه او په غونډو او سیمینارونو کې برخې اخیستې د فرهنګي نژدېوالي د يوې موثرې وسیلې په توګه کار ورکولای شي .

که څه هم د فرهنګي نژدېوالي لپاره دغه ټول شرایط او لوازم په سیاسي شرایطو او د هېوادونو ترمنځ په سیاسي اړیکو پورې اړه لري ، خو بیا هم د ټولو فرهنګي حوزو پښتنو ته باید د یووېشتمې پېړۍ په درشل کې دا حق ورکړل شي چې په خپلو منځو کې فرهنګي اړیکې ټینګ کړي او خپل ترمینځ موجودې فرهنګي ستونزې حل کاندي.

(ب) د نثري د ولونواوپه دې ډولونو کې د ژانرو د ډېر ښوعیت او جوړ ښت په باب باید د نثر لیکونکیو د پوهېدو او له دوی سره د مرستې په خاطر او ل خو د پښتنو د ټولو فرهنګي حوزو د پوهنتونونو په څانګو کې چې فارغان یې له لیکوالۍ سره اړیکه لري د ډېر ښوعیت تیاکېنې یو مضمون په درسي نصاب کې شامل کړل شي او هم د نورو لیکوالو د پوهېدنې لپاره باید د فرهنګ د روزنې اداري په دې موضوع کې کنفرانسونه، سیمینارونه او سیمپوزیمونه جوړ کاندي او لارښودي آثار دې نشر کړي .

(ج ) د نثر لیکونکیو د زیاتوالي لپاره لازمه ایسي چې د پښتونخوا په دوو فرهنګي حوزو کې پښتانه ماشومان په پښتو کې باسواده شي ، او س د دې سیمو اکثر پښتانه ماشومان په نورو ژبو کې باسواده کیږي او له خپلې ژبې او فرهنګ نه بېګانه روزل کیږي .

د دې ترڅنګه په ټولو فرهنګي حوزو کې د حرفه یي۔

ليکوالو زياتوب د ستونزې له حل سره ډېره مرسته کوي. په افغانستان کې د سواد د زده کړې او حرفه يي ليکوالو موضوع د هغه هېواد له شرايطو سره حل وه. که په افغانستان کې سوله ټينګه شوه دې چارته بايد نوره هم پراختيا ورکړل شي او د پښتونخوا په فرهنګي حوزو کې بايد د حرفه يي ليکوالو د پيدا کېدو او زياتوالي لپاره اکاډمۍ پراختيا پيدا کړي او په دولتي مرستو ولاړې انجمنونه جوړ شي او هم ځينې داسې لارې چارې خپلې کړل شي چې حرفه يي ليکوال زيات کاندي.

# ضميمې

ددې کتاب د موادو ټولولو او ليکلو کار پوره څلور، څلورنيم کاله وخت واخيست. په دې دوران کې به کله ځينې د اسې مواد لاس ته راتلل چې د کار بډو برخه به يې ماليکې وه، که مې د تصحيح په مهال کې په خپل ځای کې ځايول، نو يې خطاط ځوراوه، لازمه مې وبلله چې دغه نوي مواد او يا دوني په ضميمو کې ځای کړم. دا ضميمې له مقدمې نه شروع کېږي او تر آخره پسې دوام کوي:

[ ۱ ]

## په سريزې پورې مربوط :

الف: ما په سريزه کې هغه کارونه هم يادکړي دي چې د وروستيو پنځوسو، شپيتو کلونو په جريان کې د پښتو نثر د تاريخي سير د څېړنې په برخه کې شوي دي. کله چې ما سريزه د خطاطي لپاره خپل ګران دوست او ليکوال ښاغلي سيد محي الدين هاشمي ته ورکړه، نو يې چې مقدمه له خطاطۍ وروسته بېرته راکړه را ته يې وويل: د پښتو نثر سبکونه تر سرليک لاندې د ۱۳۲۳ هوش کال کابل کالنۍ د استاد الفت مقاله دې هېره شوې ده. د دې يا دونې منته مې له ښاغلي سيد محي الدين هاشمي صاحب څخه وکړه. بلوونځ د ايوپيا ستېلړی سنتر کتابخانې ته ولاړم او په کالنيو کې مې د الفت صاحب

مقاله پیداکېږي. مقالې له عنوان سره مطابقت نه درلود. له عنوانه سړی پوهېږي چې په مقاله کې به په تاریخي لحاظ د پښتو نثر د سبکونو جاج اخیستل شوی وي، خوچې سړی مقالې ته ګوري هلته یې د نثر لیکنې پر ژبنیو اړخو خبرې کړي دي او د پښتو نثر له تاریخي سوابقو سره اړه نه لري، نو ځکه دې مقالې زما له کار سره هیڅ اړه نه درلوده.

ب: د سرمحقق معتمد شینواري دوې مقالې له ما نه هېرې شوې دي، دا دواړه مقالې د پښتو نثر له تاریخي سیر سره اړه لري او د لته یې باید یادونه وکړم:

(۱) پښتو نثر په مختلفو دورو کې: دا مقاله له سلیمان ماکو نه تر مولوي احمد او منشي احمدجان او رضواني پورې د پښتو نثر عمومي جاج اخلي او ځینې عمده نثر لیکوونکي یادوي.(۱)

(۲) د پښتو هنري نثر ته یو کتنه: دا مقاله په افغان یاد (۲) نومې مجموعه کې چاپ شوې ده، د یاته برخه یې د ګیرس د هنري نثر کتابونه په لنډه توګه سره را اخیستل شوې ده.

باید ووایو چې دا دواړه مقالې ما په مقدمه کې اخیستې وای که هلته را نغلې، نو دا دی په ضمیمه کې یې ځای ورکوو.

ج: ما په سریزه کې په پښتو نثر شوی کار په انتقادي نظر هم کتلی دی او د دغو کارونو ځینې نیمګړتیاوې مې ښوولې دي. له نیمګړتیاوو څخه یوه نیمګړتیا دا وه چې ځینو دیو سړي آثار بل ته منسوب کړي دي.

---

(۱) شینواری، معتمد، سرمحقق محمداکبر، پښتو نثر په مختلفو دورو کې، کابل مجله، د ۱۳۵۹ کال لومړی ګڼه، ۳۱-۳۷ مخونه.

(۲) شینواری معتمد، سرمحقق محمداکبر، پښتو هنري نثر ته یوه کتنه، د افغان یاد، مدنلي هیوادمل په زیار، کابل پوهنتون، دولتي مطبعه، ۱۳۶۰ لمریز کال، ۱۵۹-۱۷۰ مخونه.

په دې لړ کې دیوه کتاب تېروتنه رانښایېي وه . د پښتو د نثر د تاریخي او تنقیدي جاېزه نومي اثر په ۳۴۱ مخ کې د عبدالله کندهاری دفتاوای احمد شاهي نمونه د مولوی عبدالرحیم خلیل د درمکنون برخه بلل شوې ده. چې سمه خبره نه ده . درمکنون د فتاوې پرحاشیه چاپ دی، هغه هم په ټول کتاب کې نه دی راغلی. متن ټول د فتاوای احمدشاهي دی.

د: اروانښاد عبدالحلیم په تېر هېر شاعران کې یو شاعر محمد علي غریب معرفي کړی دی او داېې ویلي دي چې ده په یو عربي درهم ـ الکیس یوه حاشیه لیکلې او د هغې په آخر کې لیکي: «د خدای د نعمتونو داظهار په طور سره وایم چې د احسان کوونکی رب فضلونه چې په ما شوي له حدا و حساب څخه زیات دی ... الخ» د دې حاشیې په بنا ی کې محمدعلي خپل تالیفونه معرفي کړي دی . د دې حاشیې د آخر برخه چې په تېر هېر شاعران کې راغلې دا غالباً اروانښاد د اثر له عربي یا دري نه ترجمه کړې ده او د محمدعلي غریب لیکلی نثر نه دی، ځکه چې خصوصیات یې د څورلسمې پېړۍ د اوایلو د نثرونو نه دي. اما د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جاېزه ۳۲۷ مخ کې دا نثرونه چې اروانښاد اثر ترجمه کړي د محمد علي غریب بلل شوي او همدارنګه د پښتو د نثر تاریخ په (۳۵۴-۳۵۵ مخونو) کې هم دا نثر د محمدعلي بلل شوی دی او همدغه محمدعلي غریب د یو نثر نګار په حیث پېژندل شوی دی. دا خبرې زما په خیال سمې نه دي؛ نه محمدعلي غریب پښتو نثر لیکونکی دی او نه هم د درهم الکیس د حاشیې اخري برخه ددهٔ ده، بلکه د محمدعلي د حاشیې ترجمه ده، چې اروانښاد اثر کړې ده ، که به محمد علی نثر لیکونکی وای او د درهم الکیس حاشیه په پښتو وای، استاد رښتین به ضرور د پښتو ـ

نثر هنداره کې اخیستی و.

[ ۲ ]

## د بازگشت ادبي جریان پورې مربوط:

د بازگشت د جریان په استازیو کې د اخون درویزه زوی اخون کریمداد هم د ده د دوو تمتو روانو نثرونو په اساس یاد شو، وروسته مې د ده په نامه د تحفهٔ خاني څرکم وایست، څنګه چې د تحفهٔ خاني په باب ما هلته خبرې نه دي کړې، نو ځکه لازمه بولم چې دلته یې یادونه وکړم.

د فنا وای تحفهٔ خانی په نامه یو کتاب په ۱۸۸۵ع کال په ډهلي کې چاپ شوی هم دی ( روهي ادب ٤٤٩ ) دا به غالباً هدا تحفهٔ خاني وي، چې نه دلته پرې خبرې کوم.

ما په یوه خطي مجموعه کې د تحفهٔ خاني یوه خطي نسخه ولیدله، چې ټولې ۸۲ پاڼې لري. مؤلف یې کریمداد سنبول شوی دی، کاتب یې محمد طاهر او د کتابت تاریخ یې نه دی ښودل شوی.

دا کتاب په پیل کې یوه مقدمه کوچنۍ لري، چې غالباً کریمداد کښلې ده او په دې مقدمه کې یې یوځای ویلي دي: «... اوپس له صفته اوله ثنا د خدای او پس له درود د پیغمبر... فقیر کریمداد زوی د مخدوم درویزه ننګرهاري داچې مسائل شوله کتابونو عربي او له فارسي دالفاظ د کفر په ژبه د پښتو پر کاغذ راوړې چې عام افغانو له په کار شي چې ځان د کفر له لفظونو وساتي او دا فقیر د ایمان په دعا یاد لري ...» د همدې رسالې

په پای کې یې کښلي دي: «زده کړه ای فرزنده چې دا ځای پوره دا مسالي د الفاظ کفر او مسالي د محرماتو له کتاب تحفهٔ خاني په ژبه د پښتو مې را وړې که د چا شبه کیږي او باوري په دې پښتو نه کیږي، په تحفهٔ خاني کې دې وګوري...»

لوستونکو ته به معلومه شوې وي چې د دې کتاب مسالي یې له عربي او فارسي کتابونو نه اخیستي دي او په آخر کې یې لیکلي دي چې له تحفهٔ خاني نه مې په پښتو راوړې.

ما چې د دې کتاب دوې نسخې لوستي دي او له خبره سمه ده چې دا مسالي له بېلو بېلو کتابونو نه اخیستل شوي دي، مګر دا چې په آخر کې یې د تحفهٔ خاني خبره کړې ده د دې خبرې د سپینا وله لپاره ما د لته په پېښور کې تحفهٔ خاني ولټاوه بیا مې نه موند، چې ورسره مقایسه شوې وای. چا راته وویل چې له ښاغلي دوکتور خالدخان سره تحفهٔ خاني شته. دوه درې ځله مې ځني وغوښت، خو موفق نه شوم چې تر لاسه یې کړم، نو ځکه له دې کتاب سره یې مقایسه پاتې شوه. اما ما ته د کریمداد خبرې سمې نه ایسي او دا ځکه چې:

(۱) دا رساله اصلاً د اخوند درویزه تألیف دی نه د اخوند کریمداد. اخوند درویزه د دې رسالې یوه برخه په پښتو او دري ګډوله روښ کښلي ده او ځینې برخې یې یوازې په پښتو کښلي دي. د امسالي یې له بېلا بېلو کتابونو استخراج کړي دي، نه مقدمه لري او نه مؤخره. د رسالې پر سر کښل شوي دي:

«این الفاظ کفر است از تصنیف اخوند درویزه قدس سره العزیز بلفظ افغانی بیان کرده.»

(۲) کریمداد چې د خپل پلار نتول آثار یې را نتول کړي دی ، دې رسالې ته یې هم یوه مقدمه او یوه لنډه مؤخره وراچولې ده او هغه مسائل چې اخوند درویزه په دوو ژبو (پښتو - دري) لیکلي دي د دري برخې یې پښتو کړي دی ، چې بیا وروسته دفتا وای تحفهٔ خانی په نامه یې یوالرحمٰني جوړکړی چې چاپ شوی هم دی او دکریمداد د بلل شوی دی، سړی دا حکم سل په سلو کې نشي کولای چې کریمداد به خپله دا رساله څانته منسوبه کړی وي او که به نورو وروستیو کاتبانو دا کار کړی وي .

لنډه دا چې تحفهٔ خانې نومي اثر کې مقدمه او لنډه مؤخره دکریمداد دی او د څینو مسالو د دري برخو پښتو ترجمی دده دی ، نوره رساله دا خوند درویزه (۳) ده ، دمقدمې او مؤخرې نثر د رسالې د متن له نثر سره د سبک له نظره هم فرق لري .

[۳]

په کومه مجموعه کې چې د تحفهٔ خانی خطي نسخه موجوده ده له هغې سره یوځای یو بله منثوره رساله هم شته چې نوم یې دی : « مقصود الطالبین » پا ئې یې ښخوس دی او قطع یې وړه ده . د دې رسالې مؤلف نه دی معلوم ، په عام ډول دعلم په فضیلتونو خبرې لري . رساله په بابونو ویشل شوې ده. دڅو بابونو عناوین یې دا دي : باب دی په بیان چې واجبو یې او دس ، باب دی په بیان دا دبو نه د چارچوبه دنه وتل ، باب دی په بیان دیاکی ، باب دی په بیان د دعاکول او نور... په پای کې یې د مسواک بحث راغلی دی .

د دې رسالې په تألیف کې مؤلف له ډېرو رسالو څخه استفاده کړې ده ، لکه : شعب الایمان ، خلاصه ، تعذیبیه ، مرقاة ، منیه ، محیط ، مختصر طیبی ، فتاوای کبیري ، فتاوای خزانه، شرح وقایه، احیاء العلوم، شمایل ترمذي، عین العلم ، نورالعین، خزانة المتقین، خزانة الروایات او نور . . . .

د دې رسالې په پای کې راغلي دي : « تمام شوه رساله چې نوم یې « مقصود الطالبین دی.

په دې کتاب کې هم مطالب د مسألو په شکل بیان شوي دي، لکه : مساله : سړی دی په دعا کې خپل طاعت او عبادت چې یې کړی وي په نیه کې دې نه ګرځوي او نه کړې ګناه دې یاد وي چې دا دواړه ښه نه دي ، نقل له عین العلم دی.

دا د نثر دیوولسمې پیړۍ د بازګشت د پېر د نثرونو خوند رنګ او کړه وړه لري او وړې شي چې دا رساله د اخوند درویزه د کورنۍ د کیدا د لیکلې وي ؛ ځکه له تحفهٔ خاني سره یوځای په یو خط په یوه قطع خطاطي شوې ده. دا دواړه نسخې په یوه وقایه کې د پېښور آرشیف په خطي مجموعه کې ساتل کېږي.

[ ٤ ]

د بازګشت جریان د یوه نوي تمایل پر بنا ښه پسې ترقي وکړه په دې نوي تمایل کې ځینې داسې لیکوال راپیدا شول چې پښتونثر یې له دري سره مخلوط وکېښ او یو کډوله سبک یې رامنځ ته کړ. د دې سبک تابع کوم آثار چې ماښو ولي دي په هغو کې یو هم

معدن المسایل دی . د معدن المسایل نسخه چې ما وکتله، په ربړ نسخ
کې ځینې مسایل په دریو ژبو، پښتو، دري او اردوهم راغلي دي .
له دې برسېره یو کتاب چې هلته یاد شوی نه دی او د ګډوله
سبک تابع دی، د اکتاب د یاد ښتونو په بهه تهیه شوی دی، پتولې
پاڼې یې ۸۳ دی او د پېښور آرشیف په کتابونو کې په ۲۲٤ نومره
قید دی . ځینې سنې چې پکې راغلي دي له هغو څخه یوه د ۱۹۲۱ع ده.
په دې یاد ښتونو کې مسایل په دې ګډوله سبک راغلي دي، لکه:
... بدیع المیزان ته څه کوې په قاضي مسلم کې چې په ماباندې
څای یاد کړی څه څواب درکولی شم او افتاده بود من سفیدجامه
از او روان شدم اما رنګم قدری زرد وار آفتاب نمازدیګر بود بعد
دردل ګفتم هلکه په بدیع المیزان کې که سوال درباندې وکړي
بدیع میزان سخت کتاب ده، بیا به جواب ور نه کړې دردل ګفتم...

## [ ۵ ]

## په پنځم فصل پورې مربوط:

په دې فصل کې د منثورو تجویدونو معرفي راغلې، څو
په هغو کې د مفتاح په نامه د یو تجوید یادونه نه ده شوې.
دا تجوید ښاغلي رفیع صاحب د پښتو اکېډېمۍ پېښور د خطي
نسخو په فهرست کې معرفي کړی دی او دایې و یلي دي چې نومره
یې ۱۱۱۸ ده. د دې تجوید پیل په څو بیتونو شوی دی. وروسته
منثوره برخه پیل شوې ده. د دې تجوید مؤلف عبدالله نه دی.
د دې تجوید د نثر روش دا دی: „ اومذهب دعلمای صوفی

دا دی چي د وی وایي چې نفس تجوید فرض دی په حق د عرب کې او ترتیل واجب دی ... »

دانش هم د دیار لسمې پېړۍ د نثر و نو تابع دی، کومه ځانګړې بڼه نه لري.

[٦]

(الف) د پنځم فصل په وروستیو برخوکې ما د نبیانو د ځینو صحایفو او کتابونو پښتو ترجمې راوړې او ښوولې وې، په دې کې دا لاندې کتاب رانه پاتې شوی و، چې دلته یې معرفي کوم:

د دې کتاب پر سر ورقه یې کښلي دي: کلام الله، تر لاندې نبوت، بیا تر یې لاندې نبیان کشراز لیکل شوی دی. دا کتاب په لندن کې چاپ شوی او غلام جیلاني کاتب لیکلی دی او دا یې هم ورته کښلي دي چې له اصلي عبراني ژبې نه پښتو شوی دی.

په دې کتاب کې دغه لاندې مطالب راغلي دي:

د موشع نبي کتاب، څوارلس بابه لري، ۱-۱۸ مخونه، د یو ئیل نبي کتاب د رې بابه ۱-۷ مخونه، د عاموس نبي کتاب، ۹ بابه ۱٤ مخونه، د عوبدیاه نبي کتاب ٤ بابه ۵ مخونه، د میکاه نبي کتاب، ۷ بابه لس مخونه، د نحوم نبي کتاب، درې بابه خلور مخونه، د حبقوق نبي کتاب، ۳ بابه ٦ مخونه، صفنیاه نبي کتاب، درې بابه، پنځه مخونه، د حجي نبي کتاب، دوه بابه څلور مخونه، د ذکریاه نبي کتاب، څوارلس بابه ۲۱ مخونه، د ملاکي نبي کتاب ٤ بابه ٦ مخونه.

د نبيانو د دعوکتابونو پښتو داسې ده: «د خداوندکلام شروع چې د هوشع په وسيلې راغی، خداوند هوشع ته وفرمايل چې لاړ شه يوه زناکاره ښځه .....»

(ب) په همدې پنځم فصل کې د عيسوی دين د تبليغی کتابونو په لړکې مانه يو بل پښتو کتاب هم شوی و، چې د سرحدي لوتهرن کليسا مردان له خوا په ۱۹۵۱ع کال چاپ شوی دی. دا کتاب تقويت الايمان نومېږي او مؤلف يې جے کرستهنس دی. دا د پښتو نثر يو پنځه کتاب دی، مخونه يې تر ۵۵۰ زيات دی. داکتاب نه يوازې د جے کرستهنس د نثرونو يوه غټه ذخيره موږ ته راښيي له دې سربېره يو دې کتاب چې کوم تمهيدي بيانونه ليکل شوي، ځينو نورو پښتنو پادريانو د نثر نمونې هم راښيي لکه د پادري سمسون خان نيازي او د پادري ايم، اے، تايب د جے کرستهنس د ليک نمونه داده: «له ډېرې مودې پښتانو او مشتريانو دوارو ماته سوال کړے دے چې د يوره کال وعظونه جمع کړه او چاپ کړه - زما همېشه دوه جوابونه وو... »

د پادري سمسون خان نيازي ليک دا ډول دی: «د دی کتاب مصنف ماته د تمهيد ليکلو له پاره عرض کړی دی او زه د هغه د دې درخواست د پاره شکرگذار يم، ولې چې زه خپلو هم مذهبو خلقوته او اهل الکتاب خلقوته ويل غواړم . »

د پادري ايم، ای تايب د ليک شېوه: «په پښتو کې د داسې کتاب حاجت له شروع نه وه، چې په ترتيبي طورسره د کتاب مقدس مقاصد و مطالب په کې په داسې شان بيان کړی شي چې عام پادريان عموماً

اوخاص هغه پښتانه متلاشیان او مبلغان چې انګرېزي نه یو هېږي
ترې پوره، پوره رښا حاصلولی شي .

[۷]

## په شپږم څېرکي پورې مربوط :

په دې څېرکي پورې مربوط یو نثرلیکونکی له مانه پاتې دی
چې اوس یې په دې ضمیمه کې یادوم :

دا نثر لیکونکی محمد یوسف احمدی قاضي خېل دی، چې
د هوتي مردان اوسېدونکی و. ده د څوارلسمې پېړۍ په دریمه
لسیزه کې ځینې کتابونه په پښتو نثر لیکلي او یا ترجمه
کړي دي ، چې دا کتابونه منظومې برخې هم لري .

هغه کتابونه چې محمد یوسف احمدي قاضي خېل(۱۳۰۲ هـ ق
زوکړې) ترجمه کړي یا لیکلي دي ، دا دي :

نزول مسیح ، آثار قیامت ، عقاید احمدیه ، رساله
خروج دابة الارض ، خروج دجوج ماجوج ، خروج
دجال ، رسالهٔ تحفة النبوة ، الاسلام ، التبلیغ .

له دې رسالو سربېره دی ځینې نور منثور آثار هم
لري. د ده د نثر لیکنې روش دا دی :

دا عاجز قاضي محمد یوسف احمدی مصنف ددې
کتاب په ۲۸ د شوال سنه ۱۳۰۲ هـ ق کې په مقام د
هوتي کې پیدا شوی وه . هغه تبر او خاندان چې زه

(مصنف) ورکړه پیدا شوم عرب قریش دی او د سیدنا
امیرالمؤمنین حضرت عمر فارق اعظم ... اولاد دی. د عرب
نه په ابتدای فتوحات د اهل عرب کې افغانستان ته راغلی وو
او بلخ کې اوسیدل او حکومت یې لاره ... ››

دا نثرونه د دې کتاب د شپږم څپرکي د اصلاحي پړاو
له څینو نثرونو سره اړخ لګوی او په دې پړاو کې د
مطالعې ځای لري .

# دماُخذونو فهـــرست

په دې فهرست کې زیاتره دخارجي منابعو او دچاپي داخلي منابعو یادونه کېږي ، خطي منابع او ځینې نور اسناد په متن کې او دهرځپرکي په پای کې معرفي شوي دي ، دلته نه راوړل کېږي .


(۱) آخوند گدا : نافع المسلمین ، مطبع فیض عام دهلی ، ۱۳۰۲ هـ ق .

(۲) اباز ی ، مولوي عبدالرحمن : چهار چمن نو بهار ، مطبع خادم اسلام ، دهلی ، ۱۳۰۹ هـ ق .

(۳) اثر ، عبدالحلیم : تیرهېر شاعران ، پښتو اکیډیمي ، پېښور ، پبلک آرټ پریس ، پېښور ، ۱۹۶۳ ع .

(۴) اثر ، عبدالحلیم : پښتو ادب ، ادارهٔ اشاعت سرحد ، پېښور ، ۱۳۷۰ هـ ق .

(۵) احمد (مولوي) : تاریخ سلطان محمود ، کلید افغاني ، لاهور ، ۱۸۷۲ ع .

(۶) احمد (مولوي) : گنج پښتو ، کلید افغاني ، لاهور ، ۱۸۷۲ ع .

(۷) احمد جان (منشي) : د قصه خوانۍ گپ ، د قلندر مومند په زیار ، چاپځی ، پېښور ۱۹۸۵ ع .

(۸) ارباب محمد یعقوب خان : په پښتو نثر د عربي اثر ، پشاور یونیورسټی جرنل ، ۱۹۷۹ ع .

(۹) اعظم پروفیسور محمد اعظم : پښتو ادب کې کردار نگاری ، پښتو اکیډیمي ، پېښور ، ۱۹۹۳ ع .

(۱۰) اعظم پروفیسور محمد اعظم : پښتو افسانه ، عظیم پبلشنگ هاوس ، منظور عام پریس ، پېښور ، ۱۹۷۶ ع .

(۱۱) اعظم پروفیسور محمد اعظم : لنډه کیسه ، شمشاد ، ۲ گڼه ، ۱۳۷۲ هـ ش .

(۱۲) افضل الدوله ، افضل خان : تفسیر افضلیه ، پښتو اکیډیمي ، پېښور ، ۱۹۹۲ ع .

(۱۳) افغاني ، پروفیسور عبد المجید : جمال افغاني ، آگره ، ۱۹۲۱ ع .

(۱۴) اکبر پوری محمد رفیق (مولوی) : تفسیر محمدی ، مطبعهٔ تحفهٔ هند دهلی ، ۱۳۲۲ هـ ق .

(۱۵) اکبر پوری مولوی محمد رفیق : دیوان شمس الفلک ، د زلمي هېوادمل په زیار ، پښتو اکیډیمي ، پېښور ، ۱۹۹۳ ع .

(۱۶) الف گل باچا : لیکوالی (املاء - انشاء) ، پښتو ټولنه ، کابل دولتي مطبعه ، ۱۳۳۹ هـ ش .

(۱۷) الفنستون، مونټ سټوارټ: د کابل سلطنت بيان، لومړی ټوک، مترجمين کاکړ او سوېمن، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، کابل، ۱۳۵۹ هـ ش.

(۱۸) الهام، پوهاند دوکتور محمد رحيم: محمد هوتک او محمد يو شاعر که بېل کسان دي؟ د نازو انا ياد، د محمد اسمعيل يون په زيار کابل، آريانا مطبعه، ۱۳۷۰ هـ ش.

(۱۹) الهام پوهاند دوکتور محمد رحيم: د پټې خزانې پر سبک باندې يو ځغلند نظر، د امير کروړ ياد، د زلمي هېواد مل په زيار، پښتو ټولنه، کابل، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۶۴ هـ ش.

(۲۰) انځور، زرين: پر پښتو ژبه لومړنی ژباړل شوی ناول کوم دی؟ کابل مجله، ۱۰-۱۲ گڼه ۱۳۶۶ هـ ش.

(۲۱) انځور، زرين: د پښتو کيسه ليکنې د بوې نوې پامنې څېړنه، کابل مجله، ۶-۷ گڼه، ۱۳۶۶ هـ ش.

(۲۲) انځور، زرين: په افغانستان کې د را د يوې خپرونو تاريخي سيرته يوه کتنه، خيلوکی، ۳ گڼه، ۱۳۷۰ هـ ش.

(۲۳) زرين، انځور: په افغانستان کې د هنري نثر...، سپېڅلی، دويمه گڼه، ۱۳۷۱ هـ ش.

(۲۴) زرين، انځور: د افغانستان د معاصرو ادبياتو ديو لارې او څو لارې، د افغانستان اوسني ادبيات، د افغانستان کلتوري ټولنه، پېښور، ۱۳۶۹ هـ ش.

(۲۵) انځور، زرين: اوسنی پښتو اخباري ژباړې. پښتو د جمعي مفاهمې په وسايلو کې، د زلمي هېوادمل په زيار، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، کابل، ۱۳۶۷ هـ ش.

(۲۶) انځور، زرين: شلېدلې پڼه پيدا شوه، کابل مجله، ۱۰-۱۱ گڼه، ۱۳۶۴ هـ ش.

(۲۷) بايزيد روښان: خيرالبيان، د پروفيسور قاسمي په زيار، پښتو اکيډمي پېښور، دويم چاپ، ۱۹۸۸ع.

(۲۸) بايزيد روښان: مقصود المومنين، د وکتور ميرولي خان مسعود په زيار، مجمع البحوث الاسلاميه، اسلام آباد، ۱۹۷۶ع.

(۲۹) بخاري، خيال: پښتو ادب کی تاريخ (تيسرا دور) تاريخ ادبيات مسلمانان پاکستان وهند، جلد ۳، پنجاب يونيورسټي، لاهور، ۱۹۷۱ع.

(۳۰) بخاري، خيال : قصې د ايسپ الحکيم ، پښتو مجله ، دسمبرگڼه، ۱۹۶۹ع

(۳۱) بخاري، فارغ : پښتو ادب کی تاریخ (ابتد ائی دور) تاریخ ادبیات مسلمانان هند و پاکستان، ج ۱۳، ۱۹۷۱ع .

(۳۲) بختانی، سرمحقق عبدالله : پښتانه شعراء ، څلورم جلد ، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۷ هـ ش .

(۳۳) بختانی ، سرمحقق عبدالله : په پښتو ادب کې د روښاني آثارو مقام، د روښان یاد، دحبیب الله رفیع په زیار ، کابل ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵ هـ ش .

(۳٤) بختانی، سرمحقق عبدالله: پښتانه شعراء ، پنځم ټوک ، پښتو ټولنه،کابل، ۱۳٦۷ هـ ش .

(۳۵) بریالی، عبدالکریم : د بلوچستان د پښتو ادب زرکلیز جاج ، لیکنۍ ، پښتو اکاډمی کویټه ، ۱۹۸٤ع .

(۳٦) بیلیو: پښتو ګرامر، څلورم چاپ ، لاهور ، ۱۹۸۳ع .

(۳۷) بېنوا ، عبدالرؤف : اوسنی لیکوال، لومړی ټوک ، کابل ، ۱۳٤۰ هـ ش .

(۳۸) بېنوا، عبدالرؤف : مرکه د پښتو ، د پښتو چاپي آثار ، د بختاني په زیار ، د پښتو پراختیا او پرمختیا آمریت ، کابل، ۱۳۵۷ هـ ش .

(۳۹) پښتو ټولنه: پښتانه شعراء، دریم ټوک، دوهم چاپ ، کابل ، ۱۳٤۲ هـ ش .

(٤۰) پوپلزی، غلام محمد : مدوجزر اسلام، مطبعۀ خادم الاسلام ، ۱۳۱۰ هـ ق .

(٤۱) پوپلزی، غلام محمد: حقوق اولاد ، مطبع فاروقي دهلي، ۱۳۱۵ هـ ق .

(٤۲) پیر معظمشاه : تواریخ حافظ رحمت خانی ، دویم چاپ ، د پروفیسور نوازخان طایر په زیار، پښتو اکیډیمي پېښور ، ۱۹۸۷ع .

(٤۳) تاربرن : بنو یا زمون افغاني سرحد، لاهور ، (دوهم چاپ) ۱۹۷۸ع .

(٤٤) تږی ، پوهاند دوکتور حبیب الله : د تواریخ حافظ رحمت خاني روایت ته بوه کتنه ، وفا ، ۵-٦ گڼه ، ۱۳۷٤ هـ ش .

(٤٥) جاوید، پوهاند دوکتورعبدالاحمد: قدیمترین آثار چاپ شدهٔ پښتو، پښتو چاپي آثار، کابل، ۱۳۵۷ هـ ش.

(٤٦) جعفری، ضیاء: پښتو ادب، کراچي، ۱۹۵٦ع.

(٤٧) جلال آبادی، میافقیرالله: کیمیای سعادت، د زرین انځور په زیار، د اسلامي علومو مرکز، کابل، ۱۳٦۷ هـ ش.

(٤٨) جهانی، عبدالباری: ملي هنداره ته نوي کتنه، پښتو چاپي آثار، ۱۳۵۷ هـ ش.

(٤٩) جیمز دار مستیټر: د پښتو نخوا د شعر هار و بهار، د حبیب الله رفیع په زیار، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵٦ هـ ش.

(۵۰) چراغ حسین شاه (دوکتور) تذکرهٔ پیر سباک، پشاور، ۱۹۸۹ع.

(۵۱) حاجی محمد: تجوید محمدي یا تجوید احمدي، مطبعهٔ نولکشور، ۱۲۲۵ هـ ق.

(۵۲) حبیبي، پوهاند عبدالحی: د خوشحال ختک د جهانداری نظریه، ننګیالی پښتون، د معتمد په زیار، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٤۵ هـ ش.

(۵۳) حبیبي، پوهاند عبدالحی: د پښتو د ادب تاریخ، (د دریم صنف لپاره)، کابل پوهنتون، ۱۳٤۷ هـ ش.

(۵٤) حبیبي، پوهاند عبدالحی: پښتو نثر ته کره کتنې، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٦۰ هـ ش.

(۵۵) حبیبي، پوهاند عبدالحی: د پټې خزانې د دریم چاپ مقدمه، د پښتو د انکشاف او تقویې ریاست، کابل، ۱۳۵٤ هـ ش.

(۵٦) حبیبي، پوهاند عبدالحی: د ګوهرخان ختک قلب السیر، وږمه (مجله) کابل پوهنتون، ٤ ګڼه، ۱۳٤۱ هـ ش کال.

(۵۷) حبیبي، پوهاند عبدالحی: نومورکي مورخین، کابل پوهنتون، ۱۳۵۹ هـ ش.

(۵۸) حبیبي، پوهاند عبدالحی: یو پښتو تذکرة الاولیاء یادښت، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٦۱ هـ ش.

(۵۹) حبیبي، پوهاند عبدالحی: تاریخچهٔ سبکهای شعر پښتو، کابل کالنی، ۱۳۱۹ هـ ش.

(٦٠) حبیبي، پوهاند عبد الحی : پښتانه شعراء، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۲۰ هـ ش .
(٦١) حبیبي پوهاند عبد الحی : د ملتان لودهی شاهي کورنۍ، د زلمی هیوادمل ترجمه، پښتو څیړنې، کابل، ۱۳۶۷ هـ ش .
(٦٢) حبیبي، پوهاند عبدالحی : د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک، دوهم چاپ، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٤۲ هـ ش .
(٦٣) حبیبي، پوهاند عبدالحی : تاریخچه شعر پښتو، طلوع افغان، کندهار، ۱۳۱٤-۱۳۱۵ هـ ش
(٦٤) حبیبي، پوهاند عبد الحی : پښتو نثر له نولسمې پېړۍ راهیسې، پښتو چاپي آثار، ۱۳۵۷ هـ ش .
(٦۵) حسن یار، پوهاند دوکتور سید امیرشاه : مصاحبه، وفاجریده، ۱۹-۲۰ ګڼه، ۱۳۷٤ هـ ش کال .
(٦٦) خادم، قیام الدین : د پښتو نثر تطورات او نثار انو تذکره، کابل کالنۍ ۱۳۱۹-۱۳۲۰ هـ ش .
(٦٧) خادم، قیام الدین : دستارنامې ترېوه کتنه، توریالی پښتون، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۰ هـ ش
(٦٨) خان روښن خان : راغلی لیک، (پښتو مجله)، د اکتوبر ګڼه، ۱۹۷۹ ع .
(٦۹) خانعلوم، قاضي محمد غوث : د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرح، د پوهاند رشاد له سریزې سره، د پښتو انکشاف او بیاوړتیا آمریت، ۱۳۵٦ هـ ش .
(۷۰) خاورې، غوټۍ : پښتو شفاهي ادبیات، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٦٦ هـ ش .
(۷۱) خاورې، غوټۍ : د ننګرهار نکلونه : پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٦۸ هـ ش .
(۷۲) خیل، هارون : آفریده های مهجور علامه حبیبي، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦۷ هـ ش .
(۷۳) خټک، اجمل : پشتو ادب اټک کے اسپار، ګوشهٔ ادب لاهور (چاپ کال نه لري)
(۷٤) خټک، افضل خان : بازنامه، د همېش خلیل په زیار، ادارهٔ علم وفن پاکستان، ۱۹۹٤ ع .
(۷۵) خټک، افضل خان : تاریخ مرصع، د استاد کامل په زیار، پېښور، ۱۹۹٤ ع .
(۷٦) خټک، خوشحال خان، فراقنامه، د زلمي هیوادمل په زیار، کابل پوهنتون، ۱۳٦۲ هـ ش

(۷۷) ختک، خوشحال خان: دستارنامه، د پردل خان ختک په زیار، پښتو اکیډیمي پېښور، ۱۹۹۱ع کال.
(۷۸) ختک، خوشحال خان: سواتنامه، د همېش خلیل په زیار، پېښور ۱۹۸۵ع
(۷۹) ختک، دوکتور راج ولي شاه: پښتو مجله، خوشحال نمبر، ۱۹۸۰ع.
(۸۰) ختک، دوکتور راج ولي شاه: د پښتو ادبي تحریکونه، پښتو اکیډیمي، پېښور ۱۹۸۹ع
(۸۱) ختک، صدرخان: آدم خان درخانۍ، د پروفیسور نواز طایر په زیار، پښتو اکیډیمي، پېښور، ۱۹۸۹ع.
(۸۲) ختک، صفي الله: مخزن الاسرار د صاحبزاده عبدالحی په زیار، لاهور، ۱۳٤۲ هـ ق.
(۸۳) ختک، عبدالغني: کراچۍ کې د پښتنو حالت، پښتون کلچرل سوسایټی، اسلام آباد (د چاپ کال نه لري)
(۸٤) ختک، عبدالقادرخان: د عبدالقادرخان ختک دیوان، د نورالله ولسپال په زیار، کابل، ۱۳٦۸ هـ ش.
(۸۵) ختک، عبدالقادر: ګلدسته، د خیال بخاري په زیار، پښتو اکیډیمي، پېښور، ۱۹۸۹ع.
(۸٦) ختک، عقاب: تواریخ حافظ رحمتخاني، پښتو (مجله) فروري ـ مارچ، ۱۹۷۲ع.
(۸۷) ختک، عقاب: خوشحالنامه، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ۱۳٦۵ هـ ش.
(۸۸) ختک، عقاب: تاریخ مرصع د چادی؟ پښتو (مجله) د جون ګڼه، ۱۹٦۹ع.
(۸۹) خراساني، لعل بیګ: طب شهاب افغاني، طب یوسفي افغاني، مطبع مجتبايي، لاهور، ۱۳۰۷ هـ ق.
(۹۰) خلیل، همېش: مرکه، وفا (جریده) د جدي د لسمې ګڼه، ۱۳۷٤ هـ ش.
(۹۱) خلیل، همېش: تول پارسنګ، پېښور، ۱۹۹۳ع کال.
(۹۲) خلیل، همېش: پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، دویم چاپ، پېښور، ۱۹٦۱ع.

(۱۳) خیر، همیش: ورکه خزانه، لومړی ټوک، پېښور، ۱۹۶۰ ع.

(۱٤) خیرالله (قاضي): خیراللغات (مقدمه) نولکشور کیس پریس، لاهور، ۱۹۰۶ ع.

(۱٥) ګلابند، ابوالخیر: دکسي لمر، خادم پریس، لاهور، ۱۹۹۵ ع.

(۹٦) داؤد، پروفیسور داورخان: د پښتو نثر ارتقا، جرس، کراچي، ۱۲ ګڼه، ۱۹۹۵ ع.

(۹۷) درویزه (اخوند): مخزن الاسلام، پښتو اکیډمي، پېښور، ۱۹۶۹ ع.

(۹۸) دورن، پروفیسور برنهارد: خریستوماتي، سنت پترزبورګ، ۱۸٤٥ ع.

(۹۹) دورن پروفیسور برنهارد: خریستوماتي، سنت پترزبورګ، ۱۸٤۷ ع.

(۱۰۰) دوست محمد (مرزا): سراج الحج، لاهور، ۱۳۲۹ هـ ق.

(۱۰۱) راورټي، هانري جارج: پښتو ګرامر، خلورم چاپ، پېښور، ۱۹۸۱ ع.

(۱۰۲) رحیم الله (قاضي): نوې روښني، پېښور، ۱۹۵۸ ع.

(۱۰۳) رشاد، پوهاند عبدالشکور: دا مترونتې باید سمې سي، وفا، ٤۰ ګڼه، ۱۳۷۲ هـ ش.

(۱۰٤) رشاد، پوهاند عبدالشکور: ګلشن روه دریم چاپ مقدمه، کابل، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۱۰٥) رشاد پوهاند عبدالشکور: زاخیل، دراحت یاد، د زلمي هیواد مل یزیار، کابل پوهنتون ۱۳٦۳ هـ ش.

(۱۰٦) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د تألیف کمزوري، وفا جریده، ۲٥-۲٦ ګڼه، ۱۳۷٤ هـ ش.

(۱۰۷) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د فواید فقیرالله مقدمه، کابل پوهنتون، ۱۳۵۹ هـ ش.

(۱۰۸) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د حیات افغاني د دریم چاپ تعلیقات، کابل، ۱۳۷۰ هـ ش.

(۱۰۹) رشاد، عبدالشکور: د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرح (سریزه)، کابل، ۱۳۵٦ هـ ش.

(۱۱۰) رشاد، پوهاند عبدالشکور: تفسیر حسیني، کابل (مجله)، ۳-٤ ګڼه، ۱۳٦۸ هـ ش.

(۱۱۱) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د پښتو تجوید ونو تاریخچه، کابل، ۱۳۵۹ هـ ش.

(۱۱۲) رشاد، پوهاند عبدالشکور: ډاکټر جان لیډن، د پښتو ګړي انجیل ګډوډي، کابل مجله، ۹ ګڼه، ۱۳۵۹ هـ ش کال.

(۱۰۳) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د زبور پښتو ترجمې، کابل مجله، ٥ ګڼه، ۱۳٦۹ هـ ش.

(۱۱۴) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو نثر، کابل کالنۍ، ۱۳۲۰ هـ ش.

(۱۱۵) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو نثر تاریخچه، کابل مجله، ۱۳۴۲ هـ ش.

(۱۱۶) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو تاریخي سیمینار، پېښور، ۱۳۴۵ هـ ش.

(۱۱۷) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو نثر هنداره، پېښور، ۱۹۹۲ع.

(۱۱۸) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۲۵ هـ ش.

(۱۱۹) رښتین، پوهاند صدیق الله: د پښتو عروض پلټنه او سپړنه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۴۴ هـ ش.

(۱۲۰) رښتین، پوهاند صدیق الله: ادبي او تاریخي سمونې، پېښور، ۱۹۹۲ع.

(۱۲۱) رښتین، پوهاند صدیق الله: د مهتمم ژوند، پېښور، ۱۹۸۸ع.

(۱۲۲) رضا، پروفیسور محمد افضل: درامه، پېښور، ۱۹۹۵ع.

(۱۲۳) رضا، پروفیسور محمد افضل: د پښتو نثر تاریخ، پېښور، ۱۹۹۵ع.

(۱۲۴) رضواني، میر احمد شاه: بهارستان افغاني، لاهور، ۱۸۹۸ع.

(۱۲۵) رضواني میر احمد شاه: شکرستان افغاني، لاهور، ۱۹۰۵ع.

(۱۲۶) رفیع، حبیب الله: مخزن التفاسیر، سپیدې (مجله)، ۲ گڼه، ۱۳۷۱ هـ ش.

(۱۲۷) رفیع حبیب الله: تفسیر یسیر، سپیدې (مجله)، ۵ گڼه، ۱۳۷۰ هـ ش.

(۱۲۸) رفیع حبیب الله: یو نومه تفسیر، سپیدې (مجله)، جنوري ـ فبروري گڼه، ۱۹۹۱ع.

(۱۲۹) رفیع حبیب الله: لیک لیکنه (مقدمه)، کوټي قلمته یه ژړ شوي دخاطر آفریدي په زیار، کراچۍ، ۱۹۹۴ع کال.

(۱۳۰) رفیع حبیب الله: د خوشحال هندکوه نامه، وفا (جریده)، ۷ـ۸ گڼه، ۱۳۷۳ هـ ش.

(۱۳۱) رفیع حبیب الله: پښتو خېروني، کابل ۱۳۵۶ هـ ش.

(۱۳۲) رفیع حبیب الله: د خوشحال وصیت نامه، سپیدې (مجله، ۳ گڼه ۱۳۷۰ هـ ش.

(۱۳۳) رفیع، حبیب الله: پښتو کتابښود، کابل، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۱۳٤) رفیع، حبیب الله: دبیر دانش (مقدمه)، پښتو اکیډیمی پېښور، ۱۹۹۳ع .
(۱۳۵) رفیع حبیب الله: ژبپالنه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۰ هش .
(۱۳۶) رفیع حبیب الله: عرفاني تفسیر، سپیدی (مجله) ۱۳۶۹ هش
(۱۳۷) رفیع حبیب الله: افغاني مهاني خپرونې په پرون، نن او سبا کې، سیمنار پنجم شورای ثقافتی جهاد، اسلام آباد، ۱۳۷۱ هش .
(۱۳۸) رفیع، حبیب الله: د حج کتاب، کابل، ۱۳۵۹ هش .
(۱۳۹) رفیع، حبیب الله: خط نامه، پېښور، ۱۹۸۵ع .
(۱٤۰) رفیع، حبیب الله: جګړه د محمود افغان، نیول د اصفهان، تاریخي پلټنې د زلمي هېواد مل په زیار، پښتو ټولنه، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ هش .
(۱٤۱) رفیع، حبیب الله: د پښتو نثری ادب، افغان یاد، د زلمي هېواد مل په زیار، کابل پوهنتون، ۱۳۶۰ هش کال.
(۱٤۲) رفیع، حبیب الله: تفسیر بدر منیر، سپېدې (مجله)، ۶ ګڼه، ۱۳۷۰ هش .
(۱٤۳) رفیع، حبیب الله: تفسیر بې نظیر، سپېدې (مجله) ۲ ګڼه، ۱۳۷۰ هش .
(۱٤٤) رفیع، حبیب الله: د سورة یٰسین دوه تفسیرونه، سپېدې (مجله)، ٤ ګڼه، ۱۳۷۰ هش.
(۱٤۵) رفیع، حبیب الله: د معرفة الافغاني مقدمه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل، ۱۳۵۶ هش .
(۱٤۶) رفیع، حبیب الله: جواهر القرآن، سپېده (مجله)، دریمه ګڼه، ۱۳۷۰ هش
(۱٤۷) رفیع، حبیب الله: ورک زوی څنګه پیدا شو؟ پېښور، ۱۳۶٤ هش .
(۱٤۸) روهي، کاندید اکادمیسین، محمد صدیق: ادبي څېړنې، ننګرهار پوهنتون ۱۳۶۰ هش کال .
(۱٤۹) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د خوشحال د مفکورو یو لنډ جاج، د خوشحال کلیات، دوهم ټوک، ۱۳۶۹ هش. کابل .

(۱۵۰) روهي، کاندید اکادمیسین محمدصدیق: د تاریخ مرصع د لیکنې موضوع، هدف او میتود، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیرکې، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل پوهنتون، ۱۳۶۵ هـ ش کال.
(۱۵۱) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د پښتو خزانې ارزښتونه، د محمدهوتک یاد، د زلمي هېواد مل په زیار، کابل، ۱۳۶۲ هـ ش.
(۱۵۲) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: له عادي نثره ترهنري نثره پورې، وفا (جریده ۵)، کال گنه، ۱۹۹۳ع.
(۱۵۳) روهي، کاندید اکادمیسین محمدصدیق: د پښتو د ادبي تاریخ دورې څنگه ټاکل کېدای شي؟ د ادبي تاریخ میتودولوژي، د زلمي هېوادمل په زیار، د افغانستان دعلوم اکادمي، کابل، ۱۳۶۷ هـ ش.
(۱۵۴) روهي، کاندید اکادمیسین محمدصدیق: د امیرکروړ او خوشحال خان دحماسي شعرو نو پرتلنه، د امیرکروړ یاد، د زلمي هېوادمل زیار، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۶٤ هـ ش.
(۱۵۵) روهي، کاندید اکادمیسین محمدصدیق: فوکلور پېژندنه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۵ هـ ش.
(۱۵۶) روهي، کاندید اکادمیسین محمدصدیق: (تقریظ) د ننگرهار کلونه، کابل، ۱۳۶۸ هـ ش.
(۱۵۷) زاخیلی، راحت: ناول دماه رخې، د لطیف بهاند په زیار، کابل پوهنتون، ۱۳۶۳ هـ ش.
(۱۵۸/۱) زبردست (حاجي) ذخیرة القراء تحفهٔ هند پریس، دهلی، ۱۳۲۲ هـ ق.
(۱۵۸/۲) زمریالی، امین الله: د پښتو پراد بیاتو یوه کتنه، کابل کالنی ۱۳۱۸ هـ ش.
(۱۵۹) زیار، پوهاند دوکتور مجاور احمد: پښتو لیکلار، ننگرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ هـ ش.

(۱۶۰) زیار، پوهاند دوکتور مجاور احمد: د پښتو خزانې د ښینوالی دوه پوهنې او ادبپوهنې په رڼا کې، پلوشه، ۵ ګڼه، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۱۶۱) زیور پوهنوال دوکتور زیور الدین: په تاریخ مرصع کې د پښتو اشعارو منابع، کابل مجله، ۹-۱۰ ګڼه، ۱۳۶۵ هـ ش.

(۱۶۲) ژواک، محمد دین: پښتو نثرونه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۳۵ هـ ش.

(۱۶۳) سنګروال، شهسوار: د ډرامې تاریخ او فن، پېښور، ۱۹۹۳ ع.

(۱۶۴) سیار، وسیع الله: په پښتو کې د مسجع نثر پیل اېښت او پایښت مساله، ۱۴۱۳ هـ ق.

(۱۶۵) سیال کاکړ، پروفیسور ولي محمد خان: پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې، دوهم ټوک، کوټه، ۱۹۸۱ ع.

(۱۶۶) سیال کاکړ، پروفیسور ولي محمد خان: د کسي د لمنې پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، کوټه، ۱۹۷۴ ع.

(۱۶۷) سیال کاکړ، پروفیسور ولي محمد خان: د کسي د لمنې پښتانه لیکوال، دویم ټوک، کوټه، ۱۹۸۳ ع.

(۱۶۸) سیال کاکړ، پروفیسور ولي محمد خان: مزارات، کوټه، ۱۹۷۳ ع.

(۱۶۹) سید انوار الحق: پښتو نثر، پښتو (مجله) پښتو اکیډمي، پېښور، ۱۹۵۸ ع.

(۱۷۰) شاهین، پرویش: د پښتو او کوهستاني ژبو لساني روابط، په سرحدي صوبه کې ورمبی لساني او ثقافتي کانفرنس، ۱۹۸۶ ع.

(۱۷۱) شباهنګ: بازسازی نهادهای فرهنګی افغانستان، پشاور، ۱۳۷۴ هـ ش.

(۱۷۲) شرف (میا) د پښتو عروض: پښتو ټولنه کابل، ۱۳۴۴ هـ ش.

(۱۷۳) ش. مروند: د ادبي آثارو د منثورو شرحو په ارتباط څو ټکي، وفا (جریده)، ۲ عقرب، ۱۳۷۳ هـ ش.

(۱۷٤) ش. مروند: یو ادبي تمایل او یوه څرګندونه، وفا (جریده) د زمري د ۱۲ مې ګڼه، ۱۳۷۳ هـ ش.

(۱۷۵) ش. مروند: د مغزي نثر د پیلامې په باب څو ټکي، ځپلواکۍ مجله، ۲-٤ ګڼه ۱۳۷۳ هـ ش.

(۱۷٦) شیدا، کاظم خان: د یوان کاظم خان شیدا، د همیش خلیل په زیار، پېښور، ۱۹۹۱ ع.

(۱۷۷) شینواری، سرمحقق دوست: پښتو کلیله او دمنه، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې، ۱۳٦۵ هـ ش.

(۱۷۸) شینواری، سرمحقق دوست: روښاني رساله (مقدمه) پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۵ هـ ش.

(۱۷۹) صابر، سید صابر شاه: د رنا ګانو محفلونه، یونیورسټي بک ایجنسی، پېښور، ۱۹۹٤ ع.

(۱۸۰) صابر، محمد شفیع: شخصیات سرحد، پېښور، (د چاپ کال نه لري)

(۱۸۱) صدام، دوکتور کلیم الله: سهیلی پښتو نثر لیکونکی، کوټه، ۱۹۸۵ ع.

(۱۸۲) صدیقی، پوهاند دوکتور جلال الدین: روش تاریخ نویسی در تاریخ مرصع، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې، ۱۳٦۵ هـ ش.

(۱۸۳) صفا، دکتر ذبیح الله: تاریخ ادبیات ایران، جلد دوم، تهران، ۱۳٦۹ هـ ش.

(۱۸٤) صمیم، محمد آصف: د پښتو جهادي کیسې نثر، د افغانستان او سني ادبیات، ۱۳٦۹ هـ ش.

(۱۸۵) طایر، پروفیسور، محمد نواز خان: آدم درخانی یوه څېړنه، پښتو اکیډیمي پېښور، ۱۹۸۹ ع.

(۱۸٦) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: ظریف خان او امه، پښتو (مجله)، ۵ ګڼه ۱۹٦۹ ع.

(۱۸۷) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: روهي ادب (دویم چاپ) پښتو اکیډیمي، پېښور، ۱۹۸٦ ع.

(۱۸۸) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: پښتو نثر څنګه راورسېده؟، پښتو نثر، څلورم چاپ، پېښور، ۱۹۹۰ ع.

(۱۸۹) طایر، پروفیسور محمد نواز خان: د پښتو نثر د سفر قصه د دې مرکې په عدالت کې، پښتو مجله، ۱۹۹۲ ع.

(۱۹۰) عابد، عابد شاه: اولسي نکلونه، پښتو اکیډیمي، کوټه، ۱۹۷۲ع.

(۱۹۱) عبدالحق: تصفیة المرآة لترجمه المشکوة، مطبع انصاری، دهلی، ۱۳۲۵هق.

(۱۹۲) عبدالرحیم (مولوی): لباب المعارف العلمیة، آگره، ۱۳۳۶ هق.

(۱۹۳) عبدالرحیم: درمکنون، دهلی فاروقي مطبعه، ۱۳۲۱ هق.

(۱۹۴) عبدالرشید: مفخر افغان، پښتو حصه نثر، پېښور، ۱۹۷۴ع.

(۱۹۵) عبدالکبیر (حافظ): جنت الفردوس، هندو پریس دهلي، ۱۳۹۲ هق.

(۱۹۶) عبدالکبیر (حافظ): درالمجالس، اسلامیه پرنټنګ ورکس، لاهور، ۱۳۲۷ق.

(۱۹۷) عبیدالحق: خاتمة النبیین (رساله)، لاهور (د چاپ کال نه لري)

(۱۹۸) عجب خان: طب بوعلی سینا، کریمي پریس، لاهور (د چاپ کال نه لري)

(۱۹۹) عطایي، کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم: د پښتو شفاهي داستان یوه تحلیلي څېړنه، کابل، ۱۳۷۰ هش.

(۲۰۰) غزنوی، خاطر: د ستارنامه، پاکستان (مجله)، مرکز مطالعات پاکستان، پېښاور، ۱۹۸۱ع.

(۲۰۱) غلجی، نور محمد: نافع المسلمین، د زلمي هېواد مل په زیار، کابل، ۱۳۶۳هش.

(۲۰۲) غلام سرور هیډ ماسټر: (مقاله) سرحد (مجله) پېښور، د مارچ ګڼه، ۱۹۲۶ع.

(۲۰۳) فرهنگ، میر محمد صدیق: افغانستان در پنج قرن آخیر، لومړی ټوک، پېښور، ۱۳۷۳هش.

(۲۰۴) قاسمي، مولانا عبدالقدوس: د پېښور پښتو دیني ادب ته یوه کتنه، پښتو چاپي آثار ۱۳۵۷هش

(۲۰۵) کاکاخېل، پروفیسور تقویم الحق: شمال مغربي سرحدي صوبه کې د پښتو مطبوعاتو دوه سوه کاله، پښتو چاپي آثار، ۱۳۵۷ هش.

(۲۰۶) کاکاخېل، پروفیسور تقویم الحق: د بي بي نوره مقدمه، ۱۹۶۳ع.

(۲۰۷) کاکاخېل، پروفیسور تقویم الحق: د مخزن الاسلام مقدمه، پښتو اکیډیمي، پېښور، ۱۹۶۹ع.

(۲۰۸) کاکاخېل، پروفیسور تقویم الحق: په پښتونږه کې د تعلیم او تدریس کار،
په سرحدي صوبه کې پرومبی لساني او ثقافتي کانفرنس، پښتواکیډیمی،
پښور، ۱۹۸٦ع.

(۲۰۹) کاکاخېل، عنوان الدین: عنوان النصایح، سیالکوټ، ۱۳۲٤ هـ ق.

(۲۱۰) کاکاخېل، فضل اکرم: د پښتو تهجی، سرحد (مجله) عید نمبر، ۱۹۲۹ع.

(۲۱۱) کاکاخېل، میا محمد یوسف: توبة النصوح، لاهور، ۱۳۲۳ هـ ق.

(۲۱۲) کاکاخېل نظیراحمد: نظیر الاخلاق، لاهور، ۱۳۲٦ هـ ق.

(۲۱۳) کاکاخېل، نعمان احمد: ظفر النساء، راولپنډی، ۱۳۲۲ هـ ق.

(۲۱٤) کاکړ، پوهاند دوکتور محمد حسن: پښتو او دفتر په وروستیو دوو
پېړیو کې، پښتو چاپي آثار، ۱۳۵۷ هـ ش.

(۲۱۵) کاکړ، پیر محمد: معرفة الافغاني، د حبیب الله رفیع په زیار، کابل، ۱۳۵٦ هـ ش.

(۲۱٦) کاکړ عبدالقیوم: میاداد، پښتو (مجله)، ۱۹٦۷ع کال.

(۲۱۷) کشمالی: دشفاهي ادبیاتو د یوځانګړي ژانر په باب څېړني تکي، وفا (جریده)، ۱۳۷۳ هـ ش.

(۲۱۸) کندهاری، مولوی عبدالله: فتاوای احمدشاهي، مطبع فاروقی دهلی، ۱۳۲۱ هـ ق.

(۲۱۹) کیا، دکتر زهری خانلری: فرهنګ ادبیات فارسی، چاپ سوم، تهران،
۱۳٦٦ هـ ش.

(۲۲۰) ک. ف کیرس: د میړني اولس ادبیات، د سرمحقق معتمد ترجمه، کابل، ۱۳٦٤ هـ ش.

(۲۲۱) ک. ف کیرس: پښتو هنري نثر، د سرمحقق معتمد ترجمه، کابل ۱۳٦۵ هـ ش.

(۲۲۲) ک. ف کیرس: د پښتنو تاریخي سندرې، مسکو، ۱۹۸٤ع.

(۲۲۳) ګل محمد: در بی بها (ضابطهٔ میراث) هندو پریس، دهلی، ۱۳۱۹ هـ ق.

(۲۲٤) ګوربز میراحمد: د ګوربزو نکلونه، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳٦۸ هـ ش.

(۲۲۵) متی زی، موسی محتاج: پښتو به داڅو په خپرونو کې، د پښتو د جمعي مفاهیمو
په وسایلو کې، ۱۳٦۲ هـ ش.

(۲۲٦) محمد آصف خان : تاریخ ریاست سوات ، ۱۹۵۹ع .

(۲۲۷) محمد امین : تفسیر سورهٔ یسین ، ستهم پریس، لاهور ، ۱۳٤۱ هـ ق .

(۲۲۸) محمد امین : فقرنامه ، مطبع کریمی ، لاهور ، ۱۳٤۲ هـ ق .

(۲۲۹) محمد حسن : تحفة الاخبار ترجمهٔ لباب الاخبار ، لاهور (چاپ کال نلري)

(۲۳۰) محک ، عبید الله : په افغانستان کې د پښتو معاصري کیسې پیلامه ... شمشاد، اکهه ۱۳۷۰ هـ ش .

(۲۳۱) محمد سعید : نصیحت نامهٔ لقمان حکیم ، بمبئي ، ۱۳۰۹ هـ ق .

(۲۳۲) مخلص ، علی محمد : تصوفي رساله ، د ز لمي هېوا د مل په زيار ، کابل مجله ۱ - ۲ گڼه ، ۱۳٦۲ هـ ش .

(۲۳۳) مومند، عبد الحمید : دیوان عبدالحمید مومند ، جدون پریس ، پېښور ، ۱۹۹۱ع .

(۲۳٤) مومند، قلندر : د خیرالبیان تنقیدي مطالعه ، چاپ ځی ، ۱۹۸٦ع .

(۲۳۵) مومند، قلندر: پټه خزانه فی المیزان ، چاپ ځی ، ۱۹۸۸ع .

(۲۳٦) مومند، قلندر: دهغه دغه مقدمه ، چاپ ځی ، ۱۹۸۵ع .

(۲۳۷) مومند قلندر : د پښتو ورمبی افسانه نگار ، انقلاب ، ۱۹۸۷ع .

(۲۳۸) میرحسین شاه (پوهاند) : مآخذ بعضی از اشعار دری در تاریخ مرصع، تاریخ مرصع خپرېدو په بهیر کې ، ۱۳٦۵ هـ ش .

(۲۳۹) میرحسین شاه (پوهاند) : روش تذکره نگاری در پټه خزانه ، دمحمد هوتک یاد ، ۱۳٦۲ هـ ش .

(۲٤۰) میکنزی : د بریتانیا په تاپوگانو کې د پښتو دخطي نسخو فهرست ، لندن ، ۱۹٦۵ع .

(۲٤۱) نجرابی ، عبدالقدیر مشتري : فهرست نسخ خطی پښتوی آرشیف ملی افغانستان کابل ، ۱۳٦۵ هـ ش .

(۲٤۲) نعمت الله (ملا) : تذکرة الغوثیه و تذکرة البخاری ، لاهور (دچاپ کال نلري)

(۲٤۳) نعیم ، دوکتور هدایت الله : پښتو میں عیسائی ادب، پشاور یونیورسټی جرنل ۱۹۹٤ع .

(۲٤٤) نفیسی سعید : تاریخ نظم و نثر فارسی، لومړی ټوک ، تهران ، ۱۳٤٤ هـ ش .

(۲۴۵) نقیب احمد، انشاء د پښتو، لاهور (دچاپ کال نلري)

(۲۴۶) نوښهروی، عبدالرؤف: د پښتو نثر ارتقاء، پېښور، ۱۹۸۶ ع.

(۲۴۷) نیکولای دوریانکوف: خوشحال خټک او د پښتو کلام د انکشاف په تاریخ کې د هغه مقام، ننګیالي پښتون، ۱۳۴۵ هـ ش.

(۲۴۸) وجدي، عبدالجلیل: پښتو ادب او ټوله ایزی مفاهمي وسیلي، پښتو ژبه او ادب د یو ویشتی پېړۍ په درشل کې، د خیر محمد عارف په زیار (د چاپ کال نلري)

(۲۴۹) هجوی، اشرف خان: دیوان اشرف خان هجوی فارسی، به کوشش همیش خلیل، اداره علم و فن پاکستان، ۱۹۹۴ ع.

(۲۵۰) هروی، نجیب مایل: تاریخ و زبان در افغانستان، تهران، ۱۳۷۱ هـ ش.

(۲۵۱) هروی، نعمت الله: مخزن افغانی، دوهم ټوک، ډاکه، ۱۹۶۲ ع.

(۲۵۲) هما، محمد همایون: زمونږ په صوبه کې د افغان د نوم مجلې، پښتو مجله، اکتوبر ۱۹۹۵ ع.

(۲۵۳) همام، پوهاند سید سلطان شاه: سخن اندر شرح دردهای خراسانیان، پشاور، ۱۳۷۰ هـ ش.

(۲۵۴) هوتک، محمد: پټه خزانه، عکسي چاپ، د استاد حبیبي په زیار، کابل، ۱۳۵۴ هـ ش.

(۲۵۵) هوتک محمد معصوم: د خطي زېرمو لومړنۍ، وفا (جریده) ۴۰ گڼه، ۱۳۷۳ هـ ش.

(۲۵۶) هېوادمل، زلمی: فرهنګیالی عبدالقادر خان، د عبدالقادر یاد، پښتو اکیډیمي، پېښور، ۱۹۹۳ ع.

(۲۵۷) هېوادمل، زلمی: د فراقنامې تعلیقات، کابل پوهنتون، ۱۳۶۲ هـ ش.

(۲۵۸) هېوادمل، زلمی: فرزانه مردی از دودمان فضل و دانش خوشحال خان، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې، ۱۳۶۵ هـ ش.

(۲۵۹) هېوادمل، زلمی: د پښتو بازنامې مقدمه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۴ هـ ش.

(۲۶۰) هېوادمل، زلمی: د خوشحال د فارسی بازنامې مقدمه، خراسان (مجله) اوله ګڼه، ۱۳۶۵ هـ ش.

(۲۶۱) هېوادمل، زلمی: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو، جلد اول، د پوهنې

او روزني وزارت ، کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش .

(۲۶۲) هېوادمل ، زلمی : فرهنگ ادبیات پښتو ، جلد دوم ، کمیته دولتي طبع ونشر ، کابل ، ۱۳۶۵ هـ ش .

(۲۶۳) هېوادمل ، زلمی : فرهنگ ادبیات پښتو ، جلد سوم ، کمیته دولتي طبع ونشر ، کابل ، ۱۳۶۶ هـ ش .

(۲۶٤) هېوادمل ، زلمی : قاید الانام الی بیت الحرام ، کابل (مجله) ۱۲ گڼه ، ۱۳۶۶ هـ ش .

(۲۶۵) هېوادمل ، زلمی : سخنی چند پیرامون مآخذ شناسي پته خزانه ، د نازوانا یاد ، ۱۳۷۰ هـ ش .

(۲۶۶) هېوادمل ، زلمی : دکره کتنې پړولونه ، دافغانستان دلیکوالو اتحادیه ، کابل ، ۱۳۷۰ هـ ش .

(۲۶۷) هېوادمل ، زلمی : دمحمد هوتک ژوند اوموزار ، ننګرهار پوهنتون ، ۱۳۶۲ هـ ش .

(۲۶۸) هېوادمل زلمی : بیدیاني ګلونه ، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۶۲ هـ ش .

(۲۶۹) ګلشن اشعار افغاني ، کابل (مجله) ، ۲ گڼه ، ۱۳۶۵ هـ ش .

(۲۷۰) هېوادمل ، زلمی : دغلام محی الدين افکار او آثار ، کابل پوهنتون ، ۱۳۶۰ هـ ش .

(۲۷۱) هېوادمل ، زلمی : فرهنګي حوزې ، شمشاد (مجله) ، ۲ گڼه ، ۱۳۷۳ هـ ش .

(۲۷۲) هېوادمل زلمی : د پښتولومړی اخبار طلوع افغان ، پښتو چاپي آثار ، ۱۳۵۷ هـ ش .

(۲۷۳) هېوادمل ، زلمی : د پښتو علمي کېدل .... ، پښتو د جمعي مفاهیمو په وسایلو کې ، ۱۳۶۷ هـ ش .

(۲۷٤) هېوادمل ، زلمی : د آزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه د خپل لس کلن کار په هنداره کې ، پېښور ، ۱۹۹۵ ع .

(۲۷۵) هېوادمل ، زلمی : د پښتو د عامېدلو او سراسري کېدلو د لارې خنډونه ، پښتو ، نومبر گڼه ، ۱۹۹۵ ع .

(۲۷۶) هېوادمل، زلمی: د پښتو دادبي تاريخ خطي منابع، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۶ هش.
(۲۷۷) هېوادمل زلمی: د پښتو په اولسي شعرونو کې اړونه، فولکلور مجله ۱۳۵۴ هش.
(۲۷۸) هېوادمل، زلمی: په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، لاهور، ۱۳۷۳ هش.
(۲۷۹) هېوادمل، زلمی: بیش بهاترین گنجینه ادب کهن پښتو، دامیرکروړ یاد، ۱۳۶٤ هش.
(۲۸۰) هېوادمل، زلمی: د تذکرة الشعراء تعلیقات، کابل، ۱۳۶۶ هش.
(۲۸۱) هېوادمل، زلمی: د هند دکتابخانو پښتو خطي نسخې، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۶۳ هش کال.
(۲۸۲) هېوادمل، زلمی: په پښتو کې مسجع لیکنې ترکومه دوام کړی دی، شمشاد مجله ۲ گڼه ۱۳۷۲ هش.
(۲۸۳) هېوادمل، زلمی: د پښتو د ادبي تاريخ د منابعو پېژندنه او ارزيابي، کابل ۱۳۶۷ هش.
(۲۸٤) هېوادمل، زلمی: د پښتو نثر تاريخ لیکلو ته بیا ضرورت شته، شمشاد مجله، ٤ گڼه، ۱۳۷۲ هش.
(۲۸۵) هېوادمل، زلمی: هشتصد سال نثر پښتو، سپیدی مجله، ۱۳۷۱ هش.
(۲۸۶) هېوادمل زلمی: د پښتو نثر تاريخي او تنقيدي جايزه، کابل مجله، ۲ گڼه ۱۳۶۶ هش.
(۲۸۷) هیوز: کلید افغاني، لاهور، ۱۸۷۲ع.
(۲۸۸) یزداني، حسین علی: پژوهشی در تاریخ هزاره ها، چاپ دوم، قم، ۱۳۷۲ هش.
(۲۸۹) یوسفزی، سحر: ادب څه دی؟ دوهم چاپ، پېښور.

Besides seven chapters there is a conclusion with proposals and bibliography. I had the intention to prepare index for this book also but unfortunately, however since the book become very voluminous, the assets available could hardly suffice for printing the content of the book only and, therefore, I have to leave out the names index. Although printing a book without a names index seems unacademic today, I cannot afford this due to my economic and financial limitations. If God Almighty blessed me with the power to reprint the book for a second time and inside my own country Afghanistan, it would then be possible to print it together with the names index.

Last but not least, I would like my heartful thanks to two respectful Afghans Khalil Rasooli and Jamal-u-Rahman, who provided me financial help for printing this book. Though the fund is now not sufficient for printing cost. Still credit goes to these two fellows otherwise this book would not have come out from the shelves.

Zalmay Hewadmal

compilation. And it is on this basis that I have named the present book as "Da Pashtu Nasr Atlassawa Kallah" (The Eight hundred years of Pashtu prose).

In the beginning of the book, I have written a lengthy introduction in which all early works have been introduced and their merits and demerits pinpointed. I have also highlighted the value of the book together with the explanation of the need that was imperative in writing it.

The book comprises seven chapters: The first chapter is about prosaic elements in our folklore. The second chapter deals with the study of the early Pashtu prose. Chapter three is about poetic prose writers. The fourth chapter highlights the golden age of the Pashtu literature. This chapter deals with many prose works in different literary phases. Chapter five describes the stagnation of Pashtu prose in various forms and contexts. Chapter six is about the contribution of the writers of the late nineteenth and 20th centuries who have worked in the way of reforming the Pashtu prose.

Chapter seven concentrates on contemporary literary era. Because of certain political, academic and technical reasons, I have not discussed all writers of Pashtu prose as a whole, but I have divided this period into several zones so to speak. For instance Afghanistan has been identified as one specific literary and cultural zone, Baluchistan as another and the North West Frontier Province as yet another special zone. Beside these three original zones, the Pashtu strand which exist in Sindh, have been studied as a separate topic and following that the efforts and works of orientalists have also been kept in mind.

## Forward

Keeping in view, the new interpretations and definition of the literature while writing a literary history of Pashtu one will have to find hundred of Pashtu works both in prose and poetry lacking artistic and aesthetic values and therefore they are not included in the literary history.

If these works were not acknowledged in the history of Pashtu literature and if all such works in the various areas of human knowledge were excluded then it will remain obscure and the Pashtuns will be left unaware of the contribution of their ancestors to the literature and history.

Therefore in order to introduce all the written prose and poetic works of our language to its speakers, I think it is necessary to write the history of Pashtu prose and poetry before anything else. By doing so we will have to introduce the literary treasure of our mother tongue in full. It will become known to the readers and researchers as to what our forefathers have left behind for us. And when this treasure becomes known, historians of literature will choose from it the materials of their interest or at least they will designate the work of their choices only by combining these works with those of their latest studies. This will enable them to write a literary history of Pashtu.

Keeping in view this necessity, I wrote the history of prose and in this study, I have tried my best to mention all works with a commentary in Pashtu prose which were known to me from the earliest to the latest.

The most known ancient work in Pashtu prose is the "Tazakiratul-Awliya" of Suliman Maco, which is only of a few pages. Over eight hundred years have elapsed since its

# THE EIGHT HUNDRED YEARS OF PASHTO PROSE

## (History of eight hundred years of Pashto Prose)

By

Senior Researcher Zalmy Hewadmal

1996-